بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوٰة المصابيح

تصنيف:

شيخ الحديث ابو محمد امين الله البشاوري حفظه

ترتيب: ابو زهير سيف الله غفرله

٩

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ابو زهير سيف الله غفرله

٩

الحمدلله پدې جلد کښې دوه سوه درې نوي (۲۹۳) حديثونو تشريح او وضاحت شويدے

مكتبة محمديه

بيرون گنج گيټ منګل مارکيټ پېښور

Maktaba Tul Ishaat.com

د تاليف، طباعت، او ترجمې حقوق محفوظ دي

د كتاب نوم ———— الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح
(نهم جلد)
افادات ———— الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله ورعاه
جمع وترتيب ———— ابوزهير سيف الله غفر له شيخ آباد پشاور۔
سنۀ طباعت ———— محرم۲/۱٤٤۱ هجري الموافق :
(۱/ستمبر/۲۰۱۹ء)
فن ———— حديث
ناشر ———— مكتبه محمديه ګنج پيښور

د ملاويدو پته

۱- مكتبه محمديه

بيرون ګنج ګيټ پهندو روډ منګل ماركيټ پيښور پاكستان
ولي الله : 03018828402 /03118828402 ابو سلمان : 03025953513 ابو زهير : 03075924001
۲- ايوب مكتبه واسلامي كيسټ مركز، عقب قصه خواني پيښور۔
۳- معراج كتب خانه قصه خواني بازار محله جنګي پيښور۔
٤- نوروز كتب خانه صوابي اډه پاكستان۔
۵- دار الكتاب والسنة، نيو حاجي كيمپ سلطان آباد كراچي : 03002615402
٦- مسلم كتاب پلورنځي، جلال آباد اسحاق زئي ماركيټ۔
۷- مكتبه محمديه، جلال آباد تالاشئ چوك ګمرك مسجد ترڅنګ دكان نمبر ۲
هيچا له جائز نۀ دي چه د مكتبه محمديه كتابونه نيټ ته بغير اجازت نه وركړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم
حَامِدًا وَمُصَلِّيًا وَمُسَلِّمًا

۲- بَابُ الإِحْرَامِ وَالتَّلْبِيَةِ

د احرام او تلبيه بيان

احرام : په لغت کښې : اَلدُّخُولُ فِيْ حُرْمَةٍ لَا تُنْتَهَكُ مِنَ الذِّمَّةِ وَغَيْرِهَا۔
په حرمت کښې داخليدل، يعنې په هغه څيز کښې داخليدل چه د هغې بيعزتي کول ناروا وي۔ يعنې د احترام والا څيزونو پابندي کولو ته وئيلې شي۔
يا اِحْرَامٌ : په لغت کښې په ځان باندې يو شے حراmolo ته وائي۔ چونکه احرام تړونکے د احرام په ذريعه په خپل ځان باندې څۀ دا شے شيان حراموي چه په اصل کښې مباح وي، نو ځکه ورته احرام وائي۔
او احرام د شريعت په اصطلاح کښې : [نِيَّةُ الدُّخُوْلِ فِي النُّسُكِ]
(په حج يا عُمره يا دواړو کښې د داخليدو نيت کولو ته وائي)۔ او کله ئې په دوه جامو لنګ او څادر باندې هم اطلاق کيږي۔
او په حج يا په عمره کښې داخليدل شرعاً په نيت او تلبيه وئيلو او د احرام په جامو اغوستلو سره حاصليږي، پدے وجه ئې تلبيه عطف کړه په احرام باندے، دا د باب د عطف د خاص نه دے په عام باندے، د احرام په وجه په بنده باندے د څه کارونو پابندي لازمه شي او د څه کارونو کول حرام شي۔
د تلبيه نه مراد يا هغه تلبيه ده چه د احرام په ابتداء کښې وئيلې کيږي، يا هغه مستحب تلبيه ده چه د احرام په حالت کښې وئيلې کيږي، نو دلته به ئې د هغې الفاظ او احوال او فضائل بيانيږي۔ د تلبيه حکم روستو راروان دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده : احرام د درې شيانو نه عبارت دے : ګنډلې شوې جامې ويستل او لنګ او څادر اغوستل، په حج يا عمره يا دواړه عبادتونو کښې د ننوتو نيت کول، او تلبيه ويل۔ کله چه دا درې واړه شيان جمع شي نو ديته په شريعت کښې ((احرام)) وئيل کيږي۔ او په دے سره انسان مُحرم ګرځي۔ په دے درے واړو کښې بنيادي شے نيت کول دي۔

تنبيه : لکه څنګه چه د مونځ، روژے دپاره په خُلهٔ باندے نيت کول بدعت دے، نو دغه شان د احرام دپاره هم په خُلهٔ نيت کول او داسے وئيل چه : [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ نَوَيْتُ الْحَجَّ] يا [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ نَوَيْتُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ] يا [نَوَيْتُ الْعُمْرَةَ] دا هم بدعت دے۔ نبي کريم ﷺ نه ثابت نهٔ دي، لهذا ځان ترے ساتل ضروري دي۔ نبي ﷺ فرمايلي دي : [لِتَأْخُذُوْا مَنَاسِكَكُمْ] [مسلم: ۱۲۹۷] (تاسو مانه د خپل حج کارونه زده کړئ)۔

البته مُحرم دپاره د تلبيئے وئيلو په وخت په خُلهٔ عبادت ذکرکول مشروع دي، لکه [لَبَّيْكَ عُمْرَةً] يا [لَبَّيْكَ حَجَّةً] يا [لَبَّيْكَ حَجَّةً وَّعُمْرَةً] وئيل، دا په حديثونو کښې ثابت دي۔ دا نيت نهٔ دے بلکه دعاء ده۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2540 (1) – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لِإِحْرَامِهٖ قَبْلَ أَنْ يُّحْرِمَ وَلِحِلِّهٖ قَبْلَ أَنْ يَّطُوْفَ بِالْبَيْتِ بِطِيْبٍ فِيْهِ مِسْكٌ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى وَبِيْصِ الطِّيْبِ فِيْ مَفَارِقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عائشه ﷞ نه روايت دے چه ما به په رسول الله ﷺ باندے د هغهٔ د احرام تړلو په وخت د احرام نه مخکښے خوشبوئي لګوله، او د هغهٔ د احرام نه د حلاليدو په وخت به مې د هغهٔ د طوافِ زيارت کولو نه مخکښے په هغهٔ خوشبوئي لګوله چه په هغې کښے به مشك وو، ګويا کښے زهٔ د خوشبوئي پرق د رسول الله ﷺ د سر په مينځ کښے وينم او هغه به محرم وو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [أُطَيِّبُ] ما به خوشبويه کولو۔ ما به خوشبوئي لګوله۔ [لِإِحْرَامِهٖ] د هغهٔ د احرام تړلو په وخت۔ [لِحِلِّهٖ] د هغهٔ د احرام نه د وتو په وخت۔

[قَبْلَ أَنْ يَّطُوْفَ] ددے طواف نه مراد طوافِ زيارت دے۔

د عائشے ﷞ د وينا مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به هرکله د احرام اراده وکړه نو د احرام د تړلو نه مخکښے به ئے خوشبوئي لګوله او هغه خوشبوئي به داسے وه چه په

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې کښې به مشك هم وو، لهذا ددې نه دا ثابته شوه چه خوشبوئي به د احرام نه مخکښې لګولې شي او که د هغې اثر د احرام نه روستو هم پاتې شو نو هيڅ حرج نشته ځکه د احرام ترلو نه روستو خوشبوئي استعمالول په احرام کښې حرام دي، نهٔ د احرام نه مخکښې، خو دا خبره ياد ساته چه دا خوشبوئي لګول په بدن باندې دي نهٔ په جامه د احرام باندې بيا اګرکه ددې اثر باقي پاتې هم وي هيڅ باك نشته.

[وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَّطُوفَ] : ددې مطلب دا دې چه د احرام نه د وتلو نه روستو کله چه د لوی اختر په ورځ جمره عَقَبه اُوولي او په چا چه قرباني وي قرباني وکړي او بيا سر وخرئيوي نو دې وخت کښې به د احرام نه بهر شي او لا طواف افاضه دپاره به مکې ته نهٔ وی تلې نو دې وخت کښې به هم رسول الله ﷺ خوشبوئي لګوله، او دا خوشبوئي به ورله عائشې ﵂ لګوله، البته پدې وخت کښې به رفث (يعني جماع کول يا د ښځې په مخامخ د جماع خبرې او شهوت پورته کونکې خبرې) جائز نهٔ وی تردې چه مکې ته راشي او طواف افاضه وکړي نو بيا به رفث هم جائز وي.

فوائد الحديث : (۱) دا خوشبوئي په سر او ګيره يا د بدن په باقي برخه کښې لګول شوې وه. د احرام په لنګ او څادر کښې نهٔ وه لګول شوې.

(۲) او حديث نه معلومه شوه که د احرام په وخت لګيدلې خوشبوئي د احرام ترلو نه پس ددې اثر (يعنې رنګ او بوئي) باقي پاتې شي نو هم خير دې، لکه دلته عائشه ﵂ فرمائي: ((مابه د رسول الله ﷺ د سر په کربنه کښې د خوشبوئي پرق او چمك ليدلو)) احنافو پدې کښې اختلاف کړې، هغوی وائي چه که دا خوشبوئي د احرام نه پس پاتې وه نو پدې کښې به فديه واجبيږي، هغوی دا په جامه اغوستو باندې قياس کوی، ليکن دا قياس صحيح نهٔ دې ځکه چه هميشوالې د جامې جامه اغوستل دی، او هميشوالې د خوشبوئي خوشبوئي لګول نهٔ دی. (فتح الباری)

او دا دليل دې چه دا به داسې خوشبوئي وه چه جُثه ئې لرله، او صرف هواء نهٔ وه.

او په بل روايت د نسائیؒ او ابن حبانؒ او ابن ماجهؒ کښې راځي [بَعْدَ ثَلَاثٍ] يعنی ((تر درې ورځو پورې)) دا خوشبوئي وه. او همدا خوشبوئي د احرام نه مخکښې استعمالول د امام شافعیؒ، امام احمدؒ، امام ابوحنيفهؒ او جمهورو صحابه کرامو ﵃ قول دې، او همدا راجح دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

البته امام مالکؒ او محمد بن الحسنؒ دا مکروه ګڼړلے، مالکؒ پکښې وئيلی دی چه د احرام نه مخکښې هغه خوشبوئی لګول منع دی چه د هغې بوئی روستو د احرام اغوستلو نه پاتے کيږی، ليکن که دا کارئے وکړو نو ګناهګار دے او فديه پرے نشته۔ او بعضو په کښے دا هم ويلی چه که اثرئے د يوے ورځے نه پس هم باقی وو نو فديه به ورکوی۔ او محمد بن الحسنؒ وئيلی دی چه هغه خوشبوئی د احرام نه مخکښې استعمالول مکروه دی چه د هغې جُثه د احرام اغوستو نه پس پاتے کيږی۔ او دا قول صاحب الهدايه (حنفی) امام شافعیؒ ته منسوب کړے ليکن هغهٔ ته پدے کښے خطائی لګيدلے، دا د امام شافعیؒ په مذهب کښے نشته۔ فتدبر۔ خو دا دواړه خبرے د دليل د نشتوالی په وجه ضعيفې دی، او دارنګه ددے حديث د ظاهر خلافې دی۔

امام ابن عبد البرؒ وائی: د محرم دپاره د احرام نه مخکښې خوشبوئی لګول عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، عبد الله بن عمر، عثمان بن ابی العاص رضی الله عنهم، عطاءؒ، سالم بن عبد اللهؒ، (سره د اختلاف نه) زهریؒ، سعيد بن جبيرؒ، حسنؒ، او ابن سيرينؒ (سره د اختلاف د دوئ نه) مکروه ګڼړلی دی۔ (دے علماؤ ته کيدے شی چه دا روايت د عائشے ﷺ نهٔ وی رسيدلے)

پدے حديث کښے مالکيان دا تاويل کوی چه دا خوشبوئی لګول د احرام نه مخکښې وو او بيا رسول الله ﷺ په بيبيانو باندے وګرځيدو بيا سهار کښے مُحرم شو۔ لکه دا په بل روايت د مسلم کښے دی۔ لهذا دا خوشبوئی په غسل سره زائل شوے وه، صرف د هغې اثر پاتے وو، نو څکه عائشه ﷺ وائی چه ما به هغه د احرام نه روستو د رسول الله ﷺ په سر کښے ليدلو۔ ليکن دا تاويل ضعيف دے۔ امام نوویؒ وائی: د مالکيانو سره پدے تاويل باندے موافقت نشی کيدے، بلکه حق قول د جمهورو دے، چه د احرام نه مخکښې په بدن کښے خوشبوئی لګول مستحب دی، دليل ئے دا دے چه دلته عائشه ﷺ فرمائی: [طَيَّبْتُهُ لِإِحْرَامِهِ] يعنی ما رسول الله ﷺ لره دا خوشبوئی د احرام دپاره لګولے وه۔ معلومه شوه چه دا د زنانو د تللو دپاره نهٔ وه، بلکه د احرام دپاره وه۔ دارنګه په بل روايت کښے داسے الفاظ دی: [ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا] بيا سهار کښے محرم شو چه خوشبوئی پرے ښکاره کيده او هغه پرے لګيدلے وه۔ (نضخ په عربئ کښے ککړوالی او ښکاره والی ته وائی) ۔ [بخاری: ۲٦۷، مسلم: ۲۹۰۰]

Maktaba Tul Ishaat.com

بله دا چه کیدے شي چه د رسول الله ﷺ بیبیانو باندے ګرځیدل هسے د تعلیم او تربیت دپاره وو، نهٔ د نزدیکت دپاره۔

(٣) او كَاَنِّىْ اَنْظُرُ : لفظ کښے اشاره ده چه زما دا خوشبوئي لیدل داسے یقیني وو لکه چه ګویا که ما ته اُوس ښکاره کیږي۔ (٤) وَبِيْصِ : دا د بریق (پړق) نه زیاته ځلا او رنړائي ده۔ (٥) مَفَارِق : جمع د مَفْرَق دے، د ویښتو د جدا کولو ځائے، یعني مینځنئ لاره، او دا ئے په لفظ د جمع سره ذکر کړو، پدے کښے اشاره ده چه هره حصه ددے نه جدا جدا مفرَق دے۔ او پدے کښے اشاره ده چه دا خوشبوئي په عام سر باندے لګیدلے وه۔

او په یو روایت د بخاريؒ كتاب اللباس کښے ذکر دي چه په سر او ګیره مبارکه کښے به ئے لګوله۔

(٦) په درے شیانو سره مُحرم په پوره توګه سره د احرام نه اُوځي : (أ) رمي الجمار (ب) حلق یا قصر (ج) او طوافِ زیارت سره۔ ددے درے واړه کارونو نه پس محرم په پوره توګه د احرام نه اُوځي۔ اوکه طوافِ زیارت ئے نهٔ وي کړے نو دیته تحلل اول وائي، د تحلل اول نه پس ورله د جماع نه سِوئ د احرام په وجه منع شوي تول شیان جائز دي، او کله چه طوافِ زیارت (یعني طوافِ افاضه) وکړي نو په دے دویم تحلل سره ورله جماع هم جائز شوه۔ (٧) [وَلِحِلِّهٖ قَبْلَ اَنْ يَّطُوْفَ] : نه معلومه شوه چهد رمي او حلق نه پس خوشبوئي لګول مسنون او مستحب دي، ډیر خلك ددے نه ناخبره دي۔ ددے نه معلومه شوه چه طوافِ زیارت په عادي جامو کښے کولے شي او د جامو اغوستلو او مسجد ته د تللو په وخت خوشبوئي لګول مسنونه اومستحبه طریقه ده۔ امام مالكؒ دیته هم مکروه وئیلي خو دا صحیح خبره نهٔ ده۔ او امام ترمذيؒ په خپل جامع کښے د عمر بن خطاب ﷛ نه نقل کړي چه هغه فرمائي : [حَلَّ كُلُّ شَيْءٍ اِلَّا النِّسَاءَ وَالطِّيْبَ]۔ د رمي او حلق نه روستو ورله هر شے حلال شو سوئ د ښځو او د خوشبوئي نه۔ آ هـ۔ او بعض اهل کوفه ؤ وئیلي دي چه د طواف نه مخکښے خوشبوئي لګول حرام دي، او پدے سره فدیه لازمیږي لیکن حقه خبره هغه ده کومه چه پدے حدیث کښے راغلے ده۔ او دا خبره د ابن عمر ﷛ نه هم ثابته ده لیکن عائشے ﷞ د هغوي قول ددے حدیث په ذکر کولو سره رد کړو۔ امام طحاويؒ وائي : [فَسُنَّةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَحَقُّ اَنْ يُّؤْخَذَ بِهَا مِنْ سُنَّةِ عُمَرَ] [شرح معاني الآثار : ٢/٢٤١، رقم : ٤٠٤٤] (د رسول الله ﷺ سنت ډیر لائق دي چه په هغے باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل وکړے شي د سنت د عمر ﷺ نه)۔ عمر فاروق ﷺ ته کیدے شي دا روایت نۀ وي رسیدلے۔ ځکه چه ټول علم الله تعالیٰ سره دے۔ او دا خبره د تقلید بیخ او بنیاد وباسي۔ وبالله التوفیق۔

2541 (2) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا يَقُوْلُ : " لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ ". لَا يَزِيْدُ عَلٰى هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه هغۀ د سر ګوند کولو (انښلولو) په حالت کښې احرام تړلو (نو) وے فرمایل : زۀ تا ته حاضر یم، اے الله ! ستا تابعدار یم، زۀ ستا تابعدار یم، ستا هیڅوك شریك نشته، زۀ حاضر یم، یقیناً د کمال د صفتونه او ټول نعمتونه ستا دپاره دی، او بادشاهی (هم)، تا لره هیڅ شریك نشته۔ پدے کلماتو باندے به ئے زیادت نۀ کولو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : يُهِلُّ : اهلال په زوره تلبیه وئیلو ته وئیلے شي۔

مُلَبِّدًا : دا حال دے د فاعل د يُهِلُّ نه۔ یعنی ما ترے په داسے حال کښې (تلبیه واوریده) چه هغۀ د خپل سر ویښته په ګوند وغیره سره راغونډ کړے وو او انښلولے ئے وو، دے دپاره چه ویښته یو بل سره ونښلي او پراګنده پاتے نشي چه سپړے پکښې پیدا شي، یا خاورے پکښې پریوزي۔

تلبید کول دا دی چه مُحرم (احرام تړونکے) د خپل سر ویښتو کښې ګوند یا خطمی یا نکریزے یا بل شے ولګوی دے دپاره چه ویښته په یو ځائے پاتے شي او یو بل سره ونښلي، پدے باندے ګرد او غبار ونۀ لګی او د سپږو نه محفوظ شي۔ او دا کار هغه څوك کوی چه هغه په احرام کښې ډیره موده پاتے کیږی۔

ددے نه معلومه شوه چه تلبید هم سنت طریقه ده چه یو تن ئے د احرام نه مخکښې وکړی ځکه چه پدے کښې محرم ته ډیره فائده ده۔

مسئله : دا حدیث دلیل دے چه تلبید کول سنت طریقه ده، او دا مذهب د شوافعو دے لکه پدے باندے عینیؒ او قسطلانیؒ او طبریؒ وغیره علماؤ تصریح کړیده، او د احنافو نه اصحاب الفروع الحنفیةؒ ذکر کړیدی چه تلبید که په ټینګ څیز سره وشی نو دے کښې د سر پټوالے راځي نو دَم به پرے لازمیږی او که ددے سره خوشبوئی وی نو دوه

دَمه به ورکوی۔ (ابن الملك)

علی القاریؒ وئیلی دی چه کیدے شی رسول الله ﷺ ته څه عذر وو پدے وجه ئے تلبید کړیدے، یا به د رسول الله ﷺ دا فعل په لغوی تلبید باندے حمل شی چه ویښته راغونډول او همداسے کولاو نۀ پریخودل دے دپاره چه خوارۀ وارۀ نشی۔ اهـ

لیکن په عذر باندے حمل کول دلیل ته محتاج دی او دلیل نشته۔

او لغوی معنیٰ باندے حمل کول هم صحیح نۀ ښکاره کیږی ځکه چه یو خو شراح الحدیث او اهل لغتو په دے حدیث کښے اصطلاحی معنیٰ اخستے ده لکه خطابیؒ، حافظ ابن حجرؒ، عینیؒ، مجدؒ، جوهریؒ، جزریؒ، او زمخشری وغیره۔

دویم دا چه د ویښتو یو بل سره کلك والے په ګوند او خطمی وغیره سره راځی، او ددے تائید دا دے چه روستو په فصل ثانی کښے په حدیث د ابن عمر رضی الله عنه کښے دی : [لَبَّدَ رَأْسَهٗ بِالْغِسْلِ] سر ئے راغونډ کړو (وے انښلولو) په یو شی سره چه په هغے باندے سر وینځلے کیږی چه هغه خطمی وغیره دی۔ (خطمی یو بوټے دے چه د صابون په ځائے کار ورکوی) بله دا چه د شارع افعال به په شرع محمول وی، په لغت باندے حمل کول خلاف الاصل دی، نو دے له هیڅ اعتبار نشته۔ لهذا **صحیح** خبره دا ده چه په تلبید سره د سر هیڅ تغطیه (پټوالے) نۀ راځی لکه فکر وکړه۔

لَبَّيْكَ : دا لفظ د تثنیه دے او په معنیٰ کښے ئے تکرار او تکثیر دے، او د فراءؒ په نیز دا په اصل کښے [لَبًّا لَكَ] دے، او عامل ئے وجوباً پټ دے، [أَیْ أُلِبُّ إِلْبَابًا بَعْدَ إِلْبَابٍ ۔ یعنی زۀ ستا خدمت او طاعت ته بار بار (او هر وخت) ولاړ یم۔ **یا** معنیٰ ئے دا ده : [أَجَبْتُكَ إِجَابَةً بَعْدَ إِجَابَةٍ أَوْ إِجَابَةً لَازِمَةً] زۀ ستا خبره بار بار منم، یا ضرور به ئے منم۔ یا دا د [أَلَبَّ بِالْمَكَانِ] نه ماخوذ دے (په یو ځائے کښے دیره کیدل) نو معنیٰ ده : زۀ بار بار ستا په خدمت کښے حاضر یم۔ او بعض وائی چه لبّ په معنیٰ د محبت سره دے، یعنی زما محبت ستا دپاره دے۔ یا زما اخلاص ستا دپاره دے۔ نورے معانی هم شویدی لکه د قرب او خضوع۔ حاصل معنیٰ ئے د تابعدارئ ده، یعنی زۀ تابعدار یم۔

احمد بن منیعؒ په خپل "مسند" کښے او ابن ابی حاتمؒ په قوی سند سره د ابن عباس رضی الله عنه نه ذکر کړیدی چه هرکله ابراهیم علیه السلام د بیت الله د جوړولو نه فارغ شو نو هغۀ ته وویل شو : چه په خلکو کښے د حج اعلان وکړه نو هغۀ وویل : اے زما ربه ! زما آواز به

Maktaba Tul Ishaat.com

چا ته ورسيږي ؟ الله تعالىٰ وفرمايل : [أَذِّنْ وَعَلَيَّ الْبَلَاغُ] ته اعلان وكړه او رسول ئې په ما دی- نو ابراهيم عليه السلام آواز وكړو : [أَيُّهَا النَّاسُ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ] (اے خلكو ! په تاسو باندے حج د بيت الله فرض كړے شو)، نو دا آواز د آسمان او د زمكے ترمينځ انسانانو واوريدو، نو آيا تاسو نۀ ګورئ چه خلك د زمكے د آخر سر نه راروان وی او تلبيه وائی- او په روايت د ابن جُريجؒ كښے د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے : چه انسانانو د ابراهيم عليه السلام د آواز قبول والے وكړو په شاګانو د پلارانو او په رَحِمونو د زنانو كښے- او دا آواز اول يمن والو واوريدو نو نشته هيڅ حاجی چه د هغه ورځے نه حج له راځی تر قيامت ورځے پورے مګر هغۀ د ابراهيم عليه السلام د آواز قبول والے كړيدے-

أما أثر ابن عباس فأخرجه ابن ابی شيبة والحاكم وصححه والبيهقی فی سننه (۱۷٦/٥) وإسناده حسن، وأورده الفاكهی بإسناد صحيح، وقواه المباركفوري فی تحفة الأحوذی : ۳۷۳/۲ رقم : ۷٥٥، وهو فی فتاوی الدين الخالص : ۱۰/٤]-

او په لَبَّيْكَ لفظ كښے اشاره ده چه الله تعالىٰ د خپلو بندګانو ډير اكرام كړيدے چه دوئ ته ئې د حج او عمرے درخواست وركړے نو بندګانو د هغے قبوالے كړے-

په اول "لبيك" لفظ كښے د الله تعالىٰ د الُوهيت اثبات دے چه په دويم "لبيك" سره د هغے تاكيد شويدے، او په دريم او څلورم "لبيك" سره په ذات او صفاتو كښے د هغۀ نه د شريك او مثل نفی ده-

إِنَّ الْحَمْدَ : يعنی حمدونه او نعمتونه ستا دپاره دی په هر حال كښے- دا په كسره سره مشهور دے، يعنی اِنَّ، او پدے كښے فتحه هم راغلے ده، يعنی "اَنَّ"، نو دا به د سببيت معنىٰ وركوی، يعنی تا ته پدے وجه حاضريم، چه ستا دپاره حمدونه او نعمتونه دی، اول غوره دے- لَا يَزِيْدُ : يعنی په دغه مذكوره تلبيه كښے به رسول الله صلى الله عليه وسلم نور الفاظ نۀ زياتول- مګر دا په اكثرو حالاتو كښے مراد دی، ورنه په بعض اوقاتو كښے رسول الله صلى الله عليه وسلم داسے تلبيه هم وئيلے ده- [لَبَّيْكَ إِلٰـهَ الْحَقِّ] لكه په حديث د ابو هريره رضي الله عنه كښے راغلی دی، نو دا احتمال شته چه ابن عمر رضي الله عنه به هغه نۀ وی آوريدلی او ابو هريره رضي الله عنه به آوريدلی وی- نو ځكه ئې زيادت نقل كړو او مثبت په نافی باندے مقدم وی-

مسئله : د رسول الله صلى الله عليه وسلم پدے تلبيه باندے زيادت كولو كښے اختلاف دے، (۱) امام مالك وائی چه زۀ زيادت مكروه ګنړم- (۲) او د امام مالك نه يو روايت دا هم دے چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه زيادت جائز دے كوم چه به ابن عمر ﷺ كولو چه هغه روستو راځي. [لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلَ] (۳) ثوريّ، اوزاعيّ، احمدّ او ابو حنيفةّ وائي چه زيادت جائز دے. (٤) امام ترمذيّ د امام شافعيّ نه نقل كړي چه كه په تلبيه كښے د الله تعالىٰ د تعظيم بعض الفاظ زيات كړي نو ان شاء الله چه څه باك به نۀ وي، ليكن ما ته محبوبه دا ده چه د رسول الله ﷺ په تلبيه باندے اكتفاء وكړے شي. آه. او دا خبره حقه ده ځكه چه صحابه كرامو د رسول الله ﷺ مخامخ زيادت كړے او هغۀ آوريدلے او رد ئے ندے كړے نو دا سنت تقريري شو. (فتاوى الدين الخالص: ۲۱/۱۰)

2542 (3) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدْخَلَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ چه هركله خپله خپه (مباركه) په ركاب (يعني د پالان پاتكي) كښے ننويسته او په هغۀ باندے د هغۀ اُوښه د اُودريدو په حالت كښے برابره شوه (نو) د ذو الحليفے د مسجد د خوا نه ئے احرام وتړلو. (يا په تلبيه سره ئے آواز پورته كړو) (بخاريّ ومسلمّ)

تشريح : الْغَرْز: د څرمنے يا د لرگي ركاب ته وائي، دا هغه كړئ ده چه په هغے كښے خپه كيخودو سره بنده اس يا اُوښ ته ورخيژي. وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ : باء د تعديه دپاره ده، يعني اُوښے به دۀ لره برابر كړو په خپله شا باندے په ولاړه سره.

أَهَلَّ : يعني په تلبيه وئيلو سره به ئے آواز پورته كړو.

مطلب دا دے چه كله به ئے د مدينے نه د حج يا عمرے دپاره احرام تړلو نو د ذو الحليفے د مسجد د خوا نه به ئے د اُوښ په شا باندے د احرام نيت وكړو او تلبيه به ئے په زوره شروع كړه، او د احرام جامے به ئے مخكښے اغوستے وے.

د صحيحينو په يو بل روايت كښے راغلي دي چه ابن عمرﷺ نه چا پوښتنه وكړه چه ځينے خلك وائي : رسول الله ﷺ د ذو الحليفے د مسجد نه مكے طرفته مخكښے په ((بيداء)) غوندۍ باندے تلبيه ووئيله. نو ابن عمر ﷺ په دے حديث كښے په هغوئ رد كوي چه داسے نۀ ده، بلكه رسول الله ﷺ د ذو الحليفے د مسجد نه بهر د ونے سره تلبيه وئيلے وه.

د نبي ﷺ د تلبيه په باره كښے د صحابه كرامو نه درے روايتونه راغلي دي :

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) د ذوالحليفې په مسجد كښې ئې چه مونځ وكړو نو احرام ئې وتړلو او تلبيه ئې ووئيله- (۲) د مسجد نه چه بهر راووتۀ او په اُوښه برابر سور شو نو تلبيه ئې ووئيله-
(۳) ددې نه مخكښې چه لاړ او غونډئ دپاسه وختۀ نو تلبيه ئې ووئيله- دا درې واړه روايتونه صحيح دي، (البته د ابن عباس ﷺ په روايت كښې لږ كلام شته) او ددې ترمينځ هيڅ تعارض نشته، ځكه نبي ﷺ په دې درې واړو ځايونو كښې تلبيه وئيلې وه، او اصل تلبيه ئې په ذوالحليفه كښې د مونځ كولو نه پس شروع كړې وه- لكه د ابن عباس ﷺ په حديث كښې همدا جواب راغلې، هغۀ نه طاووسؒ پوښتنه وكړه چه د رسول الله ﷺ په تلبيه كښې ولې خلك دا اختلاف كوي؟، نو هغوئ ورته همدا جواب وركړو چه كله نبي ﷺ په مسجد كښې مونځ وكړو نو تلبيه ئې ووئيله، نو دې كښې ورته يوه ډله د صحابه كرامو حاضره شوه، هغوئ خبر وركړو چه په دې وخت كښې ئې تلبيه ووئيله- بيا چه كله نبي ﷺ په ناقه سور شو او تلبيه ئې ووئيله نو بله ډله ورته حاضره شوې وه نو هغوئ خبر وركړو چه په دې وخت كښې ئې تلبيه ووئيله، بيا چه كله مخكښې غونډئ باندې وختۀ نو تلبيه ئې ووئيله، نو دې وخت ورته بله ډله حاضره وه نو هغوئ ددې وخت د تلبيئې خبر وركړو- نو دا اختلاف ځكه راغلې چه هر چا د خپل علم مطابق خبر وركړې- [احمد: ۲۳۵۴]-
لكه دا جمع د رواياتو حافظ ابن قيمؒ او حافظ شوكانيؒ وغيره علماؤ هم كړيده- نو كه په دې هريو مقام كښې انسان د احرام نيت وكړي نو جائز به وي اگر كه افضل دا ده چه د مانځه نه روستو ئې وتړي-

2543 (4) - وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : ابو سعيد خدري ﷺ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره (د مدينې نه) راووتو چه مونږ په حج سره آواز پورته كولو- (تلبيه مو وئيله)- (مسلم)

تشريح : نَصْرُخُ : چغې وهلو ته وئيلې شي مراد ترې نه په اُوچت آواز سره تلبيه وئيل دي- نو ددې نه معلومه شوه چه تلبيه په اُوچت آواز سره وئيل مستحب دي د عامو علماؤ په نيز، او اهل ظاهرؒ وائي چه دا واجب دي- (نوويؒ)
بِالْحَجِّ : دا د صحابه كرامو حالت وو چه اول كښې ئې نيت د حج كړې وو روستو ئې ترې

Maktaba Tul Ishaat.com

عمره جوړه کړه. او د نبي ﷺ د حالت نه دلته سکوت شوېدے.

او دا حديث دليل دے چه نُسك (حج يا عمره) په وخت د احرام او تلبيه کښې ذکر کول مستحب عمل دے. لکه پدے دليل روستو حديث د انس ﷺ هم دے. يعني داسے به ووائي : [لَبَّيْكَ حَجَّةً يا- لَبَّيْكَ عُمْرَةً] تا ته په حج يا تا ته په عمره باندے حاضريم. يا په دواړو باندے. لکه روستو روايت کښې ذکر دي. او دا کار به صرف په ابتدائي تلبيه کښې وي، ځکه چه په بعض رواياتو کښې ددے نفي هم راغلے ده نو هغه حمل دي په بار بار حج يا عمره ذکر کولو باندے. او دا د دعاء او د ذکر په شکل دے او دا نيت نهٔ دے ځکه چه نيت باندے تلفظ کول بدعت دے.

2544 (5) - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : كُنْتُ رَدِيْفَ أَبِيْ طَلْحَةَ وَإِنَّهُمْ لَيَصْرُخُوْنَ بِهِمَا جَمِيْعًا : الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : زهٔ د ابو طلحه ﷺ سره روستو سور اُوم، او صحابه کرامو به په حج او عمره دواړو باندے په يو ځائے آوازونه پورته کول. (بخاريؒ)

تشريح : رَدِيْفَ أَبِيْ طَلْحَةَ : ابو طلحه ﷺ د انس بن مالك ﷺ پلندر دے، يعني د مور (ام سليم ﷺ) خاوند ئے دے. رديف : د چا سره په يوه سورلۍ باندے شا ته سور انسان ته وائي.

الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ: دا خو يا مرفوع دي خبر د مبتداء محذوفے دي، (هُمَا) يا اَحَدُهُمَا الْحَجُّ وَالآخَرُ الْعُمْرَةُ . يا منصوب دے په اَعْنِيْ مقدر سره. دا دليل دے چه رسول الله ﷺ حج قِران کونکے وو.

2445 (6) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَأَهَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فَحَلَّ وَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوْا حَتّٰى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائي : مونږ د رسول الله ﷺ سره د حجة الوداع په کال باندے (د مدينے نه) راووتو، نو زمونږ نه ځينې هغه وو چه د عمرے احرام ئے وتړلو او زمونږ نه ځينو د حج او عمرے (دواړو) احرام وتړلو او زمونږ نه ځينو (صرف) د حج احرام وتړلو، او رسول الله ﷺ د حج احرام وتړلو نو چا چه د عمرے احرام تړلے وو نو هغه (د

Maktaba Tul Ishaat.com

عمرے کولو نه رُوستو) احرام کوز کړو او چا چه د حج احرام تړلے وو یائے حج او عمره دواړه جمع کړی وو نو هغوی احرام کوز نکړو تردے چه د قربانئ (یعنی اختر) ورځ شوه (نو بیائے احرام کوز کړو)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : خَرَجْنَا : یعنی مونږ د مدینے نه راووتو۔

دا وتل د خالی په ورځ، د ماسپښین مانځه نه پس، په لسم کال د هجرت وو چه په ذی القعده میاشت کښے صرف پنځه ورځے پاتے وے۔

په یو بل روایت کښے دی چه دا وخت په ذی القعده میاشت کښے پنځه شپے پاتے وے۔ او د محققینو علماؤ په نیز دا وتل د خالی (یوم السبت) په ورځ وو۔ چا چه جمعے ورځ یا زیارت ورځ ذکر کړیده نو هغه ضعیف قول دے۔

دا څومره کسان وو؟ پدے کښے اختلاف دے، بعض وائی چه نوی زره (۹۰۰۰۰) کسان وو۔ او دا هم وئیلے شویدی چه دوئ یو لاکهـ څوارلس زره (۱۱٤۰۰۰) کسان وو۔ او څینی ددے نه هم زیات ذکر کوی، (حکاه البیهقیؒ) [شرح الزرقانی علی موطأ الامام مالك ۳٤۱/۲] زرقانیؒ وائی : دا شمار د هغه خلکو وو چه د رسول الله ﷺ سره د مدینے نه راوتی وو، او نور کسان په مکه کښے وسیدونکی وو او څه کسان د یمن نه د علی بن ابی طالب ﷺ او ابو موسیٰ اشعری ﷺ سره راغلی وو۔ آهـ۔ او بعض وائی چه یو لاکهـ څلیریشت زره کسان وو۔ څکه چه په غزا د تبوك کښے دیرش زره کسان وو او حجة الوداع خو د تبوك نه ډیر روستو شویدے نو ضرور به ډیرو کسان ایمان راوړے وی، او ډیر قبائل ډائرك د خپلو علاقو نه راغلی وو او په لاره کښے د رسول الله ﷺ سره ملاو شول لکه په سیرت (۳) جلد کښے ددے حجة الوداع تفصیل مونږ ذکر کړیدے سره د فوائدو نه، هغے ته رجوع پکار ده۔ او مرقات کښے دی چه دا یو لاکهـ دیرش زره کسان وو۔

حَجَّةِ الْوَدَاعِ : وداع ورته څکه وائی چه پدے کښے رسول الله ﷺ د عرفات په غونډئ باندے خلك رخصت کړی وو او دائے وئیلی وو: [لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ عَامِي هٰذَا] شاید چه زۀ به ددے کال نه روستو حج ونکړم۔ او په یو روایت کښے دی: [لَعَلِّي لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِي هٰذَا] شاید چه زۀ به تاسو ددے کال نه روستو ونۀ وینم۔ [احمد: ١٤١٤٣، ابن ماجه: ۳۰۲۳] دیته [حَجَّةُ الإِسْلَامِ] هم وائی، څکه چه په دے کال نبی ﷺ صرف په مسلمانانو حج کړے وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ : يعنى په مونږ كښې بعضو احرام وتړلو صرف په عمرې سره، يعنى داسې ئې وويل : [لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ] يعنى رسول الله ﷺ ملګرو ته اختيار ورکړې وو چه که څوك د عمرې نيت کوى او که د حج او که د دواړو.

بيا پدې روايت كښې اختيار معلوميږى ليكن د صحيحينو په يو بل روايت كښې دى عائشه رضي الله عنها فرمائى : [خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَا نَرٰى إِلَّا الْحَجَّ] زمونږ صرف د حج اراده وه. او په روايت د مسلم كښې دى : [لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ] مونږ به صرف د حج تذكره كوله. ددې نه خو معلوميږى چه عائشې رضي الله عنها سره د نورو صحابه كرامو نه اول كښې د حج احرام تړلې وو؟ ددې اشكال نه حافظ ابن حجرؒ وغيره داسې جواب وركړيدې چه دا محمول دې په اول الامر باندې كله چه دوئ د مدينې نه راوتل نو صرف د حج اراده ئې وه ځكه چه د دوئ رواج دا وو چه د حج په مياشتو كښې به ئې عمره نۀ كوله، او پدې روايت الباب كښې چه كومه خبره ذكر ده نو دا آخرى امر دې، ځكه چه نبى ﷺ دوئ ته په لاره كښې د احرام طريقې بيان كړې او دا ئې هم بيان كړه چه د حج په مياشتو كښې عمره جائز ده.

او على القاريؒ داسې تطبيق كړيدې چه د عائشې رضي الله عنها دا وينا [لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ] يعنى ددې سفر نه زمونږ اصلى مقصد صرف حج وو په يو د درې طريقو سره چه هغه اِفراد، قِران او تمتع دې، نو په مونږ كښې بعض كسانو افراد وكړو او بعضو قران او بعضو تمتع وكړو. او په روايت د مسلم كښې د عائشې رضي الله عنها په روايت كښې داسې الفاظ دى: [فَأَهْلَلْنَا بِعُمْرَةٍ] مونږ د عمرې احرام وتړلو، نو زرقانيؒ وئيلى دى چه ددې مطلب دا دې : [أَىْ أَدْخَلْنَاهَا عَلَى الْحَجِّ بَعْدَ أَنْ أَهْلَلْنَا بِهِ إِبْتِدَاءً] يعنى مونږ عمره په حج باندې ورداخل كړه پس د هغې نه چه مونږ اول د حج احرام تړلې وو.

او پدې كښې د خپل حالت نه خبر وركوى او د هغه چا د حال نه چه ددې په شان د عمرې اراده ئې كړې وه او د ټولو خلكو فعل نۀ ذكر كوى نو پدې وجه ددې منافات نشته ددې روايت سره چه [فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ] نو صحابه كرام درې قسمه وو، صرف عمرې والا، صرف حج والا او جمع بين الحج والعمره والا، بيا روسته رسول الله ﷺ دوئ ته تفصيل وكړو او د حج طريقه ئې ورته وخودله لكه چه راروانه ده.

[فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ] : پدې كښې درې قسمه حجونو ته اشاره كوى، اول حج تمتع دې

Maktaba Tul Ishaat.com

چه د ميقات نه د عمرے نيت وکړی په مياشتو د حج کښے بيا چه کله عمره وکړی نو د ذی الحجے په اتم تاريخ بيا د حج دپاره احرام وتړی۔

وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ : دا **حج افراد** دے، چه د ميقات نه صرف د حج دپاره احرام وتړی او بيا په دغه احرام باندے باقی وی تردے چه حج وکړی، او حرم ته د رسيدو په وخت کښے صرف طواف قدوم وکړی۔ مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ : دا حج قِران دے۔ چه د ميقات نه د عمرے او حج دواړو نيت وکړی او داسے ووائی : [لَبَّيْكَ حَجًّا وَعُمْرَةً] يا ددے برعکس ووائی، نو اول عمره وکړی بيا په همدغه احرام کښے پاتے وی تردے چه حج هم وکړی۔

[أَهَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْحَجِّ] (رسول الله ﷺ د حج احرام وتړلو) قاضی عياضؒ، نوویؒ او حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا د نبی ﷺ د ابتدائی حالت بيان دے، او ددے نه پس نبی ﷺ په حج باندے عُمره ورداخله کړه نو قارن وګرځيدهٔ، ځکه نبی ﷺ چه کوم حج کړے نو د راجح قول مطابق دا حج قِران وو۔ حنابلۃ او حنفيۃ ددے دا معنیٰ کوی چه عائشےؓ د نبی ﷺ نه صرف د حج تلبيه آوريدلے نو ځکه ئے دا وفرمايل چه نبی ﷺ د حج احرام وتړلو۔ او د قارن دپاره دا جائز دی چه د حج تلبيه کوی اوکه د عُمرے۔ کله به [لَبَّيْكَ بِحَجَّةٍ] او کله به [لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ] او کله به [لَبَّيْكَ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ] وائی، نو عائشےؓ هغه شے نقل کړو چه هغه ئے آوريدلے، نو ددے نه دا نهٔ معلوميږی چه ګنے نبی ﷺ د ابتداء نه د حج قِران احرام نهٔ دے تړلے بلکه هغویٔ د ابتداء نه ددے حج احرام تړلے وو۔

لکه د ابن عمرؓ په حديث کښے راغلی : [أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّيْ فَقَالَ: صَلِّ فِيْ هٰذَا الْوَادِي الْمُبَارَكِ وَقُلْ: عُمْرَةً فِيْ حَجَّةٍ] [بخاری: ۱٤٦۱] او د انس ؓ په حديث کښے دی : [ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ] [بخاری: ۱۵۵۱] بيا ئے د حج او عمرے احرام وتړلو۔

وَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ ......الخ: يعنی کومو خلکو چه د ځان سره هدی راوستے وه هغویٔ د يوم النحر پورے د احرام نه ځان حلال نهٔ کړو، او کومو خلکو چه هدی نهٔ وه راوستے نو هغویٔ راتلو سره عُمره وکړه او خپل ځانونه ئے د احرام نه وښکل۔ وَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ : دے سره دا قيد مراد دے چه (وَأَهْدٰى) يعنی چه هدی ورسره وه نو دویٔ د اختر په ورځ د احرام نه ووتل لکه چه روستو راتلونکی نور احاديث پدے باندے دلالت کوی۔

فوائد : (۱) حديث دليل دے چه د حج درے واړه قِسمونه : تمتع، قِران او اِفراد ټول

جائز دی۔ او دا د امت د جمهور علماؤ قول دے۔ اختلاف صرف په افضلیت کښے دے چه په دے درے واړو کښے افضل حج کوم يو دے ؟

(٢) صحابه کرامو ﷺ کښے چا د حج تمتع احرام تړلے وو، چا د حج قِران او چا د حج اِفراد، ليکن کله چه مکے ته ورسيدل نو نبی کريم ﷺ په دوئ کښے هغه چاته چه هغوئ د ميقات نه ځان سره هدی نهٔ وه راوستے، دا حکم وکړو چه دوئ دِے د خپل حج نه تمتع جوړ کړی، يعنی که چا صرف د حج احرام تړلے وو يا د حج او عُمرے دواړو احرام ئے تړلے وو خو په دواړو صورتونو کښے ئے د ځان سره هدی نهٔ وه راوستے، نو دوئ ته نبی ﷺ د حج تمتع حکم وکړو۔

(٣) حديث نه ثابته شوه چه په عُمرے سره د حج فسخ کول جائز دی، ځکه نبی ﷺ هغه کسانو ته چه هغوئ يواځے د حج احرام تړلے وو، دا حکم وکړو چه د عُمرے په احرام سره دا حج ختم کړی او د عُمرے کولو نه پس ځان د احرام نه وباسی او بيا په يوم الترويه (اتم د ذی الحجه) کښے د حج دپاره بيا احرام وتړی۔

(٤) نبی ﷺ حج قِران کړے وو، دے وجے نه افضل حج هم دادے ځکه چه په دے کښے (هدی) قربانی کيږی او نور مشقتونه پکښے وی، په اُوږد احرام کښے پاتے کيدل وی۔

مسئله : اختلاف : نبی ﷺ کوم قِسم حج کړے؟ او د حج کوم يو قِسم افضل دے ؟

(١) د امام مالكؒ او امام شافعیؒ په نيز اِفراد حج افضل دے، دوئ وائی ځکه نبی ﷺ همدا حج کړے وو۔ (٢) د امام احمدؒ په نيز نبی ﷺ حج قِران کړے، خو افضل حج تمتع دے، او دليل دا وائی : چه نبی ﷺ روستو دا آرمان کړے چه «کومه خبره ماته روسته معلومه شوه که هغه راته د مخکښے نه معلومه شوے وے نو مابه هدی د ځان سره نهٔ وے راوستے او مابه تاسو سره شريك ځان د احرام نه وبښکلے وے» [بخاری : ٧٢٢٩، مسلم: ١٢١١] او نبی ﷺ خپلو صحابو ته په تمتع سره حکم کړے وو۔ او د احمدؒ نه يو روايت دادے چه که چا ځان سره هدی راوستی وی نو د هغهٔ په حق کښے قِران، اوکه چا نهٔ وی راوستی نو د هغهٔ په حق کښے تمتع افضل دے۔او دا شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ابن قيمؒ غوره کړے۔

(٣) امام ابو حنيفهؒ، اسحاقؒ، ثوریؒ او ابن حزمؒ په نيز قِران افضل دے۔ او همدا قول

Maktaba Tul Ishaat.com

راجح دے ځکه د انس ﷺ په حديث کښې راغلي :

[سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَهَلَّ بِهِمَا جَمِيْعًا] [بخاري : ۱۵۵۱، مسلم :۱۲۵۱]

او الله تعالىٰ د خپل نبي دپاره اختيار د غوره عبادت کوي۔ او نبي ﷺ چه د تمتع کوم آرمان کړے نو شيخ الاسلامؒ فرمائي : دائے د خپلو ملګرو د زړونو ساتلو دپاره کړے وو، هر کله چه نبي ﷺ هغوئ ته د حج فسخ کولو حکم وکړو او هغوئ ته احرام ونښکل ګران شو، نو هغه وخت ئے هغوئ ته دغه خبره وفرمايله۔ او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے نبي ﷺ کوم احرام تړلے وو هغه ډير غوره نهٔ وو۔ خو دے سره دا خبره يادل لرل پکار دي چه په قِران کښې دا ضروري ده چه ځان سره به ئے هدي راوستي وي، که هدي ئے نهٔ وي راوستي نو بيا دا حجِ قِران نهٔ دے بلکه حجِ تمتع دے چه د عُمرے نه پس به ځان حلالوي۔ او په دے خبره کښې احناف خلاف کوي، د دوئ په نيز په غير د سوق د هدي نه هم قِران کيږي۔

تنبيه : هر کله چه دا ثابته شوه چه نبي ﷺ قِران حج کړے، نو په کوم روايت کښې چه راځي چه تمتع ئے کړے نو د تمتع اطلاق په قِران هم کيږي ځکه دا هم په يو سفر کښې دوه عبادته جمع کول دي او په دے سره نفع حاصلول دي، او يا مراد دا چه صحابو ته ئے د تمتع حکم کړے۔ نو نسبت رسول الله ﷺ ته وشو لکه دا طريقه په احاديثو کښې ډيره راغلے ده چه قول ته د فعل نسبت کيږي۔ او په کوم روايت کښې چه دا راغلي چه د حجِ اِفراد احرام ئے وتړلو نو دا د ابتدائي حالت تذکره وه، روستو بيا قارن ګرځيدلے، او يا دا چه د عُمرے او حج افعال ئے يو ځائے ادا کړي ځکه د قارن دپاره مسنونه داده چه يو طواف او يوه سعي به کوي، نو د حج او عمرے دواړو افعال يو شول، نو ځکه ئے ترے په اِفراد سره تعبير کړے۔ والله اعلم۔

مسئله : چاچه يوائے د حج احرام تړلے وي او هَدْي ورسره نهٔ وي نو ددهٔ دپاره په عُمرے سره حج فسخ کول مسنون او مستحب دي، او دا د امام احمدؒ اونورو اهل حديثوؒ قول دے۔ البته د صحابه کرامو ﷺ په حق کښې د حجِ اِفراد نه حجِ تمتع جوړول واجب وو، ځکه نبي ﷺ دوئ ته امر فرمايلے وو، او د امر تعميل د دغه موجوده خلکو دپاره ضروري وو، او د نور امت په حق کښې مسنون او مستحب دے، د وجے د هغه دلائلو نه چه د حجِ افراد په جواز باندے دلالت کوي۔ او بل صحيح روايت په ابوداود رقم (۱۸۱۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې راغلې دے چه ابوذر ﷺ فرمائي : فسخ د حج عمرے ته د صحابه کرامو پورے خاص وه يعني وجوب الفسخ۔ والله تعالىٰ اعلم۔

2546 (7) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : تَمَتَّعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ بَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې په عمرے سره فائده واخسته د حج سره يو ځائے، اول ئے شروع وکړه نو د عمرے احرام ئے وتړلو، بيا ئے د حج احرام وتړلو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : دلته د تمتع نه مراد لغوي معنىٰ ده چه فائده اخستل دی لکه دا معنىٰ په آيت ﴿ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ ﴾ کښې هم مراد ده۔ او دلته ترے اصطلاحي معنىٰ د تمتع نهٔ ده مراد ځکه چه غوره خبره دا ده چه رسول الله ﷺ حج قِران کړيدے۔ او د حج افراد او تمتع اجازه ئے ورکړيده۔

نو مطلب د حديث دا شو چه فائده واخسته رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې په عمرے سره چه يو ځائے کړه د حج سره پدے طريقه چه اول ئے د عمرے دپاره آواز پورته کړو بيا ئے د حج دپاره يعني داسے ئے وويل : [لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجَّةً] اے الله ! زهٔ تا ته په عمره او بيا په حج سره حاضر يم، نو دواړه ئے په يو احرام کښې جمع کړل۔ او دا مطلب نهٔ دے چه اول ئے د عمرے دپاره احرام وتړلو او چه کله عمره پوره شوه نو بيا ئے د حج دپاره بل احرام وتړلو ځکه که دا معنىٰ وشي بيا به پدے سره مخالفت د نورو احاديثو راشي چه په هغے کښې دا دی چه رسول الله ﷺ حج قِران کړيدے۔

نو تَمَتَّعَ لفظ قِران او تمتع دواړو ته شامليږي خو دلته ترے قِران مراد دے۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِيُ

2547 (8) – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ اَنَّـه رَأَى النَّبِيَّ ﷺ تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : زيد بن ثابت ﷺ نه روايت دے، چه بيشکه دهٔ نبي ﷺ وليدو چه د احرام تړلو دپاره د خپلو ګنډلے شوو جامو نه خالي (بربنډ) شو، او غسل ئے وکړو۔ (ترمذيؒ او دارميؒ روايت کړے)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : [تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ] د خپل احرام دپاره د خپلو گنډل شوو جامو نه خالي شو، يعنې د لنگ او څادر اغوستو نه ئې مخکښې خپلې گنډلې جامې اُوښکلې۔

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه د احرام تړلو په وخت خپلې عادي کپړې وښکل او په لنگ او څادر کښې احرام تړل مسنون دي۔

(۲) دغه شان د احرام تړلو په وخت غسل کول مسنون دي۔ او دا قول د اکثرو علماؤ دے او اهل ظاهرو ورته واجب وئيلے دے، او دا قول د حسنؒ او يو قول د عطاءؒ دے۔ (مرعاة) ليکن دا قول نه شاذ دی، د عام امت مخالف دی۔

او دا غسل ددے عظيم عبادت دپاره د نظافت او پاکئ اختيارولو په غرض کيږي، ولے چه دا اُوږد عبادت دے نو ددے دپاره تيارے پکار دے، اول خپل ځان صفا سوتره کول پکار دی، نوکونه اغستل، ترخونه، زيرناف ويښتهٔ صفا کول پکار دی، ځکه په دے شيانو سره انسان ته تکليف ملاويږي۔ او دا غسل چونکه د صفائئ حاصلولو دپاره کيږي نو حائضے او نُفساء ته هم ددے غسل حکم شوے۔ لکه رسول الله ﷺ اسماء بنت عميس رضي الله عنها ته چه کله نُفساء وه او عائشے رضي الله عنها ته چه کله حائضه وه د غسل حکم کړے وو۔ ځکه چه دا يو داسے عبادت دے چه خلك ورته راجمع کيږي نو دے دپاره غسل مسنون دے لکه د جُمعے د ورځے په شان۔ ابن المنذرؒ اجماع نقل کړيده چه دا غسل واجب نهٔ دے، او عبد الله بن عمر رضي الله عنه به د احرام په وخت کله غسل کولو او کله به ئې اودس کولو۔ او صرف حائضے او نُفساء زنانه ته ددے حکم شويدے، ځکه چه نبي ﷺ نور امت ته ددے حکم نهٔ دے کړے۔ نو ځکه واجب نشو بلکه صرف سنت طريقه شوه۔

او که غسل دپاره اُوبهٔ نهٔ ملاويږي يا يخني وی نو ځينے علماء فرمائي : تيمم به وهي، خو شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي : دا غسل د نظافت او صفايئ دپاره دے، او تيمم کولو سره خو د بدن نور خړ کيدو خطره وی، نو ځکه به تيمم نهٔ وهي۔ او په سنت کښے ددے نقل هم نشته۔

(۳) په حج کښے درے غسلونه مسنون دی: (**يو**) د احرام تړلو په وخت۔ (**دويم**) مکے ته ننوتو په وخت۔ (**دريم**) عرفات باندے ودريدو په وخت۔ خو اول پکښے ډير ضروري دے۔ (زرقانيؒ)

نکته : د احرام تړلو دپاره خاص مونځ نهٔ دے ثابت، خو که احرام تړلو په وخت کښے د

Maktaba Tul Ishaat.com

فرض مانځه وخت شر نو د مانځه نه پس دِے احرام وتړی، لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ د فرض مانځه نه پس احرام تړلے وو- او بعض خلك د احرام په وخت کښے دوه رکعاته خامخا ضروری ګڼړی، دا په احادیثو کښے ثابت نهٔ دی، البته که څوك تحية المسجد يا تحية الوضوء کوی يا د فرض مانځهٔ وخت وی نو بيا د هغے نه روستو احرام تړی صحيح ده خو د احرام دپاره خاص مونځ نشته- يعنی صلاة الاحرام نشته-

درجة الحديث: [صحيح] ترمذی: ۸۳۰، ابن خزيمة: ۹۵ د ۳، دارقطنی: ۲/ ۹۲۰، الدارمی (۲/ ۳۱)، بيهقی: ۵/ ۳۲، صحيح ترمذی.

2548 (9) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبَّدَ رَأْسَهٗ بِالْغِسْلِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ خپل سر (مبارك) د وينځلو په يو شی سره وتړلو (ونښلولو)-(ابوداودؒ)

تشريح: بِالْغِسْلِ: په کسره د غين او سکون د سين سره- هغه شے دے چه د اُوبو سره د صفائی دپاره يو ځائے کولے شی لکه خطمی، اشنان (زمئ) او صابون او کهانړ وغيره) يا غسل مَا يُغْسَلُ بِهٖ ته وائی- يعنی هر هغه شے چه په هغے سره وينځل کيږی لکه خطمی وغيره- (جزریؒ)

دا حديث هم دليل دے چه تلبيد په احرام کښے سنت طريقه ده، او کوم علماءِ احناف چه پدے کښے دا تاويل کوی چه دا د احرام نه مخکښے شوے وو، نو د هغے ترديد مخکښے روايت کښے ذکر شو چه عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی:

[سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يُهِلُّ مُلَبِّدًا] ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه په حالت د تلبيد کښے ئے د تلبيه الفاظ ووِيل- نو مُلَبِّدا حال دے د يُهِل د ضمير نه، معلومه شوه چه په حالت د احرام کښے دا کار شويدے-

او په روايت د بخاری او مسلم کښے دی: [إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي] ما خپل سر لمخے کړيدے او خپلے هديی ته مے اميل اچولے دے-

درجة الحديث: [حسن] رواه ابوداود (۱۷۴۸) وَجَوَّدَه ابن کثير فی البداية والنهاية (۵/ ۱۰۶) وفيه عنعنة ابن اسحاق فانه مدلس ولکن معناه فی الصحيحين کما مر وکذلك هو من باب السيرة ومحمد بن اسحاق امام فيها.

Maktaba Tul Ishaat.com

2549 (10) - وَعَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: (أَتَانِي جِبْرِيلُ، فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ أَوِ التَّلْبِيَةِ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: خلاد بن سائبؒ د خپل پلار نه روایت کوی چه هغه فرمائی: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: ماته جبریل عليه السلام راغے او حکم ئے راته وکړو چه زۀ خپلو ملګروته حکم وکړم چه په تلبیه ویلو باندے خپل آوازونه اُوچت کړی۔ (مالكؒ، ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تعارف د خلاد بن سائب رحمه الله: دا خلاد بن سائب بن خلاد بن سوید انصاری خزرجی دے۔ د دریمے طبقے ثقه تابعی دے۔ څوچه دۀته صحابی ویلی، دا صحیح نۀ ده۔ (قاله فی التقریب)

تشریح: [بِالإِهْلَالِ] اهلال نه مراد دلته تلبیه ده، ځکه د اهلال معنیٰ ده: په زوره تلبیه ویل۔ او التلبیه: دا د راوی شك دے، چه د اهلال لفظ ئے وئیلے یا د تلبیه، مګر د دواړو مطلب یو دے۔

فوائد: (۱) **حکم رفع الصوت بالتلبية:** حدیث نه ثابته شوه چه د احرام د نیت کولو نه پس په زوره تلبیه وئیل واجب دی ځکه نبی کریم صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو رضي الله عنهم ته په دے امر کړے او امر د وجوب دپاره دے، او قرینه صارفه د وجوب نه نشته، او دا قول د اهل ظاهرو دے او علامه شوکانی، او شنقیطیؒ غوره کړے۔ او جمهور علماء وائی چه په تلبیه باندے آواز پورته کول مستحب او مسنون دی۔ لیکن د دلیل په وجه سره د اهل ظاهرو قول راجح دے۔

(۲) **حکم التلبية:** د تلبیه څه حکم دے؟ پدے کښے څلور اقوال دی: (أ) او د امام ابوحنیفهؒ، ابن حزمؒ، ثوریؒ، عطاءؒ او طاووسؒ په نیز تلبیه رکن دے چه ددے نه بغیر حج نۀ صحیح کیږی لکه څنګه چه تکبیرِ تحریمه نه بغیر مونځ نۀ کیږی۔ (ب) بعض شوافع (کما قال الماوردیؒ) او بعض مالکیه (کما قال ابن قدامهؒ) او امام مالكؒ (کما قال الخطابیؒ) قول دا دے چه تلبیه واجبه ده، او ددے په پریخودو سره دم لازمیږی۔ (ج) ابن المنذرؒ وائی اصحاب الرأی وائی: تلبیه واجبه ده لیکن ددے په ځائے نور الفاظ لکه تکبیر، تسبیح، تهلیل کافی کیږی کله ئے چه پدے سره د احرام نیت وی۔ (د) او د امام

Maktaba Tul Ishaat.com

احمدؒ او امام شافعيؒ په نيز سنت ده، چه په پريخودوئے هيڅ شے نۀ لازميږي، او دے قول ته ابن عثيمينؒ ترجيح ورکړے۔ د دوئ په نيز په دے کښے چه کوم امر راغلے نو ددے د وجوب نه قرينه صارفه داده چه د هر حاجي او معتمر دپاره په اُوچت آواز تلبيه وئيلو کښے حرج دے۔ ليکن دا خبره په محل د نظر کښے ده، ځکه په يو ځل دوه ځلو ويلو کښے په دے کښے هيڅ حرج نشته۔ يو ځل دوه ځل ويل ئے په اُوچت آواز سره واجب دي او ددے نه زيات مسنون او مستحب دي۔

راجح قول دا دے چه تلبيه وئيل واجب دي د هغه چا دپاره چه ددے په وئيلو قادر وي۔ او پدے باندے جهر کول هم واجب دي۔ ځکه تلبيه د حج او عُمرے د ښکاره شعائرو نه دي۔ نبي ﷺ دا نۀ ده پريښے او نۀ صحابه کرامو، بلکه هيڅ يو محرم به تۀ نۀ وينے مګر هغه به دا بار بار لولي۔ ابو سعيد خدري ﷺ فرمائي: ((مونږ چه کله نبي ﷺ سره حج دپاره ووتلو نو مونږ به په زوره زوره تلبيه ويله)) لکه چه مخکښے حديث تير شو۔ [مرعاة المفاتيح: ٨/٤٧١]

دارنګه انس ﷺ فرمائي: ((زۀ ابو طلحه ﷺ پسے روستو سور اُوم په داسے حال کښے چه صحابه کرام او نبي کريم ﷺ د حج او عُمرے دواړو تلبيه په زوره زوره ويله)) [مسلم: ١٢٤٧] وانظر [البحر المحيط الثجاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج: ٢٢/١٥٤] البته که يو انسان معذور وي چه د ډير بوډا والي د وجه نه ئے نشي وئيلے، يا ئے نشي يادولے نو بيا اجازه ده، د هغۀ بغير د تلبيه نه هم حج او عمره کيږي، که په خپله ژبه کښے ووائي چه اے الله! زۀ تا ته په حج يا عمرے سره حاضر يم، هم جائز ده۔

(٢) د [أَصْحَابِيْ] نه معلوميږي چه په اُوچت آواز سره تلبيه ويل صرف نارينه ؤ دپاره مشروع دي نۀ زنانو دپاره۔ ځکه د دوئ په آواز سره د فتنے خطره وي، البته که دا خطره نۀ وه نو بيا دوئ له هم په اوچت آواز وئيل مشروع دي لکه زنانه سره د محرم نه علاوه بل خوك نۀ وي نو په دے وخت کښے هغه په اُوچت آواز سره وئيلے شي۔ لکه د عائشے ﷺ نه نقل دي چه هغے په اوچت آواز سره تلبيه ويله۔ [ابن أبي شيبة: ١٥٥٤٧]

(٣) که د حج احرام ئے تړلے وي نو تلبيه به د اختر په ورځ د جمره عقبے ويشتلو نه پس بندوي۔ او که د عُمرے احرام ئے تړلے وو نو د طواف شروع کولو په وخت د حجر اسود ښکلولو نه پس به تلبيه ختمه کړي۔ لکه ابوداود (١٨١٩) او ترمذي (٩١٩) او ابن خزيمه

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۶۹۶) داسې روايت راوړيدې. او دا هم جائز ده چه د مکې د کورونو په ليدلو تلبيه ختمه کړي لکه عبد الله بن عمر به دا سې کول. [بخارى : باب الاغتسال عند دخول مكة رقم : ۱۵۷۳]

درجة الحديث : [صحيح] : أبوداود: ۱۸۱٤، ترمذى: ۸۲۹، ابن ماجه: ۲۹۲۲، نسائى: ١٦٢/٥، أحمد : ٥٦/٤، دارمى: ۱۸۰۹، ابن حبان : ۳۷۹۱، ابن خزيمة: ۲۶۲۵، حاكم: ۱/ ٤٥٠. صحيح أبى داود.

2550 (11) - وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّيْ** إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِيْنِهِ وَشِمَالِهِ : مِنْ حَجَرٍ أَوْ شَجَرٍ أَوْ مَدَرٍ حَتّٰى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هٰهُنَا وَهٰهُنَا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او سهل بن سعد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو مسلمان چه تلبيه ووائي مگر د هغهٔ سره تلبيه وائي هغه څوك چه ددهٔ ښي او ددهٔ گس طرف ته وي د کاڼړو او ونو او لوټو نه تردې چه زمکه ددې طرف او هغه طرف نه ختمه شي. (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : مِنْ حَجَرٍ : دا بيان د (مَنْ عَنْ يَمِيْنِهِ الخ) دې. مَنْ د ذوی العقولو دپاره استعماليږي دلته د غير ذي عقل دپاره استعمال شويدې. دا هم کله نا کله جائز ده، او دلته دې څيزونو کار د ذوی العقولو کړې پدې وجه ورله (مَنْ) استعمال شو. او په روايت د ابن ماجه او حاکمؒ او بيهقيؒ کښې (مَا عَنْ يَمِيْنِهِ) لفظ ذکر دې.

مَدَرٍ : لوټې ته وائي. تَنْقَطِعَ : [اَیْ تَنْتَهِیْ] تردې چه زمکه آخر سر ته ورسيږي.

د هٰهُنَا وَهٰهُنَا نه مراد مشرق او مغرب دی.

يعني ددهٔ سره به پدې تلبيه کښې د زمکې ټول څيزونه موافقت کوي. (طيبيؒ)

مسلمان ته د کاڼړي او ونې او لوټې د تلبيه وئيلو نه فائده دا حاصليږي چه ددې ذکر فضيلت وپيژني چه دا د الله تعالىٰ په نيز باندې څومره شرافت لري، او دا لرې نهٔ ده چه دهٔ دپاره ددې ټولو ثواب وليکلې شي گويا که دهٔ دا ټول ذکر پخپله کړيدې، ځکه چه د هغوی د تلبيه سبب ددهٔ تلبيه وه.

درجة الحديث : [صحيح] اخرجه الترمذى (۸۲۸) وابن ماجه (۲۹۲۱) وابن خزيمة (۲٦٣٤) والحاكم فى المستدرك (۱/ ٤٥١) وقال صحيح على شرط الشيخين وأقره الذهبى وصححه الالبانى ايضا فى صحيح الترغيب (۱۱۳٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

2551 (12) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ النَّاقَةُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ أَهَلَّ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُوْلُ : " **لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ**، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَلَفْظُهُ لِمُسْلِمٍ

ترجمه : ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به په ذو الحليفه کښې دوه رکعاته مونځ کولو بيا چه کله به په هغهٔ باندې اُوښه په ولاړه سره برابره شوه د ذو الحليفې د مسجد په خوا کښې نو پدې کلماتو سره به ئې تلبيه ووئيله او داسې به ئې ووئيل : لبيك الخ : اې الله ! زهٔ تا ته حاضر يم، او ستا خدمت ته تيار يم، او ټول خيرونه ستا په لاسونو کښې دي، او مينه تا طرف ته ده او عمل (هم)۔ (بخاريؒ او مسلمؒ او دا الفاظ د مسلمؒ دي)

تشريح : مخکښې تير شو چه د احرام دپاره په احاديثو کښې خاص مونځ نهٔ دې راغلي، د مونځ نه بغير هم احرام تړل جائز دي۔ جمهور علماءٌ وائي چه د احرام دپاره دوه رکعاته نفلي مونځ بهتر دې، ليکن د دوئ قول خطاء دې، او هرچه دلته د رسول الله ﷺ د دوه رکعاتو نه روستو مونځ کړې نو دا فرض مونځ وو، او د هغې پسې متصل ئې هم احرام نهٔ دې تړلې بلکه کله چه د مسجد نه رابهر شو او اُوښه باندې سور شو، بيا ئې د احرام نيت وکړو۔ او حسن بصريؒ نه نقل دي چه د فرض مانځه نه روستو احرام بهتر دې ليکن پدې باندې قوي دليل نشته۔ البته که د فرض مانځه وخت حاضر وو نو د فرض مانځه نه روستو هم احرام تړل جائز دي، خو که د فرض مونځ وخت حاضر نهٔ وو نو مستقل د احرام دپاره مونځ مسنون نهٔ دې، لکه دا خبره حافظ ابن قيمؒ او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ذکر کړيده۔ البته د ذو الحليفه په وادي کښې برکت دې، رسول الله ﷺ ته جبريل ﷺ حکم وکړو چه دې مبارکه وادي کښې دوه رکعاته مونځ وکړه، نو دا ددې ځائې خصوصيت دې، دا مونځ د احرام دپاره نهٔ دې۔ ددې وجه نه ئې داسې الفاظ ووئيل :[يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ]۔ نهٔ داسې چه : د احرام دپاره ئې دوه رکعاته وکړل۔

وَيَقُوْلُ : دلته مصنفؒ په حديث کښې د اختصار نه کار اخستې دې او دا زياتي الفاظ د عبد الله بن عمر ﷺ دي، ليکن لوستونکې دا فهم کوي چه دا هم د رسول الله ﷺ الفاظ دي۔ يعني عبد الله بن عمر ﷺ به (او دغه شان د هغهٔ پلار عمر فاروق ﷺ به) د رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ د تلبیه نه پس داسے الفاظ هم زیات وئیل۔
ددے نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ تلبیه وئیل بهتر دی او که څوك د عبد الله بن عمر ﷺ دا زیاتی الفاظ ووائی هم صحیح ده، ځکه چه عبد الله بن عمر ﷺ به د رسول الله ﷺ په مخامخ دا الفاظ وئیل او هغه ئے نهٔ منع کولو نو دا دلیل دے چه دا سنت تقریری دے۔
وَسَعْدَيْكَ : دا دَ لَبَّيْكَ په شان تثنیه ده، معنیٰ ئے ده : [أُسْعِدُكَ إِسْعَادًا بَعْدَ إِسْعَادٍ، يَا سَعَادَةً بَعْدَ سَعَادَةٍ]۔ زهٔ تا سره تعاون کوم په خبره منلو سره بار بار۔ یا زهٔ ستا خدمت ته تیار یم۔
یا [أَسْعِدْنِيْ إِسْعَادًا بَعْدَ إِسْعَادٍ] ما سره مدد وکړه بار بار۔
وَالرَّغْبَاءُ : پدے کښے درے قراء ته دی، (۱) د راء فتحه سره د مد نه دا ډیر مشهور دے، (۲) د راء ضمه سره د قصر نه۔ دا هم مشهور دے۔ (۳) د راء فتحه سره د قصر نه، دا غریب دے۔ دا د رغبة نه دے، طلب ته وائی۔ یعنی طلب تا ته متوجه کیږی او تهٔ د بندګانو مطلوب او مَسْئُوْل مِنْهُ ئے۔ (تا نه به سوالونه کوی) یا رغبت مینے ته وائی یعنی مینے تا ته متوجه کیږی۔
وَالْعَمَلُ : او ټول عملونه او عبادتونه ستا دپاره دی، او تهٔ ددے مستحق ئے۔
دلته هم اِلَيْكَ حذف دے، [أَيِ الْعَمَلُ مُنْتَهٍ إِلَيْكَ إِذْ أَنَّكَ الْمَقْصُوْدُ مِنْهُ]
یعنی د عمل انتهاء او رسیدل تا ته کیږی ځکه چه تهٔ مقصود ئے۔
یا (لَكَ) لفظ حذف دے، [أَيِ الْعَمَلُ لِوَجْهِكَ وَرِضَاكَ] یعنی عملونه ستا د رضا او ستا د مخ دپاره دی۔ یا (بِكَ) لفظ حذف دے، [أَيِ الْعَمَلُ بِأَمْرِكَ وَتَوْفِيْقِكَ] یعنی عمل ستا په امر او توفیق سره دے۔

2552 (13) — وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا فَرَغَ مِنْ تَلْبِيَتِهِ سَأَلَ اللّٰهَ رِضْوَانَهُ وَالْجَنَّةَ وَاسْتَعْفَاهُ بِرَحْمَتِهِ مِنَ النَّارِ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ

ترجمه : او عماره بن خزیمه بن ثابتؒ د خپل پلار نه روایت کوی او هغه د نبی کریم ﷺ نه چه هغه به کله د خپلے تلبیے نه فارغ شو نو د الله تعالیٰ نه به ئے د هغهٔ د رضا او جنت سوال کولو، او د هغهٔ په رحمت سره به ئے د اُور نه معافی (پناه) غوښته۔ (شافعیؒ)

تعارف د عُماره بن خزیمه بن ثابت رحمه الله : دا په د عین په پیش سره دے، انصاری او اَوسی دے، کنیه ئے ابو عبد الله یا ابو محمد المدنیؒ ده، د تابعینو د طبقه وسطیٰ نه ثقه تابعی دے، په یو سل پنځه (۱۰۵ هـ) کښے د (۷۵) کالو په عمر وفات شویدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

پلار ئې خزیمه بن ثابت ﷺ صحابي دے چه په ذو الشهادتین باندے مشهور دے او ددهٔ ترجمه ددے کتاب په څلورم جلد کښے ذکر شویده۔

تشریح : وَاسْتَعْفَاهُ : یعنی طلب د عفو به ئې وکړو د الله تعالیٰ د رحمت په ذریعه سره د اُور نه۔ ددے روایت نه دا ثابتیږی چه د تلبیه نه روستو دا دعاء لوستل مستحب دی مګر دا روایت ضعیف دے، نو د عامو دعاګانو نه یوه دعاء ده، انسان ئې هر وخت کولے شي۔

درجة الحديث : [ضعیف] فیه ابراهیم بن ابی یحیی ضعیف، رواه الشافعی فی الأم (۲/۱۵۷) والدارقطنی (۲/۲۳۸ رقم (۱۱) والبیهقی فی الکبری (۵/۴۶) وشرح السنة (۷/۵۲)]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2553 (14) – عَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ الْحَجَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فَاجْتَمَعُوْا فَلَمَّا أَتَى الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : جابر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هرکله د حج اراده وکړه نو په خلکو کښے ئې اعلان وکړو نو هغوی (مدینے ته) راجمع شول، بیا هرکله چه بیداء (د ذو الحلیفے مخے ته یو میدان) ته راغلو نو احرام ئې وتړلو۔ (بخاریؒ)

تشریح : یعنی هرکله چه حج فرض شو او رسول الله ﷺ په لسم (۱۰ هـ) کښے ددے فریضے د ادائیګئ دپاره اعلان وکړو چه رسول الله ﷺ د حج اراده لری نو په چا باندے چه حج فرض دے هغوی دِے د حج د سفر دپاره تیار شی، ځکه چه د رسول الله ﷺ سره یو ځائے حج کول په خلکو باندے فرض وو، دے دپاره چه د هغهٔ نه طریقه زده کړی۔ نو په مقرره وخت باندے مدینے ته ډیر مسلمانان راجمع شول نو رسول الله ﷺ د تمامو ملګرو سره د مدینے نه روان شو، او هرکله چه د ذو الحلیفے نه اُووتو او بیداء میدان کښے روان شو نو هلته ئې احرام وتړلو۔

مخکښے ذکر شو چه احرام ئې د ذو الحلیفے د مسجد نه د مانځه نه روستو تړلے وو، نو دلته مراد دا دے چه هرکله بیداء ته راورسیدو نو دلته ئې دوباره لَبَّيْكَ ووئیلو او خلکو ته ئې د خپل ځان د مُحرم کیدو اظهار وکړو، ځکه چه خلك ډیر زیات وو چه ملګرو ته بار بار خبردارے وشی چه نبی ﷺ احرام تړلے دے۔ او بل په تبدیل د مکان سره تلبیه کښے تکرار پکار دے۔

أَذَّنَ فِي النَّاسِ : دلته د اعلان نسبت رسول الله ﷺ ته شویدے ځکه چه اول هغهٔ خپلو

Maktaba Tul Ishaat.com

نزدې ملګرو ته خبر ورکړو چه حج له به ځو او بيا ئې يو تن مقرر کړو چه هغه عامو مسلمانانو ته اګرکه په بهر ملکونو کښې وو اعلان وکړي.

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ : دا د مصنف سهوه ده ځکه چه دا روايت په بخاري کښې نۀ په لفظ سره شته او نۀ ددې معنىٰ شته بلکه دا د ترمذيؒ روايت دې.

درجة الحديث: [صحيح] الترمذي : ۸۱۷]

2554 (15) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ الْمُشْرِكُونَ يَقُولُونَ : لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ فَيَقُولُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ** "إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ. يَقُولُونَ هَذَا وَهُمْ يَطُوفُونَ بِالْبَيْتِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : ابن عباس ﷺ فرمائي : مشرکانو به (په حج کښې داسې) وئيل : لبيك لاشريك لك. (تا ته حاضريم، ستا هيڅوك شريك نشته) نو رسول الله ﷺ به فرمايل : هلاك شئ بس، بس. (ددې ځائې نه اخوا شركي الفاظ مۀ وايئ ليکن هغوى به وئيل :) مګر ستا شريك شته چه تۀ د هغۀ مالك ئې او د هغه شي (هم) چه هغه ئې مالك دې. (يا معنىٰ : د هغۀ اختيار نشته) هغوى به دا وئيل په داسې حال کښې چه هغوى به د بيت الله نه طواف کولو. (مسلمؒ)

تشريح : مخکښې به رسول الله ﷺ په مکه کښې حج يا عمره کوله يا به په عام حالت کښې وو نو مشرکانو نه به ئې آوريدل چه داسې به ئې وئيل [لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ]. يعنې اې الله! مونږ تا ته حاضريو، ستا هيڅ شريك نشته، البته هغه شريك ستا شته چه تۀ د هغۀ اختيارمند ئې (يعنې هغه ستا مملوك دې) او هغه خپل اختيار نۀ لري. (يعنې تا ورله اختيارات او واك ورکړيدې). نو رسول الله ﷺ به هغوى ته وئيل چه هلاك شئ "لا شريك لَكَ" پورې خبره صحيح ده، چه د الله تعالىٰ هيڅ شريك نشته، ددې نه مخکښې نور څه مۀ وايئ، ليکن د مشرکانو په عقلونو باندې د ګمراهئ او حماقت پردې پرتې وې، هغوى د هدايت خبره کله منله، هغوى به همداسې دا وئيل چه إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ. البته ستا شريکان شته، او دا په حقيقت کښې د دوئ انتهائي بيوقوفي وه ځکه چه بتان ئې د الله تعالىٰ ملکيت هم منلو او بيا به ئې هغوى ته د الله تعالىٰ شريکان وئيل، او دا خبره خو د عقل نه ډيره لرې ده چه يو تن دې د چا غلام او خادم وي او بيا دې د هغۀ سره شريك هم وي، خپله خو به ئې

Maktaba Tul Ishaat.com

غلامان د ځان سره شريكان نۀ وئيل او د الله تعالىٰ دپاره به ئے د هغۀ مملوكين شريكان وئيل۔

انس بن مالك ﷺ فرمائي : خلك د اسماعيل ﷺ نه روستو په اسلام باندے روان وو تردے چه شيطان راغلو او دوئ ته ئے وسوسے واچولے چه په تلبيه كښے داسے الفاظ ووائی او هميشه ورپورے انښتے وو تردے چه خلكو همدا الفاظ شروع كړل او پدے طريقه ئے د اسلام نه شرك ته اُووخكل۔ [أخرجه البزار، وقال الهيثمي رجاله رجال الصحيح۔ مجمع الزوائد : ۳/۲۲۳]

قَدْ قَدْ : دا د دال په سكون سره دی، او زير د قاف هم پكښے جائز دے، بغير د اشباع نه۔ اسم فعل دے په معنىٰ اِنْتَهِ سره دے، يعنی بس بس/ د مخكښے وئيلو نه منع شئ۔

وَمَا مَلَكَ : ما موصوله ده۔ يعنی د هغه شی مالك هم تۀ ئے چه هغوی ئے مالكان دی، يعنی تا ورله بعض ملكيتونه وركړيدی او اصل ملكيت ستا دے۔ اُوس هم د مشركانو همدا عقيده ده چه دا باباګان او زيارتونه خو د الله تعالىٰ اولياء دی، خپل اختيارئے نشته ليكن الله ورله واكونه او اختيارات وركړيدی، او څوك د من دانے ذمه وار دے او څوك د زيری او څوك د تبو، او څوك د بچو وركولو۔ والعياذ بالله۔ والله المستعان۔

يا ما نافيه ده۔ معنىٰ دا ده : تۀ ددے بتانو مالك ئے او ددے بتانو هيڅ ملكيت نشته مګر تا ورته اختيارات وركړيدی۔



Maktaba Tul Ishaat.com

۲- باب قصة حجة الوداع

د حجة الوداع د واقعې بیان

وَداع د واو په زبر سره رخصتۍ ته وائي، او دې ته حجة الوداع هم پدې وجه وائي چه رسول الله ﷺ په کښې اُمت رخصت کړیدې، یا خپله د امت نه رخصت شویدې، او دې ته "حجة البلاغ" هم وائي ځکه چه رسول الله ﷺ په کښې داسې وئیلی دی: [اَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟] خبر شئ! ما تاسو ته دین ورسولو.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2555 (1) - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ بِالْمَدِيْنَةِ تِسْعَ سِنِيْنَ لَمْ يَحُجَّ ثُمَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ فِي الْعَاشِرَةِ: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجٌّ فَقَدِمَ الْمَدِيْنَةَ بَشَرٌ كَثِيْرٌ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتّٰى إِذَا أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِيْ بَكْرٍ فَأَرْسَلَتْ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ أَصْنَعُ؟ قَالَ: " **اِغْتَسِلِيْ وَاسْتَثْفِرِيْ بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِيْ** " فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتّٰى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالتَّوْحِيْدِ "**لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ**". قَالَ جَابِرٌ: لَسْنَا نَنْوِيْ إِلَّا الْحَجَّ لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ حَتّٰى إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ اِسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَطَافَ سَبْعًا فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشٰى أَرْبَعًا ثُمَّ تَقَدَّمَ إِلٰى مَقَامِ إِبْرَاهِيْمَ فَقَرَأَ: (**وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى**) فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ وَفِيْ رِوَايَةٍ: اِنَّهُ قَرَأَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ: (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الصَّفَا فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ: (**إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ**) أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ، فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتّٰى رَأَى الْبَيْتَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَوَحَّدَ اللّٰهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ: " **لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ**

Maktaba Tul Ishaat.com

وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ". ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذٰلِكَ قَالَ مِثْلَ هٰذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ نَزَلَ وَمَشٰى إِلَى الْمَرْوَةِ حَتّٰى انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ بَطْنِ الْوَادِيْ ثُمَّ سَعٰى حَتّٰى إِذَا صَعِدْنَا مَشٰى حَتّٰى أَتَى الْمَرْوَةَ فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا حَتّٰى إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافٍ عَلَى الْمَرْوَةِ نَادٰى وَهُوَ عَلَى الْمَرْوَةِ وَالنَّاسُ تَحْتَهُ فَقَالَ: " لَوْ أَنِّيْ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِيْ مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ وَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحِلَّ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً ". فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ؟ فَشَبَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَهُ وَاحِدَةً فِي الْأُخْرٰى وَقَالَ: " دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ لَا بَلْ لِأَبَدِ أَبَدٍ ". وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ: " مَاذَا قُلْتَ حِيْنَ فَرَضْتَ الْحَجَّ؟ " قَالَ: قُلْتُ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُوْلُكَ قَالَ: " فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلَّ ". قَالَ: فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِيْ قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِيْ أَتٰى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً قَالَ: فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوْا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ مِنْ هَدْيٍ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ تَوَجَّهُوْا إِلٰى مِنًى فَأَهَلُّوْا بِالْحَجِّ وَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى بِهَا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ مَكَثَ قَلِيْلًا حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَأَمَرَ بِقُبَّةٍ مِنْ شَعْرٍ تُضْرَبُ لَهُ بِنَمِرَةٍ فَسَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَشُكُّ قُرَيْشٌ إِلَّا أَنَّهُ وَاقِفٌ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ كَمَا كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصْنَعُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَجَازَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى أَتٰى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةٍ فَنَزَلَ بِهَا حَتّٰى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَأَتٰى بَطْنَ الْوَادِيْ فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ: " إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا، أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوْعٌ وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوْعَةٌ وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ رَبِيْعَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَكَانَ مُسْتَرْضَعًا فِيْ بَنِيْ سَعْدٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوْعٌ، وَأَوَّلُ رِبًا أَضَعُ مِنْ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوْعٌ كُلُّهُ فَاتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوْهُنَّ بِأَمَانِ اللّٰهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوْجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللّٰهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوْطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُوْنَهُ فَإِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَعَلْنَ ذٰلِكَ فَاضْرِبُوْهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيْكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهٗ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهٖ كِتَابُ اللّٰهِ وَأَنْتُمْ تُسْأَلُوْنَ عَنِّيْ فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُوْنَ؟" قَالُوْا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ. فَقَالَ بِأُصْبُعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ: "اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ" ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ رَكِبَ حَتّٰى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ بَيْنَ يَدَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتِ الصُّفْرَةُ قَلِيْلًا حَتّٰى غَابَ الْقُرْصُ وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَدَفَعَ حَتّٰى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلّٰى بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ فَصَلَّى الْفَجْرَ حِيْنَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتّٰى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهٗ وَهَلَّلَهٗ وَوَحَّدَهٗ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتّٰى أَسْفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ حَتّٰى أَتٰى بَطْنَ مُحَسِّرٍ فَحَرَّكَ قَلِيْلًا ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيْقَ الْوُسْطٰى الَّتِيْ تَخْرُجُ عَلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى حَتّٰى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِيْ عِنْدَ الشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا مِثْلَ حَصَى الْخَذْفِ رَمٰى مِنْ بَطْنِ الْوَادِيْ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ ثَلَاثًا وَسِتِّيْنَ بَدَنَةً بِيَدِهٖ ثُمَّ أَعْطٰى عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَأَشْرَكَهٗ فِيْ هَدْيِهٖ ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِيْ قِدْرٍ فَطُبِخَتْ فَأَكَلَا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا ثُمَّ رَكِبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَفَاضَ إِلَى الْبَيْتِ فَصَلّٰى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ فَأَتٰى عَلٰى بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَسْقُوْنَ عَلٰى زَمْزَمَ فَقَالَ: "اِنْزِعُوْا بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَوْلَا أَنْ يَّغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلٰى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ". فَنَاوَلُوْهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: جابر ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په مدینه کښې اته کاله ایسار شو چه حج ئې ونکړو بیا ئې په لسم کال په خلکو کښې د حج اعلان وکړو۔ چه بیشکه رسول الله ﷺ حج کونکے دے۔ نو مدینے ته ډیر خلك راغلل، نو مونږ د هغهٔ سره (د مدینے نه) راووتو تردے چه مونږ ذو الحلیفے ته راغلو، نو (هلته) اسماء بنت عُمیس ﷛ د ابو بکر صدیق ځوی محمد وزیږولو نو رسول الله ﷺ ته ئې جواب ولیږلو چه زهٔ به څنګه کار کوم؟ نبی ﷺ ورته وفرمایل: "غسل وکړه او ځان نه کپړه تاو کړه او احرام وتړه" نو

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ (د ذو الحليفې) په مسجد كښې مونځ وكړو بيا په قصواء (اُوښه) سور شو تردې چه هركله په هغې باندې د هغې اُوښه په بيداء (ميدان) كښې برابره شوه نو په توحيد سره ئې آواز پورته كړو لبيك الخ. جابر ﷺ وائي : مونږ نيت نۀ وو كړې مګر د حج، مونږ عمره نۀ پيژندله بيا تردې چه مونږ د هغۀ سره بيت الله ته راغلو، هغۀ حجر اسود ښكل كړو بيا ئې اوه ګردشه طواف وكړو نو په دريو ګردشونو كښې ئې پهلواني وكړه او په څلورو كښې په آرام روان شو بيا مقام ابراهيم ته وړاندې شو نو (داسې ئې) ولوستل (وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى) نو دوه ركعاته مونځ ئې وكړو نو مقام ابراهيم ئې د خپل ځان او بيت الله ترمينځ وګرځولو او په يو روايت كښې دى : هغۀ په دوه ركعاتو كښې قل هو الله احد (په اول ركعت كښې) او قل يا ايها الكافرون (په دويم ركعت كښې) ولوستو. بيا حجر اسود ته واپس لاړو نو هغه ئې ښكل كړو بيا د (صفا) دروازې نه صفا ته ووتو، هركله چه صفا ته نزدې شو (نو) وې لوستل (اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ) اَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللهُ بِهٖ. (يعنى زۀ شروع كوم په هغه څه چه الله پرې شروع كړې. (يعنى اول په صفا بيا په مروه) نو په صفا ئې شروع وكړه او هغې ته وختو تردې چه بيت الله ئې وليدو نو قبلې ته مخامخ شو نو د الله يو والې او د هغۀ تكبير ئې بيان كړو. او داسې ئې ووئيل : "لا اله الا الله وحده الخ (ترجمه : نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه، يواځې دې، هيڅ شريك نۀ لرى، خاص د هغۀ دپاره بادشاهى او خاص هغۀ لره د كمال صفتونه دى او هغه په هرشئ قدرت لرونكې دې، نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه يواځې دې، هغۀ خپله وعده پوره كړه او خپل بنده سره ئې مدد وكړو او يواځې ئې د كفارو ډلې ته شكست وركړو").

بيا ئې ددې ترمينځ دعا وكړه او دغه شان كلمات ئې درې ځل ووئيل، بيا راكوز شو او مروه طرف ته روان شو، تردې چه قدمونه ئې په مينځ د كنده كښې ورخكته شول بيا ئې منډه كړه تردې چه مونږ وختو، نو روان شو تردې چه مروه ته راغلو، نو په مروه باندې ئې هغه شان كار وكړو څنګه ئې چه په صفا باندې وكړل تردې چه هركله ئې آخرى ګردش په مروه باندې شو نو آواز ئې وكړو او هغه په مروه باندې وو او خلك د هغۀ نه خكته وو نو وې فرمايل : ((كه زۀ د مخكښې نه پوهه وې په خپل كار باندې په كوم چه روستو پوهه شوم نو ما به هدى نۀ وې راوستې، او ما به دا عمره جوړه كړې وې، نو ستاسو نه چه د چا سره هديه نۀ وى هغۀ دې احرام كوز كړى او دا كارونه دې عمره وګرځوى)). نو (پدې

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې) سراقه بن مالك بن جعشم ﷺ راپاڅیدو، وې فرمایل : اې د الله رسوله ! آیا دا کار زمونږ ددې کال دپاره دې او که همیشه دپاره ؟ نو رسول الله ﷺ خپلې ګوتې (مبارکې) یو په بل کښې ورکړې او وې فرمایل : عمره په حج کښې داخله شوه (دوه کرته ئې داسې وفرمایل) نه، بلکه د همیشه همیشه دپاره (داسې ده)۔ او (پدې کښې) علی ﷺ د یمن نه د نبی کریم ﷺ بُدنې راوستې نو هغهٔ ته ئې وفرمایل: تا څه وئیلی وو کله چه تا (په ځان) حج فرض کړو ؟ هغهٔ عرض وکړو : ما ووئیل : اې الله ! زهٔ احرام تړم په هغه څه سره چه ستا رسول په هغې سره احرام تړلې (یا : زهٔ تلبیه ویم (یا آواز پورته کوم) په هغې سره چه په هغې سره ستا رسول تلبیه وئیلې)۔ نبی علیه السلام ورته وفرمایل : یقیناً ما سره هدی ده نو تهٔ (هم) احرام مهٔ کوزه وه۔ (یعنی مونږ به حج قِران کوو)

جابر ﷺ وائی : نو وې مجموعه د هدایاو هغه چه علی ﷺ د یمن نه راوستې وې او هغه چه نبی ﷺ راوستې وې، سل (۱۰۰) وې، جابر ﷺ فرمائی : نو ټولو خلکو احرامونه کوز کړل او سرونه ئې لنډ کړل سِوی د نبی ﷺ نه او (سِویٰ) د هغه چا نه چه د هغهٔ سره هدی وه، نو هرکله چه د ترویه ورځ شوه (اتمه ورځ) (نو) دوئ منیٰ ته لاړل او د حج دپاره ئې احرام وتړلو، او نبی ﷺ (په اُوښه باندې) سور شو۔ نو په منیٰ کښې ئې د ماسپښین، مازیګر، ماښام، ماسخوتن او سهار مونځ وکړو، بیا لږ وخت ایسار شو تردې چه نمر راوختو او نبی ﷺ حکم وکړو دېښتو په یوه خیمه باندې چه هغهٔ دپاره په نمره (عرفات) کښې اُووهلې شي۔ نو رسول الله ﷺ روان شو او د قریشو شك او ګمان نهٔ وو مګر دا چه نبی ﷺ به د مشعر حرام (مزدلفې) په خوا کښې ودرېږی لکه څنګه چه به قریشو په جاهلیت کښې کول نو رسول الله ﷺ (د مزدلفې نه) واوړیدو، تردې چه عرفات ته راغلو نو خیمه ئې ومونده چه هغهٔ دپاره په نمره کښې وهلې شوې وه، نو هغې کښې نازل شو تردې چه نمر زائل شو نو په قصواء (اُوښه) ئې حکم وکړو نو هغهٔ دپاره پرې پالان واچولې شو بیا هغه د (عرفات) وادی مینځ ته راغلو نو خلکو ته ئې خطبه ووئیله، او وې فرمایل : ((یقیناً ستاسو وینې او ستاسو مالونه په تاسو باندې داسې حرام دی لکه ستاسو دا ورځ چه څنګه حرامه ده ستاسو پدې میاشت کښې، ستاسو پدې ښار کښې۔ خبر شئ هر شے د جاهلیت د کارونو نه زما د دواړو قدمونو لاندې کیخودې شو، او د جاهلیت وینې (قتلونه) هم معاف کړې شول، او یقیناً اوله وینه چه زهٔ ئې د خپلو وینو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

معاف کوم (هغه) وينه د ربيعه بن الحارث بن عبد المطلب د ځوی ده))۔ او هغهٔ له په بنو سعد کښې تے ورکولے شو نو هذيل قبيلے هغهٔ لره قتل کړو۔ ((او د جاهليت سود معاف شو، او اول سود چه زهٔ ئے د خپلو سودونو نه معاف کوم هغه سود د عباس بن عبد المطلب ﷺ دے نو هغه ټول معاف کړے شو، او د زنانو په باره کښې د الله نه يره وکړئ، ځکه چه يقيناً تاسو دوئ د الله تعالیٰ په امان باندے اخستی دی او د دوئ ګورتونه مو د الله په کلمه (توحيد، اسلام) سره حلال کړيدی، او ستاسو دپاره په دوئ باندے (دا حق دے) چه دوئ به ستاسو بسترو باندے هيچا ته د پايمال کولو اجازت نهٔ ورکوی چه تاسو هغه بد ګنړئ، نو که دوئ دا کار وکړو نو تاسو ئے داسے وهلو سره ووهئ چه هډوکے مات نهٔ کړی او د دوئ دپاره په تاسو باندے د دوئ رزق او د دوئ کپړے جامے د عرف مطابق لازم دی، او يقيناً ما په تاسو کښې هغه شے پريخودو چه د هغے نه روستو به تاسو هيڅکله ګمراه نهٔ شئ که تاسو په هغے باندے منګولے ولګولے، (هغه مو مضبوط راونيولو) (چه هغه) د الله کتاب دے، او تاسو نه به زما په باره کښې (په قيامت کښې) تپوس کيږی، نو تاسو به څه وايئ؟)) صحابه کرامو عرض وکړو: مونږ ګواهی کوو چه بيشکه تا (د الله پيغام) ورسولو، او (امانت دِے) ادا کړو او (د امت) خيرخواهی دِے وکړه۔ نو نبی ﷺ په خپله مسواکئ ګوتے سره اشاره وکړه چه هغهٔ ئے آسمان طرفته پورته کوله بيا ئے خلکو طرف ته راخکته کوله، : ((اے الله تهٔ ګواه شه، اے الله! تهٔ ګواه شه))۔ درے کرته ئے داسے وکړل۔ بيا بلال ﷺ اذان وکړو بيا ئے اقامت وکړو نو نبی ﷺ د ماسپښين مونځ وکړو بيا ئے اقامت وکړو بيا ئے د مازيګر مونځ وکړو او ددے دواړو ترمينځ ئے هيڅ مونځ ونکړو بيا (په اُوښه) سور شو تردے چه موقِف (ځائے د ودريدو) ته راغلو نو د خپلے قصواء اُوښے خيټه ئے صَخراتو (کانړو) طرفته وګرځوله او د پياده خلکو لاره ئے مخے ته وګرځوله او قبلے ته متوجه شو نو هميشه ولاړ (ايسار) وو تردے چه نمر پريوتو او زيړوالے لږ غونته ختم شو تردے چه ټيکلے (د نمر) غائب شو او د ځان سره ئے شاته اُسامه ﷺ کينولو او (د عرفات نه) راخکته شو تردے چه مزدلفے ته راغلو نو هلته ئے د ماښام او ماسختن مونځ وکړو په يو اذان او دوه اقامتونو سره او د دواړو ترمينځ ئے هيڅ مونځ ونکړو بيا ئے ډډه ولګوله تردے چه صبا راوختو نو د سهار مونځ ئے وکړو په هغه وخت چه صبا ورته راښکاره شو په يو اذان او يو اقامت سره بيا په

قصواء باندې سور شو تردې چه مشعر حرام ته راغلو۔ نو قبلې ته ئې مخ کړو او د الله نه ئې دعا وکړه او د هغهٔ تکبیرونه ئې ووئیل او لا اله الا الله ئې ووئیله او د الله توحید ئې بیان کړو (یعنی لا اله الا الله وحده لا شریك لهُ آخر پورې ئې ولوستو) نو همیشه ولاړ وو (په تکبیر او تهلیل کښې مصروف وو) تردې چه صبا ښهٔ رڼا شو نو د نمر راختو نه مخکښې راروان شو او ځان سره ئې روستو فضل بن عباس ﷺ سور کړو تردې چه بطن محسِّر (وادي محسر) ته راغلو نو اوښې لهٔ ئې (د تیزولو دپاره) لږ غونته حرکت ورکړو بیا په هغه مینځنۍ لاره روان شو کومه چه په لویه جمره باندې وړ اوځی تردې چه هغه جمرې ته راغلو چه د ونې په خوا کښې دهٔ، نو هغه ئې په اوو (۷) کاڼړو (شړو) سره ویشته (پدې طریقه چه) د هغې د هر کاڼړي سره به ئې الله اکبر وئیلو، (دا کاڼړي) لکه د تیکرو د کاڼړو په شان وو، د وادي د مینځ نه ئې ویشتل وکړل بیا د قربانۍ ځائې ته ور واوړیدو نو په خپل لاس (مبارك) سره ئې درې شپیتهٔ (۶۳) اوښانې حلالې کړې بیا ئې علی ﷺ ته ورکړې نو کومې اوښې چه پاتې شوې (۳۷) هغه هغهٔ ذبح کړې او نبی علیه السلام هغهٔ لره په خپله هدی کښې ځان سره شریك کړې وو، بیا ئې د هرې اوښې نه په څه حصه (غوښه) باندې حکم وکړو (چه دا دِې راواخستې شي) نو هغه په کټوئ کښې واچولې شوه او پخه کړې شوه نو دواړو د هغې د غوښې نه خوراك وکړو او د هغې د ښوروا نه ئې وڅکل بیا رسول الله ﷺ (په اوښه) سور شو او بیت الله طرف ته ورکوز شو نو په مکه کښې ئې د ماسپښین مونځ وکړو بیا بنو عبد المطلب خوا ته راغلو چه هغوی په زمزم باندې خلکو ته اوبهٔ ورکولې نو وې فرمایل : اې د عبد المطلب ځامنو ! (بوقې د زمزم نه) راوباسئ پس که چرې دا (یره) نهٔ وې چه خلك به په تاسو باندې ستاسو د اوبو په راوخکلو په تاسو باندې غلبه وکړي (او دا به درنه د سنت د تابعدارئ په نیت واخلي) (نو) خامخا ما به تاسو سره (بوقې) راوخکلې وې۔ بیا هغوی نبی ﷺ ته یوه بوقه ورکړه نو هغهٔ ترې څکل وکړل۔ (صحیح مسلمؒ)

تشریح : علماء کرامؒ فرمائی : د جابر ﷺ دا حدیث ډیر جامع او په ډیرو قواعدو او فوائدو باندې مشتمل دې۔ امام نوویؒ فرمائی : په ټولو صحابه کرامو کښې جابر ﷺ د حجة الوداع حدیث ډیر ښائسته او جامع بیان کړیدې ځکه چه دهٔ د نبی ﷺ د مدینې نه د راوتو نه واخله تر آخره پورې حج تفصیل سره بیان کړیدې. او دا روایت صرف امام

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمؒ ذكر كړيدے۔ پدے حديث باندے شيخ البانیؒ كتاب ليكلے : ((حَجَّةُ النَّبِيِّ ﷺ كَمَا رَوَاهَا جَابِرٌ رضی اللہ عنہ)) ددے حديث د جملو مطابق نمبر وار تشريح وګوره۔

(۱) [مَكَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ] ديته حجة الوداع وائی او دا په لسم كال د هجرت شوے وو، او نبی كريم ﷺ د نبوت نه پس صرف همدا يو حج كړے۔ او مخكښے تير شو چه نبی ﷺ د خالی په ورځ راووتهٔ چه په ذی القعده كښے پنځه ورځے پاتے وے، او د اتو (۸) ورځو مزل كولو نه پس مكے مكرمے ته په څلورم د ذی الحجه راورسيدهٔ چه د اتوار ورځ وه۔

(۲) [فَخَرَجْنَا مَعَهُ] دا د صحابه كرامو رضی اللہ عنہم حرص او شوق وو چه دا ئے خوښوله چه په عملی توګه د نبی كريم ﷺ نه د حج افعال ياد كړی او د هغهٔ سره په سفر كښے ملګری شی۔ ددے نه معلومه شوه چه د اهلِ علمو سره په سفرونو كښے او خاصكر د حج په سفر كښے ملګرتيا پكار ده، ځكه په دے كښے ډير خير دے، په دے كښے به انسان د هغوئ نه استفاده كوی، او په خپل علم او عمل كښے به اضافه كوی او خپل وخت به قيمتی كوی۔

(۳) [فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ] دا د ابو بكر صديق رضی اللہ عنہ بی بی ده چه ميقات ته رسيدو سره سَم ئے محمد بن ابی بكر پيدا شو۔ ددے نه مخكښے دا د علی رضی اللہ عنہ د ورور جعفر رضی اللہ عنہ په نكاح كښے وه او د هغهٔ نه ئے اولاد شوی وو، او د ابو بكر صديق رضی اللہ عنہ د وفات نه پس علی رضی اللہ عنہ په نكاح واخسته۔ په دے حديث كښے ددے همدومره تذكره راغلے، ددے باقی حالات نهٔ دی ذكر شوی چه آيا دا په دے حج كښے پاكه شوه او كه نه؟ او د جابر رضی اللہ عنہ ددے د قصے په ذكر كولو كښے مقصد دا دے چه د زنانهٔ د احرام حكم هم بيان كړی، او د نُفساء او حائضے د احرام احكام بيان كړی۔

(٤) [اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ، وَأَحْرِمِي] استثفار ديته وائی چه حائضه يا نُفساء زنانه د خپلے وينے بندولو دپاره يوه پلنه كپړه د خپل خاص اندام نه راتاؤ كړی او د مخكښے او روستو نه ئے وتړی۔ ددے نه معلومه شوه چه حائضه او نفاس والا ښځه هم د ميقات نه احرام تړلے شی او دا به هم د احرام تړلو په وخت د پاكو ښځو غونته غسل كوی او دا غسل د نظافت (صفايئ) دپاره دے نهٔ د طهارت (پاكئ) حاصلولو دپاره۔ او دا مسئله اتفاقی ده۔

(٥) [ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالتَّوْحِيدِ]

قصواء : هغه ناقه چه د غوږ يو طرف ئے پريكړے شوے وی، د نبی كريم ﷺ د ناقے

Maktaba Tul Ishaat.com

غوږ پرېکړې شوې نۀ وو خو دا نوم ئې ورته د مينې نه وئيلو. ددې حديث نه معلومه شوه چه نبي ﷺ د مسجد نه ورتير شو او احرام ئې وتړلو، او مخکښې د ابن عمر ﷺ په حديث کښې تير شو چه نبي ﷺ د مسجد نه احرام تړلے. نو دواړه صحيح دي، ځکه نبي ﷺ د جومات نه احرام وتړلو او تلبيه ئې ووېله نو دا ابن عمر ﷺ نقل کړه، او چه مانځه نه پس په سورلۍ سور شو او لږ مخکښې لاړو نو د غونډۍ دپاسه ئې بيا تلبيه ووېله او دا جابر ﷺ نقل کړه. هر يو تن د خپل علم مطابق خبره کړې.

[أَهَلَّ بِالتَّوْحِيدِ] د توحيد په کلماتو ئې آواز پورته کړو، يعنې تلبيه ئې ووېله ځکه چه تلبيه کښې درې واړه توحيدونه راجمع شوي.

[إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ] تمام حمدونه او نعمتونه ستا دي، حمد وئيل کيږي په کمال محبت او تعظيم سره د چا صفت کول، او نعمت د الله فعلي صفت دے. نو په دے دواړو لفظونو کښې توحيد الاسماء والصفات دے. [وَالْمُلْكَ] تو له بادشاهي او اختيار ستا دے، په دے کښې توحيد ربوبيت دے او توحيد ربوبيت د توحيد الوهيت دپاره مستلزم دے ځکه څوك چه رب وي نو هم هغه به د عبادت مستحق وي.نو دا د توحيد پوره کلمات دي او په دے کښې د الله تعالىٰ هيڅوك شريك نشته.

د حج بنياد او ددے روح او مقصد جونکه توحيد دے نو پکار ده چه د تلبيه وئيلو په وخت ددے پوره شعور په زړۀ کښې راوستل شي، نۀ دا چه صرف الفاظ په ژبه تکرار کړے شي. او دا تلبيه وئيل په اصل کښې د ابراهيم ﷺ ددے اعلان جواب او قبولتيا ده، چه هغۀ ته الله فرمايلي وو: ﴿وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ [الحج : ۲۷] او په تلبيه کښې دننه محبت او تعظيم پروت دے ځکه [لَبَّيْكَ] صرف هغه چاته ويل کيږي چه هغۀ سره ئې مينه وي او د هغۀ قدر کوي، دارنګه په دے کښې خضوع، عاجزي او اخلاص پروت دے.

دارنګه په دے کښې دا خبره پرته ده چه څوك د چا کور ته په داسے حال کښې ورشي چه د خپلے غلطۍ او کوتاهۍ اقرار کوي او هغه کور والا نه معافي غواړي، نو د شريف او عزتمن انسان عادت دادے چه دغه کس معاف کوي او درګذر ترے کوي، نو څۀ دِے خيال دے چه ارحم الراحمين به په دے وخت کښې د خپل بنده سره څۀ معامله کوي؟ په الفاظو کښې ددے وضاحت ګران دے! دا وجه ده چه تلبيه د يو حالت نه بل حالت ته د منتقل

Maktaba Tul Ishaat.com

کيدو په وخت داسې ده لکه په مانځه کښې د يو رکن نه بل رکن ته د منتقل کيدو په وخت تکبير کول. او مخکښې تير شو چه د صحيح قول مطابق تلبيه ويل واجب دی. او نبی ﷺ به صرف په مذکوره الفاظو سره تلبيه وئيله. البته د صحابه کرامو نه ئې په دې کښې زياتی الفاظ هم آوريدلی او په هغې ئې سکوت فرمايلې، نو دا د جواز دليل دې.

[لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ]: (او مونږ عمره نۀ پيژندله) دا جمله په اصل کښې د مخکښې جملې [لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ] تاکيد دې، مطلب ئې دا دې چه د جاهليت په زمانه کښې دا رواج وو چه خلکو به د حج په مياشتو کښې عمره کول لويه ګناه ګنړله، نو رسول الله ﷺ پدې موقعه کښې دا رواج رد کړو او د حج په مياشتو کښې ئې د عمرې کولو حکم وکړو. لکه چه تفصيل ئې روستو راځی.

إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ : يعنی مونږ د هغۀ سره بيت الله ته راغلو پدې طريقه چه رسول الله ﷺ اول په ذی طُوئ (مکې ته نزدې) علاقه کښې راکوز شو (چه اُوس په مکه کښې دا علاقه داخله شويده) او هلته ئې شپه تيره کړه او هلته ئې غسل وکړو (مکې ته د داخليدو دپاره) او بيا په څلورم (٤) ذی الحجه د يوم الاحد (اتوار) ورځې په صبا باندې مکې ته د ثنيه عُليا د طرف نه (يعنی پورته طرف نه) داخل شو او بيا د باب بنی شيبه د طرف نه مسجد حرام ته راغلو او تحية المسجد ئې ونکړۀ ځکه چه د بيت الله طواف بعينهٖ تحية المسجد دې. نو د هغه ځائې نه سيده حجر اسود ته راغلو او حج اجر اسود ئې ښُکل کړو.

[إِسْتَلَمَ الرُّكْنَ] : استلام : لاس مسه کولو (راښکلو) ته وائی کله کله خوله هم ورسره ملګری وی. او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائی: استلام صرف لاس راښکلو ته وائی.

او رکن حجرِ اسود ته وائی ځکه رکن ګوټ ته وائی او دا هم د کعبې په مشرقی ګوټ کښې پروت کانړې دې. الرکن چه کله مطلق ذکر شی نو مراد ترې حجر اسود وی، او د رکن يمانی سره د "يمانی" قيد ذکر کيږی.

ددې نه معلومه شوه چه د طواف شروع کولو نه مخکښې حجرِ اسود ښکلول پکار دی، خو که ددې ښکلول آسان نۀ وو نو بيا به ورته اشاره وکړی او روان به شی، لاس به نۀ ښکلوی، ځکه چه حجر اسود سره لګيدلې نۀ دې.

او په حديث د ابن عمر ﷺ کښې دا هم راغلی دی چه رسول الله ﷺ پدې طواف کښې د رکن يمانی استلام هم وکړو، يعنی هغې باندې ئې لاس راخکلو او خوله ئې ورنۀ وړه. او

Maktaba Tul Ishaat.com

د دغه لاس خکلول هم نشته، صرف لاس وروړل سنت طريقه ده۔

او حجر اسود به په هر گردش کښې ښکلوی۔ يا که ګنړه وه نو لاس به وروړی او بيا به هغه خکل کړی، او که امسا وغيره ورسره په لاس کښې وی نو هغه به وروړی او هغه به ځکلوی۔ او د حجر اسود د خکلو او د اشارې کولو سره به الله اکبر هم وائی لکه روستو په باب الطواف کښې په روايت د ابن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی۔

(٦) [فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشٰى أَرْبَعًا] رمل پهلوانئ ته وائی يعنی نزدې نزدې قدمونو اخستو سره تيز تلل او اوګې خوزول، لکه يو تن چه څنګه ورزش کښې منډه وهی۔

دا رَمل به صرف د طواف په اولنو درې ګردشونو کښې کوی، او دا به صرف په طوافِ قدوم کښې کوی که هغه د حج دپاره وی او که د عُمرې دپاره۔ که په اولنو درې ګردشونو کښې ترې هير شو نو په روستنو کښې به ئې نهٔ کوی دې دپاره چه شکل د طواف بدل نشی، او د سنت خلاف رانشی۔

دغه شان که د رَش زياتيدو په وجه دا پاتې شی، هم خير دې۔ البته څومره چه کيدې شی نو ددې لحاظ ساتل پکار دی هغه دا چه که ګنړه ګونړه وه نو د رمل دپاره دِې د مطاف غاړې غاړې ته طواف کوی۔

او ددې رمل سبب دا وو چه هرکله نبی ﷺ د عُمرة القضاء دپاره مکې ته راغلو نو مشرکانو خپل مينځ کښې د کشرانو د ذهنونو خرابولو دپاره وويل چه تاسو ته به اُوس داسې خلك راشی چه د يثرب (مدينې) تبو هغوی لره ضعيف (کمزوری) او سست کړيدی، نو نبی ﷺ ته وحی وشوه نو هغهٔ مسلمانانو ته حکم وکړو چه دې خلکو ته پدې طريقه تللو سره خپله چستی او قوت ښکاره کړئ، (او هغوی د قُعَيقِعَان غر په سر باندې ناست وو، دوئ ته ئې چه پدې حالت کښې وکتل نو هغوی په خپلو مشرانو بد ګمانه شول، او دا ئې وويل چه دا خو پهلوانان دی، دومره مزلونه ئې کړيدی او بيا هم داسې تکړه او چُست او چابك دی، ددې وجه نه رسول الله ﷺ ورته دا هم وئيلی وو چه کله رکن يمانی ته راورسيږئ نو تر حجر اسود پورې په آرام ځئ څکه چه دا تنګ ځائې وو دلته مشرکانو صحابه کرامو رضی الله عنهم لره نهٔ ليدل)۔

او په بل روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ ورته صرف په درې ګردشونو کښې د پهلوانئ حکم وکړو، نهٔ په ټول طواف کښې څکه چه په دوئ باندې ئې ترحم او شفقت

کولو، چه د اوږد سفر باوجود داسے کول به مشکل وی۔ نو اوس اګرکه دغه علت او سبب ختم شویدے، مګر بیا هم دا حکم باقی پاتے دے، د صحابه کرامو ﷺ او د رسول الله ﷺ په تابعداریٔ کښے دا کار کیږی، او دا عمل الله تعالیٰ ته دومره محبوب شو چه په ټول انسانیت باندے ئے تر قیامته پورے جاری پریخودو، دے دپاره چه د امت په ذهن کښے د صحابه کرامو ﷺ دا حالت حاضر شی، ځکه چه حج او عمره ټول د استحضار او حضور او شعور او احساس نوم دے، که دا په چا کښے نۀ وی په حج او په عمره کښے ئے رونق او تازګی نۀ وی۔

پدے حدیث کښے د اِضطباع ذکر نۀ دے راغلے لیکن د اول طواف په وخت کښے اضطباع هم مسنون ده، اضطباع دے ته وائی چه څادر په داسے طریقه واغوندی چه د هغے ښے طرف د ښی اوګے لاندے په بغل (ترخ) کښے تیر کړی او په ګسه اوګه باندے ئے دپاسه واچوی۔ یعنی ښیٔ اوګه ښکاره کول او ګسه اوګه پټول۔ او دا اضطباع به صرف د اول طواف په حالت کښے وی، زمونږ په زمانه کښے دا حالت خلکو د احرام نه حصه ګرځولے ده، همیشه په داسے حالت کښے ګرځی، دا صحیح طریقه نۀ ده۔

(۷) [ثُمَّ أَتَى مَقَامَ إِبْرَاهِيمَ] مقام ابراهیم ؑ دا یو کاڼړے دے چه ابراهیم ؑ به د بیت الله جوړولو په وخت په دے ودریدۀ هرکله چه ددے آبادی پورته شوه او اسماعیل ؑ به ورته کاڼړی راوړل او دے به پدے کاڼړی ودریدۀ او پورته به کیدۀ به۔ بل روایت کښ دی چه په دے وخت کښے نبی ﷺ دا آیت په زوره ولوستۀ: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ [البقرة: ۱۲۵] ددے شاته ئے دوه رکعته وکړل، په اول رکعت کښے ئے ﴿قُلْ يَآ أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ او په دویم کښے: ﴿قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ﴾ ولوستو۔ ددے نه معلومه شوه چه په دے دوه رکعتونو کښے سنت طریقه داده چه د مقام ابراهیم شاته وکړے شی، خو که ګڼړه ګوڼړه ډیره وه نو بیا چه د مسجدِ حرام په هر ګوټ کښے وکړے شی جائز دی۔ او چونکه په دے باندے په آیتِ کریمه کښے امر راغلے نو د **راجح** قول مطابق دا دوه رکعته واجب دی۔ د بعضِ علماؤ په نیز فرض مونځ هم ددے په ځائے کافی کیدے شی، خو احتیاط په دے کښے دے چه په دے باندے مستقل راتګ وکړے شی۔ ځکه چه نبی ؑ او صحابه کرامو ﷺ مستقل کړیدی۔ اسماعیل بن امیهٔ وائی: ما زهریٔ ته وویل: عطاءٔ وائی چه د طواف د دوه رکعاتو په ځائے فرض مونځ هم کافی کیږی نو هغهٔ وفرمایل: [اَلسُّنَّةُ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَفْضَلُ، لَمْ يَطُفِ النَّبِيُّ ﷺ سُبُوْعًا قَطُّ اِلَّا صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ] [بخاري : باب ٦٩، قبل حديث رقم : ١٦٢٣] (هغهٔ وويل : سنت طريقه ډيره افضله ده، ځکه چه نبي ﷺ هيڅکله طواف نهٔ دے کړے مګر دوه رکعاته ئے کړيدي)۔

(۸) [ثُمَّ رَجَعَ اِلَى الرُّكْنِ] دا دليل دے چه د دوه رکعتونو نه پس او د سعي شروع کولو نه مخکښے بيا حجرِ اسود ښکلول مسنون دي۔ او دا طريقه ډير خلك نهٔ کوي او نهٔ ئے پيژني۔ خو دا په هغه طواف کښے دي چه ددے نه روستو سعي وي۔

(۹) [ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ] بيا به د صفا دروازے نه صفا ته ووځي، دا دليل دے چه طواف نه پس فورًا سعي شروع کول پکار دي، البته دا تادي کول واجب نهٔ دي که لږ شان تاخير راغے نو هم خير دے۔

(۱۰) [فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ] صَفا جمع د صَفاة ده، خوځے، مټين او مضبوط کاڼړي ته وائي۔ د ځينو علماؤ په نيز : دے وخت کښے دا آيت کريمه لوستل مستحب دي : [اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ] او ځينے نور فرمائي: دا مستحب نهٔ دي بلکه نبي کريم ﷺ خلکو ته د تعليم دپاره لوستلے۔ مګر غوره دا ده چه دا آيت او روستو دعاء (اَبْدَأُ) رسول الله ﷺ د ذکر او تعليم دواړو دپاره وئيلے دے۔

او شعائر: جمع د شَعِيْرَةٌ ده، د الله تعالىٰ د دين ښکاره نښو او علاماتو او د عبادت ځايونو ته وائي لکه وقوف، رمي، طواف۔ او شعائر ورته ځکه وائي چه دلته انسان ته د الله تعالىٰ د قدر او تعظيم شعور او احساس کيږي۔

[اَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهٖ] دا د مسلم روايت دے په دے کښے دا صيغه په لفظ د خبر سره راغلے (زهٔ شروع کوم په هغه څهٔ چه الله تعالىٰ ددے په يادولو شروع کړے چه صفا ئے مخکښے ذکر کړے او بيا مروه) او د نسائيؒ په روايت کښے د [اِبْدَءُوْا] امر صيغه راغلے، خو دا شاذ روايت دے۔ دا دليل دے چه د صفا او مروه ترمينځه په سعي کښے ترتيب ساتل واجب دي، که د مروه نه ئے سعي شروع کړه نو دے له به اعتبار نهٔ وي بلکه کله چه صفا ته راشي او بيا مروه ته لاړ شي نو دا يو ګردش حسابيږي۔ او دا هم معلومه شوه چه الله تعالىٰ په قرآن کښے کوم شے مخکښے ذکر کړے وي نو په عمل کښے هم هغه مخکښے کول پکار دي۔ او اګر که دا کار په بعض اوقاتو کښے واجب نهٔ دے البته په نورو ځيزونو کښے مستحب ضرور دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۱) [فَرَقِيَ عَلَى الصَّفَا] دا دليـل دے چه صفا غونډئ ته ختـل پكار دى تردے چه بيت الله شريف ورته ښكاره شى او هغے ته مخامخ شى، مخكښے زمانه كښے په مَسْعىٰ كښے آبادى نـۀ وه نـو د مسعىٰ نه به بيت الله ښكاره كيدۀ اوس د آبادئ د وجے پوره نۀ ښكارى خو هغے ته په مخامخ كيدو سره سنت طريقه ادا كيږى۔

(۱۲) [فَوَحَّدَ اللّٰهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ ......] دے نـه معلومه شوه چه كله صفا ته خيژى نو د الله لوئى، حمد او ثنا او دعاګانے به غواړى، د صفا چه كومه دعا ذكر شوه هغه به وكړى۔

بـعـض شـراح الـحـديث وائى چه دا روستو دعاء والا (لا اله الا الله) تفسير او تاكيد دے د مخكښے وَحَّدَ الله (تـوحـيـد) دپاره او اګركه تكبير دلته ملفوظ نۀ دے ليكن ددے معنىٰ مستفاد ده د (لا اله الا الله) نه ځكه چه د تكبير معنىٰ د تعظيم ده۔

مګر طيبىؒ وائى چه دا (لا اله الا الله) غير دے د مخكښے توحيد او تكبير نه۔

او على القارىؒ وائى چه همدا خبره ډيره ظاهره ده۔

(زۀ وايم : ددے وجه دا ده چه وَقَالَ ئے عطف كړيدے په وَحَّدَ اللّٰهَ او كَبَّرَهُ باندے او عطف د مـغـايرت تقاضا كوى، او بلاغى قانون دے چه تاكيد او بيان نۀ عطف كيږى په موكد او مُبَيَّن بـانـدے) بـلـه دا چـه په روايت د صحيح ابن خزيمه (۲۷۵۷) او سـنـن كبرىٰ د نسائى (۳۹۵۰) كښے دى : [حَتّٰى اِذَا نَظَرَ اِلَى الْبَيْتِ كَبَّرَ ثَلَاثًا] صـفـا تـه وختـلو تردے چه كله ئے بيت الله ته وكتـل نو درے ځله ئے الله اكبر ووئيلو۔

[ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ] : يـعـنـى په دغه منقولو كلماتو سره به د الله تعالىٰ ذكر او حمد او ثنا وكړى، بيا به ځانله دعا وغواړى۔ بيا به د الله تعالىٰ دغه ذكر وكړى او بيا به دعا وغـواړى څـنګه چه غواړى، بيا به دغه ذكر وكړى او بيا به دعا وغواړى، او د ابو هريره ﷛ په حـديث كښے پـه دے درے (۳) ځله دعا كښے لاسونه اُوچتول هم راغلى چه دا كار نبى كـريم ﷺ د فتح د مكے په وخت كړے وو۔ ددے نه سِوىٰ په باقى سعى كښے سوىٰ د مروه نه، دارنګه په طواف كښے دننه په دعا كښے لاسونه اُوچتول د نبى ﷺ نه نۀ دى نقل۔

قَالَ مِثْلَ هٰذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: يعنى دغه شان كلمات او دغه شان دعاء ئے درے كرته وكړه۔ او بعض اهل علمو وئيلى دى چه (ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذٰلِكَ) نه دوه ځله دعاء معلوميږى ځكه چه د اول ځل ذكر او د دويم ځل په مينځ كښے يوه دعاء شوه او د دويم او د دريم ترمينځ بله دعاء شوه نـو ذكـر درے كـرتـه شو او دعاء دوه كرته او دا قول شيخ ابن عثيمينؒ غوره كړيدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن ظاهر د حدیث دا دے چه د هر ځل ذکر نه روستو دعاء شویده او (بَیْنَ ذٰلِكَ) مطلب دا دے چه دعاء ئے د ذکر نه روستو په مینځ مینځ کښے کړیده، دے دپاره چه ځوك دا ونهٔ وائی چه دا ذکر ئے درے کرته په یو ځل وکړو او بیا ئے وروسے روستو یو ځل دعاء وکړه۔ او ثلاث مرات لفظ کښے هم سوچ وکړه۔

علامه ابن قیمؒ فرمائی: نبی کریم ﷺ نه په خپل حج کښے په شپږو ځایونو کښے دعا نقل ده۔ (یو) په صفا کښے، (دویم) په مروه کښے (دریم) په عرفات کښے، (څلورم) په مزدلفه کښے (پنځم) د اولنئ جمرے سره، (شپږم) د دویمے جمرے سره۔ او د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښے د [لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ ...... الخ] نـه مخکښے حمد او ثنا او تکبیر هم راغلے، نو دا دواړه جمع کول پکار دی۔

[اَنْجَزَ وَعْدَهُ] خپله وعده ئے پوره کړه چه دا دین ئے غالبه کړو او آخری انجام ئے متقینو له ورکړو۔ [وَنَصَرَ عَبْدَهُ] خپل بنده (محمد ﷺ) سره ئے د دشمنانو په خلاف مدد وکړو۔ [وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ] او په غزوه خندق کښے ئے د کافرانو مختلفو ډلو له یواځے ماتے ورکړه۔ دارنګه نورو ځایونو کښے۔ [وَحْدَهُ] په غیر د قتال نه الله تعالیٰ په هغوئ سیلئ راولیږله چه د هغوئ خیمے ئے وښکلے او کټوئ ئے نسکورے کړے، او ددے سیلئ سره ئے د ملائکو لښکرے هم راولیږلے نو مشرکان ګهبراؤ شول او وتښتیدل۔ لکه الله تعالیٰ دے واقعے ته اشاره کړے: ﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْکُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَیْکُمْ اِذْ جَآءَتْکُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمْ رِیْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ [احزاب: ۹]

(۱۳) [ثُمَّ نَزَلَ اِلَی الْمَرْوَةِ] مروه: سپین کاڼی ته وائی چه د هغے نه اُور راوځی یعنی بَکره۔ او په دے کښے د سعی کولو طریقه ذکر ده چه نبی ﷺ د صفا نه لاندے میدان ته کوز شو او کوزیدو سره سَم ئے تیزه منډه کړه۔ پخوا دا کنده وه، اُوس ئے هواره کړے او د منډے په ځائے کښے ئے شنهٔ بلبونه لګولی، دلته د نارینه دپاره منډه وهل دی نهٔ د زنانه دپاره۔ دارنګه ځوك چه معذوره وی هغهٔ نه هم تیزه منډه ساقطه ده۔

ددے منډے وهلو حکمت دا وو چه مخکښے دا د صفا او مروه ډیرکو ترمینځه کنده وه، نو د اسماعیل علیه السلام والده هاجر رضی الله عنها په دے ځائے کښے تیزه منډه کړه ځکه د صفا او د مروه غونډئ نه خو هغے ځوی لیدلو مګر ددے دواړو ترمینځه کندے نه ئے نهٔ لیدهٔ نو ځکه ئے تیزه منډه کړه چه یو طرفته ووځی۔ بیا د هغے په یادګار او د نبی کریم ﷺ په تابعداریٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې دا حکم باقي پاتې شو۔ پدې مقام کښې دا شعور پيدا کول پکار دي۔

(١٤) [فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا] يعنې په مروه باندې به وختلۀ او درې ځله ئې هغه ذکر او دعا وکړه کومه ئې چه په صفا کړې وه۔

مسلمان له پکار دي چه په دې سعي کښې تادي ونۀ کړي بلکه دا شعور ولري چه لکه څنګه چه د اسماعيل ﷺ والده د الله رحمت ته محتاجه وه نو دې هم د الله تعالیٰ رحمت ته محتاج دې نو الله تعالیٰ نه دې دعاګانې غواړي، او د خپلو ګناهونو د بدو نتيجو نه دې د الله نه بخنه غواړي او په دعا غوختلو کښې دې ښه زاري او عاجزي کوي۔ د سعي او طواف دپاره څۀ خاص دعا مقرر نۀ ده او نۀ د هريو ګردش دپاره څۀ مخصوص ذکر شته۔ بلکه عامې دعاګانې دې کوي، البته لړې لړې دعاګانې شته لکه فتاوی الدين الخالص (۱۰) جلد او "مسنون مستند ذکر او دعاء" کتاب کښې وګوره۔

[إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافٍ] : کان تامّه ده په معنیٰ د وَجَدَ سره۔ دلته د طواف نه سعي مراد ده۔ مطلب دا دې چه هرکله رسول الله ﷺ دې مقام ته راوسيدو نو اُوس ئې صحابه کرامو ﷺ ته تقرير وکړو چه که تاسو کښې چا د هريو نيت کړې وي نو دا په عمره باندې بدل کړئ او ددې احرام نه عمره جوړه کړئ او د عمرې په کولو سره ځانونه د احرام نه وباسئ ځکه چه تاسو سره هدي نشته او هرچه زۀ يم نو زۀ به په احرام کښې پاتې يم ځکه چه ما ځان سره د قربانئ اُوښ راوستې دې نو زۀ به په همدې احرام کښې حج هم کوم او د اختر په ورځ د قرباني کولو نه روستو به احرام کوزوم، نو د رسول الله ﷺ حج قِران شو او د صحابه کرامو ﷺ حج تمتع شو ځکه چه دوئ به اُوس د عمرې نه روستو احرام کوز کړي او په اتم د ذی الحجه به بيا د حج دپاره احرام وتړي نو پدې طريقه رسول الله ﷺ د عربو رواج ختم کړو چه هغوی به د حج په مياشتو کښې عمره نۀ کوله، او رسول الله ﷺ حکم وکړو چه تاسو دا حج په عمره باندې بدل کړئ نو عمره په حج کښې داخله شوه۔ بيا هرکله چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ خفګان وليدو چه پدې کار ډير خفه وو چه مونږ به احرام کوزه وو او رسول الله ﷺ به په حالت د احرام کښې په تکليف سره وسيږي نو رسول الله ﷺ د هغوی د تسلئ دپاره وفرمايل :

[لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ] : [أَيْ لَوْ عَلِمْتُ فِيْ قُبُلٍ مِنْ أَمْرِيْ مَا عَلِمْتُهُ فِيْ دُبُرٍ مِنْهُ]

يعنې که ما ته د مخکښې نه خپل کار معلوم وې (چه صحابه کرام ﷺ به پدې کار سره

Maktaba Tul Ishaat.com

خفه کیږی) کوم چه ما ته روستو معلوم شو نو ما به هم ځان سره هدی (قربانی) نهٔ وے راوستے او ما به هم ددے افعالو نه عمره جوړه کړے وے او بیا به مے د حج دپاره روستو بل احرام تړلے وے لیکن ما ته اُوس معلومه شوه چه د الله تعالیٰ حکم هم داسے دے که دا نهٔ وے نو ما به تاسو ته د مدینے نه د راوتو په وخت کښے حکم کړے وے چه د عمرے نیت وتړئ، او دا د رسول الله ﷺ انتهائی حکیمانه انداز وو چه ملګری ئے د مخکښے نه نهٔ خفه کول او ددے رواج ماتول ئے په ډیره ښائسته موقعه کښے وکړو۔

دا روایت ښکاره دلیل دے چه رسول الله ﷺ متمتع نهٔ وو بلکه د هغهٔ حج قِران وو۔

او پدے الفاظو سره د رسول الله ﷺ مقصد د صحابه کرامو ﷺ زړونه خوشحالول وو چه هغوی دا ګمان ونکړی چه نبی ﷺ دوئ ته په هغه شی حکم کوی چه خپله ئے نهٔ کوی، نو وے فرمایل چه ما به هم ستاسو په شان کار کولے لیکن دلته د الله تعالیٰ بل حکم ما ته متوجه دے چه هغه تاسو ته نهٔ دے متوجه ځکه چه تاسو سره هدی نشته۔ چا سره چه هدی وه هغوی هم د رسول الله ﷺ په شان حجِ قِران وکړو۔

دلته د استقبال نه مراد د مخکښے نه مخامخ کیدل او د استدبار نه مراد روستو مخامخ کیدل دی۔ یعنی که زهٔ د مخکښے نه د هغه کار سره مخامخ شوے وے کوم سره چه روستو مخامخ شوم۔ دا حدیث دلیل دے په نفی د علم الغیب باندے د رسول الله ﷺ نه۔

[لَمْ أَسُقِ الْهَدْىَ] : یعنی ما به ځان سره هدیه نهٔ وے راروانه کړے۔

[سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ] : سُراقه بن مالك بن جُعشم الكنانى المُدْلَجى ﷺ، ابوسفیان ئے کنیه ده، دا هغه شخص دے چه د رسول الله ﷺ د هجرت په قصه کښے ددهٔ د اس خپے په زمکه کښے ننوتے وے، کله چه دے د نبی ﷺ د راونیولو دپاره هغهٔ ته نزدے راورسیدو، بیا ئے د فتح د مکے په ورځ ایمان راوړو، او ابوعمروؒ وائی : په خلافت د عثمان ﷺ کښے په سنه (۲٤ هـ) کښے وفات دے، او بعض وائی چه د عثمان ﷺ نه روستو وفات دے۔

[أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ] : ددے مطلب دا دے چه آیا جواز د فسخ د حج عمرے ته (لکه دا سیاق د حدیث نه ظاهر ده) یا په میاشتو د حج کښے عمره کول یا عمره د حج سره شریك په میاشتو کښے ادا کول ددے کال پورے خاص دی او که همیشه دپاره دا قانون شو؟ ۔

لَا بَلْ لِأَبَدٍ أَبَدٍ : یعنی ددے کال دپاره نهٔ ده، بلکه د همیشه همیشه دپاره شوه۔ اَبَد اول

Maktaba Tul Ishaat.com

مضاف دے دويم ته. او اَبَد زمانے ته وائي.

علماء عظامو د سراقه بن مالك رضي الله عنه د سوال متعلق اختلاف كړيدے: (۱) بعض اهل علم وائي چه ددے نه مراد د حج په مياشتو كښے عمره كول دي، (۲) او بعض وائي چه ددے نه مراد قِران دے، يعني حج د عمرے سره يو ځائے كول. (۳) او بعض وائي چه ددے نه مراد د حج، عمرے ته فسخ كول دي.

په اول قول سره د دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مطلب به دا وي چه عمره په مياشتو د حج كښے كول حلال او صحيح دي، او پدے كښے به د جاهليت والو په رواج رد وي. او دا قول د جمهورو دے. او د **دويم قول** مطابق مطلب به دا وي چه عمره د حج سره پيوسته شوه دا به ترے نۀ جدا كيږي كله چه يو تن د دواړو نيت كړے وي. او كارونه د عمرے به په كارونو د حج كښے ننوزي تردے چه د دواړو نه به په يو ځل باندے وتل راځي. او دے باندے دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم تشبيك دے، يعني يو بل كښے ګوتے ننباسل. ليكن دے باندے اعتراض دا دے چه بيا د سوال او د جواب مناسبت نۀ ښكاره كيږي.

او د **دريم قول** مطابق به مطلب دا وي چه نيت د عمرے داخل شو په نيت د حج كښے پدے طريقه چه چا د حج نيت وكړو نو هغۀ دپاره دا جائز دي چه د هغے نه په عمرے سره ځان اُوباسي. امام نوويؒ دے ته ضعيف وئيلے دے ليكن ملا علي القاريؒ دے ته ظاهر د حديث وئيلے دے، او حافظ ابن حجرؒ هم په امام نوويؒ رد كړے چه د سوال سياق دا مطلب قوي كوي ځكه چه سوال د فسخ د حج په باره كښے شويدے او جواب ډير عام بيان شويدے تردے چه درے واړو مقصدونو ته شامليږي.

او د حج عمرے ته فسخ كيدو معنیٰ دا ده چه چا يواځے د حج احرام وتړلو يا د قِران (يعني د حج او د عمرے دواړو) او ځان سره ئے هدي نۀ وه روانه كړے او د بيت الله نه طواف وكړي او په عرفات كښے د ودريدو نه مخكښے د صفا او مروه سعي وكړي نو دۀ له جائز دي چه خپل نيت د حج فسخ (وران/ختم) كړي او د يواځے عمرے نيت وكړي نو دے به د سر ويخته لنډ كړي يا وخرئيوي، او د خپل احرام نه به بهر شي دے دپاره چه دے متمتع شي، او بيا به په اتم د ذي الحجه باندے د حج احرام وتړي.

اختلاف العلماء:

ددے حج عمرے ته فسخ كولو كښے د اهل علمو اختلاف دے، چه آيا دا د صحابه

Maktaba Tul Ishaat.com

کرامو ﷺ دپاره خاص وو او که همیشه دپاره د نورو دپاره هم داسې کول جائز دي ؟ :

(۱) امام احمدؒ او اهل ظاهرؒ او عام اهل الحديثؒ وائي چه دا فسخ د حج عمرې ته د صحابه کرامو ﷺ پورې خاص نۀ وو بلکه دا حکم همیشه دپاره باقي دې، لهذا هغه شخص له چه د حج دپاره احرام وتړي او هدی ورسره نۀ وي دا افضل او مستحب دي چه هغه د حج احرام په عمرې سره فسخ کړي او د عمرې د افعالو د کولو نه روستو حلال شي يعني احرام کولاؤ کړي۔

(۲) امام ابوحنيفةؒ، امام مالكؒ، او امام شافعيؒ او اکثر علماء د سلف او خلفؒ وائي چه دا حکم صرف د همدغه کال د صحابه کرامو دپاره خاص وو او دې دپاره وو چه د جاهليت په رواج باندې رد وشي چه د حج په میاشتو کښې ئې عمره ناجائز گڼړله۔

(۳) د شيخ البانيؒ او بعض علماؤ په نيز باندې دا فسخ اُوس هم واجب ده لکه هغۀ په خپل کتاب حجة النبي ﷺ کښې وئيلي دي۔ ليکن دا قول شاذ دې، ځکه دې سره حج اِفراد بالکل ختميږي کوم چه په په دين کښې شته دې په اجماع د امت سره۔ انظر فتاوی الدين الخالص (۱۰) جلد۔

دلائل : د جمهورو يو دليل دا دې چه مسلم د ابوذر ﷺ نه روايت راوړيدې : [قَالَ : كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي الْحَجِّ لِأَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ خَاصَّةً] ۔ عمره د حج سره يو ځائې کول د صحابه کرامو پورې خاص وو۔ او په يو روايت کښې دي : [كَانَتْ لَنَا خَاصَّةً] دا زمونږ دپاره خاص وه۔ او ددې متعې نه مراد د ابوذر ﷺ هغه متعه ده (يعنې حج تمتع دې) چه رسول الله ﷺ په هغې باندې خپلو ملگروته حکم کړې وو چه د حج نيت مات کړي او هغه په عمرې بدل کړي او بيا روستو د حج نيت وکړي۔ لکه همدا مراد د ابوذر ﷺ په روايت د ابوداود کښې داسې راغلې دې : [إِنَّ أَبَا ذَرٍّ كَانَ يَقُولُ فِي مَنْ حَجَّ ثُمَّ فَسَخَهَا بِعُمْرَةٍ لَمْ يَكُنْ ذٰلِكَ إِلَّا لِلرَّكْبِ الَّذِينَ كَانُوا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ]

چه ابوذر ﷺ به د هغه چا په باره کښې فرمايل چا چه به د حج احرام وتړلو او بيا به ئې په عمرې سره فسخ کړو – چه دا کار صرف دِ هغه قافلې دپاره وو چه د رسول الله ﷺ سره ئې يو ځائې حج کولو۔ [ابوداود: ۱۸۹]

بل دليل دا دې چه بلال بن الحارث ﷺ فرمائي : ما ووېل :

[يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَسْخُ الْحَجِّ لَنَا خَاصَّةً أَمْ لِلنَّاسِ عَامَّةً ؟، قَالَ : بَلْ لَكُمْ خَاصَّةً]

Maktaba Tul Ishaat.com

[ابوداود: ۱۸۱۰، احمد، نسائي، ابن ماجه، دارمي]

اے د الله رسوله ! آیا د حج عمرے ته فسخ کیدل مونږ دپاره خاص دی او که ټولو خلکو دپاره عام دی؟ وے فرمایل : بلکه تاسو دپاره خاص دی۔

د اول قول والا دلیل دا دے چه دا روایت ضعیف دے په سند کښے ئے الحارث بن بلال بن الحارث مجهول دے او حدیث د ابوذر ﷺ موقوف دے او په دے مسئله کښے د اجتهاد دپاره گنجائش شته نو په داسے موقعه کښے موقوف روایت د مرفوع روایت مقابله نشی کولے کوم چه ډیر قوی دے او هغه د جابر ﷺ روایت دے کوم چه مسلمؒ روایت کړیدے۔

جمهورو ددے نه جواب ورکوی چه د بلال بن الحارث ﷺ په روایت کښے الحارث ته حافظؒ په تقریب کښے مقبول وئیلے دے او دا حسن الحدیث وی کله چه ددے متابع موجود وی او که متابعت نۀ وی بیا لین الحدیث وی۔ او دویم ددے تائید په حدیث د ابوذر ﷺ باندے کیږی کوم چه په مسلمؒ کښے ذکر دے۔

او حدیث د ابوذر ﷺ په باره کښے خبره دا ده چه ابوذر ﷺ چه کوم خصوصیت د صحابه کرامو ﷺ دپاره ذکر کړیدے نو یا خو دا موقوف په منزله د مرفوع دے ځکه دے باره کښے د رأی دپاره څه گنجائش نشته، او که اُووایو چه د رأی دپاره پدے کښے گنجائش شته او دا روایت موقوف هم ومنو نو بیا وایو چه د ابوذر ﷺ رشتینے لهجه او تقوئ او د دروغو نه وړاندے والے مونږ ته دلیل راکوی چه هغه کوم خصوصیت په یقین سره بیان کړیدے نو هغۀ ته ددے په صحت باندے علم وو۔

پاتے شوه دا خبره چه د بلال بن الحارث ﷺ حدیث پدے وجه رد کول چه دا د جابر ﷺ د حدیث سره معارض دے، نو دا خبره ضعیفه ده ځکه چه پدے کښے تعارض نشته، د دواړو تطبیق ممکن دے، او دا خبره په اصول الحدیث کښے ثابته ده : کله چه د دوه حدیثونو جمع ممکن وی نو دواړه به جمع کولے شی او غیر اقوئ به په اقوئ باندے نشی رد کولے ځکه چه دواړه رشتینی دی، او هیڅ تعارض د دواړو ترمینځ نشته ځکه چه اِعمال ضروری دے او اِهمال بغیر د دلیل نه باطل دے۔ او هغه تطبیق او جمع داسے ده چه حدیث د بلال بن الحارث او د ابوذر ﷺ محمول دی په دے چه د صحابه کرامو ﷺ دپاره خصوصیت دا وو چه هغوی دپاره د حج فسخ کول واجب او ضروری وو ځکه چه رسول الله ﷺ هغوی ته امر کړے وو چه تاسو ددے حج نه عمره جوړه کړئ۔ او دا ددے

Maktaba Tul Ishaat.com

سره منافات نۀ لري چه ددے جواز او مشروعيت دِ ے هميشه دپاره باقي پاتے وي۔ يعني وجوب منسوخ دے او جواز ئے باقي پاتے دے۔ لکه په جواز باندے حديث د جابر ﷺ (بل للابد) دليل دے۔

او دا قول حافظ ابن تيميه رحمه الله او علامه شنقيطي رحمه الله په "اضواء البيان" (۳۵۹/٤) کښے غوره کړيدے۔ او همدا تطبيق امام نوويؒ په "المجموع شرح المهذب" (۱٦۹/۷) کښے او مبارکفوريؒ په مرعاة المفاتيح (۱٤/۹) کښے ذکر کړيدے۔

بيا ددے **فسخ** په حکم کښے هم اختلاف دے چه آيا دا واجب ده او که نۀ ؟

بعضو واجب ګڼړلے لکه دا قول حافظ ابن القيمؒ ډير په تفصيل سره ذکر کړيدے او په مخالفينو باندے ئے ردونه کړيدي، او دا قول د ابن حزمؒ دے او شيخ البانيؒ او حافظ ابن قيمؒ غوره کړيدے۔

نو بناء پدے باندے به حج افراد منسوخ وي کله چه ورسره هدي نۀ وي البته که هدي ورسره وي نو بيا حج افراد کولے شي۔ او دويم قول **راجح** دے چه فسخ افضل ده او واجب نۀ ده، او هغه قول د امام احمدؒ او اهل الحديث وو، نو چا چه يواځے د حج نيت کړے وي او دے دپاره ئے احرام وتړلو او هدي ورسره نۀ وي، نو بهتره او سنت دا ده چه دے نه عمره جوړه کړي او روستو د حج احرام وتړي، دے دپاره چه متمتع شي۔

[وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ] : رسول الله ﷺ علي ﷺ لره يمن ته د مُعلم او د قاضي په حيثيت او د زکاتونو راوړو دپاره ليږلے وو، او په يو روايت کښے "نجران" راغلے دے، چه دا هم پخوا زمانه کښے په يمن کښے داخل وو او اُوس د سعودي عرب يوه صوبه ده۔

ببدن النبي ﷺ : بدن جمع د بَدَنَة ده، يوے اُوښے ته وائي، بدنه ورته ځکه وائي چه غټه او چاقه وي۔ او کله د اُوښ او کله د غوا دپاره هم استعماليږي۔ ليکن اصل دا ده چه بدنه اُوښ پورے خاص ده۔ لکه په حديث کښے دي : [مَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَالَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً الخ]۔ او ددے بدنو نسبت رسول الله ﷺ ته پدے وجه وشو چه علي بن ابي طالب ﷺ دا د رسول الله ﷺ دپاره اخستے وے او دا اُوه ديرش (۳۷) بدنے وے، او دا د زکاة نۀ وے، او رسول الله ﷺ ځان سره د مدينے نه درے شپيته (٦۳) بدنے راروانے کړے وے لکه دا په روايت د ترمذي کښے ذکر دي،

او علي ﷺ ته ئے هغه بدنے ورکړے وے چه کومے هغۀ ځان سره د يمن نه راوستے چه

Maktaba Tul Ishaat.com

پـدې سره سل (۱۰۰) دانې پوره شوې. او په يو روايت د نسائي او احمد او منتقىٰ کښې ورسره دا دي چه [قَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ بِهَدْيٍ وَسَاقَ النَّبِيُّ ﷺ مِنَ الْمَدِينَةِ هَدْيًا] يعنى على ﷺ د يمن نه او نبى ﷺ د مدينې نه هديى رارواني کړې. نو دا احتمال شته چه على ﷺ خپـلـه هدى هم راروانه کړې وې او د نبى ﷺ دپاره هم، بلکه روستو راځى چه على ﷺ هم ځان سره هدى راوستې وه) نو هر راوى د دواړو نه يو يو ذکر کړو.

[مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ]: اَىْ اَلْزَمْتَهُ عَلٰى نَفْسِكَ بِالنِّيَّةِ وَالتَّلْبِيَةِ : يـعـنـى تا په ځان بانـدې حج څنګه فرض کړو يعنى څنګه نيت دې کړې او تلبيه دې وئيلې؟ او په روايت د احمدؒ او ابن الجارودؒ کښې دى : [بِمَ أَهْلَلْتَ ؟] د کوم شى نيت دې کړې کله چه دې احرام تړلو د حج يا د عمرې يا د دواړو ؟

[بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُوْلُكَ] : امـام نـووىؒ وائـى : دا حديث د امام شافعىؒ او د هغۀ د موافقينو دليـل دې چـه احـرام پـه تـعـليق سره صحيح دې، مثلًا چه يو تن ووائى چه زما د زيد په شان احرام دې، نو دا مُعَلَّق احـرام بـه د زيد په شان ګرځى، که زيد د حج احرام کړې وى نو ددۀ بـه هـم د حـج احـرام وى او کـه زيـد د عـمرې کړې وى نو ددۀ به هم د عمرې وى او که هـغۀ د دواړو کړې وى نو ددۀ به هم د دواړو وى، او که زيد مطلق احرام تړلې وى، نو دې به هم پـه مـطـلـق احرام باندې پاتې وى نو هر يو ته ئې اړه ولې شى يعنى حج يا عـمرې تـه. او ددۀ دپاره به پدې اړه ولو کښې موافقت د زيد لازم نۀ وى، آه.

حـافـظ ابن حجرؒ وائى : او مالکيان او کوفيان وائى چه دا قسم مبهم احرام جائز نۀ دې، ابـن الـمـنيرؒ وائى : ګويا که دا د امام بخارىؒ مذهب هم دې، چه دا کار د نبى ﷺ د زمانې پـورې خاص وو، ځکه چه هغه په ترجمة الباب کښې داسې قيد لګولې : [بَابُ مَنْ اَهَلَّ فِيْ زَمَنِ الـنَّبِيِّ ﷺ بِاِهْلَالِ النَّبِيِّ ﷺ] او ددې وجـه دا ده چـه عـلى ﷺ او ابـوموسى ﷺ ته د احرام کيفيت نۀ وو معلوم نو ځکه ئې په نبى ﷺ بـانـدې حواله ورکړه او هرچه روستو دَور دې نـو تـهـل احـکـام پـوره شـويـدى او د اِحرام مراتب معلوم شويدى نو دا قسم مبهم احرام صحيح نۀ دې. [فتح البارى : ۴۱۷/۳ رقم الحديث : ۱۴۸۲] مـګـر په فقه حنفى کښې دى چه مبهم احـرام جـائـز دې لـيـکـن په آخر کښې به د يو تعيين کوى. (العرف الشذى شرح جامع الترمذى : ۲۹۵/۲)

(۳) صـحـيح رائې د امام بخارىؒ دۀ چه دا قسم احرام د نبى ﷺ د زمانې پورې خاص وو،

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه دغه صحابه کرامو ﷺ ته پته نهٔ وه چه رسول الله ﷺ کوم احرام تړلے دے او هغه واجب الاتباع وو، نو ځکه ئے خپل احرام په تعليق سره وتړلو، او اُوس زمانه کښے د بل چا د احرام په شان احرام تړل صحيح نهٔ دی، بلکه دا يو عبث کار دے، اُوس د اسلام د احکامو وضاحت شويدے۔ او دا قول د مالکيهٔ او کوفينو دے۔

نو رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب ﷺ ته حکم وکړو چه تا هم ځان سره هدی راوستے ده نو تهٔ به هم زما په شان حج قِران کوے او د احرام نه به نهٔ اُووځے بلکه په همدے احرام کښے به د عُمرے نه پس حج هم کوے۔

[فَلَا تَحِلَّ] : دا جمله نهی هم صحيح ده او نفی هم۔ په اول صورت کښے به لام مشدد باندے فتح (زبر) وی، او په دويم صورت کښے به پيش وی۔

[وَقَصَّرُوا] : طيبیؒ وائی : صحابه کرامو ﷺ قصر وکړو سره ددے نه چه حلق (سر خرئيل) افضل وو، وجه دا وه دے دپاره چه د دوئ څه ويښته په سر باندے پاتے شی چه بيا ئے په حج کښے وخرئيوی۔

او دے دپاره چه په قصر او حلق دواړو باندے عمل وکړی يعنی په رخصت او په عزيمت دواړو باندے۔ (مرقاة) او ددے نه معلوميږی چه د متمتع دپاره قصر افضل دے، دے دپاره چه د حج دپاره ويښته ګنړ شی چه بيا په حلق باندے عمل وکړی او ډيره نزدے خبره دا ده چه دا به ئے د نبی ﷺ په حکم سره کړی وی ځکه چه دوئ به د نبی ﷺ اقتداء کوله او د هغهٔ نه به ئے احکام اخستل۔

(١٥) [فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ ......] يوم الترويه د ذو الحجے اتمه ورځ ده، دا د رَوِیٌ نه ماخوذ دے په اُوبو مړولو ته وائی، ځکه په دے ورځ به خلکو اوبهٔ ډکولے او ځان سره به ئے وړلے او اُوښان به ئے مړه ول، دے دپاره چه د عرفات ورځے دپاره تيارے وکړی، ځکه چه په هغه زمانه کښے به په عرفات کښے روانے اُوبه نهٔ ملاويدے۔

يا ورته ترويه پدے وجه وائی چه مکے والو به مِنیٰ ته اُوبه ور وړلے او خلك به ئے په اُوبو او په خوراکونو باندے مړه ول۔

دا د زيارت ورځ وه او نبیؐ کريم ﷺ د مکے په مشرقی طرف ابطح (خوړ) کښے ډيره اچولے وه نو کومو صحابه کرامو ﷺ چه عُمرے کولو نه پس ځان حلال کړے وو، هغوئ د همدغه ځائے نه په دے ورځ احرام وتړلو او د زوال نه مخکښے مِنیٰ ته ټول روان شول۔

ددې نه معلومه شوه چه مکې سرې چه کوم ځائې کښې وسيږي نو د همغه ځائې نه به احرام تړي که هغه خوږ وي اوکه هوټل وي اوکه بل ځائې- لکه دا خبره په مخکښې باب کښې د ميقات په حديث کښې تيره شوه-

او دا هم معلومه شوه چه په مکه کښې څوك احرام تړي نو هغه به مخکښې طواف او سعي نکوي ځکه چه کله دې په طواف او سعي مشغول شي نو دې منىٰ ته متوجه نشو-

او دا هم معلومه شوه چه د يوم الترويه (اتمې ورځې) نه مخکښې منىٰ ته (د عبادت په طور) تلل د سنت خلاف دي- او امام مالكؒ هم دا كار مكروه گنړلې دې-

فائده : د ذي الحجې د شپږو پرله پسې ورځو دپاره د خلکو په عرف کښې نو مونه کيخودې شويدي، اتمې ورځې ته يوم الترويه وائي او نهمې ته عرفه او لسمې ته يوم النحر (د قربانئ ورځ) او يولسمې ته يوم القر (يعني د قرارې ورځ ځکه چه خلك پدې ورځ په منىٰ کښې قرارې/آرام کوي) او دولسمې ته يوم النفر الاول (د وتلو اولنئ ورځ) او ديارلسمې ته يوم النفر الثاني وائي- (مرعاة)

الي منى : مِنىٰ لفظ په تنوين او غير تنوين دواړو سره لوستل صحيح دي-

(۱۶) [وَرَكِبَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَصَلّٰى بِهَا الظُّهْرَ ......] يعني مِنىٰ ته روان شو او هلته ديره شو او پنځه واړه مونځونه ئې هلته د مسجد خَيف په ځائې کښې په خپل خپل وخت کښې په قصر سره وکړل، دا دليل دې چه مکې نه مِنىٰ ته د زوال نه مخکښې وتل او هلته پنځه واړه مونځونه کول مسنون دي، او هلته نه به د نهمې ورځې د نمر راختلو نه پس عرفات ته اُووځي- او منىٰ ته د اتمې ورځې د نمر خاتۀ نه پس تر قبل الزوال پورې تلل پکار دي، ډير خلك دا غلطي کوي چه د سهار مانځه نه پس روانيږي-

(۱۷) [حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ- فَأَجَازَ حَتّٰى أَتٰى عَرَفَةَ] د عرفې په ورځ د نمر راختو نه پس عرفات ته روان شو- عرفات ته عرفة ځکه وائي چه عرفه معنىٰ ده اُوچتوالې، او دا هم د خپل خوا او شا علاقې نه اُوچت ځائې دې- عرفات د حرم شريف د حدودو نه بهر دې-

او د [أَجَازَ] معنىٰ داده چه د مِنىٰ نه لاړ او په مزدلفه کښې ايسار نشو بلکه نيغ عرفات طرفته اُووتو- دا ځکه چه د جاهليت په زمانه کښې دا اهلِ مکه او قريشو دا طريقه وه چه دوئ به د مِنىٰ نه عرفات ته نۀ تلل بلکه په لاره کښې په مزدلفه کښې به ايساريدل او

Maktaba Tul Ishaat.com

دوئ بـه ويـل : مونږ د حرم والا يو مونږ ددے د حدودو نه نۀ وځو، او د بهر نه راغلی خلك بـه عـرفـات تـه تـلـل، نو په دے ورځ هم قريشو دا گمان وكړو چه نبی ﷺ به دوئ سره په مـزدلـفـه كښے پاتے شی او عرفات ته به نۀ ځی مگر نبی ﷺ دا رسم مات كړو او سيده عرفات ته روان شو۔

(۱۸) [فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةٍ] قبـه وړوكے خيمے ته وائی او په نَمره سره د حرم شريف حدود ختميږی، د حرم او د عرفے ترمينځه وادی عُرنه فاصله ده۔

ددے سياق نـه پـه ظاهره دا معلوميږی چه نَمره په عرفات كښے داخله ده، او دا د بعضِ فقهاؤ او اهلِ لغت رائے ده۔

دويم قول دادے چه نمره په عرفات كښے داخله نۀ ده، او دا د امام نوویؒ، ابن تيميهؒ او ابن قيمؒ وغيره قـول دے۔ ددے مطابق به د [أَتَى عَرَفَةَ] مـعـنـیٰ دا شی چـه عرفات ته نزدے (نـمـرے) تـه راغـے۔ او ددے نه معلومه شوه چه محرم دپاره په خيمه كښے كيناستل يا په سر چهتـرئ نيـول يا پـه گاړی كښے كيناستـل جائز دی۔ دارنگه مستحبه داده چه كله د مِـنـیٰ نـه را ورسی نـو كه آسانه وه نو د زوال پورے دے په نَمره كښے كينی۔ او عرفات ته دے نۀ داخليږی مگر د زوال او د مانځه نه پس۔

(۱۹) [حَتّٰى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ ...... فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِیْ] د وادی نـه مراد بطن عُرنه ده چه پـه دے كښے د مسجد ځينے برخه راغلے، ځكه د مسجدِ نمره محراب طرفته لږه برخه د عـرفـات نـه بهر ده او د مسجد نَمره روستنئ حصه په عرفات كښے داخله ده، په مسجد نمره كښے ددے معلومات د شنو بلپونو نه كيږی۔ او بطن عُرنه چونكه فراخه ميدان وو نـو ځـكـه نبی ﷺ د خطبے دپاره خاص كړو، دلته پخوا مسجد نۀ وو بلكه مسجد د بنو عباس په دورِ حكومت كښے جوړ شو۔

[فَخَطَبَ النَّاسَ] : ددے نـه مـعـلـومـه شوه چه امام به په عرفات كښے خطبه وركوی چه پـه دے كښے بـه خلكو ته د عقيدے او د ضرورت مطابق دينی احكام بيانوی او خلكو ته بـه د اتـفـاق او اتحاد خبره كوی او د اختلاف نه به ئے ويروی او د دشمنانو مكر او فريب به ورتـه بـښـكـاره كـوی۔ او د نبی كـريـم ﷺ دا خـطـبـه د جُمعے خطبه نۀ وه بلكه دا د تعليم خـطـبـه وه، دا وجـه ده دا خـطـبـه ئے د اذان نه مخكښے وئيلے وه او په مانځه كښے ئے جهری قـرائـت نـۀ وو كـړے نـو مـعـلـومـه شوه چه نبی ﷺ د جُمعے مونځ نۀ وو كړے۔ او همدا

Maktaba Tul Ishaat.com

راجح قول دے او حافظ ابن حزمؒ وئیلی دی چه د جُمعے مونځ به هم کوی، لیکن دا قول په تکلف بناء دے. او پدے مقام کښے یوه خطبه مسنون ده، د دوه خطبو په باره کښے چه کوم روایت راغلے دے نو هغه ضعیف دے.

او علامه ابن همامؒ په فتح القدیر (۲/۳۷۰) کښے لیکلی دی چه په عرفات کښے د جُمعے په شان ما د دوه خطبو په باره کښے حدیث نۀ دے موندلے.

پدے خطبه کښے رسول الله ﷺ ډیر جامع کلمات وویل چه بیخی د وخت او د موقعے مناسب وو، پدے کښے ئے حقوق الله او حقوق العباد بیان کړل او رواجونه ئے رد کړل، او د وینو او د مالونو د حفاظت په باره کښے ئے سختی بیان کړه او د جاهلیت ګندونه او ظالمانه قانون ئے رد کړو.

[كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا] : یعنی ستاسو د یو بل وینے او مالونه په تاسو باندے داسے سخت حرام دی لکه پدے ورځ د عرفات کښے او پدے میاشت د ذی الحجه کښے (چه عزتمنه میاشت ده) ښکار او بے عزتی حرامه ده. او دے څیزونو سره ئے تشبیه په تحریم کښے ورکړه ځکه چه جاهلیت والو به په هیڅ حال کښے ددے څیزونو عزت نۀ خرابولو، او چا چه به ددے څیزونو بے عزتی کوله نو هغۀ ته به ئے د سخت عیب نسبت کولو. نو ځکه دا سوال نۀ پیدا کیږی چه مشبه بهِ دلته په درجه کښے کمه ده او مشبه اُوچته ده او تشبیه کښے مشبه بهِ کښے قوت ډیر وی نو جواب وشو چه دا د عربو په نیز تشبیه د غیر مشهور ده د مشهور سره.

د "دمائکم" نه مراد وینے توی کول دی، او د "اَمْوَالَكُمْ" نه مراد په ناجائزه طریقه مالونه اخستل دی.

أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوْعٌ : یعنی د جاهلیت ټول کارونه زما د خپو لاندے کیخودے شول، هغه رواجونه او طریقے ختمے شوے چه په جاهلیت کښے به کیدلے، او هغوی په حج وغیره کښے ایجاد کړے وے، دا ئے یوه عامه خبره وکړه، چه ددے بعض تفصیل روستو ذکر کوی. او ذکر د وضع دے مراد ترے باطل والے او ختمیدل دی لکه یو شے چه د خپے لاندے کیخودے شی نو هغه مردود او ضائع شی.

وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوْعَةٌ : په جاهلیت کښے چه د چا په چا باندے وینه (قصاص) پاتے وی، نو هغه اُوس په اسلام کښے معاف شوَ، اُوس به د اسلام نه روستو څوک د هغے بدله

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ اخلی، نۀ به قصاص وی، نۀ به دیت وی او نۀ کفاره. (زړے چپے (خبرے) هیرے او راتلونکے شماره).

وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ : یعنی اولنے قصاص زۀ د خپل خاندان او کورنئ نه معاف کوم.

امام نوویؒ وائی : ددے نه معلومه شوه چه داعی او امام له پکار دی چه د خپل ځان نه او د خپل اهل نه په امر او نهی کښے شروع وکړی ځکه چه بیا به ددۀ خبره زر قبلولے شی، او هغه خلك به هم خوشحاله شی چه هغوی نزدے مسلمانان شویدی.

دَمُ ابْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ : د ربیعه بن حارث د ځوی د وینے قصه دا ده چه حارث د رسول الله ﷺ ترۀ او د عبد المطلب ځوی وو، د هغۀ ځوی ربیعه وو او د ربیعه یو پیئ خوړونکے ماشوم ځوی وو چه د هغۀ نوم ایاس وو، (بعض وائی حارثه او بعض "تمام" ذکر کړیدے) او ربیعه د رسول الله ﷺ د ترۀ ځوی وو او د عباس ﷺ نه دوه کاله مشر وو او صحابی دے او د عمر فاروق ﷺ د خلافت په ابتداء کښے وفات شویدے).

د عربو د قاعدے مطابق اِیاس د پیئ ورکولو دپاره د بنو سعد قبیلے یوے زنانه ته ورکړے شوے وو، هغے به ورله پیئ ورکول او دا هغه زمانه وه چه بنو سعد قبیله او هُذیل قبیله دواړه خپل مینځ کښے دشمنان شوی وو، نو د دوئ جنګ راغلو او پدے جنګ کښے د هُذیل قبیلے یو شخص راغلو او ایاس ئے په کانړی باندے اُوویشتو چه په دے سره هغه مړ شو، ایاس چونکه د رسول الله ﷺ د ترۀ د ځوی ځوی وو، پدے وجه رسول الله ﷺ ته د انتقام اخستلو حق حاصل وو لیکن رسول الله ﷺ د هغۀ وینه معاف کړه.

وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ : یعنی جاهلیت کښے چه تاسو کوم سودونه کړیدی او هغه لا نۀ دی اخستے شوی او ورته پاتے دی نو د اسلام نه روستو به هغه نۀ اخلئ بلکه صرف رأس المال (سرمایه) اخستل به وی، لکه آیت کښے دی :

﴿ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ ﴾ [البقره : ۲/۲۷۹]

که تاسو توبه ویسته نو ستاسو دپاره به ستاسو د مالونو سرونه وی.

رِبَا عَبَّاسٍ : عباس ﷺ په جاهلیت دور کښے خلکو باندے سودونه اړه ولی وو، بیا ئے اسلام زاوړو نو رسول الله ﷺ پدے موقعه باندے د خپلے کورنئ نه سود معاف کړو دے دپاره چه خبره د آوریدونکو په غوږونکو کښے په ښه شان باندے کینی، او ددے رخصت په باره کښے د طمعے دروازے بندے کړی، یعنی زۀ د خپل ترۀ سود معاف کوم نو د بل چا

Maktaba Tul Ishaat.com

خو به خامخا معاف وي۔

(۲۰) [ثُمَّ أَذَّنَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ]

یعنی بیا ئے اذان وکړو او دوه اقامتونه وکړے شول او د ماسپښین او مازیګر مونځونه ئے په یو وخت کښے جمع کړل چه هغه د ماسپښین وخت وو۔

دا دلیل دے چه خطبه د مانځه نه مخکښے وه او اذان د خطبے نه روستو وو، نو امام به خلکو ته د ماسپخین او مازیګر مونځونه جمع کړی او په قصر سره به ئے ادا کړی، اول به د ماسپخین مونځ وکړی بیا فورًا د مازیګر، ددے دواړو مونځونو دپاره به یو اذان او دوه اقامته کوی، او دیته جمع تقدیمی وائی۔ یعنی د مازیګر مونځ د ماسپخین په وخت کښے کول۔ په دے حکم کښے د اهلِ مکے او نورو لرے ځایونو نه راغلو خلکو ترمینځه فرق نشته۔ ټول به دوه رکعاته کوی ځکه نبی کریم ﷺ ټولو ته د قصر مونځ کړے وو، او داسے اعلان ئے ونۀ کړو څنګه چه د مکے د فتح په کال ئے اهلِ مکه ته وئیلی وو چه خپل مونځونه پوره کړئ ځکه مونږ مسافر یو۔ او دے وخت کښے سنت هم نۀ دی کړے شوی۔

۱- **مسئله** : پدے کښے د اهل علمو اختلاف دے چه دلته په عرفات کښے د جمع بین صلاتین دپاره به څو اذانونه او څو اقامتونه کوی؟ (۱) یو قول دا چه یو اذان او دوه اقامته به کوی لکه چه پدے حدیث د جابرِ رضی الله عنه کښے دی۔ او دا قول د امام ابوحنیفهؒ، ثوریؒ، شافعیؒ، ابوثورؒ او یو روایت دا حمدؒ او یو روایت د مالكؒ دے۔

(۲) دویم قول دا دے چه دوه اقامته به کوی او اذان به نکوی، او دا قول د ابن عمر رضی الله عنه نه نقل دے۔ ابن قدامهؒ د خرقیؒ د قول په تشریح کښے لیکی : [وَإِنْ أَذَّنَ فَلَا بَأْسَ]

(که اذان ئے وکړو نو هیڅ باك نشته)، نو پدے کښے اشاره کوی چه اذان کولو کښے اختیار دے البته اذان کول بهتر دی، بیا وائی دا قول (یعنی اذان کول) د شافعیؒ او ابوثورؒ او اصحاب الرأی دے۔ انتهیٰ۔

(۳) دریم قول دا دے چه دوه اذانونه او دوه اقامته به کوی۔ او همدا مشهور مذهب د مالكؒ دے، او په "مدونه" کښے ذکر شویدے، او همدا د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے۔ **لیکن** دے اقوالو باندے دلیل نشته، اول قول راجح دے ځکه چه پدے کښے د رسول الله ﷺ د سنت اتباع ده۔ دلته هم احنافو د ابن مسعود رضی الله عنه قول پریخودے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- مسئله : (۱) پـه عرفات او مزدلفه کښې د جمع بين الصلاتين دپاره امام (خليفه) يـا د هغهٔ نائب يا جماعت شرط نهٔ دے بلکه يواځے مونځ کونکے هم جمع بين الصلاتين کـولے شي، او دا قول د مالكؒ، شافعيؒ او احمدؒ دے او همدا راجح دے۔ (۲) احناف علماؤ وئيلي دي چه پـه عرفات کښې د ماسپخين او مازيگر د جمع دپاره جماعت او دغه شان امام اعظم يا د هغهٔ نائب شرط دے، او هرچه مزدلفه کښې دوه مونځونه جمع کول دي نو د هغے دپاره امام او جماعت شرط نهٔ دے، نو د دواړو ترمينځ ئے فرق کړيدے ليکن پدے باره کښې هيڅ صحيح دليل نشته۔

فَاتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ : فاء سببيه ده، يعنې هرکله چه د جاهليت رواجونه او گندونه ختم شـول، او د جاهليت د کارونو نه يو کار دا وو چه زنانو باندے به ئے ظلمونه کول او هغوی تـه بـه ئے حقـونـه نـهٔ ورکـول، نـو تاسو د زنانو په باره کښې د الله نه يره وکړئ، د شريعت مـطابـق هـغـوی تـه حـقـونه ورکړئ او ظلم پرے مهٔ کوئ۔ او دوئ سره انصاف نهٔ کول د جاهليت کار دے۔

فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللّٰهِ : يعنې تاسو دوئ لره د الله تعالىٰ په امان (لوظ) سره اخستے دي، يـعـنـې تاسو الله تعالىٰ سره دا لوظ هم کړے چه د دوئ سره به احسان کوئ۔ يا د امان نـه مراد امـانت دے يعنې الله تعالىٰ تاسو امانتگر گرځولي يئ په دوئ باندے نو د امانت حفاظت کول لازم دي، لهذا د دوئ د دينې او دنياوی مصالحو رعايت کوئ۔

اخـذتـمـوهـن : نـه مـعـلـومه شوه چه زنانه د خاوند سره د قيدی په شان ده نو خاوند په هغے کښې تصرف کولے شي او په هغے باندے مشري کولے شي د شريعت مطابق۔

وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوْجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللّٰهِ : يـعـنـې تاسو د دوئ عورتونه د الله په کلمه سره حلال کـړيدي۔ د کلمة الله څلور معاني دي : (۱) [أَمْرُهُ وَحُكْمُهُ وَإِبَاحَتُهُ] د الله تعالىٰ په امر او د هغهٔ په حکم او د هغهٔ په جائز کولو سره چه هغهٔ فرمايلي دي : ﴿فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ﴾ (النساء : ٤ : ٣) نوويؒ وائي چه دا معنىٰ صحيح ده۔

(۲) يـا د کـلـمة الله نـه مراد کلمه د توحيد ده، ځکه چه مسلمانه ښځه غير مسلم دپاره جائز نهٔ ده۔ (۳) يا کلمه د نکاح مراد ده چه پدے سره زنانه جائز کيږي۔ يعنې د ښځے د نـکـاح په وخت کښې تاسو ايجاب او قبول کړيدے او الله تعالىٰ په هغے باندے امر کړيدے نو د هغے لحاظ وکړئ۔

(٤) يا كلمة الله نه مراد دا قول د الله تعالىٰ دے : ﴿فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَانٍ﴾ [بقره : ۲۲۹] (چه په شرعي طريقه ئے وساتئ يا ئے په ښه شان پريدئ)

او دے ته خطابیؒ په "معالم السنن" کښے أحسن وجه وئيلے ده۔

لَّا يُوَطِئۡنَ : دا د باب افعال إِيۡطَاءٌ نه دے، يُوۡطِئۡنَ۔ يا د توطئه نه دے، مشدد دے، يعنى يُوَطِّئۡنَ۔ دواړه پائيمال كولو ته وئيلے شى، دلته مراد دا دے چه زنانه به د خاوند د اجازت نه بغير د خاوند په بستره باندے بل څوك نۀ كينوى، او نۀ به كور ته د راننوتو اجازه وركوى او دے كښے د ښځے زنا هم داخله ده۔

او علامه مازریؒ او خطابیؒ نقل كړيدى چه ددے نه مراد دا دے چه زنانه به د پردو سړو سره خلوت نۀ كوى، او هغوى سره به خبرے اترے نۀ كوى، او زنا مراد نۀ ده ځكه چه زنا سره خو حد لازميږى، او بله دا چه زنا مطلقاً حرامه ده برابره ده چه د هغه چا سره وى چه خاوند ئے بد ګنړى او كه بد ئے نۀ ګنړى۔

بيا دلته ډير عام الفاظ راغلى دى نو محدثينوؒ وئيلى دى چه دا نهى دے ته هم شامل ده چه ښځے دپاره دا جائز نۀ دى چه يو سړى يا ښځے ته -مَحرم وى يا غير مَحۡرَم- چه د خاوند كور ته د راننوتو اجازه وركړى كله ئے چه خاوند بد ګنړى، البته كه د ښځے يقين يا غالب ګمان وو چه خاوند دا بد نۀ ګنړى نو اجازه وركولے شى۔ او دا د عربو په عادت باندے بناء ده چه هغوى به د پردو زنانو سره ګپ شپ لګول بد نۀ ګڼړل او هغوى سره به په خلوت كښے كيناستل نو شريعت منع وكړه۔

غَيۡرَ مُبَرِّحٍ : دا د برح نه دے، مشقت ته وائى۔ او ضرب مُبرح سختو وهلو ته وائى چه د هغے برداشت كول ډير سخت وى، يا په هغے كښے هډوكے مات شى۔

دے نه معلومه شوه چه خاوند له جائز دى چه خپله ښځه د ادب وركولو په طور باندے په مناسب وهلو سره ووهى۔

وَلَهُنَّ عَلَيۡكُمۡ رِزۡقُهُنَّ : يعنى د زنانو دپاره په تاسو باندے نفقه واجب ده او ددے په معنىٰ كښے سكنىٰ (كور) هم داخل دے۔

بِالۡمَعۡرُوفِ : د عرف مطابق چه نۀ پكښے اسراف وى او نۀ ډير كمے، او ستاسو د حالت مطابق وى كه فقير يئ يا مالدار۔ ددے نه معلومه شوه چه په خاوند باندے د ښځے نفقه او جامے وركول فرض دى۔ مَا لَنۡ تَضِلُّوا : ما موصوله يا موصوفه ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ : یعنی که تاسو هغه ټینګ کړو په عقیده او په عمل کښې.
او د هغه (مَا) تفسیر ئې په (کتاب الله الخ) سره وکړو. نو پدې ابهام او توضیح کښې اشاره ده چه ما چه کوم شې پریخودو نو دا په دنیاوی او اُخروی دومره لویو فائدو باندې مشتمل دې چه د هغې په وجه انسان د هر قسم ګمراهئ نه بچ کیږی.
كِتَابُ اللّٰهِ : دا منصوب دې، دا ترکتُ د مفعول نه بدل دې. یا مرفوع دې، خبر د مبتداء محذوف دې اَی هُوَ كِتَابُ الله. (یعنی هغه د الله تعالیٰ کتاب دې)
او دلته ئې سنت ذکر نکړو سره ددې نه چه بعض احکام په سنت کښې راغلی دی،؟ وجه دا ده چه هغه د کتاب الله د لاندې داخل دی ځکه چه کتاب الله تول احکام بیانوی بعض بلا واسطه او بعض په واسطه د رسول الله ﷺ سره.
علی القاریؒ وائی : صرف کتاب الله ئې ذکر کړو ځکه چه په سنت باندې عمل کول د کتاب الله نه معلوم دی. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ [النساء : ۵۹] ﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا ﴾ [الحشر : ۷] نو په کتاب الله باندې عمل کول مستلزم دی عمل کولو لره په سنت د رسول الله ﷺ باندې.
وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي: مجهول صیغه ده. یعنی تاسو نه به تپوس کیدې شی زما په باره کښې، یعنی زما د تبلیغ او نهٔ تبلیغ په باره کښې چه آیا دې نبی تاسو ته دین رسولې او که نهٔ ؟.
قَدْ بَلَّغْتَ : [اَیْ رِسَالَاتِ رَبِّكَ] یعنی تا د خپل رب پیغامات (مونږ ته) ورسول.
وَأَدَّيْتَ : [اَیِ الْأَمَانَةَ] او امانت دې ادا کړو. الله تعالیٰ چه کومه ذمه واری ستا په اُوګو باندې ایخودې وه هغه تا پوره پوره ادا کړه. وَنَصَحْتَ : او تا د امت پوره پوره خیرخواهی وکړه. فَقَالَ بِأُصْبُعِهِ : یعنی اشاره ئې وکړه په خپله ګوته سره.
يَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ : نکت د ګوتې سر زمکې ته راخکته کول او زمکه پرې وهلو ته وئیلې شی. دلته ترې اشاره کول مراد دی.
فائده : دا الفاظ، د رب العالمین په فوقیت باندې دلیل دې.
(۲۱) [ثُمَّ رَكِبَ حَتّٰى اَتَى الْمَوْقِفَ] یعنی بیا د خطبې او مانځه د ځائې نه لاړو تردې چه موقف (ځائې د ودریدو) ته راغې چه دا د عرفات په شمال کښې مشهور غر دې، او دیته جبل (اِلال) وائی او عوام ورته جَبَل "رحمت" وائی. او نبی ﷺ په عرفات کښې د غرهٔ جنوب طرفته وقوف وکړو او غرئې خپل ښی اړخ ته وګرځولو او قبلې ته ئې مخ کړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

[حَبْلَ الْمُشَاةِ] حبل رسئ ته وائي او مُشاة جمع د مَاشِيُ ده، پيدل تلونكي ته وائي، يعني هغه لار چه د پيدل تلونكو پرے پرے روان وي.

په بله نسخه كښے [جَبَلَ الْمُشَاةِ] دے يعني د پيدل تلونكو غر. خو اولنے لفظ زيات راجح دے. او عرفات هر يو ځائے د وقوف ځائے دے خو شرط دادے چه ددے په حدودو كښے دننه وقوف وكړے شي. ځكه كه ددے نه معمولي اخوا وقوف وكړے شي نو حج نۀ كيږي.

(۲۲) [وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ] ددے نه معلومه شوه چه په عرفات كښے وقوف كونكي له پكار دي چه قبلے ته مخ كړي او په ذكر او دعا كښے مشغول شي، او ددے قيمتي وخت انتهائي قدر وكړي.

ځينے فقهاؤ وئيلي دي چه په سورلئ باندے وقوف كول افضل دي، خو ظاهره داده چه په دے كښے د خلكو حالات مختلف دي، كه چرے عالِم وي او د خلكو ورته حاجت وي او يا په زمكه وقوف كول ورته گران وي نو بيا ورله په سورلئ وقوف كول بهتر دي، او كه توجه ئے په زمكه زياته برابريده او حضورِ قلبي ئے لاندے په زمكه ښۀ راتۀ نو بيا په زمكه وقوف كول افضل دي. خو دا خبره يادل ساتل پكار دي چه د عرفات غونډئ سرته ختل او ددے دپاره تكلف كول مسنون نۀ دي بلكه كوم ځائے كښے چه ورته وقوف آسان وي هلته دِے وقوف وكړي، او كه دا عقيده ئے وي چه د وقوف ځائے دغه غونډئ ده نو بيا دا كار علماؤ بدعت گنړلے دے.

(۲۳) [فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا] دا دليل دے چه نمر پريوتو پورے په عرفات كښے ايساريدل واجب دي. رسول الله ﷺ په اُوښے دپاسه وقوف وكړو ځكه چه كله اُوښه مضبوطه وي او نور بوجونه پرے بار نۀ وي نو په حيوان دپاسه وقوف جائز دے، (دلته پرے كومه هستي ناسته وه ؟، فداه ابي وامي) اؤ كله چه نور بوجونه هم پرے بار وي نو بيا حيوان له مشقت وركول نۀ دي پكار.

[الْقُرْصُ] د نمر ككوري (ټيكلي) ته وائي، او پدے قيدونو ذكر كولو كښے اشاره ده چه په عرفات كښے په ايساريدو كښے ډير احتياط پكار دے چه ښه يقين راشي چه نمر پريوتو نو بيا راروانيدل پكار دي.

وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ : د عرفات نه د روانيدو په وخت كښے ئے اسامه ﷺ ځان سره په اُوښه

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے روستو کینولو۔ پدے کښے ډیرے مسئلے معلومے شوے، یوه دا چه ددے نه معلومه شوه چه په یوه اُوښه یا حیوان باندے دوه کسان سوریدل جائز دی کله چه هغه ددے طاقت لری، او دے باره کښے ډیر حدیثونه راغلی دی۔

دویم: د یو اُوچت انسان پسے یو تن کینول د هغهٔ مرتبے لره نهٔ خکته کوی۔

دریم: پدے کښے فضیلت د اسامه ﷺ دے،

څلورم: په اسلام کښے تکبر او تعصب نشته، اسامه ﷺ د یو آزاد کړه (زید بن حارثه ﷺ) غلام ځوی وو، او رسول الله ﷺ ورته داسے مرتبه ورکړه۔ دا د خلکو دپاره لوی سبق وو چه عربو به غلامان د خپل ځان سره په داسے مقام کښے نهٔ یوځائے کول۔ نو رسول الله ﷺ تَوَاضُعًا لِلّٰهِ دا کار کاوۀ، نو پدے کښے د تواضع عملی تعلیم هم دے۔

وَدَفَعَ: [اَیْ اِبْتَدَأَ السَّیْرَ وَدَفَعَ نَفْسَهٗ وَنَحَّاهَا اَوْ دَفَعَ نَاقَتَهٗ وَحَمَلَهَا عَلَی السَّیْرِ]، (الجزری)

یعنی مزل ئے شروع کړو او ځان ئے دیکه کړو او د ځان نه ئے جدا کړو۔ یا اُوښه ئے روانه کړه او په مزل ئے راپورته کړه۔ او دفع کښے اشاره ده مزل تیزولو ته۔

(۲٤) [حَتّٰی اَتَی الْمُزْدَلِفَةَ] مزدلفه د اِزدلاف نه دے، نزدے کیدو ته وائی ځکه عرفات نه راکوزیدو نه پس خلك مِنیٰ ته رانزدے کیږی۔ کله چه مزدلفے ته راورسی نو دا کارونه به کوی: (أ) دوه مونځونه - ماښام او ماسخوتن - به په یو اذان او هر یو دپاره په بیلابیل اقامت کولو سره جمع کړی، او دا کار به د پالانونو کوزولو او طعام خوړلو نه مخکښے کوی، برابره خبره ده که مزدلفے ته د ماښام په وخت ورسی اوکه د ماسخوتن په وخت۔ دا جمع تاخیر ده۔ او په لاره به مونځ نهٔ کوی، دا د سنت خلاف ده۔

(ب) ددے دواړو مونځونو ترمینځه به نفل او سنتونه نهٔ کوی، البته د سهار سنت به نهٔ پریدی۔

(ج) د مزدلفے په شپه تهجد پریښودل مناسب دی ځکه نبی ﷺ په دے شپه تر سهاره پورے آرام کړے وو۔ البته ددے نه وتر مستثنیٰ دی ځکه نبی ﷺ به دا نهٔ په سفر کښے پریښودل اونهٔ په حضر کښے تردے چه کله به ئے تادی وه نو د سورلئ دپاسه به ئے کول، او د جابر ﷺ په دے حدیث کښے ددے د نهٔ ذکر کیدو نه دا نهٔ لازمیږی چه ګنے نبی ﷺ به دا نهٔ وی کړی۔ ځکه دا معلومه خبره وه۔ دا وجه ده چه د نفلو نفی ئے نقل کړے او د وترو نفی ئے نهٔ ده نقل کړے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۵) حِيـنَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبُحُ : دا دليـل دے چه د مـزدلفـے په شپه سهار مونځ د خپل عام وخت نـه لړ وختي كول پكار دي خو په دے شرط چه صبا داخل شوے وي او په دے باب كښے وخت داخليدو له اعتبار دے نۀ اذان له، ځكه ځينے وخت خلك د وخت نه مخكښے اذانونـه كوي، او دا وختي مونځ په دے ورځ ځكه پكار دے چه مونځ نه پس د ذكر او دعا دپاره وخت فراخه شي۔

(۲۶) [اَتَي الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ] دا په مزدلفه كښے د مانځه نه پس عمل دے، مشعر حرام په مـزدلـفـه كښے د يـو غـر نـوم دے چه اُوس په دے باندے مسجد جوړ شوے، او حرام ورته ځكه وائي چه دا د حرم شريف په حدودو كښے دے۔ يا پدے وجه چه دا محترم ځائے دے۔
ددے نـه معلومه شوه چه د سهار مانځه نه پس حاجي دپاره ضروري ده چه قبلے ته مخ كړي او د الله تعالىٰ ذكر او تكبير او تهليل او دعا شروع كړي۔
الله تـعالىٰ فرمائي : ﴿ فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ﴾ [البقرة : ۱۹۸] او دا كـار بـه تـر دے پـورے كـوي چه ښه رڼرا شي، د نمر ختـۀ نه لږ مخكښے پورے۔ مسـلمان له پكار دي چه دا قيمتي وخت په وړو كارونو كښے د مشغوليدو په وجه ضائع نۀ كړي۔

وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ : دلتـه رسـول الله ﷺ ځان سره فضل بن عباس ﷛ پـه سـورلـۍ بانـدے سـور كـړو۔ دے نـه د فضل ﷛ فـضـيـلـت مـعـلـوم شو۔ او د رسول الله ﷺ عـاجـزي او خـاكسـاري، چـه د نـورو مشـرانـو پـه شان نـۀ دے چه ځان سره نور خلك په يوه سورلـۍ كينول خپله بې عزتي ګڼړي۔

[حَتّٰى اَتٰى بَطْنَ مُحَسِّرٍ] دے كښے اُوس د مـزدلـفـے نـه تـلـل ذكر كوي، هغه دا چه د نمر راختـو نه لږ مخكښے نبي كريم ﷺ روان شو او كله چه بطن محسر ته راغے (او دا هغه ځائے دے چه اصحاب فـيـل پكښے تباه شوي وو) نو سورلـۍ له ئے حركت وركړو، نو دے نه معلومه شوه چه په دے ځائے كښے لږ په تادۍ سره تلل مسنون دي۔
او ددے حـكـمـت علماؤ دا خودلے دے چه دا ځائے د مشركانو موقف وو، هغوي به دلته كښے ودريـدل، نـو رسـول الله ﷺ د هـغـوي د مخالفت په وجه پدے كښے تيز مزل غوره كـړو، يا پدے وجه چه دلته اصحاب الفيـل هلاك شوي وو، يا يو سړي پكښے ښكار كولو نـو پـه هـغـۀ بانـدے دلته اُور نازل شو او هغه ئے وسيزلو نو دا عذابي ځائے دے، او د رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷺ طريقه مبارکه دا وه چه په عذابي مقاماتو کښې به ډير نۀ ايساريدو۔

مُحَسِّر : دا د مزدلفې او مِنیٰ ترمينځه يو ميدان دے۔ د محسر معنیٰ ده ستړے کونکے، په دے کښې چه څوك روان وى نو ستړے کيږى، يا فيل او اصحاب الفيل پکښې ستړى شوى وو، او د مزل نه عاجز شوى وو، او دا دومره څائے دے (خوږ دے) لکه د کاڼو د ويشتلو په اندازه۔ او حافظ ابن القيمؒ او علامه طحاویؒ ليکى : دا نۀ په مزدلفه کښې داخل دے او نۀ په منیٰ کښې بلکه د دواړو ترمينځ يو برزخ/پرده ده۔ انتهیٰ۔ ليکن لاندے حديث د مسلم راروان دے چه په هغے کښې دى چه دا د منیٰ برخه ده۔

(۲۷) [ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطٰى] په دے کښې د نبى ﷺ د جمرة العقبه د ويشتو بيان دے، هغه دا چه نبى ﷺ په هغه مينځنۍ لاره لاړو چه هغه جمراتو ته نيغه تلے ده۔

امام نووىؒ فرمائى: دا د هغه لارے نه علاوه بله لاره وه په کومه باندے چه عرفات ته تلے وو۔ او د عرفات نه په راواپس کيدو کښې پدے لاره راتلل سنت دى آه۔

يعنى د ضبّ په لاره تلے وو او د "مازَمين" په لاره راواپس شو، او مازمين په لاره کښې دوه غرونه دى۔ او پدے لاره بدلولو کښې نيك فالئ نيولو ته اشاره وه چه الله تعالیٰ به بد حال دغه شان بدلوى۔ يا دے دپاره چه هره لاره ورله د قيامت په ورځ گواهى وکړى۔

[الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى] د جمرے معنیٰ ده د کاڼو ډهيرے۔ ديته کبریٰ (لويه) جمره ځکه وائى چه ددے نه مخکښې وړه او درميانه ده، بله دا چه دا د اختر په ورځ يواځے ويشتل کيږى۔ [الَّتِيْ عِنْدَ الشَّجَرَةِ] پخوا زمانه کښې دلته وُنه وه۔ دے نه معلومه شوه چه کله حاجى د مزدلفے نه لاړ شى او مِنیٰ ته ورسى نو ددۀ دپاره سنت طريقه داده چه د جمره عقبے په ويشتو شروع وکړى، ددے د ويشتو نه مخکښې به هيڅ شے نۀ کوى، او دا به په اُوو گيټکو باندے وولى او دا گيټکۍ (کاڼړے) به د چڼړے د دانے نه لږه لويه وى۔ نۀ به ئے په ډيرو وړو کاڼو ولى او نۀ به ئے په غټو کاڼو، ځکه دا د الله تعالیٰ بندگى ده نو په دے کښې به صرف د رسول الله ﷺ د عمل تابعدارى کوى۔ او د ويشتو په وخت به [اَللّٰهُ اَكْبَرُ] وائى، او په زړۀ کښې به تعظيم راولى۔ بعض خلك ئے په چپلو / څپلو ولى دا خلاف سنت ده او د شيطان تابعدارى ده۔ دلته څه شيطان نشته خو شيطان ته د نبى ﷺ په تابعدارۍ باندے تکليف رسيږى۔

او نبى کريم ﷺ دا جمره په داسے حال کښې ويشتلے وه چه مِنیٰ ئے ښى اړخ ته وه او

Maktaba Tul Ishaat.com

مکه ئې کس اړخ ته. دے حدیث کښې دا نۀ دي ذکر چه نبي کریم ﷺ دا ګیټکئ د کوم ځایه راخستې وې؟ دا دلیل دے چه ددے دپاره څۀ خاص ځائے معلوم نۀ دے، د هر ځائے نه ئې راخستلے شي. د ابن عباس ﷺ او د فضل بن عباس ﷺ په روایتونو کښې راغلي چه نبي ﷺ د جمرے عقبې په سهار په سورلۍ باندے سور وو او وے فرمایل: ماله کانړي راکړئ. نو هغوئ دپاره د کوت کانړو هومره شګئ راواخستل شوے او کله ئې چه په خپل لاس کښې کیښودے نو درے ځله ئې وفرمایل: [بِمِثْلِ هٰذَا فَارْمُوْا وَإِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ] (ددے هومره (په کانړو به ویشتل کوئ) او په خپل دین کښې زیاتے مۀ کوئ ځکه تاسو نه مخکښې خلك په دین کښې په زیاتي کولو تباه شول)) [احمد: ۱۸۵۱، : صحیح]

په صحیح مسلم (۳۱٤۹) کښې د فضل ﷺ په حدیث کښې راغلي: ((کله چه نبي ﷺ محسّر ته ورغے چه دا د مِنیٰ یوه برخه ده وے فرمایل: [عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِيْ يُرْمٰى بِهِ الْجَمْرَةُ] تاسو هغه ګیټکئ راواخلئ چه په هغے جمره ویشتل کیږي)).

علامه ابن قیمؒ فرمائي: ددے نه معلومه شوه چه نبي ﷺ په لاره کښې ګیټکئ راخستې وې. بهر حال د کانړو د راخستلو څۀ خاص ځائے نۀ دے معلوم، خامخا د مزدلفے نه دا راخستل - څنګه چه زیاتره حاجیان کوي- څۀ دلیل نۀ لري. او که راوائے خلي نو جائز ده، د عامو زمکو په شان ده.

(۲۸) [ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ] دا دلیل دے چه د جمرے عقبې نه پس به ذبح کوي، په دے ورځ نبي کریم ﷺ په خپل لاس مبارك سره درے شپیتۀ (٦٣) اوښان حلال کړي وو، او باقي اوښان ئې علي ﷺ ته وسپارل، او نبي ﷺ ټول سل اوښان هدیه کړي وو.

او المنحر معرف باللام ذکر کولو کښې اشاره ده چه منحر په هغه وخت کښې په منیٰ کښې معلوم ځائے وو، او رسول الله ﷺ وفرمایل: دا (ما چه کوم ځائے قرباني وکړه دا) منحر (ځائے د قربانۍ) دے او منیٰ ټول منحر دے او د مکے کوڅے (هم) منحر دے.

[احمد: ١٤٥٣٨، حدیث صحیح وهذا اسناد حسن]

یعنی د اختر د ورځے قرباني په مکه کښې هم کولے شي.

بیا د شکریه په توګه په حجِ تمتع او حجِ قِران کونکي باندے دَم (یعني هدی) ذبح کول واجب دي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ دے کښې اګرکه تمتع ذکر دے خو قِران ته هم شامل دے او په احادیثو کښې هم قِران ته تمتع

Maktaba Tul Ishaat.com

وئيل شوي دي څکه تمتع فائدے حاصلولو ته وائی او په قِران کښے هم په يو سفر کښے دوه عبادتونه جمع کولو سره نفع حاصليږی. لکه چه مخکښے ذکر شو.

او هر کله چه په تمتع او قِران کښے دَم، دَمِ شکر دے نۀ دَمِ جبر، دے وجے نه ددے نه خپله حاجی هم خوراك كولے شی او هديه او صدقه ترے هم ورکولے شی. او مخکښے تير شو چه کله د قارن سره هدی نۀ وی نو هغۀ دپاره پکار دی چه د خپل حج احرام د عُمرے په احرام سره فسخ کړی. څکه د قِران دپاره دا شرط دی چه د ځان سره به ئے د ميقات نه هدی راوستے وی څنگه چه نبی ﷺ کړی وو. لکه روستو تشريح راځی.

په دے حديث کښے د حلق (سر خرئيلو) ذکر نشته. ليکن په مسند احمد کښے د جابر ﷺ په حديث کښے راغلی [نَحَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَحَلَقَ] (رسول الله ﷺ اوښان حلال کړل او بيا ئے سر وخريلو) [احمد: ١٤٥٣٨]

دغه شان د انس ﷺ په حديث کښے دی چه (رسول الله ﷺ په مِنیٰ کښے خپلے ديرے ته راغے او اُوښان ئے حلال کړل او بيا ئے نائی ته اشاره وکړه چه د سر ښی اړخ نه خريل شروع کړه، بيا ئے خلکو ته خپل ويښتان ورکول شروع کړل) [مسلم: ١٣٠٥]

ددے حديثونه معلومه شوه چه سنت طريقه داده چه د ذبح نه روستو حلق وشی.

اهل علم وائی چه د اختر د ورځے ضروری کارونه په ترتيب د (**رذح طس**) سره دی.

(**ر**) په راء کښے رَمی د جمرے ته اشاره ده، يعنی جمره عقبه ويشتل. (**ذ**) ذبح او قربانی کول. (**ح**) حلق يعنی سر خريل يا لنډول. (**ط**) طوافِ زيارت کول. (**س**) سعی کول. سنت دا ده چه دا په همدے ترتيب سره وشی، مگر که چانه په هيره سره يا د نورو عذرونو په وجه په دے کښے بے ترتيبی وشوه، نو هم جائز دی، په دے باندے څۀ دَم نۀ لازميږی. لکه روستو به راشی ان شاء الله تعالیٰ.

فَنَحَرَ ثَلَاثًا وَسِتِّيْنَ بَدَنَةً : پدے کښے د رسول الله ﷺ د عمر ختميدو ته اشاره وه، گويا که د خپل عمر په هر کال کښے ئے يوه يوه قربانی کړيده دے دپاره چه د الله تعالیٰ په نعمتونو باندے شکر ادا کړی. د رسول الله ﷺ د عمل سره څومره شوق وو او په نيکئ کښے مخکښے کيدونکے وو.

وَأَشْرَكَهُ فِيْ هَدْيِهٖ : امام نوویؒ وائی : ددے نه ظاهره کښے دا معلوميږی چه په نفس هدی کښے ئے شريك کړو، ليکن قاضی عياضؒ وائی چه دا حقيقةً تشريك نۀ وو بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

علي بن ابى طالب ﷺ ته ئے څه اندازه هدايا ورکړے چه دا تهٔ ځانله ذبح کړه۔

نـو ددے نه معلومه شوه چه د هدى او قربانى په ذبح كولو كښے بل څوك نائب جوړول جائز دى، دا ضرورى نهٔ ده چه په خپل لاس به ئے ذبح كوى، هان بهتره ده۔

دارنـګـه مـعـلـومـه شوه چـه د هدى او قربانى په ذبح كولو كښے جلتى پكار ده اګركه ډيرے وے خو د اختر په اوله ورځ ئے ذبح كول بهتر دى۔

دارنـګه دا هم معلومه شوه چه په قربانئ كښے د هغے د اخستو نه روستو هم بل څوك شريك كـول جائز دى، ځكه چه قربانى هله اضحيه ګرځى چه كله ذبح كړے شى۔ لكه په كتاب البيوع كښے به راشى او مخكښے هم تيره شويده۔

بيـا پدے حديث كښے راغلل چه رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارك درے شپيته (۶۳) اُوښے ذبح كړے۔ او بخارىؒ د انس ﷺ حـديث نقل كړيدے چه په هغے كښے دى چه رسول الله ﷺ اُوه (۷) اُوښے ذبـح كـړے۔ نـو ددے تطبيق دا دے چه انس بن مالك ﷺ صرف اُوه اُوښے وليدے چه رسول الله ﷺ په خپل لاس ذبح كړے، او جابر ﷺ ټولے وليدے نو هريو د خپـل علم مطابق روايت نقل كړو۔ يا تطبيق داسے دے چه رسول الله ﷺ په خپـل لاس صرف اُوه (۷) ذبـح كـړے او بيـا ئے بـل چا ته حكم وكړو نو د هغهٔ په موجودګئ كښے تر درے شپيتـو پـورے ذبح كړے شوے، بيا رسول الله ﷺ لاړو او على ﷺ ئے د باقى په ذبح كـولـو مـقـرر كړو۔ عـلامه طبرىؒ وئيلى دى چه غوره دا ده چه ووئيلے شى چه رسول الله ﷺ اُوه پـه خپـل لاس سره يـواځے ذبـح كړے بيا تر (۶۳) شپيتو پوره كيدو پورے ئے په شريكه د على ﷺ سره ذبح كړے، او بيا ئے په باقيمانده كښے تر سلو پورے على ﷺ مقرر كړو۔ (الطبرى والمرعاة)

ثُـمَّ أَمَـرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ : ددے مـذكـر بَـضْـعُ دے، بَـضـعـه چه په زبر د باء سره وى نو صـرف يـوے تـكـړے د غـوښـے تـه وائـى۔ (نووىؒ) او دے كښے زيـر د بـاء هم جائـز دے۔ (سيـوطىؒ) او چـه كـلـه په عدد كښے استعمال شى نو بيا د باء زبر او زير دواړه جائز دى، د هغے اطـلاق د دريـو (۳) نـه تـر نهـو (۹) پـورے كيـږى۔ او پـه مـعـنىٰ د بعض سره هم استـعـماليږى۔ لكه [مَـكَـثَ بِضْعَةَ أَيَّامٍ بِالْجَبَلِ] يـعـنـى يو څو ورځے ئے په غر كښے تيرے كړے۔

لَحْمِهَا : (هَا) ضمير قِدْر ته راجع دے ځكه چه هغه مؤنث سماعى دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ او علي رضي الله عنه د خپلو قربانيو د هريوے نه لږه لږه غوښه راواخسته او پخه ئے کړه او د هغے غوښه او شوروا ئے وڅکله۔

چونکه د قربانئ غوښه ډيره مبارکه وی، څکه چه عبادت پرے شوے وی، نو پدے وجه دا سنت ده چه انسان د قربانئ غوښه وخوری، او دلته چونکه د هرے قربانئ غوښه خوړلو کښے مشقت دے نو رسول الله ﷺ د هرے يوے نه لږه لږه غوښه راواخسته او په کټوئ کښے ئے واچوله دے دپاره چه د هغے په ښوروا خوړلو سره د ټولو نه خوراك وکړے شي۔ (نووی)

دا هم معلومه شوه چه د دمِ قِران او دمِ تمتع نه خوراك جائز دے، او پدے کښے رَد دے په شوافعو باندے چه هغوی وئيلی دی چه د دم تمتع او دم قران نه خوراك جائز نۀ دے، او دلته رسول الله ﷺ دا ټولے هدايا د قِران دم ګرځولے دے، نو که پدے کښے بعض د تطوع قربانی وی نو هغه ئے هم د نورو سره شريکے کړيدی او د ټولو نه ئے خوراك کړيدے۔ دا حديث دليل دے چه د اختر په ورځ ډيرے قربانيانے کول افضل دی، نو د عوامو دا خبره ټيك نۀ ده چه وائی : دومره ډيرو قربانو ته څه ضرورت دے، مسکينانو له مال ورکول پکار دی۔ مونږ وايو : مسکينانو له مال ورکول جدا صدقه او تعاون دے، هغه به هم مسلمان کوی او د اختر د ورځے جدا عبادت دے او دا په قربانئ سره کولے شی نو پدے کښے قربانی بهتر عمل دے۔

(۲۹) [ثُمَّ رَكِبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَأَفَاضَ......] دلته د افاضے نه مراد طوافِ افاضه دے۔ او دے ته طواف زيارت، او طوافِ فرض او طوافِ رکن هم وائی۔

دا دليل دے چه مستحبه داده چه دا څلورم کار د دغه درے کارونو نه روستو وکړے شی، او په اوله ورځ وکړے شی څکه چه افاضه په تيزئ سره راکوزيدو ته وائی۔

خو که د څۀ عذر په وجه ئے د اختر په ورځ طوافِ زيارت ونۀ کړو نو په بله ورځ به ئے کوی، او تر ډيرے مودے پورے ئے هم د عذر په وجه روستو کولے شی۔

او افاضه د بره ځائے نه راکوزيدو ته وائی او مِنیٰ هم د مکے نه پورته ده۔

[فَصَلّٰى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ] امام نوویؒ وائی : دلته کلام پټ دے، يعنی رسول الله ﷺ مکے ته راغلو او د بيت الله نه ئے طوافِ افاضه وکړو، بيا ئے د ماسپخين مونځ په مکه کښے وکړو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اشکال او د هغې جواب :

دې نه معلومه شوه چه د ماسپخین مونځ په مکه کښې شوې، او د ابن عمر ﷺ په حدیث کښې دي : چه ((نبی ﷺ د اختر په ورځ طوافِ افاضه وکړو، بیا واپس شو او په مِنیٰ کښې ئې د ماسپخین مونځ وکړو)) ددې دواړو ترمینځه په ظاهره کښې تعارض معلومیږي؟ نو چا یو ته او چا بل ته ترجیح ورکړیده : (۱) مګر ددې تطبیق امام نوویؒ دا کړیدې چه نبی ﷺ په مکه کښې په اول وخت کښې د ماسپخین مونځ وکړو، بیا چه کله مِنیٰ ته واپس راغې نو ملګروته ئې دوباره د ماسپخین مونځ وکړو۔ نو اول مونځ ئې فرض او دویم نفل شو۔ او همدا قول راجح دې۔ او اقتداء د مفترض د متنفل پسې جائز ده۔ لکه دا خبره په باب الصلاة کښې ذکر شویده۔

(۲) او دا هم کیدې شي چه رسول الله ﷺ په مکه کښې د طواف نه روستو دوه رکعاته کړې وي او بیا منیٰ ته تلې وي او هلته ئې دوه رکعاته د ماسپخین فرض مونځ کړې وي۔ (القاريؒ) (۳) یا دا چه په مکه کښې ئې ځانله مونځ کړې او منیٰ ته چه لاړو نو هلته ئې ملګروته جمع وکړه۔ (الطبريؒ)

بَنِيُ عَبُدِ الْمُطَّلِبِ : دا د عباس ﷺ او د هغهٔ د خاندان اولاد دې۔ زَمْزَمَ : دا په مسجد حرام کښې کوهې دې چه ددې او د کعبې ترمینځ (۳۸) ګزه فاصله ده۔

په روایت د صحیحینو کښې دي :

[أَتَى زَمْزَمَ وَهُوَ يَسْقُوْنَ عَلَيْهَا فَقَالَ : إِعْمَلُوا فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ]

نبی ﷺ زمزم کوهی خواته راغلو او بنو عبد المطلب نورو خلکو ته اُوبهٔ ورکولې نو وې فرمایل : دا کار جاري ساتئ ځکه چه تاسو په یو نیك عمل باندې یئ۔

او بیا ئې وفرمایل : که دا یره نهٔ وې چه خلك به په تاسو باندې په اُوبه ورکولو کښې غلبه وکړي نو ما به هم دا اُوبه راوخکلې او خلکو ته به مې ورکولې۔ لیکن که زهٔ دا کار وکړم نو نور امت به ئې زما د تابعدارئ په نیت باندې کوي نو تاسو نه به دا فضیلت واخستې شي۔ دا دلیل دې چه دا فضیلت صرف بنو عبد المطلب پورې خاص وو۔ یعنی د سقایه پروګرام هغوی ته حواله کړې شوې وو۔

فَنَاوَلُوْهُ : یعنی بنو عبد المطلب یعنی عباس ﷺ نبی کریم ﷺ ته یوه بوقه ورکړه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

د هغې نه رسول الله ﷺ اُوبۀ وڅکلې. لکه دا په روايت بخاریؒ کښې ذکر دی.

او واقدیؒ ذکر کړيدی چه رسول الله ﷺ په خپل سر باندې هم واچولې، نو دا هم مستحب ده چه د زمزم اُوبۀ وڅکي او ځان پرې ښۀ موړ کړي او بيا ئې په مخ او سر باندې راوا چوي.

او حديث کښې ددې اُوبو ډير فضيلتونه راغلي دی، فرمايلي ئې دی:

[خَيْرُ مَاءٍ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ مَاءُ زَمْزَمَ، فِيْهِ طَعَامُ الطُّعْمِ وَشِفَاءٌ مِنَ السُّقْمِ، وَشَرُّ مَاءٍ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ مَاءٌ بِوَادِيْ بَرَهُوْتٍ، بِقُبَّةٍ مِنْ حَضْرَمَوْتَ كَرِجْلِ الْجَرَادِ مِنَ الْهَوَّامِ، تُصْبِحُ تَدَفَّقُ، وَتُمْسِيْ لَا بِلَالَ بِهَا]. [طبرانی، ابن حبان، صحيح الجامع: ۳۳۲۲، الصحيحة : ۱۰۵۶]

په مخ د زمکه باندې بهترينې اُوبۀ د زمزم اُوبۀ دی، پدې کښې د خوراك بندوبست دې، او د بيمارئ نه شفاء ده، او په مخ د زمکه باندې ناکاره اُوبۀ د وادی برهوت (د کوهی) اُوبۀ دی، چه دا د حضرموت (يمن) په يوه ډيره کئ باندې دی، دا د حشراتو نه (او پيريانو نه) د ملخانو د خپې په شان (ډك) وی، چه سهار کښې راخوټ کيږی او مابنام کښې پکښې هيڅ اُوبۀ نۀ وی. (دا کوهې اُوس هم موجود دې او انټرنيټ کښې ددې تصاوير هم شته، دا اُوبۀ څکه ناکاره دی، چه وئيلې شويدی چه پدې کوهی کښې د کافرانو روحونه وی او د هغې نه بدبوئی څی، ددې ويخ ته کوزيدل نشي کيدې، ډير ژور دې، او د حشراتو او پيريانو نه ډك وی، دلته ډيره يره خوره ده)

په حديث د ابن عباس رضي الله عنه کښې مرفوعاً راغلي دی:

[مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ، إِنْ شَرِبْتَهُ تَسْتَشْفِيْ بِهِ شَفَاكَ اللّٰهُ وَإِنْ شَرِبْتَهُ لِيُشْبِعَكَ أَشْبَعَكَ اللّٰهُ بِهِ، وَإِنْ شَرِبْتَهُ لِقَطْعِ ظَمَأِكَ قَطَعَهُ اللّٰهُ وَهِيَ هَزْمَةُ جِبْرِيْلَ وَسُقْيَا اللّٰهِ إِسْمَاعِيْلَ]

[سنن الدارقطني : صحيح الترغيب والترهيب : ۱۱۶۴]

د زمزم اُوبۀ چه د څه دپاره وڅکلې شي هغه پوره کيږی، که تا د شفاء په نيت وڅکلې نو الله به شفاء درکړی او که تا د موړ والی دپاره وڅکلې نو الله به ډې پرې موړ کړی او که تا د تندې د ختمولو دپاره وڅکلې نو الله به ډې تنده ختمه کړی او دا د جبريل عليه السلام د وزر په وهلو سره راوتلې ده، او د الله تعالىٰ د طرف نه د اسماعيل عليه السلام خروبه ول دی.

ددې خپلو علاقو او کورونو ته وړل هم مستحب دی، رسول الله ﷺ په مدينه کښې وو او سهيل بن عمرو رضي الله عنه ته ئې جواب وليږلو چه ما ته د زمزم اُوبۀ راوليږه او دې وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې مکه نهٔ وه فتح شوې نو سهیل بن عمرو ﷺ ورته دوه مشکیزې اُوبهٔ راولیږلې.
ددې د څکلو په وخت کښې قبلې ته مخ کرځول په ضعیف روایت د ابن ماجه (۳۰۶۱) کښې راغلي دي. او دا رسول الله ﷺ په ولاړه سکلي دي، او ابن عباس ﷺ فرمائي : ددې نه تضلع (یعنې ځان ډکول او په ډکه خیټه څکل) پکار دي، (کما في اخبار مکه للفاکهي). **فائده** : د زمزم د اُوبو یو څو آداب دي : (۱) دې کښې چه کومې فائدې شریعت وئیلي دي په هغې یقین کول. (۲) ډیرې څکل. (۳) په ولاړه څکل کله چه ولاړ وي. (٤) په طریقه د عبّ سره څکل یعنې ګلاس په یو ځل څکل. (٥) اوله کښې بسم الله او آخره کښې الحمد لله وئیل. (٦) کله ئې چه څکي نو په دغه وخت کښې مرض رایادول لکه پدې باندې دا قول (لِمَا شُرِبَ لَهُ) دلیل دې. (۷) ډیرو نیتونو باندې څکل لکه مخکښې روایت د ابن عباس ﷺ کښې سوچ وکړه. ابن العربيؒ په احکام القرآن کښې لیکلي دي : د زمزم اُوبهٔ د هر نیت دپاره کار ورکوي چه د چا نیت صحیح وي، او تجربې نهٔ کوي، او زهٔ په مکه کښې اُوسیدم، ما به د زمزم اُوبهٔ ډیرې څکلې، په هر ځل څکلو سره به مې د علم او ایمان نیت کولو، تردې چه الله تعالیٰ ما ته ددې برکت په هغه اندازه راکولاؤ کړو په کومه اندازه ئې چه ما ته علم آسان کړو لیکن ما نه دا هیره شوه چه د عمل دپاره ئې وسکم، آرمان چه د علم او عمل دواړو دپاره مې څکلې وې چه الله تعالیٰ په ما باندې دواړه راکولاؤ کړي وې، لیکن الله نهٔ وه مقرر کړې پدې وجه زما میلان علم ته د عمل په نسبت زیات شو. انتهیٰ. [احکام القرآن : ۵/۱۱۹ سورة ابراهیم] والله اعلم.

2556 (2) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ اَهَلَّ بِحَجٍّ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ فَلْيَحْلِلْ وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهْدٰى فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لَا يَحِلَّ حَتّٰى يَحِلَّ مِنْهُمَا ". وَفِي رِوَايَةٍ :" فَلَا يَحِلَّ حَتّٰى يَحِلَّ بِنَحْرِ هَدْيِهِ وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ". قَالَتْ : فَحِضْتُ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتّٰى كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَلَمْ أُهْلِلْ إِلَّا بِعُمْرَةٍ فَأَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَنْقُضَ رَأْسِي وَأَمْتَشِطَ وَأُهِلَّ بِالْحَجِّ وَأَتْرُكَ الْعُمْرَةَ فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا قَضَيْتُ حَجِّي بَعَثَ مَعِي عَبْدَ

Maktaba Tul Ishaat.com

الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِي مِنَ التَّنْعِيمِ قَالَتْ: فَطَافَ الَّذِينَ كَانُوا أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوا ثُمَّ طَافُوا بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى وَأَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها فرمائي: مونږ د نبي كريم ﷺ سره په حجة الوداع كښې راووتو نو مونږ نه بعض هغه څوك وو چه د عمرے احرام ئے وتړلو او بعضو زمونږ نه هغه څوك وو چه د حج احرام ئے وتړلو، هركله چه مونږ مكے ته راغلو، رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه د عمرے احرام تړلے وي او قرباني ئے نۀ وي راوستي نو هغه دِے احرام كوز كړي او چا چه د عمرے احرام تړلے وي او قرباني ئے راوستي وي نو هغه دِے د عمرے سره د حج احرام هم وتړي (يعني قارن دِے شي) بيا دِے احرام نۀ كوزوي تردے چه د دواړو نه (په يو ځائے) احرام كوز كړي. او په يو روايت كښې دي: احرام دِے نۀ كوزوي تردے چه د خپلے قربانئ په ذبح كولو سره دِے احرام كوز كړي او چا چه د حج دپاره احرام تړلے وي نو هغه دِے حج پوره كړي. عائشه رضي الله عنها فرمائي: نو زۀ حائضه شوم او ما د بيت الله نه طواف ونكړو او نۀ مے د صفا او مروه (ترمينځ سعي وكړه) او زۀ همداسے حائضه وم تردے چه د عرفے ورځ شوه او ما صرف د عمرے احرام تړلے وو نو ما ته نبي كريم ﷺ حكم وكړو چه زۀ خپل سر پرانيزم او سر گمنز كړم او زۀ د حج دپاره احرام وتړم او عمره پريدم. نو ما داسے وكړل تردے چه ما حج پوره كړو (نو) ما سره ئے عبد الرحمن بن ابي بكر وليږلو او ما ته ئے حكم وكړو چه زۀ د خپلے (قضا شوے) عمرے په ځائے د تنعيم (مقام) نه عمره وكړم (چه اُوس ورته مسجد عائشه وائي) عائشه رضي الله عنها فرمائي: نو هغه كسانو چه د عمرے احرام ئے تړلے وو هغوي د بيت الله نه طواف وكړو او د صفا او مروه ترمينځ (ئے سعي وكړه) بيا ئے احرام كوز كړو، بيا خلكو طواف وكړو پس د هغے نه چه د منىٰ نه (مكے ته) راواپس شول (چه دے ته طواف افاضه وائي) او هرچه هغه كسان دي چه حج او عمره ئے جمع كړي وو (يعني د اول نه ئے د حج او عمرے دواړو دپاره احرام تړلے وو، يا روستو ئے يو د بل سره يو ځائے كړے وو) نو هغوي صرف يو (يعني د اختر په ورځ) طواف وكړو. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: [خَرَجْنَا] دا وتل د خالي په ورځ، د ماسپخين مانځه نه پس، په لسم كال د

Maktaba Tul Ishaat.com

هجرت وو چه په ذی القعده کښې صرف پنځه ورځې پاتې وې.
مَنْ اَهَلَّ بِعُمْرَةٍ : أَیْ مُتَمَتِّعًا بِهَا اِلَی الْحَجِّ (یعنی د عُمرې احرام ئې وتړلو چه ددې نه پس به په همدې کال حج کوی) او دیته حج تمتع وائی.
[مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ] : صرف د حج احرام ئې وتاړهٔ او دیته حجِ اِفراد وائی.
فَلْیُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ : دیته حج قِران وائی چه حج او عمره دواړه په یو نیت کښې جمعه کړی بیا اول عمره وکړی او روستو په همدغه احرام سره حج هم وکړی.
ثُمَّ لَا یَحِلَّ حَتّٰی یَحِلَّ مِنْهُمَا : یعنی بیا دې د احرام نه نهٔ بهر کیږی او دهٔ دپاره به هیڅ شے د محظوراتو د احرام نه نهٔ حلالیږی تردې چه عمره او حج دواړه یو ځائے وکړی.
وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْیُتِمَّ حَجَّهٗ : یعنی چا چه د حج احرام تړلے وی نو هغه دې حج پوره کړی. دا په ظاهره کښې تقاضا کوی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته دا امر نهٔ دے کړے چه خپل حج عمرې ته فسخ کړئ سره ددې نه چه د څوارلس صحابه کرامو ﷺ نه دا صحیح ثابته ده چه رسول الله ﷺ - هغه چا ته چه ځان سره ئې هدی نهٔ وه راوستے - حکم کړے وو چه حج فسخ کړی او عمره ئې وګرځوی نو ددې وجه نه دلته دا ضروری شوه چه دا حدیث په هغه چا باندې حمل شی چه هدی ئې ځان سره راوستی وی، او د فسخ امر د هغه چا په حق کښې وو چه هدی ئې نهٔ وه راوستے، نو هیڅ منافات نشته.
(قاله السندیؒ فی حاشیة مسلم) نو دلته به مقصد دا وی :
[وَمَنْ اَهَلَّ بِحَجٍّ اَیْ وَاَهْدٰی]
یعنی چا چه د حج احرام تړلے وی او هدی ئې ځان سره راوستی وی، نو هغه دې د عمرې نه روستو ځان نهٔ حلالوی بلکه حج دې پوره کړی. او دا قید د نورو روایاتو نه معلوم دے.
مِنَ التَّنْعِیْمِ : "تنعیم" د یو ځائے نوم دے چه د مکې نه په درې میله فاصله باندې په شمال مغربی کښې واقع دے. دا ځائے د حرم د حدودو نه بهر دے. اُوس په مسجد عائشه سره مشهور دے.
وَأَمَّا الَّذِیْنَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوْا طَوَافًا وَاحِدًا: یعنی کومو خلکو چه حج قِران کولو نو هغوی یو طواف وکړو. چه هغه طوافِ افاضه دے.
طَوَافًا وَاحِدًا : یعنی د حج او د عمرې دواړو دپاره ئې یو طواف افاضه وکړو. یعنی دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

د قارن دپاره دا ضروري نۀ ده چه د عمرے دپاره جدا طواف وکړي او د حج دپاره جدا، ځکه چه دا ګمان کيدے شو چه دوه عبادتونه دي نو پکار ده چه دوه طوافونه ورله وکړے شي او هر چه اول طواف وو نو هغه خو د قدوم دپاره وو. نو دلته عائشه ﷞ دا خبره ثابتوي چه اولنے طواف د قدوم د عمرے دپاره هم شو، او د عرفات نه روستو ئے صرف د حج دپاره طواف وکړو نو هغه د عُمرے دپاره هم کافي شو.

او دلته دا خبره نۀ ده ذکر چه کومو کسانو چه حج او عمره دواړه جمع کړل نو هغوی په وخت د قدوم کښے طواف ونکړو بلکه دا خبره ده چه د منیٰ نه د راواپس کيدو په وخت کښے ئے يو طواف وکړو.

ځينې علماؤ د طواف نه سعي مراد کړيده ځکه چه دے ته هم کله ناکله طواف وئيلے کيږي، نو عائشے ﷞ چه د متمتع او د قارن په طواف کښے فرق کړيدے نو د هغے نه طواف د صفا او مروه ترمينځ مراد دے، نو فرمائي چه قارنينو په يو طواف باندے اکتفاء وکړه يعني يوه سعي باندے، او ددے سره ئے بل طواف يو ځائے نکړو په ورځ د اختر باندے، او همدا خبره حق ده، او د متمتعينو په باره کښے ئے وفرمايل: چه دوئ د صفا او د مروه ترمينځ يو بل طواف هم وکړو کله چه د مِنیٰ نه راواپس شول او هغه د حج طواف وو. او دغه مخکښے د عمرے طواف وو. او دا قول د جمهورو دے.

مسئله: آيا قارن باندے دوه طوافه او دوه سعي دي او که يو طواف او يو سعي کافي دي؟ پدے کښے د علماؤ اختلاف دے: (۱) جمهور اهل علمؒ وائي: چه قارن د مفرد حاجي په شان دے چه ددے دواړو دپاره يو طواف او يو سعي کافي ده، دا دواړه به د عمرے او د حج دواړو دپاره کافي شي. او هر چه طواف قدوم دے نو هغه سنت دے. او هرچه سعي ده نو که د طواف قدوم نه روستو ئے سعي وکړه نو دا سعي د حج دپاره هم شوه او که صرف طواف قدوم ئے وکړو او بيا د عرفات نه روستو ئے طواف افاضه وکړه او د هغے نه روستو سعي کوي نو هم صحيح ده.

ابن قدامهؒ وائي: مشهور قول دِ امام احمدؒ دا دے چه قارن باندے نۀ دے لازم مګر هغه طواف او سعي چه د مفرد دپاره لازم دي. او ددۀ دپاره يو طواف او يو سعي کافي کيږي د حج او د عمرے دواړو دپاره، او دا قول د ابن عمر، جابر بن عبد الله رضي الله عنهم، او عطاءؒ، طاووسؒ، مجاهدؒ، مالكؒ، شافعيؒ، اسحاقؒ، ابوثورؒ او ابن المنذرؒ دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) د امام احمدؒ نه دویم روایت دا دے چه په قارن باندے دوه طوافونه او دوه سعی دی او دا قول د ثوریؒ او ابوحنیفهؒ دے، او علی ﷛ ته منسوب دے لیکن د هغهٔ نه صحیح سند سره نهٔ دے ثابت۔

بیا ابن قدامهؒ د جمهورو دلائل ذکر کړیدی چه یو د هغے نه دا حدیث د عائشے ﷞ دے چه دلته ئے د قارن دپاره یو طواف ذکر کړیدے۔

او په حدیث د مسلم کښے دی: هرکله چه عائشے ﷞ (مدینے ته د روانیدو په وخت) د عمرے مطالبه وکړه نو نبی ﷺ ورته وفرمایل: [يَسَعُكِ طَوَافُكِ لِحَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ] [مسلم: ۲۹۹۲] ستا طواف (کوم چه دِے د اختر په ورځ وکړو) ستا د حج او عمرے دواړو دپاره کافی دے۔ لیکن ظاهر دا ده چه د عائشے ﷞ د حدیث مطلب دادے چه بس تا لره حج کافی دے، عمره مکوه، لیکن هغے په عمره باندے اصرار کولو۔ نو د هغے ورور عبد الرحمن ئے ورسره ولیږلو د تنعیم نه ئے (د حج نه روستو) عمره وکړه۔ (نو د ابن قدامهؒ دا دلیل ذکر کول د قارن د یو طواف دپاره په محل د نظر کښے شو ځکه چه عائشه ﷞ قارنه نهٔ وه بلکه متمتعه وه)

او عبد الله بن عمر ﷛ فرمائی: نبی کریم ﷺ وفرمایل: [مَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ كَفَى لَهُمَا طَوَافٌ وَاحِدٌ وَلَمْ يَحِلَّ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ وَيَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا]

[صحیح ابن ماجه ۲۹۶۶]

چا چه د حج او عمرے دواړو دپاره احرام وتړلو نو د هغے دواړو دپاره یو طواف کافی دے او احرام به نهٔ کوزوی تردے چه خپل حج پوره کړی نو د دواړو نه به یو ځائے بهر شی۔

او په روایت د ترمذی کښے دی: [مَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ أَجْزَأَهُ طَوَافٌ وَاحِدٌ وَسَعْيٌ وَاحِدٌ عَنْهُمَا جَمِيعًا] [الترمذی: ۹۴۸ صحیح]

چا چه د حج او د عمرے احرام وتړلو نو هغهٔ دپاره یو طواف او یو سعی د دواړو نه کافی کیږی۔

او په روایت د جابر ﷛ کښے دی: [أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ عُمْرَتِي حَجًّا قَالَ: ثُمَّ قَدِمَ فَطَافَ لَهُمَا طَوَافًا وَاحِدًا] [بخاری: ۱۶۳۹] بیا رسول الله ﷺ د دواړو دپاره یو طواف وکړو۔ او په روایت د جابر ﷛ کښے د ترمذی په روایت سره داسے الفاظ دی:

[إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَرَنَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَطَافَ لَهُمَا طَوَافًا وَاحِدًا]

Maktaba Tul Ishaat.com

[الترمذی : ۹٤۷ : صحیح] رسول الله ﷺ حج او عمره په يو احرام کښې يو ځائے کړل او د دواړو دپاره ئے يو طواف وکړو۔

او جابر او ابن عمر او ابن عباس رضی الله عنهم روايت کړيدے چه [إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ لَمْ يَطُفْ بِالْبَيْتِ هُوَ وَأَصْحَابُهُ لِعُمْرَتِهِمْ وَحَجَّتِهِمْ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا] [ابن ماجه : ۲۹۷۲، صحیح] رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګرو د عمرے او حج دپاره صرف يو طواف وکړو۔
[المغنی ۲٤۱/۳ بتصرف]

علامه محمد امين الشنقيطیؒ فرمائی : هرچه جمهور دی چه هغوی د قارن او متمتع فرق کړے نو هغوی وائی چه قارن دپاره د حج او عمرے دواړو نه يو طواف زيارت کافی دے، چه هغے ته طواف افاضه وائی، او يو سعی (کافی ده) نو هغوی په ډيرو صحيحو حديثونو ذليل نيولے دے چه د هغوی د مخالفينو سره داسے دليلونه نشته چه ددے مقاومت او مقابله وکړی۔ [تفسير اضواء البيان : ٤۳۰/٤]

نو کوم روايتونو کښې چه دوه طوافونه او دوه سعی راغلی دی هغه ضعيف دی، لکه علی ﷺ ته منسوب دی او عبد الله بن مسعود ﷺ ته، نو حافظ زيلعیؒ په نصب الرايه (۱۱۱/۳) کښې او ابن حزمؒ په المحلی (۱۷۵/۷) کښې او حافظؒ په ((فتح الباری)) کښې د هغے تضعيف بيان کړيدے۔ امام بيهقیؒ وائی : [إِنْ ثَبَتَتِ الرِّوَايَةُ أَنَّهُ طَافَ طَوَافَيْنِ فَيُحْمَلُ عَلٰى طَوَافِ الْقُدُومِ وَطَوَافِ الْإِفَاضَةِ وَأَمَّا السَّعْيُ مَرَّتَيْنِ فَلَمْ يَثْبُتْ] که بالفرض دا روايت ثابت شی چه رسول الله ﷺ دوه طوافونه کړيدی نو بيا به دا حمل شی په طواف قدوم او طواف إفاضه باندے۔ يعنی طواف قدوم سنت دے او طواف افاضه فرض۔ او هرچه دوه ځله سعی کول دی نو هغه نهٔ دی ثابت۔ تفصيل دپاره مرعاة المفاتيح (۷۲/۹) ته رجوع پکار ده۔

نو قارن چه کله طواف قدوم او سعی وکړه نو دے به په خپل احرام باندے پاتے وی (او دے کار ته به عمره نهٔ وئيلے کيږی) بلکه دا عملونه د حج او د عمرے دواړو دپاره شو۔ نو قول ثانی د دليل په لحاظ سره کمزورے شو۔

2557 (3) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: تَمَتَّعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْيَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَبَدَأَ فَأَهَلَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدٰى وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ: " مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدٰى فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتّٰى يَقْضِيَ حَجَّهٗ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدٰى فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ ثُمَّ لْيُهِلَّ بِالْحَجِّ وَلْيُهْدِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلٰى أَهْلِهٖ " فَطَافَ حِيْنَ قَدِمَ مَكَّةَ وَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشٰى أَرْبَعًا فَرَكَعَ حِيْنَ قَضٰى طَوَافَهٗ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَانْصَرَفَ فَأَتَى الصَّفَا فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ ثُمَّ لَمْ يَحِلَّ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتّٰى قَضٰى حَجَّهٗ وَنَحَرَ هَدْيَهٗ يَوْمَ النَّحْرِ وَأَفَاضَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ وَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې د حج سره په عمرے يو ځائے کولو فائده واخسته نو ځان سره ئے د ذو الحليفې نه (کوم ځائے نه ئے چه احرام وتړلو) هدی روانه کړه او نبی ﷺ شروع وکړه نو د عمرے احرام ئے وتړلو، بيا ئے د حج احرام وتړلو او خلکو د نبی ﷺ په ملګرتيا کښې په عمرے باندے فائده واخسته (په يو ځائے کولو) د حج سره، نو د خلکو نه بعض هغه وو چه هدی ئے بوتلے وه او بعض د دوئ نه هغه وو چه هدی ئے نۀ وه روانه کړے، نو هرکله چه نبی کريم ﷺ مکے ته راغلو خلکو ته ئے وفرمايل: په تاسو کښې چه چا هدی راوستې وی نو هغه دِے د هيڅ شی نه نۀ حلاليږی کوم چه په دۀ (په احرام کښې) حرام وو تردے چه حج پوره کړی او چا چه ستاسو نه هدی نۀ وی راوستی نو هغه دِے د بيت الله نه طواف وکړی او صفا مروه (دِے وکړی) او سر دِے لنډ کړی او احرام دِے کوز کړی، بيا دِے د حج احرام وتړی او هديه دِے روانه کړی، نو چا چه هدی نۀ مونده هغه دِے درے ورځے د حج په ورځو کښې روژه ونيسی او اُوه ورځے کله چه خپل اهل ته راواپس شی، نو نبی ﷺ طواف وکړو هرکله چه مکے ته راغلو، او په اول کښې ئے حجر اسود ښکل کړو بيا ئے په درے ګردشونو کښې تيز تيز ولاړو او په څلورو کښې پياده روان شو نو هرکله ئے چه خپل طواف د بيت الله نه

Maktaba Tul Ishaat.com

پوره كړو د مقام ابراهيم په خوا كښې ئې دوه ركعاته وكړل بيا ئې سلام واړه ولو نو راوګرځيدو او صفا ته راغلو (پس د حجر اسود ښكلولو نه) او د صفا نه ئې اُوه ګردشونه وكړل بيا د هيڅ شي نه حلال نشو كوم چه په دۀ حرام وو تردې چه حج ئې پوره كړو. او خپله قربانى ئې د اختر په ورځ ذبح كړه او (د مِنىٰ نه) راكوز شو نو د بيت الله طواف ئې وكړو بيا (د احرام كوزولو نه روستو) ددۀ دپاره هر شے حلال شو كوم چه په دۀ باندې حرام وو، او د خلكو نه چا چه ځان سره قربانى راوستے وه هغوى هم هغسے كار وكړو څنګه چه رسول الله ﷺ كړے وو. (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : تَمَتَّعَ : دلته د تمتع نه لغوى معنىٰ مراد ده چه فائدے اخستل دى، نو دا قِران او تمتع دواړو ته شامليږى. ځكه چه كله په يو سفر كښې د عمرے سره حج ملګرے كړى نو دۀ د دوه عبادتونو نه په يو سفر كښے فائده واخسته. او إِلَى الْحَجِّ نه معلوميږى چه رسول الله ﷺ عمره حج سره ملګرے كړه نو دا حج قِران وو.

وَبَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ : يعنى رسول الله ﷺ چه كله د حج قِران اراده وكړه نو اول ئې عمره ذكر كړه بيا ئې حج ذكر كړو يعنى داسے ئې ووئيل : [لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا] تا ته په عمره بيا په حج باندې حاضر يم.

وَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْىَ : ددے نه معلوميږى چه مستحب دا ده چه قربانى ځان سره د ميقات نه راواخلى او ډيرو خلكو دا سنت پريخودے دے. (قاله الحافظؒ) او سوق الهدى د قِران دپاره ضرورى ده.

قَالَ لِلنَّاسِ : يعنى هغه عمره كونكو ته ئې ووئيل چه هغوى ځان سره هدى راوستے وه چه تاسو به په همدے احرام كښے پاتے شئ او حج به وكړئ.

فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ : يعنى د عمرے دپاره دِے طواف وكړى.

وَلْيُقَصِّرْ : يعنى په طواف او سعي او تقصير سره به حلال وګرځى.

وَلْيَحْلِلْ : يعنى بيا دِے ځان نه احرام كوز كړى، يا داسے كار دِے وكړى چه هغه په احرام كښے منع وى.

فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا : يعنى چا چه قربانى نۀ موندله، پدے طريقه چه هدى بيخى نۀ ملاويږى، يا پدے وجه چه د هغے برابر پيسے ورسره نشته، يا پيسے ورسره شته ليكن هغه بل ډير اَهم كار دپاره استعمالوى لكه ټيكټ وغيره. يا قربانى وى ليكن مالك ئې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورباندې نهٔ خرڅوي۔ یا ئې ډیره ګرانه خرڅوي چه ددهٔ پرې وس نهٔ کیږي۔

ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ : یعنی په میاشت د حج کښې چه بهتره دا ده چه آخری ورځ ئې د عرفې ورځ شي۔ امام نوويؒ وائي : دا بهتره ده، او که د حج دپاره د احرام تړلو نه مخکښې ئې ونیولې هم صحیح ده۔

وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ: دا حدیث دلیل دې چه د آیت ﴿وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ﴾ (اُوه روژې نیول دي کله چه تاسو واپس شئ) (بقره:۱۹۶) چه ددې نه مراد دا دې چه خپل کلي ته واپس شي، اګرکه د حج د فراغت نه روستو هم دا روژې نیول جائز دي۔

حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ : یعنی طواف قدوم ئې وکړو۔ وَنَحَرَ هَدْيَهُ : دې ځائې پورې تحلل اول راغلو، یعنی د جماع نه علاوه کارونه جائز شو۔ فَطَافَ بِالْبَيْتِ : اَیْ طَوَافَ الْإِفَاضَةِ۔

ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ : دا دویم تحلل شو چه پدې سره خپلې زنانه هم جائز شوې۔

2558 (4) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " **هٰذِهِ عُمْرَةٌ اِسْتَمْتَعْنَا بِهَا فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ الْهَدْيُ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ فَإِنَّ الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي

ترجمه: او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : دا عمره ده چه مونږ پدې سره فائده واخسته، نو چا سره چه د هدی ځاروې نهٔ وي نو هغه دې په هره طریقه حلال شي (یعنی عمرې نه روستو دې پوره احرام کوز کړي) ځکه چه عمره په حج کښې تر قیامت ورځې پورې داخله شوه۔ (یعنی د حج په میاشتو کښې عمره کول تر قیامته پورې جائز شو) (مسلمؒ) او دا باب د فصل ثاني نه خالي دې۔

تشريح : اِسْتَمْتَعْنَا بِهَا : دلته هم د تمتع نه لغوي معنیٰ مراد ده، یعنی فائدې اخستل۔

فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ : دا منصوب دې او كُلَّهُ تاکید د اَلْحِلَّ دې، یعنی ځان دې پوره حلال کړي۔ یعنی دا پوره حلالوالې شو۔

دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ : یعنی که چا د حج اراده کړې وي نو دا احرام په عمره بدلولې شي چه روستو به د حج دپاره د حج په ورځو کښې جدا احرام وتړي۔

مطلب د حدیث واضح دې چه رسول الله ﷺ عمره وکړه او بیا ئې وفرمایل چه دا عمره

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چه مونږ اُوکړه نو د چا سره چه قربانی نهٔ وی هغه دِ ے احرام کوز کړی او احرام کوزول په هر هغه شی باندے کولے شی چه په احرام کښے بند وی لکه سر خرئیل، او خوشبوئی لګول وغیره۔ لیکن سر خرئیل ضروری دی۔ څکه چه د حج په میاشتو کښے د حج نه مخکښے عمره کول تر قیامته پورے جائز شو۔

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2559 (5) - عَنْ عَطَاءٍ قَالَ : سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ فِيْ نَاسٍ مَعِيَ قَالَ : أَهْلَلْنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ قَالَ عَطَاءٌ : قَالَ جَابِرٌ : فَقَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صُبْحَ رَابِعَةٍ مَضَتْ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَأَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ قَالَ عَطَاءٌ : قَالَ :" حِلُّوْا وَأَصِيْبُوْا النِّسَاءَ ". قَالَ عَطَاءٌ : وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ وَلٰكِنْ أَحَلَّهُنَّ لَهُمْ فَقُلْنَا لَمَّا لَمْ يَكُنْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا خَمْسٌ أَمَرَنَا أَنْ نُفْضِيَ إِلٰى نِسَائِنَا فَنَأْتِيَ عَرَفَةَ تَقْطُرُ مَذَاكِيْرُنَا الْمَنِيَّ . قَالَ يَقُوْلُ جَابِرٌ بِيَدِهٖ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى قَوْلِهٖ بِيَدِهٖ يُحَرِّكُهَا قَالَ : فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ فِيْنَا فَقَالَ : " **قَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّيْ أَتْقَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَصْدَقُكُمْ وَأَبَرُّكُمْ وَلَوْلَا هَدْيِيْ لَحَلَلْتُ كَمَا تَحِلُّوْنَ وَلَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِيْ مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ فَحِلُّوْا** " فَحَلَلْنَا وَسَمِعْنَا وَأَطَعْنَا قَالَ عَطَاءٌ : قَالَ جَابِرٌ : فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهٖ فَقَالَ : بِمَ أَهْلَلْتَ ؟ قَالَ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا** " قَالَ : وَأَهْدٰى لَهٗ عَلِيٌّ هَدْيًا فَقَالَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ ؟ قَالَ : " **لِأَبَدٍ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عطاءؒ فرمائی : ما د جابر ﷺ نه واوریدل په څه کسانو کښے چه ما سره وو وے فرمایل : مونږ د محمد (ﷺ) ملګرو خالص یواځے د حج احرام تړلے وو۔ عطاءؒ وائی : جابر ﷺ وویل : نو نبی ﷺ د څلورمے شپے په صبا (مکے ته) راغلو چه د ذی الحجے نه تیرے شوے وے، نو مونږ ته ئے حکم وکړو چه مونږ احرام کوز کړو۔ عطاءؒ وائی : جابر ﷺ وویل (چه نبی ﷺ داسے وفرمایل) : ((څانونه حلال کړئ او زنانو ته رسیدل وکړئ)) عطاءؒ وائی : او په دوئ باندے ئے (پدے خبره) زور ونکړو (یعنی دا مقاربت ئے پرے واجب ونکړو، او دا حکم صرف د اباحت او جواز دپاره وو) لیکن د دوئ دپاره ئے هغه (زنانه) حلالے وګرځولے، (هرکله چه د نبی ﷺ دا خبره مونږ واوریده) نو مونږ (د تعجب په

طور) ووېل : هركله چه زمونږ او د عرفات په مابين كښې صرف پنځه ورځې پاتې شوې نبي ﷺ مونږ ته حكم وكړو چه خپلو زنانو خوا ته ورشو، نو مونږ به عرفات ته ورځو په داسې حال كښې چه زمونږ عورتونه به مَنى څڅوي - (يعني د شپې به جماع وكړو او سهار به عرفات ته ځو، دا خبره به د جاهليت په زمانه كښې ډيره بده ګڼړلې كېده چه د ښځو سره نزديكت او د حج په مينځ كښې دومره نزدې والې وشي بلكه دا خبره به ئې د حج د نقصان سبب ګڼړلو) عطاءً وائي : جابر ﷺ په خپل لاس سره اشاره وكړه ګويا كښې د هغهٔ د لاس اشاره او خپل لاس خوزول اُوس هم زما په نظر كښې ګرځي- جابر ﷺ وائي : (هركله چه نبي ﷺ زمونږ دا تردد او پريشاني وليده) نو نبي ﷺ زمونږ ترمينځ (د خطبې دپاره) راپاڅيدو، نو وې فرمايل : ((يقيناً تاسو ته معلومه ده چه زهٔ ستاسو نه د الله تعالىٰ نه زيات تقوى والا يم او ستاسو نه ډير رشتيني او ستاسو نه زيات نيكي كونكې يم، او كه زما قرباني نهٔ وې (يعني كه ما ځان سره قرباني د ميقات نه نهٔ وې راوستې) خامخا به ما احرام كوز كړې وې لكه څنګه چه تاسو كوز كړو او كه ما ته د مخكښې نه د خپل كار علم وې كوم چه ما ته روستو حاصل شو نو ما به قرباني نهٔ وې راوستې- نو تاسو احرام كوز كړئ))، نو مونږ احرام كولاو كړو او (د هغهٔ خبره مو) واوريده او اطاعت مو وكړو- عطاءً وائي : جابر ﷺ ووېل : ددې نه روستو علي ﷺ د خپل كار نه راغلو (يعني نبي ﷺ هغهٔ لره يمن ته قاضي ليږلې وو هركله چه د هغه ځائې نه راغلو) نو نبي ﷺ د هغهٔ نه تپوس وكړو چه تا د څه شي احرام تړلې دې ؟ علي ﷺ عرض وكړو : د كوم شي احرام چه نبي كريم ﷺ تړلې دې- نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : چه تهٔ (د اختر په ورځ) هدى ذبح كړه او په حالت د احرام كښې پاتې شه (يعني زما په شان تهٔ هم احرام بند وساته) جابر ﷺ وائي : علي ﷺ نبي ﷺ دپاره (يا خپل ځان دپاره) د قرباني څاروې راوستو- نو سراقه بن مالك بن جعشم ﷺ عرض وكړو چه اې د الله رسوله ! آيا دا (د حج په مياشتو كښې د عمرې جواز) صرف ددې كال دپاره دې او كه هميشه دپاره ؟ نبي ﷺ وفرمايل : هميشه دپاره))- (مسلمؒ)

تشريح : عطاء : بن ابى رباح المكى التابعى الجليل رحمه الله-

أُصَحَابَ : منصوب دې په اختصاص باندې- يا په أَعْنِيْ مقدر سره- او مرفوع هم جائز دې په بدليت سره د (نَا) ضمير نه او بدليت احسن دې د اختصاص نه- (قاضي عياضؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

في مشارق الانوار على صحاح الآثار : ۲/۳۵۸)

بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ : يعنى مونږ يواځې د حج احرام تړلے وو۔ دا جابر رضی الله عنه د خپل ګمان او خيال مطابق وئيلى دى، يا په اكثريت محمول دى۔ ورنه په واقع كښې لكه چه د عائشې رضی الله عنها نه معلومه شوه چه بعض صحابه كرامو رضی الله عنهم صرف د عمرے احرام تړلے وو او بعضو صرف د حج، او بعضو د دواړو۔

أَنْ نَحِلَّ : يعنى چه مونږ حج عمرے ته فسخ كړو۔

حِلُّوا : د حاء په زير او د لام په شد سره، امر صيغه ده۔ په مضارع كښې ئې هم حاء باندے زير دے۔ يعنى حج نه عمره جوړه كړئ، او د عمرے نه په طواف او سعى او تقصير سره بهر شئ۔ وَأَصِيبُوا : د إِصَابَةٌ نه دے، دا هم د امر صيغه ده، رسيدل وكړئ۔

وَلَمْ يَعْزِمْ : يعنى د زنانو سره نزديكت ئې لازم نكړو۔ دا دليل دے چه مطلق امر د وجوب دپاره دے، كله چه قرينه صارفه نۀ وى۔

أَنْ نُفْضِيَ : د إِفضاء نه دے، رسيدلو ته وائى۔ دا د نزديكت نه كنايه ده۔

فَنَأْتِيَ : دلته خبره پټه ده، يعنى مونږ ددے كار نه ځانونه پاك وګڼړل او مونږه ووئيل چه مونږ به عرفات ته پداسے ګنده حالت كښې راځو۔

مَذَاكِيرُنَا : دا كنايه ده د نزديكت نه، او دا په جاهليت دور كښې خلكو عيب ګڼړلو، او دا به ئې وئيل چه دا په حج كښې د نقصان باعث جوړيږى۔

يعنى مونږ به د شپے نزديكت اُوكړو او سهار له به عرفات ته ځو۔ دا خبره پرے ګرانه وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به سخت حج كوى او مونږ به د خپلو بيبيانو نه فائدے اخلو او بيا به عرفات ته ځو، دا څنګه حج شو۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئې ډير زيات محبت وو پدے وجه ئې داسے خفګان كړے۔ قَالَ : يعنى عطاءً وائى۔

يَقُولُ جَابِرٌ بِيَدِهِ : [اَىْ يُشِيْرُ بِيَدِهِ] يعنى جابر رضی الله عنه په لاس سره اشاره كوله۔ ددے مطلب دا دے چه جابر رضی الله عنه خپل لاس ته حركت وركړو چه پدے سره ئې د عضو مخصوص نه د قطراتو (څاڅكو) بهيدو ته ئې اشاره وكړه۔ يا دا چه هغۀ د عضو مخصوص حركت د لاس د حركت سره مشابه كړو۔ بهر كيف دا د عربو عادت وو چه هغوى به د خبرے واضح كولو دپاره په اندامونو سره اشارے كولے دے دپاره چه د خلكو په ذهن كښې ښۀ كينى۔

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاَبَرُّكُمْ : يعني تاسو نه د عمل په اعتبار سره ډير نيك يم. يا معنىٰ ده : [أَطْوَعُكُمْ لِلّٰهِ] ستاسو نه د الله تعالىٰ ډير تابعدار يم.

وَلَوِ اسْتَقْبَلْتُ: [اَیْ لَوْ عَلِمْتُ فِیْ اِبْتِدَاءِ شُرُوْعِیْ مَا عَلِمْتُ الآنَ مِنْ لُحُوْقِ الْمَشَقَّةِ لِأَصْحَابِيْ لِانْفِرَادِهِمْ بِالْفَسْخِ حَتّٰى تَوَقَّفُوْا وَتَرَدَّدُوْا وَرَاجَعُوْا لَمَا سُقْتُ الْهَدْیَ حَتّٰى فَسَخْتُ وَحَلَلْتُ مَعَهُمْ] (يعني که ما ته د احرام د شروع په وخت کښې معلوم وې هغه مشقت چه زما ملګرو ته ورسيدو کوم چه ما ته اوس معلوم شو چه يواځې دوئ حج فسخ کړو عمرې ته ترديې چه دوئ توقف او تردد وکړو او خبره ئې واپس کړه نو ما به ځان سره هدى نۀ وې راوستې تردې چه ما به هم حج د دوئ سره فسخ کړې وې او د دوئ سره به مې احرام کوز کړې وې). د رسول الله ﷺ مقصد د صحابه کرامو زړونه خوشحالول او هغې ته سکون ورکول وو.

فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهٖ : [اَیْ مِنْ عَمَلِهٖ مِنَ الْقَضَاءِ وَغَيْرِهٖ فِي الْيَمَنِ] يعني على رضي الله عنه د خپل سعايه (يعني قضاوت، خراج او زکاة راټولولو) نه راغلو کوم باندې چه رسول الله ﷺ په يمن کښې مقرر کړې وو. فَأَهْدِ : دا اَمر دې د اِهداء نه. يعني هدى راوړه. او دلته ترې مراد دا دې چه هدى ته حاضر شه او هغه د ذبح دپاره راوله.

وَامْكُثْ حَرَامًا : يعني اوس تۀ محرم وسيږه. حرام په معنىٰ د مُحرم سره دې.

وَأَهْدٰى : يعني على رضي الله عنه د رسول الله ﷺ دپاره يمن نه هدايا راوستې.

أَلِعَامِنَا هٰذَا : يعني جواز د عمرې په مياشتو د حج کښې يا جواز د فسخ د حج په عمرې سره ددې کال پورې خاص دى او که هميشه دپاره دا قانون شو ؟ اول قول د جمهورو دې او دويم قول د احمدؒ دې. لکه ددې تفصيل مخکښې ذکر شو.

2560 (6) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ : قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِی الْحِجَّةِ أَوْ خَمْسٍ فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَ غَضْبَانُ فَقُلْتُ : مَنْ أَغْضَبَكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ . قَالَ : " أَوَ مَا شَعَرْتِ أَنِّیْ أَمَرْتُ النَّاسَ بِأَمْرٍ فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُوْنَ وَلَوْ أَنِّیْ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِیْ مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْیَ مَعِیَ حَتّٰى أَشْتَرِيَهٗ ثُمَّ أَحِلُّ كَمَا حَلُّوْا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه هغې وفرمايل : رسول الله ﷺ په څلورمه ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com

(مکے ته) راغلو چه د ذی الحجې نه (څلور ورځې) تیرې شوې وې، یا پنځمه ورځ۔ نو ما کره راغلو چه د غصې په حالت کښې وو، ما وویل: اے د الله رسوله! تاسو چا غصه کړې یئ الله تعالیٰ دې ئې اُور ته داخل کړي۔ وې فرمایل: آیا ته نۀ ئې پوهه چه ما خلکو ته یو حکم وکړو نو هغوی (په هغې کښې) تردد کوی او که ما ته خپل کار د مخکښې نه معلوم وې کوم چه ما ته اُوس (روستو) معلوم شو (نو) ما به د ځان سره هدی نۀ وه راروانه کړې تردې چه ما به (دلته یا په لاره) اخستې وې۔ بیا به مې (په عمرې سره) ځان حلال کړې وې لکه څنګه چه دوئ حلال شو (احرام ئې کوز کړو) (مسلمؒ)

تشریح: أَوْ خَمْسٍ: دا د راوی شك دې لیکن مخکښې حدیث د جابرؓ کښې ذکر شو چه رسول الله ﷺ په داسې وخت کښې راغلې وو چه د ذی الحجې د څلورمې ورځې صبا وو۔ وَهُوَ غَضْبَانُ: رسول الله ﷺ پدې وجه غصه وو چه د هغۀ بعض ملګرو د حج عمرې ته په فسخ کولو کښې تاخیر کړې وو۔ امام نوویؒ وائی: پدې سره د شریعت احترام کمیدو نو رسول الله ﷺ به د الله تعالیٰ دپاره په غصه کیدو۔ او ددې نه معلومه شوه چه کله د شریعت خلاف کیږی نو غصه پکار ده۔

أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ: دې نه معلومه شوه چه څوك د شریعت د یو حکم خلاف کوی هغۀ ته ښیرې جائز دی۔

أَمَرْتُ النَّاسَ بِأَمْرٍ: یعنی یو حکم چه هغه د حج په عمره باندې فسخ کول/بدلول دی۔

فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُوْنَ: یعنی په طاعت د امر کښې او په جلتئ سره قبلولو کښې توقف او تردد کوی۔ یا پدې کښې تردد کوی چه آیا دا عمره به د دوئ حج ته نقصان ورسوی؟ (القاریؒ)

حَتّٰى أَشْتَرِيَهُ: یعنی ما به عمره کړې وې او د حجِ تمتع قربانی به مې په مکه کښې یا په لاره کښې اخستې وې۔



Maktaba Tul Ishaat.com

۳- باب دخول مکة والطواف

مکے ته د داخلیدو او د طواف کولو بیان۔

پدے کښے دا بیانیږی چه مکے ته راتلونکے شخص به د کوم طرف نه داخلیږی، او د کوم طرف نه به بهر کیږی، او د راتللو په وخت کښے به د کومو آدابو او قواعدو پابندی کوی۔ دارنګه د طواف او د هغے د متعلقاتو لکه حجر اسود ښکلولو کیفیات او د هغے مسائل بیانیږی۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2561 (1) – عَنْ نَافِعٍ قَالَ : إِنَّ ابْنَ عُمَرَ ﷺ كَانَ لَا يَقْدَمُ مَكَّةَ إِلَّا بَاتَ بِذِي طُوًى حَتَّى يُصْبِحَ وَيَغْتَسِلُ وَيُصَلِّيْ فَيَدْخُلُ مَكَّةَ نَهَارًا وَإِذَا نَفَرَ مِنْهَا مَرَّ بِذِي طُوًى وَبَاتَ بِهَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَذْكُرُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: نافعؒ فرمائی : عبد الله بن عمر ﷺ به مکے ته نۀ راتللو مګر په ذی طوی (علاقه) کښے به ئے شپه تیره کړه تردے چه صبا به ئے کړو او غسل به ئے وکړو او مونځ به ئے وکړو نو بیا به مکے ته د ورځے راننوتو او هرکله چه به د مکے نه وتلو نو په ذی طویٰ به ورتیریدو او هلته به ئے شپه تیره وله تردے چه صبا به ئے کړو او دا به ئے وئیل چه نبی کریم ﷺ به داسے کار کولو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : لَا يَقْدَمُ : په زبر د دال سره۔ بِذِي طُوًى : دا د یو ځائے نوم دے چه په حدودو د حرم کښے تنعیم مقام طرف ته واقع دے۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : چه اُوس په بئر الزاهر باندے مشهور دے، رسول الله ﷺ چه کله مکے ته تشریف راوړو نو د استراحت (آرام) دپاره به ئے په ذی طوی کښے شپه کوله بیا به ئے سهار کښے غسل وکړو او مونځ به ئے وکړو او بیا به مکے ته په رڼړا ورځ کښے راننوتو۔ اُوس دا په مکه کښے داخل شویدے۔

فوائد : (۱) ددے نه معلومه شوه چه مکے ته د راننوتو په وخت په ذی طویٰ علاقه

کښې غسل کول مسنون او مستحب دی۔ مگر اُوس ډیر حاجیان دا سنت نهٔ پیژنی او نهٔ پرې عمل کوی۔ او دا غسل په اصل کښې د طواف دپاره دے ځکه چه اُوس د طواف وخت رانزدے شو، ددے وجه نه د حائضے او نفساء نه ساقط دے۔

(۲) دارنګه مکې ته د ورځې راننوتل بهتر دی، دے دپاره چه بیت الله باندے ئے نظر ولګی او دعاء وکړی، (ابن ملك) او د شپې هم جائز دی، رسول الله ﷺ چه د جعرانے نه عمره کوله نو د شپې مکې ته راننوتے وو۔

(۳) ددے مونځ نه مراد یا خو نفل مونځ دے، مگر ظاهر دا معلومیږی چه هلته به ئے د سهار مونځ وکړو بیا به د ورځې مکې ته راننوتو۔ یعنی ډیر وختی به نهٔ راتللو چه د سهار مونځ مکې ته راوړی۔

(٤) رسول الله ﷺ به په واپسئ کښې په ذی طوی کښې شپه کوله دے دپاره چه ټول ملګری ورته راورسیږی او ښهٔ په آرام سره سفر شروع کړی، ځان سفر ته تیار کړی۔

2562 (2) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا جَاءَ إِلٰى مَكَّةَ دَخَلَهَا مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه نبی کریم ﷺ مکې ته راغلو نو مکې ته د هغې د بره طرف نه راننوتو او (بیا کله چه وتلو نو) د هغې نه د خکته طرف نه ووتو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مطلب دا چه د حجة الوداع په موقعه رسول الله ﷺ مکې ته د بره طرف نه داخل شو چه دا مشرقی طرف دے، او دے ته حَجُون علاقه وائی، او دا د مقبرے د جَنة المُعَلیٰ طرف دے، لکه په بل روایت د بخاری کښې دی : چه مکې ته د کَدَاء طرف نه د هغه ډیرکئ نه داخل شو چه هغه په بطحاء خوړ کښې ده۔ او بیا (چه کله وتلو نو) د ثنية السفلیٰ (ښکته ډیرکئ) نه ووتو چه دے ته کُدیٰ وائی۔

2563 (3) - وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَالَ : قَدْ حَجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِيْنَ قَدِمَ مَكَّةَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ حَجَّ أَبُوْ بَكْرٍ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ عُثْمَانُ مِثْلَ ذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: عروه بن زبیرؒ فرمائي: نبي کریم ﷺ حج وکړو نو ما ته عائشې ؓ خبر راکړو چه اول شے چه نبي کریم ﷺ په هغې شروع وکړه هرکله چه مکې ته راغلو (هغه دا چه هغۀ اودس وکړو بیا ئې د بیت الله طواف وکړو بیا عمره ونشوه، بیا ابوبکر صدیق حج وکړو نو اول هغه شے چه په هغې ئې شروع وکړو هغه د بیت الله طواف وو، بیا عمره ونشوه بیا عمر فاروق ؓ او عثمان بن عفان ؓ هم دغسې وکړل. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح: ددې حدیث یو سبب دے چه مسلمؒ په خپل صحیح کښې ذکر کړیدے، محمد بن عبد الرحمن چه دا ابوالاسود النوفلي المدنيؒ دے چه په یتیم د عروه باندې مشهور دے، فرمائي: د عراق نه یو سړی دۀ ته وویل چه زما دپاره د عروه بن الزبیرؒ نه د یو سړي په باره کښې تپوس وکړه چه هغۀ د حج احرام تړلے وي، نو هرکله چه د بیت الله نه طواف وکړي نو آیا احرام به کوزوي؟ نو که هغه درته ووائي چه احرام به نۀ کوزوي، نو تۀ ورته ووایه چه دلته یو سړے دے او هغه داسې فتویٰ ورکوي. هغه وائي چه ما ترې تپوس وکړو، هغۀ وفرمایل: چا چه د حج احرام تړلے وي، هغه به صرف په حج کښې احرام کوزوي، ما وویل: یو سړے خو داسې وائي. هغۀ وویل: ډیره بده خبره ئې کړیده. بیا ما ته هغه سړے راغلو نو ما نه ئې تپوس وکړو نو ما ورته بیان وکړو، هغۀ وویل: نو تۀ ورته ووایه چه یو سړے خبر ورکوي چه نبي ؑ داسې کړیدي، او بیا اسماء او زبیر رضي الله عنهما له څه شویدي چه هغوي داسې کړیدي؟ راوي وائي: نو زۀ ورته راغلم هغۀ ته مې دا خبره ذکر کړه نو هغه وفرمایل: دا سړے څوك دے؟ ما وویل: زۀ ئې نۀ پیژنم (یعني ما ته ئې نوم نۀ دے معلوم) هغۀ وویل: بیا دۀ له څه شویدي چه ما ته خپله نۀ راځي چه ما نه تپوس وکړي، زما ګمان دے چه دے به عراقي وي (ځکه چه دا خلك په مسائلو کښې تعنت/تکلف کوي)، ما وویل: زۀ ئې نۀ پیژنم، هغۀ وویل: دے دروغ وائي، (ځکه چه) رسول الله ﷺ حج کړے نو ما ته عائشې ؓ خبر راکړے ...... بیا ئې ورته دا حدیث بیان کړو.

او ددې سړي نه مراد ابن عباس ؓ وو چه هغۀ به وئیل:

«چا چه قرباني نۀ وي راوستي او د حج احرام ئې تړلے وي نو هغه چه کله طواف وکړي نو د خپل حج احرام به کوزوي، او د چا چه اراده وي چه په خپل احرام کښې د حج دپاره پاتې شي نو هغه به بیت الله ته نۀ نزدې کیږي تردې چه د عرفات نه د اختر په ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com

راواپس شي))۔

او هغهٔ به پدې باره کښې د رسول الله ﷺ ددې قول نه دليل نيولو چه هغهٔ فرمايلى وو :"چا چه قربانى نهٔ وى راوستى نو هغه دې حج په عمره سره بدل کړى"۔

حافظ ابن حجرؒ وائى : دا مذهب د ابن عباس ﷺ د جمهورو علماؤ نه خلاف دے، او لږو علماؤ لکه اسحاق بن راهويهؒ د هغهٔ تابعدارى کړيده۔ او د جمهورو جواب د هغهٔ د استدلال نه دا دے چه نبى کريم ﷺ خپلو ملګروته حکم کړے وو چه خپل حج عمرے ته فسخ کړى نو کوم احرام ئے چه د حج دپاره تړلے هغه په عمرے سره بدل کړى،

او د ټولو اهل علمو پدې اتفاق دے چه چا د حج اِفراد اراده کړى وى نو هغهٔ ته طواف د بيت الله هيڅ ضرر نهٔ ورکوى لکه د هغهٔ په خلاف دا دليل عروه بن الزبيرؒ هم پدے حديث الباب کښې ذکر کړے چه رسول الله ﷺ چه هرکله مکے ته راغلو نو د اوداسهٔ نه روستو ئے په طواف د بيت الله باندے شروع وکړه، او د خپل حج نه ونهٔ وتو او نهٔ ئے عمره وکړه، يعنى رسول الله ﷺ حج لره په عمره باندے فسخ نکړو۔ او احرام ئے کوز نهٔ کړو بلکه په همدغه احرام کښې باقى پاتے شو ځکه چه هغه قارن وو او بيائے په آخره کښے د قربانئ په ورځ باندے احرام کولاؤ کړو۔ لهذا د راوى دا خبره چه (ثم لم تكن عمرة) دے دپاره ووئيله چه په هغه خلکو باندے رد وشى چه دا ګمان کوى چه رسول الله ﷺ حج لره فسخ کړو او د هغے په ځائے ئے عمره وکړه۔ صحيح مطلب دا دے چه د طواف نه روستو فوراً ئے ځان ندے حلال کړے لکه ابن عباس ﷺ وائى چه په تقبيل د حجر اسود سره سرے د احرام نه ووځى نو دا په هغے رد دے۔

يا ددے مطلب دا دے چه دے ټولو د حج نه روستو جدا بله عمره ونکړه بلکه په همغه عمره باندے ئے اکتفاء وکړه کومه ئے چه د حج سره کړے وه۔

مسئله : آيا طواف دپاره اودس شرط دے ؟

قَدِمَ مَكَّةَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ : ددے حديث نه دليل نيولے شويدے چه د بيت الله د طواف دپاره اودس شرط دے، او دا مذهب د جمهورو علماؤ دے، او امام بخارىؒ پدے حديث باندے باب داسے تړلے دے، بَابُ الطَّوَافِ عَلٰى وُضُوءٍ۔ حافظ ابن حجرؒ وائى : پدے حديث کښے د طواف دپاره د اوداسه په شرطيت باندے دليل نشته البته که ددے سره دا امر د رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ ملګرے شی [خُذُوا عَنِّي مَنَاسِكَكُمْ] ما نه د حج کارونه واخلئ. او دا قول د جمهورو علماؤ دے، او پدے کښے بعض کوفینو اختلاف کړیدے. انتهیٰ.

علامه شوکانیؒ وائی : اصل په افعالو د حج کښے وجوب دے. (السیل الجرار ۱۹۱/۲)

پدے خبره کښے خو اتفاق دے چه طواف د بیت الله په طهارت (اوداسه) سره افضل دے خو آیا شرط دے او که صرف واجب دے ؟ نو پدے کښے درے اقوال دی :

(۱) جمهور وائی چه اودس شرط دے. دلائل ئے دا دی :

(۱) حدیث کښے دی : [اَلطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ، فَمَنْ تَكَلَّمَ فَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ] [الترمذی رقم : ۹۶۰: صحیح] د بیت الله طواف د مانځه په شان دے مګر دا چه تاسو پدے کښے خبرے کولے شئ، نو چا چه خبرے کولے نو هغهٔ دِے د خیر خبرے کوی.

او په روایت د طبرانی کښے دی : [فَأَقِلُّوا فِيهِ الْكَلَامَ] پدے کښے خبرے کمے کوئ. [صححه الالبانی فی الارواء : ۱/۱۵٤ رقم : ۱۲۱] او دا ئے وئیلی دی چه دا حدیث صحیح مرفوع دے او که موقوف ذکر کیږی نو پدے کښے هیڅ ضرر نشته.

نو دے حدیث کښے ئے طواف د مانځه سره مشابه کړو او په مانځه کښے طهارت شرط دے نو په طواف کښے هم شرط شو، پدے وجه ئے صرف خبرے ترے مستثنیٰ کړے، او طهارت ئے مستثنیٰ نکړو. (۲) دویم دلیل دا حدیث الباب دے.

(۳) دلیل : رسول الله ﷺ عائشے رضی الله عنها ته (هرکله چه هغه د احرام تړلو نه بعد په سَرِف مقام کښے حائضه شوه) وفرمایل :

[إِفْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ وَفِي رِوَايَةٍ : وَلَا تُصَلِّي]

[البخاری باب الحائض تقضی المناسك كلها الا الطواف بالبيت رقم : ۳۰۵ مسلم : ۲۹۷۷]

حاجی چه څه کوی تهٔ هم هغه کوه صرف دا چه طواف د بیت الله مهٔ کوه او په یو روایت کښے دی چه مونځ مهٔ کوه.

نو دلته ئے حائضه زنانه د طواف نه منع کړه تردے چه وینه ئے ودریږی او غسل وکړی، ځکه چه نهی په عباداتو کښے تقاضا د فساد کوی، نو ددے تقاضا دا ده چه که زنانه پداسے حالت کښے طواف وکړو نو طواف به ئے باطل وی، او د حائضے په معنیٰ کښے جنب او بے اودسه هم دے. (قاله الحافظؒ)

(٤) دلیل : د طواف نه روستو دوه رکعاته ضروری دی، او هغه خو په بے اودسئ کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ کیږی۔ اګرکه د دوه رکعاتو او د طواف ترمینځ اودس کول جائز دی، مګر د رسول الله ﷺ دائمی طریقه دا وه چه هغۀ به د طواف پسې متصل دوه رکعاته کول۔

(۵) او دا مذهب د حدیث : [دَعْ مَا يُرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يُرِيبُكَ] سره موافق دے۔ (یعنی پریده هغه شے چه تا شك کښې اچوی او هغه کار وکړه چه بیشکه وی)۔

۲- **قول** : احناف او بعض کوفین وائی چه د طواف دپاره طهارت واجب دے چه جبیره ئے په دَم سره کیږی۔ ددے قول دپاره هیڅ صحیح دلیل نشته مګر ضعیف قواعد دی چه وائی پدے کښې زیادت د خبر واحد په کتاب الله باندے راځی او دا نسخ د کتاب الله ده، او نسخ د کتاب الله په خبر واحد سره جائز نۀ ده۔ دا خبره صحیح نۀ ده بلکه د خبر واحد زیادت په کتاب الله باندے جائز دے او دا هیڅ نسخ نۀ ده بلکه دا تشریح د کتاب الله ده، [أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ] او پدے بیکاره قاعده باندے ډیر احادیث رد کړے شویدی لکه تفصیل ئے ددے کتاب په اول جلد باب الاعتصام کښې تیر شویدے۔

۳- **قول** : ابن حزمؒ او بعض کوفین وائی چه اودس صرف مستحب دے۔ او دا قول د عطاءؒ، حکمؒ، حمادؒ، منصورؒ او سلیمانؒ دے چه دوئ وئیلی دی چه که طواف بے اودسه وکړی هم جائز دے۔ [فتح الباری ۳/۳۹۷] او دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د حائضے دپاره غوره کړے۔ لیکن مرجوح دے۔

احتیاط په اول قول کښې دے۔ البته که یو انسان عاجز شو، یا ئے پرے قدرت نۀ وی یا ترے هیر شو او بے اودسه ئے طواف وکړو نو ان شاء الله جائز به وی۔

تتمیم : که د طواف په مینځ کښې بے اودسه شی نو د همدغه ځائے نه به طواف بند کړی او لاړ به شی اودس به وکړی بیرته به د همدغه ځائے نه طواف شروع کړی۔

ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ : دے طواف نه مراد طواف قدوم دے۔ (طیبیؒ)

او پدے **طواف قدوم** کښې اختلاف دے چه دا واجب دے او که سنت ؟، (۱) ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، احمدؒ وائی چه سنت دے (۲) او مالكؒ، ابوثورؒ او بعض اصحاب الشافعیؒ وائی چه واجب دے۔ او بعض محققینو علماؤ دا قول غوره کړیدے۔ علامه شوکانیؒ وائی : [وَالْحَقُّ الْوُجُوبُ] حقه خبره دا ده چه طواف قدوم واجب دے۔

ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً : کان ناقصه دے نو تَكُنْ کښې به ضمیر (الْفَعْلَة) ته راجع وی، او عمرةً به منصوب وی، یعنی بیا دا کار عمره ونۀ ګرځیده۔ یا کان تامه دے په معنیٰ د وَجَدَ او

Maktaba Tul Ishaat.com

حَصَلَ او ثَبَتَ سره۔ او عُمْرَةٌ مرفوع دے یعنی بیا موجوده نشوه عمره۔
او ددے مطلبونه مخکښے بیان شو چه بیا رسول الله ﷺ احرام کولاؤ نکړو او دغه کار ئے عمره ونهٔ گرځولو۔
ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ عُثْمَانُ : یعنی بیا د هغوی نه روستو عمر فاروق ؓ او عثمان غنی ؓ هم دغه شان کار وکړو چه اول به ئے طواف قدوم وکړو بیا به ئے عمره ونکړه چه د هغے نه روستو احرام کوز کړی بلکه په همدغه احرام کښے به پاتے شو تردے چه حج به ئے وکړو۔ یعنی حج اِفراد کښے ئے دغسے کار کړے او په حج قِران کښے هم۔

2564 (4) — وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَافَ فِي الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ سَعٰى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشٰى أَرْبَعَةً ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ يَطُوْفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عمر ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله په حج یا عمره کښے طواف کولو نو اول چه به (مکے ته) راغلو درے گردشونو کښے به ئے منډه ووهله او څلورو کښے به په آرام روان شو۔ بیا به ئے دوه رکعاته وکړل بیا به ئے د صفا او مروه ترمینځ طواف (سعی) وکړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : سَعٰی : ددے سعی نه مراد رمل دے۔ او د (اَطْوَاف) نه مراد اَشواط (گردشونه) دی۔ د سجدتین نه مراد دوه رکعاته دی۔ او د سَجَدَ نه مراد صَلّٰی دے۔ یعنی مونځ کول۔
دا حدیث دلیل دے چه د طواف نه روستو دوه رکعاته کول پکار دی۔
او ددے په حکم کښے اختلاف دے (۱) حنفیهؒ وائی چه دا دوه رکعاته واجب دی، او دلیل ئے دا قول د الله تعالیٰ دے۔ ﴿وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى﴾ چه دا صیغه د وجوب ده۔ (۲) د شوافعو قول دے چه دا سنت دی۔ اول قول غوره دے، ځکه چه نبی ؑ هر کله طواف وکړو نو د دوه رکعاته کولو نه مخکښے ئے دغه آیت ولوستلو بیا ئے دوه رکعاته وکړل، په دغه آیت ئے عمل کولو۔
ثُمَّ يَطُوْفُ بَيْنَ الصَّفَا : دے نه معلومه شوه چه سعی ته هم کله طواف وئیلے کیږی۔
حدیث نه معلومه شوه چه رمل (پهلوانی) صرف په عمره کښے یا په طواف د حج کښے ده چه کله اول ځل بیت الله ته راشی یعنی طوافِ قدوم کښے۔ او د حج او عمرے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

علاوه طوافونو کښې رمل نۀ وی۔

او د ثُمَّ يَطُوفُ نه معلومه شوه چه ترتيب په طواف او سعی کښې واجب دے، که چا پدے کښے بے ترتيبی وکړه نو صحيح نۀ ده۔ او دا مذهب د جمهورو دے، او بعض علماؤ پکښې معمولی شان اختلاف کړيدے ليکن دليل ورسره نشته۔ البته د (سَعَيْتُ قَبْلَ اَنْ اَطُوفَ او اِفْعَلْ وَلَا حَرَجَ) والا روايت نه استدلال کوی ليکن هغه په حج کښې د اختر د ورځے د اعمالو سره تعلق لری نۀ د عمرے سره۔

2565 (5) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: رَمَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَجَرِ اِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا وَمَشٰى اَرْبَعًا وَكَانَ يَسْعٰى بِبَطْنِ الْمَسِيْلِ اِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ د حجر اسود نه حجر اسود پورے درے ګردشونو کښې پهلوانی وکړه او په څلورو کښې په آرام روان شو او هغه چه به کله د صفا او مروه ترمينځ سعی کوله نو په بطنِ مسيل کښې به ئے منډه وهله۔ (مسلمؒ)

تشريح: مِنَ الْحَجَرِ اِلَى الْحَجَرِ : **اشکال**: دلته دا اشکال کيږی چه ددے روايت نه معلوميږی چه د حجر اسود نه تر حجر اسود پورے په ټول طواف کښې رمل دے، او په روايت د ابن عباس ﷺ کښې چه د رمل کوم سبب ذکر دے نو په هغے کښې داسے راغلی دی چه رسول الله ﷺ ملګرو ته حکم وکړو چه د رکن يمانی نه تر حجر اسود پورے ځائے کښې دے عام مزل وکړی بغير د رمل نه۔

(۱) **جواب**: ددے اشکال نه يو جواب دا دے چه حديث د ابن عباس ﷺ کښې د عمرة القضاء ذکر دے چه هغه په اوم کال باندے وه، او نورو رواياتو کښې چه د حجر اسود نه حجر اسود پورے رمل ذکر دے نو دا په حجة الوداع کښې راغلے دے، او دا په لسم کال وو نو دا ناسخ دے د حديث د ابن عباس ﷺ دپاره۔

۲- **جواب**: علامه باجیؒ وائی چه جابر ﷺ چه کومه قصه د حجة الوداع نقل کړيده نو دا هرڅه ئے په خپلو سترګو ليدلی دی، او ابن عباس ﷺ چونکه خپله عمرة القضاء ته نۀ وو حاضر شوے ځکه چه وړوکے وو، نو د بل نه ئے قصه نقل کړيده - سره ددے نه چه دا هم ممکن ده چه نبی ﷺ دے په عمرة القضاء کښې د رکنينو ترمينځ رمل پريخودے وی ځکه چه په ملګرو باندے ئے رحم او شفقت کول مقصد وو، نو هرکله چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دا سبب ختم شو نو لازم شوه چه رمل دې پوره وكړے شي۔ (يعني دغه اجازه صرف د عمرة القضاء والا پورے خاص وه او د نورو خلكو دپاره مكمل رمل باقي پاتے شو)۔

ظاهر دا ده چه دواړه حديثونه صحيح دي، نو د حجر اسود نه حجر اسود پورے په درے گرځشونو كښې رمل سنت دے او كه د عذر د سترې والي يا د سنت د تابعدارئ په نيت باندے د ركن يماني نه تر حجر اسود پورے رمل ونكړي هم جائز ده۔ او دا زمونږ د شريعت فراخي ده۔ ولله الحمد۔ او دے ته تعارض نشي وئيلے لكه ډيرو ناپوهو ته هرڅه تعارض ښكاري۔

بِبَطْنِ الْمَسِيْلِ : يعني ځائے د راجمع كيدو د سيلاب۔ دا د صفا او مروه ترمينځ يو ځائے دے چه د شناخت دپاره ددے دواړو په سرونو باندے نښې لگيدلے دي چه هغې ته به ئے "ميلين اخضرين" وئيل، اوس ددے په ځائے شنۀ راډونه په ديوالونو او چهتونو كښې لگيدلي دي۔ د سعي په وخت په دے ځائے كښې منډه وهل پكار دي۔

2566 (6) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهٗ ثُمَّ مَشٰى عَلٰى يَمِيْنِهٖ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشٰى أَرْبَعًا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : يقيناً رسول الله ﷺ چه هركله مكے ته راغلو نو (اول) حجر اسود ته ورغلو هغه ئے ښكل كړو بيا په خپل ښي اړخ روان شو نو درے گرځشونو كښې ئے پهلواني وكړه او څلورو كښې په آرام سره روان شو۔ (مسلمؒ)

تشريح : اَلْحَجَرَ نه مراد حجر اسود دے۔

فَاسْتَلَمَهٗ: يعني لاس ئے ورورو او ښكل ئے كړو۔

مَشٰى عَلٰى يَمِيْنِهٖ : يعني په خپل ښي طرف باندے روان شو۔

دا حديث دليل دے چه ابتداء د طواف د حجر اسود نه فرض دے، كه ددے نه مخكښې ئے كوم مزل كړے وي نو هغه به د طواف نه نۀ حسابيږي بلكه طواف به د حجر اسود نه حسابيږي۔ او كه د حجر اسود نه روستو ئے شروع وكړه نو دا به هم طواف كښې نۀ حسابوي۔

او دا هم معلومه شوه چه طواف كولو وخت كښې به ښي طرف ته روانيږي، كه يو انسان ددے برعكس گس طرف ته روان شو نو دا طواف به باطل وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فَرَمَلَ ثَلَاثًا : يعنى درے گردشونو كښے ئے پهلوانى وكړه۔

2567 (7) – وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ قَالَ : سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ عَنِ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ فَقَالَ : رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او زبير بن عربىؒ فرمائى : يو سړى د ابن عمر ﷛ نه د حجر اسود د ښكلولو په باره كښے تپوس وكړو، نو هغهٔ وفرمايل : ما رسول الله ﷺ ليدلے چه دے ته ئے لاس ور وړلو او دا ئے ښكلولو۔ (بخارىؒ)

الزبير بن عربى النمرى ابوسلمة البصرى ثقه تابعى دے۔ رحمه الله۔

تشريح : سَأَلَ رَجُلٌ : حافظ وائى : ددے سړى نه مراد خپله دا راوى زبير بن عربى دے لكه چه دا په روايت د ابوداودِ الطيالسىؒ كښے ذكر دے۔

عَنِ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ : د سوال مطلب دا وو چه آيا حجر اسود ښكلول سنت دى ؟ يا دا مونږ ولے ښكلوو ؟۔

نو هغهٔ جواب وركړو چه دا د رسول الله ﷺ طريقه ده چه هغهٔ داسے كړيدى۔

2568 (8) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عمر ﷛ فرمائى : ما نبى كريم ﷺ نهٔ دے ليدلے چه د بيت الله نه ئے د بل ځائے استلام كړے وى سوئ د حجر اسود او ركن يمانى نه۔

تشريح : د ركنين نه مراد حجر اسود او ركن يمانى دے، او دا تثنيه تغليبى ده۔

د كعبے نورو دواړو طرفونو ته ركنين شاميين وائى هغه هم تثنيه تغليبى ده، يو ركن شامى دے او بل ركن عراقى۔

په څلورو واړو طرفونو كښے د اول ركن دوه فضيلتونه دى : (۱) يو دا چه پدے كښے حجر اسود دے۔ (۲) او دويم دا چه دا د ابراهيم ؑ په بنياد باندے دے۔ او د ركن يمانى دپاره روستنے فضيلت دے۔ او د روستنو هيڅ خصوصى فضيلت نشته نو ددے وجه نه اول ښكلولے شى او لاس وروړے شى، او دويم له صرف لاس وروړے شى۔ نو دلته استلام لفظ په لاس وروړو او ښكلولو كښے مشترك دے چه د ركن يمانى دپاره صرف لاس ور وړل مراد دى۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2569 (9) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلٰى بَعِيْرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کښے په اُوښ باندے طواف وکړو چه حجر اسود به ئے په امسا سره ښکلولو۔ (بخاریؒ ومسلم)

تشریح: ددے حدیث نه معلومه شوه چه د اُوښ دپاسه طواف کول جائز دی۔ د احنافو په نیز پیاده طواف کول واجب دی، پدے وجه دے حدیث کښے دا تاویل کوی چه کیدے شی چه رسول الله ﷺ د څه عذر او مجبورئ په وجه داسے طواف کړے وی، نو دا به د رسول الله ﷺ پورے خاص وی، او د بل چا دپاره به په سورلئ باندے طواف جائز نهٔ وی۔ لیکن صحیح خبره دا ده چه پیاده طواف کول بهتر دی لکه دا مذهب د امام شافعیؒ دے، او رسول الله ﷺ د بیان د جواز دپاره داسے وکړل، او بل پدے وجه چه تول خلك ئے اُووینی او د هغهٔ نه د حج احکام او طریقے زده کړی۔ او بل طرف ته رسول الله ﷺ امت په سورلئ باندے د طواف نه نهٔ دے منع کړے او په عمل سره ئے ددے جواز ثابت کړو، او دا محل د بیان دے، رسول الله ﷺ خپل عذر بیان نکړو۔ بل روستو راځی چه ام سلمه ﷺ هم طواف په سورلئ کړیدے (بخاریؒ)

بِمِحْجَنٍ: دا وړه امسا ده چه په سر کښے ئے کوږ والے وی۔ یعنی امسا به ئے حجر اسود ته ورسوله او هغه به ئے پرے کیخوده او بیا به ئے هغه ښکل کړه۔

دلته دا **اشکال** دے چه د احادیثو نه دا ثابته شوه چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقعه په اولنو درے ګردشونو کښے رمل وکړو او ددے حدیث نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ په اُوښ باندے سوریدو سره طواف وکړو او ظاهره خبره ده چه پدے صورت کښے د رمل هیڅ سوال نهٔ پیدا کیږی ؟

ددے جواب دا دے چه رسول الله ﷺ پیاده طواف او د هغے په درے ګردشونو کښے رمل کول په طوافِ قدوم کښے وو او په اُوښ باندے سوریدو سره طواف کول په طوافِ افاضه (یعنی فرض طواف) کښے وو، او په طواف افاضه کښے رمل نهٔ وی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2570 (10) – وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ عَلٰى بَعِيْرٍ كُلَّمَا أَتٰى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ فِيْ يَدِهٖ وَكَبَّرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ د بیت الله نه په اُوښ باندے طواف وکړو هرکله چه به حجر اسود ته راغلو نو هغے ته به ئے په یو شی سره اشاره وکړه چه د هغۀ په لاس کښے وو او الله اکبر ئے ووئیلو۔ (بخاریؒ)

تشریح : سنت طریقه په حجر اسود ښکلولو کښے دا ده چه اول خو به په خولۀ سره ښکل کړی او که دا طاقت ئے نۀ وی نو بیا به دواړه لاسونه پرے کیږدی، که دا وس ئے هم ونشو نو یوه چوکه یا رومیال به پرے کیږدی او هغه به ښکل کړی او که دا وس ئے هم نۀ وی نو په یو لاس سره به ورته اشاره وکړی او هغه به نۀ ښکلوی۔

كُلَّمَا أَتٰى عَلَى الرُّكْنِ : دے نه معلومه شوه چه رکن یمانی ته به ئے اشاره نۀ کوله، لهذا که د ګڼړے د وجه نه په رکن یمانی باندے لاس راښکل پاتے شی نو اشاره به ورته نۀ کوی، مګر ډیر خلك اُوس رکن یمانی ته اشاره کوی چه دا کار بدعت دے۔

وَكَبَّرَ: دے نه ثابته شوه چه د حجر اسود د ښکلولو یا اشارے کولو په وخت کښے الله اکبر وئیل سنت عمل دے، صرف الله اکبر وئیل کافی دی، دے سره په اول د استلام کښے بسم الله وئیل هم سنت کښے راغلی دی لکه په حدیث د ابن عمر ﷺ کښے، او باقی کښے صرف الله اکبر مسنون دی، او الحمد لله وئیل ورسره په صحیح احادیثو کښے ثابت نۀ دی، لهذا دا د سنت خلاف دی۔

2571 (11) – وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوْفُ بِالْبَيْتِ وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهٗ وَيُقَبِّلُ الْمِحْجَنَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو طُفیل ﷺ فرمائی : ما رسول الله ﷺ ولیدو چه د بیت الله نه ئے طواف کولو او د حجر اسود استلام به ئے کولو په یوه امسا سره چه د هغۀ سره وه او (بیا به ئے) هغه امسا ښکلوله۔ (مسلمؒ)

ابو الطفیل : ددۀ نوم : عامر بن واثله بن عبد الله بن عمرو بن جحش الکنانی اللیثی دے۔ په کنیه باندے مشهور دے، د اُحد په کال پیدا شویدے، د نبی کریم ﷺ اته کاله ژوند ئے لاندے کړیدے، او دے به په کوفه کښے وسیدو بیا مکے ته رانقل شو۔ او د علی

Maktaba Tul Ishaat.com

بن ابی طالب ﷺ سره هر جنګ ته حاضر شويدے، او د علی ﷺ سره ډير محبت کونکے وو، ډيـر عـمـرئے تير کړے په (۱۱۰ھ) کښے وفات شويدے۔ امام مسلمؒ وغيره وئيلی دی چه دا د ټولو صحابه کرامو نه آخری وفات شويدے۔

تشريح : دا دليـل دے چه کوم شے د حجر اسود سره د ښکلولو دپاره ولګوی نو د هغے ښکلول پکار دی لکه لاس يا امسا يا بل شے۔

2572 (12) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا قَالَتْ : خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ فَلَمَّا كُنَّا بِسَرِفَ طَمِثْتُ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ : "لَعَلَّكِ نَفِسْتِ ؟ "قُلْتُ : نَعَمْ قَالَ :" فَإِنَّ ذٰلِكِ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَّا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتّٰى تَطْهُرِي ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه ﷺ فرمائی : مونږ د نبی کريم ﷺ سره (د مدينے نه) راووتو مونږ (د احرام په وخـت کښے) صـرف حج ذکر کولو، نو هرکله چه مونږ سرف ته راورسيدو، زهٔ حـائـضـه شوم نو نبی کريم ﷺ (زما خيمے ته) راننوتو او ما ژړل، وے فرمايل : شايد چه تـهٔ بـه حـائـضـه شوے ئے ؟ ما وويل : آؤ، وے فرمايل : دا (بيماری) خو يو داسے شے دے چه الله تعالیٰ د آدم ﷺ د لونړو دپاره مقرر کړے دے، (ددے په وجه ژړا او پريشانه کيدو ته څه ضرورت دے) نـو تـهٔ هـم هـغـه شان افـعـال وکـړه چه حاجی ئے کوی، البته د بيت الله نه طـواف مـه کـوه تـردے چه تـهٔ پـاکـه شے (يعنی د ماهواریٔ ورځے ختمے شی او بيا غسل وکړے) (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : بِسَرِفَ: دا د مـکے او مـدينے تـرميـنـځ ځائے دے چه مکے ته په يو څو ميله فاصله باندے پروت دے، بعض وائی چه شپږ ميله او بعض اُوه ميله ذکر کوی۔

لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ : دے بـانـدے دا اشکال دے چه عائشه ﷺ فـرمائی چه مونږ د احرام په وخـت صـرف حج ذکر کولو، او خپـله د عائشے ﷺ پـه دويم روايت ددے باب کښے ذکر شو چـه خپـلـه ئے فرمايلی وو : [وَلَـمْ أُهْلِلْ إِلَّا بِعُمْرَةٍ] مـا صـرف د عمرے احرام تړلے وو، ددے تـضـاد جواب دا دے چه دلته د لَا نَـذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ مـطـلـب دا دے چـه زمونږ ددے سفر نه اصـل مـقـصـد حـج وو او حج چونکه په درے قسمه دے يعنی افراد، تمتع او قران۔ پدے وجـه مونږ بعض کسانو د حج افراد نيت کړے وو او بعضو د تمتع او بعضو د قِران۔ او ما

Maktaba Tul Ishaat.com

د حج تمتع قصد کړے وو۔ ځکه چه ما د میقات نه د عمرے احرام تړلے وو لیکن کله چه زۀ مکے ته نزدے سَرِف مقام ته ورسیدم نو زما ماهواری شروع شوه تردے چه د عرفے ورځ راغله او په عرفات کښے د ودریدو وخت راغلو او پدے طریقه د عمرے وخت تیر شو او د حج ورځے شروع شوے نو رسول الله ﷺ ما ته حکم وکړو چه زۀ د عمرے احرام کولاو کړم او د حج احرام وتړم او بیا د طواف او سعی نه علاوه نور افعال د حج وکړم۔

نَفِسْتِ : دا په فتحه د نون او ضمه دواړو سره جائز دے او فتحه پکښے افصح ده، او فاء په دواړو کښے مکسوره ده، او د نفاس نه مراد حیض دے، او کوم نفاس چه د ولادت نه روستو وینے ته وائی نو هغه صرف په پیش د نون سره راځی۔

كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلٰى بَنَاتِ آدَمَ : دا ورته تسلی ورکوی چه خفګان مۀ کوه، دا مصیبت په ټولو زنانو دے، یواځے په تا باندے نۀ دے۔

دا حدیث دلیل دے چه د حائضے زنانه دپاره طواف ناروا دے، او نهی تقاضا د فساد کوی نو طواف د حائضے صحیح نۀ دے، او دا قول د جمهورو دے۔

2573 (13) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ أَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ فِي النَّاسِ :" **أَلَا لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : زۀ ابوبکر صدیق ﷺ په هغه حج کښے ولیږلم کوم باندے چه نبی کریم ﷺ هغۀ لره امیر مقرر کړے وو مخکښے د حجة الوداع نه په ورځ د لوی اختر باندے په هغه جماعت کښے چه هغۀ ته ئے حکم کړے وو چه په خلکو کښے اعلان وکړی چه : خبر شئ ددے کال نه روستو به مشرك حج له نۀ راځی او د بیت الله نه به بربنډ شخص طواف نۀ کوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مخکښے دا ذکر شو چه د نهم (۹ هـ) کال په آخر کښے حج فرض شو نو پدے کال باندے رسول الله ﷺ په دینی کارونو مشغول وو یا پدے وجه چه دغه کال مشرکان هم حج له راتلل او رسول الله ﷺ د دوئ سره شریك حج کول نۀ غوښتل نو رسول الله ﷺ پدے کال باندے د حج امیر ابوبکر صدیق ﷺ جوړ کړو او بیا ئے هغۀ پسے علی بن ابی طالب ﷺ ولیږلو چه تۀ به څلور اعلانونه کوے، لیکن علی ﷺ ته ټول اعلانو نه په

Maktaba Tul Ishaat.com

دومره غټو مجموعو کښې ګران وو نو ابوبکر صدیق ﷛ د هغهٔ د مدد دپاره ابو هریره ﷛ هم ولیږلو چه دے به هم درسره په شریکه په مجموعو د حاجیانو کښې په منیٰ او عرفات او مزدلفه کښې دا اعلانونه کوی. ابو هریره ﷛ فرمائی چه ما به په خلکو کښې دومره پورے اعلانونه کول چه زما آواز به تپ شو، او ما نه به مخکښې علی ﷛ دومره آوازونه وکړل چه ستړے به شو.

مطلب دا چه زهٔ ابوبکر صدیق ﷛ په هغه جماعت کښې ولیږلم او مقرر ئے کړم چه هغوی د اختر په ورځ په خلکو کښې اعلانونه کول.

هغه اعلانونه دا دی: (۱) د سږکال نه روستو هیڅ مشرك به حج له نهٔ راځی.

(۲) او د بیت الله نه به په بربنډه هیڅوك طواف نکوی.

(۳) او جنت ته به صرف مسلمان نفس داخلیږی. (په مشرك باندے جنت حرام دے).

(٤) او چا سره چه د رسول الله ﷺ لوظ وی نو د هغوی موده ځلورو میاشتو پورے شوه.

ددے نه معلومه شوه چه په جاهلیت زمانه کښې به خلکو د خانه کعبے نه په بربنډه باندے طواف کولو، او وجه به ئے دا بیانوله چه د الله تعالیٰ دا عظیم عبادت مونږ څنګه په هغه کپړو کښې وکړو چه په هغے کښې مونږ شپه او ورځ ګناهونه کوو، نو اسلام دا کار بند کړو او حکم ئے وکړو چه آینده به څوك داسے غیر اخلاقی او غیر انسانی او سراسر د جهالت نه ډك جرم باندے جرأت ونکړی.

بیا بعض د عزت والو مشرانو کسانو به د مکے والو نه کپړے واخستے چه طواف پکښې وکړی او بعضو به همداسے په بربنډه طواف کولو، او زنانو به د شپے طواف کولو.

ابن اسحاق ؒ ددے حدیث سبب داسے ذکر کړیدے چه قریشو د واقعة الفیل نه مخکښې یا روستو دا بدعت ایجاد کړے وو چه دوئ ته د بهر نه کوم خلك راځی نو هغوی به په خپلو کپړو کښې اول طواف نکوی بلکه د قریشو نه به کپړے اخلی، که د دوئ نه کومه کپړه ونهٔ مومی نو په بربنډه به طواف کوی، او که یو تن ددے قانون خلاف وکړی او په خپلو جامو کښې طواف وکړی نو هغه به د طواف نه روستو همیشه دپاره غورزوی او د هغے نه به هیڅ فائده نهٔ اخلی، نو هرکله چه اسلام راغلو دا ټول قانون ئے ختم کړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې حديث نه معلومه شوه چه په طواف کښې ستر د عورت شرط دے، لکه څنګه چه په مانځه کښې ستر د عورت شرط دے، او دا مذهب د جمهورو دے۔ احناف وائی چه ستر د عورت په طواف کښې واجب دے او شرط نۀ دے، که چا په بربنډه طواف وکړو نو ترڅو چه په مکه کښې وي دوباره به ئے وکړي او که د مکے نه اُووتو نو په دۀ باندے دم لازم شو، او دليل ئے دا وئيلے دے چه په حديث کښې په اشتراط باندے دليل نشته۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِیُ

2574 (14) – عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ قَالَ: سُئِلَ جَابِرٌ عَنِ الرَّجُلِ يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَكُنْ نَفْعَلُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

ترجمه: مهاجر مکیؒ فرمائی: د جابر ﷛ نه د هغه سړي په باره کښې پوښتنه وشوه چه بيت الله وينی لاس پورته کوی (د دعاء دپاره چه آيا دا کار جائز دے؟) نو هغۀ وفرمايل: مونږ د نبی کريم ﷺ سره حج وکړو نو مونږ به دا کار نۀ کولو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشريح: اَلْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ: مهاجر بن عکرمة بن عبد الرحمن بن الحارث القرشی المخزومی۔ دا د امام زهریؒ ملګری دے۔ حافظ ورته په تقريب کښې مقبول وئيلے دے۔ بخاریؒ په خپل تاريخ کښې او ابن ابی حاتمؒ په الجرح والتعديل کښې دۀ په باره کښې هيڅ جرح او تعديل نۀ دے ذکر کړے۔

فَلَمْ نَكُنْ نَفْعَلُهُ: کوم شخص چه بيت الله ته راشی نو د بيت الله د ليدو په وخت کښې دۀ دعاء قبليږی ځکه چه ډيره دعاء کول پکار دی، خو آيا په دے دعاء کښې لاسونه پورته کول شته او که نۀ؟ دے حديث کښې ددے نه انکار راغلے دے۔ او دا ضعيف دے، او په مرسل او معضل او منقطع روايتونو کښې لاسونو پورته کولو تذکره راغلے ده، او د ابن عباس ﷠ نه ثابته ده، چه [تُرْفَعُ الْأَيْدِي فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ] [ابن ابی شيبة ٤:٩٦/٦]

په اُوو ځايونو کښې به لاسونه پورته کولے شی، ددے نه يو د بيت الله د ليدو وخت دے۔

دے روايت ته حافظ ابن القيمؒ په "المنار المنيف" کښې موقوفاً صحيح وئيلے دے، او بعض اهل علم وائی: چه په دے کښې عطاء بن السائب مختلط دے، او ابن فضيل د هغۀ د پخوانو شاګردانو نه نۀ دے چه قبل الاختلاط ئے ترے نقل کړے وی بلکه بعد الاختلاط ئے ترے نقل کړيدے۔ او نوویؒ ورته په الخلاصه کښې ضعيف وئيلے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې وجه نه اهل علمو هم پدې کښې اختلاف کړيدې، (۱) د امام ابوحنيفهٔ او صاحبينو مذهب دا دې چه لاسونه به نهٔ پورته کوی او همدا مذهب د امام مالكؒ هم دې، او امام ابوحنيفهٔ ورته مکروه وئيلې دې۔ او د هدايه او درمختار نه هم داسې ثابت دی چه لاسونه اُوچتول نهٔ دی پکار۔

(۲) او امام احمدؒ، سفيان الثوريؒ، ابن المبارکؒ او اسحاق بن راهويهٔ فرمائی چه د خانه کعبې د ليدو په وخت لاسونه پورته کولو سره دعاء بهتره ده۔

(۳) امام بيهقيؒ معرفة السنن والآثار (۲۰۱/۷) کښې د امام شافعیؒ نه نقل کړيدی چه زهٔ د بيت الله د ليدو په وخت کښې په دعاء کښې لاسونو پورته کولو کښې نهٔ کراهت وينم او نهٔ استحباب، البته زما په نيز دا ښهٔ کار دې۔ انتهیٰ۔

نو خبره پدې باره کښې فراخه ده، که لاسونه پورته کوی او که نهٔ، دواړه جائز دی۔ ليکن بهتره ده دا چه لاسونه پورته نکړی ځکه چه استحباب شرعی دليل غواړی او هغه نهٔ دې موجود۔

درجة الحديث : [ضعيف، ابوداود : ۱۸۷۰، الترمذی : ۸۵۵، والنسائی ۲۱۲/۵، وابن خزيمة : ۲۷۰٤، فی اسناده مهاجر بن عکرمة المخزومی مجهول الحال]

2575 (15) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : أَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ مَكَّةَ فَأَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ أَتَى الصَّفَا فَعَلَاهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى الْبَيْتِ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللّٰهَ مَا شَاءَ وَيَدْعُو . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او ابوهريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ (چه کله حج او عمرې دپاره) راغلو نو مکې ته داخل شو نو حجر اسود ته مخامخ شو، هغه ئې ښکل کړو بيا ئې د بيت الله طواف وکړو بيا صفا ته راغلو نو هغې ته وختو تردې چه بيت الله ته ئې وکتل نو خپل دواړه لاسونه ئې پورته کړل نو شروع شو چه د الله تعالیٰ ذکرئې کولو څومره ئې چه غوښتل او دعاء ئې کوله۔ (ابوداودؒ)

تشريح: أَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ : يعنی د مدينې نه رسول الله ﷺ متوجه شو او راغلو مکې ته رانتوتو د حج يا عمرې دپاره۔ ظاهر دا ده چه دا په فتح د مکه کښې راغلې وو۔ لکه دا حديث امام مسلمؒ په باب د فتح د مکه کښې ذکر کړيدې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ : یعنی مخامخ شو حجر اسود ته۔ یا الیٰ په معنیٰ د (علیٰ) سره دے۔
فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللّٰهَ : یعنی د سعی په وخت چه کله صفا غونډئ باندے وخیژی او هلته نه بیت الله ته مخ واړه وی نو دلته تکبیر او تهلیل نه روستو د دعاء دپاره لاسونه پورته کول پکار دی، لکه چه طریقه ئے مخکښے ذکر شوه۔

درجة الحدیث : [صحیح : اخرجه ابو داود (۱۸۷۲) واخرجه مسلم بنحوه فی حدیث طویل فی الصحیح (۳/۱۴۰۶-۱۴۰۷)، رقم : (۱۷۸۰)]

2576 (16) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " اَلطَّوَافُ حَوْلَ الْبَيْتِ مِثْلُ الصَّلَاةِ إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُوْنَ فِيْهِ فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيْهِ فَلَا يَتَكَلَّمَنَّ إِلَّا بِخَيْرٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَذَكَرَ التِّرْمِذِيُّ جَمَاعَةً وَقَفُوْهُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ .

ترجمه: او ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ وفرمایل : د بیت الله نه ګیر چاپیره طواف د مانځه په شان دے، مګر دومره ده چه تاسو پدے کښے خبرے کولے شئ، خو چا چه پدے کښے خبرے اترے کولے نو هغه دِے صرف د خیر خبرے کوی۔ دا روایت ترمذیؒ، نسائیؒ او دارمیؒ راوړے او ترمذیؒ یو جماعت د محدثینو ذکر کړے چه هغوی دا حدیث په ابن عباس ﷺ باندے موقوف ګرځولے۔ (یعنی دا ئے د ابن عباس ﷺ وینا ګنړلے ده، نهٔ د نبی کریم ﷺ)۔

تشریح : مِثْلُ الصَّلَاةِ : یعنی طواف د مانځه په شان دے په ډیرو احکامو کښے لکه عورت پټول او پاکی۔ نو دا تشبیه په ټولو احکامو کښے نهٔ ده۔
إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُوْنَ فِيْهِ : یعنی د طواف او د مانځه ترمینځ فرق دا دے چه په مانځه کښے خبرے کولو سره مونځ فاسدیږی او طواف کښے خبرو کولو سره طواف نهٔ خرابیږی۔
إِلَّا بِخَيْرٍ : دا ورسره ځکه وائی چه په عامو خبرو کولو سره د طواف عظمت خرابیږی او په انسان باندے اثر نهٔ کوی او حال دا چه دے وخت کښے په زړهٔ کښے انتهائی د هان او عظمت راوستل پکار دی۔

درجة الحدیث : [صحیح : الترمذی : (۹۶۰) وابن خزیمة فی صحیحه (۲۷۳۹) والدارمی (۲/۴۴) والحاکم فی المستدرك (۱/۴۵۹) وقال صحیح الاسناد وقد اوقفه جماعة واقره الذهبی وصححه السیوطی والالبانی فی السلسلة الصحیحة ۶/۵۰۱]

Maktaba Tul Ishaat.com

2577 (17) – وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" نَزَلَ الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِيْ آدَمَ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : حجر اسود د جنت نه راکوز شو په داسې حال کښې چه دا د پیوو (شودو) نه زیات سپین وو نو د بنیادمانو گناهونو دې لره تور کړو۔ (دا احمدؒ او ترمذیؒ روایت کړې او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے)

تشریح : هغه مقدس کاڼړے چه اُوس ورته حجر اسود (یعنی تور کاڼړے) وائی، دا چه کله د جنت نه راکوز کړې شو او د ظلم او جهالت نه ډکے دے دنیا ته راغلو او په دنیا کښې گناهګارو دې ته لاس لګول شروع کړو نو دے گناهونو د هغې رنګ بدل کړو او هغه کاڼړے چه د پیوو نه زیات سپین وو د انسانانو په ګناهونو سره تور شو۔

نو سوچ وکړه چه هرکله په کاڼړی باندې د انسان ګناهونه داسې تاثیر کوی نو خپله د انسان په زړهٔ باندې به ددې ګناهونو څومره اثر وی، معاذ الله۔ نو پدې کښې د ګناهونو لوی خطر ذکر دے۔

په روایت د احمدؒ کښې دی چه د واورې نه زیات سپین وو تردې چه د مشرکانو ګناهونو تور کړو۔ او په روایت د طبرانی کښې دی :

[وَلَوْلَا مَا مَسَّهٗ مِنْ رِجْسِ الْجَاهِلِيَّةِ مَا مَسَّهٗ ذُوْ عَاهَةٍ إِلَّا بَرِئَ]

که دے سره د جاهلیت پلیتیٔ نهٔ وے لګیدلے نو هر مصیبت والا چه ورسره لګیدلے نو هغه به روغ شوے وے۔

او دے کښې دا اِستبعاد صحیح نهٔ دے چه دا د جنت نه نهٔ دے راغلے ځکه چه د جنت په څیزونو کښې هغه خصوصیات دی چه هغه د دنیا په څیزونو کښې نشته، بلکه دلته مقصد دا دے چه په برکت او هیبت او اُنس او کرامت کښې داسې دے لکه چه د جنت نه راغلے وی، (قاضی بیضاویؒ والتوربشتیؒ)

دا تاویل صحیح نهٔ دے ځکه چه عقلًا او نقلًا هیڅ مانع نشته چه دا د جنت نه راغلے وی، او هرکله چه دنیا ته راغلو نو ددې نه د جنت هغه خصوصیات ختم شو نو پدې

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه پدے باندے د دنیاوی گناهونو تاثیر راغلو۔ او د جنت په څیزونو کښے تغیر پدے وجه نۀ راځی چه هغه دنیا ته نۀ دی راغلی۔ او دا د روستو حدیث نه معلومیږی۔ (طَمَسَ اللّٰهُ نُوْرَهُمَا) یعنی هرکله چه دنیا ته راغلو نو الله تعالیٰ ترے نور واخستو۔

فَسَوَّدَتْهُ : محب الدین الطبریؒ لیکی : دے باندے مُلحدینو دا اعتراض کړے چه گناهونه حجر اسود لره څنګه تور کړی حالانکه طاعت او توحید د اهل ایمان هغے لره نۀ سپینوی؟۔ ددے څلور جوابونه دی : (۱) یو دا چه د ابن عباس ﷺ روایت نه معلومیږی کوم چه ازرقیؒ راوړیدے چه [اِنَّمَا طَمَسَ نُوْرَهٗ لِیَسْتُرَ زِیْنَتَهٗ عَنِ الظَّلَمَةِ] الله تعالیٰ ددے نه رڼړا واخستـه دے دپاره چه د ظالمانو نه ددے زینت پټ کړی۔ (مګر ددے روایت سند حافظ ابن حجرؒ ضعیف ګڼلے دے)۔

(۲) که الله تعالیٰ داسے غوښتلے نو کولے ئے شو لیکن د الله تعالیٰ عادت دا دے چه تور والے د بل شی دپاره رنګ جوړیږی لیکن خپله رنګ نۀ قبلوی او سپینوالے رنګ قبلوی او په بل شی باندے رنګ نۀ اچوی۔ (۳) دریم : ددے تور پاتے کیدل (والله اعلم) د اعتبار او عبرت دپاره دی، او دے دپاره چه معلومه شی چه ګناهونه په کاڼړی کښے تاثیر کوی نو په زړونو باندے به ددے تاثیر څومره ډیر لوی وی۔ (٤) دنیا کښے د الله تعالیٰ قانون دے چه نتیجه تابع د اخسّ ارذل وی۔ لکه د اُحد واقعے ته وګوره چه بعض مسلمانانو نه لغزش وشو، نو شکست په ټولو راغلو، دارنګه یو تن د طعام په وخت بسم الله پریخوده نو د هغے اثر په ټولو راغلو۔ دارنګه حدیث کښے دی : [لَا تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلٰی قَوْمٍ فِیْهِمْ قَاطِعٌ] [الادب المفرد : ٦٣، ضعیف] په هغه قوم باندے رحمت نۀ نازلیږی چه په هغے کښے قطع رحمی والا وی۔ نو څکه په دنیا کښے ګناه په نیکئ باندے غالبه شوه۔

درجة الحديث : [صحيح لغيره : اخرجه احمد فی المسند ۱/۳۰۷، ۳۲۹، ۳۷۳، والترمذی (۸۷۷) والنسائی مختصرا (۵/۲۲٦) وابن خزیمة فی صحیحه (۲۷۳۳)]

2578 (18) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجَرِ : " وَاللّٰهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهٗ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهٖ يَشْهَدُ عَلٰى مَنِ اسْتَلَمَهٗ بِحَقٍّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د حجر اسود په باره کښے وفرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

: قسم په الله، الله تعالىٰ به دے (يعنى حجر اسود) د قيامت په ورځ راپورته کوى چه ددهٔ دپاره به دوه سترګے وى چه په هغے به ليدل کوى او ژبه به وى چه په هغے به خبرے کوى، په هغه چا به ګواهى چه هغهٔ په حق (توحيد) سره ښکل کړے وى۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح : اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ : يعنى چا چه دا په حق سره ښکل کړو۔ ددے مطلب دا دے چه چا په ايمان، صدق او يقين سره او خالص د ثواب په طلب سره حجر اسود ښکل کړو نو قيامت کښے به د هغه شخص په باره کښے ګواهى ورکوى چه دے شخص زهٔ ښکل کړے يم۔ دا حديث هم په خپل ظاهرى معنىٰ باندے محمول دے چه په قيامت کښے به د حجر اسود دغه شان سترګے وى او ژبه وى چه ليدل او خبرے به کوى، او الله تعالىٰ پدے قادر دے چه جماداتو ته د بينائى او ګويائى طاقت ورکړى، که الله تعالىٰ د وينځ او د غوښے يو لوتړے ته د ليدو او وينا قوت ورکولے شى نو دغه شان يو کانړى ته ئے هم ورکولے شى۔

درجة الحديث : [صحيح : احمد فى المسند (۱/۲۹۱، ۳۰۷، ۳۷۱) والدارمى (۲/۴۲) والترمذى (۹۶۱) وقال حديث حسن وابن ماجه (۲۹۴۴) والحاكم (۱/۴۵۷) وقال صحيح الإسناد واقره الذهبى، والبيهقى فى الكبرىٰ (۵/۷۵)]

2579 (19) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "إِنَّ الرُّكْنَ وَالْمَقَامَ يَاقُوْتَتَانِ مِنْ يَاقُوْتِ الْجَنَّةِ طَمَسَ اللّٰهُ نُوْرَهُمَا وَلَوْ لَمْ يَطْمِسْ نُوْرَهُمَا لَأَضَاءَ ا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : يقيناً حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت د ياقوتو نه دوه ياقوت دى، الله تعالىٰ د دواړو رڼا ختمه کړه او که چرته ددے دواړو رڼا ئے نهٔ وے ختمه کړے خامخا دواړو به د مشرق او مغرب ترمينځ فضاء روښانه کړے وے۔ (ترمذیؒ)

تشريح : د رکن نه مراد حجر اسود دے، او د المقام نه مراد مقام ابراهيم دے، او دا هغه کانړے دے چه ابراهيم ؑ به په هغے باندے د کعبے د جوړولو په وخت ودريدو چه په هغے کښے د هغهٔ د خپو قدمونه د معجزے په شکل جوړ شويدى۔

Maktaba Tul Ishaat.com

مقام ابراهيم: د ابراهيم عليه السلام د زمانے نه د بيت الله سره پيوسته لګيدلے وو، بيا د عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کښے هغه ځائے کښے کيخودو چه نن صبا کوم ځائے کښے دے۔ (مصنف عبد الرزاق عن عطاءٌ بسند صحيح) او هيچا په هغۀ باندے اعتراض ونکړو، او عمر فاروق رضي الله عنه دا پدے وجه وکړو چه په طواف کونکو او مونځ کونکو باندے تنګی رانشي نو دائے د کعبے نه جدا کړو۔

يَاقُوْتَتَانِ: ياقوت د عامو قيمتي کاڼو نه ډير قيمتي کاڼړے دے، تك سور رنګ ئے دے او دا اول درجه کاڼړے دے، او ددے ډير اقسام دی، او بيا چه د جنت نه وی، نو دا ډير فضيلت والا دے۔ طَمَسَ اللّٰهُ نُوْرَهُمَا: يعني د مشرکانو د مسه کولو په وجه ترے الله تعالیٰ رڼړا واخسته۔ علي القاريؒ وائي: پدے کښے کيدے شي چه دا حکمة وی چه د خلکو ايمان غيبي شي او عيني نشي۔ آه۔ او دا ډير اُوچت حکمت دے۔

ددے حديث نه د ګناهونو سپيرۀ والے معلوميږي۔

درجة الحديث : [صحيح : احمد (۲/۲۱۳-۲۱۴)، صححه احمد شاكر في تعليق المسند، والترمذي (۸۷۸) وابن خزيمة (۴/۲۱۹) رقم (۲۷۳۱) والحاكم (۱/۴۵۶)]

2580 (20) — وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ: أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُزَاحِمُ عَلَيْهِ قَالَ: إِنْ أَفْعَلُ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: " **إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ لِلْخَطَايَا** " وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ: " **مَنْ طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ أُسْبُوْعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ** ". وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ: " **لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرٰى إِلَّا حَطَّ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا خَطِيْئَةً وَكَتَبَ لَهٗ بِهَا حَسَنَةً** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او عبيد بن عميرؒ فرمائي: يقيناً ابن عمر رضي الله عنه به (د خلکو سره) په حجر اسود او رکن يماني باندے (هغے ته په لاس لګولو) لړ غونته تيل کولو، چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرو نه هيڅوك نۀ وو ليدلے چه په دے به ئے تيل کولو، هغۀ به فرمايل: که زۀ داسے کوم نو يقيناً ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوريدلی چه فرمايل ئے: ددے دواړو مسه کول د ګناهونو رژول دی۔ (يعني دواړو سره لاس لګولو سره ګناهونه معاف کيږي) او ما د هغۀ نه واوريدل چه فرمايل ئے: چا چه ددے بيت الله نه اُوه ګردشونه وکړل او دائے وشمارل نو دا به د يو غلام د آزادولو په شان وی۔ او ما د هغۀ نه آوريدلی چه فرمايل ئے:

Maktaba Tul Ishaat.com

(بنده) يو قدم نۀ اړدي او بل نۀ پورته كوي مګر الله تعالىٰ به ددۀ نه د هغې په وجه يوه ګناه خكته كوي او د هغۀ دپاره به د هغې په وجه يوه نيكي ليكي. (ترمذيؒ)

تشريح : عبيد بن عمير بن قتاده الليثي ثم الجندي ابوعاصم المكيؒ، د مكے واعظ او قاصّ دے. امام بخاريؒ ذكر كړيدي چه دۀ نبي ﷺ ليدلے دے. ليكن دا په كبار التابعين كښې شمار دے، عمر بن خطاب، ابن عمر، عبد الله بن عمرو بن العاص او ابوذر او عائشه رضي الله عنهم نه ئے آوريدل كړيدي، د ابن عمر ؓ نه مخكښې وفات شويدے، ددۀ پلار عُمير بن قتاده صحابي ؓ دے.

يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ : يعني تيل به ئے كولو په ښكلولو د حجر اسود او په لاس وړولو د ركن يماني كښې. ددے مطلب دا دے چه هغه به د حجر اسود او د ركن يماني د استلام دپاره د خلكو هجوم مات كړو او ورمخكښې به شو او دواړو ركنونو ته به ئے لاس اُوړدولو ليكن دا تيل به داسے وو چه خلكو ته به ئے پكښې تكليف نۀ رسولو، بلكه طريقے سره به ئے تيل كولو، كه يو تن د استلام دپاره خلكو ته ديكے وركوي او خلك راغورزوي، خاصكر چه په هغې كښې كمزوري او بوډاګان هم وي او پدے طريقه حجر اسود او ركن يماني ته ورسيږي او خلكو ته تكليف وركړي نو دے به ګنهګار وي، لهذا كه ډيره ګنړه وه او حجر اسود ته رسيدل نۀ كيدل نو اشاره به ورته وكړي او ركن يماني ته اشاره نشته، همداسے به ترے تير شي.

رسول الله ﷺ عمر فاروق ؓ ته فرمايلي وو : [يَا عُمَرُ ! إِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ لَا تُزَاحِمُ عَلَى الْحَجَرِ فَتُؤْذِي الضَّعِيفَ، إِنْ وَجَدْتَ خَلْوَةً فَاسْتَلِمْهُ وَإِلَّا فَكَبِّرْ وَامْضِ]

[معرفة السنن والآثار للبيهقي : ۳۰۳۵، اخبار مكة للفاكهي رقم : ۱۳٤].

اے عمر ! تۀ قوي سړے ئے، په حجر اسود باندے تيل مۀ كوه، ضعيف ته به ضرر وركړے، كه تا خالي وخت موندلو نو ښكل ئے كړه او كه نۀ وي نو الله اكبر ووايه او تيرېږه.

او قاسم بن محمدؒ وائي چه ما ابن عمر ؓ وليدو چه په حجر اسود به ئے تيل كولو تردے چه پوزه يا خوله به ئے وينے شوه. (مسند الشافعيؒ) سعيد بن منصورؒ د قاسم په روايت نقل كړيدي چه د ابن عمر ؓ نه دے باره كښې تپوس وكړے شو نو هغۀ وويل :

[هَوَتِ الْأَفْئِدَةُ إِلَيْهِ فَأُرِيدُ أَنْ يَكُونَ فُؤَادِي مَعَهُمْ] د خلكو زړونه حجر اسود ته مائله

Maktaba Tul Ishaat.com

شويدى (هغوى ورسره مينه كوى) نو زۀ غوارم چه زما زړۀ هم د هغوى سره وى۔
زِحَامًا : [أَیْ زِحَامًا عَظِيمًا] يعنى ډير تيل۔ او دا يا په ټولو گردشونو كښې مراد دے يا په اول او آخر گردش كښې ځكه چه دا ئے ډير مضبوط احوال دى۔
إِنْ أَفْعَلُ : [أَیْ إِنْ أَفْعَلْ فَلَا أُلَامُ] يعنى كه زۀ تيل وكړم نو په ما ملامتيا نشته او ددے دپاره ئے د رسول الله ﷺ د وينا نه دليل ونيولو چه هغۀ ددے فضيلت بيان كړے نو زۀ ئے نۀ پريدم۔ يا جزاء داسے ده : [إِنْ أُزَاحِمْ فَلَا تُنْكِرُوْا عَلَيَّ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فِيْ فَضْلِ اسْتِلَامِهِمَا فَإِنِّيْ لَا أُطِيْقُ الصَّبْرَ عَنْهُ] كه زۀ تيل كوم نو ما باندے انكار مۀ كوئ ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه ددے په فضيلت كښې آوريدلى دى نو زۀ ددے نه د صبر طاقت نۀ لرم۔ ددے نه معلومه شوه چه د صحابه كرامو ﷺ د نيكيانو سره څومره مينه وه چه ددے دپاره به ئے تكليف هم برداشت كولو۔
أُسْبُوْعًا : "اُوه كرته ئے طواف وكړو" كښې درے احتمالات دى : (۱) يو دا چه اُوه گردشونه وكړى يعنى د كعبے نه گيرچاپيره اُوه چكرے ووهى، او اُوه واړه گردشونه يو طواف حسابيږى۔ (۲) دويم دا چه اُوه طوافونه وكړى۔ (۳) او دريم دا چه اُوه ورځے طواف وكړى۔ دے كښې اوله معنى غوره او متبادره ده۔
فَأَحْصَاهُ : يعنى راګيرئے كړل په شمار كښې۔ مطلب دا چه زيادت او نقصان ئے پكښې ونكړو۔ (سيوطىؒ) يا دا چه په كامله طريقه ئے ادا كړى، په طواف كښې د معتبرو شرطونو او آدابو لحاظ وساتى۔ (على القارىؒ)

درجة الحديث : [صحيح : عبد الرزاق فى المصنف (۸۸۷۷) واحمد (۲/۳،۱۱، ۸۹، ۹۵) والترمذى (۹۵۹) وقال حديث حسن والنسائى (۵/۲۲۱) وابن خزيمة (۲۷۲۹)]

2581 (21) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ : **رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ** . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : عبد الله بن سائب ﷺ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه د دواړو ركنين (ركن يمانى او حجر اسود) ترمينځ به ئے فرمايل : ربنا آتنا الخ : اے الله ! مونږ ته په دنيا كښې ښائسته ژوند او په آخرت كښې ښائسته ژوند راكړه او مونږ د اُور د عذاب نه

اُوساته۔ (ابوداودؒ)

تشريح : عبد الله بن السائب : المخزومي المكي ؓ ، دے او ددهٔ پلار دواړه صحابه كرامو كښې شمار دی۔ اودا د مكے والو قاري وو۔ او تعارف ئے مخكښې ذكر شويدے۔

د حسنه ډير مصداقات دی لكه علم، عمل، معافي او عافيت، حلال رزق، حياة طيبه، قناعت، نيكان بچي او نيكه ښځه۔

درجة الحديث : [حديث حسن : احمد (۳/۴۱۱)، ابوداود (۱۸۹۲) وصححه ابن حبان والحاكم (۲/۴۵۵) وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبی]

2582 (22) – وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ: أَخْبَرَتْنِي بِنْتُ أَبِي تَجْرَاةٍ قَالَتْ: دَخَلْتُ مَعَ نِسْوَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ دَارَ آلِ أَبِي حُسَيْنٍ نَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَرَأَيْتُهُ يَسْعٰى وَإِنَّ مِئْزَرَهُ لَيَدُوْرُ مِنْ شِدَّةِ السَّعْيِ وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ : " **اِسْعَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ** ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَرَوَاهُ أَحْمَدُ مَعَ اخْتِلَافٍ.

ترجمه : او صفيه بنت شيبهؒ فرمائی : ما ته د ابو تجراة لور خبر راكړے چه هغې وفرمايل : زهٔ د قريشو د څه زنانو سره د آل ابی حسين كور ته داخله شوم دے دپاره چه مونږ رسول الله ﷺ وګورو چه هغه د صفا او مروه ترمينځ سعی كوله نو ما وليدو چه سعی ئے كوله او د هغهٔ لنګ (مبارك) د تيزے منډے په وجه (هغهٔ ته) راتاويدو، او ما د هغهٔ نه واوريدل چه فرمايل ئے : (اے خلكو !) سعی كوئ يقيناً الله تعالیٰ په تاسو باندے سعی لازم كړے۔ (دا بغویؒ په شرح السنه كښے روايت كړے او دا امام احمدؒ د كمی بيشی سره روايت كړے)۔

تشريح : صفيه بنت شيبه بن عثمان بن ابی طلحه العبدری، ددے په صحابيت كښے اختلاف دے۔ حافظ په تقريب كښے وائی چه دے نبی كريم ﷺ ليدلے او د عائشے ؓ او د نورو صحابه كرامو ؓ نه ئے روايتونه نقل كړی۔

تَجْرَاة : د تاء په زير او د جيم په سكون سره۔ بنو تجراة يو قوم دے چه د كِنده (يمن) نه مدينے ته راغلی وو۔ او د ابو تجراة دا لور حبيبه بنت ابی تجراة د بنو عبد الدار نه يوه زنانه ده۔ او دا د شيبه بن عثمان امّ ولده وه، او صحابيه ده۔

نَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ : يعنی دے دپاره چه مونږ د رسول الله ﷺ د ليدو شرافت حاصل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړو او د هغهٔ د علم او برکت نه فائده حاصله کړو.

وَإِنَّ مِئْزَرَهٗ لَيَدُوْرُ : يعنى د هغهٔ لنګ د تيزے منډے په وجه د هغهٔ د خپو نه تاويدو، دے نه معلوميږى چه رسول الله ﷺ پياده سعى کړے. يا کيدے شى چه دا په عمره کښے منډه وه او حجة الوداع کښے په اُوښه باندے سور وو. (على القارئ)

او علامه طبرئ وائى چه کيدے شى چه طواف ئے په سورلئ کړے وى او بيا چه کله سعى ته راغلو نو په پياده ئے شروع کړو بيا هرکله چه ګڼره ورته زياته شوه نو په اُوښه سور شو. لکه دا خبره په حديث د ابن عباس رضی الله عنه کښے راغلے ده.

كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ : دا حديث دليل دے چه سعى فرض ده او دا په حج او عمره کښے رکن دے، ددے نه بغير حج او عمره نهٔ صحيح کيږى او دا قول د جمهورو دے. د احنافو مذهب دا دے چه سعى واجب ده، که يو تن سعى پريدى نو په دهٔ باندے به دم يعنى ګډ وغيره ذبح کول واجبيږى، او حج او عمره نهٔ باطليږى.

مګر راجح قول د جمهورو دے دلائل ئے دا دى :

۱- **دليل** : آيت کښے دى : ﴿ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ﴾ صفا مروه د الله تعالىٰ د شعائرو نه دى، نو صفا او مروه ته د الله تعالىٰ شعائر وئيل دليل دے چه ددے ترمينځ سعى لازم ده، ددے نه بغير خلاصے نشته، ځکه چه د الله تعالىٰ د شعائرو تعظيم کول لازم دى او د هغے تهاون او سپکاوے جائز نهٔ دے. بله دا چه په اصولو کښے دا خبره ثابته شويده چه د نبى ﷺ فعل چه کله د کتاب د مجمل بيان وى نو دغه فعل به لازم وى، لهذا دلته هم رسول الله ﷺ چه کله صفا او مروه ته راورسيدو نو وے فرمايل : [نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهٖ] مونږ په هغه څه شروع کوو چه الله تعالىٰ پرے شروع کړيده. ځکه چه الله تعالىٰ اول په صفا باندے شروع کړيده. او په روايت د نسائئ کښے په صيغه د امر (اِبْدَؤُوْا) (شروع وکړئ) سره راغلے دے. مګر هغه روايت غير محفوظ دے.

۲- **دليل** : رسول الله ﷺ صفا او مروه کښے سعى وکړه او بيا ئے وفرمايل : [لِتَأْخُذُوْا عَنِّيْ مَنَاسِكَكُمْ] ما نه کارونه د حج واخلئ (زدهٔ کړئ). نو هر هغه څه چه رسول الله ﷺ په خپل حج کښے کړى وى د هغے کول په حج کښے لازم دى مګر هغه چه په دليل سره وتلى وى. ۳- دليل : دا حديث الباب دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

٤- دلیل : عائشه رضی الله عنها فرمائی : [مَا أَتَمَّ اللّٰهُ حَجَّ امْرِئٍ وَلَا عُمْرَتَهُ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ] [بخاری : ۱۷۹۰، مسلم : ۳۱۳۸] . الله تعالیٰ د هغه چا چه حج او عمره نهٔ پوره کوی چه د صفا او مروه ترمینځ سعی ونکړی۔

همدا قول راجح دے، ددے وجه نه چا چه د صفا او مروه سعی پریخوده تردے چه خپلو ښارونو ته واپس شو نو هغهٔ باندے لازم دی چه بیرته به مکے ته راځی او سعی به کوی او فدیه ددے په ځائے نهٔ کافی کیږی، او دا قول د جمهورو دے، او د عائشے رضی الله عنها او عروهؒ او مالك بن انسؒ او شافعیؒ او اسحاقؒ او ابوثورؒ او یو روایت د احمدؒ نه دے۔ [طرح التثریب (۱۰۷/۵) والكافی لابن عبد البر ۳۵۹/۱].

درجة الحديث : [حسن : الشافعی فی الأم (۲۱۰/۲، ۲۱۱ واحمد (۴۲۱/۶) وابن خزيمة فی صحيحه والحاكم (۱۰/٤) وقال الحافظ فی فتح الباری (۵۸۲/۳) فيه عبد الله بن المؤمل فيه ضعف آه، وحديثه منكر وقال ابو حاتم ليس بقوی (وله طريق اذا انضم اليها قوی) روضة المحدثين (۱۸۵/۲ رقم (٦٨٥)]

2583 (23) - وَعَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمَّارٍ رضی الله عنه قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلٰى بَعِيْرٍ لَا ضَرْبَ وَلَا طَرْدَ وَلَا إِلَيْكَ إِلَيْكَ . رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: او قدامه بن عبد الله بن عمار رضی الله عنه فرمائی : ما رسول الله ﷺ ولیدو چه د صفا او مروه ترمینځ ئے په اُوښ باندے سعی کوله، او (په هغه وخت) نهٔ وهل وو او نهٔ شړل او نهٔ وړاندے شه، بچ شه وو۔ (بغویؒ : شرح السنه)

تشریح : قدامه بن عبد الله بن عمار بن معاویه العامری الکلابی رضی الله عنه کنیه ئے ابو عبد الله ده، دا صحابی دے چه کم حدیثونه ترے نقل دی۔ وئیلے شویدی چه پخوا ئے اسلام راوړیدے او په مکه کښے وسیدو او هجرت ئے نهٔ وو کړے۔ او د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کښے ملاؤ شو، او بیا په نجد کښے په بانده کښے د یو کوهی په غاړه اُوسیدو۔ وَلَا طَرْدَ : یعنی شړل نهٔ وو۔

وَلَا إِلَيْكَ إِلَيْكَ : دا اسم فعل دے په معنیٰ د [تَنَحَّ تَنَحَّ عَنِ الطَّرِيْقِ] (لرے شه، لرے شه د لارے نه) مطلب دا دے چه کله به رسول الله ﷺ په اُوښ باندے سور شو او سعی به ئے کوله نو د خپلے لارے د صفا کولو دپاره او د خپل شان ښکاره کولو دپاره به ئے نهٔ څوك

Maktaba Tul Ishaat.com

وهل او نۀ به ئے چا ته ديکه ورکوله او نۀ به ئے په لاس وغيره سره خلك اخوا ديخوا كول او نۀ به ئے داسے وئيل چه اخوا شئ، لرے شئ، مخه پريدئ، لکه څنګه چه مشران او اميران او مغروره خلك داسے كار كوى، نو په دے كښے د هغوى په دے حركت باندے رد كول او هغوى ته غيرت وركول مقصود دى. او تعليم د تواضع دے، او په حج كښے ټول خلق يو شان دى، امير او غريب كښے فرق نشته.

درجة الحديث : [اسناده حسن: اخرجه البيهقي في الكبرى (۱۰۱/۵)، عن ثقتين والظاهر انه صحيح، (الباني) والبغوي في شرح السنة (۱٤۲/۷) رقم (۱۹۲۲) تخريج مشكاة المصابيح لابن حجر : حسن]

2584 (24) – وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ مُضْطَبِعًا بِبُرْدٍ أَخْضَرَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه: او يعلى بن اميه ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ د بيت الله نه په داسے حال كښے طواف وكړو چه شين څادر سره ئے اضطباع كړے وه (يعنى ښى ترخ لاندے ئے د څادر يو طرف تير كړو او ګسه اوګه ئے پټه كړے وه). (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح : يعلى بن اميه بن ابى عبيده ﷺ مشهور صحابى دے، تعارف ئے مخكښے ذكر شويدے. بِبُرْدٍ : نه مراد يمنى څادر وو چه په هغے كښے شنے كرخے وے.

مُضْطَبِعًا : دا د اضطباع نه دے، او اضطباع د ضبع نه دے، مټ ته وائى، او په دے كښے هم يو مټ او اوګه ښكاره كول وى. اوله اضطباع په عمرة القضاء كښے شوے وه دے دپاره چه مشركانو ته خپل قوت وښائى او متے ورته ښكاره كړى، بيا دا كار سنت وګرځيدو.

علامه شوكانیؒ وائى : په دے كښے حكمة دا دے چه په دے سره په مزل كښے په تيز والى باندے مدد ملاويږى.

درجة الحديث : حسن: احمد في المسند: ۲۲۳/٤، ۲۲٤، والدارمي (٤٤۳/۲، ٤٤٤)، وابوداود (۱۸۸۳) والترمذي (۸۵۹) وقال حسن صحيح، وابن ماجه (۲۹۵٤).

2585 (25) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ اعْتَمَرُوْا مِنَ الْجِعْرَانَةِ فَرَمَلُوْا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا وَجَعَلُوْا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ ثُمَّ قَذَفُوْهَا عَلَى عَوَاتِقِهِمُ الْيُسْرٰى. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګرو د جعرانے نه عمره وکړه نو د بيت الله نه په درے ګردشونو کښے ئے پهلواني وکړه او هغوی خپل څادرونه د اُوګو نه لاندے اچولی وو بيا ئے په خپلو ګسو (چپو) اُوګو باندے اچولی وو۔ (ابو داودؒ)

تشريح : اضطباع په ټول طواف کښے سنت دے، او رمل يعنی پهلوانی کول د طواف په اولنو درے ګردشونو کښے وی، او اضطباع صرف په طواف کښے وی، د طواف نه بهر اضطباع کول بدعت دے، او د احرام په جامو کښے اضطباع ده، نهٔ په ټولو طوافونو کښے کوم چه په خپلو ګنډلے شوے وو جامو کښے کيږی، او اضطباع خاصکر په حالت د مانځه کښے ګناه ده، ځکه چه په مانځه کښے دواړه اُوګے پټول لازم دی۔ او پدے حديث کښے د اضطباع طريقه ذکر شويده۔

درجة الحديث : [اسناده جيد- صحيح على شرط مسلم] : احمد (۱/ ۳۰٦، ۳۷۱) ابوداود (۱۸۸۳) والبيهقی فی الكبرى (۷۹/۵) ۔ ارواء الغليل (۱۰۹٤)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2586 (26) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : مَا تَرَكْنَا اسْتِلَامَ هٰذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ : الْيَمَانِيِّ وَالْحَجَرِ فِي شِدَّةٍ وَلَا رَخَاءٍ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُمَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : مونږ ددے دوه رکنينو يعنی رکن يمانی او حجر اسود استلام نهٔ په سختئ (ګنړه) او نهٔ په نرمئ کښے پريخودے، کله نه چه ما رسول الله ﷺ ليدلے چه د دواړو استلام به ئے کولو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : شِدَّةٍ : نه مراد ګنړه ګونړه او رخاء نه مراد خالی والے دے۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : چه عبد الله بن عمر ﷺ به ګنړه ګونړه د استلام د پريخودو دپاره عذر نهٔ ګنړلو، انتهیٰ۔ بل پدے وجه چه د نيکئ او د حجر اسود سره ئے ډيره مينه وه۔ او پدے کښے د ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ د سنتو سره سخته تابعداری ذکر ده۔ دارنګه دا تپوس نهٔ کوی چه دا کار فرض دے يا واجب يا سنت بلکه نبی يو کار کړے نو کول ئے پکار دی۔ د حجر اسود استلام لاس لړول او خکلول دواړو ته شامل دے۔

2587 (27) – وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: قَالَ نَافِعٌ : رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهٗ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَ : مَا تَرَكْتُهُ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او په يو روايت د بخاري او مسلم کښې دي : نافعؒ وائي : ما عبد الله بن عمر ﷺ وليدو چه په خپل لاس سره ئې د حجر اسود استلام کولو بيا به ئې خپل لاس ښکل کړو او ويې فرمايل : ما دا نۀ دې پريخودې کله نه چه ما رسول الله ﷺ ليدلې چه داسې به ئې کول۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهُ : کيدې شي چه دا کار عبد الله بن عمر ﷺ په سختۀ گڼړه کښې کړې وي چه حجر اسود ته ئې صرف لاس رسولې دې، او بيا ئې هغه ښکل کړيدې، يا د رسول الله ﷺ د تابعدارئ په نيت ئې داسې کړيدي، لکه دلته د (يَفْعَلُهُ) ضمير دغه خاص طريقې سره استلام کولو ته راجع دې۔ يعني رسول الله ﷺ داسې طريقې سره د حجر اسود استلام کړيدې پدې وجه ئې زۀ نۀ پريدم۔ يا ضمير مطلق استلام ته راجع دې۔ دويم قول ډير ظاهر دې۔

2588 (28) — وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: شَكَوْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّيْ اَشْتَكِيْ . فَقَالَ : "طُوْفِيْ مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ " فَطُفْتُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِ (الطُّوْرِ وَكِتَابٍ مَسْطُوْرٍ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام سلمه ﷺ فرمائي : ما رسول الله ﷺ ته شکايت وکړو چه زۀ بيماره يم نو هغۀ وفرمايل : تۀ د خلکو نه شا ته په سورلئ باندې طواف کوه، نو ما طواف کوو او رسول الله ﷺ د بيت الله خوا کښې مونځ کولو، او سورت (و الطور وکتاب مسطور) ئې (په مانځه کښې) لوستلو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : فوائد الحديث : ۱- دا حديث دليل دې چه په سورلئ باندې طواف صحيح کيږي کله چه د عذر د وجه نه وي، او ددې په حکم کښې هغه شخص دې چه په اوګو باندې پورته کړې شوې وي۔ ۲- وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ: يعني په اوښه باندې په سورلئ طواف وکړه۔ په روايت د بخاريؒ کښې دي : ام سلمه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په مکه کښې وو او اراده د وتلو ئې وکړه (چه مدينې ته روان شي) او ام سلمې طواف نۀ وو کړې، او اراده د وتلو ئې وه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : کله چه د سهار مونځ دپاره اقامت وشي نو تۀ په خپل اوښ باندې طواف وکړه او خلك به مونځ کوي۔ نو هغې

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې وكړل، بيا هغه د مونځ كولو نه مخكښې ووتله. (بخاري : ۱۶۲۶)
ددې روايت نه معلومه شوه چه دا قصه د طوافِ وداع (طوافِ رخصت) په باره كښې وه.
إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ : يعنې رسول الله ﷺ خلكو ته مونځ وركولو، دې نه معلومه شوه چه خلك د كعبې نه گير چاپيره ولاړ وو، او ام سلمه رضي الله عنها ددې خلكو نه وړاندې طواف كولو. يعنې شا طرف ته.
۳- او دې نه دا هم معلومه شوه چه مسجد ته د ضرورت په وجه اُوښ وغيره سورلى داخلول جائز دى. بعضو وئيلي دى چه د رسول الله ﷺ اُوښه د مسجد د ككړ كولو نه محفوظ وه، او كيدې شي چه د اُم سلمې رضي الله عنها اُوښ هم دغه شان وو. ليكن دا خبره هسې گمان دې، حقيقت نۀ لري.
بعض علماؤ ددې نه دا دليل نيولې دې چه بول د هغه حيوان چه د هغې غوښه خوړلې كيږي طاهر دى، ځكه چه دلته د رسول الله ﷺ په اجازت سره اُوښ مسجد ته راننويستې شويدې، او ښكاره خبره ده چه اُوښ غير مكلف حيوان دې، احتمال شته چه مسجد گنده كړي، مگر بيا هم شريعت اجازه وركړه، اشاره ده چه مسجد پدې سره نۀ گنده كيږي. حافظ ابن حجرؒ فرمائي : پدې باب كښې خبره د مسجد د ككړ كولو سره تعلق لري، كه يو ځائې كښې د مسجد د ككړ كولو يره وي نو داخلول ئې صحيح نۀ دى.
او بعضو وئيلي دى چه كه مسجد كښې يو اُوښ بول وكړي بيا هم مسجد د هغې نه صفا كول لازم دى، برابره ده چه نجس وي او كه طاهر خو دا شې مستقذر دې. (نوويؒ)
مگر علامه شوكانيؒ وئيلي دى چه پدې حديث باندې د مأكول اللحم حيوان د بولو د طهارت دپاره استدلال كول مردود دى، ځكه چه په هغه زمانه كښې مسجد ته ديوال نۀ وو شوې، نو دا اُوښ د مسجد د حدودو نه بهر وو. هان د ماكول اللحم د بول په باره كښې تحقيق ددې كتاب په دويم جلد كښې تفصيلاً تير شويدې.
۵- دې حديث نه دا دليل نيولې شويدې چه په فرضو كښې په هر شخص باندې جماعت فرض عين نۀ دې، مگر دا استدلال ضعيف دې، ځكه چه كيدې شي چه ام سلمه رضي الله عنها بيماره وه نو هغه معذوره ده لكه دې حديث كښې د هغې د بيمارئ خبره ذكر ده. دارنگه زنانه باندې د جَمعې مونځ فرض نۀ دې. (فتح الباري)
۶- يَقْرَأُ بِ الطُّوْرِ : ظاهر دا ده چه رسول الله ﷺ ټول سورت لوستلې دې، لكه چه دا د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ عادتِ مبارکه وو۔ ۷- کله چه د طواف په دوران کښې د جُمعې دپاره اقامت وشي نو دے وخت کښې به فرض مانځه ته ودرېږي او طواف به بند کړي، او دا قول د ابن عمر ﷺ، سالم ﷺ، عطاءٓ، شافعیؒ، ابو ثورؒ، او اصحاب الرأی دے، او دا شان خبره په سعی کښې ددے علماؤ نه نقل ده۔

امام مالكؒ پدے کښې اختلاف کړیدے، هغه وائي چه طواف به پوره کوي او د مانځه د وجه نه به ئے نهٔ قطع کوي، البته که د وخت د فوت کیدو نه یره وه نو بیا طواف قطع کولے شي۔ اول قول ډیر صحیح دے۔

۸- عبد الله بن عمر ﷺ د طواف په دوران کښې درے گردشونه وکړل بیا ئے دمه وکړه او بیا ئے د همغه ځائے نه شروع وکړه۔ نو بیرته حجر اسود نه شروع ضروری نهٔ ده۔

جمیل بن زیدؒ فرمائي: ما عبد الله بن عمر ﷺ ولیدو چه درے گردشونه ئے وکړل بیا د استراحت دپاره کیناستو ...... بیا پاڅیدو او په تیر شوی گردشونو باندے ئے بناء وکړه (یعني د سر نه ئے طواف شروع نکړو) [رواه ابن ابی شیبة رقم (۱٤۹۷۰) وعبد الرزاق (۵/۵٦) والفاكهي (۱/۲۸۸) وسنده حسن.

ابن عمر ﷺ د صفا او مروه ترمینځ سعی قطع کړه بیا ئے چه د کوم ځائے نه قطع کړے وه د هغه ځائے نه بناء وکړه۔ الفاكهي (۲/۲۲۳) وسنده صحيح.

بل روایت دے: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهُ طَافَ ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ ثُمَّ ذَهَبَ فَقَضٰى حَاجَتَهُ ثُمَّ رَجَعَ فَبَنٰى (أخرجه الفاكهي ۱/۲۷٤) وإسناده صحيح.

عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنهما درے گردشونه د طواف وکړل بیا لاړو خپل قضائے حاجت ئے وکړو بیا راغلو او د همغه ځائے نه ئے طواف شروع کړو۔

2589 (29) - وَعَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: رَأَيْتُ عُمَرَ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ وَيَقُوْلُ: وَإِنِّي لَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تَنْفَعُ وَلَا تَضُرُّ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ مَا قَبَّلْتُكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عابس بن ربیعهؒ فرمائي: ما عمر فاروق ﷺ ولیدو چه حجر اسود ئے ښکل کړو او وے فرمایل: یقیناً چه زهٔ پو هیږم چه تهٔ یو کاڼړے ئے، نهٔ چا ته نفع ورکولے شے او نهٔ ضرر او که ما رسول الله ﷺ نهٔ وے لیدلے چه تهٔ ئے ښکل کړے نو ما به نهٔ وے ښکل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : عابس بن ربیعه النخعی الکوفیؒ، د کبار تابعینو نه ثقه مخضرم تابعیؒ دے، د عمر فاروق او علی او حذیفه او عائشه رضی الله عنهم نه ئے نقل کړے، او دا هغه عابس بن ربیعه الغطیفی ﷺ صحابی نهٔ دے کوم چه د مصر فتح ته حاضر شویدے۔

إِنِّيْ لَأَعْلَمُ أَنَّكَ : دا خطاب حجر اسود ته کوی لیکن هغه د خطاب اهل نهٔ دے، نو دا قانون دے چه کله په خطاب کښے مقصد حاضرین وی، خلکو ته دا آوره وی چه دے کانړی کښے ذاتی څه د نفع او نقصان رسولو اثر نشته لیکن مونږ چه دا خکلوو نو د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ په وجه، او په هغے کښے ثواب دے، که چرے دا رسول الله ﷺ نهٔ وے ښکل کړے نو مونږ به نهٔ ښکلولے، مؤمن به هر کار د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ د وجه نه کوی، نو پدے کښے رد دے په هغه خلکو باندے چه د اولیاؤ د قبرونو کانړی ښکلوی او بیا اهل توحید ته وائی چه تاسو حجر اسود (کانړے) ولے ښکلویٔ ؟۔ مونږ ورته وایو چه د حجر اسود ښکلول د رسول الله ﷺ او د الله تعالیٰ په امر سره دی او د قبرونو کانړی ښکلول او د هغے تعظیم کول اسلام حرام کړیدی، او په عباداتو کښے قیاسونه نهٔ چلیږی۔ او د هیڅ صحابی نه نهٔ دی ثابت چه هغوی د رسول الله ﷺ قبر ښکل کړے وی۔

حافظ ابن جریر الطبریؒ فرمائی : عمر فاروق ﷺ دا خبره پدے وجه وکړه چه خلك نوی مسلمانان وو او د بتانو د عبادت موده ئے نزدے تیره شوے وه نو عمر فاروق ﷺ اُویریدو چه جاهلان خلك به دا گمان وکړی چه د حجر اسود ښکلول به هغه شان کار وی لکه چه عربو به کولو (چه د بتانو کانړی به ئے ښکلول) نو عمر فاروق ﷺ اراده وکړه چه خلکو ته دا تعلیم ورکړی چه د حجر اسود په استلام سره مقصد د الله تعالیٰ تعظیم دے او د هغهٔ د نبی په حکم باندے عمل کول دی۔

یعنی هرکله چه د حجر اسود په ښکلولو کښے عقلًا او په حِس سره هیڅ سبب نهٔ ښکاره کیږی نو پدے وجه عقل او رأی او قیاس استعمالول ئے پدے کښے پریخودل او اتباع د سنت ته ئے رجوع وکړه۔ خطابیؒ وائی : د عمر فاروق ﷺ پدے خبره کښے دا علم پروت دے چه د رسول الله ﷺ د سنتو تابعداری کول لازم دی اگرکه د هغے په علت او وجه او سبب او حکمة باندے علم رانشی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

جاهلیت والو به کانړي او بتان ښکلول پدې غرض چه دا مونږ الله تعالیٰ ته نزدې کوي، نو عمر فاروق ﷛ اشاره وکړه چه دا عقیده غلطه ده، پدې کاڼو کښې ذاتي هیڅ نفع او نقصان نشته، بلکه د حجر اسود ښکلول د جاهلیت د کار سراسر خلاف دې، دا د الله تعالیٰ په امر سره ښکلولې شي۔ او ددې نه دا هم ثابته شوه چه عبادت د هغه چا پکار دې چه د هر قسم ضرر او نفع اختیار مند وي او هغه صرف الله تعالیٰ دې۔

او دا هم معلومه شوه چه بادشاه او عالم چه کله په یو مقام کښې د هغهٔ د فعل نه خلك غلطه عقیده جوړه وي نو د هغې بیان ضروري دې۔

او معلومه شوه چه د کوم شي د ښکلولو اجازه چه شریعت نهٔ وي ورکړې نو د هغې ښکلول به غلط وي۔

2590 (30) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :"وُكِّلَ بِهِ سَبْعُوْنَ مَلَكًا " يَعْنِي الرُّكْنَ الْيَمَانِيَّ " فَمَنْ قَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالُوْا : آمِيْنَ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او ابو هریره ﷛ فرمائي : نبي کریم ﷺ فرمایلي : په هغې یعني په حجر اسود باندې اویا ملائك مقرر کړې شویدي، نو چا چه وویل : اللهم انی الخ ترجمه : اې الله ! زهٔ تا نه په دنیا او آخرت کښې معافي او عافیت غواړم، اې ربه زمونږ! مونږ ته په دنیا کښې ښائسته ژوند راکړه او په آخرت کښې ښائسته ژوند راکړه، او مونږ د اُور د عذاب نه وساته۔ نو ملائك وائي : آمین۔ (اې الله ! دا دعاء قبوله کړه) (ابن ماجة)

تشریح : وُكِّلَ بِهِ : یعني د رکن یماني په خوا کښې چه څوك دعا کوي هلته کښې مقرر ملائك په هغې باندې آمین وائي۔

بیا هر کله چه د رکن یماني دا فضیلت دې نو د حجر اسود فضیلت خو به ددې نه هم زیات وي، لیکن دا هم کیدې شي چه دا فضیلت او امتیاز صرف د رکن یماني پورې خاص وي او د حجر اسود دپاره د الله تعالیٰ په نیز ددې نه زیات فضیلتونه او خصوصیات وي۔ الْعَفْوَ : [اَیْ عَنِ الذُّنُوْبِ] یعني معافي د ګناهونو۔

وَالْعَافِيَةَ : [عَنِ الْعُيُوْبِ] یعني روغ والې او بچاؤ د عیبونو نه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالُوا : آمِينَ: او د ملائکو د دعاء د قبلیدو امید کیدے شی۔

روأه ابن ماجه : دا او راتلونکے دواړه یو حدیث دے چه ابن ماجه راوړیدے لیکن مصنف دواړه جدا جدا کړیدی۔

درجة الحديث : [ضعيف] ابن ماجه (۲۹۵۷) فيه اسماعيل بن عياش وهشام بن عمار وهما ضعيفان، الدراري المضية للشوكاني (۱۹۳)

2591 (31) - وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِ : سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مُحِيَتُ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ . وَمَنْ طَافَ فَتَكَلَّمَ وَهُوَ فِي تِلْكَ الْحَالِ خَاضَ فِي الرَّحْمَةِ بِرِجْلَيْهِ كَخَائِضِ الْمَاءِ بِرِجْلَيْهِ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه يقيناً نبی کريم ﷺ وفرمايل : چا چه د بيت الله نه اُوه گردشونه وکړل او خبرے نۀ کوی مگر د : سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله. نو دده به لس گناهونه معاف شی او دۀ له به لس نيکئ وليکلے شی، او دۀ له به لس درجات پورته کړے شی. او څوك چه طواف وکړی او پدے (طواف کولو) حالت کښے خبرے وکړی (په نورو اذکارو) نو هغه به د دواړو خپو سره د رحمت په درياب کښے داسے داخل شی لکه په دواړو خپو سره اُوبو ته داخليدونکے شخص. (ابن ماجهؒ)

تشريح : سَبْعًا : يعنی اُوه گردشونه. مطلب دا دے چه څوك د طواف په حالت کښے تسبيح او تکبير او تهليل وغيره کښے مشغول وی نو د هغۀ گناهونه به معاف شی او نيکيانے به ئے زياتے شی او درجات به ئے پورته شی.

فَتَكَلَّمَ : د کلام نه مراد تسبيح او تکبير وغيره پورته ذکر شوی کلماتو نه علاوه نور قسم اذکار دی.

درجة الحديث : [ضعيف : اخرجه ابن ماجه (۲۹۵۸) ضعيف الجامع الصغير (۵٦۸۳] وفيه هشام بن عمار واسماعيل بن عياش وهو ضعيف فی غير الشاميين)

Maktaba Tul Ishaat.com

٤- باب الوقوف بعرفة

په عرفات کښې د وقوف بيان

د وقوف نه مراد په عرفات کښې حاضريدل او ايساريدل او وخت تيرول دی۔ عرفات د مسجد حرام نه تقريباً (۲۵) کيلو ميټره فاصله کښې دے، دا يو فراخه ميدان دے چه درے طرفونو نه په غرونو کښې راګير دے، په مينځ کښې ددے شمالي جانب ته جبل الرحمة دے۔ د عرفات په وجه د تسميه کښې مختلف اقوال دی: څينی وائی چه آدم عليه السلام او حواء عليها السلام چه کله د جنت نه راکوز شول او دے دنيا ته راغلل نو هغوی دواړه اول پدے ځائے کښې يو بل سره ملاؤ شول۔ پدے وجه دے ته عرفه نوم ورکړے شو، ځکه چه عرفه معنیٰ ده پيژندل۔

او دے ځائے ته عرفه هم وائی او عرفات (په لفظ د جمع سره) هم وائی، په اعتبار د مختلفو ځايونو ددے سره۔ څينی وائی چه هرکله چه جبريل عليه السلام ابراهيم عليه السلام ته پدے مقام کښې د حج د افعالو تعليم ورکولو نو هغهٔ به پدے وخت کښې د هغهٔ نه تپوس کولو چه عَرَفْتَ (يعنی ما چه کوم تعليم درکړو آيا تا وپيژندو؟) ابراهيم عليه السلام به په جواب کښې وئيل: عَرَفْتُ۔ (آؤ ما وپيژندل) ددے دواړو په سوال او جواب کښې ددے کلمې د استعماليدو په وجه دے ته عرفات نوم ورکړے شو۔ او يا عرفه اُوچت ځائے ته وائی، دا هم د حرم په نسبت اُوچت ځائے دے۔ او دا هم کيدے شی چه دا اسم جامد دے، هيڅ وجه د تسميه ئے نشته او دا مستقل اسم دے۔

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

2592 (1) – عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الثَّقَفِيِّ أَنَّهُ سَأَلَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَهُمَا غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَةَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ فِي هٰذَا الْيَوْمِ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ.. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او محمد بن ابى بكر ثقفىؒ په باره كښې نقل شوى چه دهٔ د انس بن مالك ﷺ نه تپوس وكړو په داسې حال كښې چه دواړه د منىٰ نه عرفات ته روان وو، چه تاسو به د رسول الله ﷺ سره پدې ورځ (د عرفه) څه كول؟ هغهٔ وفرمايل: زمونږ نه به لبيك ويونكى لبيك وئيلو نو هغهٔ باندې به انكار نشو كيدې، او زمونږ نه به تكبير ويونكى تكبير وئيلو نو په هغهٔ باندې به (هم) انكار نشو كيدې۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح: محمد بن ابى بكر بن عوف بن رباح ثقفى (د ثقيف قبيلې نه) حجازى ثقه تابعىؒ دې۔ غَادِيَان : د غَدَا يَغْدُوْ غُدُوًّا نه دې، سهار وخت كښې تللو ته وائى۔

اَلْمُهِلُّ : يعنى چا به تلبيه وئيله او چا به تكبيرونه وئيل، او هيچا به پرې انكار نكولو يعنى دواړه جائز دى، البته په روايت د ابن مسعود ﷺ كښې احمدؒ، ابن ابى شيبهؒ او طحاوىؒ نقل كړيدى چه رسول الله ﷺ به تلبيه نهٔ پريخوده تردې چه جمره عقبه ئې اُوويشته مگر دا چه د هغې سره به ئې تكبير هم يو ځائے كولو۔

امام نووىؒ وائى: ددې حديث نه دا معلومه شوه چه د مِنىٰ نه عرفات ته په تللو كښې د عرفې په ورځ تلبيه او تكبير دواړه وئيل مستحب دى البته تلبيه زياته بهتره ده۔

فَلَا يُنْكِرُ عَلَيْهِ : دا صيغه د معلوم ده (د كاف زير دې) په دواړو ځايونو كښې، او ضمير رسول الله ﷺ ته راجع دې۔ يعنى رسول الله ﷺ به پرې انكار نهٔ كولو۔ (عينىؒ)

او حافظؒ وئيلى دى چه دا په صيغه د مجهول سره ده، (د كاف زبر دې) يعنى انكار به پرې نشو كيدې د هيچا د طرف نه، يعنى هيچا پرې انكار نهٔ كولو۔ نو ددې نه د رسول الله ﷺ تقرير او د صحابه كرامو ﷺ سكوتى اجماع معلومه شوه۔

2593 (2) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ :" نَحَرْتُ هٰهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ فَانْحَرُوْا فِىْ رِحَالِكُمْ. وَوَقَفْتُ هٰهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ. وَوَقَفْتُ هٰهُنَا وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او جابر ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ وفرمايل: ما دلته قربانى وكړه او مِنىٰ ټوله د قربانۍ ځائے دې، نو تاسو په خپلو ځايونو كښې قربانى وكړئ، او ما دلته وقوف وكړو او عرفه ټول د وقوف ځائے دې، او ما دلته قيام وكړو مگر مزدلفه ټوله د وقوف ځائے دې۔ (مسلمؒ)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : هٰهُنَا : يعني په منىٰ كښې يو خاص ځائے ته ئې اشاره وكړه، كوم ځائے ئې چه خپله نحر وكړو۔

وَمِنًى : د مِنىٰ حد د مشرقي اړخ نه وادي مُحَسِّر، مغربي اړخ نه جمرة العقبه، او د جنوبي او شمالي اړخ نه دوه اوږدۀ غرونه دي، ددے غرونو مخامخ طرفونه د مِنىٰ برخه ده او روستني اړخونه ئې د مِنىٰ نه بهر دي۔ مِنىٰ ته مِنىٰ ځكه وائي چه ددے معنىٰ ده تويدل او په دے كښې هم د قربانيو ډيرے زياتے وينے بهيږي۔

رِحَالِكُمْ : جمع د رَحل ده، د ډيرے اچولو ځائے، چرته چه د اوښ پالانونه پراتۀ وي۔ او رحل منزل او كور ته وائي برابره ده چه د كاڼو نه وي يا د ختو يا د ويښتو يا د وړئ نه۔

وَجَمْعٌ : جَمع مزدلفے ته وائي، دا ځكه چه دلته په جاهليت او اسلام دواړو كښې د خلكو اجتماع وه۔ يا ځينے وائي: آسمان نه راكوزيدو نه پس د آدم او حواء عليهما السلام دواړو ملاقات دلته شوے وو۔ ځينے وائي : جمع ورته ځكه وائي چه دلته دوه مونځونه جمع كيږي۔ والله اعلم۔ د مزدلفے او مِنىٰ ترمينځه حدِ فاصل وادي مُحسَّر دے لكه څنګه چه د مزدلفے او عرفات ترمينځه حدِ فاصل نَمِرَه ده۔

مطلب دا دے چه ما خو دلته قرباني وكړه مګر ددے ځائے تابعداري لازم نۀ ده بلكه په منىٰ كښې چه څوك په هر ځائے كښې خيمه كښے وي يا ئے بل ځائے پړاؤ اچولے وي هلته قرباني كولے شي۔

وَوَقَفْتُ هٰهُنَا : يعني په عرفات كښې صخراتو (كاڼو) ته نزدے۔

فوائد الحديث : (۱) حديث نه معلومه شوه چه نبي كريم ﷺ د مِنىٰ په يو خاص ځائے كښې هدايا قرباني كړے خو خلكو ته ئې دا بيان وكړو چه د مِنىٰ ټوله علاقه د قربانئ ځائے دے۔ بلكه ټول حرم د قربانئ ځائے دے، برابره خبره ده كه مِنىٰ وي يا مزدلفه اويا مكه وي، ځكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ [الحج: ۳۳] د البيت العتيق نه مراد ټول حرم دے۔ او په حديث كښې دي : [وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيْقٌ وَمَنْحَرٌ] ((د مكے ټولے فراخه لارے لارے دي او د حلالے ځايونه دي)) [ابو داود: ۱۹۳۹]

او ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : [مَنَاحِرُ الْبُدْنِ بِمَكَّةَ وَلٰكِنَّهَا نُزِّهَتْ عَنِ الدِّمَاءِ وَمِنًى مِنْ مَكَّةَ] ((د اوښانو د حلالے ځايونه مكه ده خو دا د وينو نه پاكه كړے شوے ده، او مِنىٰ هم د مكے برخه ده)) [بيهقي: ۲۳۹/۵، رقم: ۱۰۵۲۹ بسند صحيح]

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې نه معلومه شوه چه په عرفات یا بل ځائے کښې به قربانی نۀ کوی۔ ځکه دا د حرم د حدودو نه بهر علاقه ده۔

البتـه که په چا باندې د احرام د ممنوعاتو د ارتکاب په وجه دَم لازم شوې وی، نو که په حـرم کښې دننه وی نو چرته چه لازم شوې وی هلته به قربانی کولے شی۔ او که د حرم نه بهر وی نو چرته ئې چه د دغه ممنوع فعل ارتکاب کړې وی هلته به ئې ذبح کوی۔ او په حرم کښې ئې هم ذبح کول جائز دی۔

(۲) دغـه شـان نبی کـریم ﷺ د عرفات په یو خاص ځائے کښې وقوف وکړو، خو خلکو تـه ئې وفـرمـایـل چـه د عـرفات په هر یو ځائے کښې وقوف درست دې۔ خو که د نبي کریم ﷺ په دغه خاص ځائے کښې وقوف کول آسان وی نو بهتره به وی۔

(۳) دارنګـه پـه مـزدلـفـه کښـې پـه یـو خاص ځائے کښې ایسار شو خو خلکو ته ئې بیان وفـرمـایـۀ چـه مـزدلفه ټوله د وقوف ځائے دې۔ دلته هم د نبی کریم ﷺ د وقوف په ځائے کښې وقوف کول بهتر دی خو په دې شرط چه آسان وی۔

(٤) پـه دې بیـان کښـې خـلـکو ته یُسر او آسانی ورکول غرض دې ځکه که ټول خلك د نبـی کریم ﷺ د وقوف د خاص ځائے اهتمام وکړی نو په دې کښې ډیر زیات تکلیف دې ولې چـه په لکهونو خلك چرته په یو خاص ځائے کښې وقوف کولے شی! ددې بیان کولو نـه دا فـائـده معلومه شوه چه په مِنیٰ کښې په هر یو ځائے کښې څوك ذبح وکړی نو دۀ ته بـه د سنت طریقې مکمل ثواب ملاویږی، او دغه شان په مزدلفه او عرفات کښې د وقوف مکمل ثواب به ورته ملاویږی۔

2594 (3) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُّعْتِقَ اللّٰهُ فِيْهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُوْ ثُمَّ يُبَاهِيْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُوْلُ : مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ ؟". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فـرمـائی : یقیناً رسول الله ﷺ وفرمایل : نشته داسې یوه ورځ چه په هغې کښې الله تعالیٰ بنده لره د عرفې د ورځې نه زیات د اُور نه آزادوی (یعنی د عرفې پـه ورځ پـه عـرفـات کښـې الله تـعـالـیٰ د ټـولو ورځو نه زیات بندګانو ته د اُور نه نجات او خـلاصې ورکوی) او یقیناً الله تعالیٰ (بندګانو ته) رانزدې کیږی بیا په دوئ سره د ملائکو

Maktaba Tul Ishaat.com

مخامخ فخر کوی او فرمائی چه دا خلك څه غواړی ؟ (یعنی دوئ چه څه غواړی زۀ به هغه ورکوم) (مسلمؒ)

تشریح : د الله تعالیٰ په بندګانو د عرفے په ورځ رانزدے کیدل او بیا په ملائکو باندے په حاجیانو سره فخر کولو کښے متأولینو اهل علمو تاویلات کړیدی چه دا د سلف صالحینو د مذهب سره سمون نۀ خوری، د سلف صالحینو مذهب دا دے چه د الله تعالیٰ دُنُوّ (نزدے والے) او په ملائکو باندے فخر حقیقةً الله تعالیٰ لره ثابت دے، او کیفیت ئے نامعلومه دے، څرنګ چه د الله تعالیٰ خوښه وی هغه شان رانزدے کیږی او په ملائکو باندے فخر کوی۔

ددے نه د کرامت او د رحمت او د عزت نزدے والے نۀ دے مراد، دے تاویل ته ضرورت نشته۔

مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ : یعنی دا خلك څه غواړی چه خپل اهل او وطنونه ئے پریخی دی او مالونه ئے لګولی او بدنونه ئے ستړی کړی۔ یعنی دوئ مغفرت او د الله تعالیٰ رضا او هغۀ ته نزدیکت او د هغۀ ملاقات غواړی۔ او څوك چه په داسے طریقه راشی نو هغه د رد کولو لائق نۀ دے۔ یعنی الله به د دوئ دا مقصد ضرور پوره کوی۔

یا مطلب دا دے چه دے خلکو چه کومه اراده کړیده نو هغه به ورته حاصله شی او د دوئ درجات به د دوئ د نیتونو او مرادونو په اندازے سره وی۔

یا مطلب دا دے : [اَیَّ شَیْءٍ اَرَادَ هٰؤُلَاءِ؟ اَیُّ شَیْئًا سَهْلًا یَسِیْرًا عِنْدَنَا] یعنی دا خلك څه غواړی؟ یعنی دا خو زمونږ په نیز آسانه او معمولی خبره ده ځکه چه دا ما ته څه ګرانه ده چه تولو مؤمنانو بندګانو ته بخښه وکړم !۔

فائده : هره شپه الله تعالیٰ آسمان د دنیا ته راکوزیږی۔ لیکن هغه د شپے وی او دا د ورځے راکوزیدل دی۔

سوال : ملائك خو زمونږ نه ډیر عبادت کوی نو څرنګ په هغوی فخر کولے شی په هغه بندګانو چه اصحاب التقصیر دی ؟

جواب دا دے : وجه دا ده چه د بندګانو عبادات د خواهش خلاف دی او د ملائکو خواهش نشته، پدے وجه دا الله تعالیٰ ته زیات محبوب دی۔

فائده : ددے فخر ځان اهل کول پکار دی نۀ دا چه په دغه ورځ نافرمانی کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2595 (4) - عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ خَالٍ لَهٗ يُقَالُ لَهٗ يَزِيْدُ بْنُ شَيْبَانَ قَالَ: كُنَّا فِيْ مَوْقِفٍ لَنَا بِعَرَفَةَ يُبَاعِدُهٗ عَمْرٌو مِنْ مَوْقِفِ الْإِمَامِ جِدًّا فَأَتَانَا ابْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ رضی اللہ عنہ فَقَالَ: إِنِّيْ رَسُوْلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكُمْ يَقُوْلُ لَكُمْ: "**قِفُوْا عَلٰى مَشَاعِرِكُمْ فَإِنَّكُمْ عَلٰى إِرْثٍ مِنْ إِرْثِ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: عمرو بن عبد الله بن صفوانؒ د خپل ماما نه روایت کوی چه هغهٔ ته یزید بن شیبان وئیلے شی، هغه فرمائی: مونږ په عرفات کښې په هغه ځائے کښې وو (کوم چه مونږ له مقرر وو) او عمرو به دغه ځائے د امام د موقف (ځائے د ودریدو) نه لرے بیانولو، (یعنی د امام د ځائے د ودریدو نه وړاندې وو) نو مونږ ته ابن مربع الانصاری رضی اللہ عنہ راغلو وے فرمایل: زهٔ د رسول الله ﷺ تاسو ته استازے یم چه هغه تاسو ته فرمائی: په خپلو مشاعرو (یعنی عبادت ځایونو) باندې ودرېږئ (ایسار شئ) ځکه چه تاسو د خپل پلار ابراهیم علیه السلام په میراث (تابعدارئ) باندې (قائم) یئ۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تعارف د عمرو بن عبد الله بن صفوان بن امیه بن خلف الجُمحی المکی صدوق شریف من التابعین۔ دا ډیر شرافت والا انسان وو۔ دده غلامان وو چه هغوی به تجارتونه کول نو پدې وجه به دهٔ د بزرګئ او سخاوت کارونه کول۔

یزید بن شیبان: دا د اَزد قبیلے نه صحابی دے۔ ابوحاتمؒ وائی: دا د عمرو بن عبد الله بن صفوان ماما دے۔

تشریح: مَوْقِفٍ لَنَا: یعنی ز مونږ د پلارانو او د مشرانو د ودریدو ځائے کښې وو چه هلته به د جاهلیت په دور کښې مشران اُودریدل۔ دویم مطلب دا دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره چه حج کولو نو جدا ځائے کښې مو ځان دپاره موقف نیولے وو، دا معنیٰ ظاهره ده ځکه چه عرفات کښې د یو مکان تخصیص د یوے قبیلے دپاره بعیده ده۔

يُبَاعِدُهٗ: [أَيْ يَجْعَلُهٗ بَعِيْدًا فِيْ وَصْفِهٖ إِيَّاهُ بِالْبُعْدِ] یعنی چه دغه ځائے عمرو بن عبد الله وړاندې وګرځولو یعنی دده صفت ئے وکړو چه دا وړاندې وو د موقف د امام نه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

جِدًّا : دا د يُبَاعِدُهُ سره متعلق دے، يعنى دغه ځائے ئے ډير زيات وړاندے وګرځولو۔

اِبْنُ مِرْبَعٍ : ددے نه مراد زيد بن مربع بن قَيْظِي صحابى دے د بنو حارثه ؤ نه چه په اَوُس قبيلـه كښې يوه قبيله ده۔ بعض وائى : ددهٔ نوم يزيد بن مربع دے، او بعض وائى چه عبد الله بن مربع دے۔ اول قول د اكثرو دے۔ همدا يو حديث ترے نقل دے۔

"قِفُوْا : دا اَمر صيغه ده د وَقَفَ يَقِفُ نه۔

مَشَاعِرِكُمْ : جمع د مَشْعَر دے، دلته ترے ځايونه د قربانئ او عبادت مراد دے۔ هر ځائے د عبـادت تـه مشعـر پـدے وجـه وائى چه دا ځايونه د عبادت دپاره معلوم وى، نو دے كښې معنى د شعور پرته ده چه علم او معلومات ته وائى۔

د حديث مطلب دا دے چه د عرفات په هره حصنه كښې حاجى وقوف وكړى نو هغه به د ابراهيم ﷺ د سنت مُتبع شمارلے كيږى ځكه چه ټول عرفات د وقوف ځائے دے، اګركه خاص د رسول الله ﷺ د ودريدو د ځائے نه وړاندے وى۔

سنديؒ وائى : رسول الله ﷺ پدے خبره باندے ددے وجه نه استازے وليږلو چه د خپلو ملګـروزړهٔ خـوشحـالـه كړى چه هغوى خفه نشى چه مونږ د رسول الله ﷺ د ځائے د ودريـدو نـه جدا يو، او دا په حج كښې نقصان وګڼړى، يا ئےؒ دا خيال راشى چه ګڼے دا ځائے د ودريدو نهٔ دے۔ او پدے كښې په قريشو باندے رد وو چه هغوى به په مزدلفه كښې ودريدل او عرفات تـه بـه نهٔ راتلل او ددے سره ئے د ابراهيم ﷺ د تابعدارئ دعوه كوله۔

درجة الحديث : [صحيح] الشافعي في ترتيب المسند (۱/۳٥٤) رقم (۹۱٥) وابوداود (۱۹۱۹) والترمذى (۸۸۳) وقال حسن صحيح وابن ماجه (۳۰۱۱) والحاكم (۱/٤٦۲) وقال صحيح الاسناد وأقره الذهبي) صحيح ابى داود)

2596 (5) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " **كُلُّ عَرَفَةَ مَوْقِفٌ وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ وَكُلُّ الْمُزْدَلِفَةِ مَوْقِفٌ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيْقٌ وَمَنْحَرٌ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جابر ﷺ نه روايت دے چه بيشكه رسول الله ﷺ وفرمايل : د عرفات هر ځائے د ودريدو ځائے دے، او د منىٰ هر ځائے د قربانئ ځائے دے، او ټوله مزدلفه د ودريدو ځائے دے او ټولے لارے د مكے لاره او د قربانئ ځائے دے۔ (ابوداودؒ، دارمیؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : كُلُّ عَرَفَةَ : یعنی ټول اجزاء او ځایونه د عرفات د حج دپاره د ودریدو ځایونه دي. او په روایت د مالك او ابن ماجهٔ کښې ورسره دا الفاظ دي : [وَارْتَفِعُوْا عَنْ بَطْنِ عُرَنَةَ] یعني د بطن عرنه نه ور پورته شئ.

وَكُلُّ فِجَاجِ : د فاء زیر دے، جمع د فَجٌّ ده، فراخه لارے ته وائی.

طَرِيْقٌ وَمَنْحَرٌ : یعنی مکے ته ددے ټولو لارو نه داخلیدل جائز دی، او قربانی د مکے په هر طرف کښې جائز ده ځکه چه دا د حرم حصه ده. او پدے کښې مقصد فراخی پیدا کول او حَرج ختمول دی، او دا زمونږ د دین سماحت او سَخا ده. (طیبیؒ) او په ټول حرم کښې قربانی جائز ده لیکن په مِنیٰ کښې افضله ده ځکه چه هغه ئے اصلی مرکز دے. او شاید چه د مِنیٰ خاص نوم اخستلو دپاره همدا وجه ده.

درجة الحديث : [اسناده حسن صحيح] : اخرجه احمد (٣/٣٢٦) والدارمی (٢/٥٦- ٥٧) وابوداود (١٩٣٧) وابن ماجه (٣٠٤٨) وفيه اسامة بن زيد الليثي وهو حسن الحديث.

2597 (6) — وَعَنْ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ عَرَفَةَ عَلٰى بَعِيْرٍ قَائِمًا فِي الرِّكَابَيْنِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه : او خالد بن هوذه ﷺ فرمائی : ما رسول الله ﷺ د عرفات په ورځ ولیدو چه په اُوښ باندے ئے د هغے په دواړو رکابونو باندے په ولاړه خلکو ته خطبه وئیله. (ابوداودؒ)

تشریح : خالد بن هوذه. دلته په مشکاة او مصابیح کښې خطائی واقع ده، ځکه چه دا روایت د اَلْعَدَّاء بن خالد بن هوذه ﷺ د مسند نه دے، نهٔ د خالد بن هوذه ﷺ نه. حافظؒ په تقریب کښې وائی چه عَداء او ددهٔ پلار دواړو په یو ځائے اسلام قبول کړیدے، او دواړه صحابه دی، او د سلم (١٠٠) هجری نه روستو وفات شویدے. په "اصابه" کښې وائی چه ددهٔ د پلار سره د حنین نه روستو اسلام قبول کړو. دے د یزید بن المهلب راوتو زمانے پورے روستو شویدے یعنی په یوسل یو یا یوسل دوه (١٠٢) کښې وفات دے. دے د بصرے په اعرابو کښې شمار دے، دے نبی ﷺ ته په وفد کښې راغلے وو، نو رسول الله ﷺ ورته د بنو عامرو یوه چینه ورکړه چه هغے ته ئے رُخیخ وئیله، نو دے به هلته وسیدو، او په رُخیخ کښې دا د وفات په اعتبار سره آخری صحابی دے. او دے په مؤلفة القلوب کښې هم شمار دے او د عداء ﷺ نه رسول الله ﷺ یو غلام یا وینځه په بیعه

Maktaba Tul Ishaat.com

اخستے وه او ددهٔ دپاره ئے پدے ليکل کړی وو۔

عداء ﷺ وائی چه زهٔ د خپل پلار سره راووتم نو ما نبی ﷺ وليدو چه خطبه ئے وئيله، اصمعیؒ وائی چه عداء او د هغهٔ ورور حَرْمَله او د دواړو پلار اسلام راوړو او دا دواړه د خپل قوم سرداران وو۔ او نبی ﷺ خزاعه قبيلے ته ددے دواړو په اسلام باندے زيرے وليږلو۔

فِي الرِّكَابَيْنِ : يعنی د پالان په پاتکو کښے ئے خپے ورکړے وے او د اُوښ دپاسه ناست وو۔ او دا مطلب نهٔ دے چه د اُوښ دپاسه ولاړ وو۔ بلکه د اُوښ دپاسه ناست وو او په پاتکو کښے ولاړ وو۔ فتدبر۔

درجة الحديث : [اسناده صحيح] اخرجه ابو داود (۱۹۱۷) واحمد : ۵/۳۰]

2598 (7) — وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "**خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ قَبْلِي : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

2599 (8) — وَرَوٰى مَالِكٌ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ إِلٰى قَوْلِهٖ :" **لَا شَرِيْكَ لَهٗ** "

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل پلار او هغه د خپل نيکهٔ نه روايت کوی چه بيشکه نبی کريم ﷺ وفرمايل : بهترينه دعاء د عرفے د ورځے دعاء ده او بهترين هغه ذکر چه ما او زما نه مخکنو پيغمبرانو وئيلے (هغه دا دے :) لا اله الا الله وحده : (نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغهٔ نه يواځے دے، هيڅ شريك ورسره نشته، د هغهٔ دپاره بادشاهی ده او هغهٔ دپاره حمدونه دی، او هغه په هر شی باندے قدرت لرونکے دے۔ (ترمذیؒ) او مالك د طلحه بن عبيد الله ﷺ نه تر دے قول : (لا شريك له) پورے روايت کړے۔

تشريح : دُعَاءُ يَوْمِ : دا (دعاء) لفظ يا خو مجرور دے بدل دے د الدعاء نه نو بيا به بدل مبدل مِنْهُ مبتداء شی او (وَخَيْرُ مَا قُلْتُ) به په هغے باندے عطف شی او لا اله الا الله به ئے خبر وی۔ نو دا به ټوله يوه جمله جوړه شی مطلب به دا شی : غوره دعاء چه د عرفے د ورځے دعاء ده او هغه غوره دعاء چه ما او زما نه مخکنو انبياء عليهم السلام وئيلے ده هغه دعاء لا اله الا الله الخ ده۔ او ددے تائيد په روايت د مالك کښے د طلحه ﷺ نه داسے

دے : [أَفْضَلُ الدُّعَاءِ يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَفْضَلُ مَا قُلْتُ الخ] يعنى غوره دعاء د ورځے د عرفے او غوره وينا زما او د نبيانو عليهم السلام پدے ورځ دا دعاء ده۔

يا "خَيْرُ الدعاء" مبتداء ده او "دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ" ئے خبر دے۔ او "خَيْرُ مَا قُلْتُ" بيله مبتداء او "لا اله الا الله" ئے خبر دے۔ نو دا به دوه جملے شی۔ د اوّلے مطلب به دا وی چه غوره دعاء د عرفے د ورځے دعاء ده، نو پدے ورځ باندے هره دعاء بهتره قبليږی۔ او بهتره په دعاګانو کښے هغه چه ما او زما نه مخکښو انبياء عليهم السلام وئيلے ده هغه لا اله الا الله الخ ده۔ او ددے تائيد هم په روايت د موطأ کښے موجود دے۔ راجح دا ده چه دا دوه جملے دی، لکه عطف پرے دليل دے، ليکن دلالة الاقتران وائی چه دا دعاء پدے ورځ ډيره افضله ده۔

درجة الحديث : [صحيح] اخرجه الترمذی (۳۵۸۵) ورواه مالك عن طلحة (۱/۴۲۲) السلسلة الصحيحة (۱۵۰۳)

2600 (9) – وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ كَرِيْزٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيْهِ أَصْغَرُ وَلَا أَدْحَرُ وَلَا أَحْقَرُ وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ فِيْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا يَرٰى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ وَتَجَاوُزِ اللّٰهِ عَنِ الذُّنُوْبِ الْعِظَامِ إِلَّا مَا رُئِيَ يَوْمَ بَدْرٍ** ". فَقِيْلَ : مَا رُئِيَ يَوْمَ بَدْرٍ ؟ قَالَ : " **فَإِنَّهُ قَدْ رَأىٰ جِبْرِيْلَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ** ". رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ بِلَفْظِ الْمَصَابِيْحِ

ترجمه : او طلحه بن عبيد الله بن كريز ﷺ نه روايت دے چه بيشکه رسول الله ﷺ وفرمايل : په هيڅ ورځ شيطان نهٔ دے ليدلے شوے چه په هغے کښے ډير ذليل او رټلے شوے او سپك او ډير غصے والا وی څومره چه په ورځ د عرفے باندے وی، او ددے سبب نهٔ وی مګر دا چه دے د رحمت نازليدل (چه د الله په بندګانو پدے ورځ نازليږی) او د الله د بندګانو د لوی ګناهونو نه تجاوز او درګذر (معاف) کول وينی مګر هغه چه دے د بدر په ورځ ليدلے شوے وو۔ (دغه شان ذليله) نو عرض وکړے شو : د بدر په ورځ څنګه ليدلے شوے وو؟ وے فرمايل : يقيناً شيطان جبريل ﷺ لره وليدو چه د ملائکو فوجونو له ئے (د مشرکانو د مقابلے دپاره) ترتيب ورکولو۔ (يعنی شيطان پدے دواړو ورځو کښے ډير ذليله ليدلے شوے وو) (دا روايت مالك مرسلاً نقل کړے او په شرح السنه کښے د

Maktaba Tul Ishaat.com

مصابيح په الفاظو سره دے)

تشريح: طلحه بن عبيد الله بن كَرِيز خزاعي المدنيؒ دے چه ابو المطرف ئے كنيه ده، د اوساط التابعين نه ثقه راوي دے، په شام كښے په سنه (۱۱۸ ھ) كښے وفات دے۔ او دا مشهور طلحه بن عبيد الله ﷺ صحابي نهٔ دے، لهذا ددهٔ حديث مرسل دے۔

أَصْغَرُ: يعني ډير ذليله او سپك۔

وَلَا أَدْحَرُ: د دَحْرُ نه دے، شړل او د خير نه وړاندے كولو ته وئيلے شي۔ يعني شړلے شوے او د خير نه جدا كړے شوے۔ أَحْقَرُ: يعني بد حاله۔ يا ذليله په خپل زړهٔ كښے۔

لِمَا يَرَىٰ: يعني پدے وجه چه دے پوهيږي او ويني چه د الله تعالىٰ رحمتونه په بندګانو باندے نازليږي۔ يعني ملائك ويني چه هغوي د الله تعالىٰ رحمتونه نازلوي، يا ملائك ددے خلكو تذكره كوي، او د شيطان د غصه كولو دپاره ئے هغهٔ ته آوره وي، نو شيطان دا كار نهٔ خوښوي چه په بندګانو ولے رحم وشي۔

يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ: دا د وَزَعَ يَزَعُ نه دے۔ په اصل كښے يُوْزِعُ دے، د وَزْعُ نه دے په معنىٰ بندولو او منع كولو او صف تړلو سره دے، يعني د ملائكو صفونه ئے تړل چه د صف نه بهر نشي۔ او هغوي ئے د مخكښے روستو كيدو نه منع كول۔ أَيْ يُعَبِّئُهُمْ لِلْقِتَالِ۔ يعني جنګ دپاره ئے تيارول۔ نو شيطان ډير ذليله وو۔

پدے حديث كښے د الله تعالىٰ په ګناهګارو بندګانو باندے د فراخه فضل بيان دے او پدے كښے د بدر د غزا انتهائي فضيلت بيان شويدے۔

درجة الحديث: [ضعيف] اخرجه مالك في الموطأ (۱/۴۲۲) رقم (۲۴۵) وعبد الرزاق في المصنف (۵/۱۷) وقال البيهقي في فضائل الاوقات (۸۱) وابن عبد البر في التمهيد (۱/۱۱۵) مرسل حسن. وضعفه الالباني.

2601 (10) - وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**إِذَا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ إِنَّ اللّٰهَ يَنْزِلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِيْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُوْلُ:** اُنْظُرُوْا إِلَى عِبَادِيْ أَتَوْنِيْ شُعْثًا غُبْرًا ضَاجِّيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ **اُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ** قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَيَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ: **يَا رَبِّ فُلَانٌ كَانَ يَرْهَقُ وَفُلَانٌ وَفُلَانَةٌ** قَالَ: يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: **قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ**". قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **فَمَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ عَتِيْقًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ** ".

Maktaba Tul Ishaat.com

رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هركله چه د عرفې ورځ شي نو الله تعالىٰ نزدې آسمان ته راکوزيږي او په عرفات والو سره په ملائکو باندې فخر کوي وائي : اُوګورئ زما بندګانو ته چه ما ته پراګنده ويښتو والا خړپړ (ګرد آلوده) او په (لبيك او ذکر سره) آواز پورته کونکي د هرې لرې لارې نه راغلي دي. زهٔ تاسو ګواه کوم چه بيشکه ما دوئ ته بخنه وکړه نو ملائك وائي : اې ربه ! (په دوئ کښې) فلانے شخص (هغه دے چه) هغهٔ ته د ګناه نسبت کيږي او فلانے شخص او فلانئ ښځه (چه ګناهګار دی) ؟ نبي ﷺ وفرمايل : الله فرمائي : ما دوئ ته هم بخنه وکړه. رسول الله ﷺ وفرمايل : نو نشته داسې ورځ چه په هغې کښې د اُور نه زيات آزاديدونکي وي د عرفې د ورځې نه. (شرح السنه)

تشريح : إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا : د نزدې آسمان تخصيص ځکه کوي چه زمکې والا دا نزدې آسمان ډير ويني، او ډير نزدې والي ته اشاره ده. فَيُبَاهِيْ بِهِمْ : يعني په عرفات والو باندې فخر کوي. نو عرفات کښې عاجزي انتهائي ښکلې عبادت دے. او د الله تعالىٰ نزدې آسمان ته راکوزيدل حقيقي دي او کيفيت ئې د متشابهاتو نه دے.

اُنْظُرُوْا : يعني د عبرت په نظر وګورئ. شُعْثًا: جمع د اَشعث ده، پراګنده ويښتو والا، غُبْرًا : جمع د اَغْبر ده، خړپړ ته وائي، چه اندامونه ئې دوړو وهلي وي.

ضَاجِّيْنَ : دا د ضَجٌّ نه دے په معنىٰ د آواز پورته کولو سره، يعني په تلبيه باندې آوازونه پورته کوي. او په يوه نسخه د مشکاة کښې ضاحِين لفظ دے، يعني نمر ته مخامخ.

مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ : دا د اَتَوْنِيْ سره متعلق دے، يعني د هرې لرې لارې نه راغلي دي.

كَانَ يُرْهَقُ : [اَيْ يُتَّهَمُ بِالسُّوْءِ] په ګناهونو متهم کيدو. دا مشدد يُرَهَّقُ هم صحيح دے، مُرْهَق هغه انسان ته وائي چه ګناهونو ته ننوزي او جرمونه کوي. رهق ګناهونه کول او د دين کارونه معمولي ګڼړلو ته وئيلے شي (اصمعیؒ) او ملائك دا خبره د غيرت د وجه نه کوي، يا تعجب کوي چه دا جرمونه خو ډير غټ دي، او داسې لويو ګناهونو والا څنګه په بخښلے شوو کسانو کښې داخل کړے شي. مګر دا وجه دومره غوره نهٔ ده، ځکه چه ملائك د الله تعالىٰ نه زيات غيرت والا نهٔ دي.

توربشتيؒ وائي چه د ملائکو دا خبره په طريقه د استعلام ده، يعني د الله تعالىٰ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات کوی چه آیا داسے لوی گناهگار به پدے بخښلے شوو کښے داخلیږی او که نهٔ۔ (نو د خبرے د عام کولو دپاره تپوس کوی او دے دپاره چه بندگانو ته د الله تعالیٰ د رحمت عموم او شمول ښکاره کړی) او دا خبره د اعتراض او الله تعالیٰ ته د خبر ورکولو په طریقه نهٔ ده، آه۔ او همدا وجه غوره ده۔

قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ : یعنی ما دے تولو ته بخنه کړیده او دوئ داسے خلك دے چه د دوئ سره ناست نهٔ بد بخته کیږی۔ او حج مخکنی تول گناهونه معاف کوی۔

عَتِيْقًا : دا تمیيز دے۔ یعنی زیات په اعتبار د آزادیدونکو سره۔

درجة الحديث : [ضعيف لعنعنة ابی الزبير وهو ثقة، ثبت، حافظ، الا انه مدلس (البانی) ولكنه صحيح] اخرجه ابن خزيمة (٢٨٤٠) وابن حبان فی صحيحه (١٠٠٦) والبزار فی المسند (٨٢/٢) رقم (١١٢٨) وابويعلی فی المسند (٦٩/٤-٧٠) رقم (٢٠٩٠) والراجح فی عنعنة ابی الزبير انها مقبولة ما لم يتيقن تدليسه فيها كما فی تاريخ الفسویؒ فالحديث قوی ولهذا صححه ابن خزيمة وابن حبان وغيرهما، ،وقال الالبانی : نعم قد صح من الحديث مباهاة الله ملائكته باهل عرفة وقوله انظروا الی قوله ......شعثا غبرا- صحيح من حديث عائشة، انظر الصحيحة : ٢٥٥١]

الفصل الثالث

2602 (11) - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِيْنَهَا يَقِفُوْنَ بِالْمُزْدَلِفَةِ وَكَانُوْا يُسَمُّوْنَ الْحُمْسَ فَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُوْنَ بِعَرَفَةَ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ أَمَرَ اللّٰهُ تَعَالٰى نَبِيَّهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّأْتِيَ عَرَفَاتٍ فَيَقِفُ بِهَا ثُمَّ يُفِيْضُ مِنْهَا فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ عَزَّ وَجَلَّ : (ثُمَّ أَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائی : قریش او هغه څوك چه د هغوی د دین تابع وو هغوی به په مزدلفه کښے اُودریدل او هغوی ته به حُمس (بهادر/ پهلوانان) وئیلے کیدل او باقی عرب به په عرفات کښے ودریدل نو هرکله چه اسلام راغلو نو الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته امر وکړو چه عرفات ته راشی او هلته اُودریږی بیا د هغے نه راکوز شی نو هغه دا قول د الله تعالیٰ دے : (ثم افيضوا من حيث افاض الناس) بیا راکوز شئ د هغه ځائے نه چه نور خلك راکوزیږی- یعنی عرفات)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : وَمَنْ دَانَ دِيْنَهَا : یعنی څوك چه تابع دی د هغوی د دین۔ او د هغوی دین ئے

ځانله دین نیولے وو۔
یَقِفُوْنَ بِالْمُزْدَلِفَةِ : یعنی نور خلك به عرفات ته تلل او دوئ به د عرفات ورځ هم په مزدلفه کښې تیره وله۔ ځکه چه مزدلفه په حرم کښې داخله ده، او عرفات بهر دے، او دوئ به وئیل چه مونږ د الله تعالیٰ د کور وسیدونکی یو، د هغهٔ د حرم نه بهر نهٔ ځو۔ نو الله تعالیٰ د هغوئ په رد کښې دغه آیت نازل کړو۔
اَلْحُمْسَ : جمع د اَحْمَس ده، د حَمَاسَةٌ نه دے په معنیٰ د شدِت (سختئ، کلك والی) سره دے۔ د حُمْس نه مراد پدے ځائے کښې قریش دی، او هغه خوك چه د دوئ پدے کار کښې تابع وو لکه اَوس او خزرج او خُزاعه او ثقیف او غزوان او بنو عامر او بنو صعصعه او بنو کنانه سوئ د بنو بکر نه۔ او دا به هغه کسان وو چه د دوئ مور به د قریشو نه وه، نهٔ دغه ټول قبائل۔ ځکه چه قریشو ته به چه کله چا د خور لور جرګه راوړه نو هغوی به پرے شرط وتړلو چه مونږ به هله خور لور په نکاح درکوو چه ددے بچے به زمونږ په دین باندے وی، نو پدے طریقه دغه قبائل په حُمس کښې داخل شول۔
دوئ ته به ئے پدے وجه حُمس وئیل چه اَحْمَس په عربئ کښې سخت ته وائی، او دوئ هم په ځان باندے سختی راوستے وه، ځکه چه دوئ به کله د حج یا د عمرے دپاره احرام وتړلو نو غوښه به ئے نهٔ خوړله او ځانله به ئے خیمه وغیره نهٔ وهله او کله چه به مکے ته راغلل، نو خپلے جامے به ئے کیخودے کومے چه به په دوئ باندے وے او په بربنډه به ئے طواف کولو۔
یا حمس د حَمَاسَة نه دے بهادرئ ته وائی۔ او دغه خلك هم په بهادرئ باندے مشهور وو، او پدے کښې اشاره وه چه دوئ به په خپله بهادرئ باندے فخرونه کول او د نورو عربو او د خپلو قبیلو نه به ئے ځانونه مضبوط ګنړل۔
سَائِرُ الْعَرَبِ : یعنی باقی عرب به د خپل زوړ عادت او د صحیح طریقے مطابق د عرفے په ورځ په عرفات کښې ودریدل۔
عَرَفَاتٍ : دا د موقف (ځائے د ودریدو) نوم دے۔ او تاء پکښې د تانیث دپاره نهٔ ده۔ یا جمع ده او پدے کښې هر مقام ته عرفه وئیلے شی نو جمع ئے عرفات راغله۔
یُفِیْضُ : افاضه اصل کښې راړه ولو او توی کولو ته وئیلے شی۔ دلته ترے مراد راکوزیدل او په ګڼړه کښې راروانیدل دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2603 (12) - وَعَنْ عَبَّاسِ بْنِ مِرْدَاسٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا لِأُمَّتِهِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ بِالْمَغْفِرَةِ فَأُجِيبَ: "**إِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ مَا خَلَا الْمَظَالِمِ فَإِنِّيْ آخُذُ لِلْمَظْلُوْمِ مِنْهُ**". قَالَ: "**أَيْ رَبِّ إِنْ شِئْتَ أَعْطَيْتَ الْمَظْلُوْمَ مِنَ الْجَنَّةِ وَغَفَرْتَ لِلظَّالِمِ**". فَلَمْ يُجَبْ عَشِيَّتَهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ بِالْمُزْدَلِفَةِ أَعَادَ الدُّعَاءَ فَأُجِيْبَ إِلَى مَا سَأَلَ. قَالَ: فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ تَبَسَّمَ فَقَالَ لَهُ أَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ: بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ إِنَّ هٰذِهٖ لَسَاعَةٌ مَا كُنْتَ تَضْحَكُ فِيْهَا فَمَا الَّذِيْ أَضْحَكَكَ أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ؟ قَالَ: "**إِنَّ عَدُوَّ اللّٰهِ إِبْلِيْسَ لَمَّا عَلِمَ أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدِ اسْتَجَابَ دُعَائِيْ وَغَفَرَ لِأُمَّتِيْ أَخَذَ التُّرَابَ فَجَعَلَ يَحْثُوْهُ عَلٰى رَأْسِهٖ وَيَدْعُوْ بِالْوَيْلِ وَالثُّبُوْرِ فَأَضْحَكَنِيْ مَا رَأَيْتُ مِنْ جَزَعِهٖ**". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ نَحْوَهٗ.

ترجمه: او عباس بن مرداس ﷺ نه روايت دے چه بيشکه رسول الله ﷺ د خپل امت دپاره د عرفے په ماښام د بخنے دعا وغوښته چه هغه قبوله کړے شوه (يا هغهٔ ته جواب ورکړے شو- الله ورته وفرمايل) ما دوئ ته بخنه وکړه، سوئ د بندګانو د حقوقو نه چه زهٔ به د ظالم نه د مظلوم حق اخلم. نبی ﷺ عرض وکړو اے ربه! که تهٔ غواړے مظلوم ته (د هغهٔ د حق په بدله کښے چه ظالم ضائع کړيدے) د جنت نه نعمتونه ورکړه او ظالم ته (هم) بخنه وکړه. مګر د عرفے په ماښام دا دعا قبوله نشوه، نو هرکله ئے چه په مزدلفه کښے صبا کړو، دغه دعاء ئے دوباره وکړه نو د هغهٔ قبول والے وشو د هغے چه هغهٔ غوښتی وو (يعنی هغهٔ چه څه غوښتی وو هغه ورکړے شو) راوي وائي: نو رسول الله ﷺ وخندل يا ئے داسے وويل چه مسکے شو- نو هغهٔ ته ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) عرض وکړو: زما پلار او مور دے ستا نه قربان وی، يقيناً دا خو داسے وخت دے چه تاسو پدے کښے نهٔ خاندئ نو دا څه دی چه تاسو خندوی؟، الله تعالیٰ دے ستاسو غاښ (مبارك) وخندوی (يعنی د خندا وجه څهٔ ده؟) نبی ﷺ وفرمايل: د الله تعالیٰ دشمن ابليس ته چه هرکله معلومه شوه چه الله تعالیٰ زما دعا قبوله کړه او زما امت ته ئے بخنه وکړه نو هغهٔ خاورے راواخستے او شروع شو چه هغه ئے په خپل سر اچولے او د تباهئ او هلاکت آوازونه ئے کول نو زهٔ وخندولم هغه شی چه ما وليده د هغهٔ د جزع

Maktaba Tul Ishaat.com

فزع (پریشانئ) نه۔ (دا روایت ابن ماجهٔ نقل کړے او بیهقیؒ په کتاب البعث والنشور کښے ددے په شان نقل کړے)

تعارف د عباس بن مرداس السُلمي ﷺ: ابو الهیثم ئے کنیه ده او شاعر صحابي دے، د مُؤَلَّفة القلوب نه وو د فتح د مکے نه لږ مخکښے ئے اسلام قبول کړو، او بعض وائی د احزاب د جنګ نه روستو ئے اسلام قبول کړے۔ او بیا ډیر ښه مسلمان ترے جوړ شو۔ او رسول الله ﷺ دهٔ ته پنځوس اُوښان د تالیف القلب دپاره ورکړل او ددهٔ ملګری اقرع بن حابس ﷺ او عیینه بن حصن ته ئے سل سل اُوښان ورکړل نو دهٔ د ګیلے په طور اشعار ووئیل چه هغه مونږ په ((سیرت الرسول)) کښے نقل کړیدی، د فائدے دپاره ورته رجوع وکړه۔ دے د مکے فتح ته او غزا د حنین ته حاضر شویدے۔ او دا هغه شخص دے چه شراب ئے په جاهلیت کښے حرام ګڼړل او بیا د بصرے په یو طرف کښے وسیدلے دے۔

تشریح: دَعَا لِأُمَّتِهِ: یعنی د هغه امت دپاره چه د هغهٔ سره حج کونکی وو۔ یا ټول هغه امت چه تر قیامته پورے حج کوی۔ دریمه صحیح معنیٰ دا ده چه ټول امت مسلمه مراد دے، د حج تخصیص نشته لکه راتلونکی دلیلونه پدے باندے دلالت کوی۔

اَلْمَظَالِمِ: دا جمع د مَظْلِمَةٌ ده د لام زیر او زبر دواړه صحیح دی، یعنی د خلکو حقوق۔ یعنی هغه حقوق چه په هغے کښے پرے ظلم شوے وی، او هغه ئے د ظالم نه طلب کوی۔ دا په اصل کښے مصدر دے په معنیٰ د ظلم سره۔ دا مظالم عام دی، مالی وی او که د عزت اخستو سره تعلق لری۔

آخُذُ: صیغه د اِسم فاعل ده، یعنی آخِذٌ، یا واحد متکلم دے۔

لِلْمَظْلُوْمِ مِنْهُ: یعنی یا به ظالم ته عذاب ورکړی یا به د هغهٔ عملونه واخلی، دپاره د اظهار د عدل۔

أَعْطَيْتَ: یعنی تهٔ به د خپل طرف نه د جنت اُوچتے مرتبے ورکړے۔

فَلَمْ يُجَبْ: یعنی هغه قبوله نکړے شوه۔

مَا كُنْتَ تَضْحَكُ فِيْهَا: یعنی په داسے مقام کښے خو ستا خندا عادت نهٔ دے بلکه د ژړا او د تضرع مقام دے۔

أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ: [اَیْ اَدَامَ اللّٰهُ لَكَ السُّرُوْرَ الَّذِیْ سَبَبُ ضِحْكِكَ] یعنی الله تعالیٰ دے

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه خوشحالي هميشه کړه چه هغه ستا د خندا سبب دے۔
يَحْثُوهُ : يعني خاورے ئې په لاسونو سره په سر باندے اچولے۔
بِالْوَيْلِ : يعني په عذاب سره۔ وَالثُّبُوْرِ : يعني هلاکت سره۔ يعني "وا ويلاه" او "يَا ثُبُوْرَاه" ئے وئيل۔ څوك چه په هلاکت کښے واقع شي نو هغه دغسے آوازونه کوي۔ يعني اے زما غم او پريشانئ او زما هلاکته ! حاضر شه دا ستا وخت دے۔

اشکال : ددے حديث نه خو معلوميږي چه د امت مسلمه ټول ګناهونه معاف دي تردے چه حقوق العباد هم، نو تعارض پيدا شو د نورو دلائلو سره کوم کښے چه حقوق العباد ادا کول ضروري خودل شويدي، نو تطبيق په يو څو طريقو سره دے : (۱) يو دا چه دا حديث صحابه کرامو ﷺ پورے خاص دے۔ (۲) يا حُجّاجو پورے خاص دے۔ (۳) يا د تائبينو په باره کښے دے، او د توبے د شرطونو نه دا ده چه پردے حق به ادا کوي که چرته موجود وي، او که نه وي نو بيا د الله تعالیٰ د مغفرت اميد کيدے شي۔ دارنګه هغه حقوق چه بنده ته هغه نهٔ وي معلوم، يا د هغے د ادا کولو نه عاجز وي او بنده خالصه توبه وخکلي وي او الله تعالیٰ ته د هغهٔ رشتينے توبه معلومه وي نو الله تعالیٰ به دغه بنده راضي کړي۔

(٤) چا حديث ضعيف کړے۔ ليکن راجح دا ده چه حديث ضعيف نهٔ دے د شواهدو په وجه صحيح دے، او پدے باندے دليل د مسلم شريف (۱۰۹/۱ رقم : ٤٤٩) حديث دے : [وَغُفِرَ لِمَنْ لَمْ يُشْرِكْ بِاللهِ مِنْ أُمَّتِهِ شَيْئًا الْمُقْحِمَاتُ] (ددے امت نه موحدينو ته کبيره ګناهونه معاف کړے شويدي) نو صحيح مطلب هم دا دے چه ټول امت الله تعالیٰ معاف کوي خو په شرط د توبے سره او پدے شرط چه پردے حق ادا کړي که چرته موجود او معلوم وي۔ فتدبر۔

علي القاريؒ وائي : چه ددے حديث په اجمال باندے مهٔ دهو که کيږه اګر که دا عقيده به ساتے چه د الله تعالیٰ فضل فراخه دے، ددے وجه نه رسول الله ﷺ وفرمايل : اَىْ رَبِّ اِنْ شِئْتَ۔ يعني که ستا خوښه شي نو تهٔ د خپل طرف نه بنده ته جنت ورکولے شے۔ نو الله چه څه وغواړي هغه کوي، نو ددے بنده خبره د الله تعالیٰ مشيئت ته حواله ده۔ نو ددے نه دا نهٔ لازميږي چه ګنے په حج سره بنده ته د بندګانو حقوق هم معاف کيږي۔

مَا رَأَيْتُ مِنْ جَزَعِهِ : او دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چه الله تعالیٰ ورته د شيطان بد

حالت رابښکاره کړو۔ او جزع : فریاد او شکایت ته وئیلے شی۔

مِنْ جَزَعِهٖ : یعنی پدیے وجه ئے جزع فزع او فریاد کولو چه د الله تعالیٰ فضل بندګانو ته فراخه شو، د شیطان د خړ کولو دپاره۔

درجة الحديث : [اسناده ضعيف وله شواهد فالحديث **حسن او صحيح**] اخرجه ابن ماجه (۳۰٤۷) وقال في الزوائد عبد الله بن كنانة قال البخاري لم يصح حديثه واخرجه احمد (٤/١٤-١٥) وقال البيهقي في شعب الايمان (١/٢٥٣) له شواهد كثيرة.



Maktaba Tul Ishaat.com

٥- باب الدفع من عرفة والمزدلفة

د عرفات او مزدلفې نه د راكوزيدو بيان۔

دفع راواپس كيدو ته وائي۔ يعنې د عرفات نه مزدلفې ته راتلل بيا د مزدلفې نه منیٰ ته د راكوزيدلو بيان دے۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2604 (1) عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : سُئِلَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ : كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيْرُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِيْنَ دَفَعَ ؟ قَالَ : كَانَ يَسِيْرُ الْعَنَقَ فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: هشام بن عروة د خپل پلار عروة نه نقل كوي چه هغهٔ وفرمايل : د اسامه بن زيد ﷺ نه پوښتنه وشوه چه رسول الله ﷺ به څنگه مزل كولو كله چه د عرفات نه راكوزيدو ؟ هغهٔ وفرمايل : هغهٔ به كولاو (روان) مزل كولو نو هركله چه به ئے كولاوه لاره وموندله نو (اُوښه به ئے) تيزه كړه۔ (بخاريّ ومسلمؒ)

هشام بن عروة بن الزبير بن العوام ابو المنذر القرشي الاسدى المدني رحمه الله، د مدينے مشهور تابعي دے چه ډير روايتونه ترے نقل دی، او په اُوچتو تابعينو او اكابرو علماؤ كښے شمار دے، ثقه، ثبت، حجت او امام او فقيه القاب ئے دی۔ عبد الله بن عمر ﷺ ئے ليدلے او هغهٔ ورته په سر باندے لاس راخكلے او دهٔ ته ئے دعاء كړيده۔ دارنگه سهل بن سعد او جابر او انس رضی الله عنهم ئے هم ليدلی دی۔ په سنه (٦١ هـ) كښے پيدا دے او په بغداد كښے په سنه (١٤٥، يا ١٤٦) كښے وفات دے، اُوه اتيا (٨٧) كاله عمر ئے وو۔

تشريح : أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ : دا د رسول الله ﷺ د محبوب او د متبنیٰ څوی دے۔

ددهٔ نه تپوس پدے وجه وشو چه دے د رسول الله ﷺ سره روستو سور وو كله چه هغه د عرفات نه مزدلفې ته راكوزيدو، او په روايت د بخاريّ او مالك كښے دی چه زهٔ ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com

ناست وم۔

اَلْعَنَقَ : په زبر د عین او نون سره، دا د تیز او د سُلو مزل ترمینځ درمیانه مزل دے۔ یعنی روان مزل۔ چه پدے کښے د اُوښے څټ خوزیږی۔ په "فائق" کښے لیکی چه اَلْخَطْوُ الْفَسِیْحُ ۔یعنی فراخه قدم اخستو ته وائی۔ او دا منصوب دے ځکه چه دا د یَسِیْرُ دپاره مصدر نوعی دے ۔

فَجْوَةً : [اَلْمَکَانُ الْمُتَّسِعُ بَیْنَ الشَّیْئَیْنِ] دا د دوه څیزونو ترمینځ فراخه ځائے ته وائی۔

نَصَّ : دے کښے ضمیر نبی ﷺ ته راجع دے۔ [اَیْ اَسْرَعَ] یعنی اُوښه به ئے تیزه کړه۔ نَصَّ په اصل کښے د څیزونو انتهاء او غایه او آخر سر ته وائی۔ ددے نه نَصَصْتُ الشَّیْءَ لفظ اخستے شویدے [اَیْ رَفَعْتُهٗ] یعنی هغه شے مے پورته کړو۔ او تنصیص پورته کول او منسوب کولو ته وائی۔ بیا په یو قسم تیز مزل کښے استعمالیږی۔

دا حدیث دلیل دے چه په (راتلونکی حدیث کښے چه) په کومه سکینه باندے امر راغلے دے نو هغه ددے وجه نه چه خلکو ته تکلیف ونۀ رسی او هغوی سره نرمی وشی، که ګنړه ګونړه نۀ وی نو بیا ئے خپله خوښه ده چه څنګه مزل کوی لیکن بشرط الوقار او په شرط د وَاقْصِدْ فِیْ مَشْیِكَ، چه درمیانه روی به کوی۔

او دا حدیث دلیل دے چه سلفو به د رسول الله ﷺ د احوالو د تپوس کولو ډیر اهتمام ساتلو دے دپاره چه د هغۀ ټول حرکات او سکنات معلوم کړی او د هغۀ اقتداء وکړی۔

2605 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ أَنَّهٗ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهٗ زَجْرًا شَدِيْدًا وَضَرْبًا لِلْإِبِلِ فَأَشَارَ بِسَوْطِهٖ إِلَيْهِمْ وَقَالَ :" يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالْإِيْضَاعِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او ابن عباس ؓ نه روایت دے چه بیشکه هغه د نبی کریم ﷺ سره د عرفے په ورځ (د عرفات نه) راکوزیدو نو نبی کریم ﷺ د خپل ځان نه روستو د څاروو په سخت آواز سره شړل او د اُوښانو وهل واوریدل نو هغوی ته ئے په خپل چابك سره اشاره وکړه او وے فرمایل : اے خلکو ! په تاسو باندے آرام سره تلل لازم دی، ځکه چه نیکی په منډے سره نۀ ده۔ (یعنی منډه څه نیکی نۀ ده) (بخاریؒ)

تشریح : دَفَعَ : یعنی راکوز شو۔ زَجْرًا : یعنی شړل د اُوښانو او هغے پسے تیز آوازونه

کول۔ فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ : يعنې په خپل چابك سره ئے هغوی ته اشاره وکړه دے دپاره چه هغوی ورته متوجه شي او د هغهٔ خبره واوري۔

بِالسَّكِيْنَةِ : يعني تاسو باندے آرام کول لازم دي په مزل کولو کښے۔ يعني تيل مهٔ کوئ او جلتي مهٔ کوئ چه يو بل ته تکليف ورنکړئ ځکه چه تيز مزل کول څه نيکي نهٔ ده چه بنده هغے ته ورمنده کړي۔

بِالْإِيْضَاعِ : دا تيز مزل کولو ته، او اسونه او اُوښان په تيز مزل باندے اچولو ته وائي۔

حافظ وائي : [هُوَ السَّيْرُ السَّرِيْعُ] ايضاع تيز مزل کولو ته وائي۔ او وئيلے شي چه دا د توپونو شان مزل کولو ته وائي۔

مطلب د حديث دا دے چه نيکيو طرف ته منډه وهل مطلوب دي ليکن نهٔ پداسے طريقه چه مکروه کارونو ته پکښے انسان ورشي، او د هغے په وجه نورو مسلمانانو ته تکليف ورکړي۔ نو ددے او د مخکښني حديث هيڅ تعارض نشته۔ (قاله القاريؒ) نو مخکښے حديث کښے د تيز مزل اجازت وو سره د سکينه نه او دے حديث کښے د منډے وهلو اوبے وقاره مزل کولو نه منع راغلے ده۔

2606 (3) - وَعَنْهُ رضی الله عنه أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ إِلَى مِنًى فَكِلَاهُمَا قَالَ: لَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّيْ حَتّٰى رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چه بيشکه اسامه بن زيد رضی الله عنه د نبی کريم ﷺ سره روستو سور وو د عرفات نه تر مزدلفے پورے بيا ئے د مزدلفے نه منیٰ پورے فضل بن عباس رضی الله عنه د ځان پسے روستو کينولو، نو دواړو ووئيل : هميشه وو نبی کريم ﷺ چه تلبيه ئے وئيله تردے چه جمره عقبه ئے اُوويشته۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : رِدْفَ : رِدْفٌ او رَدِيْفٌ او مُرْتَدِفٌ د بل چا سره په حيوان باندے شا ته سور انسان ته وائي۔

حَتّٰى رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ : دے کښے دوه احتماله دي : يو دا چه تلبيه ئے د جمرة العقبه د ويشتو نه روستو بنده کړه لکه ددے تائيد په روايت د ابن خزيمه کښے دے : [ثُمَّ قَطَعَ التَّلْبِيَةَ مَعَ آخِرِ حَصَاةٍ] (بيا نبی ﷺ د آخری کاڼړی ويشتو سره تلبيه بنده کړه) [ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

خزيمة : ۲۸۸۷، السنن الكبرى للبيهقي: ۵/۱۳۷، صحيح]

او دا د بعضِ شوافعو، د بعضو مالكيانو، او اسحاقؒ قول دے۔ او همدا ابن منذرؒ او ابن حزمؒ غوره کړے۔ او دا قول د احمدؒ دے۔ او شوكانيؒ ورته ترجيح وركړيده۔

امام بيهقيؒ دے ته شاذ ويلي خو ابن حزمؒ په [كتاب حجة الوداع] كښے په جيّد سند سره داسے لفظ راوړے : [حَتّٰى أَتَمَّ رَمْىَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ] (يعنى تردے چه د جمرة العقبه ويشتلو نه فارغ شو) نو ددے نه معلومه شوه چه دا شاذ نهٔ دے۔

او بل احتمال دا دے چه د اول كاڼړى ويشتو سره ئے تلبيه قطع كړه۔ لكه ددے تائيد په روايت د بيهقيؒ كښے دے۔ او دا قول د جمهورو دے۔ بيهقيؒ وئيلى دى چه د يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ لفظ ددے تائيد كوى ځكه چه د هر كاڼړى په ويشتو سره ئے الله اكبر وئيلے دے معلوميږى چه تلبيه ئے پدے وخت كښے پريخے ده۔

د دوئ دليل دا الفاظ دى : [حَتّٰى بَلَغَ الْجَمْرَةَ] (تردے چه نبى ﷺ جمرے ته ورسيدۀ) ځكه جمرے ته رسيدل د رمى شروع كولو وخت دے۔

او دوئ وئيلى دى چه روايت د ابن خزيمه كښے زيادت غريب دے او هغه په مشهورو رواياتو كښے نهٔ دے ذكر۔ مگر پدے باندے ابن التركمانيؒ اعتراض كړيدے چه د غريب حديث هركله سند صحيح وى نو په هغے به عمل كيږى او ابن حزمؒ په كتاب حجة الوداع كښے په جيد سند سره د فضل بن عباس ﷺ روايت ذكر كړيدے چه [وَلَمْ يَزَلْ عَلَيْهِ السَّلَامُ يُلَبِّيْ حَتّٰى أَتَمَّ رَمْيَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ] هميشه رسول الله ﷺ تلبيه وئيله تردے چه د جمرة العقبه ويشتل ئے پوره كړل۔ نو دا صريح روايت دے چه د ابن خزيمهؒ د روايت تقويت كوى او دلالت كوى چه دغه روايت غريب نهٔ دے، او د بيهقيؒ نه تعجب دے چه هغه څنگه دا صريح روايت پريدى او د (يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ) نه په قطع د تلبيه باندے استدلال كوى په اول د ويشتو كښے۔ سره ددے نه چه تكبير تلبيه لره نهٔ منع كوى، ځكه چه حاجى دپاره دا جائز دى چه تكبير هم ووائى او ورسره تلبيه او تهليل هم۔ او دا خبره ابن مسعود ﷺ بيان كړيده پدے قول سره چه [فَمَا تَرَكَ التَّلْبِيَةَ حَتّٰى رَمَى الْجَمْرَةَ إِلَّا أَنْ يَخْلِطَهَا بِتَكْبِيْرٍ أَوْ تَهْلِيْلٍ] نبى عليه السلام تلبيه پرينخوده تردے چه جمره عقبه ئے ويشته مگر د هغے سره به ئے كله تكبير يو ځائے كولو او كله لا اله الا الله۔

[صحيح : احمد : ۳۹۶۱، صحيح ابن خزيمة : ۲۸۰۶، ابن ابى شيبة : ۲۰۷) (المرعاة۹/۳۲۳)]

Maktaba Tul Ishaat.com

دا حدیث دلیل دے چه د جمرة العقبه پورے به تلبیه وائی لکه عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: ما د عمر فاروق ﷺ سره یولس (۱۱) حجونه وکړل او هغهٔ به تر جمرة العقبه پورے تلبیه وئیله، او دا قول د امام شافعیؒ، ابو حنیفهؒ، ثوریؒ، احمدؒ او اسحاقؒ او د هغوی د اتباعو دے، او یو بے ډلے وئیلی دی چه محرم چه کله حرم ته داخل شی نو تلبیه به قطع کړی او دا مذهب د ابن عمر ﷺ دے لیکن هغه به چه کله د مکے نه عرفات ته ووتلو نو بیا به ئے تلبیه راواپس کوله۔

او بلے ډلے وئیلی دی چه کله عرفات ته ورسیږی نو تلبیه به قطع کړی۔ دا سعید بن منصورؒ او ابن المنذرؒ په صحیح سندونو سره د عائشے او سعد بن ابی وقاص او علی بن ابی طالب رضی الله عنهم نه نقل کړیدی۔ او دا قول د امام مالكؒ دے او هغهٔ ورسره دا قید لګولے دے چه کله د عرفے په ورځ نمر زائل شو نو تلبیه به قطع کړی۔ او دا قول د اوزاعیؒ او لیثؒ هم دے۔ او د حسن بصریؒ نه هم دغسے قول نقل دے۔ او طحاویؒ وئیلی دی چه د کومو صحابه کرامو ﷺ نه د عرفے په ورځ تلبیه پریخول نقل دی نو د هغے مطلب دا دے چه د تلبیه نه په نورو اذکارو سره مشغول شویدے پدے وجه تلبیه ترے پاتے شویده او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے تلبیه وئیل په دغه ورځ مشروع نهٔ دی، او پدے سره تول روایات جمع کیږی۔

معتمر به کله تلبیه بندوی؟ نو **یو قول** دادے چه طواف شروع کولو سره سم به تلبیه بندوی۔ او دا د ابن عباس ﷺ او د تابعینوؒ د یوے ډلے قول دے، او دا د امام شافعیؒ، اسحاقؒ، او اصحاب الرائے او حنابلو قول دے۔ او همدا د دلیل په اعتبار سره قوی قول دے۔ **دویم** قول دادے چه حرم ته نزدے شی نو تلبیه به بندوی۔ ابن عمر ﷺ نه نقل دی چه «کله به دے حرم ته نزدے ورغے نو تلبیه به ئے بنده کړه او فرمایل به ئے چه نبی ﷺ به داسے کول» [موطأ مالك: ۷٤۸] او دا حکم د معتمر او متمتع دے لکه مخکښے تیر شو۔ پاتے شو حاجی مفرد او حاجی قارن نو دا دواړه چه کله د عُمرے د سعی نه فارغ شول، نو بیا به تلبیهؒ شروع کوی۔ لکه امام ابن خزیمهؒ د عطاء بن ابی رباحؒ نه نقل کړی: «ابن عمر ﷺ به چه کله حرم ته داخل شو نو تلبیه به ئے پریښوده، او کله به چه د سعی نه فارغ شو نو بیا به ئے شروع کړه» [صحیح ابن خزیمة: ۲٦۹۷] والله تعالیٰ اعلم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2607 (4) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : جَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ، كُلُّ واحِدَةٍ مِنْهُمَا بِإِقَامَةٍ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا وَلَا عَلَى إِثْرِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : نبي كريم ﷺ په مزدلفه كښيے د ماښام او ماسخوتن مونځ جمع كړل، هر يو ددواړو نه په (بيلابيل) اقامت سره او د دواړو ترمينځ ئے هيڅ نفلي مونځ ونكړو او نهٔ روستو د هر يو نه۔ (بخاريؒ)

تشريح : په مزدلفه كښيے به دوه مونځونه څنګه جمعه كوي؟

ددے حديث نه معلومه شوه چه په مزدلفه كښيے به دوه مونځونه جمع كوي او د هر يو دپاره به جدا جدا اقامت، او دواړو دپاره به يو اذان كوي۔

امام نوويؒ وائي : همدا زمونږ د اصحابو په نيز صحيح خبره ده۔ (۱) او دا قول د احمدؒ، ابو ثورؒ او ابن الماجشون المالكيؒ او طحاوي حنفيؒ دے۔ (او الزُبيديؒ وئيلي دي چه دا قول د زفرؒ دے او ابن همامؒ ورته ترجيح وركړيده)

(۲) او امام مالكؒ وائي : چه د دواړو دپاره به دوه اذانونه او دوه اقامتونه كوي۔ يعني هر يو دپاره به يو اذان او يو اقامت كوي۔ او دا د ابن عمر ﷺ او د ابن مسعود ﷺ نه نقل شويدي۔ (۳) او امام ابوحنيفهؒ او ابويوسفؒ وائي : دواړو مونځونو دپاره به يو اذان او يو اقامت كوي۔

(٤) او د امام شافعيؒ او احمدؒ يو قول دا دے چه د هر مانځه دپاره به يو يو اقامت كوي او اذان به نهٔ كوي۔ (۵) او ثوريؒ وائي چه دواړو مونځونو دپاره يو اقامت كافي دے۔ او دا هم د ابن عمر ﷺ نه منقول دے۔ انتهىٰ۔

علامه محب الدين الطبريؒ وئيلي دي چه دے علماؤ هر يو د احاديثو ظاهر رانيولے دے او ددے رواياتو د اكثرو ترمينځ جمع والے پدے طريقه ممكن دے چه كوم كښيے (بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ) لفظ ذكر دے، يعني د دواړو مونځونو دپاره ئے يو اقامت وكړو نو ددے معنىٰ دا ده چه د هر مانځه دپاره به ئے جدا جدا يو يو اقامت وكړو۔ يا دا چه هر يو دپاره ئے په يوه طريقه اقامت وكړو۔ او ددے تائيد په هغه روايت سره كيږي چه په هغے كښيے اقامتين ذكر دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا وائی: چا چه وئیلی دی چه كُلُّ وَاحِدَةٍ بِاقَامَةٍ ۔ (هر یو ئے د یو اقامت سره وکړو) نو ددے مطلب دا دے چه ددے دواړو نه د یو سره ئے اذان وکړو۔ لکه په دے باندے هغه روایت دلیل دے چه په هغے کښے دا تصریح ده چه یو اذان او دوه اقامته ئے وکړل۔

بیا وائی: زمونږ په نیز ددے احادیثو نه عمده او غوره حدیث د جابر رضی الله عنه دے نۀ نور احادیث، ددے وجه دا ده چه کوم راوی دا وئیلی دی چه دواړه مونځونه ئے په اقامت سره جمع کړل، د هغۀ سره زیات علم دے په هغه چا باندے چه هغۀ وئیلی دی چه دواړه ئے بغیر د اذان او اقامت نه جمعه کړل، او زیادت د ثقه مقبول دے۔ او چا چه وئیلی دی چه دوه اقامته ئے وکړل نو هغۀ هغه خبره ثابته کړه چه د یو اقامت روایت والا هغه نۀ ده ثابته کړے۔ نو زیاتی علم والا دپاره به فیصله کولے شی په بل باندے، او چا چه یو اذان او دوه اقامته ذکر کړیدی چه هغه حدیث د جابر رضی الله عنه دے نو هغه د ټولو احادیثو نه پوره بیان والا دے، نو دۀ هغه شے ثابت کړو چه نورو نۀ دے ثابت کړے۔ نو بس په همدے به عمل واجب وی، او که چرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دوه اذانونو او دوه اقامتونو والا روایت صحیح ثابت وے لکه چه امام مالك پدے باندے عمل کړیدے نو هغے ته به واپس کیدل ضروری وے ځکه چه هغے کښے زیادت ثابتول دی۔ لیکن د الله او د رسول نه مخکښے کیدو ته هیڅ ضرورت نشته، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه څه ثابت دی په هغے باندے زیادت ته هم هیڅ ضرورت نشته۔ انتهیٰ من الطبریؒ۔

وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا : تسبیح نه مراد سنن او نوافل دی، یعنی د ماسخوتن او د ماښام د مانځه ترمینځ ئے هیڅ سنت او نوافل ونکړل۔ نوافلو ته تسبیح ځکه وائی چه پدے کښے تسبیحات وئیلے کیږی۔ ددے روایت نه دا معلومیږی چه د جمع بین الصلاتین ترمینځ موالات (پرله پسے والے) شویدے۔ لیکن په روایت د شیخینو کښے د اسامه بن زید رضی الله عنه نه نقل دی چه کله د ماښام مونځ وشو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم وکړو چه هر انسان دے خپل اُوښ کینوی۔ [ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا] [بخاری: ۱۶۷۲، مسلم: ۳۱۵۹]

(یعنی د ماښام مونځ دپاره اقامت وشو بیا ئے مونځ وکړو بیا هر انسان خپل اُوښ په خپل ځائے د کوزیدو کښے کینولو، بیا د ماسخوتن مانځه دپاره اقامت وکړے شو، او د دواړو مونځونو ترمینځ ئے هیڅ مونځ ونکړو یعنی سنت)

Maktaba Tul Ishaat.com

دے نه معلومیږی چه فصل هم جائز دے لهذا موالات لازم نهٔ دے۔ یعنی ذکر أذکار به وکړی او د هغے نه روستو به بل مانځه ته پاځیږی۔ کوم علماء چه په جمع بین الصلاتین کښے موالات باندے زور لګوی، نو خبره ئے کمزورے ده۔

او هرچه د ماښام او د ماسخوتن سنت دی نو د هغے ذکر په هیڅ حدیث کښے نهٔ دے راغلے، بلکه په مخکښے حدیث کښے د هغے نفی ذکر شوه ـ مګر بیا هم احنافو وئیلی دی چه سنت به کوی۔ کیدے شی چه دا حدیث به ورته نهٔ وی رسیدلے۔ په روایت د شیخینو کښے دی: ثُمَّ اضْطَجَعَ : بیا ئے د خوب دپاره ډډه ولګوله دے دپاره چه بدن ته راحت ورکړی او د امت دپاره رحمت شی ځکه چه صبا له ډیر عبادات راروان دی چه په هغے کښے انسان ته د نشاط او تازګئ ضرورت وی۔ دارنګه پدے ورځ هم رسول الله ﷺ ډیر ستړے شوے وو، ډیر کارونه ئے کړی وو۔

مسئله : په مزدلفه کښے د شپے تیرولو په حکم کښے اختلاف :

رسول الله ﷺ په مزدلفه کښے شپه تیره کړه نو دا په حج کښے ضروری ده۔ مګر ددے په حکم کښے اختلاف دے : (۱) د احنافو په نیز په مزدلفه کښے شپه تیره ول سنت دی، او دا قول د بعض محققین شوافعوؒ دے، (۲) امام شافعیؒ وائی چه دا واجب دی، چه ددے په پریخودو سره بنده ګناهګار دے او دم پرے لازم دے۔

(۳) ځینی وائی چه دا د حج دپاره رکن دے چه بغیر ددے نه حج نهٔ صحیح کیږی، دا داسے دے لکه په عرفات کښے ودریدل۔ او دا قول د پنځه تابعینو دے، علقمهؒ، اسودؒ، شعبیؒ، نخعیؒ او حسن بصریؒ۔ او دا قول د محمد بن اسحاق بن خزیمه رحمه الله هم دے۔ (نوویؒ) او همدا راجح دے، ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ﴾ [البقرة : ۱۹۸]

دویم په حدیث د عروه بن مُضَرّس ﷺ کښے دی : [مَنْ شَهِدَ صَلَاتَنَا هٰذِهٖ وَوَقَفَ مَعَنَا حَتّٰى نَدْفَعَ، وَقَدْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ قَبْلَ ذٰلِكَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا، فَقَدْ تَمَّ حَجُّهٗ وَقَضٰى تَفَثَهٗ]. [الترمذی : ۸۹۱ صحیح] (څوک چه زمونږ دے مونځ ته حاضر شو (یعنی د مزدلفے سهار مانځهٔ ته) او مونږ سره (دلته په مزدلفه) کښے ودریدو تردے چه مونږ کوز شو (منیٰ ته) او ددے نه مخکښے ده په عرفات کښے د شپے یا د ورځے وقوف کړے وی نو ددهٔ حج پوره شو او خپل احکام ئے ادا کړل)۔ دا دلیل دے چه د حج تمامیت په وقوف د مزدلفه او عرفات دواړو

باندې راځي۔

كه د ركنيت قول ونشي نو واجب خو به ضرور وي۔ او ددې حديث نه بعض اهل علمو استدلال كړې چه په مزدلفه كښې سهار مونځ كول واجب دي۔

(٤) امام مالك وائي چه په مزدلفه كښې نزول واجب دې او شپه تيره ول سنت دي۔

امام نوويؒ وائي : په مزدلفه كښې ادنىٰ اندازه وخت تيرولو كښې درې اقوال دي : (١) يو دا چه د شپې د دويمې نيمائي حصې نه يو ساعت تيرول۔ (٢) دويم دا چه د نصف ثاني يا د فجر نه روستو تر نمر خاتۀ پورې وخت تيرول۔ (٣) اكثره حصه د شپه۔

راجح دا ده چه په مزدلفه كښې شپه تيرول او بيا سهار مونځ او د هغې نه پس تر نمر خاتۀ پورې وقوف كول واجب دي ځكه چه امر پرې راغلې دې۔ او ابن باز رحمه الله په خپله فتاوى كښې دا قول راجح كړې۔ او تفصيلاً صاحب المرعاة ذكر كړې۔

مسئله : كه يو تن په لاره كښې د مزدلفې ته رارسيدو نه مخكښې د ماښام مونځ وكړى نو آيا مونځ به ئې جائز وي ؟۔ دوه قوله دي : (١) د جمهورو **قول** دا دې چه جائز دې اگر كه گناهگار دې، ځكه چه د سنت خلاف ئې وكړو، او جائز پدې وجه دې چه په خپل وخت كښې ئې مونځ وكړو۔

(٢) دويم **قول** دا دې چه نۀ دې جائز، ځكه چه رسول الله ﷺ اسامه ﷺ ته په لاره كښې وفرمايل : [اَلصَّلَاةُ أَمَامَكَ] مونځ ستا مخې ته (مزدلفه كښې) دې۔ [البخاري : ١٣٩].

او دا قول د جابر بن عبد الله ﷺ او ابن الزبير ﷺ او ابو حنيفهؒ او ثوريؒ، او محمد بن الحسنؒ او داودؒ او د مالك د بعض اصحابوؒ دې۔ او عبد الله بن زبير ﷺ به خلكو ته خطبه كښې فرمايل : [أَلَا لَا صَلَاةَ إِلَّا بِجَمْعٍ يُرَدِّدُهَا ثَلَاثًا] ذكره ابن حزم [البحر المحيط الثجاج: ٦١٦/٢٣]. وروى بهذا اللفظ عن جابر بن عبد الله ﷺ باسناد صحيح، (ابن المنذر) والاستذكار : ٣٣٤/٤] خبر شئ ! مونځ نۀ صحيح كيږي مگر صرف په مزدلفه كښې، او دا خبره به ئې بار بار درې كرته وكړه۔

البته كه يو تن د مانځه د قضاء كيدو نه يريدو چه مثلاً نيمې شپې نه آوړيدو يا سهار ته مزدلفې ته رسيدو نو بيا به ئې په لاره كوى او دا خبره اجماعي ده، او دا كار د گڼړې گوڼړې د وجه نه پدې زمانه كښې ډير راپيښيږي۔ كما في البدائع والشرح الممتع٧/٣٠٤]. نو دويم

Maktaba Tul Ishaat.com

قول راجح شو۔[البحر المحيط الثجاج : ۵۸۲/۲۳]

2608 (5) — وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ : مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى صَلَاةً إِلَّا لِمِيْقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ : صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيْقَاتِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي : ما رسول الله ﷺ نهٔ دے ليدلے چه هيڅ يو مونځ ئے کړے وی مګر په خپل وخت کښے سوئ د دوه مونځونو نه، د ماښام او ماسخوتن مونځ په مزدلفه کښے، او د سهار مونځ ئے په دغه وخت کښے د خپل (مشهور) وقت نه مخکښے وکړو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : لِمِيْقَاتِهَا : يعني په خپل مقرر وقت کښے۔

صَلَاةَ الْمَغْرِبِ : دا منصوب دے بدل دے د صَلَاتَيْن نه۔ دلته په عبارت کښے اختصار شويدے يعني ماښام او ماسخوتن ئے په مزدلفه کښے جمع کړو او ماسپښين او مازيګر ئے په عرفات کښے جمع کړو۔ په عرفات کښے جمع تقديم وه او په مزدلفه کښے جمع تاخير۔

وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيْقَاتِهَا: ددے مطلب دا دے چه د عام عادت نه خلاف رسول الله ﷺ په مزدلفه کښے د سهار مونځ وختي وکړو۔ د عام تغليس نه ئے زيات تغليس کښے وکړو۔ يعني د صبا د راختو سره سمدست ئے وکړو۔ او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے پدے مقام کښے د سهار مونځ قبل الوقت وشو۔ ځکه چه په بعض رواياتو کښے داسے الفاظ راغلي دي چه دا مونځ ئے د صبا د راختو نه پس سمدستي وکړو۔

او رسول الله ﷺ پدے ورځ باندے دا مونځ پدے وجه ډير وختي وکړو چه پدے ورځ ډير کارونه وړبه غاړه دي، منیٰ ته تلل او بيا جمره عقبه ويشتل او بيا قرباني کول او بيا سر خرئيل او بيا طواف زيارت کول او بيرته منیٰ ته راتلل دي۔ صحيح دا ده چه دعاء او د مزدلفے وقوف ته ځان تيارول دي ځکه دلته وقوف د حج د ارکانو نه يو رکن دے۔

او په عرفات کښے ئے دواړه مونځونه وختي وکړل دے دپاره چه دعاء او ذکر اذکار ته فارغ شي۔

تنبيه : احنافو ددے حديث نه دليل نيولے دے چه د مزلفے او د عرفات نه علاوه

Maktaba Tul Ishaat.com

مقاماتو کښې جمع بین الصلاتین نشته. جمهور علماء وائی چه هر مباح سفر کښې جمع بین الصلاتین سنت طریقه ده. نو دوئ جواب ورکوی چه نورو صحابه کرامو ﷺ د سفر په حالت کښې د جمع بین الصلاتین روایتونه ذکر کړیدی، او چا چه خبره یاده کړې وی هغه حجت وی په هغه چا چه خبره ئې نۀ وی یاده کړې. نو ابن مسعود ﷺ به په نورو سفرونو کښې نبی کریم ﷺ نۀ وی لیدلے حال دا چه جمع بین الصلاتین روایتونه د ابن عمر ﷺ او ابن عباس ﷺ وغیره نه نقل دی، لکه چه مخکښې ذکر شویدی. نو ابن مسعود ﷺ د خپل علم نفی کړے او د رسول الله ﷺ د فعل نفی ئې نۀ ده کړې. فتدبر.

امام نوویؒ وائی: د احنافو پدے روایت باندے استدلال صحیح نۀ دے ځکه چه دا استدلال دے په مفهوم باندے او احناف په مفهوم باندے استدلال ته صحیح نۀ وائی. انتهیٰ.

او شوافع په مفهوم باندے استدلال صحیح ګنړی خو پدے شرط چه مفهوم به د منطوق خلاف نۀ وی. او دلته مفهوم د منطوق خلاف دے، او کله چه د مفهوم او د منطوق تعارض راشی نو منطوق به په مفهوم باندے مقدم وی.

دارنګه ددے روایت ظاهر په اجماع سره متروك دے ځکه چه پدے کښې خو د عرفات جمع بین الصلاتین نۀ ده ذکر او احناف هم هغه جائز ګنړی. دارنګه پدے روایت کښې دا هم راغلل چه سهار مونځ ئې قبل الوقت وکړو. او حال دا چه سهار مونځ قبل الوقت خو د هر چا په نیز صحیح نۀ دے نو ضرور به د هغې مراد وی چه د خپل معتاد وخت نه ئې مخکښې وکړو. او بعض خلکو د جهل د وجه نه دا حدیث ضعیف کړے حالانکه دا متفق علیه حدیث دے.

2609 (6) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِيْ ضَعَفَةِ أَهْلِهِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی: زۀ د هغه کسانو نه اُوم چه نبی کریم ﷺ د مزدلفې په شپه مخکښې (منیٰ ته) په کمزورې اهل کښې لیږلی وو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: ضَعَفَةِ: جمع د ضعیف ده، یعنی ماشومانو، بوډاګانو او مریضانو سره.

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ زهٔ د مزدلفے په شپه د خپلو ماشومانو او زنانو او بوډاګانو او خادمانو سره منىٰ ته ولیږلم. ځکه چه رسول الله ﷺ په دوئ باندے د ګڼړے ګونړے نه یریدو چه چرته تکلیف ورته ونهٔ رسیږی. او ددے تفصیل په روایت د عطاءَ کښے د ابن عباس ﷠ نه داسے نقل دے چه رسول الله ﷺ عباس ﷠ ته د مزدلفے په شپه وفرمایل: [إِذْهَبْ بِضُعَفَائِنَا وَنِسَائِنَا فَلْيُصَلُّوا الصُّبْحَ بِمِنًى وَلْيَرْمُوا جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ قَبْلَ أَنْ تُصِيبَهُمْ دَفْعَةُ النَّاسِ] تهٔ زمونږ کمزوری او زنانه ځان سره بوځه چه دوئ په منىٰ کښے د سهار مونځ وکړی او بیا جمره عقبه د خلکو د رش نه مخکښے اُوولی. راوی وائی: هرکله چه عطاء رحمهٔ الله بوډا شو او کمزورے شو نو هغهٔ به داسے کول. (شرح معانی الآثار: ۳۹۷۲)

او عائشه ﷝ نه روایت دے چه سودے ﷝ د رسول الله ﷺ نه د مزدلفے په شپه اجازت وغوښتهٔ چه هغه ددے نه د شپے تیرولو نه مخکښے لاړه شی، او هغه درون بدن والا بی بی وه (چه ددے په وجه هغے دپاره زر زر تلل ګران وو) نو نبی ﷺ هغے ته اجازه وکړه. (بخاری: ۱٦۸۰، مسلم: ۳۱۷۸).

او عبد الرحمن بن عوف ﷠ به هم خپل ضعیف اهل مخکښے بوتلل، او عائشے ﷝ هم پدے عمل کریدے. او دا قول د عطاءؒ او ثوریؒ او شافعیؒ او ابو ثورؒ او احنافوؒ دے. (قاله ابن قدامهؒ)

دا حدیث دلیل دے چه د مزدلفے نه منىٰ ته د شپے د صبا راختو نه مخکښے تلل د زنانو او ضعیفانو سرو دپاره جائز دی. لیکن په اجماع د علماؤ سره په اول د شپه کښے تلل جائز نهٔ دی.

او مزدلفے نه د شپے تللو دپاره دا شرط دے چه د شپے سپوږمئ به پریوتے وی بیا به اُوځی. برابره خبره ده که اُوږے وی یا زمے، ځکه د اسماء ﷝ په حدیث کښے دی چه هغے خپل غلام ته وویل: [يَا بُنَيَّ ! هَلْ غَابَ الْقَمَرُ ؟ قُلْتُ : نَعَمْ، قَالَتْ : فَارْتَحِلُوا فَارْتَحَلْنَا وَمَضَيْنَا حَتَّى رَمَيْنَا الْجَمْرَةَ] ((اے بچیه! آیا سپوږمئ غائبه شوے؟ هغهٔ وویل: هو! وے فرمایل: نو بیا کوچ کوئ، (روانیږئ) نو مونږ کوچ وکړو او منىٰ ته راغلو تردے چه مونږ جمره عقبه اُوویشتله)) [بخاری: ۱٦۷۹، مسلم: ۱۲۹۰]

او ظاهره داده چه ددے خبرے علم اسماء ﷝ ته وو نو ځکه ئے د کمزورو دپاره د مزدلفے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

په تادئ سره د تللو حدیث روایت کړے۔

(۲) شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی: دا حکم د هغه چا هم دے چه هغوئ ددے کمزورو د تولګی سره ملګرے وی لکه د دوئ مَحرم، ډرائیور او ساتونکے او پروګرام جوړونکے۔ لکه چه عباس ﷛ رسول الله ﷺ د خپلو کمزورو سره مخکښے راولیږلو۔

(۳) ددے نه معلومه شوه چه د قوی خلکو دپاره د صبا راختو نه مخکښے مزدلفے نه مِنیٰ ته روانیدل جائز نهٔ دی، بلکه په مزدلفه کښے پوره شپه تیرول او د صبا راختو نه پس او د نمر راختو نه مخکښے تلل پکار دی۔ او دا لازم او ضروری بلکه د حج رکن دے۔

(٤) ددے سره دا شرط دے چه دا ضعیف خلك چه کله منیٰ ته ورسی نو جمره عقبه به نهٔ ولی بلکه د نمر راختو انتظار به کوی۔ د نمر ختهٔ نه روستو به ئے ولی۔ لکه لږ روستو راځی ان شاء الله۔

2610 (7) – وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ ﷛ وَكَانَ رَدِيفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِيْ عَشِيَّةِ عَرَفَةَ وَغَدَاةِ جَمْعٍ لِلنَّاسِ حِيْنَ دَفَعُوْا : " **عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ** "وَهُوَ كَافٌّ نَاقَتَهُ حَتّٰى دَخَلَ مُحَسِّرًا وَهُوَ مِنْ مِنًى قَالَ : " عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِيْ يُرْمٰى بِهِ الْجَمْرَةُ". وَقَالَ : لَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّىْ حَتّٰى رَمَى الْجَمْرَةَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او فضل بن عباس ﷛ نه روایت دے او دے د نبی کریم ﷺ سره روستو سور وو چه نبی کریم ﷺ د عرفے په ماښکر او د مزدلفے په صبا خلکو ته وفرمایل هرکله چه هغوی د عرفات نه راګوز شول : (اے خلکو!) په تاسو باندے آرام سره تلل لازم دی، او نبی کریم ﷺ خپله اُوښه رابندوله تردے چه وادی محسر ته ننوتو او دا د منیٰ حصه ده، وے فرمایل : (اے خلکو!) په تاسو د خذف (یعنی د چنے/لوبیا برابر) کانړی لازم دی هغه چه په هغے باندے جمره ویشتلے کیږی۔ راوی فرمائی : رسول الله ﷺ (په لاره) همیشه تلبیه وئیله تردے چه جمره (عقبه) ئے اُوویشته۔ (مسلمٌ)

تشریح : رَدِيْفَ : یعنی د مزدلفے نه چه کله منیٰ ته راتللو نو فضل بن عباس ﷛ ئے د ځان سره روستو کینولو۔

عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ : دا حکم د عرفات نه او بیا د مزدلفے نه د راتللو په وخت کښے شوے وو لیکن ددے په حکم کښے هر ځائے د ګنړے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

کَافٌّ : صیغـه د اسم فاعل ده، کاف باندے شد دے، د کَفٌّ نـه پـه معنیٰ د منع کولو او بندولو سره۔ یعنی منع کوله ئے د جلتئ نه په وخت د گنړه گونړه کښے۔
مُحَسِّرًا : [اَیْ یُحَرِّکُ دَابَّتَهٗ فِیْهِ] یعنی تردے چه محسر ته راننوتو نو په وادی محسر کښے ئے اُوښه تیزه کړه۔
وَهُوَ مِنْ مِنًی : ددے نـه مـعـلـومیږی چه وادی محسر د مِنیٰ نه دے، او دا د بعض علماؤ قـول دے، جـمهور علماء وائی چه وادی محسر د مزدلفے او د منیٰ ترمینځ یوه پرده ده۔ نهٔ د منیٰ نه دے او نهٔ د مزدلفے نه۔ او دلته معنیٰ دا ده چه دا مِنیٰ ته نزدے دے د مزدلفے نه، او پـه آخر د مـزدلـفـه کښے دے۔ عـلامـه اثیوبی حفظه الله وائی : کوم روایت کښے چه د مزدلفے نـه نـهٔ دے گرځیدلے نو مطلب دا دے چه په حدودو کښے د مزدلفے نه بهر دے، او کـوم روایت کښے چـه د منیٰ نه گرځیدلے نو هغه صرف په نوم کښے ځکه چه منیٰ ته نـزدے دے، ورنـه پـه حـکـم کښے د منیٰ نـه نـهٔ دے۔ او کوم روایت کښے چـه د منیٰ نـه گرځیدلے (اَلْمُزْدَلِفَةُ کُلُّهَا مَوْقِفٌ اِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ) نو دا په نوم کښے د مزدلفے نه دے۔ د هغے آخری حدود دی۔ (مطلب دا دے چه د منیٰ شپے په وادی محسر کښے صحیح نهٔ دی او د مـزدلـفے شپه هم په وادی محسر کښے صحیح نهٔ ده، ځکه چه رسول الله ﷺ دلته نه په تیـزئ وتـلے دے، لـهـذا پـه حـکـم کښے د دواړو نه نشو بلکه د دواړو ترمینځ فاصله شوه) حـافـظ ابـن قیـمؒ وائـی : مـحـسـر بـرزخ دے د منیٰ او مـزدلفے ترمینځ، د یو نه هم نهٔ دے حساب، بیـا وائـی : مـحـسـر حرم دے لیکن مشعر نهٔ دے، او مزدلفه حرم او مشعر دواړه دی، او بـطـن عرنه (کوم چه عرفات سره نزدے ده) هغه زمین حل دے او مشعر نهٔ دے۔ او عـرفات حل او مشعر دواړه دے۔ اهـ۔ بعض علماؤ وئیلی دی چه دے روایت کښے محسر تـه د منیٰ برخه وئیلے شویده نو دا روایت بالمعنیٰ دے او راوی ئے ابوالزبیر دے او دا د هغهٔ د طـرف نـه ادراج دے۔ دلیـل دا دے چـه یـو جـمـاعت د راویانو د ابن عباس ﷺ تـه علاوه د فـضـل بن عباس ﷺ نـه نـقـل کـړے او پـه هـغے کښے دا کلمه نشته (وَهُـوَ مِنْ مِنًی)۔ (زاد المعاد، البحر المحیط الثجاج : ۵۵۷/۲۳)
اَلْخَذْفِ : د ضَرُب پـه وزن دے۔ تیکروته او د لوبیا (کهلولو) په شان واړه واړه کانړوته وائـی، او خـذف پـه اصل کښے مسواکئ او غتے گوتے په طرفونو باندے کانړی ویشتو ته وئیلے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے روایت نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته حکم وکړو چه تاسو د جمرے د ویشتلو دپاره کاڼږی راغونډ کړئ او دا حکم ئے په وادی محسر کښے وکړو، نو دا په اتفاقی (اچانك) طور سره وو، لهذا دا ضروری نهٔ ده چه خاص د همدے ځائے نه به ئے راغونډوی۔ البته د جمراتو د خوا نه به ئے نهٔ راخلی کوم باندے چه جمره ویشتلے شوی وی۔دا د افضل خلاف دی اگرکه جائز دی۔ او پدے ورځ باندے صرف اُوه کاڼږی راخستل دی پدے وجه ئے دلته جمره مفرده راوړه، او که د درے وارو ورځو کاڼږی راغونډ کړی هم څه حرج نشته۔ یعنی اَویا (۷۰) کاڼږی۔

او دا حدیث دلیل دے چه څوك په وادی محسر کښے راتیریږی نو دلته تیز تلل افضل عمل دے، برابره ده چه پیدل وی او که په سورلئ څو چه کله مسلمانانو ته پکښے تکلیف نهٔ ورکوی۔

2611 (8) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: أَفَاضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَمْعٍ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ وَأَمَرَهُمْ بِالسَّكِينَةِ وَأَوْضَعَ فِي وَادِي مُحَسِّرٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُوْا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ وَقَالَ: **"لَعَلِّيْ لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا"**. لَمْ أَجِدْ هٰذَا الْحَدِيْثَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ إِلَّا فِيْ جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ مَعَ تَقْدِيْمٍ وَتَأْخِيْرٍ.

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ د مزدلفے نه په داسے حال کښے راکوز شو چه په هغهٔ باندے آرام وو او خلکو ته ئے (هم) په آرام (تللو) حکم وکړو او په وادی محسر کښے ئے اُوښه تیزه کړه او هغوی ته ئے حکم وکړو چه هغوی د تیکرکو د کاڼړو په شان باندے ویشتل وکړی۔ او وے فرمایل: شاید چه زهٔ به تاسو ددے کال نه روستو ونهٔ وینم۔ (صاحب مشکاة وائی) ما دا حدیث په صحیحینو کښے ونهٔ مونده مگر په جامع ترمذی کښے د تقدیم او تاخیر سره دے۔

تشریح : وَعَلَيْهِ السَّكِيْنَةُ : دا جمله حالیه ده یعنی په داسے حال کښے د مزدلفے نه راکوزیدو چه په هغهٔ باندے آرام وو،

وَأَوْضَعَ : د ایضاع نه دے تیزولو ته وائی۔ د وادی محسر اندازه پنځه سوه پنځه څلویښت (۵۴۵) گزونه ده۔ پدے کښے تیز تلل څکه مشروع شو چه عرب جاهلیت والا به دلته د خپلو پلارانو او نیکونو باندے د فخر دپاره ودریدل نو شارع د هغوی مخالفت

Maktaba Tul Ishaat.com

بهتر وګڼرلو۔ یا پدے وجه چه دلته الله تعالیٰ اصحاب الفیل باندے عذاب راوستے وو لهذا عذابی ځائے کښے ایساریدل مناسب نهٔ دی۔

لَعَلِّيْ : لعل استعمالول پدے مقام کښے د اِشفاق او یره ولو دپاره دی، او پدے کښے امت ته تیزی ورکول دی چه ما نه په جلتیٔ سره د حج طریقے زده کړیٔ او بیا دا خلکو ته ورسویٔ۔

لَا أَرَاكُمْ : نفی د رؤیت ئے د خپل ځان نه وکړه پدے کښے حکمت دا دے چه رسول الله ﷺ به د دنیاوی ژوند په اعتبار سره وفات کیږی ځکه چه په رؤیت باندے قادر نهٔ دے۔ که هغه د دنیاوی ژوند په اعتبار سره ژوندے وے نو بیا به ئے رؤیت هم کولے شوے۔ او د برزخ ژوند د دنیا د ژوند نه ډیر جدا دے۔ نو دا حدیث دلیل دے چه رسول الله ﷺ پس د مرګ نه دنیا والا نهٔ وینی او نهٔ حاضر ناظر دے، دا یوه باطله عقیده بریلوی فکر والا جوړه کړے ده۔

لَمْ أَجِدْ هٰذَا الْحَدِيْثَ : دا د صاحب المشکاة اعتراض دے په صاحب المصابیح باندے چه هغهٔ دا حدیث په فصل اول کښے راوړیدے حال دا چه دا په صحیحینو کښے نشته او نهٔ په جامع الاصول د جزریؒ کښے او جمع بین الصحیحین د حُمَیدیؒ کښے نقل دے۔

إِلَّا فِيْ جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ : دا استثناء منقطع ده۔ یعنی لیکن ما په جامع الترمذی کښے موندلے دے۔

مَعَ تَقْدِيْمٍ وَتَأْخِيْرٍ : پدے کښے دویم اعتراض ته اشاره ده چه د أَوْضَعَ فِيْ وَادِيْ مُحَسِّرٍ الفاظ د ټولو نه روستو دی، او صاحب المصابیح پدے روایت کښے مخکښے راوړی دی۔

درجة الحديث : [صحیح] : احمد (۳/۳۳۲، ۳۶۷، ۳۹۱) والدارمی (۲/۶۲) وابوداود (۱۹۴۴) والترمذی (۸۸۶) وقال حسن صحیح والنسائی (۵/۲۵۸) وابن ماجه (۳۰۲۳)

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2612 (9) - وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ ﷺ قَالَ: خَطَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَدْفَعُوْنَ مِنْ عَرَفَةَ حِيْنَ تَكُوْنُ الشَّمْسُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ وَمِنَ الْمُزْدَلِفَةِ بَعْدَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حِيْنَ تَكُوْنُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ. وَإِنَّا لَا نَدْفَعُ مِنْ عَرَفَةَ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَنَـدْفَعُ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، هَدْيُنَا مُخَالِفٌ لِهَدْيِ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالشِّرْكِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَقَالَ فِيْهِ : خَطَبَنَا وَسَاقَهُ بِنَحْوِهِ .

ترجمه : او محمد بن قیس بن مخرمه ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ خطبه ووئیله نو وې فرمایل : یقیناً جاهلیت والا به د عرفات نه په هغه وخت کښې راکوزیدل چه کله به نمر داسې شو ګویا که هغه د سرو د پټکو (پګړو) په شان دې د هغوی په مخونو کښې مخکښې د پریوتو نه، او د مزدلفې نه به د نمر راختو نه پس کله چه به نمر داسې شو لکه ګویا که هغه د سرو پټکې دی د هغوی په مخونو کښې۔ او مونږ به د عرفات نه نۀ کوزیږو تردې چه نمر پریوزی او مونږ به د مزدلفې نه د نمر د ختو نه مخکښې کوزیږو، زمونږ طریقه د بت پرستو او مشرکانو د طریقې نه مخالف ده۔ (بیهقیؒ په شعب الایمان کښې روایت کړې او په هغې کښې ئې وئیلی : مونږ ته ئې خطبه ووئیله او دغه شان روایت ئې بیان کړې)۔

تشریح : محمد بن قیس بن مخرمه بن مطلب بن عبد مناف بن قصی القرشي المطلبي المکی رحمه الله۔ حافظ په تقریب کښې وائی : وئیلې شی چه دا صحابی دې او ابوداودؒ ورته ثقه تابعی وئیلې دې۔

أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ : ددې نه مراد د قریشو نه علاوه عرب دی۔

فِيْ وُجُوْهِهِمْ : دا د تَكُوْنُ پورې متعلق دې۔ او تشبیه والا جمله معترضه ده۔

كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ : یعنی دوئ به د عرفات نه په داسې وخت کښې راکوزیدل چه نمر به پریوتو ته په کنارو د آسمان کښې داسې نزدې شو او نیم به شو لکه پټکې چه د سرې په سر باندې د نیمائی ګړی په شان ښکاره کیږی۔

یا مطلب دا دې چه نمر د ورځې په دوارو طرفونو کښې په مخ باندې لګیږی او پرقیږی لکه د پټکې سپینوالې چه څنګه ښکاره کیږی۔ ځکه چه انسان کله په کندو او کنډوونو کښې وی نو هغهٔ ته د نمر شعاع دومره معمولی شان رسیږی لکه چه یو شے په دوارو ارخونو کښې پرقیږی او د پټکې د سپینوالی په شان ئې مخ ښکاره کیږی چه باقی بدن او نیم مخ ئې سوری پټ کړې وی۔ نو څوك چه د هغهٔ مخ ته ګوری نو داسې ښکاره کیږی لکه د پټکې ول چه د هغهٔ په تندی باندې ښکاره کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ : مزدلفې نه د نمر ختلو نه لږ شان مخکښې راروانيدل مستحب دي او په اتفاق سره نمر راپورته کيدو ته ايساريدل مکروه دي۔ ځکه د مشرکينو مشابهت راځي۔ هَدْيُنَا : يعنې زمونږ طريقه او سيرت۔ عَبَدَة : جمع د عابد ده۔

درجة الحديث : [حديث صحيح] اخرجه الشافعي في ترتيب المسند (۱/۳۵۵) رقم (۹۱۶) (۹۱۷) وابن ابي شيبة (۴/۷-۸) والبيهقي في الكبرى (۵/۱۲۰) والطبراني في الكبير (۲۰/۲۴، ۲۵) رقم (۲۸) وقال الهيثمي في الزوائد (۳/۲۵۵) رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح واخرجه الحاكم في المستدرك (۲/۲۷۷) و (۳/۵۲۳) وقال حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه (وقد صح وثبت بما ذكرته سماع المسور بن مخرمة من رسول الله ﷺ- ووافقه الذهبي) وقال النووي في المجموع (۸/۱۲۸) اسناده جيد]

2613 (10) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَدَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَلَى حُمُرَاتٍ فَجَعَلَ يَلْطِحُ أَفْخَاذَنَا وَيَقُولُ :" أُبَيْنِيَّ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائي : مونږ رسول الله ﷺ د مزدلفې په شپه (يعنې د اختر په شپه) باندې (منٰى ته) وليږلو (چه مونږ) د عبد المطلب د خاندان څو هلکان وو (چه رسول الله ﷺ مونږ د شپې وليږلي وو) په خرو باندې (چه دا زمونږ سورلې وه) نو رسول الله ﷺ (زمونږ د روانيدو په وخت) زمونږ په پتونو باندې لاس وهلو او فرمايل ئې : اې زما بچو ! جمره مهٔ ولئ تردې چه نمر راوخيژي۔ (ابوداوٗد، نسائیؒ، ابن ماجہؒ)

تشريح : قَدَّمَنَا : يعنې رسول الله ﷺ مونږ له مخکښې وليږلو۔ يا ئې مونږ ته حکم وکړو چه مونږ منٰى ته مخکښې لاړ شو۔

أُغَيْلِمَةَ : جمع د غلام ده، تصغير د غِلْمَةٌ دې، ماشومانو او هلکانو ته وئيلې شي۔ او دا منصوب دې، بدل دې د ضمير متکلم (نَا) نه په قَدَّمَنَا کښې۔ يعنې "مونږ نه" مراد د بنو عبد المطلب هلکان دي۔ پدې کښې ئې ماشومانو هلکانو ته په زنانو باندې غلبه ورکړيده۔ حُمُرَاتٍ : جمع د حُمُر ده، جمع تصحيح ده، او حُمُر جمع د حِمَار ده۔

يَلْطِحُ : يعنې وهل به ئې۔ لطح په آرام او نرمۍ سره وهلو ته وئيلې شي چه د لاس په تلي سره وي۔ افخاذ جمع د فَخِذ ده۔ ورون او پتون ته وائي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

أُبَيْنِيٌّ : دا تصغير د اَبْنىٰ دے لکه د اَعْمىٰ او اُعَيْمى په شان۔ دا مفرد دے دلالت په جمعه باندے کوی۔ یا اَبْنىٰ جمع د ابن ده لکه چه ابناء جمع د ابن ده۔ نو د تصغیر په آخر کښے به هم الف مقصوره وی۔ یعنی اُبَیْنىٰ، او جزریؒ وئیلی دی چه څوك ئے تصغیر د ابن گنړی نو هغه صحیح نهٔ دے۔ او علی القاریؒ وائی : چه دا تصغیر د هغه ابن دے چه مضاف وی یاء د متکلم ته (یعنی اِبْنِیْ) یا پس ددے نه چه دا په جمع سالم سره جمعه کړے شی یعنی بَنِیْنَ نو نون په اضافت سره یاء د متکلم ته وغورزیدو او یاء په یاء کښے مدغم شوه او بیا چونکه د مفرد (بُنَیٌّ) سره التباس راتللو د وجه نه اول کښے همزه وصلی زیاته شوه۔ نو اُبَیْنِیٌّ جوړ شو۔ او معنیٰ دا ده چه يَا اَبْنَائِيْ وَيَا بَنِيَّ ۔ یعنی اے زما بچو!۔ اَلْجَمْرَةَ : نه مراد جمره عقبه ده۔

حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ : دا حدیث دلیل دے چه کوم کمزورو ته د مزدلفے د نیمائی شپے نه روستو راروانیدو اجازه ورکړے شویده نو هغه به هم په منیٰ کښے جمره د نمر خاتهٔ نه مخکښے نهٔ ولی۔ البته شوکانیؒ وئیلی دی چه دلیلونه پدے خبره دلالت کوی چه د چا منیٰ ته په وختی تللو باندے رخصت نهٔ وی نو هغوی دپاره د نمر خاتهٔ نه مخکښے ویشتل صحیح نهٔ دی، البته که چا ته د مخکښے راتللو رخصت وی نو هغوی دپاره د نمر خاتهٔ نه مخکښے ویشتل هم جائز دی۔

مګر پدے مسئله کښے هم اختلاف دے (۱) شافعیؒ، احمدؒ، عطاءؒ، اسماء بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنهما، عکرمهؒ، خالدؒ، طاووسؒ او شعبیؒ وئیلی دی چه اول هغه وخت چه په هغے کښے رمی د جمره عقبه جائز کیږی هغه د اختر د شپے نیمائی روستنۍ حصه ده۔ د هغوی دلیل روستو حدیث د عائشے ﷞ دے چه د هغے تائید په روایت د ام سلمه ﷞ سره کیږی کوم چه خلالؒ په خپل سند سره راوړیدے۔ ام سلمه ﷞ فرمائی : زهٔ رسول الله ﷺ د خپل اهل سره د مزدلفے په شپه مخکښے راولیږلم [فَرَمَيْتُ بِلَيْلٍ] نو ما جمره د شپے ویشتله۔ بیا زهٔ مکے ته لاړم او هلته مے سهار مونځ وکړو۔ بیا منیٰ ته راواپس شوم۔ کذا ذکره ابن القیمؒ۔

(۲) او یو جماعت د اهل علموؒ وئیلی دی چه اول وقت د جمرے ویشتلو د صبا راختلو نه پس شروع کیږی۔ او اول مستحب وخت ئے د نمر خاتهٔ نه روستو دے۔ او د زوال نه تر نمر پریواتهٔ پورے ئے وخت د جواز دے په غیر د ګنهګاریدو نه۔ که د نمر خاتهٔ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکښې او د صبا راختو نه روستو ئې جمره اُوویشته نو جائز ده او که د صبا نه مخکښې ئې اُوویشته نو دوباره به ئې ولي۔ او دا قول د مالكؒ او ابو حنيفهؒ دے۔

او ددے قول والا دليل حديث د ابن عباس رضی الله عنه دے :

[إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ بِهِ مَعَ أَهْلِهِ إِلَى مِنًى يَوْمَ النَّحْرِ، فَرَمَوُا الْجَمْرَةَ مَعَ الْفَجْرِ] [مسند احمد : ۲۹۹۳ اسناده ضعيف، فيه شعبة مولى ابن عباس وهو صدوق سيء الحفظ، (تقريب) وقال مالك : ليس بثقة] وقال ابن حبان : ۳۵۷/۱ : يروى عن ابن عباس ما لا اصل له، انتهى، قال الالباني : رواية منكرة لان المحفوظ عن ابن عباس قوله ﷺ : لَا تَرْمُوا حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ]

نبی عليه السلام هغهٔ لره د اختر په ورځ منیٰ ته د خپل اهل سره ولیږلو نو هغوی د صبا د راختو سره جمره عقبه اُوویشته۔

(۳) او د نخعیؒ او مجاهدؒ او ثوریؒ او ابو ثورؒ رائے دا ده چه د جمره عقبه ویشتلو اول وخت د نمر خاتهٔ نه روستو دے لهذا ددے ویشتل د نمر خاتهٔ نه مخکښې جائز نهٔ دی۔ د دویٔ دلیل دا حدیث الباب دے۔ چه پدے کښې نبی عليه السلام ماشومان او ضعیفان منع کړیدی چه تاسو به د نمر خاتهٔ نه روستو جمره ولیٔ اګرکه تاسو منیٰ ته وختی لاړ شئ۔

نو ددے احادیثو ترمینځ (۱) د **تطبیق** په باره کښې غوره خبره دا ده چه دا حدیث الباب (حدیث د ابن عباس رضی الله عنه) کښې د نمر خاتهٔ نه مخکښې ویشتلو نه منع راغلې ده نو دا په باره د هغه ماشومانو کښې ده چه هغوی ته خو اجازه ورکړے شویده چه د مزدلفې نه د شپې منیٰ ته لاړ شی لیکن جمره به روستو ولی ځکه چه په مخکښې ویشتو کښې د دویٔ هیڅ عذر نشته۔ او کوم روایت د اسماء او ابن عمر او ابن عباس رضی الله عنهم کښې چه د شپې ویشتل یا د صبا راختو نه روستو ویشتلو اجازه راغلې ده نو هغه په باره د هغه زنانو او ضعیفانو کښې ده چه هغوی ته منیٰ ته د شپې راتللو اجازه ورکړے شویده نو که روستو ګڼړه راشی هغوی ته تکلیف جوړیږی۔ لهذا هغوی که د شپې یا د صبا راختو نه روستو جمره عقبه وولی نو جائز ده۔ لکه چه دا خبره حافظ ابن قیم رحمه الله ذکر کړیده۔

(۲) او ابن قُدامه رحمه الله داسے تطبیق کړیدے چه د نمر خاتهٔ نه روستو د هر چا دپاره ویشتل بهتر دی، او د معذورو او ضعیفانو دپاره د نمر خاتهٔ نه مخکښې د صبا سره یا د شپې ویشتل جائز دی۔ [المغنی ۴۲۸/۳] ۔

علامه شنقیطیؒ وئیلي دی چه قوی نارینه ؤ دپاره د نمر خاتهٔ نه مخکښې د جمره عقبې

Maktaba Tul Ishaat.com

ويشتل جائز نۀ دی او ضعيفانو او زنانه ؤ دپاره د صبا د راختو نه روستو او د نمر ختۀ نه مخکښې ويشتل جائز دی د وجه د حديث د اسماء او ابن عمر رضی الله عنهما نه کوم چه بخاري او مسلم کښې راغلی دے او په هغې کښې رخصت ذکر دے۔ البته د ضعيفانو او زنانو دپاره د صبا راختو نه مخکښې ويشتل نۀ دی پکار۔

(د ابن عمر ﷺ روايت کښې دی: [كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ يُقَدِّمُ ضَعَفَةَ اَهْلِهٖ فَيَقِفُوْنَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ بِالْمُزْدَلِفَةِ بِلَيْلٍ فَيَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مَا بَدَالَهُمْ ثُمَّ يَرْجِعُوْنَ قَبْلَ اَنْ يَّقِفَ الْإِمَامُ وَقَبْلَ اَنْ يَّدْفَعَ فَمِنْهُمْ مَنْ يَّقْدَمُ مِنًى لِصَلَاةِ الْفَجْرِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَّقْدَمُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاِذَا قَدِمُوْا رَمَوُا الْجَمْرَةَ، وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُوْلُ اَرْخَصَ فِيْ اُوْلٰئِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ] [بخاری: ۱٦٧٦]

د اسماء رضي الله عنها د روايت الفاظ دا دی: [يَا بُنَيَّ اُنْظُرْ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ؟ قُلْتُ (اَلْقَائِلُ مَوْلَاهَا عَبْدُ اللّٰهِ) نَعَمْ، قَالَتْ: اِرْتَحِلُوْا فَارْتَحَلْنَا فَرَمَيْنَا الْجَمْرَةَ ثُمَّ صَلَّتِ الْغَدَاةَ فِيْ مَنْزِلِهَا...... قَالَتْ: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَذِنَ لِلظُّعُنِ] [بخاری: ۱٦٧٩] (يعنی مونږ جمره وويشته او بيا ئې هغې په خپل کور کښې د سهار مونځ وکړو، او دا ئې ووېل چه رسول الله ﷺ ضعيفو زنانو ته اجازت ورکړے)۔ او کوم حديث کښې چه دا دی (لکه روستو راځی) چه: [فَرَمَيْتُ الْجَمْرَةَ بِلَيْلٍ]: نو هغه د ام سلمه ﷞ رائے ده۔ مرفوع حديث نۀ دے۔ [المعجم الكبير للطبرانی: ۱۹۰۷۳]

درجة الحديث: [صحيح] احمد: ۱/۲۳۴، ۳۱۱، ۳۴۳۔ والحميدی (٤٦٥) والنسائی (۲/۵۰) وابن ماجه (۳۰۲۵) وابوداود (۱۹٤۰) راجع نصب الراية (۳/۷۵) وارواء الغليل (٤/۲۷٦) رقم (۱۰۷۵)

2614 (11) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُمِّ سَلَمَةَ لَيْلَةَ النَّحْرِ فَرَمَتِ الْجَمْرَةَ قَبْلَ الْفَجْرِ ثُمَّ مَضَتْ فَأَفَاضَتْ وَكَانَ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْيَوْمَ الَّذِيْ يَكُوْنُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه: او عائشه ﷞ فرمائی: نبی کريم ﷺ ام سلمه ﷞ د (لوی) اختر په شپه وليږله نو هغې د صبا نه مخکښې جمره اُوويشته بيا لاړه او طواف افاضه ئې وکړه او دا هغه ورځ وه کومه ورځ چه به رسول الله ﷺ د هغې په نمبر کښې وو۔ (ابوداودؔ)

تشريح: بِأُمِّ سَلَمَةَ: يعنی ام سلمه ئې د نورو ضعيفانو سره وليږله۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قَبْلَ الْفَجْرِ : دا حديث دليل دے چه د چا سخت عذر وي لکه زنانه او بوډاګان کله چه هغوي د مزدلفې نه د شپې منیٰ ته راورسيږي نو هغوي لره د صبا راختو نه مخکښې هم ويشتل جائز دي. او حديث د ابن عباس ﷺ کښې چه منع راغلې ده نو هغه د هغه چا په حق کښې ده چه عذر ئې نۀ وي لکه ابن عباس ﷺ او نور ماشومان د هغوي عذر نۀ وو.
شوکانيؒ ددې حديث په باره کښې فرمائي چه دا حکم صرف د زنانو پورې خاص دے. ځکه چه نورو احاديثو کښې د نمر ختاۀ نه مخکښې جمره ويشتلو نه منع راغلې ده.
يَكُوْنُ رَسُوْلُ اللّٰهِ : يعني رسول الله ﷺ د ام سلمې ؓ په نمبر کښې وو. پدې کښې اشاره ده ددې سبب د جلتئ ته په رمي او طواف افاضه کښې. دے جلتي ځکه کوله چه د الله تعالیٰ د نبي خدمت ته ئې ځان فارغولو. او دے ته اشاره ده چه رسول الله ﷺ به ددې د حال نه خبر شوے وي ليکن دا حديث ضعيف دے، او د ام سلمه ؓ رائې ده او مرفوع حديث نشته.

درجة الحديث : [اسناده ضعيف] ابوداود : ۱۹۴۲ والحاكم : ۱/۴۶۹، وقال صحيح على شرطهما واقره الذهبي ولكن اسناده ضعيف اسناد رجاله ثقات رجال مسلم الا ان الضحاك فيه ضعف من قبل حفظه، وخولف في اسناده ومتنه. ارواء الغليل :۴/۲۷۷رقم : ۱۰۷۷.

2615 (12) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : يُلَبِّي الْمُقِيْمُ اَوِ الْمُعْتَمِرُ حَتّٰى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَقَالَ : وَرُوِيَ مَوْقُوْفًا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ .

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائي : مقيم (په مکه کښې وسيدونکے) او (بهر نه راتلونکے) عمره کونکے به تلبيه وي ترڅو چه د حجر اسود استلام وکړي. (دا روايت ابوداوٗد راوړے او فرمائيلي ئې دي : او دا د ابن عباس ﷺ نه موقوفاً هم روايت کړے شوے).

تشريح : يُلَبِّي الْمُقِيْمُ اَوِ الْمُعْتَمِرُ : المقيم نه مراد هغه معتمر دے چه په مکه کښې وسيږي، او معتمر نه مراد هغه دے چه د بهر نه راغلے وي. نو اَوْ د تنويع دپاره دے. يا اَوْ شك د راوي دے.

نو دے حديث نه معلومه شوه چه عمره کونکے به تر هغه وخته پورې تلبيه وائي چه حجر اسود ښکل کړي، مينځ مينځ کښې ذکر هم کولې شي ليکن تلبيه بهتره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

بعض اهل علمو وئیلی دی چه کله د مکې کورونو ته ورسیږی نو تلبیه به بنده کړی، او امام مالك پکښې دا فرق کړیدے چه کله عمره کونکے د میقات نه احرام وتړی نو کله چه حرم ته راشی، تلبیه به بنده کړی بیا به ئے دوباره نۀ وائی، او څوك چه د میقات نه غیر لکه تنعیم یا جعرانې نه احرام د عمرے وتړی نو هغه به تلبیه بنده کړی کله چه د مکې کورونو ته راننوتو۔ (المدونة لابن القاسمؒ)

لیکن دا قول بے دلیله دے او ددے حدیث خلاف معلومیږی۔

ابن حزم رحمه الله فرمائی: عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائی چه کله حرم ته ننوزی نو تلبیه به بنده کړی، او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی چه تلبیه به نۀ قطع کوی تردے چه ټول اعمال د عمرے وکړی، او هغۀ به خپله په صفا باندے هم تلبیه وئیله۔ او عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه کله حجر اسود ښکل کړی نو تلبیه به بنده کړی او همدے باندے مونږ قول کوو۔ بیا وائی: پدے مسئله کښې عراقینو (یعنی احنافو) د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د مذهب مخالفت کړیدے۔ القرئ (ص۱۵٤)

درجة الحدیث: [اسناده ضعیف والحدیث صحیح] ابوداود (۱۸۱۷) والترمذی (۹۱۹) والبیهقی موقوفا ومرفوعا فی الکبری (۵/۱۰٤، ٤۰۵) وفی اسناده محمد بن عبد الرحمن بن ابی لیلی صدوق سیء الحفظ جدا۔ (التقریب) وصححه الترمذی فقال والعمل علی هذا الحدیث عند اکثر اهل العلم.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2616 (13) - عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ أَنَّهُ سَمِعَ الشَّرِيدَ يَقُولُ: أَفَضْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْأَرْضَ حَتَّى أَتَى جَمْعًا . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: یعقوب بن عاصم بن عروةؒ په باره کښې روایت شوے چه هغۀ د شرید بن سوید ثقفی رضی الله عنه نه آوریدلی چه فرمایل ئے: زۀ د رسول الله ﷺ سره (د عرفات نه) راکوز شوم نو د هغۀ دواړه قدمونه د زمکے سره ونۀ لګیدل (یعنی په اوښه باندے سور وو) تردے چه مزدلفے ته راغلو۔ (ابوداودؒ)

تشریح: یعقوب بن عاصم بن عروة بن مسعود الثقفیؒ دا د نافع بن عاصم المکیؒ ورور دے۔ ابن حبانؒ په ثقاتو کښې ذکر کړیدے او حافظؒ ورته په تقریب کښې وئیلی دی: [اِنَّهٗ مَقْبُوْلٌ مِنَ الثَّالِثَةِ اَیْ مِنَ الطَّبَقَةِ الْوُسْطٰی مِنَ التَّابِعِیْنَ] ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

الشَّرِيْدَ : په وزن د طويل دا شريد بن سويد الثقفي دے۔ بعض وائي : دا د حضرموت (يمن) دے، او په ثقيف قبيله كښې پدے وجه شمار شويدے چه ددهٔ ماماگان ثقفيان دي۔

ابن السكنؒ وائي : دا صحابي دے، په طائف كښې وسيدلے، دهٔ آمنه بنت ابي العاص بن اميه په نكاح اخستے وه۔ او ددهٔ نوم مالك دے، ليكن دهٔ ته شريد پدے وجه وئيلے شي چه شريد معنىٰ ده تښتيدلے، او دے هم د مغيره بن شعبه ﷺ نه تښتيدلے وو كله چه مغيره ﷺ ددهٔ ملگرى وژلى وو ۔ (كذا في الاصابة) جزريؒ وائي : بيا رسول الله ﷺ ته راغلو او اسلام ئے قبول كړو او په بيعت الرضوان كښې حاضر شو او رسول الله ﷺ ورته شريد نوم كيخودو۔ آه۔ او مسلمؒ وغيره نقل كړيدي چه رسول الله ﷺ د شريد نه مطالبه وكړه چه ما ته د اميه بن ابي الصلت شعرونه ووايه نو هغهٔ ورته سل قافيې (قصيدے) ولوستلے نو نبي ﷺ وفرمايل : نزدے وه چه اميه مسلمان شوے وے۔ (يعني دومره رښتيني شعرونه ئے وئيلي دي) والله اعلم۔

دا حديث دليل دے چه رسول الله ﷺ هركله د عرفات نه مزدلفے ته راتللو نو بل څه حاجت دپاره په لاره نهٔ وو ايسار شوے۔ ليكن په روايت د صحيحينو كښې د اسامه ﷺ نه راغلي دي چه رسول الله ﷺ كله د عرفات نه مزدلفے ته راتللو نو د ورو بولو دپاره كوز شو او بيا ئے معمولي شان اَودس وكړو او بيا مزدلفے ته روان شو۔ نو د دواړو روايتونو تطبيق دا دے چه د شريد ﷺ مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ د عرفات نه مزدلفے پورے لاره په سورلئ باندے ووهله او پياده مزل ئے ونكړو او دا مطلب نهٔ دے چه زمكے ته د هيڅ حاجت دپاره نهٔ دے كوز شوے۔ (طيبيؒ)

عظيم آباديؒ په ((عون المعبود)) كښې وائي چه اسامه ﷺ د رسول الله ﷺ سره شا ته سور وو نو هغهٔ رسول الله ﷺ لره وليدو چه كوز شو او شريد ﷺ نفي د كوزيدو كوي، او دا قاعده ده چه مثبت مقدم وي په نافي باندے ځكه چه كيدے شي شريد ﷺ د رسول الله ﷺ كوزيدل نهٔ وي ليدلي، او اسامه ﷺ ورسره شا ته سور وو، هغهٔ وليدو نو هر چا د خپل علم مطابق خبره ذكر كړه۔ او همدا توجيه غوره ده، د تكلف نه خالي ده۔

درجة الحديث : [صحيح] اخرجه ابوداود : ۱۹۲۰، واحمد : ۳۸۹/۴۔ فيه يعقوب بن عاصم بن عروة بن مسعود الثقفي لم يوثقه غير ابن حبان وهو ثقة عند الذهبي في الكاشف وباقي رجاله ثقات۔ وقال الحافظ في فتح الباري (۴۲۲/۸) هو واخوه داود كل منهما ثقة من صغار التابعين۔ وانظر تحفة

Maktaba Tul Ishaat.com

اللبيب بمن تكلم فيهم الحافظ ابن حجر من الرواة في غير التقريب لابي عمرو نور الدين السدعى الوصابي ۲/۱۶۵.

2617 (14) – وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي سَالِمٌ أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ عَامَ نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِ سَأَلَ عَبْدَ اللّٰهِ: كَيْفَ نَصْنَعُ فِي الْمَوْقِفِ يَوْمَ عَرَفَةَ؟ فَقَالَ سَالِمٌ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ: **صَدَقَ إِنَّهُمْ كَانُوا يَجْمَعُونَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي السُّنَّةِ** فَقُلْتُ لِسَالِمٍ: أَفَعَلَ ذٰلِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ سَالِمٌ: **وَهَلْ يَتَّبِعُونَ فِي ذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ**؟. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: وابن شهاب زهريؒ فرمائي: ما ته سالمؒ خبر راكړے چه حجاج بن يوسف په هغه كال چه په عبد الله بن زبير ﷺ باندے ورنازل شو (هغه ئے قتل كړو) نو د عبد الله بن عمر ﷺ نه ئے پوښتنه وكړه چه مونږ به د عرفے په ورځ د وقوف په دوران كښے څه كوو؟ (يعني په عرفات كښے به د ماسپښين او مازيگر مونځ د وقوف نه مخكښے كوو يا د وقوف په دوران كښے يا د وقوف نه روستو؟) نو سالمؒ ورته وفرمايل: كه ته په سنت باندے (عمل) كول غواړے نو د عرفے په ورځ (د ماسپښين او ما زيگر مونځ) وختي وكړه- نو عبد الله بن عمر ﷺ وفرمايل: سالمؒ رشتيا وائي- يقيناً صحابه كرامو به په سنت باندے عمل كولو كښے د ماسپښين او مازيگر مونځونو ترمينځ جمع والے كولو- زهريؒ وائي: ما سالمؒ ته وويل: آيا دا كار رسول الله ﷺ كړے؟ نو سالم وفرمايل: صحابه كرام ﷺ پدے كار كښے (يعني داسے مونځ كولو كښے) صرف د رسول الله ﷺ د سنت طريقے تابعداري كوي- (بخاريؒ)

تشريح: ابن شهاب الزهريؒ مشهور محدث دے چه ددۀ تعارف مخكښے ذكر شويدے- **سالم** نه مراد سالم بن عبد الله بن عمر ﷺ دے،

الحجاج بن يوسف د عراق مشهور گورنر تير شويدے او په ظلم باندے مشهور دے- حافظ په "تقريب" كښے وائي: ددۀ ذكر او كلام په صحيحينو وغيره كښے راغلے دے ليكن دے ددے اهل نۀ دے چه ددۀ نه روايت نقل شي، د عراق شل كاله گورنر پاتے شويدے، او په (۹۵ هـ) كښے وفات شويدے- او په تهذيب التهذيب كښے دي چه په (۴۵) هـ كښے پيدا شوے او په طائف كښے لوئي شويدے، او ددۀ پلار د بنو اميه ؤ ډله باز وو، او

Maktaba Tul Ishaat.com

د مروان سره د هغـهٔ په جنګونو کښې شريك وو. او ددهٔ څوی مؤدب او ليکوال را لوئی شو، بيا د عبد الملك بن مروان سره يو ځائے شو او د هغهٔ سره د مصعب بن الزبير قتل ته حاضر شو او بيا ئے د عبد الله بن زبير ﷺ د قتال دپاره ئے مکے ته په لښکر باندے امير وليږلو، نو مکے ته لاړو او کعبه ئے په منجنيق باندے وويشتله تردے چه عبد الله بن زبير ﷺ شهيد شو. په سنه (۷۳ هـ) کښے. او بعضو وئيلی دی چه دهٔ يو سړے تيار کړو چه عبد الله بن عمر ﷺ په زهريله نيزه باندے ووهی. بيا عبد الملك بن مروان په حرمينو باندے څه موده ګورنر کړو، بيا ئے راوغوښتو او د کوفے ګورنری ئے ورکړه بيا ئے ورسره بصره هم ملګرے کړه او دے وخت کښے ددهٔ عمر (۳۳) کاله وو. نو په خلکو کښے ئے ظلمونه شروع کړل او په ګورنرئ کښے شل کاله پاتے شو. امام ترمذیؒ په "الفتن" کښے د هشام بن حسان القردوسی البصری نه نقل کړيدی چه خلکو د حجاج د لاس نه په صبر (تړلو) سره وژلے شوی کسان وشمارل نو يو لاکهـ شل زره کسانو ته ورسيدل، يو جماعت د تابعينو وغيره ورته د کفر نسبت کړيدے چه د هغوی نه سعيد بن جبيرؒ، نخعیؒ، مجاهدؒ، شعبیؒ او عاصم بن ابی النجودؒ وغيره دی. اسماء بنت ابی بکر صديق ﷺ ورته ووئيل: تهٔ هغه هلاکونکے ئے چه مونږ ته رسول الله ﷺ خبر راکړيدے (چه په ثقيف کښے به يو مُبير (هلاکونکے) پيدا کيږی. دے په واسط کښے د شوال په مياشت کښے په سنه (۹۵ هـ) کښے د پنځوسو کالو په عمر وفات شو.

نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِ : يعنی په هغه کال چه دهٔ د عبد الله بن زبير ﷺ د قتال دپاره لوی فوج نازل کړو. چه دا هجری (۷۳) کال وو. او عبد الله بن زبير ﷺ پدے وخت کښے په مکه کښے او په کوفه او بصرهٔ باندے خليفه وو سویٰ د اطرافو د شام نه. تردے چه د عبد الله بن زبير ﷺ نه خلك وتښتيدل او خپله صبرکونکے پاتے شو چه خپله ئے جهاد وکړو تردے چه خلك پرے کامياب شو او دے ئے شهيد کړو او په سولئ ئے کړو.

بيا عبد الملك بن مروان حجاج لره په دغه کال باندے د حاجيانو امير جوړ کړو او هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه د حج په ټولو احوالو کښے دے د عبد الله بن عمر ﷺ د اقوالو او افعالو اقتداء وکړی او د هغهٔ نه دِے تپوس نه کوی او د هغهٔ مخالفت دِے نهٔ کوی، نو دغه وخت حجاج د عبد الله بن عمر ﷺ نه دغه تپوس وکړو. نو سالمؒ ورته په جواب کښے ووئيل چه که تهٔ سنت باندے عمل کول غواړے نو مونځ وختی وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ : دا د تهجير نه د امر صيغه ده، وختي كول.

صَدَقَ : عبد الله بن عمر ﷺ د خپل ځوی (سالم) تائيد وكړو او د هغهٔ د جواب نه ئې دا فهم كړه چه (فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ) نه مراد د ماسپښين او مازيګر مونځ په يو ځائې وختي كول دي. يعنې جمع بين الصلاتين. نو وې فرمايل : چه د نبي كريم ﷺ په سنت كښې به خلكو ماسپښين او مازيګر مونځ په عرفات كښې په يو ځائې وختي كولو.

فِي السُّنَّةِ : [اَىْ مُتَمَسِّكِيْنَ بِهَا] يعنې په سنت باندې ئې عمل كولو. او پدې كښې ئې په حجاج باندې تعريض وو. يا (فى) سببيه ده نو د فى السنة نه مراد دا چه د وجه د سنت او د هغې د اتباع نه.

فَقُلْتُ: يعنې ابن شهاب الزهرىّ وائي ما ووېل.

وَهَلْ يَتَّبِعُوْنَ فِيْ ذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهٗ : يعنې صحابه كرام ﷺ پدې باره كښې صرف د نبي كريم ﷺ د سنتو تابعداري كوی. دې نه معلومه شوه چه كله يو صحابي مطلق سنت ذكر كړي نو د هغې نه مراد ئې خپل سنت نهٔ بلكه د رسول الله ﷺ سنت وي.

فوائد : (۱) دې حديث نه معلوميږي چه شاګرد د استاذ او مُعلم په حضور كښې فتوىٰ وركولې شي چه كله په هغې كښې بې ادبي نهٔ راځي. (۲) فاجر ته د سنت طريقو تعليم وركول پكار دي دې دپاره چه خلكو ته ئې فائده ورسيږي.

(۳) دا حديث دليل دې چه په عرفات كښې مسجد نَمِرَه ته په جلتئ باندې ورتلل كله چه نمر زائل شي، او د امام په مسجد كښې جمع بين الصلاتين په اول وخت د ماسپخين كښې ادا كول سنت طريقه ده.

OOOOOOO

Maktaba Tul Ishaat.com

٦ - باب رمی الجمار

د جمراتو د ويشتو بيان

يعنی د جمراتو د ويشتو وخت او د رمی حکم۔
الجمار : جمع د جَمْرةٌ ده، په اصل کښې بل کړے شوے اُور، او سکروټه ده۔
الشهاب القرافيّ وئيلی دی چه جمار نوم دے د ګيټو (او کاڼو) نۀ د ځائے۔ او دغه ځائے ته جمرات او جمار پدے وجه وائی چه دلته ګيټئ او کاڼی راجمع کيږی۔ يا پدے وجه چه خلك پدے کښے راجمع کيږی۔ او تَجمّر په معنیٰ د اجتماع (د راجمع کيدو) سره استعماليږی۔ بعض وائی : عرب وړو کاڼو ته جمار وائی نو دا تسميه د يو شی ده په اسم د لازم سره۔ او په منیٰ کښے دغه ځايونو ته جمار او جمرات پدے وجه وائی چه دا په وړو کاڼو سره ويشتلے کيږی۔
امام نوویؒ په "المناسك" کښے وائی چه امام شافعیؒ وئيلی دی چه جَمره د کاڼو د راجمع کيدو ځائے ته وائی نۀ هغه کاڼو ته چه بهيدلی وی، نو چا چه دغه ځائے په کاڼو ويشتو نو جائز ده او چا چه دغه بهيدلے شوی کاڼی (او ديوال) ويشتو چه هلته کاڼی نۀ راجمع کيږی نو نۀ ده جائز (مطلب دا چه د کاڼو آخور (کنده) ويشتل جائز او که ديوال وولی او کاڼے بهر پريوزی نو جائز نۀ ده، دوباره به ئے ولی)
مسئله : د رمی الجمار حکم : (۱) جمهور علماء وائی چه د جمره عقبه او د باقی جمراتو په دريے ورځو کښے ويشتل واجب دی چه په دم سره ددے جبيره کيږی۔
(۲) عبد الملك بن ماجشونؒ د امام مالكؒ شاګرد د جمهورو نه خلاف کړيدے، هغۀ فرمايلی دی چه د اختر په ورځ د جمره عقبه ويشتل رکن دے چه ددے په پريخودو سره حج نۀ کيږی لکه د نورو ارکانو په شان ده۔ جمهور دا د نورو ايام التشريق په رمی باندے قياس کوی۔ او ابن ماجشونؒ دليل وائی چه نبی کريم ﷺ دا ويشتلے ده او بيا ئے فرمايلی دی : [لِتَأْخُذُوا عَنِّي مَنَاسِكَكُمْ] زما نه کارونه د حج واخلئ۔ ليکن دا استدلال

Maktaba Tul Ishaat.com

په محل د نظر کښې دے، ځکه چه په حج کښې ډیر کارونه مستحب او مسنون دي حال دا چه هغه هم نبي ﷺ کړیدي. ابن حجرؒ وائي : د مالکیه ؤ په نیز رمي سنت مؤکد ده نو په دم سره جبیره کیږي. او د دوئ نه یو قول دا نقل شویدے چه د جمره عقبے ویشتل رکن دے ددے په پریخودو حج باطلیږي. ددے په مقابل کښې د بعضو وینا ده چه د جمره عقبه ویشتل د تکبیر د حفاظت دپاره مشروع شویدي، که یو تن دا ویشتل پریدي او ددے په ځائے تکبیر ووائي هم جائز ده. دا قول ابن جریرؒ د عائشے ﷺ وغیره نه نقل کړیدے. (انتهی)

ابن قدامهؒ وائي : امام احمدؒ فرمائي : که چا د ټولو جمراتو ویشتنه پریخوده نو دم به ورکوي او که یوه جمره پریدي هم دم به ورکوي، او دا قول د عطاءؒ او شافعيؒ او اصحاب الرأيؒ دے. او د امام مالكؒ نه نقل دي چه په یوه جمره یا په ټولو جمراتو پریخودو سره په دۀ باندے بَدَنه ورکول لازم دي.

حسنؒ وائي : که چا یوه جمره په نسیان (هیره) سره پریخوده نو په مسکین به صدقه وکړي. او زمونږ دپاره دلیل قول د ابن عباس ﷺ دے چه چا یو شے د مناسکو نه پریخودو په هغۀ باندے دم لازم دے. البته که د جمرے نه کم پریدي، یعنی یو کاڼے دوه کاڼے ونۀ ولي نو د امام احمدؒ نه ظاهر روایت دا دے چه په دۀ باندے هیڅ نشته. او یو روایت دا دے چه څه صدقه به کوي. او یو روایت ترے دا دے چه په هر کاڼي پریخودو باندے دم دے. او دا مذهب د مالكؒ او لیثؒ دے. او یو روایت ترے دا دے چه په درے کاڼو پریخودو باندے دم دے. او دا مذهب د شافعيؒ دے. او ددے نه په کم باندے په هر کاڼي یو مد صدقه ورکول دي. او ددۀ نه یو روایت دا دے چه یو درهم یا نیم درهم لازم دے.

ابن قدامهؒ وائي : چا چه په غیر د عذر نه رمي پریخوده نو په هغۀ باندے دم لازم دے.

دا خو د اهل علمو خبرے شوے چه دلیل کله نۀ وي نو دغه شان اختلافات راځي. نو **صحیح** خبره دا ده چه جمره پریخودل په دوه قسمه دي: (۱) یو دا چه قصدًا ئے پریدي، نو دا د دین پورے توقے کول دي او ددے انسان حج نۀ کیږي، او دا ولے پریدي ؟!. آیا حج له تلے او که لوبو له تلے دے ؟

(۲) دویم : جمره ویشتل په هیره سره یا په ناپوهئ سره یا د عذر په وجه سره پریخودل دي نو ددے حکم دا دے چه هرکله ورته رایاده شوه وبه ئے ولي، یا کله چه پوهه شو چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې ويشتل خو ضروري وو او ما نۀ دي ويشتي، يا چه کله ئې عذر زائل شو نو ويه ئې ولي. ځکه چه حديث کښې دي : [فَدَيْنُ اللّٰهِ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ] [مسلم : ۲۷٤۹] د الله تعالیٰ دين (قرض/حق) د ادا کولو ډير لائق دے. او دا انسان هم د الله تعالیٰ قرضدارے دے نو ادا کول ورله لازم دي.

او که چرته خپل کلي ته واپس شوے وو او د جمرے په ويشتو باندے قادر نۀ وو نو په دۀ باندے ان شاء الله هيڅ نشته. او که چرته يو ښاروے ئې ذبح کړو او د ابن عباس ﷺ په قول ئې عمل وکړو نو ډيره بهتره ده او پدے کښې احتياط هم دے. د ابن عباس ﷺ قول دا داسې دے : [مَنْ قَدَّمَ شَيْئًا مِنْ نُسُكِهِ اَوْ اَخَّرَهُ اَوْ نَسِيَهُ فَلْيُهْرِقْ لِذٰلِكَ دَمًا] [دارقطنی : ۲۵۳٤، تهذيب الآثار للطبری : ۲۲۷۷، شرح مشكل الآثار : ٦٠٢٢، ابن ابی شيبة : ١٥١٨٨] (چا چه د حج د کارونو نه يو شے مخکښې کړو يا ئې روستو کړو يا ترے هير شو نو ددے دپاره دے وينه تويه کړي) يعني دم دے ورکړي. الله اعلم.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2618 (1) - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِيْ عَلٰى رَاحِلَتِهٖ يَوْمَ النَّحْرِ وَيَقُوْلُ : " **لِتَأْخُذُوْا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّيْ لَا أَدْرِيْ لَعَلِّيْ لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِيْ هٰذِهٖ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي : ما نبي کريم ﷺ وليدو چه د اختر په ورځ ئې په خپله اوښه باندے جمره ويشتله او فرمايل به ئې : د حج خپل کارونه ما نه حاصل کړئ ځکه چه زۀ نۀ پوهيږم شايد چه زۀ ددے حج نه روستو بل حج ونکړم. (مسلمؒ)

تشريح : عَلٰى رَاحِلَتِهٖ : ددے نه معلومه شوه چه جمره عقبه د اختر په ورځ په سورلۍ باندے ويشتل غوره دي د پيدل نه. امام نوويؒ په شرح د مسلم کښې د امام شافعيؒ نه نقل کړيدي چه څوك مِنیٰ ته په سورلۍ ورسيدو نو هغۀ له په سورلۍ ويشتل مستحب دي او که پياده ئې ويشتو هم جائز ده، او څوك چه ورته پيدل ورسيدو نو هغه به ئې پياده ولي، او دا د اختر د ورځې د جمرے حکم دے، او نورو ايام التشريق کښې پيدل ويشتل سنت عمل دے. البته په دريمه ورځ په سورلۍ باندے ويشتل مستحب دي. آهـ. ليکن صحيح دا ده چه ايام التشريق کښې پيدل ويشتل سنت دي ځکه چه د دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

جمراتو ويشتو نه روستو دعاء كول دي او هغه پياده كيږي، نهٔ په سورلئ۔ ابن منذرؒ وائي: پدے اجماع ده چه په هر حال كښے ئے ويشتل جائز دي۔

لِتَأْخُذُوا : دا لام لام امر دے، په معنىٰ د خُذُوا سره دے۔ يعنى ما چه كوم كارونه او خبرے او هيئات په خپل دے حج كښے وكړل، دا كارونه د حج دي، او دا طريقه د حج ده، دا ستاسو مناسك دي، نو دا زما نه قبول كړئ او دا محفوظ كړئ او پدے عمل كوئ او خلكو ته ددے تعليم وكړئ۔

او د حج د كارونو دپاره دا حديث لوى اصل او قانون دے لكه د مانځه په باره كښے ((صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي)) په شان دے۔

او ددے مطلب دا دے چه ذ رسول الله ﷺ نه كارونه ذ حج زده كول او هغه اخستل لازم او فرض دي او دا مطلب نهٔ دے چه هرڅه په حج كښے فرض دي۔ لَعَلِّىْ لَا اَحُجُّ : پدے كښے اشاره ده چه زهٔ درنه روان يم، زما د مرګ وخت رانزدے شويدے، نو پدے كښے تيزى ده چه په جلتئ سره دا كارونه زده كړئ، موقعه درنه خرابه نشى، بيا به چا نه تپوس كوئ۔ ددے وجه نه دے حج ته حجة الوداع ووئيلے شو۔ حَجَّتِىْ: د حاء زبر دے، حج ته وائي۔ يا په معنىٰ د كال سره دے۔ يعنى شايد چه ددے كال نه روستو بل حج ونكړم۔

2619 (2) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائى : ما رسول الله ﷺ وليدو چه جمره ئے د تيكرو په شان كانړو باندے وويشته۔(يعنى واړهٔ واړهٔ كانړى) (مسلمؒ)

تشريح : حَصَى الْخَذْفِ: على القاريؒ وائى چه دا د لوبيا د دانو په اندازه دي، يا د كجورے هډوكى، يا د ګوتے سرونه۔ نو ددے نه وړوكے او ددے نه لوى مكروه دے، ځكه چه رسول الله ﷺ په بل حديث كښے فرمايلي دي : ددے په مثل باندے ويشتل كوئ او په دين كښے د غلو كولو نه ځان بچ كړئ۔ (آه)

2620 (3) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: رَمٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى وَأَمَّا بَعْدَ ذٰلِكَ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : جابر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د اختر په ورځ د څاښت په وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

جمره وویشتـه، او هـر چـه ددې نـه پس (د ایام تشریق رمی ده) نو هغه به ئې هغه وخت ویشتله کله به چه نمر (د نیمائی آسمان نه) زائله شو. (مسلم).

تشریح : [وَأَمَّا بَعْدَ ذٰلِكَ] اَیُ وَأَمَّا الْجِمَارُ بَعْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ] یعنی هر چه نور جمرات وو د جمره عقبې نه روستو. نو هغه به ئې د زوال نه روستو ویشتل.

فوائد: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د اختر په ورځ د جمرة العقبه د ویشتلو مسنون او مستحب وخت د څاښت وخت دې، نبی کریم ﷺ پـه همدې وخت کښې دا جمره ویشتلې. او جوازي وخت ئې نمر راختو نه پس دې. ددې نه مخکښې ویشتل جائز نهٔ دی. (۲) البتـه د معذوره او کمزورو خلکو او د دوئ د ملګرو (مَحُرَم او ډرائیون) دپاره ددې نه مخکښې هم ویشتل جائز دی، هرکله چه هغوئ د مزدلفې نه د سپوږمۍ ډوبیدو نه پس مِنیٰ ته را روان شوی وی. لیکن پس د طلوع الفجر نه کما تقدم.

(۳) د جمهورو علماؤ پـه نیز د جمره عقبې د ویشتلو وخت د نمر ډوبیدو پورې اُوږدیږی، خاصکر د هغه چا دپاره چه هغوئ سره زنانه وی او د مزدلفې نه د شپې په وخت منیٰ طرف تـه نهٔ وی واپس شوی، نو د دوئ په حق کښې دا جائز دی چه ماسپخین یا مازیګره پورې رمی وکړی. علامه ابن عبد البرّ په دې خبره اجماع نقل کړې چه څوك د اختر په ورځ نمر ډوبیدو نه مخکښې جمره عقبه وولی نو دا ئې په خپل وخت کښې وویشته.

(٤) او حدیث نه معلومه شوه چه ددې ورځې نه روستو په ایام تشریق (یولسم، دولسم او دیارلسم ذو الحجه) کښې چه کومه رمی کیږی نو ددې وخت د نمر د زوال نه پس دې. په دې درې واړو ورځو کښې به صرف د زوال نه پس دا درې واړه جمرې ولی، د زوال نه مخکښې ددې ویشتل جائز نهٔ دی. ځکه نبی کریم ﷺ په همدې وخت کښې دا ویشتلی، او هغه فرمائی: [لِتَأْخُذُوا عَنِّيُ مَنَاسِكَكُمُ] (تاسو د خپل حج کارونه مانه زده کوئ) که چرې زوال نه مخکښې ددې ویشتل جائز وې نو خامخا به نبی کریم ﷺ په خپل قول یا فعل سره ددې وضاحت فرمایلې وې. (أ) او همدا د جمهورو، مالكؒ، شافعیؒ، عطاء بن ابی رباحؒ او مشهور قول د ابو حنیفةؒ دې. دوئ فرمائی: په ایام تشریق کښې که چا قبل الزوال رمی وکړه نو دا نهٔ ده شوې، بلکه په دهٔ واجب دی چه دوباره ئې وولی، ځکه دا قبل الوقت ویشتل شوې.

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) دویم قول دادے چه : صرف په دیارلسمه ورځ کښے چه دیته (یوم النفر) وائی د زوال نه مخکښے رمی جائز ده. ځکه په دے ورځ بیخی رمی پریښودل جائز دی نو مخکښے کول به په طریقه اولیٰ سره جائز وی. او دا د امام ابوحنیفهؒ او د امام احمدؒ یو قول او د اسحاقؒ او عکرمهؒ رائے ده.

(ج) دریم قول : دادے چه د ایام تشریق په ټولو ورځو کښے قبل الزوال رمی جائز ده، دا د عطاءؒ یو قول دے، او د طاووسؒ رائے او د ابو حنیفهؒ یو غیر مشهور روایت دے. او امام فاکهیؒ د عبد الله بن زبیر ﷺ نه نقل کړی چه هغهٔ د زوال نه مخکښے په ایام تشریق کښے رمی کړے وه. خو راجح قول اولنے دے، چه د ایام تشریق په هیڅ یوه ورځ کښے د زوال نه مخکښے رمی کول جائز نهٔ دی، ځکه ددے قول والو دلیل قوی دے. ځکه چه په دے باره کښے صحیح او صریح حدیثونه راغلی. او د نبی کریم ﷺ نه دا نهٔ دی نقل چه هغوئ چاته ددے اجازت ورکړے وی، لکه څنګه ئے چه د مزدلفے د شپے په پریښودو کښے معذورینو ته اجازت ورکړے. دومره ده چه بعضِ علماء فرمائی : څوك چه دیته مجبوره شی لکه د جهاز ټیکټ ئے په دے وخت راخستے وی یا بل سخت عذر وی، نو د هغهٔ دپاره ګنجائش کیدے شی. بعض علماء زحام (ګڼړه) هم عذر ګڼړی لیکن سنت باندے عمل کول ډیر اولیٰ دی.

2621 (4) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ : اَنَّهُ انْتَهٰى اِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى فَجَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهٖ وَمِنًى عَنْ يَمِيْنِهٖ وَرَمٰى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ قَالَ : هٰكَذَا رَمَى الَّذِىْ اُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت دے چه هغه جمره کبریٰ ته ورسیدو نو بیت الله ئے خپل ګس طرفته او مِنیٰ ئے خپل ښی طرفته وګرځوله او بیا ئے جمره عقبه په اووهٔ کانړو وویشته چه د هر کانړی سره ئے الله اکبر وئیلو بیا ئے وفرمایل : همداسے هغه چا ویشتل کړی چه په هغهٔ سورتِ بقره نازله شوے. (بخاریؒ، مسلمؒ).

تشریح : رَمَى الْجَمْرَةَ : رمی ویشتلو ته وائی، دلته مراد په وړوکو کانړو ویشتل دی، او ویشتل چونکه د لرے نه وی نو که چا په جمره کانړے کینبودهٔ دیته رمی نهٔ ویل کیږی. [اَلْجَمْرَةَ] د جمرے څو معنے دی، یوه معنیٰ ئے ده : وړوکے کانړے. او ددے اطلاق

Maktaba Tul Ishaat.com

په راجمع شوو کاڼرو هم کيږي. دلته د رمي الجمرة نه مراد د جمرو مکان ويشتل دي. اوس په دې وخت کښې جمره د يو حوض په شکل کښې جوړه شوې چه په هغې کښې يو ديوال ولاړ دې هغه خلك په کاڼرو ولي او لاندې حوض ته شګه راغورزيږي. او ددې جمرې نه مراد [الْجَمْرَةَ الْكُبْرٰى] ده. ديته لويه جمره ځکه وائي چه دا د اولنۍ او دويمې جمرې نه لويه ده. او يا ځکه چه د اختر په ورځ يواځې دا ويشتل کيږي.

[الَّذِيْ] نه مراد نبي کريم ﷺ دې. [سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ] ددې خصوصي ذکرئې ځکه وکړو چه په دې کښې زياتره احکام د حج ذکر شوي، خاصکر د جمرو ويشتلو ته په کښې په دې آيت کريمه کښې اشاره ده: ﴿وَاذْكُرُوا اللهَ فِيْ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدَاتٍ﴾ [البقرة: ۲۰۳] (د شمار په ورځو کښې الله يادوئ) په دې کښې د جمراتو ويشتل هم داخل دي ولې چه دا هم د الله ذکر دې. او يا د سورتِ بقرې د تخصيص وجه داده چه په دې کښې زياتره شرعي احکام ذکر شوي چه په دې کښې د سورتِ بقرې فضيلت ته اشاره ده. او اشاره ده چه د رسول الله ﷺ فعل د الله تعالىٰ د کتاب بيان دې.

فوائد: (۱) حديث نه ثابته شوه چه د جمرة الکبرىٰ د ويشتو مسنونه طريقه داده چه انسان مکه خپل ګس اړخ ته او مِنىٰ خپل ښى اړخ ته وګرځوى او جمرې ته مخامخ ودريږى او ويشتل وکړى. پخوا زمانه کښې دا جمره غرۀ پورې نښتې وه او دې نه لاندې ميدان وو. نو نبى ﷺ دا جمره د ميدان د مينځ نه ويشتلې وه او ددې د ويشتو دپاره غرۀ ته نۀ وو ختلې چه د پاس نه ئې وولي، دې وجې نه چه د لاندې ميدان نه ئې وولى نو مکه ئې ګس اړخ ته او مِنىٰ ئې ښى اړخ ته راغې. بيا په سنه (۱۳۷۶ هـ) کښې دغه غر ختم کړې شو. (منحة العلام: ۷۵۰) دا ددې جمرې ويشتلو مستحبه طريقه ده.

(۲) اوکه د بل طرف نه ئې وويشته نو هم جائز دي. حافظ ابن حجرؒ ددې په جواز باندې د علماؤ اجماع نقل کړې. ځکه مقصد په دې کښې دادې چه ويشتونکې په يو داسې ځائې کښې ودريږى چه په آرام او اطمينان سره ويشتل وکړى او د الله تعالىٰ تعظيم په زړۀ کښې وساتى.

متفق عليه: د مشکاة الفاظ د ابوداودؒ الفاظ دي، او بخاريؒ او مسلمؒ کښې آخرى الفاظ داسې دي: هٰذَا مَقَامُ الَّذِيْ اُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ. دا هغه مقام دې چه پدې کښې سورة البقره نازله شوې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

2622 (5) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اَلْإِسْتِجْمَارُ تَوٌّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ تَوٌّ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ وَالطَّوَافُ تَوٌّ وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: استنجاء تاك ده، (يعني د استنجاء دپاره درے كانړي/ لوټے استعمالول پكار دي) او جمرات ويشتل تاك دي او د صفا او مروه ترمينځ سعي تاك ده، او طواف تاك دے او كله چه يو تن ستاسو استنجاء دپاره كانړي اخلي نو په تاك كانړو دِے استنجاء وكړي۔ (مسلمؒ)

تشريح: اَلْإِسْتِجْمَارُ: د استجمار نه مراد دلته په كانړو استنجاء ده۔ يا ددے نه مراد خوشبوئي لګول دي۔

تَوٌّ: په زبر د تاء او تشديد د واو سره دے، تاك ته وائي، او دلته تاك والے د استنجاء په دريو كانړو سره دے۔ او په باقيو ځايونو كښے په اوو سره دے لكه نورو احاديثو كښے ددے تشريح راغلے ده۔

وَالطَّوَافُ تَوٌّ: يعني طواف اوه ګردشونه دے، او دا تول د جمهورو په نيز فرض دي، او احناف وائي چه څلور ګردشونه فرض او باقي واجب دي۔ ليكن صحيح دا ده چه پدے فرق هيڅ معتمد دليل نشته۔

فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ: يعني استنجاء دِے په تاك كانړو سره وكړي۔ دلته تكرار دے نو قاضي عياضؒ او طيبيؒ وئيلي دي چه اول كښے استنجاء كول مراد دي او روستو كښے د كانړو تاك والے مراد دے۔ علي القاريؒ وائي: ظاهر دا ده چه اول استجمار نه تَبَخُّرُ يعني بخور (خوشبو) لګول مراد دي لكه د مړي كفن وغيره باندے خوشبو لګول۔ (يا په ځان باندے تاك خوشبو لګول) او دويم ځائے كښے استنجاء مراد ده۔

الفصل الثاني

2623 (6) - عَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمَّارٍ ﷺ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ عَلٰى نَاقَةٍ صَهْبَاءَ لَيْسَ ضَرْبٌ وَلَا طَرْدٌ وَلَيْسَ قِيْلَ: إِلَيْكَ إِلَيْكَ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: قدامه بن عبد الله بن عمار ﷺ فرمائي: ما نبي كريم ﷺ وليدو چه د اختر په

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځ ئے په صهباء (سپینه) اُوښه جمره وویشته چه نهٔ وهل وو او نهٔ شړل او نهٔ دا وینا وه چه وړاندے شه وړاندے شه۔ (شافعیؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : صَهْبَاءَ : دا هغه اُوښه ده چه د هغے سپینوالے سوروالی سره یو ځائے شی، پدے طریقه چه د اُوښے بره ویښته سور کړے شی او دننه سپین وی۔ جزریؒ وائی : مشهوره دا ده چه صَهْبَة د ویښتو رنګ ته وئیلے شی او دا هغه سور والے دے چه دپاسه پرے تور والے راغلے وی۔

لَيْسَ ضَرْبَ وَلَا طَرْدَ : یعنی دغه ځائے کښے وهل (یعنی په زور او زبردستئ سره منع کول) نهٔ وو، طرد : یعنی په آرام سره دیکه ورکول۔

وَلَيْسَ قِيْلَ : قیل په معنیٰ د قول سره دے، یعنی دغه ځائے کښے دا وینا هم نهٔ وه چه وړاندے شه وړاندے شه۔

إِلَيْكَ إِلَيْكَ : دا اسم فعل دے معنیٰ ئے ده : وړاندے شه وړاندے شه۔

دا حدیث دلیل دے چه د رسول الله ﷺ عادتِ مبارکه په داسے مقاماتو کښے انتهائی د تواضع وو، چه د کل او رتل او خلکو ته ئے هیڅ ضرر نهٔ وو۔ په خلاف د نورو مشرانو چه د هغوی په وجه ډیرو انسانانو ته تکلیف رسیږی۔

او معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د اختر په ورځ جمره په سورلئ باندے ویشتله۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] اخرجه الشافعي في الأم ٢/٢١٣، وفي ترتيب المسند ١/٣٥٩ (٩٣٠) وابو داود الطيالسي في المسند (١٣٣٨) واحمد : ٣/٤١٣ والدارمي : ٢/٦٢ والترمذي : ٩٠٣ والنسائي : ٥/٢٧٠ وابن ماجه : ٣٠٣٥ والحاكم ١/٤٦٦ وقال صحيح على شرط البخاري وأقره الذهبي۔

2624 (7) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " **إِنَّمَا جُعِلَ رَمْيُ الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللهِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : د جمراتو ویشتل او د صفا او مروه ترمینځ سعی کول د الله تعالیٰ د ذکر قائمولو دپاره مقرر شویدی۔ (دا ترمذیؒ او دارمیؒ روایت کړے او ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث حسن صحیح

Maktaba Tul Ishaat.com

دے)

تشريح : لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللّٰهِ : د ذكرِ الله نه مراد نښه د حج ده۔ يا مطلب دا دے چه دا كارونه ددے دپاره مشروع شويدى چه په دغه مباركو ځايونو كښے د الله تعالىٰ ذكر وكړے شى، نو دے ځائے كښے د غفلت نه پوره ځان ساتل پكار دى۔ او دا دواړه ځايونه ئے د الله تعالىٰ د ذكر دپاره خاص ذكر كړل اگركه د ټولو عباداتو نه مقصد د الله تعالىٰ ذكر دے، ددے وجه دا ده چه ددے كارونو نه ظاهر داسے كار دے چه په هغے كښے عبادت نشته البته دا عبادت پدے طريقه گرځى چه د پيغمبر طريقه ده او هغه عبادت دے، او هرچه طواف د بيت الله دے او د دعاء دپاره ودريدل نو په هغے كښے اثر د عبادت ښكاره دے۔

يا ددے كارونو په كولو سره د الله تعالىٰ ذكر (حكم) قائميږى۔

او كيدے شى چه په رمى او سعى كښے ښكاره حكمت وى او واضحه نكته وى سوىٰ د تعبد او اظهار د معجزے نه۔

درجة الحديث : [اسناده حسن] اخرجه احمد ٦/٦٤، ٧٥، ١٣٩، والدارمى : ٢/٥٠) ٢/٧٣، وابوداود :١٨٨٨ والترمذى : ٩٠٢ وقال حديث حسن صحيح۔

2625 (8) — وَعَنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قُلْنَا : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلَا نَبْنِيْ لَكَ بِنَاءً يُظِلُّكَ بِمِنًى؟ قَالَ :" **لَا، مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائى : مونږ ووئيل : اے د الله رسوله ! آيا مونږ ستا دپاره يو آبادے نۀ جوړه وو چه په تا باندے په منىٰ كښے سورے كوى؟ وے فرمايل : نه، منىٰ د هر هغه چا د اُوښانو د كينولو ځائے دے چه دے ته مخكښے راشى۔ (ترمذىؒ، ابن ماجهؒ، دارمىؒ)۔

تشريح : لَا: يعنى زما دپاره په منىٰ كښے ځائے مۀ جوړوئ ځكه چه دا د يو چا پورے خاص نۀ دے۔ بلكه دا خو د عبادت ځايونه دى، لكه د رمى، او د قربانى كولو او د سر خرئيلو وغيره۔ نو كه دے كښے آبادى جوړولو اجازه وركړے شى نو د آبادو په زياتولو به دا ځائے تنگ شى او مسلمانانو ته به تكليف جوړ شى۔

مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ : مِنًى مبتدا ده او مُنَاخُ ئے خبر دے، مناخ ځائے د كينولو د اُوښانو دے، يعنى منىٰ ته چه څوك مخكښے راغلو نو هغه پكښے خپل اُوښ كينولے شى هر

ځائے چه وی۔

او دا حکم د سړکونو او د بازاری دیپسو وغیره هم دے۔

دے حدیث نه بعض اهل علمو دلیل نیولے دے چه د حرم زمکه او د مکے کورونه او د هغے اجاره جائز نۀ ده، او دا مذهب د ابوحنیفهٌ، محمدٌ او ثوریٌ دے، او دے ته عطاءٌ او مجاهدٌ او مالكٌ او اسحاقٌ او ابوعبیدٌ ذهاب کړیدے۔

او امام ابویوسفٌ او شافعیٌ او احمدٌ او طاووسٌ او عمرو بن دینارٌ او ابن المنذرٌ وئیلی دی چه دا جائز دی۔

اول قول والو پدے حدیث د عائشه ﷺ باندے دلیل نیولے دے، او دویم قول والو چه کوم جواب ورکړیدے چه دا حکم د رسول الله ﷺ او مهاجرینو پورے خاص دے نو دا خبره ضعیفه ده ځکه چه خصوصیت په دعوه سره نۀ ثابتیږی، او محب الدین الطبریٌ په "القری" کښے وئیلی دی چه دا احتمال شته چه دا حکم صرف د مِنیٰ پورے خاص وی ځکه چه د مِنیٰ سره چه کوم نسك (قربانی) متعلق ده په هغے کښے ټول خلك یو شان شریك دی، نو پدے وجه نبی ﷺ هیچا ته د هغے نه څه ځائے د آبادئ وغیره دپاره ورنکړو بلکه ټول خلك پدے کښے یو برابر دی۔ او څوك چه مخکښے راغلو نو هغۀ دپاره د مخکښے راتللو حق دے، او دغه شان حکم په عرفات او مزدلفه کښے هم دے۔ (القری : ٤٣٨)

درجة الحديث : [اسناده ضعيف] أخرجه أحمد : ٦/١٨٧، ٢٠٦، ٢٠٧ والدارمي ٢/٧٣، وابوداود : ٢٠١٩، والترمذي : ٨٨١، وقال حسن صحيح وابن ماجه : ٣٠٠٦، والحاكم : ١/٤٦٦، ٤٦٧، وقال صحيح على شرط مسلم وأقره الذهبي.قلت : بل اسناده هذا ضعيف فيه مُسَيْكة وهي مجهولة.

الفصل الثالث

2626 (9) - عَنْ نَافِعٍ قَالَ: إِنَّ ابْنَ عُمَرَ ﷺ كَانَ يَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ وُقُوفًا طَوِيْلًا يُكَبِّرُ اللّٰهَ وَيُسَبِّحُهٗ وَيَحْمَدُهٗ وَيَدْعُو اللّٰهَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ . رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه: نافعٌ فرمائی : ابن عمر ﷺ به د اولنو دوه جمرو سره اُوږد وقوف (ودریدل) کولو، د الله تعالیٰ برهائی او د هغۀ تسبیحات او د هغۀ حمدونه به ئے بیانول او د الله

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالیٰ نه به ئې دعاګانې کولې او د جمره عقبه سره به (د دعاء دپاره) نۀ ودریدو. (مالك)

تشریح : یعنې عبد الله بن عمر ﷺ بـه چه کله اوله او درمیانه جمره وویشتله نو د هر یـو سره بـه اُوږد ودریـدو لـکـه د سورة البقرې په اندازه لکه په روایت د عطاءؒ کښې د ابن عمر ﷺ نه راغلې دي (ابن ابي شیبهؒ) او داسې روایت په حدیث د سالم ﷺ کښې په بخاری کښې هم راغـلـې دې. او دې مـقـام کښې دعاء کول مسنون او مستحب عمل دې که چا پریـخـودو نـو هیڅ جرم پرې نشته. او دا قول د ابوحنیفهؒ، او شافعيؒ او اسحاقؒ او ابو ثورؒ دې، البتـه سـفیان ثوريؒ پدې کښې مخالف دې، هغه وائي چه څه طعام به ورکوي او که وینـه ئې تـویـه کـړه یـعـنې قرباني ئې وکړه، نو ما ته ډیره خوښه ده، ځکه چه دا دعاء نبي الطَيْلا کړیده نو دا نسك (یعني د حج د کارونو نه یو کار) ګرځي. (ابن قدامهؒ)

فائده : جـمـراتـو تـه بعض عوام خلك شیطانان وائي، ددې اصل دا دې چه امام احمدؒ وغیره د عبد الله بن عباس ﷺ نـه نـقل کړي چه هرکله جبریل الطَيْلا ابراهیم الطَيْلا په منیٰ کښې اولې جمرې خوا ته راوستو (هغۀ ته ئې مناسك خودل) [فَعَرَضَ لَهُ الشَّيْطَانُ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ : خُذْ سَبْعَ حَصَيَاتٍ فَارْمِهِ بِهَا وَكَبِّرْ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ، فَسَاخَ الشَّيْطَانُ] نو شیـطان ورتـه راښکاره شو نو هغۀ ورتـه وویل چه اُوه کاڼړي راواخله او دا پرې ووله او په هر ځـل الله اکبـر وایه، نو شیطان په زمکه ننوتو، دغه شان دویمې جمرې خوا ته بیا راښکاره شـو بیـا ئې ورسره دغـه شـان کار وکړو بیا دریمې جمرې سره راښکاره شو. [مسند احمد : ۲۷۹۵، ومسند الطیالسی : ۲۸۲۰، الطبرانی الکبیر : ۱۴۷/۱۰، رقم : ۱۲۱۲۵ وفیه اختلاط عطاء بن السائب واخرجه الحاکم فی المستدرك : ۱۷۱۳ عن ابن عباس مرفوعا باسناد صحیح علی شرط الشیخین واحمد من طریق آخر صحیح : رقم : ۲۷۰۷]

درجة الحدیث : [صحیح موقوف] اخرجه مالك : ۴۰۶/۱.

oooo

Maktaba Tul Ishaat.com

۷- باب الهدى

د هَدْي (قربانئ) بيان۔

اَلْهَدْيُ : د هاء زبر او د دال سکون دے، يا د دال زير او د ياء تشديد دے، مگر اول ډير فصيح دے۔ هدى هر هغه ځاروى ته وائى چه حرم ته ليږلے شى برابره ده چه ګډه وى يا غوا يا اُوښ، دے دپاره چه په حرم کښے د هغے په وينه تويه کولو سره د الله تعالىٰ تقرب (نزديکت) حاصل شى۔ بعض وائى : هَدْيٌ جمع ده د هَدْيَةٌ۔ او هدية په تشديد د ياء او تخفيف د ياء دواړو سره صحيح دے۔

ابن رُشْدٌ وئيلى دى : د هدى په باره کښے ډير بحثونه دى، (۱) ددے وجوب پيژندل (۲) ددے جنس پيژندل (۳) ددے حُسن پيژندل (٤) ددے د روانولو او ليږلو طريقه۔ (۵) د کوم ځائے نه به روانولے شى۔ (٦) او کوم ځائے پورے به ليږلے شي يعنى ځائے د ذبح کولو۔ (۷) او د ذبح کولو نه روستو ددے د غوښے څه حکم دے ؟۔ نو مونږ وايو : هدى په دوه قسمه ده يوه واجبه ده او بله نفلى۔ واجبه هغه ده چه په نذر سره واجبه شوى وى، او بله هغه ده چه ددے عبادت په بعض انواعو کښے واجبه شوى وى۔ او هرچه جنس د هدى دے نو عُلماء متفق دى چه هدى د اتو(۸) اقسامو نه جائز ده کوم چه الله تعالىٰ ذکر کړيدى۔ او افضل په هداياو کښے اُوښان دى، بيا غوا ګانے، بيا ګډے بزے۔

او د علماو په ضحاياو (قربانيو) کښے اختلاف دے، او هرچه عمرونه دى، نو د علماؤ پدے اجماع ده چه ثَنِيْ (دوه غاښے) يا ددے نه پورته په هدى کښے جائز ده، او د چيلو نه جذع (يو کلنے) په ضحايا او هدايا دواړو کښے جائز نۀ دے۔ او د ګډانو په جذع کښے اختلاف دے۔ راجح دا ده چه پدے باندے اضحيه کيږى لکه په باب الاضاحى کښے مخکښے ذکر شويدى۔

او د هدى د عدد دپاره حد معلوم نۀ دے، رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښے سل اُوښان وليږل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د هدی د ليږلو طريقه دا ده چه د هغې غاړې ته به اميل اچولے شي، او د هغې به اِشعار کولے شي، يعنی هغه به په قُب او اړخ باندے زخمي کولے شي، او وينه به ورپورے راخکلے شي. او کله چه هدي د اُوښانو او غواګانو نه وي نو پدے کښې اتفاق دے چه د هغې غاړے ته به چپړه يا دوه چپړے اچولے شي، (او دے ته تقليد وائي) او د ګډو بزو د تقليد په باره کښې اختلاف دے، امام مالك او ابو حنيفةؒ وائي: د ګډو بزو تقليد نشته. او امام شافعیؒ او احمدؒ وائي: ددے تقليد به کولے شي. او دا قول حق دے ځکه حديث پکښې ثابت دے. انتهیٰ باختصار. ددے مسائلو بعض تشريح به روستو راځي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2627 (1) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِذِى الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهٖ **فَأَشْعَرَهَا** فِىْ صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ وَسَلَتَ الدَّمَ عَنْهَا **وَقَلَّدَهَا نَعْلَيْنِ** ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهٗ فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهٖ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ د ماسپښين مونځ په ذو الحليفه کښې وکړو بيا ئے خپله اُوښه راوغوښته نو هغه ئے زخمي کړه د قُب په ښي اړخ کښې او وينه ئے د هغې نه پاکه (زائله) کړه او د هغې غاړے ته ئے دوه چپړے واچولے بيا په اُوښه باندے سور شو نو هرکله چه اُوښه په هغهٔ باندے په بيداء (ميدان) کښې برابره شوه نو د حج تلبيه ئے ووئيله. (مسلمؒ)

تشريح : صَلَّى : يعني رسول الله ﷺ په ذي الحليفه کښې د ماسپخين مونځ دوه رکعاته وکړو ځکه چه مسافر وو، او دا ئے د احرام د دوه رکعاتو نه کافي وګرځول. ځکه چه د احرام دپاره خصوصي دوه رکعاته مونځ په احاديثو کښې نشته.

بِنَاقَتِهٖ : کيدے شي چه دا د نورو اُوښانو د جملے نه وه. يا اضافت جنسي دے يعني جنس اُوښه ئے راوغوښته د کوم د هدي ګرځولو اراده ئے چه کړے وه.

فَأَشْعَرَهَا : اِشعار په لغت کښې اِعلام ته وائي، د شعور نه دے په معنیٰ د علم سره، په شريعت کښې دے ته وائي چه د اُوښ يو قُب خيري کړے شي تردے چه د هغې نه وينه وبهيږي دے دپاره معلومه شي چه دا هدي ده، او که د نورو اُوښانو سره يو ځائے شي نو پدے سره به معلومه شي، او که ورکه شي نو پدے سره به پيدا کيږي، او غلهٔ او ډاکوان

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے نه منع شی (ځکه چه د عربو عادت دا وو چه د هدی ښاروی ته به ئے هیڅ ضرر نهٔ رسولو) او که په لاره کښے ذبح کړے شی نو فقیران به ئے وخوری۔

صَفْحَةِ سَنَامِهَا : صفحه جانب ته وائی۔ او سنام د اُوښ د شا بره طرف ته وائی۔ یعنی قُب۔ الْأَيْمَنِ : دا صفت د صفحه دے، خو مذکرئے راوړے د مجاورت د وجه نه یا صفحه په تاویل د جانب سره دے۔

دا حدیث دلیل دے چه اِشعار د هدی سنت طریقه ده، (۱) او دا قول د جمهورو دے چه د هغوی نه درے واړه امامان دی، (۲) د امام ابوحنیفهؒ نه نقل دی چه اِشعار بدعت او مکروه عمل دے۔ ځکه چه دا مُثله ده او د حیوان تعذیب (عذاب ورکول) دی، او دا حرام دی۔ او نبی ﷺ پدے وجه کړے چه مشرکان د اِشعار نه بغیر ددے حیوان ښکار کولو نه نهٔ منع کیدل۔

جمهور وائی چه اِشعار ته مکروه وئیل د صحیح احادیثو خلاف دی، او دا مُثله نهٔ ده، بلکه ددے مثال د ښکر لګولو او حِجامے، او سنت ګیرئ او داغ لګولو دے د مصلحت او فائدے دپاره۔

دارنګه د مشرکانو دے حیوان ته تعرض کول په دغه وخت کښے بعید وو ځکه چه اسلامی حکومت ډیر قوی شوے وو۔ شیخ عبد الحی اللکهنویؒ په حاشیه د هدایه کښے لیکی : که د اِشعار دا علت او حکمت ومنو نو بیا وایو چه د سبب په ختمیدو سره مسبب نهٔ ختمیږی لکه په اول طواف کښے د رمل سبب ختم شوید ے حالانکه په طواف کښے د رمل سنت باقی پاتے دے۔ نو دغه شان اِشعار به هم سنت وی اګرکه سبب ئے زائل شوے وی۔

بعض اهل علمو وئیلی دی چه امام ابوحنیفهؒ د خپلے زمانے والو اِشعار مکروه ګڼړلے وو چه هغوی به حیوان ډیر خیری کولو او هغهٔ ته به ئے ضرر ورکولو، او د اندام د خرابیدو خطره وه۔ (كذا فى اللمعات)

شاه ولی الله الدهلویؒ فرمائی : په اِشعار کولو کښے راز دا دے چه د الله تعالیٰ د شعائرو تعظیم وکړے شی او دے دپاره چه د زړهٔ فعل د ظاهر سره مربوط شی۔ اه۔

امام مالكؒ وئیلی دی چه اِشعار صرف په اُوښانو پورے خاص دے۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : چا چه د اِشعار د نهٔ کولو دا بهانه کړیده چه دا حکم په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت کښې وو چه د مُثلې نه منع نۀ وه راغلې، بیا روستو د مثلې نه په منع راتللو سره دا حکم منسوخ شو، نو دا خبره صحیح نۀ ده ځکه چه اِشعار رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې کړیدې او د مثلې نه منع ددې وخت نه مخکښې وه۔ او نسخ په احتمالاتو باندې نۀ ثابتیږی۔

او خطابیؒ وئیلی دی چه اِشعار د مُثلې د وجه نه مکروه ګنړل صحیح نۀ دی بلکه دا بیل باب دې لکه د حیوان غوږ سورې کول د نښې دپاره، یا د سنت ګیرئ او د حِجامې په شان ده، او د انسان عادت دا دې چه په مال باندې شفقت لری نو دې باره کښې دا خبره هم نشی کیدې چه دا زخم به زیات شی تردې چه حیوان به هلاك شی۔ او که دا علت وې نو چا چه ددې په کراهت قول کړیدې نو هغۀ به داسې وئیلې چه هغه اِشعار مکروه دې چه زخم د بَدَنې هلاکت ته رسیږی نو بیا به خبره حق ته نزدې وې۔ بله دا چه مُثله خو د حیوان اندام پریکول وی او دلته د اندام پریکول نۀ دی بلکه لږ شان ځائے نه وینه ویستل دی۔

حافظ ابن حجرؒ وائی: متقدمینو علماو په امام ابو حنیفه رحمه الله باندې دا خبره بده ګنړلې ده چه هغۀ مطلقًا اِشعار مکروه ګنړلې دې۔ او داسې قول د ابراهیم نخعیؒ نه هم نقل دې۔

علامه شوکانیؒ وائی: اول خو پدې کښې د مثلې هیڅ صورت نشته، او که دا مثله هم شی نو بیا هم دا احادیث د مثلې د نهی د عموم نه مُخصص دی۔

علامه عبد الحی اللکهنویؒ په حاشیه د "هدایه" کښې وائی: دلته د امام صاحبؒ مذهب د احادیثو مخالف واقع شویدې کوم چه په باب د اِشعار کښې روایت شویدی چه هغه بخاریؒ، مسلمؒ او مالكؒ وغیره نقل کړیدی۔ او بله دا چه هر زخم مثله نۀ وی۔ نو د اِشعار د مثلې د احادیثو سره هیڅ تعارض نشته۔

او کیدې شی چه امام ابو حنیفةؒ ته پدې باره کښې په صحیح سند سره د اِشعار احادیث نۀ وی رسیدلی نو هغه پدې باب کښې معذور دې (لیکن ددې خبرې تابعداری ئے نشته)۔ انتهیٰ۔ او کوم خلك چه خامخا سینه زوری کوی چه د امام صاحبؒ دا خبره حقه وګرځوی نو هغوئ د حدیث په مخالفت کښې واقع دی او هغوی ملامته دی۔

فوائد : (۱) دا حدیث دلیل دې چه اِشعار به صرف د اُوښ دپاره کولې شی لکه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب د احنافو دے، او مالكيه ورسره د غواګانو د اِشعار هم قائل دی۔

(۲) دارنګه دا اِشعار به په ښي طرف د قب باندے كولے شی، او امام مالكؒ نه مشهور قول دا دے چه په ګس طرف به كولے شی، مګر ددهٔ قول ددے صحيح حديث مخالف راغلے دے۔ او دے باره كښے چه دا بن عباس ﷺ نه بل كوم روايت كښے ګس طرف ذكر شويدے نو هغه منكر روايت دے، او ددے صحيح حديث مخالف دے، او هغه ابن عبد البرؒ په كتاب "التمهيد" كښے د ابن عُلَيّهٔ نه نقل كړے او هغے ته ئے منكر وئيلے دے۔

البته عبد الله بن عمر ﷺ به كله په ښي طرف او كله په ګس طرف باندے اِشعار كولو۔ لكه هغه روايات حافظ ابن حجرؒ په "فتح البارى" كښے ذكر كړيدى۔

(۳) دا اِشعار او تقليد د ميقات نه كول سنت طريقه ده، د وجه ددے حديث د ابن عباس ﷺ نه۔

(٤) اِشعار به مخكښے وكړی بيا به تقليد وكړی۔ لكه دا خبره په روايت د صحيح مسلم كښے راغلے ده۔

وَسَلَتَ الدَّمَ : اَىْ مَسَحَهٗ وَاَمَاطَهٗ وَأَزَالَهٗ۔ يعنى وينه ئے پاكه او لرے او زائل كړه۔ سَلْت په اصل كښے قطع (پريكولو) ته وائى۔

نَعْلَيْنِ : ددے نه معلومه شوه چه هدى ته دوه څپړے زوړندول سنت عمل دے۔ او د هدى په تقليد كولو باندے د امت اجماع ده۔

رَاحِلَتَهٗ : يعنى د اِشعار والا اُوښے نه علاوه په بله اُوښه باندے سور شو۔

أَهَلَّ بِالْحَجِّ : يعنى د حج او د عمرے دواړو تلبيه ئے ووئيله لكه په بل روايت د صحيحينو كښے راغلى دی۔ يا راوى اختصار كړے پدے وجه چه حج اصل دے يا راوى د عمرے لفظ نهٔ دے آوريدلے۔ بيا مقصد د راوى د احرام او د تلبيه وخت بيانول دى، نهٔ دا خبر وركول چه د حج يا د عمرے تلبيه ئے ووئيله۔

2628 (2) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً إِلَى الْبَيْتِ غَنَمًا فَقَلَّدَهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه ﷺ فرمائى: نبى كريم ﷺ يو ځل بيت الله ته ګډے بزے هدى وليږله او د هغے غاړے ته ئے اميل واچولو۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : د حديث مطلب دا دے چه يو ځل رسول الله ﷺ داسے هم كړى چه د حجة الوداع نه مخكښے خپله په مدينه كښے وو، حج ئے نۀ كولو ليكن يو تن حج ته تللو نو رسول الله ﷺ هغۀ ته ګډے بزے وركړے او بيت الله ته ئے وليږلے چه هلته په حرم كښے ذبح كړے شى۔ او هغے ته ئے په غاړه كښے اميل واچولو چه معلومه شى چه دا هدى ده۔

او مَرَّةً لفظ دليل دے چه بهتره دا ده چه بدنے (اُوښان) هدى وليږلے شى، لكه چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع كښے داسے كړى وو مګر يو كرت ئے د جواز بيانولو دپاره ګډے بزے هم وليږلے۔

فَقَلَّدَهَا : دا حديث دليل دے چه په هدى كښے ګډے بزے ليږل هم جائز دى، او دا چه ددے غاړے ته به هم څه اميل وغيره اچولے شى۔ او دا قول د جمهورو علماؤ دے، او ددے نه احنافو او مالكيهٔ مخالفت كړيدے هغوى وئيلى دى چه ګډے بزے كه هدى ليږى نو د هغے تقليد به نۀ كوى۔ ليكن دا حديث په دواړو طائفو باندے رد كوى۔

علامه سندىؒ په حاشيه د نسائىؒ كښے ليكى : دا حديث صريح دليل دے په جواز د تقليد د ګډو بزو، لهذا د هغه چا د منع هيڅ وجه او حيثيت نشته چه ددے كار نه منع كوى۔ او امام بخارىؒ پدے حديث باندے باب قائم كړے بَابُ تَقْلِيدِ الْغَنَمِ ۔ او د عائشے رضي الله عنها روايت ئے راوړيدے چه ما به د رسول الله ﷺ د ګډو بزو دپاره اميلونه اُودل (جوړول)۔

د احنافو او مالكيانو سره هيڅ معتبر دليل نشته سوئ ددے نه چه وائى : ګډه بزه ضعيف حيوان دے د چپړے وغيره اچولو نه ضعيفه كيږى۔ ليكن دا دليل ضعيف دے۔ ځكه چه د تقليد نه مقصد نښه ده۔ البته د ګډو بزو په اِشعار نۀ كولو اتفاق دے، ځكه چه اِشعار كښے د هغے وينه په وړئ او بدن كښے غائبيږى۔ او بله دا چه د رسول الله ﷺ نه نۀ ده نقل۔ او امام ابوحنيفهؒ مطلقاً تقليد د ګډو بزو د سنيت نه انكار كړيدے، برابره ده چه د وړئ اميلونه وى او كه د چپړے وغيره نه وى۔

او ممكن ده چه امام ابوحنيفهؒ او مالكؒ ته د تقليد الغنم په باره كښے روايت نۀ وى رسيدلے، هغوى معذور دى، الله تعالىٰ دِے ے انتهاء اجرونه په جنت د نعمتونو كښے وركړى ليكن په دے خبره كښے د هغوى تابعدارى او تقليد كولو سره انسان د حديث په مخالفت كښے واقع كيږى۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2629 (3) – وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : ذَبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بَقَرَةً يَوْمَ النَّحْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او جابر رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها د طرف نه يوه غوا د لوى اختر په ورځ ذبح كړه. (مسلمؒ)

تشريح : يعنى په حج كښې رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها د طرف نه د اختر په ورځ يوه غوا ذبح كړه.

په روستو روايت كښې نحر لفظ ذكر شويدے، نحر په اصل كښې هغه كنده ده چه د ښټ د بيخ او د سينے په مينځ كښې ده. نو په نحر كښې دغه ځائے پريكول وى او ذبح په حلق (مرئ) كښې وى. نو ذبح هغه رګونه پريكول دى چه د دواړو جامو لاندے د ښټ په بره طرف كښې وى. ابن عابدينؒ وائى : نحر هغه رګونه پريكول دى چه د ښټ په لاندے طرف كښې د سينے په خوا كښې وى. او ذبح هغه رګونه پريكول دى چه په بره طرف د ښټ كښې وى د جامے د هډوكو لاندے. اه.

خو كه د مرئ رګونه په هر ځائے كښې پريكړے شى ذبح جائز كيږى، ځكه چه مرئ د رګونو د راجمع كيدو ځائے دے.

پدے روايت كښې صرف عائشه رضي الله عنها ذكر شوه او په روستو روايت كښې ټولے بيبيانے ذكر شويدى. يا احتمال لرى چه د عائشې رضي الله عنها د طرف نه ئے يواځے يوه غوا ذبح كړى وى او د نورو بيبيانو د طرف نه بله غوا. بلكه ظاهر دا ده چه عائشه رضي الله عنها ئے ترے پدے وجه راجدا كړه چه د هغے خپلے پيسے وے چه هغے باندے صرف هغے له اضحيه وشوه.

2630 (4) – وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ: نَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ **بَقَرَةً** فِي حَجَّتِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او جابر رضي الله عنه فرمائي : نبى كريم ﷺ د خپلو بيبيانو د طرف نه يوه غوا په خپل حج كښې ذبح كړه. (مسلمؒ)

تشريح : دلته د نحر نه مراد ذبح ده. او پدے كښې د اهل علمو **اختلاف** دے چه كوم حيوانات نحر كيږى كه هغه ذبح كړے شى يا كوم چه ذبح كيږى هغه نحر كړے شى نو آيا جائز به وى او كه نۀ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) اکثر اهل علمؒ وائی چه جائز ده او دا قول د عطاءؒ، زهریؒ، قتادهؒ، مالكؒ، لیثؒ، ثوریؒ، ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، اسحاقؒ او ابو ثورؒ دے۔ او د داود الظاهریؒ نه نقل دی چه اُوښان صرف په نحر سره حلالیږی او نور حیوانات صرف په ذبح سره۔ ځکه چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے (اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً) کښے د ذبح لفظ د غوا دپاره استعمال کړیدے او (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) کښے ئے د اُوښانو دپاره نحر استعمال کړیدے او امر تقاضا د وجوب کوی۔ او د امام مالكؒ نه یو روایت دا دے چه په اُوښانو کښے صرف نحر جائز دے۔

مګر صحیح قول دا دے چه په هره طریقه چه د مریو د رګونو وینه وباسی نو جائز ده۔ ځکه چه حدیث د عدی بن حاتم ﷺ کښے دی چه دهٔ ته رسول الله ﷺ وفرمایل : [أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ] تهٔ د حیوان نه وینه روانه کړه په هر څه سره چه ستا خوښه وی۔ ابوداود (۲۸۲۶) حدیث صحیح)

ابن رشدؒ لیکی : د علماؤ پدے اتفاق دے چه په بهیمة الانعام (چارپیانو) کښے حلاله په ذبح او نحر سره ده، او په ګډو بزو او مارغانو کښے سنت ذبح ده، او په اُوښانو کښے نحر دے، او په غواګانو کښے ذبح هم جائز ده او نحر هم۔ البته **اختلاف** دے چه په ګډو بزو او مارغانو کښے نحر او په اُوښانو کښے ذبح جائز ده او که نهٔ ؟ نو د امام مالكؒ مذهب دا دے چه په ګډو بزو او مارغانو کښے نحر جائز نهٔ دے۔ صحیح خبره عمل کول دی په حدیث د عدی بن حاتم ﷺ باندے۔

او رسول الله ﷺ ته پدے وخت کښے غوا آسانه وه پدے وجه ئے دا ذبح کړه ورنه اُوښان غوره دی، یا ئے دا د جواز بیانولو دپاره ذبح کړه۔

او دا حدیث دلیل دے چه په هدی او دغه شان په قربانی کښے د ډیرو کسانو شرکت جائز دے کله چه اُوښان وی یا غواګانے۔ خو د علماؤ پدے باره کښے **اختلاف** دے (۱) جمهورؒ او شافعیؒ او احمدؒ وئیلی دی چه دا شرکت جائز دے برابره ده چه هدی نفلی وی یا واجب۔ او برابره ده چه د ټولو د ثواب نیت وی یا د بعضو د ثواب نیت وی او د بعضو د غوښے نیت وی، او دوئ دپاره هغه احادیث دلیل دے چه هغه د شرکت په باره کښے مخکښے ذکر شویدی او هغه چه زیلعیؒ په نصب الرایه (۲۰۹/۳) او حافظؒ په درایه (۳۲٤) او مجد ابن تیمیهؒ په المنتقیٰ (۳۳۰/٤) کښے او محب طبریؒ په "القری" ص (۵۱۸) کښے ذکر کړیدی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) داود ظاهريّ او بعض مالكيهٌ وائي چه په نفلي هدى كښې اشتراك جائز دے، نۀ په واجب هدى كښې۔ ليكن دا قول په حديث د عطاءؒ سره مردود دے چه هغه د جابر ﷺ نه روايت كوى هغه فرمائي : [كُنَّا نَتَمَتَّعُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَنَذْبَحُ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ نَشْتَرِكُ فِيهَا] [مسلم :۳۲۵۲، احمد : ۱٤٤٦۲، والنسائي : ٤۳۹۳ وغيرهما] مونږ به د نبى ﷺ سره حج تمتع كولو نو مونږ به په اُوه كسانو په شريكه غوا ذبح كوله۔

او په حج تمتع كښې ذبح كول واجب وى۔

(۳) امام مالك نه نقل دى چه په هدى كښې مطلقاً شركت جائز نۀ دے۔ ليكن ددے باب احاديث ددے مخالفت كوى۔ او ډيره ممكن ده چه امام مالك ته دا روايات نۀ وى رسيدلى۔ (٤) امام ابوحنيفهٌ وائي : چه اشتراك په هر قسمه هدى كښې كولے شى خو پدے شرط چه ټول به د قربت (ثواب) اراده لرى، او پدے كښې به څوك د غوښې ارادے والا نۀ وى۔ مگر د نيت په اتحاد (يو والى) باندے څه دليل نشته۔ احاديث ددے باب پدے باره كښې مطلق راغلي دى، او ددے مسئلے تفصيل په باب الاضحيه كښې وګوره۔

او دا احاديث پدے خبره هم دلالت كوى چه د حاجي د طرف نه هدى د اختر د اُضحيه (قرباني) په ځائے كافي كيږى، او د رسول الله ﷺ او د صحابه كرامو ﷺ نه دا نۀ دى نقل چه هغوى د اختر په ورځ هدى او قربانى دواړه جمع كړى وى، نو پدے باب كښې د ابن حزمٌ قول ضعيف دے چه هغه د دواړو د جمع كولو قائل دے۔ صحيح دا ده چه جمع جائز ده ليكن هدى والا باندے قرباني واجب نۀ ده۔ دليل دا دے [وَضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرَةِ] [بخارى : ۵۵۵۹، مسلم : ۲۹۷٦] نبى ﷺ د خپلو بيبيانو د طرف نه د غوا اُضحيه (قرباني) وكړه۔ نو دا اضحيه وه۔ ددے نه دا مسئله هم ثابته شوه چه يو تن چا ته په خپله اضحيه كښې شركت وركړى او د هغۀ نه پيسے وانخلى هم جائز ده۔ يعنى په هغۀ باندے صدقه وكړى۔ دا هم اُوچت ثواب دے۔

مسئله : د جمهورو علماؤ په نيز په يوه غوا باندے اُوه كسان قرباني كولے شى ليكن د امام مالك قول دے چه يوه غوا يا يوه ګډه يا د چيلۍ قرباني د ټول كور والو د طرف نه كافي كيږى، اګركه د اُوه كسانو نه زيات وى، لهذا دا حديث د امام مالكؒ ددے قول دليل جوړيدے شى پدے شرط چه رسول الله ﷺ د اوه (۷) بيبيانو نه د زياتو د طرف نه قرباني كړى وى۔ او نور اهل علم وائي چه دا حديث پدے باندے محمول دے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه نبی ﷺ به یوه غوا صرف د اُوه (۷) بیبیانو د طرف نه قربانی کړے وی۔

2631 (5) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : فَتَلْتُ قَلَائِدَ بُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ ثُمَّ قَلَّدَهَا وَأَشْعَرَهَا وَأَهْدَاهَا فَمَا حَرُمَ عَلَيْهِ شَيْءٌ كَانَ أُحِلَّ لَهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ﷞ فرمائی : ما د نبی کریم ﷺ د اُوښانو امیلونه په خپل لاس سره اُوودل (جوړ کړل) بیا نبی کریم ﷺ هغے ته امیلونه واچول او هغے نه ئے وینه اُوخکله او هغه ئے (حرم طرف ته) ولیږل نو په هغهٔ هیڅ شے نهٔ وو حرام شوے کوم چه د هغهٔ دپاره حلال وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : قَلَائِدَ : جمع د قِلادة ده، دا هغه امیل ته وائی چه څټ ته اچولے شی۔

بُدْنِ : جمع د بَدَنة ده، اُوښه یا غوا چه په مکه کښے ذبح کولے شی۔ بدنه ورته ځکه وائی چه عربو به دا ځربے کولے، او بدن لفظ د چاق والی او ځورب والی دپاره استعمالیږی۔

بِيَدَيَّ : یعنی په خپلو لاسونو سره۔ دا لفظ ورسره ځکه وائی چه د مجاز والی احتمال ختم شی چه ددے په امر سره به بل چا اُودلی وی۔

دا روایت **دلیل** دے چه د هدی دپاره امیلونه جوړول مستحب عمل دے او دا هم معلومه شوه چه سړے د خپلے بی بی نه خدمت اخستے شی۔

ثُمَّ قَلَّدَهَا: دے الفاظو نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به دا کارونه خپله کول۔ او دے کښے د تقلید (امیل اچولو) وخت هم معلوم شو۔ او اشاره کوی چه په تقلید او اشعار سره به بنده لا محرم نهٔ ګرځی تر څو چه نیت ئے نهٔ وی کړے، او لبیک ئے نهٔ وی وئیلے۔

او د عائشے ﷞ پدے حدیث بیانولو سره مقصد رد کول دی په عبد الله بن عباس ﷛ باندے کله چه زیاد بن ابی سفیان عائشے ﷞ ته خط راولیږلو چه عبد الله بن عباس ﷛ داسے وائی چه چا هدی ولیږله نو په دهٔ باندے هغه څیزونه حرامیږی کوم چه په حاجی باندے حرامیږی تردے چه خپله هدی ذبح کړی۔ نو عائشے ﷞ وفرمایل : [لَيْسَ كَمَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ] د عبد الله بن عباس ﷛ خبره صحیح نهٔ ده، بلکه ما خپله د رسول الله ﷺ بدنو ته امیل واچولو او رسول الله ﷺ روانے کړے او لا په احرام کښے نهٔ وو داخل شوے۔

او د ابن عباس ﷛ په شان مذهب د بعض نورو صحابه کرامو ﷡ هم وو لکه عبد الله بن

Maktaba Tul Ishaat.com

عمر ﷺ او قیس بن سعد بن عباده ﷺ چه ابن ابی شیبهؒ او ابن المنذرؒ د هغوی روایتونه نقل کړیدی. (۱) او ابن المنذرؒ وئیلی دی چه د عمر فاروق ﷺ، علی ﷺ، قیس بن سعد ﷺ، ابن عمر ﷺ، ابن عباس ﷺ او نخعیؒ او عطاءؒ او ابن سیرینؒ او نورو علماؤؒ رائے دا ده چه چا هدی ولیږله او خپله پاتے وو نو دهٔ باندے به هغه شے حرامیږی کوم چه په محرم باندے حرامیږی. (۲) او ابن مسعود ﷺ او عائشه ﷺ او انس ﷺ او ابن الزبیر ﷺ او ائمه اربعهؒ فرمائی چه په هدی روانولو سره محرم نهٔ ګرځی یعنی په دهٔ باندے هغه څیزونه نهٔ حرامیږی کوم چه په محرم باندے حرامیږی. حافظ ابن حجرؒ وائی چه پدے باره کښے یو مرفوع روایت راغلے دے لیکن هغه ضعیف دے.

دا اختلاف په اوله زمانه کښے وو لیکن روستو دا اختلاف ختم شو او خبره همغه ثابته پاتے شوه کومه چه عائشے ﷺ ذکر کړه.

امام بیهقیؒ وائی: اول هغه څوك چه د خلکو نه ئے مشکل ختم کړو او دوئ ته ئے پدے باره کښے سنت طریقه بیان کړه هغه عائشه ﷺ ده.

[فَلَمَّا بَلَغَ النَّاسَ قَوْلُ عَائِشَةَ أَخَذُوا بِهِ وَتَرَكُوا فَتْوَى ابْنِ عَبَّاسٍ] [البیهقی ۲۲۳/۵]

نو هرکله چه خلکو ته د عائشے ﷺ خبره راورسیده نو خلکو په هغے عمل وکړو او د ابن عباس ﷺ فتویٰ ئے پریخوده.

(ددے نه دا ښکاره ثابته شوه چه صحابه کرام ﷺ مقلدین نهٔ وو بلکه د حق او د دلیل تابعدار وو) د رسول الله ﷺ د خبرے او عمل په مقابله کښے به ئے د هیچا قول او عمل نهٔ اخستو.

2632 (6) - وَعَنْهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه ﷺ فرمائی: ما د اُوښانو امیلونه د هغه وړئ نه اُوودل کوم چه ما سره وه بیا نبی کریم ﷺ هغه اُوښانے زما د پلار سره ولیږلے. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: عِهْنٍ: رنګینه وړئ ته وائی، هر رنګ چه وی، بعض وائی: سور رنګ والا وړئ ته وائی. كَانَ عِنْدِي: دا صفت د عِهْن دے.

مَعَ أَبِي: ددے لفظ نه د هدایاؤ د لیږلو وخت معلوم شو چه هغه نهم کال وو، ځکه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق رضی الله عنه په نهم کال باندے د حج امیر کړے وو۔ ابن تینؒ وائی چه د عائشے رضی الله عنها مقصد پدے الفاظو ذکر کولو سره دا دے چه ما ته تول قصه یاده ده۔ یا احتمال شته چه د هغې مراد دا وی چه دا د رسول الله ﷺ آخری عمل وو۔ ځکه چه د نهم کال پسے روستو په لسم کال رسول الله ﷺ حجة الوداع وکړو نو دے دپاره چه څوك دا گمان ونکړی چه دا کار به د اسلام په ابتداء کښے شوے وی بیا به منسوخ شوے وی۔ نو دا التباس او گمان ئے ختم کړو۔

او دا روایت دلیل دے چه امیلونه د وړئ نه هم جوړه ولے شی او د نورو څیزونو نه هم۔

دا حدیث او ددے نه مخکښے دواړه حدیثونو نه دا مسئله راوځی چه که څوك خپله لا حج نۀ ځی د څه عذر په وجه، نو هغه دپاره هم دا بهتره ده چه د خپل کلی نه څاروی حرم ته بوځی دے دپاره چه د اختر په ورځ ددۀ دپاره حلال کړے شی۔ او ددے هدایاو تقلید او اِشعار هم د خپل کلی نه مستحب دے۔ البته که څوك د حج یا د عمرے اراده لری او د ځان سره هدی بوځی نو هغه چه کله د میقات نه احرام تړی نو هلته به خپله هدی ته امیل واچوی او زخمی به ئے کړی یعنی اِشعار به وکړی لکه چه مخکښے بیان شو۔

2633 (7) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَىٰ رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ: " اِرْكَبْهَا ". فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ. قَالَ: " اِرْكَبْهَا". فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ. قَالَ: " اِرْكَبْهَا وَيْلَكَ "فِي الثَّانِيَةِ أَوِ الثَّالِثَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ یو سړے ولیدو چه اُوښه ئے روانه کړے وه۔ نو ورته وے فرمایل: پدے باندے سور شه، هغۀ وویل: دا بدنه ده (چه حرم ته لیږلے شی) نبی کریم ﷺ وفرمایل: پدے سور شه، نو هغۀ وویل: دا خو بدنه ده۔ په دویم یا دریم ځل نبی کریم ﷺ وفرمایل: په تا افسوس دے، (چه زۀ تا ته د سوریدو حکم کوم او تۀ د خپل طرف نه عذرونه بیانوے) پدے باندے سور شه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: رَجُلًا: ددے سړی نوم نۀ دے ذکر شوے۔

بَدَنَةً: ظاهر دا ده چه دا هدی وه۔ او په یو روایت د نسائیؒ کښے ورسره دا الفاظ زیات دی [وَقَدْ جَهَدَهُ الْمَشْيُ] او دغه سړی لره مزل په تکلیف کښے اچولے وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اِرْكَبْهَا : پدې بانديې سور شه، يعنې ستا دپاره پدې باندې سورلي جائز ده، نو سړي جواب ورکړو چه دا خو بدنه ده، يعنې هدي ده، او په هدي باندې به سورلي صحيح نهٔ وي، دې سړي دا گمان وکړو چه نبي ﷺ ته دا پته نشته چه دا هدي ده، بلکه عام اوښ ورته ښکاره شو. پدې وجه ئې ورته وويل چه دا خو بدنه ده. ليکن په واقع کښې نبي ﷺ باندې دا پته نهٔ وه ځکه چه هغه مُقَلَّدَه وه (په غاړه کښې ئې اميل اچولې شوې وو) ددې وجه نه رسول الله ﷺ ورته سخت الفاظ استعمال کړل چه [وَيْلَكَ اِرْكَبْهَا] خوار شې پدې باندې سور شه.

وَيْلَكَ : وَيْلٌ د هغه چا دپاره استعماليږي چه په هلاکت کښې واقع شي چه مستحق ئې وي، او وَيْحٌ د هغه چا دپاره استعماليږي چه په هلاکت کښې واقع شي چه مستحق ئې نهٔ وي. او اصمعيؒ وائي چه ويل کلمه د عذاب ده او ويح کلمه د رحمت ده. ليکن دا ئې اصلي استعمالونه دي، او بيا دا عادتي ښيرې جوړيږي. يعنې په تا افسوس او هلاکت دې.

علامه قرطبيؒ وائي چه رسول الله ﷺ ورته دا کلمه د ادب ورکولو دپاره استعمال کړه ځکه چه دهٔ رسول الله ﷺ ته خبره ورستنه کړه سره ددې نه چه رسول الله ﷺ باندې ددهٔ حال پټ نهٔ وو. ځکه چه د هغهٔ سره روان وو. حافظ ابن عبد البرّ او ابن العربيؒ وئيلي دي چه که رسول الله ﷺ په خپل رب باندې صحابي ته د ښيرو په باره کښې شرط نهٔ وې لګولې نو دغه شخص به خامخا هلاك شوې وې. قرطبيؒ دا هم وئيلي دي چه دا احتمال شته چه رسول الله ﷺ د هغهٔ په باره کښې دا فهم کړې وي چه دا شخص په بَدَنه باندې د جاهليت د رواج او عادت مطابق نهٔ سوريږي لکه چه هغوی به په سائبه وغيره باندې سورلي نهٔ کوله نو پدې وجه ئې ورته رټنه ورکړه چه دا خو د جاهليت رواج وو چه په اسلام سره ختم شو.

او علماءِ کرامو وئيلي دي چه دلته امر اګرکه د اِرشاد او رهنمائي دپاره دې ليکن دهٔ ته ئې سخته کلمه پدې وجه استعمال کړه چه دهٔ د رسول الله ﷺ د امر په جلتئ باندې عملي کولو کښې توقف وکړو، او دهٔ دا توقف د عناد او ضد د وجه نه نهٔ وو کړې بلکه کيدې شي چه دهٔ گمان کړې وي چه پدې باندې په سوريدو سره به په دهٔ باندې تاوان لازميږي يا به گناهګاريږي، يا به دا اجازه د شفقت دپاره وي نو توقف ئې وکړو خو هرکله

Maktaba Tul Ishaat.com

چه ورته رسول الله ﷺ سخت لفظ استعمال كړو نو په جلتئ سره ئے عمل وكړو۔

بعض داسے معنیٰ كوی چه وَيْل كلمه د هغه چا دپاره استعماليږی چه په هلاكت كښے واقع كيدو ته نزدے شوے وی۔ نو مطلب به دا وی چه تهٔ د سفر د مشقت د وجه نه په هلاكت كښے واقع شوے ئے نو سورشه چه د مصيبت نه خلاص شے۔ نو دا به جمله خبريه وی۔ بعض وائی: عرب پدے كلمه سره خپله خبره مضبوطول غواړی او ددے معنیٰ موجوديدل ئے مراد نهٔ وی۔ لكه د تَرِبَتْ يَدَاكَ، او عَقْرىٰ حَلْقىٰ۔ نو بيا به دا نهٔ اخبار وی او نهٔ انشاء۔

أَوِ الثَّالِثَةِ : دا د راوی شك دے۔ ولی الدين العراقیؒ وائی چه اول كرت وينا ئے د دنياوی كار د خاطره وكړه چه دے په مشقت كښے واقع شوے وو، او دويم كرته ئے ورته ددينی امر د وجه نه وكړه چه د رسول الله ﷺ سره ئے خبرے اترے واپس كړے۔

فوائد الحديث : (۱) هركله چه يوه خبره اهمه وی نو عالم له پكار دی چه هغه بار بار بيان كړی۔ (۲) كله چه يو تن ته د نبی ﷺ حكم او طريقه راورسيږی نو هغهٔ دپاره په جلتئ سره عمل پكار دے، ورنه هغه به د نبی ﷺ په ښيرو كښے واقع شی۔

(۳) كه څوك د نبی ﷺ د حكم تعميل ونكړی نو هغهٔ ته زجر او توبيخ (رټنه) وركول جائز دی۔ (٤) په سفر كښے د مشرانو سره شريك روانيدل جائز دی۔ (٥) مشر له پكار دی چه هر كله د كشر دپاره يو مصلحت او فائده اُووينی نو د هغے رهنمائی دِے ورته وكړی۔

(٦) امام بخاریؒ ددے روايت نه دا مسئله راوخكلے ده چه يو تن يو څيز وقف كړی نو واقف له د خپل وِقف نه فائده اخستل جائز دی۔ او ددے په حكم كښے دا هم داخليږی چه د اختر د قربانئ نه د سوريدو (كله چه د سورلئ لائق وی) يا د هغے نه د پيوو فائده حاصلول جائز دی۔ (۷) امام بخاریؒ ترے دا هم معلومه كړيده چه څوك بدنه يا بل شے د الله تعالیٰ دپاره وګرځوی نو هغهٔ له جائز دی چه د هغے نه خپله هم فائده واخلی لكه څنګه چه نور ترے فائده اخستے شی اګركه دهٔ دا شرط نهٔ وی لګولے چه زهٔ به هم ترے فائده اخلم۔

2634 (8) – وَعَنْ أَبِی الزُّبَيْرِ قَالَ : سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ الْهُدَیِ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ :" اِرْكَبْهَا بِالْمَعْرُوْفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتّٰى تَجِدَ ظَهْرًا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او ابو الزبیرؒ فرمائی : ما د جابر بن عبد الله ﷺ نه واوریدل چه دهغهٔ نه په قربانئ باندے د سوریدو په باره کښے پوښتنه وکړے شوه نو هغهٔ وفرمایل : ما د نبی کریم ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : پدے باندے په ښه شان سره سوریدلے شے کله چه تهٔ د هغے سوریدو ته مجبوره شے تردے چه بله سورلی مونده کړے۔ (مسلمؒ)

تشریح : عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ : ددهٔ نوم دے : محمد بن مسلم بن تَدْرُس الاسدی مولاهم المکی دے، د عَبَادَلَه اربعه ؤ نه ئے روایت کړیدے، او د جابر ﷺ او ابو الطفیلؒ او سعید بن جبیرؒ او عکرمهؒ وغیره نه هم۔ حافظ په تقریب کښے وائی : [صَدُوْقٌ اِلَّا اَنَّهٗ يُدَلِّسُ] صدوق دے لیکن تدلیس به ئے کولو، د ځلورمے طبقے نه دے او په سنه (۱۲۶ هـ) کښے وفات شویدے۔ مونږ مخکښے لیکلی چه فسویؒ په خپل تاریخ کښے لیکی : ددهٔ تدلیس مقبول دے مګر که یقین راشی چه دهٔ په دغه روایت کښے تدلیس کړیدے۔ ابن حبانؒ وائی : [لَمْ يُنْصِفْ مَنْ قَدَحَ فِيْهِ] [الثقات لابن حبان] وروی عنه مالك ومالك لا يروى الا عن ثقة وقال النسائي ثقة ـ [البحر المحيط الثجاج ۱/۲۹۹]۔

هدی باندے په سوریدو کښے اختلاف

دا حدیث دلیل دے چه په هدی باندے سوریدل د ضرورت په وخت کښے جائز دی۔

پدے باره کښے د اهل علمو اختلاف دے چه آیا په هدی باندے سوریدل جائز دی او که نهٔ ؟ (۱) نو ځینو علماؤ وئیلی دی چه که د سوریدو په صورت کښے هدی ته ضرر نهٔ رسیږی نو په هغے باندے سوریدل جائز دی، برابره ده مجبوره وی او که نهٔ ـ او دا قول ابن المنذرؒ د عروه بن الزبیرؒ او احمدؒ او اسحاقؒ نه نقل کړے او د امام مالكؒ نه یو روایت دے او د اهل ظاهرو قول دے۔

(۲) دویم قول دا دے چه د ضرورت په وخت سورلی جائز ده، او بغیر د ضرورت نه جائز نهٔ ده۔ او امام ترمذیؒ دا قول د شافعیؒ، احمدؒ، او اسحاقؒ نه نقل کړیدے او نوویؒ په شرح د مسلمؒ کښے وائی چه دا قول د ابن المنذرؒ او د سلفو د یو جماعت دے او دا یو روایت دا مام مالكؒ دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) بعض اهل علم وائي چه د سخت اضطرار (او مجبورئ) په حالت كښې جائز ده او كه اضطرار نۀ وي نو جائز نۀ ده، او دا قول د تابعينو د يو جماعت دے لكه شعبيؒ، حسن بصريؒ، او عطاء بن ابي رباحؒ۔ او احناف دا غوره كوي۔ او د حاجت او د اضطرار ترمينځ فرق دے۔

او ددے روايت نه هم دا معلوميږي چه بله سورلئ موجوده شي نو بيا به پدے باندے سورلي نۀ كوي۔ لهذا كومو روايتونو كښې چه په هدي باندے د سوريدو مطلق جواز راغلے دے نو هغه روايتونه په ضرورت او مجبورئ باندے محمول دي۔

2635 (9) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ عَشَرَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ وَأَمَّرَهُ فِيْهَا . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا أُبْدِعَ عَلَيَّ مِنْهَا ؟ قَالَ : "**اِنْحَرْهَا ثُمَّ اصْبَغْ نَعْلَيْهَا فِيْ دَمِهَا ثُمَّ اجْعَلْهَا عَلٰى صَفْحَتِهَا وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابن عباس ﷠ فرمائي : رسول الله ﷺ د يو سړي سره شپاړس اُوښانے وليږلے او هغۀ ئے د هغے په باره كښې امير مقرر كړو۔ نو هغۀ سړي عرض وكړو اے د الله رسوله ! زۀ به څه كوم په هغه اُوښه چه ما ته مانده شي ددے اُوښانو نه ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا ذبح كړه بيا ددے په وينه كښې ددے دواړه خپے رنګ كړه بيا ددے د قب په اړخ باندے ددے د وينے نښه ولګوه او ددے نه تۀ خوراك مۀ كوه او نۀ هيڅ يوتن د ملګرو ستا نه۔ (مسلمؒ)

تشريح : سِتَّةَ : په صحيح مسلم كښې دا روايت بغير د تاء نه (سِتَّ عَشَرَةَ) دے۔ طيبيؒ وائي : دواړه صحيح دي، څكه چه د بدنه اطلاق په مذكر او مؤنث دواړو باندے كيږي۔

رسول الله ﷺ څومره بدنے ليږلے وے؟ پدے كښې روايات مختلف دي، دے روايت كښې دي چه شپاړس (۱۶) وے، او په بل روايت د مسلم كښې اتلس (۱۸) ذكر دي، ددے جمع پدے طريقه ممكن ده چه يا خو مختلفے واقعے دي، هر يو كښې جدا جدا تعداد ليږلے شويدے، يا دا چه قصه يوه ده نو كوم روايت كښې زيادت وي هغه راجح دے۔ (قاله الشوكانيؒ) او په شپاړس (۱۶) ذكر كولو كښې نفي د زيادت نشته۔ څكه چه دا مفهوم عدد دے او په مفهوم العدد باندے عمل نۀ وي۔ (نوويؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

مَعَ رَجُلٍ : ددے رجل نه مراد ناجيه بن جندب اسلمی ﷺ دے۔
او واقدیؒ په خپل سند سره دا قصه د حُديبيه د غزا په اول کښے ذکر کړيده او په هغے کښے دا دي چه نبی ﷺ په خپله هدی باندے ناجيه اسلمی ﷺ مشر مقرر کړو او هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه دا مخکښے بوځی۔ او هغه څلويښت بدنے وے۔ علی القاریؒ وئيلی دی چه د واقدیؒ نقل پدے باره کښے د صحيح مسلم د روايت خلاف دے مگر که دا ووئيلے شی چه کوم شمار په مسلم کښے ذکر دے، نو دا ئے ناجيه ﷺ ته د خدمت دپاره حواله کړے چه دے به ئے خدمت کوی او باقی شمار ددهٔ د نورو ملگرو وو، د هغوی هدايا هم ورسره وے۔
وَأَمَّرَهٗ فِيهَا : دا په تشديد سره دے، د تامير نه، يعنی په هغے کښے ئے امير او نگران جوړ کړو چه دا به په مکه کښے ذبح کوی۔
بِمَا أُبْدِعَ عَلَيَّ مِنْهَا : د همزے پيش او د باء سکون او د دال زير او د عين زبر دے۔ صيغه مجهول ده۔ [اَیْ بِمَا حُبِسَ عَلَيَّ مِنَ الْكَلَالِ] يعنی زهٔ څه وکړم په هغه څاروی چه ما باندے بند شی د ستومانئ د وجه نه۔ يعنی په ما باندے ستومانه او بيکاره شی۔ ابدع اصل کښے د اُوښے ستومانه کيدل او د مزل نه پريوتل دی، او دا په باء سره استعماليږی ليکن دلته د حَبس معنی لره متضمن دے پدے وجه په علیٰ سره استعمال شويدے۔
ثُمَّ اصْبَغْ : نبی ﷺ په وينه سره د هغے خپے او قب باندے رنگ کولو سره نښه پدے وجه بيان کړه چه په لاره تلونکی خلك وپيژنی چه دا هدی ده، نو ددے غوښه به فقراء او مساکين وخوری، او اغنياء به د هغے نه ځان وساتی ځکه چه ددے غوښه په مالدارو باندے حرامه ده۔
بل حکم ئے ورته دا وکړو چه دغه اُوښ به ذبح کړی او همدغه ځائے کښے به ئے پريږدے، ددے غوښه به ته هم نهٔ خورے او نهٔ به ئے خپل هَمسفر ملگرو ته ورکوے برابره ده چه هغوی فقيران او مساکين وی يا مالدار۔ دوی ئے پدے وجه منع کړل چه چرته دا خلق د خپل ضرورت بهانه جوړولو سره د خوراك دپاره کوم اُوښ ذبح نکړی۔
بيا دا اشکال نهٔ کيږی چه هرکله خپل د اُوښ والا او ددهٔ ملگری ددے د غوښے خوړلو نه منع شو نو بيا خو به دا غوښه ضائع شی۔ وجه دا ده چه هرکله اُوښ ذبح کولو سره په خپل ځائے باندے پريږدی، نو ددے علاقے خوا وشا وسيدونکی خلك به ئے استعمال

کړي یا به پدې لاره باندې قافلې ځي راځي نو هغوی به ترې فائده واخلي۔
رُفُقَتِكَ : رفقه : په د راء پېښ او زیر سره دواړه لغته مشهور دي۔ د سفر ملګرو او دوستانو ته وائي او اهل لفظ پکښې زیاتي دې۔
بعض شارحین پدې مقام کښې خوئیدلي دي او دائې وئیلي دي چه پدې حدیث کښې د غوښې د نهٔ خوړلو حکم د هغه هدی سره متعلق دې چه په ځان باندې ئې واجبه کړې وي، لکه د نذر هدی، لهذا که نفلي هدی وي نو بیا د هغې غوښه خوړل جائز دي۔ دوئ قیاس کړې چه واجب هدی خو منزل مقصود ته رسیدو نه پس ذبح کیږي، او دا خو چونکه په لاره کښې ذبح شوه نو پدې وجه ددې خوړل جائز دي، نو دا خبره د حدیث د منشاء او د حقیقت نه بالکلیه خلاف ده۔

2636 (10) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَّةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : مونږ د رسول الله ﷺ سره د حدیبیه په کال یوه اُوښه د اُوه کسانو نه او غوا د اُوه کسانو نه ذبح کړه۔ (مسلمؒ)

تشریح : الْحُدَيْبِيَّةِ : یاء باندې تخفیف دې یا تشدید۔
وَالْبَقَرَةِ : ددې نه ښکاره کیږي چه بدنه غوا ته نهٔ شاملیږي لیکن صحیح دا ده چه بدنه غوا ته هم وائي لیکن اکثر استعمال ئې په اُوښانو کښې کیږي۔
دا حدیث دلیل دې چه په اُوښ او غوا کښې اُوه (۷) کسان شرکت کولې شي، او دا قول د جمهورو دې۔ او داودؒ او بعض مالکیه وائي چه په نفلي هدی کښې جائز دې، نهٔ په فرضي کښې۔ او امام مالك وائي چه مطلقاً شرکت پکښې جائز نهٔ دې۔ او مالکیه ؤ پدې روایت کښې تاویلات کړیدي چه ټول تکلفات دي۔ او دې باره کښې نور هم ډیر روایات شته، چه صاحب المرعاة راجمع کړیدي۔ او هغه دلالت په شرکت کوي۔
مسئله : په اُوښ کښې لس کسان هم شرکت کولې شي لکه چه باب الاضحیه کښې ددې دلیل ذکر شوې۔

2637 (11) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّهُ أَتَى عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا قَالَ: اِبْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او ابن عمر ﷛ نه روایت دے: چه هغه په یو سړی باندے راغلو چه هغۀ خپله اُوښه کینولے وه چه هغه ئے ذبح کوله، ورته ئے وفرمایل: دا پاخوه په ولاړه تړلے شوے (حالت کښے ئے ذبح کړه) د محمد رسول الله ﷺ طریقه اختیار کړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : يَنۡحَرُهَا : اُوښ په سینه کښے په چاړۀ باندے وهلو ته وئیلے شي۔ د نحر طریقه دا ده چه اُوښ ودروی او د هغۀ ښۍ خپے په رسۍ سره وتړی او بیا هغه په سینه کښے په چاړۀ وغیره سره ووهی دے دپاره چه وینه تریے روانه شي او هغه راپریوزی۔

اِبۡعَثۡهَا : یعنی دا پاخوه، ودره وه۔ قِيَامًا : دا حال مؤکده دے د اِبۡعَثۡ دپاره۔ یا حال مقدره دے، اَیۡ اِبۡعَثۡهَا مُقَدَّرًا قِيَامُهَا ۔ یعنی دا پاخوه په داسے حال کښے چه ددے قیام مقرر کړے شوے وی۔

سُنَّةَ : منصوب دے، یعنی اِلۡزَمۡ وَاتَّبِعۡ سُنَّةَ، کلك راونیسه او تابعداری د سنت وکړه۔

دا حدیث دلیل دے چه سنت طریقه دا ده چه اُوښ به په لاړه سره په چاړۀ باندے وهلے شي چه ګس لاس به ئے د خپو سره تړلے شوے وی۔ او دا مذهب د مالكؒ او شافعیؒ او اسحاقؒ او ابن المنذرؒ دے۔ او عطاءؒ او حسن بصریؒ وئیلی دی چه مستحب دا ده چه په ناسته به ئے نحر کوی لیکن دا د سنت خلاف عمل دے۔ او ثوریؒ او احنافوؒ نه نقل دی چه په ولاړه او ناسته دواړو باندے یو شان جائز دی۔ (حافظ : فتح الباری)

او دا حدیث دلیل دے چه کله صحابی (مِنَ السُّنَّةِ) لفظ استعمال کړی نو دے نه به د نبی کریم ﷺ سنت مراد وی۔ او دا مذهب د بخاریؒ او د مسلمؒ دے چه هغوی پدے حدیث باندے دلیل نیولے دے۔ او دا د عامو محدثینو اصول دی، پدے کښے ابن حزمؒ مخالفت کړے لیکن د هغۀ قول مرجوح دے۔

2638 (12) – وَعَنۡ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ قَالَ : أَمَرَنِيۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ أَنۡ أَقُوۡمَ عَلٰى بُدۡنِهٖ وَأَنۡ أَتَصَدَّقَ بِلَحۡمِهَا وَجُلُوۡدِهَا وَأَجِلَّتِهَا وَأَنۡ لَا أُعۡطِيَ الۡجَزَّارَ مِنۡهَا قَالَ : " **نَحۡنُ نُعۡطِيۡهِ مِنۡ عِنۡدِنَا** ". مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ

ترجمه : او علی ﷛ فرمائی : ما ته رسول الله ﷺ حکم وکړو چه زۀ د هغۀ د اُوښانو نګرانی وکړم او د هغے غوښے او څرمنے او زینونه صدقه کړم او قصاب ته د هغے نه (په مزدورئ کښے) هیڅ ورنکړم۔ وے فرمایل : مونږ به د خپل طرف نه هغۀ ته (د هغۀ

Maktaba Tul Ishaat.com

مزدوری) ورکوو- (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : أَقُومَ عَلَى بُدْنِهِ : ددے اُوښانو نه مراد هغه اُوښان دی چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښے د هدی په طور د مدینے او یمن نه بوتلی وو چه د هغے شمار سل (۱۰۰) وو، تفصیل ئے مخکښے ذکر شویدے۔ نو ددے نه معلومه شوه چه د هدی په ذبح کولو او نحر کولو کښے د بل چا د طرف نه نیابت جائز دے۔

دلته په بدنو باندے د وردیدو مطلب دا دے چه د هغے د نحر کولو د حفاظت دپاره۔ یا عام مراد دے چه د هغے د نحر کولو او د هغے د خدمت کولو او هغے ته د گیاه ورکولو وغیره دپاره نگران مقرر شوم۔

وَأَنْ أَتَصَدَّقَ : یعنی چه زهٔ د هغے غوښے په مسکینانو باندے صدقه کړم، چه رسول الله ﷺ پخپله هم ددے نه غوښه خوړلے وه۔

کرمانیؒ وئیلی دی چه دا حدیث دلیل دے چه د هدی او د قربانئ د څاروی څرمنے د خپلے فائدے دپاره خرڅول جائز نهٔ دی۔ قرطبیؒ وئیلی دی څکه چه څرمنے په غوښه باندے راتاوی، او د غوښے په نهٔ خرڅولو خو اتفاق دے نو دغه شان څرمن خرڅول هم صحیح نهٔ دی۔ البته اوزاعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او ابوثورؒ نه نقل دی چه جائز دی خو ددے پیسے به په هغه ځائے کښے خرچ کوی کوم ځائے چه اُضحیه لګولے شی۔ یعنی فقیرانو ته به ئے ورکوی۔ او حدیث کښے دی : [مَنْ بَاعَ جِلْدَ أُضْحِيَّتِهِ فَلَا أُضْحِيَّةَ لَهُ] [حسن : صحیح الجامع الصغیر : ۶۱۱۸، صحیح الترغیب : ۱۰۸۸، عبد الله بن عیاش صدوق یغلط وخرج له مسلم فی الشواهد وحسنه الالبانی وصححه الحاکم]

(چاچه د خپلے قربانئ څرمنه خرڅه کړه د هغهٔ قربانی ونشوه)۔

او د هدایا او د اُضحیه ؤ د څرمنو نه د استعمال یا د خوراك فائده اخستل په اتفاق سره جائز دی۔

نخعیؒ او اوزاعیؒ وئیلی دی چه باك نشته چه په دغه پیسو باندے غلبیل او چاړ او تبرگے او تله وغیره واخلی۔ (النوویؒ : شرح المهذب) او داسے مذهب د احنافو هم دے۔ یعنی کوم شے چه د هغے فائده باقی پاتی کیږی۔ لکه ددے مسئلے تفصیل په باب الاضحیه کښے ذکر شویدے۔

وَأَجِلَّتِهَا : جمع د جُلّ ده، دا هغه شے دے چه د اُوښ په شا باندے اچولے شی، شرئ

Maktaba Tul Ishaat.com

وغیره۔ یعنی زین۔
دے نه معلومه شوه چه د بدنے دپاسه زین وغیره اچولے شی، او دا مستحب دے او واجب نهٔ دے۔ او دا صرف د اُوښانو پورے خاص دے۔ (شرح مسلم)
اَلْجَزَّارَ: قصاب۔ یعنی څرمن، غوښه او زین او مُهار وغیره هم خیرات کول پکار دی، دا څیزونه قصاب ته په مزدوریٔ کښے ورکول جائز نهٔ دی، البته که قصاب ته ئے احساناً ورکړی نو بیا هیڅ باك نشته۔

2639 (13) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: كُنَّا لَا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَرَخَّصَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ :" كُلُوْا وَتَزَوَّدُوْا ". فَأَكَلْنَا وَتَزَوَّدْنَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائی : مونږ به د خپلو بُدنو د غوښو نه د درے ورځو نه زیات نهٔ خوړلے نو مونږ ته رسول الله ﷺ رخصت (اجازت) راکړو او وے فرمایل : خورئ او توښه کوئ ئے۔ نو مونږ وخوړلے او توښه مو جوړه کړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : د اسلام په ابتداء کښے خلکو ته د غوښے ډیر ضرورت وو او داسے خلك ډیر زیات وو چه هغوی به خپله قربانی نشوه کولے پدے وجه نبی ﷺ دا حکم وکړو چه د قربانیٔ غوښه به د درے ورځو نه روستو نهٔ ساتیٔ بلکه نورو خلکو ته به ئے په صدقه کښے ورکوئ، بیا کله چه غوښو ته ډیر ضرورت پاتے نهٔ شو، او عامو خلکو ته د قربانیٔ استطاعت حاصل شو نو نبی ﷺ اجازه ورکړه چه د قربانیٔ غوښه د درے ورځو نه روستو هم ساتل جائز دی۔ پدے حکم کښے هدی او اُضحیه دواړه یو شان دی۔ او دا حکم منسوخ شوے په حدیث د جابر ﷺ او په حدیث د بریده ﷺ باندے چه امام احمدؒ او مسلمؒ او ترمذیؒ راوړیدے۔
بیا د درے ورځو پورے د قربانیٔ د غوښے خوړلو نه منع په کوم کال کښے راغلے ده ؟، بعض وائی : دا په پنځم کال د هجرت باندے شوے وه۔ بعض وائی : دا منع صرف یو کال وه او دا په نهم کال د هجرت کښے وه۔ او رخصت په حجة الوداع کښے په لسم کال کښے وو۔ او دا راجح ده ، حدیث د مسلمؒ پدے دلالت کوی۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِیُ

2640 (14) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدٰى عَامَ الْحُدَيْبِيَّةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيْ هَدَايَا رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَلًا كَانَ لِأَبِيْ جَهْلٍ، فِيْ رَأْسِهٖ بُرَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ: مِنْ ذَهَبٍ يَغِيْظُ بِذٰلِكَ الْمُشْرِكِيْنَ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه بيشكه نبی كريم ﷺ د حديبيه په كال په خپلو هديو (قربانيو) كښے يو اُوښ هدی كړو چه هغه د ابوجهل وو، د هغهٔ په سر كښے د چاندئ يوه كړئ وه- او په يو روايت كښے دی : د سرو زرو وو، پدے سره ئے مشركان غصه كول- (ابوداوَدّ)

تشريح : عَامَ الْحُدَيْبِيَّةِ : دا په شپږم كال د هجرت كښے وو-

فِيْ هَدَايَا : يعنی په نورو هدايا و كښے، او رسول الله ﷺ لفظ ئے دوباره ذكر كړو د عظمتِ شان دپاره-

لِأَبِيْ جَهْلٍ : ددهٔ نوم عمرو بن هشام المخزومی دے، ددے امت فرعون كوږ ستركے، عربو به ورته ابو الحكم (فيصلو والا) وئيلو، نو نبی ﷺ ورته ابوجهل نوم وركړو، دا نوم پرے غالب شو- په غزا د بدر كښے مردار شو- رسول الله ﷺ ددهٔ اُوښ اغستے وو او بيا ئے د حُديبيه په كال باندے ځان سره د هدی په طور د عمرے دپاره روان كړو، دے دپاره چه مشركان ددے په ليدو سره غصه كړی چه دا ستاسو د مشر اُوښ دے- معلومه شوه چه كفارو ته غم رَسَول او هغوی سوزول مستحب عمل دے-

فِيْ رَأْسِهٖ : ذكر د سر دے مراد ترے پوزه ده- يعنی ددے په پوزه كښے يوه كړئ وه د سپينو زرو-

بُرَةٌ : اصل كښے بُرْوَةٌ دے، ددے جمع بُرَاتٌ او بُرُوْن راغلے ده لكه د ثُبَاتٌ او ثُبُوْن په شان- بُره په اصل كښے د زيړو نه يوه كړئ او حلقه ده چه د اُوښ په پوزه كښے اچولے شی دے دپاره چه په هغے سره واګے وترلے شی- او ابوجهل دا كړئ د سپينو يا د سرو نه پدے وجه اچولے وه چه پدے سره ئے خپل فخر او عظمت راښكاره كولو-

ددے حديث نه دا هم معلومه شوه چه په هدی كښے مذكر حيوان (اُوښ) هم ليږل جائز دی- او دا قول د سعيد بن المسيبؒ، عمر بن عبد العزيزؒ، مالكؒ، عطاءؒ او شافعیؒ دے-

امام نوویؒ فرمائی : چه هدی د اضحيه په شان ده چه په مذكر او مؤنث دواړه قسمونو سره جائز ده- يَغِيْظُ : دا دليل دے چه د مشركانو غصه كول هم عبادت دے-

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث :[صحيح] أخرجه ابوداود : ١٧٤٩، واحمد ١/٤٣٤، ٢٦١، (٢٦٩، ٢٧٣)
وابن ماجه : ٣١٠٠. واخرجه مسلم دون الحجتين.

2641 (15) – وَعَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ ﷺ قَالَ: قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا عَطِبَ مِنَ الْبُدْنِ ؟ قَالَ :" **انْحَرْهَا ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِيْ دَمِهَا ثُمَّ خَلِّ بَيْنَ النَّاسِ وَبَيْنَهَا فَيَأْكُلُوْنَهَا** ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه

2642 (16) – وَرَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيِّ ﷺ.

ترجمه: او ناجيه خزاعي ﷺ فرمائي : ما ووېل : اې د الله رسوله ! زهٔ به څه کوم په هغه اُوښه باندې چه ما نه (په لاره کښې) هلاکه شي ؟ وې فرمايل : دا ذبح کړه بيا د دې دې څپلئ د دې په وينه کښې ننباسه (رنګ ئې کړه) بيا دا څاروې د خلکو ترمينځ پرېده چه هغوی ئې وخوري. (مالك، ترمذيؒ، ابن ماجهؒ او دا ابوداوُدؒ او دارميؒ د ناجيه اسلمي ﷺ نه روايت کړې)

تشريح : ناجية الخزاعي ﷺ : دا ناجيه بن جندب بن کعب الخزاعي دې، صحابي دې، او عروه بن الزبيرؒ ترې صرف روايتونه نقل کوي. او ددهٔ نوم ذکوان وو نو رسول الله ﷺ ورته ناجيه نوم کيخودو پدې وجه چه دې د قريشو نه راخلاص شوې وو. د معاويه ﷺ په دور حکومت کښې وفات شوې وو. حافظ وائي : هغه څوك خطاء شوې چه وائي چه دا ناجيه بن جندب بن عمير الاسلمي دې ځکه چه د هغهٔ نه روايت مَجْزَأه بن زاهِر وغيره کوي. او دلته ترې عروهؓ روايت کړيدې.

او دا روايت ابوداوُدؒ او دارميؒ د ناجيه اسلمي ﷺ نه روايت کړيدې. حافظ ابن حجرؒ په ''اصابه'' کښې ددې روايت طرق ذکر کړيدي، بيا ئې وئيلي دي چه بعيده نهٔ ده چه واقعه کښې تعدد وي، او هر يو د رسول الله ﷺ په بُدُنُو باندې مقرر وو.

عَطَبَ : دا د باب سَمِعَ نه دې. يعنې کومه اُوښه چه هلاکت او مرګ ته نزدې شي نو په هغې به څه کوم ؟.

اغْمِسْ : د باب د ضرب نه.

النَّاسِ: نه مراد هغه کسان دي چه قافلو پسې روان وي، يا د بلې قافلې خلك مراد دي. يا خوا وشا کلي خلك دي. غوره دا ده چه ددې نه مراد هغه خلك دي چه فقيران وي او

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے قافلے سره شريك نۀ وي روان، دليل پرے مخکښے حديث د ابن عباس ﷺ دے۔ او دا قول د شوافعوؒ او حنابلةؒ دے۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] : أخرجه أحمد : ٤/٣٣٤ والترمذى : ٩١٠ وقال حسن صحيح وابن ماجه : ٣١٠٦. واخرجه ابوداود : ١٧٦٢ والدارمى : ١٩١٥، ١٩١٦.

2643 (17) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قُرْطٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ": **إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ** ". قَالَ ثَوْرٌ: وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّانِي. قَالَ: وَقُرِّبَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ قَالَ: فَلَمَّا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا. قَالَ فَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ خَفِيَّةٍ لَمْ أَفْهَمْهَا فَقُلْتُ : مَا قَالَ؟ قَالَ : " **مَنْ شَاءَ اقْتَطَعَ** ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ وَجَابِرٍ فِي بَابِ الْأُضْحِيَّةِ

ترجمه : او عبد الله بن قرط ﷺ د نبی کریم ﷺ نه روايت کوی چه هغۀ فرمايلی : يقيناً ډيره لويه ورځ د الله په نيز باندے د لوی اختر ورځ ده، بيا يوم القر (يعنی د آرام والا ورځ) ثور راویؒ وائی : دا دويمه ورځ (د اختر) ده۔ وے فرمايل : او د رسول الله ﷺ خوا ته پنځه يا شپږ اُوښانے رانزدے شوے، شروع شوے چه هغۀ ته رانزدے کيدے دے دپاره چه هغه به په کوم يو باندے ابتداء (د ذبح) کوی۔ راویؒ وائی : هرکله چه د هغے اړخونه راپريوتل۔ راوی وائی : نبی کريم ﷺ پټه شان خبره وکړه چه زۀ پرے پوهه نشوم نو ما (خپل نزدے ملګری ته) ووېل : نبی کريم ﷺ څه وفرمايل ؟ هغۀ ووېل : (داسے ئے وفرمايل:) د چا چه خوښه وی (ددے نه) ځانله ډے غوښه پريکړی۔ (ابوداودؒ۔ او د ابن عباس ﷺ او جابر ﷺ دواړه حديثونه د اضحيه (قربانئ) په باب کښے ذکر شويدی)۔

تعارف د عبد الله بن قرط الازدي الثُمالي ﷺ۔ احمد بن حنبلؒ په حسن سند سره او ابو نعيم په"معرفة الصحابه" کښے په لا بأس بِهٖ سند سره نقل کړيدی چه په جاهليت کښے ددۀ نوم شيطان وو، هرکله ئے چه اسلام راوړو نو نبی ﷺ ورته عبد الله نوم کېخودو۔ غزا د يرموك او فتح د دمشق ته حاضر شويدے۔ او يزيد بن ابی سفيان ﷺ ورته خط ورکړو چه ابوبکر صديق ﷺ ته ئے اُورسوی۔ او ابوعبيده بن الجراح ﷺ په حِمص باندے د عمر فاروق ﷺ په خلافت کښے دوه کرته ګورنر مقرر کړيدے، تر وفات د ابوعبيده ﷺ پورے هغه په حِمص باندے پاتے وو۔ بيا معاويه ﷺ په حِمص باندے والی

Maktaba Tul Ishaat.com

جوړ کړو۔

ابن یونسؒ وائی : عبد الله بن قرط ﷺ په سنه (۵٦ هـ) کښې په زمکه د روم شهید شو۔

تشريح : أُعْظَمَ الْأَيَّامِ : ددې ورځو نه مراد د لوی اختر ورځې دی، نۀ مطلق ورځې ځکه چه په صحیح احادیثو کښې ثابت دی چه په ټولو ورځو کښې بهترینه ورځ د جُمعې ده۔ نو ددې ورځو نه مراد د اختر او د ایام التشریق ورځې دی۔

طیبیؒ وائی : [اَیُ مِنُ أُعُظَمِ الْأَيَّامِ] یعنی یوم النحر او بیا یوم القرّ هم د هغه ورځو نه یوه ده چه لویه او افضل دی۔ ځکه چه دا ثابته ده چه د رمضان اخیری لس ورځې یا د ذی الحجې اولنۍ لس ورځې د نورو ټولو ورځو نه زیاتې بهترې دی۔ علی القاریؒ وائی : تقدیر د "مِنُ" ته ضرورت نشته ځکه چه افضلیت مختلف دې په اعتبار د حیثیت او نسبت سره۔ یعنی دا نسبتی افضلیت دې، د بعض وجوهو نه دې۔ یعنی چونکه رمضان کښې روژې نیولې کیږی، د عبادت ثواب زیات حاصلیږی او ددې په آخری عشره کښې اعتکاف کیږی پدې اعتبار سره د رمضان آخری عشره افضل ده، او چونکه په لسو ورځو د ذی الحجه کښې د حج کارونه راځی او قربانی کیږی پدې اعتبار سره دا افضل دی۔

یا په کومو احادیثو کښې چه دا راغلی دی چه په تمامو ورځو کښې افضلې ورځې لس ورځې د ذی الحجې دی، او په بعضو کښې دی چه د رمضان آخری عشره، نو ددې نه تضاد معلومیږی؟، نو ددې **جواب** دا دې چه کومو احادیثو نه د ذی الحجې د لسو ورځو افضلیت معلومیږی نو هغه د اشهر حرم سره مقیّد دی، یعنی په عزتمنو میاشتو کښې افضل ورځې د ذی الحجې لس ورځې دی، (چه بیا پدې کښې د عرفې ورځ او د اختر ورځ ډیره بهتره ده) او د رمضان آخری لس شپې غوره دی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ وائی : د هفتې په ورځو کښې د ټولو نه بهترینه ورځ د جُمعې ده، لکه حدیث کښې دی: [خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتُ عَلَيْهِ الشَّمُسُ يَوُمُ الُجُمُعَةِ] [مسلم : ۲۰۱۳] او د کال په ورځو کښې د لوی اختر ورځ ده (ددې حدیث الباب د وجه نه، ددې وجه دا ده چه د اختر او صبا له ورځه کښې هغه کارونه کیږی چه هغه په ټول کال کښې نۀ کیږی لکه مزدلفه کښې شپه، جمرات ویشتل، هدی ذبح کول، حلق یا تقصیر کول، طواف افاضه کول)

علامه عراقیؒ وئیلی دی چه د هفتې په ورځو کښې د جُمعې او د کال په ورځو کښې د

Maktaba Tul Ishaat.com

عرفې يا د اختر ورځې بهترې دي، بيا ئې وئيلي دي چه د جمعې د ورځې د افضليت روايت د تولو نه زيات صحيح دے۔

يَوْمُ الْقَرِّ : د اختر دويمې ورځې تـه - چه دے ته اوله ورځ د ايام التشريق وائي- يوم القر پدے وجه وائي چه خلك په خپلو خيمو او كورونو كښې په مِنیٰ كښې قرارے (آرام) كوي او د هغې نه بهر نۀ اُوځي، په خلاف د روستو دوه ورځو نه. يا پدے وجه چه خلك په منىٰ كښې پدے ورځو كښې آرام كوي د هغه سترې والي نه كوم چه په اوله ورځ د اختر كښې راغلے وو۔

قَالَ ثَوْرٌ : ثـورٌ ددے حديث يـو راوي دے، نوم ئے ثور بن يزيد الكلاعيّ دے۔ بعض وائي رَحَبي دے، ابـو خـالـد الحِمصيّ ئے كنيه ده، چه د اَثبات او حفاظو علماؤ نه دے۔ د لويو اتباع التابعين نه دے۔ په سنه (۱۵۰ ھ) كښې وفات شويدے۔

وَقُرِّبَ : په تشديد سره۔ اَوْ سِتٌّ : دا شك د يو راوي دے يا د عبد الله بن قرط ﷺ دے۔

يَزْدَلِفْنَ : [اَیْ يَتَقَرَّبْنَ وَيَسْعَيْنَ] يعنې رانزدے كيدے او رامندے ئے وهلے۔

دا د رسول الله ﷺ ښـكاره معجزه وه چه اُوښانے هره يوه د بلې نه هغۀ ته رانزدے كيده چه د هغۀ په مباركـو لاسـونـو باندے نحر كړے شي۔ يعنې د حصول د بركت جذبه او لطف پكښې پيدا شو چه دا خاصه د انسان ده، حالانكه هغه مړ كيدلے۔

وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا : يعنې اړخونه ئے راپرېوتل۔ يعنې روحونه ترے روان شول نو راپرېوتل۔ وجوب په معنیٰ د سقوط سره راځي۔

قَالَ : راوي وائي۔ لَمْ اَفْهَمْهَا : يعنې زۀ پرے پو هه نشوم پدے وجه چه هغه ئے پټه او په آرام سره وكړه نـو ما وانۀ وريده۔ نو ما نزدے ملګرى ته وويل چه نبي ﷺ څه وفرمايل ؟۔ هغـۀ وويل : وے فرمايل : [مَنْ شَاءَ اِقْتَطَعَ] كـه څـوك غوښته شوكول غواړي نو ودے شوكوي۔ دا حديث دليـل دے په مسئـلـه د نثار باندے، يعنې ميوه وغيره په ناوي يا ميلمه باندے شيندل جواز لري لكه كما يأتي في الدين الخالص (۱۲)۔

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2744 (18) - عَـنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "مَنْ ضَحّٰى مِنْكُمْ فَلَا يُصْبِحَنَّ بَعْدَ ثَالِثَةٍ وَفِيْ بَيْتِهِ مِنْهُ شَيْءٌ". فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا الْعَامَ الْمَاضِيَ؟ قَالَ: " كُلُوْا وَأَطْعِمُوْا وَادَّخِرُوْا فَإِنَّ ذٰلِكَ الْعَامَ كَانَ بِالنَّاسِ جَهْدٌ فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِيْنُوْا فِيْهِمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: سلمه بن اکوع ﷺ فرمائي: نبي کریم ﷺ وفرمایل: چا چه ستاسو نه قرباني وکړه نو د دریمې شپې نه روستو دې نۀ صبا کوي په داسې حال کښې چه د هغۀ په کور کښې د هغې نه څه شې (پاتې) وي- بیا هرکله چه راتلونکے کال راغلو، صحابه کرامو عرض وکړو اے د الله رسوله! مونږ هغه شان کار وکړو څنګه چه مونږ په تیر شوي کال کښې کړي وو (چه دریې ورځو کښې به دننه د قربانۍ غوښې ختموو)؟ وې فرمایل: خورئ او بل باندې ئې خوره وئ او جمع کولو سره ئې ساتئ، ځکه چه دا (ساتل) په هغه کال کښې په خلکو باندې مشقت او تکلیف وو نو ما وغوښته چه تاسو د هغوی په باره کښې د هغوی مدد وکړئ- (بخاري ومسلم)

تشریح: یو کال په مدینه او د هغې په خوا وشا علاقو کښې سخت قحط راغلو، پدې موقعه کښې د بهر نه ډیر خلك مدینې ته راغلل چه پدې سره مدینه ډکه شوه، پدې کال نبي ﷺ وفرمایل چه چا سره څومره غوښه وي تقسیم دې ئې کړي، او جمع واري دې نۀ کوي، بیا آینده کال کښې چه کله ضرورت ختم شو نو نبي ﷺ د جمعه کولو اجازت ورکړو- ددې نه معلومه شوه چه په اسلام کښې د مسلمانانو همدردي یو ضروري عمل دے، پدې سره معاشره برابریږي-

نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا: نهي خو تقاضا د استمرار کوي نو بیا دوئ ولې داسې تپوس وکړو؟ ددې وجه دا ده چه صحابه کرامو ﷺ دا فهم کړه چه دا نهي د یو خاص سبب په وجه سره وه نو هرکله چه د دوئ په نیز په عموم د نهي کښې شك راغلو نو تپوس ئې وکړو- نو ددې نه معلومه شوه چه کله یو عام حکم د یو خاص سبب په وجه سره راشي نو د عموم دلالت ضعیف کیږي، اګرکه هغه به صرف د سبب پورې خاص نۀ وي- (کذا في الفتح)

كُلُوْا: یعني تاسو له ئې خوراك جائز دے، دا امر د وجوب دپاره نۀ دے ځکه چه دا قانون دے چه کله امر د یو نهي نه روستو راشي نو هغه د اباحت دپاره وي- البته د قربانۍ غوښه خوړل مستحب دي-

وَأَطْعِمُوْا: یعني میلمنو او دوستانو باندې ئې وخوره وئ-

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتَصَدَّقُوا : يعنى فقراؤ باندے ئے صدقه هم كړئ۔
د اختر قربانى درے ځائے تقسيمول څه واجب نۀ دى، البته د بعض صحابه كرامو نه لكه د عبد الله بن مسعود ﷺ او عبد الله بن عمر ﷺ نه ثابت دى۔ عبد الله بن عمر ﷺ فرمائى : [اَلضَّحَايَا وَالْهَدَايَا ثُلُثٌ لَكَ وَثُلُثٌ لِأَهْلِكَ وَثُلُثٌ لِلْمَسَاكِيْنِ]
قربانيانے او هدايا يوه حصه ستا ده او يوه ستا د اهل او يوه حصه د مساكينو ده۔ او دا قول د اسحاقؒ او يو قول د امام شافعيؒ دے۔ او چه څومره صدقه زياته وشى افضله ده، ځكه چه نبى ﷺ سل (۱۰۰) اُوښے ذبح كړے او د هغے نه ئے صرف لږ د ځان دپاره استعمال كړل باقى تولے ئے خلكو ته صدقه كړے۔
وَادَّخِرُوا : د غوښو د ذخيره كولو او ساتلو د اجازت نه معلوميږى چه ذخيره د غوښو جائز ده۔ او رسول الله ﷺ به د خپل اهل دپاره د يو كال خرچه او خوراك ساتلو (بخارى ومسلم) او په يو روايت كښے دى چه نبى ﷺ به صبا دپاره ذخيره نۀ كوله۔ (مسلمؒ) ددے دواړو جمع داسے ده چه نبى ﷺ به د ځان دپاره جمع والے او ذخيره اندوزى نۀ كوله او د خپل اهل وعيال دپاره به ئے ذخيره كوله۔
جَهْدٌ : په زبر د جيم سره، مشقت او تكليف د قحط په وجه۔

2645 (19) – وَعَنْ نُبَيْشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ كُنَّا نَهَيْنَا عَنْ لُحُوْمِهَا أَنْ تَأْكُلُوْهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ. فَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالسَّعَةِ فَكُلُوْا وَادَّخِرُوْا وَاتَّجِرُوْا. أَلَا وَإِنَّ هٰذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللّٰهِ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: او نُبيشه ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : موني تاسو د قربانۍ د غوښو نه منع كړى وئ چه دا د درے ورځو نه په زياتو كښے تاسو وخورئ دے دپاره چه تاسو باندے وسعت (فراخى) وشى، (نو اُوس) الله تعالىٰ فراخى راوسته نو خورئ او ساتئ او (ددے په صدقے سره) اجر گټئ، خبر شئ دا ورځے د خوراك او څكاك او د الله تعالىٰ د ذكر ورځے دى۔ (ابوداودؒ)

تعارف د نبيشه بن عبد الله بن عمرو بن الحارث بن نصير بن حصن ﷺ: دا د هذيل قبيلے نه دے، او دۀ ته نبيشة الخير وئيلے شى۔ پدے وجه چه دے نبى ﷺ خوا ته راغلو او د هغۀ سره څه قيديان وو نو دۀ ووئيل : اے د الله رسوله ! يا به ددے قيديانو نه فديه اخلے

Maktaba Tul Ishaat.com

یا به پرې احسان کوې۔ نبي ﷺ وفرمایل: تا په خیر باندې حکم وکړو اې نبیشه! نو ته نبیشة الخیر ئې۔ (یعني خیر والا نبیشه)، کنیه ئې ابو طریف ده، صحابي دې، حدیثونه ترې کم روایت شوېدي۔ ابن عبد البرؒ وائي: دې په بصره کښې وسیدو۔

تشریح : وَاتَّجِرُوا : یعنې د غوښې د صدقه او خیرات کولو په وجه ثواب حاصل کړئ۔ دا د اِءْ تِجَارٌ نه دې، او هغه د اُجرة نه دې، نۀ د تجارة نه، په اصل کښې اِیْتَجِرُوا دې۔

الْاَيَّامَ : ددې ورځو نه مراد ایام التشریق دي چه دا د اختر د ورځې نه علاوه درې ورځې دي، او دا قول د ابن عمر ﷺ او اکثرو علماو او د ائمه اربعه ؤ او د هغوی د اتباعو دې۔ او د ابن عباس ﷺ او عطاءؒ نه نقل دي چه دا د اختر د ورځې سره څلور ورځې دي، یعنې د اختر ورځ هم په ایام التشریق کښې داخله ده۔ لیکن اول قول زیات ظاهر دې۔

اَيَّامُ اُكُلٍ : (۱) دې نه معلومه شوه چه پدې ورځو کښې به روژه نیول هم صحیح نۀ وي لکه دا منع په ډیرو احادیثو کښې راغلې ده۔ او دا مطلقًا حرام دي د مُتمتع دپاره وي او که د غیر متمتع دپاره، او دا قول د علي بن ابي طالب ﷺ او عبد الله بن عمرو ﷺ او حسنؒ او عطاءؒ دې او دا قول د شافعيؒ، ابوحنیفةؒ او ابن المنذرؒ دې او دا یو روایت د احمدؒ دې۔ او دا مذهب د ابن حزمؒ دې۔ او آیت کښې چه (ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ) ذکر دي نو د هغې نه د ایام التشریق نه علاوه ورځې مراد دي۔ ځکه ایام الحج خو د ایام التشریق نه مخکښې هم شته نو د نهي دا احادیث به مخصص وي د دغه عموم نه چه په آیت کښې راغلې دې۔ او دا خبره طحاويؒ راجح ګرځولې ده۔

(۲) او بعض علماء وائي: چه پدې ورځو کښې مطلقًا روژې نیول جائز دي۔ دا قول د ابو اسحاق المروزيؒ دې د شوافعو نه او د اسود بن یزیدؒ دې۔ او ابن المنذرؒ د زبیر بن العوام ﷺ او ابو طلحه ﷺ نه روایت کړېدې۔

ابن قدامهؒ وائي: ظاهر دا ده چه دې صحابه کرامو ﷺ ته د نهي احادیث نۀ وو رسیدلي، که رسیدلي وې نو دې خلکو د هغې نه تجاوز نۀ کولو۔ انتهیٰ۔ (المغني)

(۳) دریم قول دا دې چه د ایام التشریق روژې نیول جائز نۀ دي البته د هغه متمتع دپاره نیول ئې جائز دي چه هغه هدي نۀ مونده کوي۔ او مخکښې ئې روژې نۀ وي نیولې۔ او دا قول د عائشه ﷺ او ابن عمر ﷺ او عروه بن الزبیرؒ، اسحاق بن راهویهؒ، عبید بن عمیرؒ او زهريؒ دې، او دا مذهب مالكؒ او قدیم قول د شافعيؒ دې۔ او د امام احمدؒ نه مشهور

Maktaba Tul Ishaat.com

روايت دے۔ او دا امام بخاريؒ غوره کړيدے ځکه چه په باب د "صيام ايام التشريق" کښې ئے د عائشې رضي الله عنها او د ابن عمر رضي الله عنه روايت راوړيدے چه دا دلالت کوی په جواز ددے روژو۔

بيهقی د علی رضي الله عنه نه په مقبول سند سره ذکر کړيدی چه دا درے ورځے د خوراك څكاك ځکه دی چه دا خلك د الله تعالیٰ ملاقات والا دی، او دوی پدے ورځو کښې د هغهٔ په ميلمستيا کښې دی، او د ميلمه دپاره دا جائز نهٔ دی چه د کوربه د اجازت نه بغير روژه ونيسی۔

او زُرقانیؒ د بعض علماؤ نه دا نکته ذکر کړيده چه ددے راز دا دے چه الله تعالیٰ خپل بندګانو ته دعوت ورکړيدے چه د هغهٔ د کور ملاقات ته راشی، نو بندګانو د هغهٔ دعوت قبول کړو او هر يو تن د خپل وس مطابق هدی راوسته او خپلے هدی ئے ذبح کړے نو الله تعالیٰ د دوئ نه قبولے کړے او دوئ دپاره ئے درے ورځے ميلمستيا وګرځوله نو پدے ورځو کښې ئے دوئ ته د خوراك او څكاك فراخی ورکړه، او د بادشاهانو طريقه دا وی چه کله دوئ ميلمستيا ورکوی نو لکه څنګه چه کور کښې دننه خلکو ته خوراك ورکوی نو څوك چه په دروازه کښې وی هغوی ته هم خوراك ورکوی، او کعبه کور دے او د دنيا نور اطراف د کور دروازه ده، نو الله تعالیٰ ټولو خلکو ته ميلمستيا ورکړه نو ددے ورځو روژے ئے بندے کړے۔

وَذِكْرِ اللّٰهِ : يعنی پدے ورځ باندے د الله تعالیٰ ذکر زيات کيږی۔ لکه الله تعالیٰ په قرآن کريم کښې هم دا حکم کړيدے ﴿ فَـاِذَا قَضَيْتُمْ مَنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ﴾ (البقرة: ۲۰۰) (کله چه تاسو کارونه د حج پوره کړل نو د الله تعالیٰ ذکر وکړئ لکه څنګه چه خپل پلاران په صفاتو ذکر کوئ يا د هغے نه هم زيات ذکر)۔

د خوراك او څكاك نه روستو ئے ذکر ته ترغيب ورکړو دے دپاره چه بنده د نفس په خدمت کښې ونهٔ لګی چه خپل عظيم رب او د هغهٔ حقوق هير کړی۔ (زرقانیؒ)

درجة الحديث: [إسناده صحيح] أخرجه ابوداود: ۲۸۱۳.



Maktaba Tul Ishaat.com

۸- باب الحلق

د سر خرئيلو بيان

دے سره قصر (د سر لنډولو) بيان هم دے ليکن سر خرئيل افضل دی پدے وجه ئے ددے په ذکر اکتفاء وکړه۔

پدے باب کښے د شپږو خبرو بيان دے، (۱) حکم د حلق (۲) طريقه د حلق (۳) ځائے د حلق۔ (٤) وقت د حلق (٥) د حلق متعلق احکام۔ (٦) آيا حلق نسك دے او که تحلل ؟۔ (يعنی دا مستقل عبادت دے او که صرف د احرام د وتلو يوه ذريعه ده؟)

د حلق حکم : د علماؤ پدے باره کښے اختلاف دے په مختلفو اقوالو سره۔ چا ورته د حج او عمرے رکن وئيلے دے او چا ورته واجب وئيلے دے، او چا ورته مستحب او چا د ممنوع څيز د جائز کيدو سبب وئيلے دے۔ لکه د خوشبوئی او لباس اغوستو په شان۔ او چا په حج کښے رکن او په عمره کښے واجب وئيلے دے۔ (زين الدين العراقیؒ، النوویؒ، العينیؒ)

امام نوویؒ په "مناسك الحج" کښے حلق يا تقصير نسك ګڼړلے دے، او وئيلی ئے دی چه دا رکن دے چه حج په غير ددے نه نۀ صحيح کيږی او په دم سره ددے جبيره هم نۀ کيږی۔

او د امام بخاریؒ رجحان هم دے طرف ته دے، ځکه چه هغۀ داسے باب لګولے دے ((بَابُ الْحَلْقِ وَالتَّقْصِيرِ عِنْدَ الْإِحْلَالِ)) ابن المنيرؒ وائی : امام بخاریؒ اشاره کوی چه حلق او تقصير نُسك دے او دا عين تحلل نۀ دے پدے وجه ئے عند الاحلال لفظ استعمال کړو۔ ګويا که امام بخاریؒ د رسول الله ﷺ د دعاء نه استدلال کړيدے چه هغۀ حلق کونکو ته درے کرته او قصر کونکو ته يو کرت دعاء کړيده او دعاء دلالت کوی په ثواب باندے او ثواب په عبادت باندے وی، نۀ په مباحاتو باندے۔ دارنګه فضيلت د حلق په تقصير باندے هم پدے دليل دے، ځکه چه په مباحاتو کښے تفاضل (په يو بل باندے غوره والے)

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ وی۔ او دا قول چه حلق نسك دے، د جمهورو قول دے۔ البته یو ضعیف روایت د امام شافعیؒ نه دا دے چه دا د ممنوع څیز د مباح والی دپاره دے۔ او دا قول د عطاءؒ او د ابویوسفؒ او یو روایت د امام احمدؒ نه هم نقل دے۔ (کذا فی الفتح)

کوم علماء چه ورته نسك نۀ وائی نو د هغوی په نیز ددے په پریخودو هیڅ شے نشته او حلال والے په غیر ددے نه هم حاصلیږی۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2636 (1) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ رَأْسَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَأُنَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ او د هغۀ د ملګرو نه بعض کسانو په حجة الوداع کښے سر وخرئیلو، او بعضو سر لنډ کړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: حَلَقَ رَأْسَهٗ: په تشدید د لام او تخفیف دواړو سره صحیح دے، یعنی حکم ئے وکړو د سر په خرئیلو۔

او د رسول الله ﷺ سر مَعمر بن عبد الله العدوی ﷺ خرئیلے وو۔ لکه دا خبره امام بخاریؒ ذکر کړیده، او بعض وائی: خراش بن امیه ﷺ وو۔ حافظ وائی: صحیح دا ده چه خراش ﷺ ورله په حُدیبیه کښے سر خرئیلے وو او په حجة الوداع کښے مَعمر ﷺ وو۔

او احمدؒ او طبرانیؒ په حجة الوداع کښے ددۀ قصه ذکر کړیده، معمر ﷺ فرمائی: ما به د رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښے پالان پورته کولو۔ نو یوه شپه ئے ما ته وویل: اے معمر! بیګاه شپه ما د خپلے اُوښے په تسمو کښے ګډوډ والے (سستوالے) ومونده؟ ما ورته وویل: قسم په هغه ذات چه تۀ ئے په حق سره رالیږلے ئے ما مضبوط تړلے ده لکه چه مخکښے به ما څنګه تړل لیکن دا به هغه چا سسته کړی وی چه ما سره به ئے سیالی کړی وی څکه چه زما تا سره یوه مرتبه ده، دے دپاره چه تۀ زما په ځائے بل څوك راولے۔ نبی کریم ﷺ وفرمایل: زۀ دا کار نۀ کوم۔ دے وائی: هرکله چه رسول الله ﷺ په منیٰ کښے خپله هدی ذبح کړه نو ما ته ئے امر وکړو چه زۀ د هغۀ سر وخرئیم نو ما چاړه راواخسته او د رسول الله ﷺ د سر سره ودریدم، نو ما ته رسول الله ﷺ مخ راړه ولو سره وکتل وے فرمایل: اے معمر! د الله رسول تا ته د خپلو غوږونو نرمئ درکړه او حال دا چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ستا په لاس کښې چاړهٔ ده. نو ما وویل: قسم په الله اے د الله رسوله! دا په ما باندې د الله تعالیٰ نعمت او احسان دے. نبی ﷺ وفرمایل: آؤ، زهٔ به هم ستا دپاره ددې اقرار کوم. دے وائی: بیا ما د رسول الله ﷺ سر وخرئیلو. (مجمع الزوائد: ۵۵۹۶)

2647 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ لِي مُعَاوِيَةُ: إِنِّي قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْمَرْوَةِ بِمِشْقَصٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی: ما ته معاویه ﷺ وفرمایل: ما د نبی کریم ﷺ د سر (مبارك) ویښتهٔ د مروه په خوا کښې د غشی په تیرهٔ طرف (یا قینچی) باندې لنډ کړو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما مشهور صحابی دے.

قَصَّرْتُ: یعنی ما د رسول الله ﷺ د سر نه ویخته کم کړل. دا حدیث دلیل دے چه په تقصیر کښې د سر نه لږ ویښتهٔ اخستل هم جائز دی. لکه د (مِنْ) لفظ نه معلومیږی. او دے باره کښې د روایاتو الفاظ مختلف راغلی دی، خو ظاهر دا ده چه پدے کښې مقصد نفی د مبالغې ده، یعنی داسې ژور تقصیرئے ونکړو چه ویښتهٔ ئے د بیخونو پورې اخستی وی. او دا مطلب نهٔ دے چه لږ د یو ځائے نه او لږ د بل ځائے نه واخلی بلکه د مجموعه سر نه ویښتهٔ اخستل پکار دی.

عِنْدَ الْمَرْوَةِ: دے نه معلومیږی چه بهتره دا ده چه د مروه په خوا کښې خپل سر وخرئیوی یائے لنډ کړی. لکه حاجی دپاره دا بهتره ده چه د هغهٔ حلق او تقصیر په منیٰ کښې وشی ځکه چه منیٰ د تحلل (احرام نه د وتو) ځائے دے، اګرکه په هر ځائے کښې چه حلق یا تقصیر وکړی جائز ده.

بِمِشْقَصٍ: چاړهٔ. پلن او اُوږد غشے چه په هغې کښې تیرهٔ والے وی.

او بعض وائی چه کینچی ته وائی، او دا ددې مقام سره ډیره مناسبه ده. (علی القاریؒ).

بیا دلته اهل علمو یو اشکال لیکلے دے چه معاویه ﷺ د رسول الله ﷺ د سر نه دا ویښتهٔ کله اخستی وو؟ نو ظاهر دا ده چه دا په عمره د جِعرانه کښې وو چه دے وخت کښې معاویه ﷺ نوے اسلام راوړے وو. او دا عمره د شپې شوے وه کله چه رسول الله ﷺ د غزا د حنین نه لږ فارغ شوے وو چه ډیرو ملګروته د رسول الله ﷺ ددے عمرے پته هم

Maktaba Tul Ishaat.com

ونۀ لګیده، د شپې وشوه او نبی ﷺ د شپې بیرته جعرانې ته راواپس هم شو۔ او کوم روایت د حاکمؒ کښې په ((اکلیل)) کښې چه راغلی دی چه په عمره د جعرانه کښې د رسول الله ﷺ سر ابو هند -چه د بنی بیاضه یو غلام وو- خرئیلے وو، نو ممکن ده چه اول کښې معاویه ﷺ ورلـه سر لنډ کړے وی او په دے وخت کښې سر خریونکے غائب وی او بیا د حاضریدو نه پس ورته نبی ﷺ د سر خرئیلو امر کړے وی۔ (فتح الباری : ۳/۵۶٦)

2648 (3) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ : " اَللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ ". قَالُوا : وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ؟ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ ". قَالُوا : وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ؟ قَالَ :" وَالْمُقَصِّرِينَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې وفرمایل : اے الله! په سر خریونکو رحم وکړه، صحابه کرامو عرض وکړو، د الله رسوله ! د سر لنډونکو دپاره هم (د رحمت دعاء وکړه)، نبی کریم ﷺ وفرمایل : اے الله ! په سر خریونکو رحم وکړه، (بیا) صحابه کرامو عرض وکړو اے د الله رسوله ! د سر لنډونکو دپاره (هم د رحمت دعاء وکړه) نبی کریم ﷺ وفرمایل : او په لنډونکو باندے به هم (رحم وکړه) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ : دا لفظ د بخاریؒ او مسلمؒ په روایت کښې نشته، لهذا دا په مشکاة او مصابیح کښې خطائی واقع شویده۔ حافظ ابن عبد البرؒ وائی چه دا دعاء ئے په حدیبیه کښې وئیلے ده۔ امام نوویؒ وائی چه مشهوره دا ده چه دا ئے په حجة الوداع کښې وئیلے ده۔ قاضی عیاضؒ وائی : احتمال لری چه نبی ﷺ دواړو ځایونو کښې وئیلی وی۔ او ددے خبرے تائید امام نوویؒ او ابن دقیق العیدؒ هم کړیدے۔ او حافظ ابن حجرؒ وائی : همدا خبره متعیّنه ده ځکه چه ددے دواړو په باره کښې ګڼړ روایات راغلی دی۔

دے روایت نه د سر خرئیلو افضلیت ثابتیږی ځکه چه نبی ﷺ سر خریونکو ته درے کرته دعاء د رحمت وکړه او د سر لنډونکو دپاره ئے یو کرته دعاء د رحمت وکړه۔

او ددے یوه وجه دا ده چه قرآن کریم کښې (مُحلقین) مخکښې ذکر شویدی۔ چه ددے افضلیت ته پکښې اشاره ده۔ بله دا چه پدے کښې په دغه وخت کښې د رسول الله ﷺ زیات طاعت وو ځکه چه هغۀ خپله حلق کړے وو۔ دارنګه پدے کښې خیری زیات زائل

کيږي نو دا موافق دے د آيت (وَلْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ) سره. (او دوئ دے ادا کړي (ختم کړي) خيرې خپل).

وَالْمُقَصِّرِيْنَ : دا منصوب دے په تقدير د قُلِ اللّٰهُمَّ ارْحَمْ سره. يعني قُلِ اللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُقَصِّرِيْنَ. يعني داسے ووايه چه اے الله! رحم وکړه په سر لنډونکو باندے.

په تقصير کښے غوره اندازه دا ده چه د ټول سر نه او د ټولو اطرافو نه ويښته واخستے شي. او د هر ويښته تلاش کول ضروري نهٔ دي، ځکه چه پدے کښے ډير مشقت دے. او دا رنګه څلورمه حصه د سر يا درے ويښته اخستل کافي نهٔ دي، خلاف ثابت دے احنافو او شوافعو لره. چه اول د احنافو قول دے او دويم د شوافعو. (قاله الشنقيطيؒ)

2649 (4) - وَعَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ عَنْ جَدَّتِهِ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِيْنَ ثَلَاثًا وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ مَرَّةً وَاحِدَةً . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او يحيى بن الحصينؒ د خپلے نيا نه روايت کوي چه هغے د نبي کريم ﷺ نه په حجة الوداع کښے واوريدل چه هغهٔ د سر خريونکو دپاره درے کرته (د رحمت) دعاء وکړه او د سر لنډونکو دپاره يو کرت. (مسلمؒ).

تشريح : يحيى بن الحصين الاحمسي البجلي الکوفي ثقه تابعيؒ دے، د خپلے نيا چه نوم ئے ام الحصين ﷞ ده، د هغے نه روايت کوي او هغه صحابيه ده. او دا حديث هم دليل دے چه دا دعاء رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښے هم کړے ده لکه څنګه ئے چه په حديبيه کښے کړے وه.

دا دعاء په لفظ د رحم سره هم وه او په يو روايت کښے په لفظ د مغفرت سره هم راغلے ده. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ. اے الله! بخنه وکړه سر خريونکو ته.

او د مخکښے روايت نه معلومه شوه چه سر خريونکو ته ئے دوه کرته او سر لنډونکو ته ئے يو کرت دعاء وکړه، او ددے روايت نه معلومه شوه چه سر خريونکو ته درے کرته.

نو ددے اختلاف وجه دا ده چه کيدے شي چه رسول الله ﷺ په ډيرو مجلسونو کښے دا دعاء کړې وي، کله دوه کرته او کله درے کرته. يا هر راوي چه څه آوريدلي هغه ئے ذکر کړيدي.

2650 (5) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷛ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتٰى مِنًى فَأَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ أَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى وَنَحَرَ نُسُكَهُ ثُمَّ دَعَا بِالْحَلَّاقِ وَنَاوَلَ الحَالِقَ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ ثُمَّ دَعَا أَبَا طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيَّ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ ثُمَّ نَاوَلَ الشِّقَّ الْأَيْسَرَ فَقَالَ : "اِحْلِقْ" فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ اَبَا طَلْحَةَ فَقَالَ : "اِقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ مِنیٰ ته راغلو بيا جمرے ته راغلو نو هغه ئے وويشته بيا په منیٰ كښے د خپل پړاو اچولے ځائے ته راغلو او خپله قربانی ئے ذبح كړه، بيا ئے نائی راوغوښتو او سر خريونكی ته ئے خپل ښے اړخ (د سر) وركړو بيا ئے ابو طلحه انصاری ﷺ راوغوښتو نو هغهٔ ته ئے هغه (ويښتهٔ) وركړل بيا ئے نائی ته ګس اړخ وركړو نو وے فرمايل : وخريوه۔ نو هغهٔ ورله (دا طرف هم) وخرئيلو نو هغه (ويښته) ئے ابو طلحه (ﷺ) ته وركړل ورته ئے وفرمايل : دا د خلكو ترمينځ تقسيم كړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : فَأَتَى الْجَمْرَةَ : ددے حديث نه معلومه شوه چه مِنیٰ ته كله راشی نو بل كار به نهٔ كوی مګر دا چه په جلتئ به جمرے ته ورشی۔ او په بل كار به نهٔ مشغوله كيږی، ځكه چه رسول الله ﷺ هركله د مزدلفے نه راروان شو نو سيده منیٰ ته راغلو او جمره عقبه ئے وويشته۔ لهذا بهتره دا ده چه انسان كه په سورلئ باندے وی نو چه كله منیٰ ته راورسی نو سيده به جمره عقبے ته ځان ورسوی هغه به وولی بيا ئے چه په منیٰ كښے كوم ځائے خوښه وی پړاؤ دے وا چوی۔

نُسُكَهُ : جمع د نَسِيكَةٌ ده، ذبيحے ته وائی۔ دلته ترے مراد د نبی ﷺ بدنے دی چه درے شپيتهٔ ئے په خپل لاس سره ذبح كړے۔

بِالْحَلَّاقِ: ددے سر خريونكی نه معمر بن عبد الله العدوی ﷺ مراد دے۔

شِقَّهُ الْأَيْمَنَ : رسول الله ﷺ به په هر كار كښے ښی طرف نه شروع كول خوښول پدے وجه د سر په خرئيلو كښے هم سنت دا ده چه د ښی طرف نه شروع وكړی۔

دا هم معلومه شوه چه په ښی طرف كښے هغه چا لهٔ اعتبار دے چه د چا سر خرئيلے شی، نهٔ د خريونكی۔ اګركه خريونكے ګس طرف ته ولاړ وی۔ او دا قول د جمهورو دے۔

امام ابو حنيفهؒ وائی : د سړی ګس طرف نه به شروع وكړی ځكه چه دا د خريونكی ښی طرف راځی ليكن دا خبره ددے حديث سره سمون نهٔ خوری۔

علي القاريؒ وائي : دا خبره امام ابوحنيفةؒ ته منسوب ده ليکن هغۀ ددے نه رجوع کړيده، او ددے وجه دا ده چه اول کښے ئے په قياس عمل کړے وو بيا چه کله ورته د نبي ﷺ حديث ورسيدو چه هغۀ د سر خرئيلے شوی سړی ښی طرف له اعتبار ورکړيدے نو د خپل قول نه ئے رجوع وکړه۔ او دا د حق پرستو طريقه وی چه کله په يوه خبره او اجتهاد باندے عمل کوی او بيا ورته حديث د هغے په خلاف باندے ملاؤ شی نو هغے ته رجوع کوی۔ انتهیٰ۔ افسوس چه تقليد والا پدے خبرو عمل وکړی۔

ځکه چه نبي ﷺ حلاق ته ووئيل : دا طرف واخله او خپل ښی طرف ته ئے اشاره وکړه بيا ئے ګس طرف ته اشاره وکړه بيا ئے خپل ويښتۀ خلکو ته ورکړل۔ ابن الهمامؒ په "فتح القدير" کښے وائی چه همدا حقه ده اګرکه مذهب ددے خلاف دے۔

ابن عابدينؒ پدے باره کښے د امام صاحبؒ قصه نقل کړيده هغه فرمائی : هرکله چه ما سر خرئيلو نو نائی په دريے خبرو کښے خطاء کړم، هرکله چه زۀ کيناستم نو نائی راته ووئيل : قبلے ته مخ واړه وه۔ بيا ما ورته ګس طرف ورکړو نو هغۀ ووئيل : ښی طرف نه شروع وکړه۔ بيا هرکله چه زۀ د هغۀ نه روان شوم نو نائی ووئيل : خپل ويښتۀ دِے خخ کړه۔ نو زۀ راواپس شوم او هغه مے دفن کړل۔ انتهیٰ۔ [البحر الرائق شرح كنز الدقائق لابن نجيم : ۱۳/۷] نو دلته امام صاحبؒ د نائی خبرے ته رجوع وکړه۔

دَعَا أَبَا طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيَّ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ : د دواړو طرفونو ويښتۀ ئے ابو طلحه رضی الله عنه ته ورکړل بيا دلته روايات مختلف دی چه کوم طرف ويښتۀ ئے تقسيم کړل؟ نو د هغے روايانو جمع دا ده چه د ښی طرف ويښتو په باره کښے ئے ورته ووئيل چه دا په خلکو کښے تقسيم کړه نو هغۀ د رسول الله ﷺ په امر سره تقسيم کړل او د ګس طرف والا ئے ابوطلحه رضی الله عنه ته د خپل کور دپاره ورکړل نو هغۀ ام سليم رضی الله عنها ته ورکړل چه ددۀ بی بی وه۔ او پدے باندے هم ورته رسول الله ﷺ امر کړے وو۔ او په روايت د احمدؒ کښے ورسره دا دی چه هغۀ ته ئے ووئيل : [لِتَجْعَلَهَا فِيْ طِيبِهَا] ام سليم رضی الله عنها دِے ئے په خوشبوئی کښے واچوی۔ نو د (اِقْسِمْهُ) : ضمير به ښی طرف والا ويښتو ته راجع وی۔ (فتح الباری) نو ابوطلحه رضی الله عنه يو يو او دوه دوه ويښتۀ په خلکو کښے تقسيم کړل۔

فوائد : (۱) دا جامع حديث دے چه د اختر د ورځے د څلورو اعمالو نه دريے واړه اعمال پکښے په ترتيب سره ذکر شو، جمره عقبه ويشتل، بيا هدی ذبح کول، بيا حلق يا تقصير

Maktaba Tul Ishaat.com

کول، بیا مکے ته داخلیدل او طواف افاضه (طوافِ زیارت) کول. او دا پکښې نهٔ دے ذکر.

دا څلور واړه کارونه په همدے ترتیب سره کول مسنون او مستحب دی. ددے نه د اختصار په توګه تعبیر کیږی په ((رَذحطس)) سره. راء اشاره ده رمی ته، ذال ذبح ته، حاء حلق ته او طاء طواف ته، س سعی ته.

(۲) د بنیادم ویښتهٔ پاك دی. (۳) د رسول الله ﷺ ویښتهٔ د برکت نه ډك دی. او داسے تبرکات د انبیاء علیهم السلام نه علاوه د بل چا په ویښتو وغیره باندے په سنت کښې نهٔ دی راغلی بلکه بدعت دے. (٤) د نبی ﷺ ویښتهٔ د برکت دپاره ساتل جائز دی.

(۵) مشر او امیر له پکار دی چه د خپلو ملګرو او تابعدارو په مینځ کښې همدردی وکړی په عطیه او هدیه وغیره سره، اګرکه مساوات پکښې نهٔ وی.

(٦) امیر له جائز دی چه په چا باندے تقسیم کوی چه هغهٔ له پکښې زیاتی برخه ورکړی. (۷) د سر خرئیل سنت یا مستحب دی په حج یا عمره کښې د وجه د اقتداء د نبی ﷺ نه اګرکه قصر جائز دے.

(۸) زرقانیؒ وائی: رسول الله ﷺ په خپلو ملګرو ویښتهٔ تقسیم کړل دے دپاره چه دا د دوئ ترمینځ برکت باقی پاتے شی او د دوئ دپاره یادګار شی. او پدے کښې د رسول الله ﷺ اَجَل رانزدے کیدو ته اشاره وه. او ابو طلحه ﷺ ئے ددے دپاره خاص کړو پدے کښې دے معنیٰ ته اشاره وه ځکه چه دا هغه شخص وو چه د رسول الله ﷺ دپاره ئے قبر وکنستو او د هغهٔ دپاره ئے لحد جوړ کړو او په هغے کښې ئے کچه خختے ولګولے.

2651 (6) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُّحْرِمَ وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَّطُوْفَ بِالْبَيْتِ بِطِيْبٍ فِيْهِ مِسْكٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه ﷺ فرمائی: ما به رسول الله ﷺ له د هغهٔ د احرام تړلو نه مخکښې خوشبوئی لګوله او په ورځ د اختر د طواف د بیت الله نه مخکښې، داسے خوشبوئی چه په هغے کښې به مشك (کستوری) وو. (بخاریؒ ومسلمؒ).

تشریح: دا حدیث دلیل دے چه د احرام نه مخکښې هر قسم خوشبوئی استعمالول مستحب دی برابره ده چه د هغے اثر د احرام نه روستو پاتے وی یا نهٔ، او دا قول د امام

Maktaba Tul Ishaat.com

شافعیؒ، احمدؒ، او ابو حنیفۃؒ او ثوریؒ دي او دا مذهب د اکثرو صحابه کرامو ﷺ او یو جماعت د تابعینو دے۔ او امام مالكؒ وائي : د احرام د ارادے په وخت خوشبوئي لګول مکروه دي کله چه د هغے اثر یا بوئي د احرام نه روستو باقي پاتے کیږي او دا مذهب د محمد بن الحسن الشیبانيؒ دے او طحاويؒ غوره کړیدے۔ اول قول ددے حدیث په بنیاد غوره دے۔

وَيَوْمَ النَّحْرِ : یعني کله چه به ئے په حج کښے د اختر په ورځ سر وخرئیلو نو بیا به ئے کپړے بدلے کړے او خوشبوئي به ئے ولګوله۔ او طواف د بیت الله ته به روان شو۔ دا هم امام مالك مکروه ګڼړلے دے۔

2652 (7) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ د اختر په ورځ طواف افاضه وکړه بیا واپس لاړو او د ماسپښین مونځ ئے په منیٰ کښے وکړو۔ (مسلمؒ)

تشریح : أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ : ددے روایت نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ طواف اِفاضه د اختر په ورځ کړے وو لکه جابر او عائشے او ابن عمر رضي الله عنهم دا خبر ورکړیدے۔ او په بل روایت د عائشه او ابن عباس رضي الله عنهما کښے دا دي چه [أَخَّرَ النَّبِيُّ ﷺ الزِّيَارَةَ إِلَى اللَّيْلِ] نبي ﷺ طواف زیارت شپے ته روستو کړو۔

ثُمَّ رَجَعَ : یعني د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه د اختر په ورځ ئے طواف افاضه وکړه بیا په همدغه ورځ ئے د ماسپښین مونځ بیرته منیٰ ته ورسولو۔

لیکن په روایت د عائشے او جابر رضي الله عنهما کښے دا راغلي دي چه رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ په مکه کښے وکړو۔ نو ددے تعارض جمعه او تطبیق دا دے چه رسول الله ﷺ خپله د ماسپښین مونځ په مکه کښے وکړو لکه څنګه چه عائشے ؓ او جابر ﷺ نقل کړیدي بیا چه کله منیٰ ته نقل شو نو هلته ئے خپلو ملګرو ته دوباره د ماسپښین مونځ وکړو لکه څنګه ئے چه ملګرو ته صلاة الخوف دوه کرته کړے وو، نو ابن عمر ﷺ د مِنیٰ مونځ لیدلے وو او جابر او عائشے رضي الله عنهما د مکے مونځ لیدلے وو او ټول په خپلو خبرو کښے رشتیني دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې تعارض بل تطبیق دادې چه طواف زیارت رسول الله ﷺ د ورځې کړیدې بیا د رسول الله ﷺ عادت دا وو چه هغه به د منیٰ په شپو کښې هم مکې ته راتللو او د شپې به ئې طواف کولو او بیرته به واپس کیدو۔ او همدا مقصد د عائشې او ابن عباس رضی الله عنهما دې۔ او دا تطبیق امام نوویؒ کړیدې۔

دریم دا چه رسول الله ﷺ چه د شپې کوم طواف کړې وو هغه طواف وداع (رخصتئ والا طواف) وو، لکه په روایت د بخاری کښې راغلی دی۔ نو د بعض راویانو نه خطائی واقع شوه هغې ته ئې طواف زیارت ووئیلو۔ او دا تطبیق حافظ ابن القیمؒ غوره کړیدې۔ مګر راجح دا ده چه دا صرف د کعبې زیارت وو او طواف نهٔ وو بلکه طواف د ورځې شوې وو او د کعبې سره د زیات محبت په وجه د شپې ورته بیرته راغلې وو۔ نو په هغه روایت کښې د طواف نه مراد مکې ته راتلل دی، ځکه چه طواف معنیٰ ده ګرځیدل۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِیْ

2653 (8) – عَنْ عَلِيٍّ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: علي او عائشه رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمائیلې ده چه ښځه خپل سر وخرئیوی۔ (ترمذیؒ) ۔

تشریح : یعنی زنانه چه کله د احرام نه فارغه شی نو سر به نهٔ خرئیوی۔ او ددې حدیث نه د زنانو دپاره مطلقاً سر خرئیلو نه منع هم مراد کیدې شی ځکه لکه څنګه چه سړی دپاره ګیره خرئیل حرام دی، دغه شان د ښځې دپاره سر خرئیل حرام دی۔ البته د سخت ضرورت او مجبورئ په حالت کښې ئې خرئیلې شی۔ لکه آپریشن وی، یا پکښې نورې بیماریانې وی چه ویښتو سره تضاد لری۔

درجة الحديث : [اسناده ضعيف] أخرجه الترمذی : ۹۱۵ والبزار فی مسنده أورده الهيثمی فی كشف الاستار ۲/ ۳۲ رقم : ۱۱۳۷ . ووقع فيه الاضطراب من همام فتارة يجعله من مسند علی وَتَارَةً مِنْ مُسْنَدِ عَائِشَةَ. و ايضاً قتادة لم يسمع من عائشة، السلسلة الضعيفة : ۲/ ۱۲٤، رقم : ٦٧٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

2654 (9) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ الْحَلْقُ إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيْرُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ مِنَ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : په زنانو باندې سر خرئیل نشته، په هغوی باندې صرف د سر ویښته لنډول دی۔ (ابوداودؒ، دارمیؒ)

تشریح : یعنی زنانه به د احرام نه د وتلو دپاره د سر ویښتهٔ اخلی او خرئیل ورله حرام دی۔

بیا څومره اندازه ویښته به لنډوی؟ نو خرقیؒ وئیلی دی چه د ګوتو د سرونو په اندازه ویښتهٔ به اخلی۔ یعنی د ګوتو اول بند نه واخله سرونو پورې۔ امام احمدؒ وائی چه د هرې کمځۍ نه به د ګوتو د سرونو په اندازه اخلی۔ او دا قول د ابن عمرﷺ او شافعیؒ او اسحاقؒ او ابوثورؒ دې۔ یعني د تول سر ویښته به د سر مخکښې حصې ته راجمع کړی بیا به د هغې د اطرافو نه په اندازه د یو بند باندې ویښتهٔ پریکړی۔

درجة الحديث : [اسناده صحيح] : ابوداود : ۱۹۸٤ و ۱۹۸۵ والدارمی ۲/٦٤، والدارقطنی : ۱٦۵، ۱٦٦.



Maktaba Tul Ishaat.com

۹- باب فی التحلل

د احرام نه د وتلو بیان۔

دلته په عامو نسخو کښې باب لفظ بغیر د ترجمې نه لګیدلے دے، یعنی د تیر شوی باب د متعلقاتو بیان۔
باب لفظ کښې سکون او تنوین دواړه وئیل جائز دی۔
او په یوه نسخه کښې داسې دی: [بَابُ جَوَازِ التَّقْدِيمِ وَالتَّأْخِيرِ فِي بَعْضِ أُمُورِ الْحَجِّ] د حج په بعض کارونو کښې د تقدیم او د تاخیر د جواز بیان۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2655 (1) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُوْنَهُ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ. فَقَالَ: " اِذْبَحْ وَلَا حَرَجَ" فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. فَقَالَ: " اِرْمِ وَلَا حَرَجَ". فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ: " اِفْعَلْ وَلَا حَرَجَ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. قَالَ: " اِرْمِ وَلَا حَرَجَ" وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ: أَفَضْتُ إِلَى الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. قَالَ: " اِرْمِ وَلَا حَرَجَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې په منیٰ کښې خلکو ته ودریدو چه هغوی ترې تپوس نه کول نو یو سړے ورته راغلو وے وئیل: زهٔ پوهه نشوم نو ما سر وخرئیو مخکښې ددے نه چه ذبح وکړم، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: (اُوس) ذبح وکړه او هیڅ تنګسیا (ګناه) نشته۔ نو بل راغلو وے وئیل: زهٔ پوهه نشوم نو ما ذبح وکړه مخکښې ددے نه چه جمره اُوولم، نبی ﷺ وفرمایل: اوو‌له او هیڅ حرج نشته۔ نو د نبی کریم ﷺ نه به د هیڅ شی په باره کښې پوښتنه نهٔ کیده چه هغهٔ به مخکښې شوے وو یا به روستو شوے وو مګر هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

بـه فرمایل: کوه او هیڅ حرج نشته. او په یو روایت د مسلم کښې دي: هغهٔ ته یو سړے راغلو نو عرض ئے وکړو: ما سر وخرئیوو مخکښې ددے نه چه ویشتل وکړم؟ وے فرمایل: (اُوس) اُوولـه او هیڅ حرج نشته او بل ورته راغلو نو وے وئیل: ما د بیت الله طواف وکړو مخکښې دے نه چه زهٔ جمره اُوولم. وے فرمایل: اُوولـه او هیڅ حرج نشته. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح: وَقَفَ: یعنی پـه خپلـه اُوښـه بـاندے ودریدو، لکه دا په روایت د صالح بن کیسانؒ کښې بخاريؒ نقل کړیدی.

او کوم روایت کښې چه راغلی دي: [إِنَّهُ جَلَسَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَامَ رَجُلٌ] رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې (په یو ځائے کښې) کیناستو نو یو سړے پاڅیدو. نو ددے مطلب دا دے چه په اُوښه باندے ناست وو. او ددے روایت نه دا نهٔ معلومیږي چه ګنے دا مقام د تقریر او خطبے دے. بلکه دا د تعلیم دپاره ولاړ وو. نو د وقوف نه مراد ایساریدل هم دي.

او رسول الله ﷺ یو کرت د جمره عقبه په خوا کښې ولاړ وو، د خلکو د مسئلو جوابونه ئے ورکول، او دویم د اختر په ورځ د ماسپښین مانځه نه پس، او دے وخت کښې مشروع خطبه شته چه امیر د حج به پکښې خلکو ته د حج د کارونو تعلیم ورکوي. او دا تپوسونه د صحابه کرامو ﷺ په مختلفو موقعو کښې شویدي، څه د ورځے او څه د شپے.

لَمْ أَشْعُرْ: دا د شعور نه دے په معنیٰ د اِحساس او پوهے سره. یعنی زهٔ پوهه نشوم. دا نسیان او نا پوهئ دواړو ته شامل دے. یعنی ما نه هیر شو یا زهٔ په مسئله پوهه نشوم. او دا ئے د خپل تقصیر دپاره د عذر په طریقه پیش کړو.

اِذْبَحْ وَلَا حَرَجَ: یعنی هیڅ تنګ والے په تا نشته، یعنی نهٔ درباندے فدیه لازمه ده او نهٔ ګناه. سنديؒ وائي او همدا مذهب د جمهورو دے.

قاضي عیاضؒ وائي: دا امر نهٔ دے په اعاده باندے بلکه پدے کښې ددهٔ د کار اباحت بیانول دي، ځکه چه هغه خو د داسے کار په باره کښې پوښتنه وکړه چه د هغے نه فارغ شویدے. نو معنیٰ دا ده: [اِفْعَلْ مَتٰى شِئْتَ] وکړه کله چه ستا خوښه وي.

سنديؒ په حاشیه د ابن ماجه کښې وائي: څوك چه د حرج معنیٰ صرف په ګناه سره کوي چه تهٔ ګناهګار نهٔ ئے نو دا بعیده ده ځکه چه ظاهر دا ده چه دلته نفي عامه ده د

Maktaba Tul Ishaat.com

دنیا او د آخرت ذواړو حرج ته- دارنګه که پدې شخص باندې دم راتللې نو نبي ﷺ به ورته د هغې بیان هم کړې وې، ځکه چه هغه بیان ته محتاج وو او تاخیر د بیان د وقت د حاجت نه د نبي ﷺ په حق کښې جائز نهٔ وو- انتهیٰ-

قَدِّمْ وَلَا أُخِّرَ : یعني مخکښې کړې شوې وو او د هغې حق روستو والې وو، یا روستو کړې شوې وو او حق د هغې مخکښې والې وو-

اِرْمِ : یعني اُوس ئې اُووله او تا باندې هیڅ نشته-

حافظ ابن حجرؒ وئیلي دي : پدې حدیث کښې ځلور کارونه ذکر شو نو پدې کښې د اهل علمو اختلاف دې چه که بعض په بعضو مقدم شي نو ددې به څه حکم وي؟ اول خو پدې کښې اتفاق دې چه که ترتیب خراب شي هم حج جائز دې، او پدې کښې هم اتفاق دې چه دا کار که چا په هیره او ناپوهئ سره کړې وي، نو په اجماع د علماؤ سره پرې څهٔ نشته-

البته په بعض مواضعو کښې په دم راتللو کښې اختلاف دې- قرطبيؒ وئیلي دي : (۱) د ابن عباس ﷺ نه روایت دې [مَنْ قَدَّمَ شَيْئًا عَلَى شَيْءٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ] چا چه یو شي په بل باندې مخکښې کړو (چه د هغې کول روستو وو) نو په هغهٔ به دَم راځي- او دا قول د سعید بن جبیرؒ او قتادةؒ او حسن بصريؒ دې- انتهیٰ-

جواب : دادې چه په دې کښې ابراهیم بن مهاجرؒ راوي کښې خبرې اترې شوي- او که صحیح شي نو بیا خو پکار ده چه په هیره سره په بې ترتیبي کولو کښې دَم لازم شي، حالانکه مالکیان او حنفیان ددې قائل نهٔ دي- ابن عابدینؒ وئیلي دي چه د حنفیانو مذهب دا دې چه په طواف کښې ترتیب ددې درې کارونو سره واجب نهٔ دې، بلکه صرف ترتیب د دغه درئې مخکنو کارونو واجب دې- یعني که طواف پدې درې کارونو مخکښې شي نو دم پرې نشته- او د مالکیانو په نیز که حلق په رمي باندې مخکښې شو نو په دهٔ باندې به فدیه وي- (مرعاة المفاتیح)

بله دا چه : دا قول د صحیح او مرفوع حدیثونو خلاف دې کوم چه په دې باب کښې راغلي، چه یو د هغې نه حدیث الباب دې- ځکه که چرې د [لَا حَرَجَ] مقصد صرف دا وې چه ګناه نشته البته دَم لازم دې، نو بیا نبي کریم ﷺ ددې بیان ولې امت ته نهٔ کولو؟ حالانکه د حاجت د وخت نه بیان روستو کول جائز نهٔ دي، د خلکو دیته سخت ضرورت

Maktaba Tul Ishaat.com

دے او نبي ﷺ ددے بیان نۀ کوی ؟ دا څرنګه کیدے شي. دے وجے نه صحیح خبره د جمهورو علماؤ ده چه په دے بے ترتیبئ سره نۀ ګناه شته او نۀ دَم.

(۲) حدیث دلیل دے چه څوك ددے ترتیب خلاف وکړی او په دے اعمالو کښے ځینے په ځینو نورو باندے مخکښے کړی، نو په دے کښے هیڅ حرج نشته. نۀ پرے ګناه شته او نۀ پرے څۀ فدیه او دَم شته. دا کار که چا په هیره او ناپوهئ سره کړے وی، نو په اجماع د علماؤ سره پرے څۀ نشته. اوکه قصدًا ئے کړے وی نو په دے کښے دوه قوله دی : (أ) یو دا چه څوك قصدًا دا کار وکړی یعنی عالم هم وی او ورته یاد هم وی نو ددۀ دپاره هم دا بے ترتیبی جائز ده، او دا د جمهورو علماؤ قول دے. لکه د حدیث د [فَمَا سُئِلَ يَوْمَئِذٍ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِرَ إِلَّا قَالَ : افْعَلْ، وَلَا حَرَجَ] نه معلومیږی چه دلته ئے د نسیان او جهالت قید نۀ دے لګولے، نو عامد هم په کښے داخل دے.

(ب) دویم قول دادے : چه حرج پورته کیدل صرف د جاهل او ناسی په حق کښے دی. څکه هغه سائل وویل : [لَمْ أَشْعُرْ] (زۀ پوهه نشوم) نو مطلق به په مقیّد باندے حملولے شی، څکه پوښتنه کونکی هغه خلك وو چه د حج مناسك ورته معلوم نۀ وو. او دا د امام ابوحنیفهؒ قول دے. خو په دے دواړو کښے **راجح قول** د جمهورو دے، څکه د نبي ﷺ نه بار بار پوښتنه کیدل، او د هغوئ په نفی د حرج سره جواب ورکول، او دوباره دے کار ته د واپسئ نه منع نۀ کول: دا ټول دلیل دے چه په دے کار کښے تسامح او آسانی ده، او همدا د اسلامی دین د مقاصدو سره موافق خبره ده خصوصًا په دے زمانه کښے څکه چه په دے کښے د خلکو دپاره آسانی ده. دویم قول امام بخاریؒ په خپل "صحیح" کښے غوره کړیدے څکه چه رسول الله ﷺ دا اعمال په ترتیب سره کړیدی، نو سنت عمل ترتیب سره کول دی، هان په نسیان او جهالت او عذر سره ترتیب ساقط دے، او پدے کښے احتیاط دے، او هرچه دَم دے نو هغه په هیڅ صورت کښے پرے لازم نۀ دے، وجه دا ده چه په صحیح مرفوع روایت کښے د هغے دلیل نشته.

2656 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى فَيَقُوْلُ : " لَا حَرَجَ " فَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ : رَمَيْتُ بَعْدَ مَا أَمْسَيْتُ . فَقَالَ : " لَا حَرَجَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : نبي کريم ﷺ نه به د لوی اختر په ورځ په منیٰ کښې تپوس کیدو نو هغهٔ به فرمایل : هیڅ حرج نشته. نو یو سړی ترې تپوس وکړو وې وئیل : ما د ماښام نه روستو جمره وویشته. نو هغهٔ وفرمایل : هیڅ حرج نشته. (بخاریؒ)

تشریح : شوکانيؒ وائي : دا حدیث دلیل دے چه د زوال نه روستو که چا د جمره عقبے رمي وکړه، نو هم په هغه باندے هیڅ نشته او رمي ئې صحیح ده. ځکه چه مساء د بعض اهل لغتو په نیز د زوال نه روستو شروع کیږي.

که یو تن نه د اختر په ورځ جمره عقبه ویشتل فوت شي تردے چه نمر پریوزي نو بیا به څه کوي ؟ دے کښې دوه قوله دي : (۱) یو قول دا دے چه د شپې به ئې ولي، او دا قول د امام ابوحنیفهؒ او مالكؒ او د هغوئ د موافقینو دے، دوئ دلیل کښې دا حدیث د ابن عباس ﷺ پیش کوي چه دلته د اَمْسَيْتُ لفظ کښې مساء راغلے او مساء لفظ په نیز د بعض اهل لغتو د نمر پریوتو نه روستو شروع کیږي. نو دا د شپې یوے حصے ته هم شاملیږي. قاموس کښې دي : مساء ضد د صباح دے، نو معلومیږي چه دا د نمر پریوتو نه روستو دپاره استعمالیږي. او دا قول ابن عثیمینؒ په "الشرح الممتع" کښې غوره کړیدے او فرمایلي ئې دي چه کله د انسان دپاره رَمي په اول د ورځ کښې آسانه نشوه نو د هغهٔ دپاره جائز دي چه د شپې ئې اُوولي او دلته هیڅ صحیح صریح دلیل نشته چه هغه د رمي آخر وخت معین کړي نو اصل جواز دے.

(۲) امام احمدؒ وائي چه د شپې به ئې نهٔ ولي بلکه صبا ورځے ته به ئې روستو کوي تردے چه د زوال نه پس به ئې ولي. دوئ مخکښې قول والا ته دا جواب ورکوي چه پدے حدیث د ابن عباس ﷺ کښې (یوم النحر) لفظ راغلے دے، دا دلالت کوي چه دا سوال په ورځ کښې واقع شویدے، او رمي پس د اِمساء نه په ورځ کښې واقع شویده یعنی په آخر د ورځ کښې. مګر اول قول والا وئیلي دي چه اګرکه سوال په ورځ کښې واقع شویدے لیکن عبرت عموم د لفظ لره دے نهٔ خصوص د سبب لره، او مساء لفظ د شپې دپاره استعمالیږي. او دا خبره حقه ده، او یوم النحر اطلاق تر نیمے شپې پورے په ورځے کیږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2657 (3) — عَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : اَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ اَفَضْتُ قَبْلَ اَنْ اَحْلِقَ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ:" اِحْلِقْ أَوْ قَصِّرْ وَلَا حَرَجَ ". وَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ : ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِىَ . قَالَ :" اِرْمِ وَلَا حَرَجَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ.

ترجمه : علي ﷺ وفرمايل : نبي كريم ﷺ ته يو تن راغلو عرض ئے وكړو اے د الله رسوله ! ما د سر خرئيلو نه مخكښے طوافِ افاضه وكړه نو وے فرمايل : سر وخرئيوه يا ئے لنډ كړه او هيڅ حرج نشته. او بل راغلو نو عرض ئے وكړو : ما د كانړو ويشتو نه مخكښے ذبح وكړه. وے فرمايل : (اُوس) اُووله او هيڅ حرج نشته. (ترمذیؒ)

تشريح : اَفَضْتُ : يعني ما طواف افاضه وكړو.

دے حديث نه هم معلومه شوه چه كه طواف افاضه د حلق نه مخكښے وشي هم څه فديه او گناه پرے نشته. او معلومه شوه چه دا سائلين مختلف خلك وو، چا يو تپوس كړے چا بل. او په صحابه كرامو كښے بعض متمتعين وو او بعض قارن. لكه د احاديثو نه معلومه ده. او يو تن ته هم رسول الله ﷺ د فديئے حكم ونكړو.

درجة الحديث : [إسناده صحيح] : أخرجه أحمد : ۱/۱۵۷، والترمذي : ۸۸۵ .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2658 (4) – عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيْكٍ ﷺ قَالَ : خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجًّا فَكَانَ النَّاسُ يَأْتُوْنَهُ فَمِنْ قَائِلٍ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوْفَ أَوْ أَخَّرْتُ شَيْئًا أَوْ قَدَّمْتُ شَيْئًا فَكَانَ يَقُوْلُ : " لَا حَرَجَ إِلَّا عَلٰى رَجُلٍ اِقْتَرَضَ عِرْضَ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ فَذٰلِكَ الَّذِىْ حَرِجَ وَهَلَكَ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه : اسامه بن شريك ﷺ فرمائي : زۀ د رسول الله ﷺ سره حج كونكے راووتم نو خلك به هغۀ ته راتلل نو بعضو به وئيل اے د الله رسوله ! ما سعي وكړه مخكښے د طواف كولو نه او څه شے مے روستو وكړو او څه شے مے مخكښے كړو نو هغۀ به وئيل : هيڅ گناه نشته، البته په هغه سړي باندے (گناه شته) چه د مسلمان عزت پريكړي او هغه (پدے كار سره) ظلم كونكے وي نو دا هغه سړے دے چه په گناه كښے واقع شو او هلاك شو. (ابوداودؒ)

تشريح : اسامه بن شريك الثعلبي ﷺ. د بنو ثعلبه بن سعد يا د بنو ثعلبه بن يربوع قبيلے نه دے. اول قول ډير صحيح دے. صحابي دے، په كوفے والو كښے شمار دے. ددۀ

Maktaba Tul Ishaat.com

نه اته (۸) احاديث نقل دي.

أَخَّرْتُ شَيْئًا : يعني ما يو كار روستو كړو چه د هغهٔ حق تقديم وو، يعني د كارونو د منئ نه.

اِقْتَرَضَ : دا د قَرْض نه دے، پريكولو ته وئيلے شي.

عِرْضَ : په زير د عين او سكون د راء سره، عزت ته وائي. يعني د مسلمان عزت واخلي او د هغهٔ عيب بيان كړي او غيبت ئے وكړي.

وَهُوَ ظَالِمٌ : دے سره ئے د راويانو جرح او د گواهانو گواهي بهر كړه ځكه چه هغه مباح بلكه ضروري دي. په هغے سره بنده ظلم كونكے نهٔ دے.

حَرِجَ : په زير د راء سره. يعني ددهٔ نه حرج واقع شو . او دے گناهگار شو ځكه چه د مسلمانانو د حقوقو رعايت او د هغوى د عزتونو خيال ساتل ډير عظيم دي، او هرچه كارونه د حج دي نو د هغے تدارك په معافي غوښتو سره كيدے شي او كله به په جزاء سره وي.

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أخرجه ابوداود: ۲۰۱۵.

OOOO

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰- بَابُ خُطْبَةِ يَوْمِ النَّحْرِ

وَرَمْيِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَالتَّوْدِيعِ

د قربانۍ د ورځې خطبه او په ایام التشریق کښې د رمی او د طواف وداع (طوافِ رخصت) بیان۔

ایام التشریق د اختر د ورځې نه روستو درې ورځې دی۔ چه اولې ورځې ته یوم القر وائی، ځکه چه پدې ورځ خلك په منیٰ کښې قرارې (آرام) کوی، او دې ته یوم الرؤوس هم وائی۔ ځکه چه پدې ورځ خلك د خپلو کړو قربانو سرونه خوری۔ او دویمې ورځې ته یوم النفر الاول وائی۔ یعنی د وتلو اوله ورځ او دې ته یوم الاکارع هم وائی۔ او دریمې ورځې ته یوم النفر الآخر وائی۔ یعنی د وتلو دویمه ورځ۔ (ذکره الطبریؒ)

د التودیع نه مراد طوافِ رخصت کول دی، چه دې ته طواف وَداع وائی۔ یعنی کله چه د حج نه فارغ شی او خپل کلی ته روانیږی نو دا طواف به کوی۔ او د تشریق معنیٰ ده غوښه نمر ته اُوچول۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2659 (1) – عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَ: "إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ، اَلسَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ، ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ، ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادٰى وَشَعْبَانَ " وَقَالَ: " أَيُّ شَهْرٍ هٰذَا ؟ " قُلْنَا: اَللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ فَقَالَ: " أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ ؟" قُلْنَا: بَلٰى. قَالَ:" أَيُّ بَلَدٍ هٰذَا ؟" قُلْنَا: اَللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ: " أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ ؟ " قُلْنَا: بَلٰى قَالَ "فَأَيُّ يَوْمٍ هٰذَا ؟ " قُلْنَا: اَللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ . قَالَ:" أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ ؟" قُلْنَا: بَلٰى. قَالَ:" فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ أَلاَ فَلاَ تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ ضُلاَّلاً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ ؟ " قَالُوْا : نَعَمْ . قَالَ : " اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعٰى مِنْ سَامِعٍ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابو بكره ﷺ فرمائي : ((رسول الله ﷺ مونږ ته د اختر په ورځ خطبه راكړه، وې فرمايل : يقيناً زمانه وګرځيده د هغه حالت په شان په كومه ورځ چه الله تعالىٰ آسمانونه او زمكه پيدا كړي، كال دولس مياشتې دې، د هغې نه څلور عزتمنې مياشتې دي، درې پرله پسې دي، ذو القعده، ذو الحجه، محرم او رجب د مُضر هغه چه د جمادىٰ او شعبان په مينځ كښې ده. او وې فرمايل: دا كومه مياشت ده ؟ مونږ وويل : الله او رسول ښۀ پوهيږي. نو نبي ﷺ خاموش شو تردې چه زمونږ دا ګمان راغې چه ديته به بل نوم واخلي، وې فرمايل: آيا دا ذو الحجه نۀ ده څۀ ؟ مونږ وويل: ولې نه ! وې فرمايل : دا كوم ښار دې ؟ مونږ وويل : الله او رسول ښۀ پوهيږي ! نو نبي ﷺ خاموش شو تردې چه زمونږ ګمان راغې چه ديته به بل نوم واخلي، وې فرمايل: آيا دا عزتمن ښار نۀ دې ؟ مونږ وويل : ولې نه ! وې فرمايل : چه دا كومه ورځ ده ؟ مونږ اُوويل : الله او رسول ښۀ پوهيږي. نو نبي ﷺ خاموش شو تردې چه زمونږ دا ګمان راغې چه ديته به بل نوم واخلي، وې فرمايل : آيا دا يوم النحر نۀ ده ؟ مونږ وويل : ولې نه!، وې فرمايل: نو ستاسو وينې او مالونه او ستاسو عزتونه په تاسو داسې حرام دي لكه څنګه چه ستاسو په دې مياشت كښې، په دې ښار كښې ستاسو ددې ورځې حرمت (عزت) دې.

اوزر دې چه تاسو به د خپل رب سره مخامخ شئ، نو تاسو نه به ستاسو د اعمالو په باره كښې تپوس كوي، خبر دار ! زما نه روستو ګمراهان مۀ جوړيږئ، چه د يو بل څټونه وهئ، خبردار ! آيا ما خبره دررسوله ؟ مونږ وويل: هو ! وې فرمايل: اې الله ! تۀ ګواه شه، په تاسو كښې دې حاضر كس غائب ته خبره ورسوي، ځكه چنې ډير كرته چه چاته خبره رسولې شي هغه د اولنې آوريدونكي نه زيات يادوونكې وي. (بخاريّ).

تشريح : ابي بكره ﷺ : د ثقيف قبيلې نه جليل القدر صحابي دې چه نوم ئې نُفيع بن الحارث دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

خَطَبَنَا : دا دليل دے چه د اختر په ورځ باندے خطبه وئيل مسنون عمل دے۔ او په بل روايت د بخارئ کښے دی چه رسول الله ﷺ دا خطبه په حجة الوداع کښے د جمراتو ترمينځ وکړه چه په سپينه اُوښه باندے سور وو لکه هغه روايت په فصل ثاني کښے راروان دے۔ دا حديث په هغه چا باندے رد کوی چه هغوی وائي چه د لوی اختر په ورځ باندے په منیٰ کښے خطبه نشته، حالانکه صحابه کرامو ﷺ د رسول الله ﷺ دے تقرير ته خطبه وئيلے ده۔ لکه څنگه چه د عرفات تقرير ته ئے خطبه وئيلے ده۔ احناف او مالکيان پدے ورځ خطبه نۀ مني۔ دوئ وائي : حج کښے درے خطبے دی، په اوم د ذی الحجه او د عرفات په ورځ او په دويمه ورځ د اختر باندے۔ امام شافعيّ فرمائي : د خلکو پدے ورځ خطبے ته ډير ضرورت وی چه د دغه ورځو احکام او اعمال وپيژني۔

إِنَّ الزَّمَانَ : زمان دا مطلق وقت ته وائي، لږ وی او که ډير، دلته ترے کال مراد دے۔

اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ : هيئت : شکل، صورت او حالت ته وائي۔ يعني زمانه داسے وګرځيده لکه څنگه چه الله تعالیٰ په کومه ورځ آسمانونه او زمکه پيدا کړی وو، يعني زمانه چه د کوم ځائے نه په ابتداء کښے شروع شوے وه نو هغه ځائے ته راواپس شوه۔

يا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ کال دولس مياشتے جوړ کړيدے او هره مياشت د نهه ويشتو نه تر ديرشتو ورځو پورے ده، او عربو په جاهليت زمانه کښے دا بدل کړے وو، هغوی به يو کال دولس مياشتے جوړ کړو او بل به ئے ديارلس مياشتے ځکه چه دوئ به هر دوه کالو کښے په حج کښے نسيء کوله يعني د يوے مياشتے نه به ئے بهر کړو او په بله روستو مياشت کښے به ئے ادا کولو، او کومه مياشت چه به ئے روستو کړه نو هغه به ئے پکښے نۀ حسابوله۔ نو پدے طريقه به دغه کال ديارلس مياشتے جوړ شو۔ او د هغے مياشتے به بدلے شوے نو اشهر حرم (عزتمنے مياشتے) به ئے حلالے ګڼړلے او غير اشهر حرم به ئے عزتمنے مياشتے ګڼړلے۔ نو الله تعالیٰ دا قانون ختم کړو او په خپل اصلي مدار باندے ئے کال باقي پريخودو، نو کوم کال باندے چه رسول الله ﷺ حجة الوداع کولو په دغه کال باندے ذو الحجه مياشت خپل صحيح ځائے ته راغلے وه۔ نو پدے وجه نبی ؑ وفرمايل : زمانه خپل اصلي حالت ته راواپس شوه۔ يعني الله تعالیٰ امر کړيدے چه ذو الحجه دِے په همدے وقت کښے وی، نو تاسو دا ياد کړئ او حج په همدے وخت کښے کوئ او يوه مياشت په بله مياشت باندے مۀ بدلوئ لکه د جاهليت والو په شان۔ انتهیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

ما في الطيبيؒ۔ امام نوويؒ وائي : عربو جاهليت والو به د اشهر حرم په باره کښې په دين ابراهيمي باندې عمل کولو ليکن دوئ باندې دا خبره گرانه شوه چه متواترې درې مياشتې قتال ونکړي (ځکه چه دا درې واړه ذو القعده، ذو الحجه او محرم مياشتې عزتمنې دي) نو کله چه به دوئ قتال ته محتاج شو نو دوئ به د مُحرّم مياشتې حرمت (عزت) روستو صفرې مياشت ته نقل کړو او په بل کال کښې به ئې بلې مياشتې ته روستو کړو او دغه شان به دوئ کول يو کال پس د بل کال نه۔ تردې چه دوئ باندې خبره گډه وډه شوه نو د دوئ دا کال د رسول الله ﷺددې حج سره برابر شو چه دوئ هم پدې مياشت کښې حج کولو او دا د شريعت مطابق هم وو، نو دوئ د خپل حساب مطابق ذو الحجې له احترام ورکړې وو نو نبي ﷺ خبر ورکړو چه دا گرځول د کال د الله تعالیٰ د زوړ حکم او قانون سره برابر شو۔ (اُوس به ددې نه تبديلي کول صحيح نۀ وي، حج به بلې مياشتې ته نۀ اړه وئ) اَلسَّنَةُ : يعني عربي شپوږمئ حساب والا کال۔

ذُو الْقَعْدَةِ : قعده ناستې ته وائي۔ او عرب به هم پدې مياشت کښې د سفرونو نه کيناستل۔ وَرَجَبُ مُضَرَ : مضر يوه عربي قبيله ده چه د ربيعه ورور دې، د رجب نسبت ئې مضر ته پدې وجه وکړو چه دې قبيلې به د نورو عربو نه د رجب زيات احترام ساتلو تردې چه د نورو قبيلو سره به ددې په استحلال (بې عزتئ) کښې نۀ شريك کيدل۔

جُمَادَی : د جيم پيش، او د دال زبر او روستو ترې الف دې چه په شکل د ياء ليکل شويدې۔ ددې نه جمادي الثانية مياشت مراد ده۔

او د رجب تعيين پدې وجه کوي چه رد راشي په عربو باندې چه هغوی به د رجب نه روستو مياشتې ته د رجب نوم کيخودو۔

بيا محرم اوله مياشت د کال شوه دې دپاره چه د کال ابتداء هم په عزتمنه مياشت وشي او اختتام هم په عزتمنه مياشت او په مينځ کښې ئې هم عزتمنه مياشت (رجب) راشي۔ او آخري دوه مياشتې متواترې عزتمنې شوې دې دپاره چه د اختتام فضيلت راشي۔ او اشاره شي چه دارومدار د اعمالو په خواتيم (خاتمو) سره دې۔

أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ ؟ : علامه خطابيؒ وائي : البلدة خاص د مکې نوم دې۔ طيبيؒ وائي : مطلق محمول دې په فرد کامل باندې، يعني هغه ښار چه خيرونو او کمالاتو لره راجمع کونکې دې، توربشتيؒ وائي : بلد په معنیٰ د وسيدو سره دې نو دې کښې دومره خيرونه

Maktaba Tul Ishaat.com

دي ګويا کښې په دنيا کښې د وسيدو ځائې همدا دے۔

اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ : په بل روايت د ابن عباس ﷛ کښې چه بخارئ راوړيدے په هغې کښې دا دي چه صحابه کرامو ﷡ د مياشتې جواب په شهر حرام او د ورځې جواب په يوم حرام سره او د بلد جواب په بلد حرام سره ورکړے دے، او دلته وائي چه د هغوی جواب دا وو چه الله او رسول ښۀ پوهه دی۔ نو ددے ظاهر کښې خو تعارض ښکاره کيږی ؟

جواب دا دے چه کسان ډير زيات وو نو کومه طائفه کښې چه ابن عباس ﷛ وو هغوی نزدے وو، هغوی جواب ورکړو او کومه طائفه کښې چه ابوبکره ﷛ وو نو هغوی جواب ورنکړو بلکه ''الله ورسوله اعلم'' ئے ووئيل۔

يا ابن عباس ﷛ روايت بالمعنیٰ کړيدے ځکه چه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چه آيا دا ګنې د اختر ورځ نۀ ده، نو د صحابه کرامو جواب به دا وو چه ولے نۀ ده، لکه په بل روايت د ابوبکره ﷛ کښې (بَلیٰ) لفظ راغلے دے۔ نو ابوبکره ﷛ خبره تفصيل سره نقل کړه او ابن عباس ﷛ اختصار وکړو۔ بعض وائي : کيدے شي چه واقعے دوه وی۔ ليکن دا خبره ضعيفه ده۔ يا دا چه اول کښې دوئ ''الله ورسوله اعلم'' ووئيل، بيا روستو بعض کسانو جواب ورکړو او بعض غلي پاتے شو۔

وَسَتَلْقَوْنَ : يعنی تاسو به د خپل رب سره په قيامت کښې ملاويږئ۔

اَعْمَالَكُمْ : يعنی لږ او ډيرو اعمالو په باره کښې به درنه تپوس کوی۔

فَلَا تَرْجِعُوْا بَعْدِیْ : يعنی زما ددے ځائے د جدائی نه يا زما د وفات نه روستو۔ او همدا ظاهر دے۔ لَاتَرْجِعُوْا لفظ هم د افعال ناقصه غير مشهوره و نه دے، عبد الملك وائي : اکثرو نحويانو باندے دا خبره پټه پاتے شويده۔

ضُلَّالًا : دا جمع د ضالٌ ده، ګمراه ته وائي۔ او په يو روايت کښې ''كُفَّارًا'' لفظ دے : يعنی د کافرانو په شان۔ يا يو بل ته کافر مۀ وايئ چه پدے سره جنګ ځان دپاره حلال کړئ۔ يا ستاسو کارونه دے د کافرانو سره مشابه نشي۔ او همدا قول ظاهر دے۔ يا حقيقةً کفر مراد دے، يعنی کفر مۀ کوئ چه بيا به نور مسلمانان ستاسو څټونه ووهی۔

اَلَا هَلْ بَلَّغْتُ ؟ : يعنی آيا ما تاسو ته هغه وحی او دين ورسولو چه ما باندے نازل شوے وو، او الله تعالیٰ پرے ما ته حکم کړے وو ؟۔

اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ : اے الله ! تۀ زما دپاره هم ګواه شه او دوئ باندے هم۔ الله تعالیٰ ئے ځکه ګواه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړو چه الله پرې تبليغ فرض کړې وو نو هغه ئې ادا کړو يعني ما خپله ذمه واري ادا کړه.
فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ : يعني دا خبرې دې موجود خلك غائبينو ته ورسوي. يا د دين تول احکام مراد دي.
فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعٰى مِنْ سَامِعٍ : يعني ډير کرته چا ته چه خبره رسولې شي هغه په هغه اسرارو او حکمتونو او علمونو باندې داسې پوهه شي چه په هغې اول آوريدونکې نۀ وي پوهه. (مبلغ) اسم مفعول دې، هغه شخص چه دين ورته رسولې شي.
مهلبؒ وائي : دې نه ثابته شوه چه ډير کرته روستو زمانه کښې به داسې خلك پيدا کيږي چه هغوئ ته به هغه فهم او علم حاصليږي چه هغه به مخکنو ته نۀ وي حاصل. خو دا په ډير کمه اندازه کښې، ځکه چه رب لفظ د تقليل دپاره استعماليږي.
حافظ وائي : رب په اصل کښې د تقليل دپاره ده، بيا اکثر د تکثير دپاره استعماليږي، ليکن دلته تقليل معنیٰ مراد ده ځکه چه په بل روايت د بخاري کښې [عَسٰى أَنْ يُبَلِّغَ مَنْ هُوَ أَوْعٰى لَهُ مِنْهُ] لفظ راغلې دې. يعني قرينه ده چه دا به هغه چا ته رَسول وکړي چه هغه به ددۀ نه زيات يادونکې وي.اه.
فوائد : (۱) پدې کښې تيزي ده په تبليغ د علم. (۲) د کامل اهليت نه مخکښې هم انسان علم حاصلولې شي. (۳) د حديثو په رسولو کښې دا شرط نۀ دې چه خپله به د هغې په معنیٰ او مسائلو باندې پوهيږي کله ئې چه د هغې الفاظ صحيح زده کړي وي. او دۀ ته به هم علم والا وئيلې شي. (٤) علم رَسول فرض کفايه دي، او کله به د بعض خلکو په باره کښې فرض عين وي. (٥) ضرب المثل بيانول جائز دي. دارنګه يو نظير (مثل) د بل نظير سره پوسته کول هم جائز دي، دې دپاره چه آوريدونکي ته د قياس په شکل خبره واضحه شي. (٦) ددې نه ثابته شوه چه روستنو خلکو کښې هم خير او ډير علم والا پيدا کيږي. پدې امت کښې الله تعالیٰ ډير خير اچولې دې، نو په روستنو امتونو هم بدګماني نۀ ده پکار.

2660 (2) – وَعَنْ وَبْرَةَ قَالَ : سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ : مَتٰى أَرْمِي الْجِمَارَ ؟ قَالَ : إِذَا رَمٰى إِمَامُكَ فَارْمِهِ فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ . فَقَالَ : كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ
ترجمه : او وبرةؒ وائي : ما د ابن عمر ﷺ نه تپوس وکړو : زۀ کله جمرات اُوولم ؟ وې

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمایل: هرکله چه ستا امام ویشتل کوی نو تهٔ هم اُووله نو ما هغهٔ نه سوال دوباره وکړو، نو وې فرمایل: مونږ به د وخت انتظار کولو نو هرکله چه به نمر (د نیمائی آسمان نه) زائل شو نو مونږ به جمرات ویشتل۔ (بخاریؒ)

تشریح: وبره بن عبد الرحمن المسلمی ابو خزیمة یا ابو العباس الکوفیؒ، ثقه تابعی دے، په کوفه باندے د خالد بن عبد الله القسری د ولایت په وخت په سنه (۱۱۶ هـ) کښے وفات شوے دے۔

مَتٰی أَرۡمِی الۡجِمَارَ؟: یعنی د اختر د ورځے نه علاوه نور جمرات په کوم وخت اُوولم؟ نو هغهٔ ورته ووېل چه ستا د حج امیر کوم یو مقرر وی نو کله چه هغهٔ ویشتل وکړل نو تهٔ هم هغه ځائے ووله یا ویشتل وکړه یا ګیتېۓ اُووله۔ دلته ابن عمر رضی الله عنه ته دا یره وه چه دا شخص به د امیر مخالفت وکړی، نو دهٔ ته به تکلیف ورسیږی خو هرکله چه هغهٔ ورته تپوس دویم ځلی راواپس کړو نو هغهٔ ورته حقیقتِ حال بیان کړو، او د نبی ﷺ د عمل خبرئے ورکړو چه مونږ به د زوال نه روستو دا جمرات ویشتل۔

او په روایت د ابن عُیینهؒ کښے دی چه وبرهؒ ورته ووېل: که زما امام ویشتل روستو کړی؟ (نو بیا څه کول پکار دی؟)، نو هغهٔ ورته دغه خبره ذکر کړه۔

نَتَحَیَّنُ: د حِین نه دے په معنیٰ د وخت او زمان سره۔ یعنی مونږ به انتظار کولو د مطلوب وخت چه هغه زوال د نمر دے۔ یا مونږ به انتظار کولو د وخت د داخلیدو د رمی۔ (طیبیؒ) یا مونږ به وخت د رمی طلب کولو۔ (طبریؒ)

دا حدیث دلیل دے چه د اختر د ورځے نه روستو ورځو کښے د جمراتو ویشتو وخت د زوال د نمر نه روستو دے، او د زوال نه مخکښے ویشتل ئے جائز نهٔ دی، او دا مذهب د جمهورو دے او همدا حق دے۔ (۲) عطاءؒ او طاووسؒ وائی چه قبل الزوال هم بالکل جائز دے، (۳) او احنافو په یوم النفر کښے قبل الزوال ویشتلو کښے رخصت ورکړیدے۔

(٤) اسحاقؒ وائی چه که قبل الزوال ئے وویشتل نو د هغے اعاده به کوی، البته د دریمے ورځے جمرات ویشتل د زوال نه مخکښے هم جائز دی۔ لیکن دا حدیث په دے ټولو باندے رد کوی۔ او دا مسئله ددے کتاب د باب رمی الجمار په (۳) حدیث کښے تیره شوه۔

2661 (3) – وَعَنۡ سَالِمٍ عَنِ ابۡنِ عُمَرَ رضی الله عنه: أَنَّهُ كَانَ يَرۡمِي جَمۡرَةَ الدُّنۡيَا بِسَبۡعِ حَصَيَاتٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُكَبِّرُ عَلَى إِثْرِ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتّٰى يُسْهِلَ فَيَقُوْمُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ طَوِيْلًا وَيَدْعُوْ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ ثُمَّ يَرْمِي الْوُسْطٰى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ كُلَّمَا رَمٰى بِحَصَاةٍ ثُمَّ يَأْخُذُ بِذَاتِ الشِّمَالِ فَيُسْهِلُ وَيَقُوْمُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ثُمَّ يَدْعُوْ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَقُوْمُ طَوِيْلًا ثُمَّ يَرْمِيْ جَمْرَةَ ذَاتِ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِيْ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ عِنْدَ كُلِّ حَصَاةٍ وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَيَقُوْلُ : هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهٗ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سالمؒ د ابن عمر ﷺ نه روایت کوي چه هغهٔ (یعنی ابن عمر ﷺ) به اولنۍ جمره کومه چه (مسجد ته) نزدے ده په اُوو کانړو ویشتله چه د هر کانړي سره به ئے تکبیر کولو، بیا به د جمرے نه رامخکښے شو او په هواره نرمه زمکه به مخ په قبله ډیر اُوږد وخت ودریدهٔ، بیا به ئے دعا کوله او خپل دواړه لاسونه به ئے پورته کول، بیا به ئے درمیانه جمره ویشتله په اُوو (۷) کانړو باندے، تکبیر به ئے وئیلو هرکله چه به ئے کانړے ویشتلو، بیا به ئے گس لاس واخستهٔ او نرمے زمکے ته به شو، او مخ په قبله به ودریدهٔ او دعا به ئے غوښتله او لاسونه به ئے په کښے پورته کول او ډیر ساعت به ولاړ وو، بیا به ئے د میدان د مینځ نه د کنډو والا جمره وویشته په اُوه کانړو او د هر کانړي سره به ئے تکبیر وئیلو، او د هغے نه پس به نهٔ ودریدهٔ، بیا به واپس کیدهٔ، او فرمایل به ئے : دغسے ما رسول الله ﷺ لیدلے چه دا کارئے کولو۔ (بخاريؒ)۔

تشریح : جَمْرَةَ الدُّنْيَا : یعنی نزدے جمره کومه چه په اول کښے راځي۔ مسجد خَیف ته نزدے ده چه دلته رسول الله ﷺ دیره اچولے وه۔ او جمرة الدنیا کښے اضافت د موصوف دے صفت ته په شان د مسجد الجامع او صلاة الوسطیٰ۔

[إِثْرِ] د همزے په زیر او د ثاء په سکون سره، په معنیٰ د روسته سره۔

[يُسْهِلُ] د یاء په پیښ سره، أَيْ: يَقْصُدُ الْمَكَانَ السَّهْلَ مِنَ الْأَرْضِ (نرم ځائے یعنی میدان ته به راتلو)، دے دپاره چه ویشتونکو ته ځائے فراخه کړي، هغوئ دهٔ له او دے هغوئ له تکلیف ورنهٔ کړي۔[يَقُوْمُ طَوِيْلًا] أَيْ قِيَامًا طَوِيْلًا (ډیر ساعت به ولاړ وو)۔ بل روایت کښے دي : [وَكَانَ يُطِيْلُ الْوُقُوْفَ]

[جَمْرَةَ ذَاتِ الْعَقَبَةِ] [ذَات] په معنیٰ د جهت او اړخ سره دے۔ یعنی هغه جمره چه د کنډو په جنوبي اړخ کښے واقع ده۔خو اُوس دغه کنډوو د سعودي د مفتي محمد بن

Maktaba Tul Ishaat.com

ابراهيمؒ په فتوىٰ سره ختم شوے، دے دپاره چه د جمراتو سرګ فراخه کړے شی۔

فوائد الحديث: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په ایام تشریق کښے به درے واړه جمرے : وړه، درمیانه او لویه جمره ویشتلے شی۔ او دا ویشتل به په ترتیب سره وی، اول به وړه، بیا درمیانه او بیا لویه جمره ولی۔ او ددے ترتیب لحاظ ساتل د رمی د صحت دپاره شرط دے۔ که چا بے ترتیبه ویشتلے نو دے له به هیڅ اعتبار نهٔ وی۔ او دوباره به ئے بیا ولی۔

(۲) او دا ویشتل به په اُوو شګیو سره کوی۔ که د اوو کانړو نه یو کانړے کم شو نو رمی به صحیح نهٔ وی، بلکه د اوو پوره کول واجب دی۔ او دا دجمهورو علماؤ قول دے۔

(۳) د هر کانړی ویشتو سره به الله اکبر وائی، ددے نه سِویٰ به نور څهٔ نهٔ وائی۔

(٤) په دے حدیث کښے د جمرو ویشتلو طریقه ښودل شوے، هغه دا چه کله اوله جمره وولی نو لږ شان به د هغے نه مخکښے لاړ شی، دے دپاره چه نورو ویشتونکو ته ځائے فراخه شی، او دهٔ ته هم تکلیف نهٔ وی۔ نو دلته به قبلے ته مخامخ ودریږی او اُوږده دعا به وغواړی۔ بیا به درمیانه جمره وولی او ګس لاس ته به شی او هلته به اُوږده دعا وغواړی۔ عطاءؒ فرمائی: «ابن عمر ﷺ به د دواړو جمرو ترمینځه دومره ودریدهٔ په څومره وخت کښے چه سورتِ بقره لوستل کیږی» [ابن أبي شيبة: ١٤٣٤٤، فتح الباري]

د افسوس خبره داده چه زیاتره حاجیانو د دعا دپاره دا ودریدل پریښی، یا خو د ناپوهئ په وجه چه دوئ ته دا مسئله نهٔ ده معلومه، او یا د سستئ او ناراستئ په وجه۔ نو متبع سنت مسلمان له پکار دی چه دلته ډیره اُوږده دعا وغواړی، ځکه کله چه سنت ضائع کیږی نو په هغے عمل کول بیا ډیر ضروری وی، په دے کار سره به د سنتو عامل ته دوه ثوابه ملاؤ شی، یو د عمل ثواب او بل د احیائے سنت ثواب۔

❁ بیا به دریمه جمره د میدان نه وولی چه جمره عقبه ده۔ او ددے خواته به د دعا دپاره نهٔ ایساریږی، بلکه په خپله مخ به ځی۔ ځکه نبی کریم ﷺ ددے د ویشتو نه پس د دعا دپاره نهٔ دے ودریدلے۔ او ددے د نهٔ ودریدو حکمت بعض علماؤ دا ذکر کړیدے چه دا تنګ ځائے وو نو دعاء دپاره ودریدو کښے خلکو ته تکلیف جوړیدو۔

2662 (4) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ إِسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يَّبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى، مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ، فَأَذِنَ لَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او ابن عمر ﷛ نه روايت دے چه عباس بن عبد المطلب ﷛ رسول الله ﷺ نه اجازت وغوښتو چه د مِنیٰ شپے په مكه كښې تيرے كړی، دے دپاره چه دے په خلكو باندے د زمزم اوبۀ څكوی، نو نبی ﷺ هغۀ له اجازت وركړو. (بخاریؒ، مسلمؒ).

تشريح : اَلْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ ﷛ : د نبی كريم ﷺ ترۀ دے. [اِسْتَأْذَنَ] رخصت ئے وغوښتلو. [لَيَالِيَ مِنًى] چه د مِـنىٰ شپے په مكه مكرمه كښې تيرے كړی. [مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ] دا د [اِسْتَأْذَنَ] دپاره علت دے، يعنی په دے وجه چه ددۀ نه په حاجيانو باندے د زمزم اوبۀ څكول فوت نشی.

سقايه : خلكو ته اوبۀ وركول. مراد دلته د زمزم اوبۀ څكول دی چه په دے كښې به ئے وڅكے (كشمش) اچولے او ددے پروګرام به ئے په جاهليت او اسلام دواړو كښې جوړولو.

سقايه يوه مرتبه وه چه قريشو كښې بنو عبد المطلب ته حواله وه او په هغوئ كښې ددے مشری عباس ﷛ كوله، هغوئ به دا كار فی سبيل الله كولو او په دے به ئے فخر كولو. [لَيَالِيَ مِنًى] د مِـنىٰ شپے، يعنی د ذو الحجے په يولسم، دولسم، ديارلسم تاريخ هلته پاتے كيدل.

عباس ﷛ ته سِقايه حواله وه نو هغۀ نبی كريم ﷺ نه اجازت وغوښتو چه د مِنیٰ شپے په مكه مكرمه كښې تيرے كړی، دے دپاره چه د زمزم كوهی نه اُوبۀ راوباسی او حوضونه ترے ډك كړی، او په هغے كښې په وڅكو اچولو سره هغه خوږے كړی. ددے پروګرام د تياریٔ دپاره هلته په مكه كښې وسيدل ضروری وو. نو ځكه ئے دا رخصت غوښتلے.

فوائد : (۱) حديث نه معلومه شوه چه په ايام تشريق كښې په مِنیٰ كښې پاتے كيدل واجب دی، لكه د رخصت او اجازت د الفاظو نه دا معلوميږی. دا رنګه نبی ﷺ په دے ورځو كښې پاتے شوے او فرمايلی ئے دی : «مانه د خپل حج طريقه زده كوئ» او همدا د امام مالكؒ، امام احمدؒ او جمهور علماؤ قول دے. او فقهاءِ احناف وائی چه مِنیٰ كښې شپه تيرول مسنون دی. **فائده** : سقايه والا او رُعاة الابل (اُوښانو شپونكيانو) ته وركړے شويدے لكه چه روستو به راشی.

(۲) او معلومه شوه چه د ضرورت د وجے او د مسلمانانو د اجتماعی مصلحت دپاره دا شپے په مكه مكرمه كښې تيرولو كښې رخصت دے. لكه په حاجيانو باندے اوبۀ څكول

Maktaba Tul Ishaat.com

وغيره کښې د مسلمانانو اجتماعي فائده ده. (۳) سقايه والا به رمي د عامو خلکو پشان په خپل خپل وختونو کښې کوي.(٤) د سقايه يعني د زمزم د اوبو د حوضونو او د حجرِ اسود ترمينځه اتۀ ګزه فاصله وه.

2663 (5) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ فَاسْتَسْقٰى . فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا فَضْلُ اِذْهَبْ إِلٰى أُمِّكَ فَأْتِ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا فَقَالَ :" اِسْقِنِيْ" فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّهُمْ يَجْعَلُوْنَ أَيْدِيَهُمْ فِيْهِ قَالَ :"إِسْقِنِيْ ". فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ أَتٰى زَمْزَمَ وَهُمْ يَسْقُوْنَ وَيَعْمَلُوْنَ فِيْهَا . فَقَالَ :" اِعْمَلُوْا فَإِنَّكُمْ عَلٰى عَمَلٍ صَالِحٍ". ثُمَّ قَالَ :" لَوْلَا أَنْ تُغْلَبُوْا لَنَزَلْتُ حَتّٰى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلٰى هٰذِهٖ ". وَأَشَارَ إِلٰى عَاتِقِهٖ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د زمزم سبيل ته راغلو، نو اوبۀ ئے وغوښتے، عباس ﷺ ووئيل : اے فضل ! تۀ خپلے مور خوا ته ورشه او رسول الله ﷺ ته هغه شربت راوړه چه د هغے سره دے، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : ما باندے (دا) اوسکوه. نو عباس ﷺ وفرمايل : اے د الله رسوله ! پدے اوبو کښے خلك لاسونه وهي. هغۀ وفرمايل : ما باندے (دا) اوسکوه. نو د هغے نه ئے څکل وکړل بيا زمزم ته راغلو او (هلته) بنو عبد المطلب خلکو ته اوبۀ ورکولے او پدے خدمت کښے مصروف وو. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : خپل کار (جاري) وساتئ ځکه چه تاسو په يو نيك عمل باندے (لګيا) يئ، بيا ئے وفرمايل : که يره نۀ وے چه تاسو باندے به د خلکو غلبه وکړے شي خامخا زۀ به راکوز شوے وے تردے چه ما به رسۍ په خپله دے (اوګه) باندے ايخودے وے. او خپلے اوګے ته ئے اشاره وکړه. (بخاري)

تشريح : السِّقَايَة: ددے نه مراد هغه ځائے دے چه کوم ځائے به د زمزم اوبۀ خوړولو نه پس خلکو ته ورکولے شوے. او دا کار به په جاهليت او اسلام کښے عباس ﷺ ته حواله وو. فَاسْتَسْقٰى : نو نبي عليه السلام اوبۀ وغوښتے.

بِشَرَابٍ : يعني هغه اوبۀ راوړه چه استعمال شوي نۀ وي،

اِسْقِنِيْ : يعني ما ته د همدے حاضرو اوبو نه راکړه.

يَا فَضْلُ: دا د عبد الله بن عباس ﷺ ورور دے، د دواړو مور لُبابه بنت الحارث الهلاليه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَشَرِبَ مِنْهُ : حافظ وائي : په ذكر شوي روايت د يزيدؒ كښې دا هم راغلي دي چه هغۀ ورته اُوبۀ راوړې نو رسول الله ﷺ چه كله دغه اُوبۀ وڅكلې نو هغه ورته ترشې ښكاره شوې نو نورې اُوبۀ ئې راوغوښتې او د هغې ترشي ئې پرې ماته كړه۔ (دې دپاره چه د هغې سكل آسان شي) او په روايت د مسلمؒ كښې راغلي دي چه بيا ئې باقيمانده جوته اُسامه بن زيد ﷺ ته وركړه كوم چه ورسره روستو په اُوښ باندې سور وو۔ او وې فرمايل : [اَحْسَنْتُمْ، كَذَا فَاصْنَعُوْا] تاسو ښه كوئ، همداسې كار كوئ۔

وَيَعْمَلُوْنَ فِيْهَا : يعني د هغې د بوقو په راښكلو او اړه ولو ئې مشقت برداشت كولو۔

عَلٰى عَمَلٍ : اَىْ قَائِمُوْنَ عَلٰى عَمَلٍ ۔ تاسو په يو نيك عمل باندې ولاړ يئ۔ او ددې كوشش كوئ۔

لَوْلَا اَنْ تُغْلَبُوْا : دا مجهول صيغه ده، يعني كه دا خبره مې بده نۀ ګڼړلې چه خلك به په تاسو باندې غلبه وكړي او دا نيك عمل به ستاسو د لاسونو نه واخلي۔ نو زۀ به د اُوښې نه كوز شوې وې او دې كښې به مې برخه اخستې وې۔ يعني كه زۀ اُوس د اُوښې نه كوز شم او دې نيك عمل كښې حصه واخلم نو بيا به ئې نور اُمت هم د سنت د تابعدارئ په نيت باندې كوي نو تاسو باندې به غلبه وكړي او دا عزت به درنه واخلي۔

پدې كښې نبي ﷺ هغوى ته ترغيب وركړو چه تاسو د زمزم په باره كښې كوم مشقت برداشت كوئ نو دا يو نيك عمل دې، او زۀ هم ددې عمل كولو ارمان لرم ليكن د دغه عذر په وجه ئې نشم كولې۔ عَاتِقِهٖ : دا د څټ يو طرف ته وئيلې شي۔

فوائد الحديث : (۱) دا حديث دليل دې چه سقايه د بنو عبد المطلب پورې خاص وه، پدې وجه ترې رسول الله ﷺ رانښكله۔

(۲) او معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د نيك اعمالو سره ډير زيات شوق وو، او هغۀ به كله يو بهتر عمل د امت د مشقت د وجه نه پريخودو۔

(۳) حافظ ابن حجرؒ وائي : معلومه شوه چه د بل چا نه اُوبۀ طلب كول مكروه نۀ دي۔

(٤) يو اِكرام رد كول جائز دي كله چه د هغې نه بله لويه فائده حاصليږي، لكه دلته رسول الله ﷺ د كور اُوبۀ رد كړې او د عامو خلكو د اُوبو نه ئې څكل وكړل د وجه د زياتې تواضع او عاجزئ نه۔

(٥) پدې كښې ترغيب دې په وركولو د اُوبو كښې خلكو ته خاصكر د زمزم اُوبۀ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(٦) او پدے کښے د نبی ﷺ تواضع ښکاره شوه او خپل ملګری پدے باندے آماده کول چه پدے کار کښے د هغهٔ اقتداء وکړی- او د خوراکونو او څکاکونو د تقذر (کرکے) او بد ګڼړلو نه ځان وساتی-

(۷) ابن المنیرؒ وائی : ددے حدیث نه معلومه شوه چه اصل په اشیاؤ کښے طهارت (پاکی) ده، ځکه چه نبی ﷺ هغه اُوبهٔ وڅکلے چه د خلکو لاسونه پکښے وهلے شوی وو- انتهیٰ- (۸) پدے کښے د مسلمانانو د لاسونو نه برکت حاصلول وو لکه د «صحیح الجامع» په حدیث کښے دی : [فَيَشْرَبُهُ يَرْجُو بِذَلِكَ بَرَكَةَ أَيْدِي الْمُسْلِمِينَ]

[حسن : طبرانی اوسط : ص۳۲، حلیة ابی نعیم : ۲۰۳/۸، صحیح الجامع : ٤٨٩٤] یعنی نبی ﷺ به د مسلمانانو د لوتو نه اُوبهٔ څکلے پدے سره به ئے د مسلمانانو د لاسونو د برکت امید ساتلو-

2664 (6) – وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او انس ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ (چه کله د مِنیٰ نه روان شو نو په محصب خوړ کښے ئے) د ماسپښین او مازیګر او ماښام او ماسخوتن مونځ وکړو بیا په محصب (خوړ) کښے ډیر وخت اُودهٔ شو بیا خانه کعبے دپاره سور شو نو د بیت الله نه ئے طواف وکړو- (بخاریؒ)

تشریح : یعنی د اختر په څلورمه ورځ باندے رسول الله ﷺ چه کله د منیٰ نه روانیدو نو د ماسپخین او مازیګر او ماښام او ماسخوتن مونځونه ئے په محصب (خوړ) کښے وکړل- بیا اُودهٔ شو-

دا دلیل دے چه جمرات د ایام التشریق د زوال نه پس شروع کیږی او دا ضروری نهٔ ده چه مِنیٰ کښے به مونځ کوی، بلکه که د زوال نه پس ئے جمرات وویشتل او مونځ ئے د منیٰ نه بهر وکړو هم جائز ده لکه دلته نبی ﷺ دغسے کار کړیدے-

رَقْدَةً : مفعول مطلق نوعی دے- یعنی معمولی شان خوب ئے وکړو-

بِالْمُحَصَّبِ : دا د مکے او د مِنیٰ ترمینځ یو فراخه ځائے دے، دے ته مُحصّب ځکه وائی چه دے کښے حَصْبَاء راجمع دی، او حصباء د خوړ ورو کاڼړو ته وائی کوم چه سیلاب

راوړی وی۔ او دا خوړ مکے ته زیات نزدے دے، بلکه د مکے د فناء نه دے چه د هغه غر ترمینځ دے کوم چه د مکے د مقبرے نه دے، او په مابین د هغه مقابل غر کښے دے چه کله ته منیٰ ته ځے نو دا پورته طرف ته په گس اړخ کښے راځی، کله چه ته د وادی د ښکته نه پورته شروع شے، اومقبره د محصب نه حساب نۀ ده۔ او دے محصب ته ابطح هم وائی۔ (اللباب) یعنی د دواړو غرونو نه تر مقبرے پورے ځائے دے۔ (الحافظ)

بِالْمُحَصَّبِ : دا د صَلّٰی سره هم متعلق دے او د رَقَدَ سره هم، په طريقه د تنازع الفعلين سره۔ او دا حديث دليل دے چه رسول الله ﷺ اول مونځ په محصب کښے د ماسپښين کړے وو۔

او دا هم معلومه شوه چه په محصب کښے کوزيدل سنت او مستحب عمل دے که چا ته تکليف نۀ وی نو دلته کوزيدل پکار دی۔ او ددے تفصيل روستو راځی۔

فَطَافَ بِهِ : يعنی بيت الله ته ورغلو دے دپاره چه طوافِ وداع وکړی او سيده مدينے ته روان شی۔

2665 (7) – وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ : سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ ﷺ ، قُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ ؟ قَالَ : بِمِنًى . قُلْتُ : فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالْأَبْطَحِ.ثُمَّ قَالَ اِفْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد العزيز بن رفيعؒ فرمائی : ما د انس بن مالك ﷺ نه تپوس وکړو، ما وويل : ما ته خبر راکړه په هغه شی چه تا د رسول الله ﷺ نه معلوم کړے وی : چه هغۀ د ترويه په ورځ (اتم د ذو الحجه) باندے کوم ځائے کښے د ماسپښين مونځ وکړو ؟ هغۀ وفرمايل : په منیٰ کښے۔ ما وويل : د يوم النفر (يعنی د ذالحجے په ديارلسمه ورځ) ئے د مازيگر مونځ کوم ځائے وکړو ؟ وے فرمايل : په ابطح (خوړ) کښے۔ بيا انس ﷺ وفرمايل: تۀ هغه شان کوه څنګه چه ستا اميران (مشران) کوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : عبد العزيز بن رُفيع الاسدی ابوعبد الله المکیؒ کوفه کښے ئے ديره وو، د مشهور او ثِقات التابعين نه دے۔ عَقَلْتَهُ : يعنی چه تا زده کړے وی۔

يَوْمَ التَّرْوِيَةِ : يعنی په اتمه ورځ د ذی الحجه باندے۔ نو سنت طريقه دا ده چه حاجيان په اتم د ذی الحجه د ماسپښين مونځ منیٰ ته ورسوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

يَوْمَ النَّفْرِ: يعنی په ورځ د وتلو د مِنیٰ نه چه دا د ايام التشريق دريمه ورځ ده۔
علی القاریؒ وائی: محصب هغه كنډو دے چه يو طرف ئے منیٰ ده او بل طرف ئے د ابطح سره متصل دے، او په ابطح باندے ختميږی۔ يعنی محصب هغه سر او ابطح ئے دا سر دے، په همدے وجه راويان په دواړو كښے فرق نهٔ كوی۔
كَمَا يَفْعَلُ : حافظ ابن حجرؒ وائی: انس ﷺ په خپل شاګرد باندے دا يره وكړه چه دے به ددے ځائے كوشش كوی نو د امراؤ په مخالفت كښے به واقع كيږی، نو مخالفت ته به منسوب شی، يا به ترے د جمعے مونځ فوت شی نو ځكه ئے ورته وويل چه ستا اميران چه كوم ځائے مونځ كوی نو هلته مونځ كوه۔ نو پدے كښے هغهٔ ته دا خبرداريے وركول وو چه په هغه زمانه كښے به اميرانو د دغه معين ځائے كوشش نهٔ كولو چه مونځ په كښے وكړی، نو انس ﷺ وفرمايل چه اميران چه څه كوی هغه جائز دی، يعنی دلته د ماسپښين مونځ كول څه لازمی خبره نهٔ ده، پدے به د اميرانو سره جګړے او د هغوی مخالفتونه نهٔ كوے، ځكه چه فتنه راپيدا كول ډير لوی ضرر لری۔ يعنی كه تا نه د عذر په وجه دلته راكوزيدل پاتے شو نو جائز ده۔

2666 (8) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: نُزُوْلُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ إِنَّمَا نَزَلَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهٗ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوْجِهٖ إِذَا خَرَجَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائی: په ابطح كښے كوزيدل (ايساريدل) سنت نهٔ دی، يقيناً رسول الله ﷺ په هغے كښے نازل شو پدے وجه چه هغه (مكے ته) د هغهٔ په وتلو كښے آسانی وركونكے وو كله چه (مدينے طرف ته) اُووځی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : ابطح او محصب خوړ كښے ديره كيدل او هلته پړاؤ اچول قصدی سنت نهٔ دی، بلكه اتفاقی طور سره رسول الله ﷺ هلته پړاؤ اچولے وو، رسول الله ﷺ ته ددے ځائے نه مدينے ته روانيدل آسان وو۔ بله دا چه دے دپاره چه ملګری ورته ټول راجمع شی، او بيا په شريكه روان شی۔ يا مطلب دا دے چه دا د حج د سنتونو نه نهٔ دے۔ ابن المنذرؒ وائی: ددے مطلب دا دے چه دا د حج د هغه احكامو نه نهٔ دے چه د هغے كول لازم وی۔
په روايت د احمدؒ كښے راغلی دی، عائشه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ زما د خاطره په محصب كښے نازل شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

امام مسلمؒ د ابن عمر ﷺ نه روايت راوړيدے چه ابوبكر ﷺ او عمر ﷺ به هم په ابطح خوړ كښې د حج نه روستو نازليدل او پدے كار به عبد الله بن عمر ﷺ هم عمل كولو۔ او دا به ئے سنت ګنړلو۔ نافع رحمه الله فرمائي : رسول الله ﷺ په محصب كښې نازل شويدے او بيا د هغهٔ نه روستو خلفاء هم۔ حافظؒ وائي : هركله چه رسول الله ﷺ دلته راكوز شويدے نو د هغهٔ د تابعدارئ په نيت باندے دے ته نازليدل مستحب دى خاصكر چه د هغهٔ نه روستو خلفاؤ هم پدے عمل كړيدے۔ حاصل دا چه چا ددے د سنيت نفى كړيده لكه عائشه ﷺ او ابن عباس ﷺ نو د هغوى مراد دا دے چه دا د مناسكو نه نهٔ دے، يعنى د حج د افعالو نه نهٔ دے نو ددے په پريخودو باندے هيڅ نهٔ لازميږى، او چا چه دا ثابت ګنړلے دے لكه ابن عمر ﷺ نو د هغهٔ مراد دا دے چه دا په افعالو د نبى ﷺ كښې داخل دے چه د هغے اقتداء او اتباع كولے شى، اګركه لازم به نهٔ وى۔

او معلومه شوه چه په مُحصّب كښې څلور مونځونه او بعض حصه د شپے تيره ول مستحب دى لكه مخكښې حديث د انس ﷺ كښې ذكر شو۔

2667 (9) – وَعَنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : أَحْرَمْتُ مِنَ التَّنْعِيمِ بِعُمْرَةٍ فَدَخَلْتُ فَقَضَيْتُ عُمْرَتِىْ وَانْتَظَرَنِىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَبْطَحِ حَتّٰى فَرَغْتُ فَأَمَرَ النَّاسَ بِالرَّحِيْلِ فَخَرَجَ فَمَرَّ بِالْبَيْتِ فَطَافَ بِهٖ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ . هٰذَا الْحَدِيْثُ مَا وَجَدْتُهٗ بِرِوَايَةِ الشَّيْخَيْنِ بَلْ بِرِوَايَةِ أَبِىْ دَاوٗدَ مَعَ اخْتِلَافٍ يَسِيْرٍ فِىْ آخِرِهٖ.

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائي : ما د تنعيم نه د عمرے احرام وتړلو نو زهٔ (حرم ته) داخله شوم او ما عمره ادا كړه او رسول الله ﷺ په ابطح كښې ما ته انتظار كولو تردے چه زهٔ فارغ شوم، بيا ئے خلكو ته په سفر شروع كولو حكم وكړو نو هغهٔ ووتو او بيت الله باندے ورتير شو د هغے نه ئے طواف وكړو د صبا د مانځه نه مخكښې بيا مدينے طرف ته اُووتو۔ (صاحب المشكاة وائي) دا حديث ما د شيخينو په روايت سره ونهٔ موندو بلكه په روايت د ابو داودؒ سره دے سره د معمولى اختلاف نه په آخر د هغے كښې۔

تشريح : فَقَضَيْتُ عُمْرَتِىْ : يعنى ما د حج نه روستو عمره ادا كړه۔ ددے نه د رسول الله ﷺ اخلاق معلوميږى چه د خپلے بى بى مطالبه ئے پوره كړه كله چه هغے ورته ووئيل چه اے د الله نبى ! تاسو به د حج او عمرے دواړو سره مدينے ته واپس كيږئ او زهٔ به يواځے

Maktaba Tul Ishaat.com

په حج سره، نو د هغې مطالبه ئې پوره کړه چه هغه ئې د هغې د ورور عبد الرحمن ﷺ سره مکې ته پريخوده چه عمره وکړي او بيا مدينې ته په شريکه روان شول.

هٰذَا الْحَدِيْثُ : د مشکاة مصنف په ((صاحب المصابيح)) باندې اعتراض کوي چه ما دا روايت په بخاري او مسلم کښې نۀ دې موندلې بلکه دا د ابوداوډ روايت دې، او د ابوداوډ او د صاحب مصابيح په نقل کړي روايت کښې هم په الفاظو کښې څه اختلاف شته، بيا هم دا روايت مصنف په فصل اول کښې ذکر کړيدې حالانکه په فصل اول کښې خو د بخاري او د مسلم روايت نقل کيږي.

دويم اعتراض دا دې چه د حديث راوي د ابوداوډ مخالفت کړيدې پدې طريقه چه د حديث آخري جزء ئې بعينهٖ هغه نۀ دې نقل کړې کوم چه ابوداوډ روايت کړيدې.

2668 (10) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُوْنَ فِيْ كُلِّ وَجْهٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ آخِرُ عَهْدِهٖ بِالْبَيْتِ إِلَّا أَنَّهٗ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : (د حج نه روستو به) خلك په هر طرف (خپلو علاقو ته) واپس کيدل (د حج نه روستو به ئې طواف وداع نۀ کولو) نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دې ستاسو نه (د مکې نه) نۀ اُووځي تردې چه (د حج د سفر) آخري مرحله د هغۀ د بيت الله سره وګرځي (يعنى هيڅ آفاقي به د طواف وداع کولونه بغير نۀ واپس کيږي) البته دا طواف د حيض (او د نفاس) والا زنانه نه آسان کړې شويدې. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د حج د کارونو نه چه کله فراغت حاصل شي او يو تن د مکې نه خپل وطن ته روانيږي، او د روانيدو نه مخکښې طواف کوي هغې ته طواف وداع وائي. او دې ته طوافِ صدرَ هم وائي. او دې ته طوافِ رخصت هم وائي. دا طواف په آفاقي باندې واجب دې، نۀ په مکه کښې وسيدونکي باندې. او ددې طواف نه روستو به مکه کښې نۀ ايساريږي، که ډير وخت دپاره ايسار شو نو دوباره به ئې کوي، ځکه چه آخري وخت ددۀ د بيت الله سره نشو، او دې بيت الله لره رخصتونکې نشو. البته په حائضه زنانه باندې لازم نۀ دې، هغه بغير د طوافِ وداع نه خپل وطن ته روانيدې شي. او دا طواف

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغه چا هم لازم نۀ دے چه په مكه كښې دننه اُوسيږي او په عمره كونكي باندے هم واجب نۀ دے، (بلكه هغۀ دپاره مشروع هم نۀ دے) او په دے طواف كښې رَمل (پهلواني) هم نشته، او نۀ ددے نه روستو سعي شته۔

البته كه يو تن د حدودو د حرم نه بهر وسيږي او د ميقات نه دننه وي، نو په هغۀ باندے دا طواف شته او كه نۀ؟ دوه قوله دي، (۱) د اصحاب الرأي په نيز چه د ميقات نه دننه وي نو دا په حكم د مكي كښې دے، په دۀ باندے دا طواف نشته۔ (۲) او نور علماء وائي چه په دۀ باندے هم دا طواف لازم دے، ځكه چه دے هم د مكے نه بهر كيدونكے دے، او د بيت الله رخصتونكے دے۔ او دلته رسول الله ﷺ عام الفاظ وئيلي دي چه هيڅ يو تن دِے نۀ بهر كيږي تردے چه طواف د بيت الله وكړي۔ او همدا قول راجح دے۔

فِيْ كُلِّ وَجْهٍ : يعني خلك به د حج نه روستو خپلو خپلو طرفونو ته روان شو، چا به طواف كولو او چا به نۀ كولو۔

دا حديث دليل دے چه طوافِ وداع واجب دے ځكه چه امر پرے راغلے دے۔كه چا پريخودو نو په هغۀ به دم راځي، او دا مذهب د اكثرو علماؤ دے لكه د حسن بصريؒ، حكمؒ، حمادؒ، ثوريؒ، ابوحنيفهؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او ابو ثورؒ دے۔

او امام مالكؒ او ابن المنذرؒ وائي : دا سنت دے چه په پريخودوئے هيڅ شے لازم نۀ دے۔ (نوويؒ) حافظ وائي : په اوسط د ابن المنذرؒ كښې دي چه دا طواف واجب دے ځكه چه پدے باندے امر راغلے دے، ليكن په پريخودوئے هيڅ نشته۔ او همدا خبره حقه ده ځكه چه په دَم باندے دليل نشته ليكن قصداً بلا عذره پريخودل ئے گناه ده۔ انظر فتاوى الدين الخالص (۱۰)۔

2669 (11) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ : حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ فَقَالَتْ : مَا أُرَانِيْ إِلَّا حَابِسَتَكُمْ . قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" عَقْرٰى حَلْقٰى أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ ؟" قِيْلَ : نَعَمْ. قَالَ :" فَانْفِرِيْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ؓ فرمائي : صفيه ؓ د وتلو په شپه (يعني په ديارلسم د ذو الحجه) مـاهـواره بيماره شوه نو وے وئيل : زما خيال دا دے چه زۀ به تاسو (د مدينے د روانيدو نه) ايسار كړم۔ نبي ﷺ (چه خبر شو) وے فرمايل : دا دِے زخمي كړے شي او

Maktaba Tul Ishaat.com

سر دې ئې وخرئیلے شی، (عادتی ښیرې دی) آیا دې د اختر د ورځې طواف کړې ؟ ورته ووئیل شو چه آؤ، نو وې فرمایل: (ایساریدو ته ضرورت نشته) بس (نۀ هم مدینې ته روانه شه. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مطلب د حدیث دا دې چه په کومه ورځ باندې رسول الله ﷺ د مِنیٰ نه راروانیدو نو په دغه ورځ باندې ام المؤمنین صفیه ؓ ماهواری بیماریٔ باندې بیماره شوه نو هغې ووېل چه زما گمان دې چه ما تاسو ایسار کړئ ځکه چه ما باندې خو طواف وداع لازم دې او طواف خو به زما د صفائی او غسل نه پس کیږی او رسول الله ﷺ به ما ته ایسار وی، نو رسول الله ﷺ هغې ته عادتی ښیرې وکړې چه دا ډې زخمی شی او سر دې ئې وخرئیلے شی، یا: الله تعالیٰ ډې ئې هلاکه کړی، (او دا هم عادتی ښیرې دی) او دا ئې پدې وجه وکړو چه د هغۀ دا خیال وو چه گنې دې به فرض طواف نۀ وی کړې، پدې وجه بیا ئې تپوس وکړو چه دې د اختر په ورځ فرض طواف کړې او که نۀ ؟ ووئیلے شو چه هغه خو ئې کړیدې، نبی ﷺ هغې ته حکم وکړو چه هرکله تا طواف افاضه کړیدې نو اُوس په تا باندې طواف وداع لازم نۀ دې، بلکه بغیر د طوافِ رخصت نه خپل وطن ته تللے شی، چنانچه رسول الله ﷺ هغې ته د طواف دپاره ایساریدو نه بغیر روان شو.

عَقْرَیٰ حَلْقَیٰ : دا د عَقْرْ نه دې، زخمی کولو ته وئیلے شی، یعنی الله ډې ئې زخمی کړی، یا معنیٰ دا ده: [جَعَلَهَا عَاقِرًا لَا تَلِدُ] الله تعالیٰ ډې ئې شنډه وگرځوی چه اولاد نۀ راوړی.

او د حَلقیٰ معنیٰ ده: ددې سر ډې وخرئیلے شی چه هغه د زنانه زینت دې، لکه عربو به د مصیبت په وخت سر خرئیلو.

یا معنیٰ ده: [أَصَابَهَا وَجَعٌ فِي حَلْقِهَا] په مرئ کښې ډې ئې درد پیدا شی. ددې معنیٰ هم د هلاکت کیدې شی. قرطبیؒ نقل کړیدی چه دا کلمه به یهودیانو حائضې زنانه دپاره استعمالوله. دا ئې اصل استعمال دې، بیا عربو پدې دوه کلمو کښې فراخی کړیده نو ددې حقیقی معنیٰ نۀ اراده کوی، لکه د قَاتَلَهُ اللهُ او تَرِبَتْ يَدَاهُ وغیره کلماتو په شان. بلکه دا د محبت په طریقه استعمالوی.

دا حدیث دلیل دې چه د عذر په وجه طواف وداع ساقطیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2670 (12) – عَنْ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ : " أَيُّ يَوْمٍ هٰذَا ؟ " قَالُوْا: يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ . قَالَ : " فَإِنَّ دِمَائَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا، أَلَا لَا يَجْنِيْ جَانٍ عَلٰى نَفْسِهٖ وَلَا يَجْنِيْ جَانٍ عَلٰى وَلَدِهٖ وَلَا مَوْلُوْدٌ عَلٰى وَالِدِهٖ أَلَا وَإِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يُّعْبَدَ فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا أَبَدًا وَلٰكِنْ سَتَكُوْنُ لَهٗ طَاعَةٌ فِيْمَا تَحْتَقِرُوْنَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَسَيَرْضٰى بِهٖ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهٗ.

ترجمه : جناب عمرو بن احوص ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه د حجة الوداع په موقعه ئے فرمايل : دا كومه ورځ ده ؟ صحابه كرامو عرض وكړو : د لوى اختر ورځ ده۔ وے فرمايل : يقين وكړئ چه ستاسو وينے او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه ستاسو ترمينځ داسے حرام دى لكه ستاسو پدے ښار كښے ددے ورځے د حرمت (عزت) په شان۔ خبر شئ ظلم كونكے صرف په خپل ځان ظلم كوى (يعنى څوك چه په چا ظلم كوى د هغۀ وبال په همغه راځى چه همدے به پكښے نيولے شى، دا نشى كيدے چه ظلم يو وكړى او ونيولے شى بل) او يو ظالم په خپل بچى باندے ظلم نۀ كوى او نۀ بچے په خپل پلار باندے (ظلم كوى)، خبر شئ شيطان هميشه دپاره ددے خبرے نه نا اميده شويدے چه ستاسو پدے ښار (مكه) كښے د هغۀ عبادت وكړے شى۔ ليكن د هغۀ خبره به منلے شى په هغه اعمالو كښے چه تاسو ئے سپك ګنړئ (او مينځ كښے به هغه هلاكونكى وى) نو شيطان به پدے (هم) راضى كيږى۔ (دا ابن ماجهؒ او ترمذىؒ روايت كړے او دے ته ئے صحيح وئيلے دے)

تشريح : عمرو بن الاحوص الجشمى الكلابى ﷺ، صحابى دے،

يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ : د اختر ورځے ته حج اكبر پدے وجه وائى چه پدے كښے د حج باقيمانده كارونه پوره كيږى۔ او دا قول حافظ ابن جريرؒ غوره كړيدے او دا مذهب د امام مالكؒ، شافعىؒ او جمهورو دے۔ او عمر فاروق ﷺ او ابن عباس ﷺ او طاووسؒ فرمائى چه ددے نه مراد د عرفے ورځ ده۔ ځكه چه رسول الله ﷺ داسے فرمايلى دى : اَلْحَجُّ عَرَفَةُ ۔ حج عرفات كښے حاضريدو ته وائى۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او عوامو کښې چه دا مشهوره ده چه د عرفې ورځ چه کله د جمعې په ورځ راشي نو دا حج اکبر دے، دا خبره خطاء ده. اګر که د هغې دپاره به جدا فضيلت وي. نو حج اکبر صرف حج ته وائي او حج اصغر عمرے ته وائي.

بَيْنَكُمْ حَرَامٌ : مطلب دا دے چه وينه د هريو ستاسو نه په خپل ځان هم حرامه ده او په بل باندے هم. او هرچه مال دے نو دا د ځان دپاره حرام نۀ دے البته په بل باندے د هغې بغير د اجازت نه استعمال حرام دے، او مال په دۀ باندے هم حراميږي کله ئے چه په باطل کښې خرج کوي.

لَا يَجْنِي جَانٍ : دا جمله خبريه ده په معنیٰ د نهي سره ده. يعنی ددے کار نه دِے منع شي. دلته په خپل ځان باندے د جنايت نۀ کولو معنی دا ده چه په بل دِے جنايت نۀ کوي، هرکله چه په بل باندے جنايت کول سبب دے د خپل ځان د جنايت دپاره ځکه چه ددۀ نه به قصاص او بدله اخستے کيږي. نو پدے جمله کښې ډير کمال دے. او دے کار نه منع کيدو ته ډير دعوت دے. او د جنايت نه مراد ګناه او جرم دے.

او په يو روايت د ترمذیؒ او ابن ماجهؒ کښې داسے الفاظ دي : [اِلَّا عَلٰى نَفْسِهٖ] يعنی څوك چه جنايت وکړي نو د هغې وبال به په هم دۀ باندے راځي. او دے به پرے رانيولے کيږي نۀ بل څوك. نو ظاهر دا ده چه دلته د مشكاة په نسخو کښې خطائي واقع شويده.

عَلٰى وَلَدِهٖ : په ځان باندے جنايت کولو ډير صورتونه دي، يو د هغې نه دا دے چه په نورو خلکو باندے جنايت وکړي، او بل دا چه په پلار باندے يا په ځوی باندے جنايت وکړي. يا دا مستقل منع ده د جنايت نه په بچي باندے.

او دلته ئے بچے او پلار خاص ذکر کړو ځکه چه دا انسان ته ډير نزدے وي، هرکله چه دا دواړه کسان د سړي په عمل باندے نۀ رانيولے کيږي نو بل څوك به خامخا نۀ رانيولے کيږي. لکه بل روايت کښې دي : ((بنده به د خپل پلار په جرم باندے نۀ رانيولے کيږي)).

وَإِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ : ددے يو مطلب دا دے چه شيطان ددے نه نا اميده دے چه د غير الله د عبادت په باره کښې د هغۀ خبره اُومنلے شي، يعنی عرب مسلمانان د هغۀ خبره اُومني او شرك شروع کړي.

دويم مطلب دا دے چه کوم مؤمنان ايمان راوړي نو هغوی کښې به يو تن هم د بتانو

Maktaba Tul Ishaat.com

عبادت تـه واپس نشي۔ او دے باندے د مسيلمة الكذاب او د زكاة منع كونكو اعتراض نۀ كيږي ځكه چه هغوى هم د بت عبادت نۀ وو كړے۔

دريمه معنىٰ دا ده چه پدے كښے نبي ﷺ اشاره وركوى چه زما د امت مونځ گذار خلك بـه مونځ او د شيطان عبادت نۀ يو ځائے كوى لكه يهوديانو او نصاراؤ چه دا كار كړے وو۔

دا معنىٰ هم ده چه شيطان ددے نه نا اميده دے چه دين اسلام بدل شي او بيرته شرك په جزيرة العرب كښے راښكاره شي او هميشه پاتے شي او داسے ماحول جوړ شي لكه چه مخكښے د اسلام نه ځنگه وو۔ نو كه يو تن مرتد شي او د بتانو عبادت هم وكړي بيا هم دے خبرے ته هيڅ ضرر نۀ وركوى ځكه چه غلبه د اسلام ده۔ (مرعاة واللمعات)

فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا : يعنى په مكه كښے په ښكاره طريقے سره، ځكه چه كله به كافران مكے تـه په پټـه راتـلـى۔ او په يو بل روايت كښے (فِيْ بِلَادِكُمْ هٰذِهٖ) لفظ راغلے دے، نو ددے نه مكه او ددے ماحول تول جزيرة العرب مراد دے۔

تَحْتَقِرُوْنَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ : يعنى تاسو به بعض عملونه او كارونه معمولى او سپك گنړئ ليكن په هغے كښے به د شيطان طاعت او رضامندى وى۔ ددے اعمالو نه د كفر نه علاوه نـور گـنـاهـونـه دى۔ لـكـه قـتـل او پردى مـالـونـه لوټ كول او غلا كول، او دے حيايئ سامانونه راوړل، او واړۀ گناهونه سپك گنړل۔ دا وجه ده چه تۀ به دروغ او خيانت او وعده خلافى او نور گناهونه په مسلمانانو كښے زيات وينے او په كافرانو كښے به كم وى ځكه چـه شيطـان د كـافـرانـو نـه پـه كـفـر راضى شويدے نو هغوى ته په نورو جزئياتو كښے وسوسے نـۀ اچوى او د مسلمانانو نه چونكه كفر نۀ كيږي او شيطان پدے خوشحاله نۀ دے نـو شيـطـان دوئ باندے د گناهونو كوشش كوى۔ ځكه چه متل دے ((غل هغه كور ته ځى چه هغے كښے قيمتى سامان وى))۔

ددے حديث نه هم د اختر د ورځے د خطبے مشروعيت ثابت شو۔

درجة الحديث : [اسناده صحيح] : أخرجه الترمذى : ۲۱۵۹ ـ وقال حديث حسن صحيح وابن ماجه : ۳۰۵۵.

2671 (13) – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْمُزَنِيِّ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى حِيْنَ ارْتَفَعَ الضُّحٰى عَلٰى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ وَعَلِيٌّ يُعَبِّرُ عَنْهُ وَالنَّاسُ بَيْنَ قَائِمٍ وَقَاعِدٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ .

ترجمه : او رافع بن عمرو مُزني ﷺ فرمائي : ما رسول الله ﷺ وليدو چه خلكو ته ئې په منىٰ كښې خطبه وئيله په سپينه قچره په هغه وخت چه چاشت وخت پورته شو، او علي ﷺ د هغهٔ آواز خلكو ته رسولو او خلك څه ولاړ وو او څه ناست. (ابوداودؒ)

تشريح : رافع بن عمرو بن هلال المزني ﷺ، د مُزينه قبيلې نه دې، د وروړ نوم ئې عائذ بن عمرو ﷺ دې، دې او ددهٔ وروړ او مور او پلار ټول صحابه كرام ﷺ دي. دې او ددهٔ وروړ دواړه په بصره كښې وسيدلي دي.

يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى: دا د اختر اوله ورځ وه لكه روستو (حِيْنَ ارْتَفَعَ الضُّحٰى) لفظ پرې دليل دې.

بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ : يعني سپينه قچره چه د هغې سره لږ تور والې ګډوډ شوې وي. او په يو بل روايت د احمدؒ او ابوداودؒ كښې دي : په عضباء ناقه باندې ئې خطبه وئيله. نو د دواړو ترمينځ تعارض نشته، ځكه چه كيدې شي چه اول كښې ئې خطبه په ناقه وئيلې وي بيا قچرې ته نقل شوې وي، يا دا دواړه په مختلفو وختونو كښې دوه خطبې وې. او يو د دواړو خطبو نه د خلكو د تعليم دپاره وه، او دا د حج خطبې نهٔ دي.

وَعَلِيٌّ يُعَبِّرُ عَنْهُ : يعني علي ﷺ به د رسول الله ﷺ د خبرې تعبير كولو، يعني د هغهٔ خبره به ئې لرې خلكو ته رسوله ځكه چه د رَش د وجه نه د رسول الله ﷺ آواز لرې ملګرو ته نهٔ رسيدو. او بعض كسان ناست وو او بعض به ولاړ وو ځكه چه دا يو لاكهـ ديرش زره كسان وو. (علي القاريؒ) بلكه تر يو لاكهـ څلويښتو زرو پورې رسيدل.

دا حديث دليل دې چه د اختر په ورځ باندې خطبه وئيل مشروع دي.

درجة الحديث : [صحيح] أبوداود ۱۹۵۶ وأخرجه البخاري مختصرا في التاريخ الكبير ۳۰۲/۳ رقم : ۱۰۲۶.

2672 (14) – وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ يَوْمَ النَّحْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجه

ترجمه : عائشه او ابن عباس رضي الله عنهم نه روايت دې چه رسول الله ﷺ طواف

Maktaba Tul Ishaat.com

زیارت د اختر په ورځ شپې ته روستو کړو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : دے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ طواف زیارت د اختر په ورځ شپې ته روستو کړو، او په روایت د جابر رضی الله عنه کښې راغلی دی کوم کښې چه د حجة الوداع تفصیل ذکر دے، چه نبی علیه السلام د قربانۍ کولو نه روستو بیت الله ته راغلو او په مکه کښې ئے د ماسپښین مونځ وکړو۔ دارنګه دا مخالف دے د هغه حدیث هم چه په باب د حلق کښې تیر شو د ابن عمر رضی الله عنه نه چه نبی علیه السلام د اختر په ورځ طواف زیارث وکړو بیا واپس شو او د ماسپښین مونځ ئے په منیٰ کښې وکړو۔ نو ددے اشکال مختلف جوابونه شویدی : (۱) چا وئیلی دی چه دا حدیث د عائشے او ابن عباس رضی الله عنه ضعیف دے۔ لکه دا خبره ابن القطانؒ او ابن حزمؒ وغیره کړیده۔ لهذا تطبیق ته ضرورت نشته۔ (تحفة الاحوذی) یعنی که ددے ظاهری معنیٰ واخستے شی چه د شپے ئے طواف زیارت وکړو نو دا د نورو احادیثو مخالف دے لهذا دا به شاذ او ضعیف وی اګرکه سند ئے صحیح دے۔

(مرشد ذوی الحجا و الحاجة شرح ابن ماجه : محمد امین الاثیوبی (۱۸/۶۲)

(۲) حافظ ابن حجرؒ وائی : امام بخاریؒ د ابو حسان رضی الله عنه روایت نقل کړے چه نبی علیه السلام به د منیٰ په ورځو کښې بیت الله ته بار بار راتللو۔ نو اشاره کوی چه حدیث د جابر رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنه په اوله ورځ محمول دے۔ او حدیث د عائشے رضی الله عنها او ابن عباس رضی الله عنه په باقی ورځو۔ او صرف د کعبے ملاقات غرض وو، طواف ئے نۀ کولو۔ نو دے ته ئے طواف وئیلے په معنیٰ د مزل کولو او ګرزیدو سره۔

(۳) امام نوویؒ وائی : ددے حدیث مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو سره د بیت الله د زیارت دپاره راغلو، او دا طواف زیارت نۀ وو۔

(٤) ددے حدیث دا مطلب هم دے چه د زنانو یا تولو خلکو دپاره ئے د قربانۍ په ورځ شپے پورے د طواف روستو کولو اجازه ورکړے وه۔ او دا مطلب نۀ دے چه خپله ئے د شپے طواف زیارت وکړو۔ (علی القاریؒ والسندیؒ حاشیة ابن ماجه) او دا د دلیل په لحاظ سره ظاهر دے۔

(۵) یا دلته د زیارت نه مراد طواف افاضه (فرض طواف) نۀ دے بلکه د زیارت نه لغوی معنیٰ مراد ده، یعنی ملاقات د بیت الله۔ یعنی رسول الله ﷺ به د فرض طواف نه روستو د منیٰ په ورځو کښې د بیت الله زیارت ته راتللو، او کله چه به ئے زیارت کولو نو

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا به ئې طواف هم كولو. او رسول الله ﷺ به دغه زيارت، د شپې پورې روستو كړلو نو پدې وجه به ئې طواف هم د شپې روستو كړو. (سندیؒ)

درجة الحديث : [صحيح] : أخرجه احمد : ۱/۲۸۸، ۳۰۹، و۶/۲۱۵ وأبوداود : ۲۰۰۰ والترمذی : ۹۲۰ وقال حديث حسن صحيح وابن ماجه : ۴۰۵۹، قال المباركفوری فی التحفة : ضعيف، وقال الألبانی : شاذ. ضعيف ابی داود. والحق انه حديث قوی صحيح ولا منافاة بينه وبين الاحاديث الاخرى للوجوه المتقدمة.

2673 (15) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ** . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ رمل (پهلوانی) ونكړه په هغه اُوه ګردشونو كښې چه په هغې كښې ئې طواف افاضه كولو. (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه رمل (پهلوانی/اُوچت اُوچت قدمونه سره د اُوګو خوزولو نه) په طواف زيارت كښې نشته لكه څنګه چه په طواف وداع كښې نشته بلكه دا صرف په اول طواف قدوم كښې دے چه كله اول ځل بيت الله ته راشي. لكه چه رسول الله ﷺ همدغسې كړی وو.

أَفَاضَ فِيهِ : يعنی په هغه اُوه ګردشونو كښې چه د طواف افاضه دپاره ئې كول.

درجة الحديث : [صحيح] : أخرجه ابوداود : ۲۰۰۱، وابن ماجه : ۳۰۶۰، والحاكم فی المستدرك ۱/۴۷۵ وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبی وقواه الحافظ.

2674 (16) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " **إِذَا رَمَى أَحَدُكُمْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ** ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَقَالَ : إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

2675 (17) - وَفِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ وَالنَّسَائِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : " **إِذَا رَمَى الْجَمْرَةَ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ** ".

ترجمه : او عائشه ﷺ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ وفرمايل : كله چه يو تن ستاسو جمره عقبه اُوولی نو هغهٔ دپاره هر شے حلال شو سوئ د زنانو نه. (بغویؒ په شرح السنه كښې روايت كړے او وئيلی ئې دی چه ددے سند ضعيف دے). او په روايت د

Maktaba Tul Ishaat.com

احمدؒ او نسائيؒ کښې د ابن عباس ﷺ نه نقل دي چه هغهٔ وفرمايل: هرکله چه (يو تن) جمره عقبه وولي نو هغهٔ دپاره هر شے حلال شو سوئ د زنانو نه۔

تشريح: يعني هر کله چه جمره عقبه اُوولي نو کوم شے چه ورله د احرام په وجه حرام وو هغه ورله اُوس حلال شو سوئ د زنانو سره د نزديکت نه، او دے ته اول تحلل وائي او دويم تحلل په طوافِ افاضه سره حاصليږي کوم چه د اختر په ورځ کيږي۔ معلومه شوه چه صرف پدے يو عمل سره هم اول تحلل واقع کيږي اګرکه حلق يا قصر ئے لا نهٔ وي کړے۔

إِلَّا النِّسَاءَ". : يعني زنانو نه فائدے اخستل لکه د نزديکت او ښکلولو او په شهوت سره کوتے ور وړلو، يا نکاح تړل شو۔

درجة الحديث: [صحيح لغيره] ابوداود: ۱۹۷۸، وقال هذا حديث ضعيف، الحجاج لم ير الزهري ولم يسمع منه۔ وقال المنذري الحجاج بن ارطاة لا يحتج بحديثه. (مختصر السنن) واخرجه احمد: ۱۴۳/۶، عن ابن عباس. وقال شعيب في تعليق المسند (۲۵۱۰۳) صحيح لغيره لان له اسانيد من غير طريق الحجاج بن ارطاة.

2676 (18) – وَعَنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: أَفَاضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ حِيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَجَعَ إِلٰى مِنًى فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ يَرْمِي الْجَمْرَةَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ كُلَّ جَمْرَةٍ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ وَيَقِفُ عِنْدَ الْأُوْلٰى وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيْلُ الْقِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ فَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: او عائشه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ طواف افاضه د قربانۍ د ورځے په آخري حصه کښې په داسے وخت کښې وکړو چه د ماسپښين مونځ ئے وکړو بيا منیٰ ته واپس شو نو په منیٰ کښې د تشريق په ورځو کښې ئے شپے تيرے کړے چه جمره به ئے په هغه وخت ويشته چه نمر به زائل شو هره جمره به ئے په اُوه کانړو، (ويشته) د هر کانړي سره به ئے تکبير وئيلو او د اولے او د دويمے سره به (د دعاء دپاره) اُودريدو نو اُوږد ودريدل به ئے کول او (په دعاء کښې به ئے) عاجزي کوله او دريمه جمره به ئے اُوويشته نو د هغے سره به نهٔ ودريدو۔ (ابوداودؒ)

تشريح: يعني رسول الله ﷺ په آخر د يوم النحر کښې طوافِ افاضه (طواف زيارت)

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړو۔

حِيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ : ددې روايت نه معلوميږي چه رسول الله ﷺ د ماسپښين مونځ په مکه کښې کړې وو او طواف ئې د زوال نه روستو بلکه د مانځه نه روستو شروع کړې وو۔ لکه چه د آخِرُ يَوْمِهٖ لفظ نه معلوميږي۔ حالانکه دا د ابن عمر ﷺ د روايت مخالف دې چه په هغې کښې دې چه طواف ئې د ظهر نه مخکښې وکړو۔

علي القاريؒ د دواړو تطبيق داسې کړيدې چه بعيده نۀ ده چه ددې نه د ايام النحر بله ورځ مراد وی چه په هغه ورځ ئې په منیٰ کښې د ماسپښين مونځ وکړو او بيا د خپلو بيبيانو سره په آخر د ورځ کښې د هغوی د طوافِ زيارت دپاره راغلو۔

ليکن صحيح دا ده چه د (آخر يومه) نه مراد د نصف النهار نه بعد زمانه ده، ځکه چه نبی ﷺ د نصف النهار نه بعد وخت کښې په مکه کښې وو نو ځکه ئې دا تعبير کړې او دا تغليب دې۔ تدبر۔

او د بعض علماؤ (لکه شيخ البانیؒ) په نيز باندې پدې روايت کښې د (حين صلى الظهر) الفاظ منکر دی۔ لهذا بيا تطبيق ته ضرورت نشته۔

إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ : دا دليل دې چه د اختر د ورځې نه روستو به نور جمرات د زوال نه پس ولی۔

فَيُطِيْلُ الْقِيَامَ : يعنی د اذکارو او تکبيراتو او استغفار او دعاګانو دپاره به اُودريدو۔

وَيَتَضَرَّعُ : يعنی الله تعالىٰ ته به ئې په هر قسم دعاګانو او په حاجاتو پيش کولو سره عاجزی کوله۔

وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ : يعنی جمره عقبه چه به ئې وويشته نو بيا به د دعاء دپاره نۀ اُودريدو۔

درجة الحديث : [صحيح] أحمد : ٦/٩٠ وابوداود : ١٩٧٣ وابن حبان فی صحيحه والدارقطنی ٢/٢٧٤، : ١٧٩ والحاكم : ١/٤٧٧، وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبی۔ وقال الالبانی : صحيح، الا قوله : حين صلى الظهر، فهو منكر۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2677 (19) – وَعَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: رَخَّصَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ: أَنْ يَرْمُوا يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ يَجْمَعُوا رَمْيَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ فَيَرْمُوهُ فِي أَحَدِهِمَا . رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ

ترجمه: او ابو بداح بن عاصم بن عدی د خپل پلار (عاصم ﷛) نه روایت کوی فرمائی: چه رسول الله ﷺ د اُوښانو څروونکو له اجازت ورکړو چه دوئ د مِنیٰ نه بهر شپه تیره کړی، چه دوئ به د اختر په ورځ جمره ولی، بیا به دوئ د اختر د ورځے نه روستو د دوه ورځو رمی جمع کړی نو په یوه د دواړو ورځو کښے به ئے اُوولی. (مالك، ترمذیؒ، او نسائیؒ. او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث صحیح دے).

د ابو البداح ﷛ تعارف: البداح: د باء زیر، او د دال په شد سره د عاصم بن عدی ﷛ ځوی دے، چه په قُضاعه قبیله کښے د بَلِی خاندان نه دے، انصاری صحابی دے، ابو البداح ئے لقب دے او خپل نوم ئے عدی دے. په سنه (۱۱۷ ھ) کښے وفات شوے. ابن عبد البرّ دا په صحابه کرامو کښے شمارلے دے او دا ئے وئیلی دی چه صحیح قول هم دا دے، او دا د سُبَیعَه اسلمیه ﷝ خاوند وو بیا ترے وفات شو او بیا په هغے باندے ابو السنابل بن بعکك ﷛ چرگه وکړه.

لیکن حافظ په «اصابه» کښے په ابن عبد البرّ باندے رد کړے، او دا ئے وئیلی دی چه امام مالك نقل کړی چه ددهٔ نه عبد الله بن ابی بکر بن محمد بن عمرو بن حزم روایت کوی، او ابوبکر بن محمدؒ د رسول الله ﷺ زمانه نهٔ ده موندلے، ددے نه معلومیږی چه ابو البداح تابعی دے، او د رسول الله ﷺ د وفات نه پنځلس کاله روستو پیدا شوے.

او پلار ئے عاصم بن عدی ﷛ دے، چه د بنو عجلان قبیلے سردار وو او د معن بن عدی ﷛ ورور دے. او دے بدری صحابي دے، بعض وائی: رسول الله ﷺ سره بدر ته روان شو، په لاره کښے تکلیف کښے شو نو رسول الله ﷺ د روحاء نه راواپس کړو او په عوالی علاقه باندے ئے نائب مقرر کړو. او ددهٔ دپاره ئے د غنیمت برخه او اجر هم مقرر کړو. په سنه (٤٥) ھ کښے د (۱۱۵) کالو یا (۱۲۰) کالو په عمر وفات شو.

او ځینے وائی: د یمامے د جنگ په ورځ شهید شو. دا وخت ددهٔ عمر (۱۲۰) کاله وو.

تشریح: [رَخَّصَ] بله نسخه کښے [أَرْخَصَ] لفظ دے، دواړه یوه معنیٰ لری، یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

اجازت او رخصت ورکول۔ [رِعَاءِ] د راء په زیر سره، جمع د راعي ده۔ [الْبَيْتُوتَةِ] شپه تیرول، که خوب سره وی او که بغیر د خوب نه۔ او دلته د منیٰ نه بهر شپه تیرول مراد دی۔ یعنی نبی کریم ﷺ دوئ ته د خپلو اُوښانو د سنبالولو دپاره د مِنیٰ نه لرے، ددے د حفاظت او څوکیدارئ دپاره په منیٰ کښے د شپے نهٔ تیرولو اجازت ورکړے۔ ځکه چه که دوئ په منیٰ کښے شپه تیره کړی نو اُوښان ئے ضائع کیږی۔ یا د فی البیتوتة معنیٰ ده۔ اَیْ فِیْ تَرْكِ الْبَيْتُوتَةِ۔ په شپه نهٔ تیرولو کښے۔

[ثُمَّ يَجْمَعُوا رَمْىَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ] : یعنی دوئ به د یوم النحر په صبا له (د یولسمے ورځے) او بل صبا له (د دولسمے ورځے) رمی په یوه ورځ کښے وکړی۔ مطلب دا چه د دوه ورځو رمی به جمع کوی۔ دا یا جمع تقدیم ده، پدے طریقه چه د اختر په دویمه ورځ چه دا یولسمه ورځ ده ددے ورځے جمره هم ولی او د دولسمے ورځے هم۔ بیا به د دولسمے ورځے ویشتل ورته معاف شی یعنی دے دپاره راتلل به ورته معاف شی۔

یا جمع تاخیر ده پدے طریقه چه د اختر په صبا له به رمی پریدی او په دولسمه ورځ به د یولسمے ورځے جمرات هم ولی او د دولسمے ورځے هم۔ خطابیؒ جمع تقدیم هم د بعض اهل علمو نه نقل کړیده۔ مگر جمهور او ائمه اربعهؒ وائی چه جمع تقدیم جائز نهٔ ده او دا حدیث ئے په جمع تاخیر باندے حمل کړیدے۔ ځکه چه د عمل قضاء د وجوب نه پس راوړے کیږی لکه دا خبره امام مالكؒ په "موطأ" کښے کړیده۔

فوائد او مسائل : (۱) په دے حدیث کښے هم د رخصت د لفظ نه معلومه شوه چه د عامو حاجیانو دپاره د مِنیٰ شپے په منیٰ کښے تیرول واجب دی۔ او دا د مالكؒ، شافعیؒ او احمدؒ رائے ده۔ او ابو حنیفهؒ، حسن بصریؒ او ابن حزمؒ په نیز مسنون دی، ځکه نبی ﷺ په دے امر نهٔ دے فرمایلے۔

څوك چه دیته واجب وائی نو ددے په پریښودو کښے دَم لازم گنړی۔ او څوك چه ئے سنت گنړی نو هغوئ ددے په پریښودو کښے دَم لازم نهٔ گنړی۔ لیکن راجحه داده چه د وجوب په صورت کښے هم د دَم په لازموالی شرعی دلیل نشته۔ هان قصداً پریخودل ئے گناه ده او د عذر په وجه که په منیٰ کښے شپه پاتے شی نو حرج به نهٔ وی ان شاء الله تعالیٰ۔

(۲) او معلومه شوه چه د شپونکیانو دپاره د اُوښانو د څرولو د ضرورت د وجے دا

Maktaba Tul Ishaat.com

رخصت ورکړے شو چه دوئ د منیٰ شپے د منی نه بهر تیرے کړی۔

(۳) او د دوئ د رمی په باره کښے تفصیل دادے چه دوئ به د اختر د ورځے رمی د نورو خلکو سره شریکه وکړی، او بیا به د اُوښانو څرولو دپاره لاړ شی، او کله چه په دولسمه ورځ واپس مِنیٰ ته راشی نو د ذو الحجے د یولسم تاریخ رمی به د دولسم تاریخ د رمی سره شریکه وکړی، خو په دے کښے به د ترتیب لحاظ ساتی چه اول به د یولسمے ورځے دپاره رمی وکړی او بیا دولسمے ورځے دپاره۔ او د دیارلسمے ورځے رمی به په دیارلسمه ورځ کوی (که تادی نهٔ کوی)۔ ددے نه معلومیږی چه د رمی تاخیر ددے نه اولیٰ دے چه د هرے ورځے رمی څوك چاته په وکالت سره وسپاری، څکه نبی ﷺ شپونکیانو ته په تاخیر کښے رخصت ورکړے، که چرے د دوئ دپاره توکیل مشروع وے نو خامخا به ئے ورته دا ښودلے وے۔ څکه چه توکیل آسان وو۔

(٤) دا رخصت او اجازت یواځے شپونکیانو او سقایه والو پورے خاص نهٔ دے بلکه هر هغه چاته شامل دے چه د دوئ پشان ضرورت لری لکه چا سره مال وی چه د هغے ضائع کیدو نه یریږی، یا یو مریض لری چه هغه یواځے نشی پریښودے یا خپله د بیماریٔ د وجے د مکے په هسپتال کښے پروت وی او مِنیٰ ته نشی وتلے، نو دے تولو دپاره د مِنیٰ شپے بهر تیرول جائز دی۔

(۵) که چانه د ورځے رمی پاتے شی آیا د شپے به ئے کوی اوکه صبا له ورځے ته به ئے پریدی؟ راجحه داده چه د شپے ئے هم کولے شی څکه نبی ﷺ د رمی اولنے وخت ښودلے دے چه دا د زوال نه پس وخت دے او آخرنے وخت ئے نهٔ دے ښودلے، نو د ورځے رمی عزیمت شو او د شپے رخصت شو۔ بله دا چه: شپه په بعضِ مناسکو کښے د ورځے تابع ده لکه چانه چه د ورځے د عرفات وقوف پاتے شی نو هغه د شپے هم وقوف کولے شی۔ او همدا د اسلام د یُسر اوسماحت سره موافق قول دے خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښے چه د حاجیانو تعداد ډیر زیات شوے او د ورځے ډیر زیات ازدحام او گڼه گوڼه وی چه ددے په وجه ښځو، ماشومانو او عمر رسیده خلکو ته تکلیف وی۔ ددے تائید دادے چه امام مالك د نافع نه نقل کړی چه ((د صفیة بنت عبید ﵂ وریره په مزدلفه کښے حائضه شوه نو دا او صفیه دواړه روستو پاتے شوے تردے چه د اختر په ورځ د نمر ډوبیدو نه پس مِنیٰ ته راغلے، نو عبد الله بن عمر ﵁ دے دواړو ته حکم وکړو چه راتلو سره دوئ جمره

وولی او په دے دواړو باندے ئے هيڅ شے لازم نۀ کړو»

[موطأ : ۱۲۲۳، بيهقي: ۹٦۷۱، واسناده صحيح]

(٦) بيا د جمهورو په نيز جمع تاخير جائز ده نو آيا پدے تاخير سره دَمُ واجبيږی او که نۀ؟ نو ائمه ثلاثهٔ سره د ابويوسفؒ او محمدؒ نه وئيلی دی چه هيڅ پرے نشته، ځکه چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړو او دم ئے ذکر نکړو، او تاخير د بيان د وخت د حاجت نه جائز نۀ دے۔ او عقلی دليل دا دے چه د شپونکيانو دپاره تولے ايام التشريق د يوے ورځے په شان دی۔ او ابوحنيفةؒ وائی چه دم پرے لازم دے۔ ليکن په قول باندے ئے دليل نشته۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه مالك في الموطأ : ۱/۴۰۸، رقم : ۲۱۸، وأحمد ۵/۴۵۰ والدارمي : ۲/٦۱، ٦۲ وأبوداود : ۱۹۷۵ والترمذی : ۹۵۵ وقال حديث حسن صحيح والنسائي : ۴/۲۷۳ وابن ماجه : ۳۰۳۷.



Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱- بَابُ مَا يَجْتَنِبُهُ الْمُحْرِمُ

بیان د هغه کارونو چه محرم ترې ځان ساتی۔

او دې سره بل جانب مراد دې چه د هغه شی بیان چه محرم ترې ځان نهٔ ساتی۔
یعنی کوم کارونه د محرم دپاره حرام او کوم ورله حلال دی؟

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2678 (1) - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟ فَقَالَ: " لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا السَّرَاوِيْلَاتِ وَلَا الْبَرَانِسَ وَلَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوْا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا وَرْسٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَزَادَ الْبُخَارِيُّ فِيْ رِوَايَةٍ: "وَلَا تَنْتَقِبِ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ ".

ترجمه: عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دې چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چه محرم به کومې جامې اغوندی؟ نو وې فرمایل: تاسو قمیصونه مهٔ اغوندئ او نهٔ پټکی او نهٔ پرتوګونه او نهٔ کوتونه (چوغې / د بلوز توپئ) او نهٔ موزې مګر که یو تن چپړې نهٔ مومی نو موزې دې واغوندی او هغه دې د ګیټونه لاندې پرېکړی او تاسو د جامو نه هیڅ جامه مهٔ اغوندئ چه هغې ته زعفران او ګلِ ورس رسیدلې وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ، او بخاریؒ په یو روایت کښې زیات ذکر کړیدی: او محرمه زنانه به نقاب نهٔ اغوندی او نهٔ به دستانې /دست کشې) اغوندی۔

تشریح: رَجُلًا: ددې رجل نوم نهٔ دې خودلې شوې۔

[سَأَلَ] دا سوال ترې په مدینه کښې په هغه وخت شوې وو کله چه هغوئ خطبه ورکوله، او د سفر اراده ئې کړې وه۔ [اَلْمُحْرِمُ] برابره خبره ده که د حج احرام تړونکې وی او که د عُمرې۔ او ددې محرم نه مراد په اجماع د علماؤ سره نارینه دې، لکه په بعض

Maktaba Tul Ishaat.com

روایاتو کښې ددې تصریح هم راغلې.

[لَا تَلْبَسُوْا] د نبی کریم ﷺ نه سائل د هغه لباس پوښتنه کړې چه محرم دپاره ئې آغوستل جائز وی، خو نبی کریم ﷺ هغهٔ ته د هغه لباس جواب ورکړې چه محرم دپاره ئې آغوستل منع دی، ځکه چه جائز لباسونه ډیر دی او ناجائز په یو څو لباسونو کښې راګیر دی نو ځکه ئې همدا ورته ذکر کړل، او مطلب دا چه ددې مذکوره لباسونو نه علاوه محرم نور لباسونه اچولې شي. او دیته په علمِ بلاغت کښې اسلوب الحکیم وائی، او دا د نبی کریم ﷺ جوامع الکلم او ښائسته جواب دې. او په دې کښې اشاره وه چه سائل له د جواب مطابق تپوس پکار دې.

الْقُمُصَ : جمع د قمیص ده، او په دې کښې کوټ، واسکټ، چپن ټول داخل دی.

الْعَمَائِمَ : جمع د عمامة ده. عِمامه (پټکې) : او په دې کښې پکول او په سر رومال او څادر اچول، پټۍ تړل داخل دی.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : که پچۍ په سر کړی، یا نور سامان په سر باندې کیږدی او په هغې سرهٔ ئې عارضی د سر ویختهٔ پټ شی نو د ضرورت په وخت پدې باندې هیڅ حرج نشته، دارنګه په اُوبو کښې غوپه وهل دا هم سر پټونکې نهٔ شمارلې کیږی.

[السَّرَاوِيْلَاتِ] جمع د سراویل ده، پرتوګ. او په دې کښې پتلون، جانګې وغیره داخل دی. [الْبَرَانِسَ] جمع د بُرنُس ده، هغه توپۍ چه قمیص یا جانفر او بلوز پورې نښتې وی چه په دې کښې سر او بدن دواړه پټیږی. او په دې کښې عَبَاء (چپن) او چوغه داخله ده.

[الْخِفَافَ] جمع د خف ده موزه. او جورابه هم په دې کښې داخل ده.

[النَّعْلَيْنِ] څپلۍ، چپل چه د زمکې نه د خپې حفاظت کوی او پوره قدم نهٔ پټوی.

[اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ] د ګیټو نه لاندې دې ئې پریکړی چه د څپلو غوندې شی.

[زَعْفَرَانٌ] یو زیړ خوشبویه بوټې. [وَرْسٌ] سُور بخن خوشبویه بوټې. چه د زعفران مشابه دې، دا د رنګ په ځائے کار ورکوی. واضحه دې وی چه دا منع د رنګ په وجه نهٔ ده بلکه د خوشبوئی په وجه ده.

فوائد : (۱) دا ذکر شوی لباسونه صرف د نارینهٔ دپاره منع دی، او ددې د منع کیدو **حکمت** دادې چه په دې کښې محرم خشوع خضوع او عاجزئ والا ښکاری، دارنګه په دې کښې مساوات غرض دې چه غریب او مالداره ټول یو لباس اچوی چه د فخر او

Maktaba Tul Ishaat.com

مباهات څهٔ وجه پاتې نشي، او په دې سره خپلو کښې یو بل سره مینه پیدا کیږي، ځکه د لباس وحدت د زړونو د اُلفت سبب ګرځي.

دارنګه په دې سره محرم ته خپل عبادت رایادیږي او بیا هر وخت د خپل رب په عبادت کښې مشغوله وي او د ګناهونو نه ځان ساتي. دارنګه په دې سره ورته مرګ هم رایادیږي چه یوه ورځ به دا شان سپین لباس رانه تاؤ وي او د الله مخې ته به پروت یم.

ددې لباسونو نه بعضِ فقهاؤ - لکه ابراهیم نخعیؒ - په ((مَخِیط)) سره تعبیر کړې یعنې ګنډل شوې لباس، خو ددې نه ځینې خلکو ته دا وهم راځي چه ګنې هر قِسم ګنډل شوې لباس منع دې نو دوئ بیا پوښتنې کوي چه په څپلو کښې هم ګنډ تیر شوې وي یا یو سرې داسې لنګ یا څادر اچوي چه هغې ته پیوند اچول شوې وي نو آیا دا به جائز نهٔ وي ځکه چه په دې کښې ګنډ دې؟ حالانکه دا جائز دي، دې وجې نه صرف هغه تعبیر پکار دې کوم چه په سُنت کښې راغلې او کوم شیان چه ددې په حکم کښې دي.

(۲) مُحرم دپاره د زعفران او ورس خوشبوئي لګول هم منع دي، او ددې په حکم کښې ټول عطرونه او خوشبویانې داخلې دي. او دا منع د نارینه او زنانه دواړو دپاره ده. لکه په فصل ثاني کښې روایت راروان دې.

(۳) او معلومه شوه چه چاسره څپلۍ نهٔ وي نو هغه دې موزې په خپو کړي او هغه دې د ګیټو نه لاندې پریکړي چه څپلۍ ترې جوړې شي، خو د ابن عمرؓ په دې حدیث کښې دا حکم د ابن مسعودؓ په حدیث سره منسوخ شوې. چه په هغې کښې دا الفاظ دي: [مَنْ لَّمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ، وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ إِزَارًا فَلْيَلْبَسِ السَّرَاوِيْلَ] [بخاري: ۱۸٤۱، مسلم: ۱۱۷۸.]

په دې کښې د پریکولو حکم نشته، او دا ځکه چه د ابن عمرؓ حدیث نبي کریم ﷺ په مدینه کښې فرمایلې وو، او د ابن عباسؓ حدیث ئې د عرفات په خطبه کښې فرمایلې چه دیته یو داسې لوئي جماعت حاضر شوې کوم چه د ابن عمرؓ د حدیث په وخت نهٔ وو حاضر شوې. او دا هم نشو وئیلې چه مطلق (د ابن عباسؓ) حدیث به په مقیّد (د ابن عمرؓ) په حدیث حمل کړې شي ځکه په دې کښې تاخیر د بیان راځي د وخت د حاجت نه او دا جائز نهٔ ده. یعني د قطع حکم ټول عرفات والو نهٔ دې آوریدلې حالانکه دوئ ورته حاجت لرلو. او همدا راجح قول دې په دې مسئله کښې. او د نسخ دا قول

Maktaba Tul Ishaat.com

دارقطنیؒ د ابو بکر النیسابوریؒ نه نقل کړیدے۔ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ راجح کړیدے۔

وَلَا تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ : دا حکم ئے د مخکښې نه جدا راوړو ددے عدول یوه وجه حافظ ابن حجرؒ ذکر کړیده چه پدے کښے اشاره ده چه پدے حکم کښے سړی او زنانه برابرے دی۔ او بعضو وئیلی دی چه نکته دا ده چه کومے کپړے ته زعفران او وَرس رسیدلے وی د هغے اغوستل د سړو دپاره مطلقاً حرام دی په احرام کښے وی او که بهر د احرام نه۔ زرقانیؒ وائی : دواړو نکتو کښے هیڅ منافات نشته۔

وَلَا وَرْسٌ : دا د شړشم دانے په شان بوټے دے۔ په یمن کښے پیدا کیږی، ابن عربیؒ وائی : دا خوشبوئی نۀ ده لیکن ښکلے خوشبوئی لری نو پدے کښے اشاره ده چه محرم به د خوشبوئی نه هم ځان ساتی او کوم شے چه د خوشبوئی سره نزدے وی۔

[وَلَا تَنْتَقِبِ الْمَرْأَةُ وَلَا تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ] (ښځه به په مخ نقاب (پرده) نۀ اچوی او نۀ به لاسونو ته دستانے اچوی) نو ددے نه معلومه شوه چه ددے دوه لباسونو نه سِویٰ ښځه نوره هره جامه اچولے شی، یو نقاب چه په دے کښے د سترګو دپاره سوری جوړ شوی وی۔ او دویم: دستانے چه په دے کښے لاسونه پټیږی۔ او ښځه ددے نه ځکه منع شوه چه د احرام حالت ددے د عادی حالت نه جدا شی۔ او نور ددے دپاره هر قِسمه ګنډلے جامے جائز دی۔ دارنګه د نقاب منع کیدو نه دا نۀ لازمیږی چه ګنے ښځه به مخ نۀ پټوی بلکه که د پردو سړو د کتلو خطره وی نو ښځه به په مخ باندے کپړه رازوړندوی۔ لکه چه امهات المؤمنین رضی الله عنهن به د رسول الله ﷺ سره د حج په سفر کښے داسے کول۔ برابره خبره ده که دغه رازوړنده شوے جامه ئے د مخ سره لګیږی اوکه نۀ۔

مسئله : پدے حدیث کښے د زنانه دپاره د مخ پټول په حالت د احرام کښے منع شو، آیا سړے پدے حکم کښے داخل دے؟ (۱) نو ظاهر ددے حدیث دا دے چه دا حکم د زنانه پورے خاص دے، او سړی دپاره مخ پټول جائز دی او په دۀ باندے به هیڅ فدیه نۀ وی او دا مذهب د شافعیؒ، احمدؒ او جمهورو دے۔ او پدے کښے د عثمان بن عفان رضی الله عنه او زید بن ثابت رضی الله عنه آثار موجود دی۔ (۲) امام ابوحنیفهؒ او مالکؒ وائی چه مخ پټول د سر په شان حرام دی، دوئ سړے پدے حکم کښے په زنانه باندے قیاس کړے چه هرکله زنانه د مخ پټولو نه منع شوه سره ددے نه چه د هغے مخ پټولو ته ضرورت هم شته نو سړے ډیر

Maktaba Tul Ishaat.com

لائق دے چه په هغهٔ باندے مخ پټول حرام شي۔ **بل دليل** د نبي ﷺ هغه ارشاد دے چه د يو صحابي په باره کښے ئے فرمائيلے وو چه هغه د اُوښ نه پريوتو سره وفات شوے وو، وے فرمايل : [وَلَا تُخَمِّرُوْا وَجْهَهٗ وَلَا رَأْسَهٗ] [مسلم : ۲۹۵۳] ددهٔ مخ او سر مهٔ پټوئ۔

جمهورو ددے نه دا جواب ورکړے چه د مخ پټولو نه منع د سر د ساتلو دپاره وه، نهٔ پدے وجه چه د هغهٔ مخ دِے ښکاره کړے شي۔ او دا تاويل ضروري دے ځکه چه احناف او مالکيه د احرام اثر د مرګ نه روستو باقي پريخودو باندے قائل نهٔ دي، نهٔ په سر کښے او نهٔ په مخ کښے، نو ددے حديث په ظاهر باندے دوئ هم قول نهٔ دے کړے۔ بيا پکښے د احنافو مذهب دا دے چه که ټول مخ ئے يوه ورځ او يوه شپه په ګنډلے شوے او غير ګنډلے شوے کپړے سره پټ کړو نو دهٔ باندے به دَم لازم وي او که کم وي نو بيا به صدقه ورکوي۔ لکه د هغوي د فروعو په کتابونو کښے ددے تفصيل موجود دے۔

ابن حزمؒ پکښے بل قول دا کړے چه که محرم ژوندے وي نو مخ پټولے شي او که مړ شو نو بيا مخ پټول حرام دي۔ په ظاهر د حديث باندے ئے عمل کړے۔ (قاله الحافظ ابن حجرؒ) وهو الظاهر دليلاً۔

2679 (2) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ وَهُوَ يَقُوْلُ : "**إِذَا لَمْ يَجِدِ الْمُحْرِمُ نَعْلَيْنِ لَبِسَ خُفَّيْنِ وَإِذَا لَمْ يَجِدْ إِزَارًا لَبِسَ سَرَاوِيْلَ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه خطبه ئے وئيله نو هغهٔ وفرمايل : کله چه محرم چپړے نهٔ مومي نو موزے دِے واغوندي او کله چه لنګ نهٔ مومي نو پرتوګ دِے واغوندي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : يَخْطُبُ : دا خطبه ئے په عرفات کښے ورکوله۔

لَبِسَ خُفَّيْنِ : پدے کښے جمهورؒ وائي چه دلته ورسره دا مراد دے چه د ګيټو نه خکته به ئے پريکوي لکه حديث د ابن عمر رضي الله عنه پرے دليل دے۔ او امام احمدؒ وائي چه پريکول ضروري نهٔ دي، رسول الله ﷺ مطلق وئيلي دي او همدا قول راجح معلوميږي۔

لَبِسَ سَرَاوِيْلَ: دا حديث دليل دے چه چاته لنګ نهٔ ملاويږي نو هغه دِے په پرتوګ کښے احرام وتړي۔ او په دهٔ باندے په دے کښے هيڅ فديه نشته، ولے که فديه واجب وے نو

Maktaba Tul Ishaat.com

خامخا به نبی کریم ﷺ ددې تذکره کړې وې۔ او دا مذهب د امام احمدؒ او شافعیؒ دې۔ او په دې کښې په مالکیانو او احنافو رد دې۔ هغویٔ وائی : پرتوګ به آغوندي خو فدیه به ورکوی۔ ظاهر دا ده چه هغوی ته دا حدیث نۀ دې رسیدلې۔ لکه موطأ کښې امام مالك نه تپوس شوې نو هغۀ وویل چه ما پدې باره کښې کوم حدیث نۀ دې آوریدلې، او نبی ﷺ د پرتوګ آغوستو نه منع فرمائیلې ده (مخکښې حدیث د ابن عمرؓ کښې ذکر شوه) انتهیٰ۔ لیکن هغه منع په وخت د وجود د لنګ کښې ده، او دا حدیث د لنګ د نۀ موجودیدو په صورت کښې دې۔

تنبیه : په دې وخت کښې د حج د احرام دپاره په بازارونو کښې داسې لنګ ملاویږی چه د هغې بره طرف د پرتوګ پشان وی او لاندې طرف ئې د لنګ پشان وی، دا اغوستل خلافِ سُنت دی، بلکه صرف لنګ او څادر آغوستل مسنونه طریقه ده۔

2680 (3) – وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ ﷺ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ أَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ وَهٰذِهِ عَلَيَّ . فَقَالَ : " **أَمَّا الطِّيبُ الَّذِي بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَأَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجِّكَ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او یعلی بن امیه ؓ فرمائی : مونږ د نبی کریم ﷺ سره په جعرانه کښې وو، چه اچانك یو بانډچی سړې راغلو چه په هغۀ باندې یوه چوغه وه او هغه په خلوق (زعفرانی رنګ) باندې رنګ شوې وو، نو عرض ئې وکړو اې د الله رسوله ! ما د عمرې احرام په داسې حالت کښې وتړلو چه زما په جسم باندې دا کُرته (چوغه) وه؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : هرچه هغه خوشبوئی ده چه په تا ده نو دا درې ځله اُووینځه او هرچه چوغه ده نو هغه اُوباسه بیا په خپله عمره کښې هغسې کوه څنګه چه تۀ په حج کښې کوې۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یعلی بن امیه بن ابی عبیدة التمیمی ؓ د قریشو حلیف دې، چه په یعلی بن مُنیه باندې مشهور دې۔ او منیه ئې مور وه، او بعض وائی چه د پلار د طرف نه نیائې وه، ددۀ کُنیه ابو خلف دې، د مکې د فتح په ورځ ئې ایمان راوړې، او طائف او حنین کښې د رسول الله ﷺ سره حاضر وو، او د رِدّت په زمانه کښې ابوبکر صدیق ؓ په حُلوان

Maktaba Tul Ishaat.com

بانـدې ګـورنـر مقرر کړې وو، بيا ئې د عمر فاروق ﷛ دپاره د يـمـن په بعض حصه باندې ګـورنـري وکړه نو د ځان دپاره ئې يو ځائې چراګاه جوړه کړه نو عمر فاروق ﷛ معزول کړو، بيا ئې د عثمان ﷛ دپاره په صنعاء اليمن باندې ګورنري وکړه او د عثمان ﷛ د شهادت په کال ئې حج وکړو، او د عائشې ﷞ سره په واقـعـه د جمل کښې شريك شو، بيا په صفين کښې د علي ﷛ سره ملګرې وو، او دې ډير سخاوت والا وو چه په کرم او سخاوت مشهور وو، (۱۹) حديثونه ئې امت ته نقل کړيدي، په سنه (٤۷ هـ) کښې وفات دې۔

بِـالْجِعْرَانَةِ : دا د طائف او د مـکـې تـرمينځ يو ځائې دې۔ او مکې ته زيات نزدې دې، او د غزا د حنين نه پس ددې ځائې نه رسول الله ﷺ د عمرې احرام تړلې وو۔

رَجُلٌ : ددې تـعـيـيـن نـۀ دې شـوې البتـه حـافظ ؒ وائي : حقه دا ده چه ددې نه مراد خپله يعلى بن اميه ﷛ دې۔ لکه په روايت د طحاوي ؒ کښې راغلې دې۔

مُتَضَمِّخٌ : ککړ، /متلوث وو، /خوشبوئي لګونکې وو۔

بِـالْخَلُوْقِ : دا يـو قسـم خـوشبـوئـي ده چه زعفران پکښې اچولې شي۔ او زعفران د سړو دپاره استعمالول (بغير د خوراك نه) حرام دي، او خلوق د زعفران نه تيارېږي پدې وجه ئې دې شخص ته حکم وکړو چه دا اُووينځي۔

او د درې کـرتـه حـکـم ئې ورتـه پـدې وجـه وکړو چه غالباً بنۀ صفائي په درې کرتو سره راځـي، چـه د خـلـوق رنګ او خـوشبـوئي دواړه زائل کيږي، ورنه اصل مقصد دا وو چه خلوق بالکل صفا کړه که په يو کرت سره وي او که په ډيرو سره۔ او کيدې شي چه پدې سړي باندې خلوق زيات وو لکه د (مُتَضَمِّخٌ) لفظ نه معلومېږي (نووي ؒ)

فَانْزِعْهَا : يعنى جُبه (چوغه) فوراً اُوباسه۔

ثُمَّ اصْنَعْ فِيْ عُمْرَتِكَ : يعنى د چوغې ويستلو او د خوشبوئي د زائل کولو نه علاوه چه کـوم کارونه د حج د احرام په حالت کښې منع دي همغه به د عمرې د احرام په حالت کښې هـم منع وي، لهذا تۀ د عمرې د احرام په حالت کښې د هغه تولو کارونو نه ځان وساته چه د کومو کارونو نه د حج د احرام په حالت کښې ځان ساتلې شي۔

دا دليـل دې چـه رسول الله ﷺ ددې سـائـل د حـالت نه خبر وو چه دې د حج په کارونو بـاندې پوهه دې۔ يا مطلب دا دې چه احرام او طواف او سعى او حلق په عمره کښې رکن دې لـکـه څـنګـه چـه پـه حـج کښې رکـن دې۔ (المفاتيح فى شرح المصابيح للمظهري ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۴۲/۳)

ابن العربیؒ وائی : چه دا خبره ئے ورته پدے وجه وفرمائیله چه جاهلیت والو به جامے ویستلے او د حج د احرام په حالت کښے به ئے د خوشبوئی نه ځان ساتلو لیکن د عمرے په احرام کښے به ئے پدے کښے آسانی کوله۔ نو نبی ﷺ ورته وفرمایل چه د دواړو احرامونو یو شان حکم دے۔

ابن منیرؒ لیکی : چه دلته د اِصْنَعْ نه مراد اُتْرُكْ دے۔ یعنی پریده هغه کارونه چه تهٔ ئے په حج کښے پریدے۔ دا دلیل دے چه ترك هم فعل دے۔

دا روایت ددے خبرے دلیل دے چه چا ته په حالت د احرام کښے په هیره یا په ناپوهئ سره خوشبوئی ولګی بیا په هغے باندے پوهه شی او زر ئے زائل کړی نو په هغهٔ باندے هیڅ کفاره نشته۔ او دا مذهب د شافعیؒ دے۔ او امام مالكؒ وائی : که دا ډیر وخت پورے وه نو فدیه پرے لازمه ده او ابو حنیفهؒ او یو روایت د احمدؒ نه دا دے چه مطلقاً کفاره واجب ده۔ (کذا فی الفتح) ظاهر قول د شافعیؒ دے، ځکه چه دلته رسول الله ﷺ دے سړی ته په کفاره او فدیه باندے حکم ونکړو۔

دارنګه پدے حدیث سره دا دلیل هم نیولے شویدے چه کله په محرم باندے ګنډلے شوے جامه وی، نو هغه به اُویاسی او د هغے شوکول او څیری کول پرے لازم نهٔ دی، او که د سر د طرف نه ئے وویسته نو هیڅ دم پرے نشته۔

2681 (4) – وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَايَنْكِحُ الْمُحْرِمُ، وَلَا يُنْكِحُ، وَلَا يَخْطُبُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عثمان بن عفان ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : محرم نهٔ خپله نکاح کولے شی او نهٔ بل څوك پهٔ نکاح ورکولے شی او نهٔ د نکاح پیغام چاته لیږلے شی۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : [لَايَنْكِحُ] خپله به نکاح نهٔ کوی۔ [وَلَا يُنْكِحُ] بل چا لره به نکاح نهٔ کوی، بل څوك به په نکاح نهٔ ورکوی۔ یعنی په وکالت او ولایت سره به هم نکاح نهٔ کوی۔

[وَلَا يَخْطُبُ] دا د خِطبة نه اخستل شوے، د نکاح پیغام به چاته نهٔ لیږی چه ماسره یا بل سره نکاح وکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فوائد : (۱) مذکوره درې واړه الفاظ د نفی هم کیدې شی او د نهی هم، که د نهی الفاظ شی نو دا درې واړه به لفظًا مجزوم وی. او که د نفی الفاظ شی نو دا به هم په معنیٰ د نهی سره وی خو په لفظ کښې به مرفوع وی. خطابیؒ وائی : صحیح روایت د نهی دې نو د (لا ینکح) حاء باندې به زیر وی.

(۲) که چا د احرام په حالت کښې دا کارونه وکړل نو دا عقد به باطل وی ځکه نهی تقاضا د تحریم کوی او دا نهی ذات د نکاح ته متوجه ده، او دا قاعده ده چه کله نهی ذات یا شرط د شی ته متوجه وی نو دا تقاضا د بطلان کوی، نو دا عقد او نکاح به باطله وی. (۳) ددې نهی **حکمت** دادې چه محرم سړې د احرام په حالت کښې د مزو او خوندونو اخستو او دنیوی خواهشاتو پوره کولو نه منع شوې. بله داچه : د نکاح پیغام د جماع دپاره وسیله ده، او د احرام په حالت کښې جماع د ټولو مفسداتو نه لوئې مفسد دې چه په دې سره د مُحرم حج او عُمره خرابیږی.

(٤) ددې نه د فقهاؤ دا قاعده معلومه شوه چه کوم شې د حرامو دپاره ذریعه او وسیله جوړیږی هغه هم حرام وی. لکه دلته عقد او خِطبه د حرامو (جماع) دپاره وسیله جوړیږی نو دا دواړه کاره به حرام وی.

(٥) په لَا يَنۡكِحُ کښې نفی یا نهی د تحریم دپاره ده او په (لَا يَخۡطُبُ) کښې د تنزیه او کراهت دپاره ده. او دا مذهب د ائمه ثلاثهؒ او د هغوی د موافقینو دې، او امام ابوحنیفهؒ وائی چه په ټولو کښې د تنزیه دپاره دې. مګر ظاهر دا ده چه په درې واړو کښې نهی د تحریم دپاره ده. نو نکاح کول او د نکاح وسیله چه پیغام لیږل دی- دواړه یو شان حرام دی.

(٥) **سوال** : روستو حدیث کښې د ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه ((نبی ﷺ د میمونه ﷺ سره د احرام په حالت کښې وادهٔ کړې وو)) [بخاری: ۱۸۳۷، مسلم: ۱٤۱۰]

او په دې حدیث باندې احنافو استدلال کړې چه د محرم دپاره د احرام په حالت کښې نکاح کول یا بل چا له نکاح تړل جائز دی. **جواب** : خپله میمونه ﷺ نه نقل دی چه نبی کریم ﷺ ددې سره په داسې حال کښې وادهٔ وکړو چه هغه حلال وو (د احرام په حالت کښې نهٔ وو) [مسلم : ۱٤۱۱، ترمذی: ۸٤٥، أبوداود: ۱۸٤۳]

دارنګه ابو رافع ﷺ فرمائی : ((زهٔ په دې نکاح کښې ددې دواړو ترمینځه سفیر ووم، او

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی ﷺ هغې سره په داسې حال کښې نکاح وکړه چه حلال وو) [ترمذی: ۸٤۱، أحمد: ۲٦٦٥٦] نو هرکله چه صاحبِ قصه او سفیر دواړه فرمائی: چه نبی ﷺ محرم نهٔ وو نو همدا خبره قابلِ اعتماد ده۔ او هرچه د ابن عباس ؓ حدیث دے نو سعید بن المسیبؒ او امام احمدؒ دواړه فرمائی : چه ابن عباس ؓ په دے وخت کښې وړوکے وو نو هغهٔ ته په دے خبره کښې وَهم لګیدلے۔ او حافظ ابن حجرؒ فرمائی : که ثابته شی نو دا به د نبی کریم ﷺ خصوصیت وی۔ بله دا چه : دا د محدثینوؒ قاعده ده چه کله د قولی او فعلی حدیث تعارض راشی نو قولی لره به ترجیح وی، نو دلته هم حدیث الباب قولی حدیث دے، او په دے کښې قاعده ذکر کول دی، او د ابن عباس ؓ حدیث فعلی دے چه ډیر احتمالات لری، نو قولی لره به په فعلی باندے ترجیح وی۔ نو ثابته شوه چه محرم سړے د احرام په حالت کښې وادهٔ نشی کولے۔او همدا د جمهور امت قول دے۔

بعضو دلته نکاح په معنیٰ د وطی سره اخستے ده مګر دا د ظاهر خلاف ده او روستو (وَلَا يُنْكِحُ) هم ورسره نهٔ لګیږی۔ او دارنګه (وَلَا يَخْطُبُ) هم۔ دا دلیل دے چه دلته عقدِ نکاح مراد دے نهٔ وطی۔ او بل ددے حدیث شان ورود هم پرے دلیل دے، ابان بن عثمانؒ ددے حدیث راوی دے او هغه هم دا تفسیر مراد کړے، ابان ته عمر بن عبید اللهؒ جواب راولیږلو چه دهٔ خپل ځوی طلحه بن عمرؒ ته د شیبه بن جُبیرؒ لور په نکاح کړه نو ابانؒ په هغهٔ باندے سخت انکار وکړو او دا حدیث ئے ورته بیان کړو چه محرم سړے نکاح او جرګه د نکاح نشی کولے۔ او صحابه کرامو پدے طریقه عمل کړے، شوذبؒ چه د زید بن ثابت ؓ آزاد کړده غلام دے په حالت د احرام کښې ئے نکاح وکړه نو زید بن ثابت ؓ د دواړو ترمینځ جدائی راوسته۔ علی ؓ فرمائی : محرم سړے نکاح نشی کولے که نکاح ئے وکړه نو نکاح به ئے بیرته تازه کولے شی۔ مالكؒ او بیهقیؒ او دارقطنیؒ د ابو غطفانؒ بن طریفؒ نه نقل کړیدی چه ددهٔ پلار طریف د احرام په حالت کښې یوے ښځے سره نکاح وکړه نو عمر فاروق ؓ د هغوی نکاح رد کړه۔

سعید بن مسیبؒ وائی چه یو سړی د احرام په حالت کښې نکاح وکړه نو مدینے والو په اتفاق سره پدے خبره فیصله وکړه چه د دواړو ترمینځ به جدائی راوستے شی۔ دا آثار دلیل دے چه تزویج او نکاح په حالت د احرام کښې منهی عنهُ ده او دا نهی د تحریم دپاره ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2682 (5) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابنِ عباس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ میمونه ﷺ په داسے حال کښې په نکاح کړه چه هغه محرم وو۔ (بخاریؒ مسلمؒ)

2683 (6) – وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ الْأَصَمِّ ابْنِ أُخْتِ مَيْمُوْنَةَ عَنْ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللّٰهُ : وَالْأَكْثَرُوْنَ عَلٰى أَنَّهٗ تَزَوَّجَهَا حَلَالًا وَظَهَرَ أَمْرُ تَزْوِيْجِهَا وَهُوَ مُحْرِمٌ ثُمَّ بَنٰى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ بِسَرِفَ فِيْ طَرِيْقِ مَكَّةَ .

ترجمه : او یزید بن اصمؒ – چه د میمونے ﷺ خورئے دے، د میمونے ﷺ نه روایت کوی چه بیشکه رسول الله ﷺ هغے سره په داسے حال کښې نکاح وکړه چه هغه حلال وو۔ (مسلمؒ) شیخ امام محی السنة (بغوی) رحمه الله وائی : اکثر علماء (یعنی امام ابوحنیفهؒ نه علاوه) ددے خبرے قائل دی چه نبی ﷺ د میمونے ﷺ سره په داسے وخت کښې نکاح کړے وه چه هغه حلال وو (یعنی په احرام حالت کښې نهٔ وو) او د هغے د نکاح خبره په هغه وخت کښې (خلکو ته) راښکاره شوه چه هغه د احرام په حالت کښې وو بیا ئے د هغے سره په سَرِف علاقه کښې د مکے په لاره کښې په داسے حال کښې وادهٔ وکړو چه هغه حلال وو۔

یزید بن اصمؒ : دا د میمونے ﷺ خورئے دے، هغے ورله تربیت کړے وو۔ ددهٔ مور ام برزه بنت الحارث وه۔ د درے اویا (۷۳) کالو په عمر وفات شویدے۔

تشریح : سرف یو مقام دے چه د مکے نه (۱۲) کیلو میټره او د تنعیم نه په شمالی جانب کښې درے یا څلور میله فاصله باندے واقع دے۔ اُوس ورته ((نواریه)) وائی۔

دلته یو تاریخی اتفاق دا واقع شویدے چه د رسول الله ﷺ د میمونے ﷺ سره نکاح هم په سرف کښې شوے وه، او بیا ئے د هغے سره وادهٔ هم پدے مقام کښې کړے وو (کله چه د عمرة القضاء نه راواپس کیدو) او بیا روستو زمانه کښې په همدے مقام کښې وفات شوے هم ده۔

پدے حدیث باندے هغه علماؤ دلیل نیولے چه د محرم دپاره په حالت د احرام کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح جائز ګڼړي. او منع کونکو ددې نه ډير جوابونه ورکړيدي :

(۱) امام ترمذيؒ او محيي السنه بغويؒ وائي چه د اکثرو علماؤ (يعني ائمه ثلاثو) په نيز د (وَهُوَ مُحْرِمٌ) مطلب دا دې چه د رسول الله ﷺ د ميمونې رضي الله عنها سره د نکاح خبره په هغه وخت راښکاره شوه کله چه هغه په حالت د احرام کښې د سرف په مقام کښې وو، او نبي ﷺ د هغې سره نکاح په هغه وخت کړې وه چه کله هغه په حالت د احرام کښې نۀ وو، البته خلکو ته ددې علم په هغه وخت وشو چه نبي ﷺ احرام تړلې وو، نو ځکه ئې دا ګمان وکړو چه نبي ﷺ ورسره نکاح په حالت د احرام کښې وکړه. علامه ساعاتيؒ په شرح د "مسند احمد" کښې ليکي : دا د حديثونو ډير ښکلې تطبيق دې، لهذا وئيلې به شي چه ابن عباس رضي الله عنه ددې نکاح نه په هغه وخت خبر شو چه کله دا خبره خوره شوه، او نبي ﷺ په سرف مقام کښې په حالت د احرام کښې وو نو هغۀ دا فهم کړه چه ګنې نکاح په سرف مقام کښې د احرام په حالت کښې وشوه.

(۲) يا د مُحرم معنىٰ دا ده چه په عزتمنه مياشت کښې ئې نکاح وکړه چه هغه ذي قعده مياشت وه، اُوم کال د هجرت وو په عمرة القضاء کښې، او خپله په احرام کښې نۀ وو.

دې جواب باندې دا رد شويدې چه په روايت د بخاري کښې دي : [تَزَوَّجَهَا وَهُوَ مُحْرِمٌ وَبَنٰى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ] دلته د محرم او د حلال مقابله راغلې ده او د حلال نه مراد خو داخل في الحل نۀ دې، نو داشان د محرم نه به مراد داخل في الشهر الحرام نۀ وي.

(۳) که تعارض باقي پاتې شي نو بيا بعض علماؤ د ترجيح طريقه اختيار کړيده چه د ميمونه رضي الله عنها او د هغې د سفير خبره به راجح وي ځکه چه هغه د واقعې او قصې والا ده، او قصې والا سره د خپلې قصې په باره کښې علم زيات وي د بل چا نه. او ابن عباس رضي الله عنه پدې وخت کښې د لسو کالو په عمر وو. او ميمونه رضي الله عنها او د هغې سفير بالغ وو. او په اصولو کښې دا خبره ثابته ده چه خبر د هغه راوي چه بالغ وي مقدم دې په خبر د هغه راوي چه د بلوغ نه مخکښې ئې آوريدلې وي.

(٤) دارنګه که تعارض ثابت شي نو بيا قولي حديث به راجح وي په فعلي باندې ځکه چه قولي حديث د اُمت دپاره قانون وي او فعلي کښې ډير احتمالات کيدې شي. وبالله التوفيق.

فِيْ طَرِيْقِ مَكَّةَ : يعني د مکې په لاره کښې چه مدينې ته روان وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

2684 (7) – وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو ایوب ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ به د احرام په حالت کښې خپل سر مبارك وینځلو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : دا دلیل دے چه محرم سړے او زنانه غسل کولے شي او خپل سر وینځلے شي او دا خبره تقریباً اتفاقي ده.

او په حدیث کښې قصه ده : عبد الله بن حنینؒ وائي چه عبد الله بن عباس ﷺ او مسور بن مخرمه ﷺ په اَبواء مقام کښې اختلاف شو، عبد الله بن عباس ﷺ وفرمایل : محرم سړے سر وینځلے شي. او مسور ﷺ وویل : محرم سر نشي وینځلے. نو زهٔ عبد الله بن عباس ﷺ ابو ایوب انصاري ﷺ ته ولیږلم نو (زهٔ لاړم) ما هغه اُوموندو چه د دوه لرګو ترمینځ ئے غسل کولو او څان ئے په جامه پټ کړے وو، نو ما پرے سلام واچولو، نو وے فرمایل : څوك ئے ؟ ما وویل : عبد الله بن حنین یم، ابن عباس ﷺ تا ته ددے دپاره رالیږلے یم چه تا نه تپوس کوی چه رسول الله ﷺ به د احرام په حالت کښې څنګه سر وینځلو؟ نو ابو ایوب انصاري ﷺ خپل لاس په جامه باندے کیخودو او سرئے خکته کړو تردے چه ما ته د هغهٔ سر راښکاره شو بیا ئے یو انسان ته وویل چه اُوبهٔ راواړه وه، نو هغهٔ ورته په سر باندے اُوبهٔ واچولے بیا ئے سر په خپلو دواړو لاسونو سره وخوزولو نو مخکښې او روستو ئے بوتلو، بیا ئے وفرمایل : دغه شان ما رسول الله ﷺ لیدلے چه کول ئے. انتهیٰ.

نو دا حدیث دلیل دے چه محرم د جنابت او احتلام نه غسل کولے شي، او دارنګه د صفائي او د یخوالي په نیت هم. او دارنګه سر هم وینځلے شي او د هغے مړل هم جائز دي کله چه د ویښتو د دوړیدو نه محفوظ وي.

امام مالكؒ وئیلي دي چه محرم سر نشي وینځلے او که سرئے په اُوبو کښې غوپه کړو نو طعام به ورکوی. ځکه چه ابن عمر ﷺ به په حالت د احرام کښې صرف د احتلام نه خپل سر وینځلو او عام وخت کښې به ئے نهٔ وینځلو. لیکن ظاهر دا ده چه ابن عمر ﷺ ته پدے باره کښې روایت نهٔ وو رسیدلے، یا ئے په ډیر افضیلت عمل کولو چه حاجی شَعِثٌ تَفِلٌ (خړپړ) وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

2685 (8) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : اِحْتَجَمَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ مُحْرِمٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ د احرام په حالت کښې ښکر ولګولو- (بخاریؒ، مسلمؒ)-

تشریح : اِحْتَجَمَ : دا حجامه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې کړے وه-
په روایت د بخاریؒ کښې دی : ((په خپل سر کښے ئے د درد په وجه حجامه وکړه په یوه چینه کښې چه هغې ته لحی جمل وائی)) لکه روستو راځی- دا کارئے د درد شقیقه (نیم سری) نه کړے وو- او دا ښکلے علاج دے- په فصل ثالث کښې راځی چه په قدم ئے درد وو او په روایت د احمد کښې دی : چه په شا او کناتی طرف کښې ئے درد وو او په حالت د احرام کښې ئے حجامه وکړه- ددے روایتونو جمع داسے ده چه رسول الله ﷺ به حجامه زیاته کوله نو ددے ټولو اسبابو د وجه نه ئے کړے ده- بیا کیدے شی چه دا ټول ئے په یو احرام کښې کړی وی یا بعض په عمره کښې وو او بعض په حج کښې-

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د احرام په حالت کښې حِجامت کول (ښکر لږول او وینه ویستل جائز دی، وینه ویستل د احرام سره منافی نهٔ دی- برابره خبره ده که دا د ضرورت د وجے وی اوکه بغیر د ضرورت نه- (۲) که په سر کښے ښکر لګولو دپاره لږ ځائے خرئیلو ته ضرورت شو نو ددے خرئیل جائز دی، او راجحه داده چه په دے کښې څهٔ فدیه نشته څکه که په دے کښې فدیه ورکول ضروری وے نو خامخا به نبی کریم ﷺ بیان کړے وے- بلکه دا چه : لږه حصه خرئیل د ټول سر خرئیلو پشان نهٔ دی، په لږ شان ځائے خرئیلو سره پوره نفع نهٔ اخستے کیږی- نو دا په آیت کښې نهٔ داخلیږی چه [فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا أَوْ بِهٖ أَذًى مِنْ رَأْسِهٖ فَفِدْيَةٌ] څوك چه بیماری وی یا ورته د سر نه ضرر وی (او سرئے وخرئیلو) نو فدیه به ورکوی- څکه چه دا آیت د ټول سر خرئیلو په باره کښې دے- او دا قول علامه شنقیطیؒ مضبوط کړیدے-

(۳) دے حدیث نه معلومیږی چه محرم دپاره دوائی خوړل، رګ وهل، غاښ ویستل وغیره جائز دی- او په دے هیڅ کښې فدیه نشته-

(٤) دا دلیل دے چه په حجامه سره عِلاج کول پکار دی، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

[إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ] [صحیح مسلم : ۱۵۷۷]

بهترین هغه شے چه تاسو پرے علاج کوئ هغه حجامه ده-

Maktaba Tul Ishaat.com

2686 (9) – وَعَنْ عُثْمَانَ ﷺ حَدَّثَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ إِذَا اشْتَكىٰ عَيْنَيْهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهُمَا بِالصَّبِرِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عثمان ﷺ د رسول الله ﷺ نه د هغه سړي په باره کښې حديث بيان کړے چه کله د هغهٔ دواړه سترګے خوږيږي او په حالت د احرام کښې وي نو په مصبر سره دِے ئے زخم پټئ ولګوي۔ (مسلمؒ)

تشريح : ضَمَّدَهُمَا : تضميد : ليپ کول، دارنګه دے ته وائي چه دوائي د يو مائع شي سره يو ځائے کړے شي دے دپاره چه نرمه شي او په درد مند ځائے باندے کيخودے شي۔ ضمد په اصل کښې ترلو ته وئيلے شي۔ بيا استعماليږي ددے دپاره چه دوائي په درمند او زخمي ځائے کيخودے شي اګر که تړلے شوے نهٔ وي (طيبيؒ) دلته ترے په سترګو کښې اچول مراد دي۔ يعني لکه څنګه چه سترګو کښې رانجهٔ اچولے شي نو دغه شان دِے مصبر په اُوبو کښې واچوي او بيا دِے ولګوي۔

بِالصَّبِرِ : مصبر (يعني ايلوا) ته وائي۔ د ترخے ونے اُوچ نچوړ دے۔

دا روايت دليل دے چه محرم سترګو کښې مصبر وغيره دوائي اچولے شي، کله چه په هغه دوائي کښې خوشبوئي نهٔ وي، او هيڅ فديه پرے نشته او که د خوشبوئي والا دوائي ته محتاج شو نو لګولے شي خو فديه به ورکوي۔

البته د زينت دپاره رانجهٔ لګولو کښې اختلاف دے، د امام شافعيؒ او نورو په نيز مکروه دے، او د احمدؒ او اسحاقؒ په نيز ممنوع دے، او د امام مالكؒ نه د دواړو مذهبونو مطابق دوه قولونه شويدي۔ او د فديه په وجوب کښې ئے هم اختلاف دے۔ (نوويؒ) صحيح داده بلا ضرورته لګول نشته او د ضرورت په وخت کښې فديه نهٔ لازميږي، ځکه چه دليل پرے نشته۔

بيهقيؒ د عائشے ﷞ نه نقل کړيدي چه هغے د اثمد او تورو رانجو په باره کښې وفرمايل : دا زينت دے مونږه ئے مکروه ګنړو ليکن نهٔ ئے حراموو۔ او دا قول د مالكؒ او احمدؒ او اسحاقؒ دے مګر د ضرورت په وجه۔

2687 (10) – وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : رَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ يَسْتُرُهُ مِنَ الْحَرِّ حَتّٰى رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او ام الحصين ﷺ فرمائي : ما اسامه او بلال وليدل چه د دواړو نه يو د رسول الله ﷺ د اُوښې مهار نيولے وو او بل خپله جامه پورته کړے وه چه هغه ئے د ګرمئ نه پټولو تردے چه هغهٔ جمره عقبه اُوويشته- (مسلمؒ)

د ام الحصين ﷺ تعارف :دا د اسحاق اخمسي لور ده او صحابيه دی او خپل نوم ئے نهٔ دے معلوم-

تشريح : وَأَحَدُهُمَا : ظاهر دا ده چه د رسول الله ﷺ د اُوښې مهار بلال ﷺ نيولے وو- يَسْتُرُهُ : يعنی اسامه ﷺ په رسول الله ﷺ باندے په کپړے سره داسے سورے کړے وو چه دغه کپړه د رسول الله ﷺ د سر نه نهٔ لګيده-

او په يو روايت کښے دی چه دا جامه ئے په يو لرګی باندے اچولے وه او په رسول الله ﷺ باندے ئے د چهترئ په شان نيولے وه- (احمدؒ)

دا حديث دليل دے چه مُحرم سړے په خپل سر باندے سورے کولے شی برابره ده په کپړه سره وی او که په بل شی سره- او سوروی او که يو ځائے کښے ناست وی- او پدے کار کښے هيڅ فديه نشته، او امام احمدؒ او مالك ﷺ کښے فديه وئيلے ده ليکن هيڅ مرفوع حديث ورسره دليل نشته-

2688 (11) - وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ وَالْقَمْلُ تَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَالَ: " أَتُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ ؟ ". قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : " فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ". وَالْفَرَقُ : ثَلَاثَةُ آصُعٍ :" أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او کعب بن عجره ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ په هغهٔ باندے راتير شو چه هغهٔ په حُديبيه مقام کښے وو مکے ته د داخليدو نه مخکښے، او هغه (کعب ﷺ) په حالت د احرام کښے وو او هغهٔ د کټوئ لاندے اُور بلولو او سپږے د هغهٔ په مخ باندے راتوئيدلے نو نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : آيا تا ته ستا حشرات (سپږے) تکليف درکوی؟ عرض ئے وکړو : آؤ، نبی ﷺ وفرمايل : نو تهٔ سر وخريوه او د شپږو مسکينانو ترمينځ يو فرق طعام ورکړه- او فرق درے صاعه وی، يا درے ورځے روژے ونيسه، يا يو څاروے ذبح کړه- (بخاریؒ مسلمؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تعارف د کعب بن عُجرَه ﷺ : دا جلیل القدر صحابی د بَلِی قبیلے سره تعلق لری چه دا د انصارو حلیفان وو۔ کوفے ته لاړ او بیا مدینے ته راغے او په (۵۱) هجری کښے د (۷۵) کالو په عمر وفات شو۔

تشریح : پدے حدیث کښے هغه موقعه ذکر ده چه کله نبی کریم ﷺ د خپلو ملګرو سره د عمرے دپاره مکے ته روان شوے وو لیکن مشرکانو په حدیبیه مقام کښے تول بند کړل، نو پدے ملګرو کښے کعب بن عجره ﷺ هم مکے ته د داخلیدو په امید کښے وو لیکن بیا روسته د یوے معاهدے په وجه چه هغے ته صلح حدیبیه وائی تول ملګری د عمرے نه بغیر د هغه ځائے نه راواپس شول، نو دے وخت کښے کعب ﷺ لا په حدیبیه کښے وو چه د کتهوئ لاندے ئے اُور بلولو او د اُوږد سفر په وجه د هغهٔ ویښته خړپړ کیدو په وجه په هغے کښے سپږے شوے وے نو د اُور په ګرمائش سره د هغه سپږے په مخ راروانے شوے او محرم باندے خو د سپږے وژل هم نهٔ وی پدے وجه نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : تهٔ سر وخرئیوه او ددے په بدله کښے فدیه ورکړه۔ او کعب ﷺ ته دا پته نهٔ وه چه ګنے مونږ به لږ وخت روستو د صلح په وجه واپس کیږو او احرامونه به کوزه وو ګنے هغهٔ به انتظار کړے وے۔

[اَلْقَمْلُ] جمع د قُملة ده، سپږه۔ دا په بدن کښے د خِیری نه جوړیږی۔

[تَهَافَتُ] دا په اصل کښے [تَتَهَافَتُ] دے۔ أَیُ تَتَسَاقَطُ (راپریوتلے)، او کعب ﷺ به دا د احرام په وجه نهٔ وژلے۔

یُؤْذِیْكَ: دے کښے اشاره ده علت د حکم ته چه مشقت د وجه نه سر خرئیل جائز دی۔

[هَوَامُّكَ] جمع د هامّة ده، حشرات د بدن ستا۔ هوام ورته ځکه وائی چه دا هَمُ او اراده د ګرزیدو لری۔

فَرَقًا : فرق په زبر د فاء او راء سره او سکون د راء هم جائز دے۔ (ابن فارسؒ) دا یوه پیمانه ده چه شپاړس رطله په کښے ځائیږی۔ او دا درے صاعه دی۔ نو هر مسکین ته به نیم نیم صاع ورکړی۔ او د نیم صاع اندازه : دوه مُده، یعنی تقریباً نیم پاؤ دپاسه یوه کیلو، (۱،۱۰۰) نیم صاع جوړیږی۔

ددے حدیث اولنی الفاظ داسے دی : عبد الله بن معقلؒ فرمائی : زهٔ کعب ﷺ سره کیناستم او هغهٔ نه مے د فِدیی (د آیت) په باره کښے پوښتنه وکړه، نو هغهٔ وفرمایل: دا

Maktaba Tul Ishaat.com

خاص زما په باره کښې نازل شوې خو حکم ئې تاسو ټولو دپاره عام دې ...... تر آخره پورې۔[بخاری، مسلم] او د فدیئې آیت دا دې : ﴿ فَمَنْ كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ﴾ [البقرة : ۱۹٦] (نو څوك چه په تاسو کښې بیمار وی او یا د هغهٔ په سر کښې څهٔ تکلیف وی نو په هغهٔ باندې فدیه ده یعنی روژې، یا صدقه یا ګډ ذبح کول دی)۔ او د حج په مناسکو کښې فدیه هغه شے دے چه د یو واجب شی په پریښودو سره یا د منع شوی شی په کولو سره په مُحرم باندې واجبیږی۔ او فدیه ورته څکه وائی چه فدیه خلاصولو ته وائی او په دے سره هم نفس د عقوبت نه خلاصیږی۔

فوائد الحدیث: (۱) حدیث دلیل دے چه کوم محرم ته د سپږو یا بل تکلیف په وجه د سرخرئیلو ضرورت راپیښ شی نو هغهٔ دپاره سر خرئیل جائز دی او په دے کښې هیڅ ګناه نشته څکه دا معذور دے، البته په دهٔ به فدیه واجبه وی۔

(۲) فدیه درے شیان دی : (أ) درے ورځے روژے نیول : او په دے کښې پرله پسے والے شرط نهٔ دے، جدا جدا نیول ئې هم جائز دی، څکه کوم شے چه شارع مطلق ذکرکړی نو په هغې به مطلقًا عمل کیږی۔ (ب) شپږو مسکینانو ته درے صاعه طعام ورکول : د هر مسکین دپاره نیمائی صاع۔ طعام کښې اختلاف د روایاتو دے، کجورے هم راغلی او غنم هم۔ (ج) ګډه، بزه ذبح کول۔

(۳) په دے درے واړو شیانو کښې اختیار دے که هریو ورکوی، جائز دی۔ په آیتِ کریمه کښې اول روژے، بیا طعام صدقه کول او بیا ذبح کول راغلی، او په هغے کښې (او) کلمه د اختیار ورکولو دپاره ده۔ او په روایت د مسلم کښې دی چه رسول الله ﷺ اول ورته وفرمایل : [أَتَجِدُ شَاةً؟ قَالَ لَا] [مسلم : ۲۹٤۰] آیا تهٔ ګډ موندهٔ کوے؟ هغهٔ وویل : نهٔ، نو بیا آیت نازل شو۔ نو په هغے کښې اول ذبح بیا روژے، او بیا طعام ورکول راغلی۔ آیت کښې روژے څکه مخکښې ذکر شویدی چه کوم صحابه کرام اول ددے آیت مخاطب وو، نو هغوی په روژو زیات قادر وو په نسبت د ذبح او اطعام باندے۔ (او عام انسانان هم دغه شان دی)۔ او حدیث د مسلم کښې چه اول ذبح ذکر ده نو دیکښې افضلیت ته اشاره ده اګر که په ټولو کښې اختیار دے لکه پدے روایة الباب کښې هغه ذکر دے۔

(٤) د حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه په کوم څائے کښې د ممنوع شی ارتکاب وکړے شی نو فدیه به هم هلته ورکوی څکه نبی کریم ﷺ کعب ﷛ ته د ګډ ذبح کولو حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړو مګر دا حکم ئې ورته ونهٔ کړو چه د حرم مسکینانو له ئې پوسه. او دا واقعه په حُدیْبیه کښې راغلې وه چه د حرم د حدودو نه بهر وه.

(۵) واضحه دې وي چه صرف په سر خرئیلو سره فدیه واجبیږي، نهٔ په نورو محظوراتو (ممنوعاتو) د احرام سره، مثلًا : سر پټول، خوشبوئي لګول، یا د بدن باقي ویښتهٔ لرې کول او داسې نور ممنوع شیان. بعضِ علماؤ دا شیان په سر خرئیلو قیاس کړي او په دې کښې ئې هم فدیه لازمه کړې، او علت ئې ورله دا وئیلې لکه څنګه چه په سر خرئیلو سره تَرَفُّهُ یعنې نفع او فائده حاصلیږي، نو دغه شان په دغه نورو شیانو سره هم نفع او فائده حاصلیږي. خو دا قیاس په محل د نظر کښې دې، ځکه محرم سړې د مطلقًا نفع او فائدې نه منع شوې نهٔ دې، بلکه ددهٔ دپاره مزیدار خوراکونه، مزیدار لباسونه اغوستل جائز دي.

دارنګه په غسل کولو سره د ځانه خیرې لرې کولې او نفع حاصلولې شي. او ددې تفصیل علامه شنقیطیؒ په اضواء البیان کښې کړیدې.

(٦) په دې حدیث کښې په فدیه کښې ددرې شیانو ترمینځه اختیار ورکړې شوې، حالانکه ډیر مفتیان صاحبان په خلکو باندې - کله چه په دوئ کښې څوك د یو ممنوع شي ارتکاب وکړي - خامخا دَم لازموي، نو په دې کښې په خلکو تنګسیا راولي حالانکه شریعت هغهٔ له د درې شیانو ترمینځه اختیار ورکړې.

(۷) په نص کښې د سر خرئیلو نه منع راغلې، نو علامه ابن حزمؒ او داود ظاهريؒ فرمائي: د بدن نور ویښتهٔ خرئیلِ د احرام د ممنوعاتو نه نهٔ دي. او ظاهر د قرآن هم دادې : ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ﴾ نو دلته ئې صرف سر خرئیلو نه منع فرمائیلې. معلومه شوه چه د بدن نور ویښتهٔ خرئیل به جائز وي. لیکن امام احمدؒ فرمائي: د سر، ګیرې، ترخونو ویښتانو په باره کښې ماته هیڅوك معلوم نهٔ دي چه په دې کښې ئې فرق کړې وي. او ابن عباس ﷺ د الله تعالیٰ ددې آیت ﴿ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ﴾ (بیا دې دوئ خپل خیرې لرې کړي) په تفسیر کښې فرمائي: «خیرې لرې کولو نه مراد : رمي، ذبح، سر خرئیل یا لنډول، نوکان او بریتان اخستل دي» دا دلالت کوي چه محرم سړې د احرام په حالت کښې ددې شیانو نه منع شوې وو. او همدا د مجاهدؒ، عکرمهؒ او نورو قول دې. او همدا راجح دې. او د اهلِ لغت کلام هم په دې دلیل دې، علامه

Maktaba Tul Ishaat.com

جوهريّ فرمائي : ((په مناسكو كښې تفث : نوكان پريكول، بريتان اخستل، سر او زير ناف وېښتهٔ خرئيل، رمى الجمار، نحر البدن، تيل او خوشبوئى نهٔ لګول او داسې نور شيان كول دى))۔ او بعضو وئيلي دي چه ددې نه مراد اداء المناسك دې ليكن دا قول غوره نهٔ دې ځكه چه رسول الله ﷺ دواړه جدا كړيدي په يو حديث كښې : [مَنْ اَدْرَكَ مَعَنَا هٰذِهِ الصَّلَاةَ وَأَتٰى عَرَفَاتٍ قَبْلَ ذٰلِكَ لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَقَدْ تَمَّ حَجُّهٗ وَقَضٰى تَفَثَهٗ] [صحيح : ابوداود : ۱۹۵۲، ترمذى : ۸۹۱] چا چه مونږ سره دا مونځ (په مزدلفه كښې) لاندې كړو او ددې نه مخكښې عرفات ته د شپې يا د ورځې راغلے وى نو دهٔ حج پوره شو او دهٔ خپل تفث (يعنى خيرى لرې كول) ادا كړل۔ نو دلته نبى ﷺ تمام الحج (يعنى مناسك) او قضاء التفث جدا جدا ذكر كړل۔ معلومه شوه چه د تفث معنىٰ د مناسكو د اداء كولو نه جدا ده۔

(۸) په روايت د طبرانيّ كښې دا راغلي دي چه كعب بن عجره ﷺ غوا ذبح كړه، او دې ته ابن بطال ترجيح وركړې ليكن حافظ ابن حجرؒ پرې رد كړے چه هغه روايت ضعيف دے۔

(۹) حديث نه معلومه شوه چه سنت نبوي د قرآن كريم بيان كړے ځكه چه قرآن كريم كښې فديه مطلق ذكر ده او سنت سره ئې تقييد شويدے چه صيام نه مراد درې روژې دى او صدقې نه مراد شپږو مسكينانو ته طعام وركول دى۔

(۱۰) پكار ده چه مشر د خپلو ملګرو سره نرمى وكړى او د هغوى د احوالو تفقد او د هغوى د احوالو اهتمام وكړى۔ او كله چه بعضو ملګرو باندې څه تكليف وينى نو پكار ده چه د هغې نه د خلاصيدو كوشش ئې وكړى۔ والله تعالىٰ اعلم۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2689 (12) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ : اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى النِّسَاءَ فِىْ إِحْرَامِهِنَّ عَنِ الْقُفَّازَيْنِ وَالنِّقَابِ وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا أَحَبَّتْ مِنْ أَلْوَانِ الثِّيَابِ مُعَصْفَرٍ أَوْ خَزٍّ أَوْ حُلِيٍّ أَوْ سَرَاوِيْلَ أَوْ قَمِيْصٍ أَوْ خُفٍّ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه هغهٔ د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه زنانه ئې د هغوى په احرام كښې د دستانو او د نقاب اغوستو نه منع كولې، او د هغه كپړو نه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ورس او زعفران ورته رسیدلی وی، او ددے نه روستو (یعنی د احرام نه د وتلو نه روستو) چه کوم قسم جامے ئے خوښے وی واڅے غوندی برابره ده چه معصفر وی یا وریښم وی یا ګانړه وی یا پرتوګ وی یا قمیص یا موزه وی۔ (ابوداوّد)

تشریح : وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ : یعنی هغه کپړے چه په ورس او زعفران سره رنګ شوی وی۔

وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذٰلِكَ : یعنی ددے کپړو نه روستو چه کوم قسم کپړے اغوندی واڅے غوندی۔

مُعَصْفَرٍ : په زیر سره د "الوان الثیاب" نه بدل دے۔ یعنی هغه کپړه چه په ګل معصفر سره رنګ کړے شوی وی، عُصفر د زعفرانو په شان زیړ رنګ دے۔

عُصفر ته په اُردو کښے "کُسُم" او "کُسُنبه" وائی۔

دا حدیث دلیل دے چه د محرمے زنانه دپاره د عُصفر رنګ کړے شوی جامه اغوستل جائز دی : (۱) او دا مذهب د امام شافعیؒ او احمدؒ دے،

(۲) امام مالكؒ وئیلی دی کله چه ددے نه خوشبوئی ځی نو بیا مکروه دی۔

(۳) امام ثوریؒ او ابوحنیفهؒ ددے نه منع کړیده۔

ابن قدامهؒ لیکی : عُصفر خوشبوئی نهٔ ده او ددے په استعمال او ددے په بوئی کولو او په هغه کپړو اغوستو سره چه په عُصفر سره رنګ شوی وی – هیڅ باك نشته۔ او دا قول د جابر ﷺ، ابن عمر ﷺ، عبد الله بن جعفرؓ، عقیل بن ابی طالب ﷺ دے، او عائشے ﷵ او آسماء ﷵ او نورو امهات المؤمنین به په معصفرو جامو کښے احرامونه تړل، او امام مالكؒ دا مکروه ګنړلی دی کله چه په بدن باندے څنډلے کیږی۔ او پدے کښے ئے فدیه نهٔ ده وئیلے، او ابوحنیفهؒ او ثوریؒ دا ممنوع ګنړلی دی، دا ئے په ورس او زعفران باندے قیاس کړیدی۔

علامه شنقیطیؒ وائی : اظهر دا ده چه عصفر خوشبوئی نهٔ ده مګر بیا هم د مُحرم او غیر محرم سړی دپاره په دے باندے رنګ کړے شوے کپړے اغوستل جائز نهٔ دی۔ البته زنانه دپاره ددے اجازه شته۔ لکه دا حدیث پرے دلیل دے۔

او احنافو ددے حدیث نه جوابونه ورکړیدی چه دلته هغه جامه مراد ده چه عصفر ترے وینځلے شوے وی او بوئی نهٔ موندے کیږی۔ یا معصفر نه هغه مراد دے چه په ارمنی

Maktaba Tul Ishaat.com

ختمه باندے رنګ کړے شوی وی (ذکره القاریؒ) لیکن دا تاویلات ضعیف او بے دلیله دی۔

أَوْخَزٍّ : خز د یو حیوان نوم دے چه د هغۀ د وړیٔ نه جوړے شوے کپړے دپاره استعمالیږی۔ یعنی خز هغه جامه ده چه د وریښمو او وړیٔ نه جوړه شوی وی۔

أَوْ حُلِيٍّ : د حاء زبر، د لام سکون دے، یا د حاء پیش او د لام زیر او په یاء باندے شد دے، جمع د حَلْیٌ ده په زبر سره۔ زیوراتو ته وائی چه زنانه پرے ځان ښائسته کوی لکه پانزیبونه، بنګړی، والئ، جونکئ، برابره ده چه د چاندی نه وی او که د سونا نه۔ یا د نورو معدنیاتو او قیمتی کانړو نه وی۔

درجة الحديث : [اسناده حسن : اخرجه ابوداود : ۱۸۲۷، والحاكم : ۱/۴۸۶ وقال صحيح على شرط مسلم وأقره الذهبي، وليس بذاك لأن مسلما روى لابن اسحاق متابعة]۔

2690 (13) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ :كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّوْنَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا جَاوَزُوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلٰى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُوْنَا كَشَفْنَاهُ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَلِابْنِ مَاجه مَعْنَاهُ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : قافلے به په مونږ باندے تیریدلے او مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د احرام په حالت کښے وو نو هرکله چه به هغوی په مونږ راتیر شول نو زوړند به کړو یو تن زمونږ څادری خپله د خپل سر نه په خپل مخ باندے، نو هرکله چه به هغوی تیر شول (نو) مونږ به لرے کړه۔ (ابوداودؒ روایت کړے او ابن ماجهؒ ددے معنیٰ روایت کړیده)

تشریح : الرُّكْبَانُ : جمع د راکب ده۔ قافلو والو ته وائی۔

مُحْرِمَاتٌ : یعنی زمونږ مخونه به د احرام په حالت کښے ښکاره وو۔ هرکله چه به سړی په مونږ راتیریدل نو مونږ کښے به یوے زنانه خپل پړونے د سر نه په مخ رازوړند کړو۔ دا حدیث دلیل دے چه زنانه د ضرورت په وخت مخ په حالت د احرام کښے پټولے شی، او اګر که کپړه د مخ نه ولګیږی هم څه پرواه نشته ځکه چه کله د سر نه کپړه په مخ رازوړندولے شی نو ضرور د مخ نه لګیږی، نو کوم خلك چه زنانو ته حکم کوی چه هغوی په سر کښے لرګی واچویٔ او هغے ته کپړه زونده کړی نو دا تکلف دے۔ او دا قول د

Maktaba Tul Ishaat.com

مالكؒ او سفیان الثوریؒ او احمد بن حنبلؒ او اسحاقؒ او محمد بن الحسنؒ دے، که چرے کپړه د مخ نه جدا ساتل شرط وے نو نبی ﷺ به بیان کړے وے۔

درجة الحدیث : [اسناده ضعیف والحدیث حسن] أخرجه أحمد : ٦/٣٠ رقم : ٢٤٠٢١، وأبوداود : ١٨٣٣ وابن ماجه : ٢٩٣٥۔ وفیه یزید بن ابی زیاد القرشی وفیه کلام. وبقیة رجاله رجال الشیخین۔ وسماع مجاهد بن جبر عن عائشة مختلف فیه. (نصب الرایة : ٩٣/٣) وقال الألبانی فی جلباب المرأة : اسناده حسن فی الشواهد.

2691 (14) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدَّهِنُ بِالزَّيْتِ وَهُوَ مُحْرِمٌ غَيْرِ الْمُقَتَّتِ يَعْنِي غَيْرَ الْمُطَيَّبِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابن عمر ﷛ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ به د احرام په حالت کښے بغیر د خوشبو نه د زیتونو تیل استعمالول (ترمذیؒ)

تشریح : مقتت هغه تیلو ته وائی چه په هغے کښے خوشبویه ګلان او بوټی خوټ کولے شوی وی۔

دا روایت دلیل دے چه د محرم دپاره هغه تیل استعمالول جائز دی چه خوشبوئی پکښے نۀ وی۔ لیکن دا روایت ضعیف دے۔ ابن المنذرؒ وائی : پدے باندے د امت اجماع ده چه محرم زیتونو تیل او وازده او غوړی او شیره خوړلے شی، او دا په ټول بدن کښے استعمالولے شی سوئ د سر او ګیرے نه۔ او خوشبوئی په بدن کښے نشی استعمالولے نو د خوشبوئی او د تیلو ترمینځ دا فرق دے۔ انتهیٰ۔ مګر احنافو پکښے اختلاف کړیدے او وئیلی ئے دی چه تیل به محرم نۀ استعمالوی ځکه چه حدیث کښے دی چه حاجی به شَعِث او تَفِل وی۔ یعنی خړ پړ به وی۔

او امام نوویؒ وائی : تیل په دوه قسمه دی یو خوشبویه لکه د ګلابو او بنفشه تیل، نو ددے استعمال په ټول بدن او کپړو کښے جائز نۀ دے، او دویم بغیر د خوشبو نه تیل دی نو ددے استعمال په غیر د ګیزه او سر کښے جائز دے۔ آه۔ لیکن ظاهر دا ده چه د ګیرے او د سر د استثناء په باره کښے صحیح دلیل نشته۔

درجة الحدیث : [ضعیف] أخرجه احمد : ٣٥/٢، ٢٩، ٧٢، ١٢٦، ١٤٥ والترمذی : ٩٦٢، وابن ماجه : ٢٠٨٣ وقال الترمذی لا نعرفه الا من حدیث فرقد بن یعقوب السبخی عن سعید بن جبیر

Maktaba Tul Ishaat.com

وقد تكلم يحيى بن معين في فرقد السبخي . قال ابن حجر : فرقد صدوق عابد، لكنه لين الحديث كثير الخطأ، قال الذهبي ضعفوه، لكن قال عثمان الدارمي : عن يحيى ثقة۔ (رواة التهذيبين) .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2692 (15) – عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ ﷺ وَجَدَ الْقُرَّ فَقَالَ : أَلْقِ عَلَيَّ ثَوْبًا نَافِعُ ! فَأَلْقَيْتُ عَلَيْهِ بُرْنُسًا فَقَالَ : تُلْقِي عَلَيَّ هٰذَا وَقَدْ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّلْبَسَهُ الْمُحْرِمُ؟ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه : د نافع نه روايت دے چه بيشکه ابن عمر ﷺ (يوه ورځ د احرام په حالت کښې يخنې محسوس کړه نو وے فرمايل : اے نافعه ! په ما باندے جامه واچوه نو ما په هغهٔ باندے يوه برساتئ واچوله۔ نو وے فرمايل : (آيا) تهٔ په ما باندے دا (چوغه/برساتئ) راغورزوے او حال دا چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده چه محرم دا واغوندی؟۔ (ابوداوٗد)

تشريح : اَلْقُرَّ : د قاف په پيش او د راء په شد سره د ويخنئ نوم دے، او په زبر د قاف سره مصدر دے، يخيدو ته وائی۔

نَافِعُ : دا منادیٰ ده په حذف د حرف نداء سره۔ يعنی اے نافعه !۔

د محرم دپاره ګنډلے شوے کپړه په داسے طريقه استعمالول حرام دی لکه څنګه چه په عامه توګه استعماليږی، په نورو صورتونو کښے منع نهٔ ده لکه مثلاً برساتئ، کوټ، چوغه وغيره په عامه توګه اغوستلے کيږی، که يو محرم هغه وانهٔ غوندی بلکه همداسے ئے په جسم دپاسه واچوی نو پدے کښے هيڅ حرج نشته، او دلته عبد الله بن عمر ﷺ ددے کوټ په بدن باندے اچول هم ممنوع وګنړل نو ددے وجه يوه دا کيدے شی چه د عبد الله بن عمر ﷺ رائے دا وه چه محرم مطلقاً ګنډلے شوے کپړه نشی استعمالولے، برابره ده چه اندام ته ئے اغوندی او که دپاسه ئے په ځان اچوی، يا د ډير احتياط په وجه ئے د ګنډلے شوے کپړے نه ځان ساتلے دے۔ يا کيدے شی چه نافع په داسے طريقه وراچولے وی چه د هغهٔ سرئے پټ کړے وی۔ مطلب دا چه آيا تهٔ په ما باندے دا کپړه راچوی حال دا چه نبی ﷺ محرم د سر پټولو نه منع کړيدے۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] ابوداود : ۱۸۲۸۔ ارواء الغليل : ۱۹۲/۴.

2693 (16) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ ﷺ قَالَ: إِحْتَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ مِنْ طَرِيْقِ مَكَّةَ فِيْ وَسْطِ رَأْسِهِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد الله بن مالك بن بُحينه رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ د احرام په حالت کښې په لحی جمل علاقه کښې د مکې په لاره کښې د خپل سر په مينځ کښې حجامه وکړه. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مالك د عبد الله د پلار نوم دې او بُحينه د عبد الله د مور نوم دې. نو "ابن بُحينه" دويم صفت دې د عبد الله نو (مالك) لفظ به په تنوين سره لوستلې کيږي. او په ابن بُحينه کښې به الف ليکلې کيږي.

بِلَحْيِ جَمَلٍ : لحی جمل د مکې په لاره کښې د يوې چينې نوم دې، دا د جُحفې کندو دې او د سُقيَا علاقې نه اُوه (۷) ميله جدا علاقه ده. او د لحی جمل معنی : د اُوښ په جامې سره کول صحيح نۀ دی چه ګڼې حجامه ئې د اُوښ په جامه سره وکړه. دا معنیٰ غلطه ده. ځکه چه د اُوښ په جامه سره حجامه نۀ کيږي.

پدې روايت کښې دی چه په مينځ د سر کښې ئې حجامه وکړه د وجه د سر دردئ نه. او په يو روايت کښې دی چه د قدم په شا باندې ئې وکړه، او په روايت د احمد کښې د جابر رضي الله عنه نه نقل دی چه د شا په آخری حصه کښې ئې (په وَرِك) باندې وکړه، يا ئې په ملا باندې وکړه. نو دې کښې هيڅ تعارض نشته، وجه دا ده چه رسول الله ﷺ حجامه بار بار کړيده، کله ئې په سر کښې او کله د قدم په شا او کله په ورك باندې، او دا حجامه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په احرام کښې کړيده. يا يو کرت په حجة الوداع کښې او بل کرت په احرام د عمره کښې لکه دې تعدد ته حافظ طبریؒ او حافظ ابن حجرؒ اشاره کړيده. ځکه چه نبی عليه السلام به حجامه زياته کوله او ددې ډير فضائل او برکات ئې بيان کړيدی په روايت د مسلم کښې دی: [إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُم بِهِ الْحِجَامَةُ] [بخاری : ۵۶۹۶، مسلم : ۴۱۲۱]

بهترين هغه شے چه تاسو پرې علاج کوئ هغه حجامه ده. په روايت د ابوداود کښې د ابو هريره رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دی :

[إِنْ كَانَ فِيْ شَيْءٍ مَا تَدَاوَيْتُم بِهِ خَيْرٌ فَالْحِجَامَةُ] [ابو داود : ۳۸۵۹]

که چرته ستاسو په علاجونو او دوائيانو کښې خير وی نو په حجامه کښې به وی.

جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمائی : [سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : إِنَّ فِيْهِ شِفَاءً] [بخاری : ۵۶۹۷] ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلی چه په حجامه کښې شفاء ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

فوائد: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د احرام په حالت کښې حِجامت کول (ښکر لږول) او ویښته ویستل جائز دی، ویښته ویستل د احرام سره منافي نهٔ دی. برابره خبره ده که دا د ضرورت د وجې وی او که بغیر د ضرورت نه. (۲) که په سر کښې ښکر لږولو دپاره لږ ځائې خرئیلو ته ضرورت شو نو ددې خرئیل جائز دی، او راجحه داده چه په دې کښې څهٔ فدیه نشته ځکه که په دې کښې فدیه ورکول ضروري وې نو خامخا به نبي کریم ﷺ بیان کړې وې. بله دا چه: لږه حصه خرئیل د ټول سر خرئیلو پشان نهٔ دی، په لږ شان ځائې خرئیلو سره پوره نفع نهٔ حاصلیږي. او د ضرورت په وخت کښې لږ ویښتهٔ خرئیل جائز دی.

2694 (17) – وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِحْتَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ عَلٰى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهٖ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ د احرام په حالت کښې د قدم په شا باندې حجامه وکړه د یو درد د وجې نه چه په هغې باندې وو. (ابوداوٗد، نسائیؒ)

تشریح: ترمذی په شمائلو کښې ذکر کړیدی چه رسول الله ﷺ د قدم په شا باندې حجامه وکړه په ملل علاقه کښې چه دا د مکې او مدینې ترمینځ ده، د مدینې نه اولس (۱۷) میله جدا ده. ددې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ امت ته عملي دا خبره ښائی چه حجامه سره انسان ته شفاء ملاویږي، د پټو دردونو دپاره بهترین علاج دې، بلکه د هر مرض دارو دی. امام بخاريؒ پدې باندې داسې باب ایخودې دې: [بَابُ الْحِجَامَةِ فِي السَّفَرِ] یعنی حجامه په سفر کښې هم کولې شي. آسان علاج دې. ځکه چه رسول الله ﷺ دا په حالت د سفر کښې کړیدې.

درجة الحديث: [صحيح] ابو داود: ۱۸۳۷ والنسائي ۵/۱۹٤ رقم: ۲۸٤۹.

2695 (18) – وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ رضی الله عنه قَالَ: تَزَوَّجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ حَلَالٌ وَبَنٰى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ وَكُنْتُ أَنَا الرَّسُوْلَ بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ

ترجمه: او ابو رافع رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ میمونه رضی الله عنها په نکاح کړه په داسې حال کښې چه هغه په احرام کښې نهٔ وو او د هغې سره ئې وادهٔ وکړو په داسې حال کښې په

Maktaba Tul Ishaat.com

احرام کښې نۀ وو او زۀ د دواړو ترمينځ استازے (قاصد) اُوم۔ (احمدؔ، ترمذیؔ او ترمذیؔ وئيلی دی چه دا حديث حسن دے)

تشريح : ابو رافع : د رسول الله ﷺ آزاد کړه غلام دے۔

وَبَنٰى بِهَا : يعنی د هغے سره ئے وادۀ کړے وو۔ او د تزوج معنی ده : په نکاح باندے اخستل۔ د بناء معنیٰ په کتاب النکاح (۱۰) جلد کښے تفصيلًا راځی۔

أَنَا الرَّسُوْلَ : يعنی زۀ د رسول الله ﷺ او د ميمونے رضی الله عنها ترمينځ يا د رسول الله ﷺ او د عباس رضی الله عنه ترمينځ استازے وم چه عباس رضی الله عنه د ميمونے د نکاح وکيل وو۔ دا حديث ښکاره دليل دے چه رسول الله ﷺ د ميمونے رضی الله عنها سره نکاح او وادۀ دواړه په زمانه د حلت کښے کړيدی نۀ په احرام کښے۔ ځکه چه ابو رافع رضی الله عنه خپله دے واقعے ته حاضر شوے بلکه سفير دے۔

درجة الحديث : [صحيح دون قوله : (وكنت انا الرسول)] أخرجه احمد: ٣٩٢/٦ والترمذى : ٨٤١۔ وفى سنده مطر الوراق صدوق كثير الخطأ كما فى التقريب فلا تقبل زيادته على مثل الامام مالك وسليمان بن بلال۔ ارواء الغليل (٢٨٣/٥) ٢/١٤٦٠) (١٠٣٧) ولكن هذه الزيادة لا تنافى، لامكان حفظه الحديث۔



Maktaba Tul Ishaat.com

۱۲-بَابُ الْمُحْرِمِ يَجْتَنِبُ الصَّيْد

ددې بيان چه محرم به د ښکار نه ځان ساتی

د صيد نه مراد ښکار کول او د ښکار وژل دی اګرکه نهٔ ئے خوری۔

دلته يو څو مسائل دی :

(۱) **مسئله** : د ښکار نه کوم حيوان مراد دے ؟

د ښکار نه مراد هر حيوان دے چه حلال وي او صحرائی وی او په اصل خِلقت کښے وحشی وی۔ نو په حلال سره ترے حرام حيوان ووتو، نو حرام حيوان په ښکار کښے نهٔ داخليږی نو ددے وژل په حالت د احرام کښے حرام نهٔ دی لکه زمرے، مار لړم وغيره۔

په صحرائی سره دريابی حيوان ووتو، د هغے ښکار جائز دے۔ په وحشی سره کورنی حيوانات بهر شو لکه ګډه بيزه، چرګه، اُوښان، غواګانے وغيره۔ اصل خِلقت پکښے ځکه وايو، که يو حيوان تږيندہ شی، مثلًا اُوښه وتريږی او صحراء ته لاړه شی او يو محرم ئے ونيسی او ذبح ئے کړی نو جائز ده۔ ځکه چه دا په اصل کښے وحشی نهٔ دے بلکه عارضی طور سره وحشی ګرزيدلے دے۔ يا يو تن صحرائی ځناور ځان سره اموخته کولو سره وساتی مثلًا صحرائی اُوسئ (هرن)، نو ددے ذبح به هم محرم دپاره حرامه وی ځکه چه دا په اصل خِلقت کښے صحرائی دے۔

دارنګه د ښکار نه مراد هغه دے چه د هغے توالد او تناسل په اُوچه کښے کيږی، البته دريابی حيوانات جائز دی۔

(۲) **مسئله** : محرم دپاره لکه څنګه چه په حالت د احرام کښے د حرم نه بهر ښکار حرام دے، دغه شان د حرم ښکار هم ورله حرام دے۔ ځکه چه پدے سره د حرم د امن بے عزتی راځی کوم چه الله تعالیٰ د امن ځائے جوړ کړيدے۔

(۳) **مسئله**: د ښکار جزاء يا کفاره : د ټولو علماؤ پدے اتفاق دے چه د محرم دپاره ښکار کول يا په ښکار کښے د چا سره تعاون کول حرام دی، نو که محرم ښکاری حيوان

Maktaba Tul Ishaat.com

قتل کړو یائے چا سره پدے کښې مدد وکړو نو په هغهٔ باندے به جزاء لازمیږي.
د ښکار په وجه چه کومه کفاره لازمیږي د هغې په باره کښې الله تعالیٰ فرمائیلی دی:
﴿ فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا ﴾ [المائدة : ۹۵]

(کوم حیوان ئے چه وژلے وی د هغې مثل به حیوان ورکوی او پدے باندے به دوه عادل کسان فیصله کوی). د شتر مرغ په وژلو سره اوښ لازمیږي ځکه دواړه یو بل سره مشابه دی، ځکه چه ددے هم اوږدے خپے او اوږد څټ دے لکه د اوښ په شان.
نو که په یو ځائے کښې محرم شتر مرغ قتل کړي نو په هغهٔ باندے به اوښ ورکول لازم وي. که یو تن اوښ نهٔ موندہ کوی، یا وائی چه زهٔ اوښ نشم ذبح کولے نو ددهٔ دپاره به دوه عادلان کسان د اوښ قیمت ولګوی، د بعض علماؤ په نیز، یا به د شتر مرغ قیمت ولګوی بیا به په دغه روپو باندے طعام واخلی (غنم وغیره) او هغه به په فقراؤ باندے تقسیم کړي، هر فقیر ته به نیم صاع (سل ګرامه او یو کیلو) ورکړي، یا که دا هم ورته تکلیف وی نو بیا به د دغه طعام اندازه ولګوی کوم چه هر مسکین ته ورکوی، او د هر نیم صاع په مقابله کښې به یوه ورځ روژه ونیسی. (فتح ذی الجلال)
یعنی ددهٔ اختیار دے چه مثل ذبح کوی، یا د ښکار یا د مثل طعام ورکوی بنا په اختلاف د قولینو. که دا ونکړي نو بیا به د هر مسکین د طعام په ځائے یوه روژه نیسی خامخا.
بعض علماؤ (عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا) کښې اشاره صید ته کړیده او مطلب ئے دا اخستے دے چه د ښکار اندازه به ولګوی چه پدے باندے څومره کسان مړیږي مثلًا صحرائی اوسئ ئے وژلے ده نو پدے باندے (۳۰) کسان مړیږي نو د هر مسکین په بدله کښې به یوه روژه ونیسی یعنی دیرش (۳۰) روژے.
(٤) **مسئله**: محرم ښکار خوړے شی او که نهٔ؟ دا مسئله روستو حدیث کښې راروانه ده.
(٥) **مسئله**: ځنګلی حیوانات دوه قسمه دی. یو هغه دی چه د هغې غوښه خوړل کیږي او بل هغه دی چه غوښه ئے نهٔ خوړل کیږي، د اول قسم حیوان ښکار خو په اتفاق سره حرام دے. او د دویم قسم په باره کښې فیصله دا ده چه د کومو حیواناتو په طبیعت

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې ضرر ورکول پراتۀ وی او اکثر په ضرر ورکولو کښې ابتداء کوی، حمله کوی لکه شیر، پړانګ او زمرے، نو ددې ځناورو قتل کول د محرم دپاره جائز دی، او ددے په وژلو سره په محرم باندې هیڅ جزاء نۀ راځي۔ **دویم قسم** هغه دی چه په ضرر ورکولو کښې ابتداء نۀ کوی، نو حکم دا دے چه که په محرم باندې ئے حمله کوله نو هغه وژلے شی او په دۀ باندې به د هغې په وژلو هیڅ نۀ واجبیږی او کۀ حمله نکوی نو بیا به د محرم دپاره د هغې وژل جائز نۀ وی، محرم بـه پرې ابتداء نۀ کوی، کـه وې کړه نو جزاء بـه پرې لازمیږی۔

(۵) ښکار په دوه قسمه دے یو هغه دے چه د هغې مثل موجود وی لکه صحرائی غوا او میخه شوه۔ اوبل هغه دے چه د هغې مثل نۀ وی لکه چینچڼړے او مارغۍ شوے نو جمهور اهل علم مماثلت په صورت او خِلقت کښې معتبر وائی، او ابو حنیفهؒ د جمهورو خلاف کړے نو هغه معنوی مماثلت معتبر ګنړی، چه دا په هر څه کښې قیمت ته وائی۔ یعنی د ښکار قیمت به ولګوی په هغه ځائے کښې چه کوم ځائے ئے وژلے وی یا هغې ته نزدې ځائے کښې، بیا بـه پـه دغـه قیمت باندې هدی واخلی یا بـه طعام واخلی او مسکینانو ته به ئے ورکړی۔ **دلیل** دا وائی چه که مشابهت په طریقه د خِلقت او صورت سره معتبروے نو بیا د دوه عادلانو فیصلے ته څه ضرورت وو۔ فیصله خو هله کیږی چه د هغې حالت معلوم نۀ وی او نظرونه پکښې مختلف کیږی۔ د جمهورو دلیل دا دے چه په آیت کښې (فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ) کښې مشابهت د ښکار په خِلقت او صورت کښې معتبر دے څکه چه د مثل ظاهری معنیٰ مثلِ صوری او خِلقی دے، نۀ معنوی۔ دارنګه (مِنَ النَّعَمِ) لفظ دلیل دے چه دا د مِثل بیان دے۔ (يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ) کښې (بِهِ) ضمیر صرف دغه مخکښې مِثل ته راجع دے، نۀ قیمت ته۔ او (هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ) کښې هدی مثل صوری ګرځی نۀ قیمت۔ او قیمت باندې هدی اخستل او بیا لیږل بعیددی۔

پاتې شوه دا خبره چه دوه عادلانو ته ئے ولے سپارلی دی؟ نو ددې جواب دا دے چه دوه عادلان څکه ضروری دی چه د ښکار د وړوکوالی او غټ والی حالت ته وګوری، یا وګوری چه د کومو حیواناتو جنس شته او د کومو نشته۔ (قاله القرطبیؒ)

بیا مثل د حیواناتو په درې قسمه دے : (۱) اول دا چه نبی ﷺ هغه مثل پخپله بیان

Maktaba Tul Ishaat.com

کړې وی- (۲) دویم هغه چه دوه صحابه کرامو یا تابعینو مثل بیان کړے وی، (۳) دریم دا چه د نبی ﷺ او د صحابه کرامو ﷺ نه پکښې مخکښې نه حکم نۀ وی بیان شوے۔

په اول صورت کښې د بل چا حکم له اعتبار نشته لکه نبی ﷺ د ضُبع (کورګتئ) په باره کښې په یو ګډ باندے فیصله کړیده- بس همدا به معتبر وی او بل شے به جائز نۀ وی- او که د صحابه کرامو ﷺ نه پکښې فیصله ثابته وی نو بس په هغې به فیصله کولے شی لکه هغوی په صحرائی خر کښې غوا او په اُوسئ کښې ګډ او په اُوښ کښې شتر مرغ وټیلے دے- د شتر مرغ په اَنډو کښې طعام د مسکین دے، د هرے انډے په مقابل کښې یو مسکین ته طعام ورکول دی- [رواه احمد ٥/٥٨مرفوعاً والبيهقى ٥/٢٠٧]

او د کوترے په اَنډو کښې یو درهم دے- (علی ﷺ) (عبد الرزاق ٤١٨/٤) او په ملخ کښې یوه کجوره یا یو موټے طعام دے- (عمر فاروق ﷺ او ابن عباس ﷺ) (الموطا١/٤١٦، البيهقى ٥/٢٠٦، عبد الرزاق ٤١/٤) او په چینچڼه کښې دوه درهمه دی- (المحلى والمغنى)

په صحرائی اُوسئ کښې یوه چیلئ ده- (عمر فاروق ﷺ) (مالكؒ فى الموطأ ص ٤١٤، الشافعیؒ : ٢٢٦)-

په دریم صورت کښې به په دوه عادلانو باندے فیصله کولے شی-

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

2696 (1) - عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ ﷺ اَنَّهٗ اَهْدٰى لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالْاَبْوَاءِ اَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَاٰى مَا فِيْ وَجْهِهٖ قَالَ : " اِنَّا لَمْ نَرُدُّهٗ عَلَيْكَ اِلَّا اَنَّا حُرُمٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : د صعب بن جثامه ﷺ نه روایت دے چه هغه رسول الله ﷺ ته یو صحرائی خر تحفه کړو په داسے حال کښې چه هغه په ابواء یا ودان علاقه کښې وو نو رسول الله ﷺ هغۀ ته بیرته واپس کړو- نو هرکله چه نبی ﷺ د هغۀ په مخکښې خفګان ولیدو نو وے فرمایل : مونږ دا تا ته نۀ دے واپس کړے مګر پدے وجه چه مونږ په حالت د احرام کښې یو- (بخاریؒ ومسلمؒ)

تعارف د صعب بن جثامه ﷺ : د لیث قبیلے نه دے- په ودّان او اَبواء کښې وسیدۀ- ددۀ حدیث په حجازیانو کښې شمار دے- ددۀ مور فاخته د ابو سفیان بن حرب ﷺ خور وه- د ابو بکر صدیق ﷺ د خلافت په دور کښې وفات شو- څینے وائی : د عثمان ﷺ خلافته

Maktaba Tul Ishaat.com

پورې ژوندې وو- نبي ﷺ ددهٔ او د عوف بن مالك ؓ رور ولي قائمه کړې وه-

تشريح : [أَهْدٰى] هديه ئې کړو، د دوئ د ضيافت او ميلمستيا دپاره ئې ښکار کړې وو- [الْأَبْوَاءِ] د مکې او مدينې ترمينځه يو ميدان دې، ددې او د جُحفې ترمينځه شل يا ديرش ميله مسافت دې- اودا هغه ځائې دې چرته چه د نبي ﷺ د والدې قبر وو-

[وَدَّانَ] دا ابواء ته نزدې ځائې دې- او دلته (أَو) د شك دپاره دې، راوي ته شك لګيدلې چه دا ابواء مقام وو يا ودان، خو دا نزدې نزدې ځايونه دي- او دا د حجة الوداع د سفر واقعه ده، نبي ﷺ په دې علاقه کښې پړاؤ اچولې وو-

صعب ؓ يو سخي سړې وو، هغهٔ د نبي کريم ﷺ او د هغهٔ د ملګرو د ضيافت او ميلسمتيا دپاره وحشي خر ښکار کړو او نبي ﷺ ته ئې راوړو- ليکن نبي ﷺ ورته بيرته واپس کړو، هغه ډير خفه شو او رنګ ئې بدل شو چه دا هديه ولې قبوله نشوه- نبي ﷺ چه د هغهٔ رنګ ته وکتل، عذر ئې ورته پيش کړو چه مونږ ستا دا تحفه صرف په دې وجه تاته بيرته واپس کړه چه مونږ د احرام په حالت کښې يو، او تا خاص زمونږ دپاره دا ځنګلي خر ښکار کړې- دې وجې نه ددې خوراك مونږ دپاره جائز نهٔ دې-

فوائد: (۱) حديث نه ثابته شوه چه محرم دپاره د هغه ښکار غوښه خوړل حرام دي چه هغه خاص ددهٔ دپاره ښکار کړې شوې وي- لکه څنګه چه د هغه ښکار غوښه خوړل ورله حرام دي چه محرم ورته د هغې د ښکار کولو اشاره کړې وي يا ئې ورسره مدد کړې وي، يا ئې ترې غوښتنه کړې وي- په سنن ابن ماجه کښې په صحيح سند سره د ابو قتاده ؓ په همدغه حديث کښې نقل شوي هغه فرمائي : [وَاَنِّي اِنَّمَا اصْطَدْتُهٗ لَكَ فَاَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ اَصْحَابَهٗ اَنْ يَّاْكُلُوْهُ وَلَمْ يَاْكُلْ مِنْهُ حِيْنَ اَخْبَرْتُهٗ اَنِّيْ اصْطَدْتُّهٗ لَهٗ]

((کله چه ما نبي ﷺ ته عرض وکړو چه دا ما تاله ښکار کړې نو نبي ﷺ ددې نه هيڅ شې ونهٔ خوړ)) [ابن ماجه: ۳۰۹۳]

(۲) که دا يو کار ئې هم نهٔ وي کړې نو بيا ورله ددې غوښه خوړل جائز دي، لکه د ابو قتاده ؓ په حديث کښې راروان دي-

او په همدې طريقې سره ددې دواړو حديثونو ترمينځه **تطبيق** راځي- ځکه د حديث د ابو قتاده ؓ نه معلوميږي چه محرم دپاره د ښکار غوښه خوړل جائز دي، او ددې نه معلوميږي چه نهٔ دي جائز ځکه نبي ﷺ دا حمار وحشي هغهٔ ته بيرته واپس کړې- نو

Maktaba Tul Ishaat.com

په دغه مخکنی شرطونو سره ددے دواړو ترمینځه هیڅ **تعارض** نهٔ پاتے کیږی۔ او همدا **راجح** قول دے۔ بعضِ علماؤ د صعب ﷺ دا حدیث اخستے او په هر صورت کښے ئے د محرم دپاره د ښکار غوښه حرامه ګرځولے۔ خو د جمهورو علماؤ په نیز په دے کښے دغه پورتنے تفصیل دے۔

(۳) هدیه قبلول جائز دی او دا د نبی ﷺ طریقه وه۔ هغوئ به صدقه نهٔ قبلوله او هدیه به ئے قبلوله۔ (٤) چا دپاره چه هدیه اخستل جائز نهٔ وی نو هغهٔ دپاره واجب دی چه هدیه واپس کړی، او د واپس کولو وجه بیان کړی۔دے دپاره چه د هدیه کونکی په زړهٔ کښے خفګان پاتے نشی۔ او د هغهٔ زړهٔ ته اطمینان حاصل شی او وسوسے ئے ختمے شی۔ (٥) په علامه او نښه باندے فیصله کول جائز دی لکه [فَلَمَّا رَأَىٰ مَا فِي وَجْهِهِ] الفاظو نه معلومیږی۔ (٦) هدیه رد کول جائز دی کله چه د هغے د قبلولو نه مانع موجود شی، لکه په یو تن باندے هغه حرامه وی۔

(۷) د ملګری هدیه رد کول ندی پکار ځکه چه د هغهٔ په زړهٔ کښے ددے نه خفګان واقع کیږی۔ نو پدے وجه نبی ﷺ د هغهٔ د زړهٔ د خوشحالولو دپاره د واپس کولو عذر بیان کړو۔ (۸) هدیه باندے ملکیت هله راځی چه هغه قبوله کړے شی، او که تهٔ صرف د هغے په ملکیت باندے قادر شے نو تهٔ ئے مالك نهٔ جوړیږے۔

تنبیه : پدے روایت کښے مختلف الفاظ نقل شویدی، یو کښے دی : [أَهْدَىٰ حِمَارًا] چه روغ خرئے هدیه کړو۔ او بل کښے دی : [إِنَّهُ أَهْدَىٰ لَحْمَ حِمَارِ وَحْشٍ]

د صحرائی خر غوښه وه۔ په بل روایت کښے دی : [رِجْلَ حِمَارِ وَحْشٍ] د صحرائی خر خپه وه، او په بل کښے دی : [شِقَّ حِمَارٍ] د خر یو اړخ وو۔ نو ددے بعض روایاتو نه د خر ژوندی والے معلومیږی او د نورو نه د هغهٔ مرګ، نو پدے کښے بعض علماؤ د ترجیح نه کار اخستے۔ امام شافعیؒ په کتاب الام کښے وائی : حدیث د صعب ﷺ چه (أَهْدَىٰ حِمَارًا) ډیر اثبت دے د حدیث د هغه چا نه چه [إِنَّهُ أَهْدَىٰ لَحْمَ حِمَارٍ] ذکر کوی۔ امام ترمذی وائی : د زهریؒ بعض شاګردانو د زهریؒ نه دا حدیث نقل کړے او دا ئے وئیلی دی : [أَهْدَىٰ لَحْمَ حِمَارِ وَحْشٍ] لیکن دا محفوظ روایت نهٔ دے۔ بیهقیؒ وائی : سفیان بن عُیینهٔ به پدے کښے اضطراب کولو۔ او د امام بخاریؒ میلان هم دے طرفته دے، ځکه چه هغهٔ داسے باب ایخودے دے : [بَابٌ إِذَا أَهْدَىٰ لِلْمُحْرِمِ حِمَارًا وَحْشِيًّا حَيًّا لَمْ يَقْبَلْ] کله

Maktaba Tul Ishaat.com

چه محرم ته حمار وحشي ژوندے هديه کړے شي هغه به ئے نۀ قبلوي. بيا ئے پکښے دا روايت د مالکؒ راوړيدے.

او بعضو برعکس د غوښے والا ته ترجيح ورکړيده: حافظ ابن القيمؒ وائي: چا چه (لَحْم) ذکر کړيدے هغه د درے وجو نه راجح دے. يو دا چه راوي ئے قصه پوره زده کړيده تردے چه دا ئے هم پکښے زده کړيدي چه د هغے نه وينے ځاځيدلے. دا دلالت کوي چه دۀ صحيح قصه زده کړيده. دويم: دا صريح دليل دے چه دا خرځه حصه وه او د هغے غوښه وه نو دا ددے الفاظو سره څه تعارض او تناقض نۀ لري چه (إِنَّهُ أَهْدٰى حِمَارًا) بلکه په روايت د لحم باندے ددے حمل ممکن دے، ځکه چه لحم ته ئے د ټول حيوان نوم ورکړيدے. او داسے کار ډير کرته په لغت کښے کيږي. دريم: ټول روايات پدے متفق دي چه دا بعض حصه د خر وه. بيا په دغه بعض حصه کښے بعض خپه ذکر کوي او بعض عجز (کناتے) او بعض شِق (طرف) او بعض مطلقاً غوښه، او ددے رواياتو ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځکه چه ممکن ده چه هغه حصه د خر داسے وه چه په هغے کښے شا طرف هم وو او خپه هم وه نو ټول تعبيرونه صحيح شو. او ابن عيينهؒ د (حِمَارًا) لفظ نه (لَحْمَ حِمَارٍ) ته رجوع کړے او تر مرګه پورے په روستني لفظ باندے ولاړ وو.

حافظ ابن حجرؒ د امام قرطبيؒ نه دا هم ذکر کړيدي چه کيدے شي چه صعب بن جثامه ﷺ ژوندے راوړے وي، نو هرکله چه ورته رسول الله ﷺ واپس کړو نو هغۀ لاړو او ذبح ئے کړو او بيا ئے ورته يو اندام راوړو پدے ګمان چه نبي ﷺ به دا پدے وجه رد کړے وي چه ټول خر به د محرم دپاره جائز نۀ وي نو نبي ﷺ ورته خبر ورکړو چه په ښکار کښے د جزء حکم د کل په شان دے. زرقانيؒ دا نقل کړے بيا ئے وئيلي دي چه دا احتمال ډير قريب دے.

بعضو وئيلي دي چه دا په تعدد باندے حمل دي. ابن بطالؒ وائي: د صعب ﷺ د رواياتو اختلاف دلالت کوي چه دا مختلف واقعات دي په مختلفو اوقاتو کښے نو يو کرته ئے ورته ټول خر هديه کړے وو او بل کرته ئے ورته د خر شاته حصه او بل کرته ورته خپه. (مرعاة والعيني)

إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ: ددے الفاظو نه بعض علماؤ دليل نيولے دے چه محرم دپاره د ښکار غوښه مطلقاً حرامه ده، برابره ده چه حلال انسان ځان دپاره ښکار کړے وي او که د محرم دپاره.

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه دلته ئے علت د نهٔ خوړلو احرام ذکر کړو۔

جمهورو ددے نه هغه جواب ورکړے کوم چه امام شافعیؒ ورکړے هغه فرمائی : که صعب ﷺ رسول الله ﷺ ته ژوندے خر هدیه کړے وی نو د محرم دپاره د ژوندی وحشی خر ذبح حرامه ده، او که غوښه ئے هدیه کړی وی نو احتمال شته چه نبی ﷺ پوهه شوے وی چه دا ئے زما دپاره ښکار کړے دے۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : جمهورو د رد او قبول مختلف احادیث پدے طریقه جمع کړیدی چه احادیث د قبلولو (لکه حدیث د طلحه ﷺ او حدیث د زید بن کعب بهزی ﷺ او حدیث د ابو قتاده ﷺ) پدے باندے حمل دی چه حلال انسان ځان دپاره ښکار کړے وی بیا ئے د هغے نه محرم ته هدی کوی، او کومو احادیثو کښے چه رد راغلے دے لکه حدیث د صعب ﷺ او حدیث د زید بن ارقم ﷺ ، نو هغه پدے باندے حمل دی چه حلال انسان د محرم دپاره ښکار کړے وی، او پدے حدیث د صعب ﷺ کښے ئے احرام ځکه ذکر کړو چه ښکار د محرم دپاره نهٔ حرامیږی کله چه ددهٔ دپاره ښکار کړے شی مګر کله چه دے په حالت د احرام کښے وی۔ نو اصلی شرط ئے بیان کړو او د ماسویٰ نه ئے سکوت وکړو نو د هغے په نفی باندے دلالت نکوی۔ او هغه په نورو احادیثو کښے راغلی دی۔ او ددے جمع او تطبیق تائید په حدیث د جابر ﷺ کښے په فصل ثانی کښے راروان دے۔ او د بهزی ﷺ حمار ئے قبول کړو او په ملګروئے تقسیم کړو ځکه چه د هغهٔ کاروبار ښکار کول وو، دا کارو کسب وو نو نبی ﷺ هغه په خپل عادت باندے حمل کړو چه دهٔ زما دپاره نهٔ دے ښکار کړے، او دا هم هله چه په روایت د صعب ﷺ کښے غوښه هدی کول واخستے شی او که د پوره خر هدیه مراد شی نو بیا خبره واضحه ده ځکه چه پدے خبره اجماع ده چه محرم دپاره د ښکار قبلول، او هغه په پیسو اخستل او د هغے ښکار کول او په هغے باندے په یوه طریقه ملکیت راوړل ټول حرام دی۔

2697 (2) - وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ ﷺ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَخَلَّفَ مَعَ بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَوْا حِمَارًا وَحْشِيًّا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ فَلَمَّا رَأَوْهُ تَرَكُوهُ حَتّٰى رَآهُ أَبُو قَتَادَةَ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَسَأَلَهُمْ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا فَتَنَاوَلَهُ فَحَمَلَ عَلَيْهِ فَعَقَرَهُ ثُمَّ أَكَلَ فَأَكَلُوا فَنَدِمُوا فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ . قَالَ :" هَلْ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ ؟ " قَالُوْا : مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَهَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا : فَلَمَّا أَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَّحْمِلَ عَلَيْهَا ؟ أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا ؟ " قَالُوْا : لَا، قَالَ :" فَكُلُوْا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا ".

ترجمه : او ابو قتاده ﷺ نه روایت دے چه هغه د رسول الله ﷺ سره (د حج په اراده) راووتو نو دے د خپلو بعضو ملګرو سره روستو پاتے شو چه هغوی په حالت د احرام کښے وو او دهٔ احرام نهٔ وو تړلے، نو دوئ یو صحرائی خر ولیدو مخکښے ددے نه چه هغه (ابو قتاده) ئے ووینی نو هرکله چه هغوی ولیدو نو هغه ئے پریخودو دے دپاره چه ابوقتاده ئے ووینی نو ابوقتاده ﷺ په خپل اس باندے سور شو او د هغوی نه ئے وغوښتل چه هغوی دهٔ ته ددهٔ چابك ورکړی لیکن هغوی انکار وکړو (پدے وجه چه پدے ښکار کښے زمونږ څه اعانت ونشی) نو دهٔ خپله راواخستو. او په خرئے حمله وکړه او هغه ئے زخمی کړو (قتل کړو) بیا ئے (د هغے غوښه تیاره کړه) خپله ئے هم وخوړه او د هغهٔ ملګرو هم وخوړه، نو هغوی (ددے غوښے په خوړلو) خپیمانه شول (پدے ګمان چه د محرم دپاره د مطلق ښکار غوښه خوړل صحیح نهٔ دی)، نو هرکله چه دوئ رسول الله ﷺ رالاندے کړو نو د هغهٔ نه ئے تپوس وکړو. هغهٔ وفرمایل : آیا تاسو سره ددے نه څه شے شته ؟ هغوی وویل : مونږ سره ددے خپه باقی پاتے شویده. نو نبی کریم ﷺ هغه واخسته او وے خوړله (پدے سره ئے ښکاره کړه چه دا غوښه خوړل ستاسو دپاره صحیح وو) ـ (بخاریؒ ومسلمؒ) او د بخاریؒ او مسلمؒ په یو روایت کښے دا الفاظ دی : هرکله چه دوئ رسول الله ﷺ ته راغلل، (او هغوی ددے په باره کښے د نبی ﷺ نه تپوس وکړو) نو هغهٔ وفرمایل : آیا تاسو نه چا ابوقتاده ته حکم کړے وو چه هغه په خر باندے حمله وکړی یا ئے ورته اشاره کړے وه ؟ هغوی وویل : نه، وے فرمایل : نو کومه غوښه چه ددے نه باقی پاتے شویده هغه خورئ.

تشریح : خَرَجَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ : یعنی د حُدیبیه په کال باندے د رسول الله ﷺ سره راوتلے وو.

د ابو قتاده ﷺ د حمار وحشی د ښکار کولو په قصه کښے د روایاتو ډیر اختلاف دے، چه د هغے تفصیل حافظ ابن حجرؒ په "فتح الباری" کښے او محمد عابد السندیؒ په "المواهب اللطیفه" کښے ذکر کړیدے، حاصل ئے دا دے : هرکله چه رسول الله ﷺ په

Maktaba Tul Ishaat.com

عـمره د حديبيه کښې راووتو او روحاء ته ورسيدو چه دا د ذو الحليفې نه څلور ديرش ميله (يعنـی۷۔ ٥٤ کيـلـو ميتـره جـدا ځـائـې) دے، خـلـکو ورته خبر ورکړو چه د مشرکانو نه دشمـن په وادي غَيـقَـه کښې دے (غَيـقَـه د بنو غفارو چينه وه چه دا د مکے او مدينے په ميـنـځ کښې وه، چه پدے کښې د رَضویٰ اُوبه ورپريوزي او هغه بيا درياب ته غورزيږي) ويريدو ددے نه چه هغوی په دۀ باندے په غفلت حالت کښې حمله ونکړی نو يوه ډله ئے د خپـلو مـلـګرو نه تياره کړه چه په هغوی کښې ابوقتاده ﷜ هم وو، او هغوی طرفته ئے وليـږلـه دے دپاره چه د هـغـوی د شر نـه په امن کښې شي، هرکله چه دوئ په امن کښې شول نو ابوقتاده ﷜ او د هغۀ ملګری (بيرته) د نبي ﷺ سره يوځائے شول نو ټولو احرام وتړلو سوئ د هغۀ نه (يعنی د ابوقتاده ﷜ مـلګرو د ميقات نه احرام وتړلو / يا ئے ملګرو احـرام وتـړلـو په هـغـه وخت کښې چه ابوقتاده ﷜ يـواځے د دشمـن د استخباراتو دپاره ګـرځيدو نو ابوقتاده ﷜ احـرام ونـۀ تـړلو) نو دے هميشه حلال روان وو ځکه چه دے لا د ميـقـات نـه آوړيـدلے نۀ وو يا ئے د عمرے اراده نۀ وه کړے۔ او همدا راجح دہ۔ او حافظ ابن حـجرؒ دا هم وئيلي دی : چه روحاء هغه ځائے دے چه ابوقتاده ﷜ او د هغۀ ملګری د هغے نـه درياب غـاړے ته تلي وو بيا په القاحه علاقه کښې يو بل سره ملاؤ شوی وو (القاحه د سُقيا عـلاقے نـه يـو ميـل او د مـدينے نـه په درے مرحلو جدا علاقه دہ) او په دغه علاقه کښې ابوقتاده ﷜ تـه ښـکـار پـه مـخه راغلو، او ګويا که ابوقتاده ﷜ او د هـغۀ ملګری د راحـت يا بل څه دپاره روستو پاتے شوی وو، (ليکن راجح دا دہ چه د دشمـن د تعاقب کولو دپاره روستو شوی وو) او نبي ﷺ د دوئ نـه مخکښې سُقيا ته رسيدلے وو تردے چه دوئ هم ورپسے ورسيدل، او د بخاريؒ په يو روايت کښې د ابو قتاده ﷜ الفاظ داسے دی : مونږ د نبي ﷺ سره په القاحه علاقه کښې وو، او بعض زمونږ نه محرمين وو او بعض نۀ وو (د غيـر مـحـرم نـه ځان مراد کوی) نو ما خپل ملګری وليدل چه يو بل ته ئے يو شے خودلو، نو ما وکتل، هغه صحرائي خر وو، الحديث۔

حـافـظ ابـن حـجرؒ وائي : پدے تفصيل سره هغه اشکال ختميږی چه ابوبکر الاثرمؒ ذکر کړيدے چه ابوقتاده ﷜ دپاره څنګه جائز دی چه د احرام نه بغير د ميقات نه واوړی ؟۔ نو ددے وجـه دا دہ چـه ابوقـتـاده ﷜ د مکے پـه اراده نـۀ وو وتـلـے۔ حـافظ ابن حجرؒ وائي : ابوقتاده ﷜ احـرام روستـو کـړے وو ځـکـه چه هغۀ ته دا يقيني نۀ وه معلومه چه دے به

Maktaba Tul Ishaat.com

مکې ته داخليږي نو د هغهٔ دپاره تاخير د احرام جائز وو- نو اول کښې د مدينې نه رسول الله ﷺ سره وتلې وو ليکن د روحاء نه رسول الله ﷺ بل طرف ته ليږلې وو-

او په يو بل روايت کښې دي چه رسول الله ﷺ ابو قتاده ﷛ د صدقاتو دپاره وليږلو او رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګرې په حالت د احرام کښې اُووتل تردې چه عُسفان کښې راکوز شول- الحديث- حافظ ابن حجرؒ وائي : نو دا بل سبب دې او د دواړو جمع والې جائز دې-

په "المواهب اللطيفه" کښې فرمائي : چه ابو قتاده ﷛ د رسول الله ﷺ سره د مدينې نه شريك اُووتو ليکن هغهٔ ته ئې د زکاتونو په راټولو حکم کړې وو، او ددوئ لاره يوه وه نو ټولو احرام وتړلو سوئ د ابوقتاده ﷛ نه، ځکه چه دهٔ پدې وخت کښې د مکې اراده نهٔ وه کړې، بيا چه کله رسول الله ﷺ سره روحاء ته شريك ورسيدو نو خلکو د دشمن خبر راوړو، نو رسول الله ﷺ د څه ملګرو سره وليږلو چه هغوی په حالت د احرام کښې وو، هرکله چه دوئ د دشمن نه په امن کښې شول نو ابو قتاده ﷛ په خپل حالت کښې راواپس شو نو ددې وجه نه د هغهٔ دپاره تاخير د احرام جائز وو- انتهیٰ-

او کله چه د عمرې يا د حج اراده نهٔ وي نو مکې ته بغير د احرام نه داخليدل جائز دي-

بعض وائي : چه دا د هغه زمانې واقعه ده چه رسول الله ﷺ لا د احرام دپاره ميقاتونه نهٔ وو مقرر کړي- والله اعلم-

أَدْرَكُوا رَسُولَ اللَّهِ : يعني رسول الله ﷺ د دوئ نه مخکښې سُقيا ته رسيدلې وو-

فَرَكِبَ فَرَسًا : بل روايت کښې دي : چه ډير خرهٔ ئې وليدل نو د هغې نه ئې مؤنث خره اُوويشتله- او د حمار اطلاق په دواړو کيږي پدې وجه ئې حمار لفظ ذکر کړيدې يا اطلاق مجازاً دې-

فوائد الحديث : (۱) د ښکار زخمي کول د هغهٔ ذبح کول دي-

(۲) د نبي ﷺ په زمانه کښې هم اجتهاد کول جائز وو- او دا اجتهاد د هغهٔ په قرب کښې وو، نهٔ د هغهٔ په حضور کښې-

(۳) مجتهد دپاره په خپل اجتهاد باندې عمل جائز دې اګرکه د دوه مجتهدينو اجتهاد د يو بل متضاد وي، او يو باندې به هم پدې کار کښې عيب نهٔ وئيلې کيږي، لکه هغه وائي چه په موږ باندې رسول الله ﷺ عيب ونهٔ وئيلو- ګويا که چا چه ښکار وخوړو

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی اصل اباحت ته وکتل او چا چه ځان وساتلو، هغهٔ عارضی امر ته وکتل. البته د روستو خلکو دپاره د يو خاص مجتهد د اِجتهاد تابعداری ضروری نهٔ ده، خاصکر کله چه ورته نص د هغهٔ په خلاف ثابت شی نو بيا خوئے تابعداری کول گمراهی ده.

(٤) کله چه ورته دلائل متعارض ښکاره شی نو نص ته به رجوع کولے شی. ځکه چه صحابه کرامو ﷺ چه کله د حمار وحشی غوښه وخوړه نو دے وخت کښے دوئ مجتهدين وو، او دوئ ددے د خوراك په جواز کښے شك راغلو نو ددے د تحقيق دپاره ئے نبی کريم ﷺ ته رجوع وکړه. معلومه شوه چه د مجتهدينو په اجتهاد کښے به نص ته رجوع کولے شی. يعنی کله چه مجتهدين مختلف اجتهادونه وکړی نو د چا خبره چه د نص سره برابره وه هغه به اخستے شی، او دے ته تحقيق وائی، نهٔ تقليد.

(٥) فَأَكَلَهَا : نه معلومه شوه چه په فعل سره جواب د قول نه زيات قوی وی.

(٦) حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دے حديث نه ثابته شوه چه د ملګری نه هديه او تحفه غوښتل جائز دی، او د ملګری هديه به قبلولے شی. قاضی عياضؒ وائی : زما نظر دا دے چه نبی ﷺ د ابو قتاده ﷺ نه ځکه دا وغوښته چه د خوړونکو ملګرو زړونه خوشحاله کړی او ددے جواز په قول او فعل دواړو سره ښکاره کړی دے دپاره چه دغه شبهه ئے ختمه شی.

(۷) ثابته شوه چه د صحرائی خر (زيبرا) خوراك جائز دے، او د کورنو خرو د غوښو نه نبی ﷺ منع فرمائيلے ده، هغه پليت دی، په بدن کښے ئے ډير زيات جراثيم دی.

(۸) که محرم ارمان وکړی چه يو حلال انسان ډے د دوئ دپاره ښکار وکړی نو دا د هغهٔ احرام ته هيڅ ضرر نهٔ رسوی. (۹) محرم دپاره د حلال انسان ښکار کړی حيوان خوراك جائز دے کله ئے چه ددهٔ دپاره نهٔ وی ښکار کړے.

(۱۰) په روايت د ابن ماجهؒ او ابن خزيمهؒ او دارقطنیؒ کښے داسے دی : ابو قتاده ﷺ وائی چه ما کله رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو نو هغهٔ د هغے نه خوراك ونکړو. لکه دا روايت مخکښے ذکر شو. حافظ ابن خزيمه رحمه الله فرمائی : که دا روايت محفوظ شی نو بيا به مطلب دا وی چه رسول الله ﷺ د دغه خر غوښه د ابو قتاده ﷺ د اطلاع ورکولو نه مخکښے وخوړله ليکن کله چه ابو قتاده ﷺ ورته خبر ورکړو چه ما دا ستا دپاره ښکار کړے وو نو بيا ترے منع شو. آه. نو ددے نه دا معلوميږی چه کله يو تن ته د مخکښے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومه شی چه دا فلانے ښکار زما دپاره شویدے او دے په حالت د احرام کښے وی نو خوراك به تريے نکوی او کله چه غوښه راوړے شی او دا پته نۀ وی چه دا د ښکار غوښه ده، یا ددۀ دپاره ښکار شویده، نو دا په اصل اباحت باندے حمل ده نو ددے نه خوراك جائز دے۔ نو دا هم معلومه شوه چه که یو حرام شے بغیر د علم نه انسان وخوری او روستو معلومه شی چه دا خو حرامه وه، نو فوراً به منع شی، او په مخکښی خوراك ګناهګار نۀ دے۔

2698 (3) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " خَمْسٌ لَا جُنَاحَ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحَرَمِ وَالْإِحْرَامِ : الْفَأْرَةُ وَالْغُرَابُ وَالْحِدَأَةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغۀ وفرمایل : پنځه ځناور دی چه چا په حرم او په حالت د احرام کښے قتل کړل هیڅ ګناه پرے نشته : ۱- منږك، (مږه) ۲- کارغۀ (۳) تپوس۔ (٤) لړم۔ (٥) او چیچونکے سپے۔ (بخاریؒ او مسلمؒ)

تشریح : خَمْسٌ : په روایت د شیخینو کښے خَمْسٌ مِنَ الدَّوَابِّ لفظ ذکر دے۔ او دوابّ جمع د دابّة ده۔ او خَمْسٌ مبتداء ده چه تخصیص په روستو صفت (لَا جُنَاحَ جملے) سره شویدے۔

لَا جُنَاحَ : دلته ئے نفی د ګناه وکړه، او په بل روایت کښے ددے ځیزونو په وژلو امر راغلے دے نو د هغے نه ددے د وژلو استحباب معلومیږی۔

الْحَرَمِ : او د ابوداودؒ په روایت کښے (فِي الْحَلِّ وَالْإِحْرَامِ) الفاظ دی : د حل نه مراد د حرم نه بهر زمکه ده۔ وَالْإِحْرَامِ : یعنی په حالت د احرام کښے۔

[وَالْفَأْرَةُ] مږه او منږك، دا په کورونو کښے ورانے کوی، کورونه کنی، سوری کوی، جامے ځیرے کوی او کتابونه خوری۔ تول سلف او خلف ددے په وژلو قائل دی سوئ د ابراهیم نخعیؒ نه چه هغۀ ددے نه د مُحرم دپاره منع کړیده۔ مګر هغۀ ته دا روایت نۀ دے رسیدلے۔

بیهقیؒ په صحیح سند سره د حماد بن زیدؒ نه نقل کړیدی : هرکله چه خلکو هغۀ ته د ابراهیمؒ دا قول ذکر کړو نو هغۀ وفرمایل : [مَا كَانَ بِالْكُوفَةِ أَفْحَشُ رَدًّا لِلْآثَارِ مِنْ إِبْرَاهِيمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّخَعِيّ لِقِلَّةِ مَا سَمِعَ مِنْهَا وَلَا أُحْسِنُ اتِّبَاعًا لَهَا مِنَ الشَّعْبِيِّ لِكَثْرَةِ مَا سَمِعَ]

[سنن البيهقي الكبرى : ٥/ص ٢١٢ ح ٩٨٣٤]

په کوفه کښې د ابراهیم نخعیؒ نه زیات احادیثو لره رد کونکے بل نشته ځکه چه هغهٔ روایتونه کم آوریدلی، او د شعبیؒ نه د احادیثو زیات ښائسته تابعداری کونکے نشته ځکه چه هغهٔ احادیث زیات آوریدلی- (یعنی ابراهیم نخعیؒ به قصداً مخالفت نکولو بلکه د روایت د نهٔ رسیدو په وجه به خطاء کیدو)

[اَلْغُرَابُ] د مسلمؒ په روایت کښې ورسره اَبْقَع قید راغلے یعنی هغه کارغهٔ چه ملا یا خیټه کښې ئے سپینوالے وی۔

[اَلْحِدَأَةُ] : تپس چه مرغئ، غوښې او چرګوړی تښتوی او مُردارے خوری۔

[وَالْعَقْرَبُ] : لړم، او په دے کښې مار هم داخل دے لکه په بعضِ روایاتو کښې ددے تصریح شوے۔

[اَلْكَلْبُ الْعَقُوْرُ] : چیچونکے سپے، دا د عاقر نه مبالغه ده او د عَقر نه ماخوذ دے، وژلو او زخمی کولو ته وائی۔ او په دے کښې پړانګ، زمرے، شرمخ وغیره داخل دی۔ لکه رسول الله ﷺ د عتبه بن ابی لهب په باره کښې وئیلی وو : [اَللّٰهُمَّ سَلِّطْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِنْ كِلَابِكَ] اے الله! په دهٔ باندے د خپلو سپو نه یو سپے مسلط کړه۔ نو بیا شرمخ وخوړو۔ ددے نه هم معلومیږی چه د سپی په حکم کښې دا ذکر شوی ټول ځناور داخل دی۔

اَلْعَقُوْرُ: کوم سپے چه چیچونکے نهٔ وی آیا د هغے وژل جائز دی؟، نو پدے کښې د علماؤ اختلاف دے، (۱) قاضی حسینؒ او ماوردیؒ او امام الحرمینؒ وائی چه ناجائز دی۔

(۲) امام شافعیؒ وائی جائز دی۔ نو که یو سپے چیچونکے وی د هغے وژل مستحب دی او که دا قید پکښې نهٔ وی نو بیا جائز دی۔ **لیکن** د جواز دلیل نشته بلکه رسول الله ﷺ د سپو د وژلو نه منع کړے سوئ د ذو النقطتین تور سپی نه۔ جابر ﷺ فرمائی : [نَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنْ قَتْلِ الْكِلَابِ وَقَالَ : عَلَيْكُمْ بِ (الْكَلْبِ) الْاَسْوَدِ الْبَهِيْمِ ذِى النُّقْطَتَيْنِ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ] [مسلم : ٤١٠٣، احمد : ١٤٦١٥] نبی ﷺ د سپو د وژلو نه منع وفرمایله بیا ئے وفرمایل : صرف تک تور چه دوه ټاکی پرے وی هغه وژنئ ځکه چه هغه شیطان دے۔

او ددے پنځو تخصیص ئے وکړو ځکه چه ددے حیواناتو په طبیعت کښې ضرر رَسول پراتهٔ دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2699 (4) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" خَمْسُ فَوَاسِقَ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ : الْحَيَّةُ وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ وَالْحُدَيَّا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ﷺ د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغه فرمایلی : ضرر ورکونکی پنځه ځناور دی چه هغه به د حدودو د حرم نه بهر او په حدودو د حرم کښې هم وژلے شی (وژونکے برابره ده چه په حالت د احرام کښې وی او که د احرام نه بهر وی). ۱- مار. ۲- برګ کارغهٔ، ۳- مږه، ٤- چیچونکے سپے. ٥- او تپوس. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : خَمسٌ : دے کښې دوه ترکیبه دی : (۱) په تنوین سره مبتداء ده او فواسق ئے صفت دے، غیر منصرف دے، او خبر ئے (يُقْتَلْنَ) دے. او دا ترکیب پکښې غوره دے، ځکه چه دلته به فسق علت د قتل دپاره جوړ شی نو پدے کښې به ټول هغه حیوانات داخل شی چه په هغے کښې فسق وی. لکه دا ترکیب د نورو روایاتو سره موافق دے. (۲) یا خمس مضاف دے فواسق ته. لکه دا مشهور دے، (نوویؒ) لیکن ابن دقیق العیدؒ اول ته ترجیح ورکړے او دے ته ئے هم جائز مرجوح وئیلی، ځکه چه اضافت کښې تخصیص راځی ددے پنځه څیزونو پورے.

[فَوَاسِقُ] جمع د فاسق ده، بل روایت کښې فَاسِقٌ دے، فسق خروج او وتلو ته وائی، فاسق هغه کس ته وائی چه د الله تعالیٰ د طاعت نه وتے وی. نو دے حیواناتو ته په دے وجه فاسق وویل شول چه دوئ د خپل شر او خباثت او ضرری کیدو په وجه د نورو حیواناتو د جُملے نه وتلی دی. یعنی خباثت او ضرر ئے زیات دے.

الْحُدَيَّا : تصغیر د حِدَأَةٌ دے. تپوس ته وائی.

ددے پنځو حیواناتو په قتل باندے حکم وشو، ددے حکمت دا دے چه الله تعالیٰ ته پدے کښې ډیر ضرر او مفاسد معلوم دی چه خپل نبی ته ئے اطلاع ورکړه چه دا وژنئ. او بله دا چه ددے ضرر انسان ته نزدے دے او زر فساد والا دی، او انسان ددے په دفع کولو او ددینه په ځان ساتلو پوره قادر نهٔ دے، ځکه چه بعض آلوزی او بعض په سوړه کښې پټیږی او بعض د دشمن په شان حمله کوی. او دا د انسانانو سره وسیږی نو په انسان باندے حمله کولے شی.

Maktaba Tul Ishaat.com

فوائد: (۱) حديث نه ثابته شوه چه دا حيوانات په حرم او زمينِ حِل دواړو کښې وژل جائز دي، دارنګه د محرم او غير محرم دواړو دپاره ددې وژل جائز دي ولې چه دا ضرري او مُؤذِيْ حيوانات دي. ددې په حکم کښې هر هغه حيوانات او حشرات داخل دي چه انسان ته ضرر ورکوي لکه ماشې، مچ، سپږې وغيره. (۲) ددې حيواناتو په وژلو کښې فديه نشته، ځکه ددې د ضرري کيدو په وجه ددې د وژلو حکم راغلې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2700 (5) – عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَحْمُ الصَّيْدِ لَكُمْ فِي الْإِحْرَامِ حَلَالٌ مَا لَمْ تَصِيْدُوْهُ أَوْ يُصَادَ لَكُمْ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: جابر ﷛ نه روايت دې چه بيشکه رسول الله ﷺ وفرمايل: د ښکار غوښه تاسو له په حالت د احرام کښې حلاله ده ترڅو چه تاسو نۀ وي ښکار کړې يا ستاسو دپاره نۀ وي ښکار کړې شوې. (ابوداوٗد، ترمذيؒ، نسائيؒ)

تشريح: يعنې د ښکار غوښه تاسو له په حالت د احرام کښې حلاله ده پدې شرط چه تاسو خپله نۀ وي ښکار کړې، يا تاسو ورته اشاره نۀ وي ورکړې، يا مو ورسره مدد نۀ وي کړې، يا مو ورته خودنه نۀ وي کړې. اګرکه هغه ښکار کونکې خپله په حالت د احرام کښې نۀ وي. او دا مذهب د امام شافعيؒ، مالكؒ او جمهوروؒ دې. او احنافؒ پدې کښې داسې تاويل کوي: چه که په حالت د احرام کښې ژوندې ښکار تا ته څوك په تحفه کښې درکړي نو د هغې غوښه خوړل به ستاسو دپاره حرام وي. ليکن دا بې دليله بعيد تاويل دې.

أَوْ يُصَادَ لَكُمْ: يعنې ستاسو د وجه نه ښکار کړې شي. او ستاسو دپاره ښکار کړې شي. اَوْيُصَادَ په الف سره هم صحيح دې، او دا منصوب دې ځکه چه (اَوْ) په معنیٰ د (اِلَّا اَنْ) سره دې، نو هيڅ اشکال پکښې نشته. يا مرفوع دې او دا بناء دې په يو لغت د عربو. اګرکه (يُصَدُ لَكُمْ) لفظ د مشهور لغتِ عربي سره برابر دې. او په يو روايت د احمدؒ، او ترمذيؒ کښې (يُصَدُ لَكُمْ) د مشهور لغت سره برابر راغلې دې.

درجة الحديث: [إسناده صحيح] احمد: ۳/۳۸۷، ۳۸۹، ابوداود: ۱۸۵۱، ترمذي: ۸٤٦، نسائي: ۵/۱۸۷ والشافعي في الأم: ۲/۲۰۸، وابن خزيمة رقم: ۲٦٤۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

2701 (6) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْجَرَادُ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ فرمایلی: ملخان د دریاب د ښکار نه دی۔ (ابوداوٌد، ترمذیٌ)

تشریح: اَلْجَرَادُ: مفرد ئې جَرَادَةٌ دے، ملخان۔ پدے کښې مذکر او مؤنث برابر دی لکه د حَمَامَةٌ په شان۔ "حیاة الحیوان" کښې علامه دمیریٌ لیکی: جراد مختلف اقسام دی، تور، سپین، سرهٔ، زیړ، ددے شپږ خپے وی، دوه لاسونه ئې په سینه کښې وی، او دوه خپے ئې په مینځ کښې او دوه خپے ئې په آخر کښې وی، او د خپو دواړه طرفونه ئې د آرے په شان وی، دا هغه حیوان دے چه د خپل مشر ډیر تابعدار وی، نو د فوج په شان راغونډیږی کله چه ددے اولنے تن سفر شروع کړی نو ټول پرله پسے سفر شروع کوی، او کله ئې چه اول یو ځائے کښې کینی نو ټول هلته کینی۔ او په ملخ کښې د لسو جَبَابره حیواناتو خِلقت دے سره د ضعف ددے نه۔ مخ ئې د آس په شان دے، سترګے ئې د هاتی په شان، ځټ ئې د غوائی په شان، او ښکر ئې د صحرائی ایری (چیلی) په شان او سینه ئې د زمری او خیټه د لړم او وزرے ئې د نسر (باز) مارغهٔ، او ورنونه (پتنونه) د اوښ او خپے د شتر مرغ او لکئ د مار په شان ده۔ آه۔

دا په کانړی کښې انډے اچوی، او تر وچوالی پورے ئې پریدی بیا راخوارهٔ شی نو چه کله په یو فصل ورتیر شی نو د بیخ نه ئې وربېی۔

مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ: بعض وائی چه ملخان د ماهیانو نه پیدا کیږی لکه د چینجو په شان بیا ئې دریاب غاړے ته راوغورزوی۔

علامه باجیٌ د کعبٌ نه نقل کړیدی چه اول کښې ملخان د ماهی د پوزے نه راوتی وو۔

بیا علماؤ اختلاف کړے چه آیا دا دریابی ښکار دے چه په وژلو کښې ئې جزاء نشته او که د وچے دے؟ (۱) نو مالك، شافعیٌ او ابو حنیفهٌ او د امام احمدٌ یو روایت دا دے چه دا د وچے ښکار دے او ددے په وژلو کښې جزاء شته۔ او دا قول د عمر فاروق ﷺ، عثمان ﷺ، ابن عباس ﷺ او عطاءٌ دے۔

(۲) او ابو سعید الاصطخریٌ او کعب الاحبارٌ او عروه بن الزبیرٌ وائی چه دا دریابی

Maktaba Tul Ishaat.com

حیوان دے نو ددے په وژلو کښے هیڅ جزاء نشته۔ او دا حدیث الباب ورله په دلیل کښے پیش کولے کیږي لیکن دا ضعیف دے۔ او عمر فاروق ﷛ کعب الاحبارؒ ته وئیلي وو چه [دِرْهَمَانِ خَيْرٌ مِنْ مِائَةِ جَرَادَةٍ] د سلو ملخانو د وژلو په بدله کښے دوه درهمه ورکول ډیر غوره دي۔ امام احمدؒ وائي: د یو ملخ په وژلو کښے یوه کجوره ورکول بهتر دي۔ ابن عباس ﷛ وائي: یو موټے طعام به ورکوي۔ او ددے علماؤ مطلب دا دے چه پدے باره کښے ادنیٰ شے ورکول هم کافي دي، او تحدید او تعیین ئے مقصد نهٔ دے۔ او راجح هم دا قول دے چه دا د اُوچے حیوان دے، ځکه چه په اُوبو کښے مري، او خوراك او ژوندئے تول د زمکے په خوراکونو او گیاه گانو آباد دے۔

او دهٔ ته دریابي ښکار پدے وجه وئیلے شویدے چه دا د دریاب د حیواناتو سره مشابه دے پدے طریقه چه دا بغیر د ذبح کولو نه حلال دے۔ او ددے په خوراك باندے اتفاق د امت دے۔ عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷛ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره اُوه غزاگانے وکړے او مونږ به ملخان خوړل۔ (بخاریؒ)

درجة الحديث: [ضعيف] ابوداود: ۱۸۵۳، الترمذي: ۸۵۰، وابن ماجه: ۳۲۲۔ فيه ميمون بن جابان ضعيف۔ وابو المهزم يزيد بن سفيان لا يتابع على حديثه.

2702 (7) – وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷛ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ السَّبُعَ الْعَادِيَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: او ابو سعید خدري ﷛ د نبي کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوي چه هغهٔ وفرمایل: محرم سرے حمله کونکے درنده وژلے شي۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح: السَّبُعَ الْعَادِيَ: یعني محرم هر هغه درنده حیوان وژلے شي چه په خلکو باندے حمله کوي او دا قول د سفیان الثوريؒ، شافعيؒ، مالكؒ او جمهورؒو دے۔ عدوان ئے سبب د وژلو دے۔

درجة الحديث: [ضعيف] احمد: ۳/۳، ابوداود: ۱۸۴۸، والترمذي: ۸۳۸، وقال حديث حسن، وابن ماجه ۲/۱۰۳۲، رقم: ۳۰۸۹۔ قال في الزوائد: في إسناده يزيد بن زياد وهو ضعيف۔ راجع الإرواء: ۴/۲۲۱، ۲۲۶، رقم: ۱۰۳۶، وقال ابن حبان في كتاب الضعفاء: يزيد بن ابي زياد كان صدوقا، الا انه لما كبر تغير فكان يلقن فيتلقن، فسماع من سمع منه قبل دخوله الكوفة في اول

Maktaba Tul Ishaat.com

عمره سماع صحيح، وسماع من سمع منه فی آخر قدومه الكوفة ليس بشيء انتهیٰ۔ وقال ابو الحسن: يزيد بن ابی زياد جيد الحديث وعده مسلم فی صنف اهل العلم والصدق۔ (نصب الراية: ۱/۲ ۰ ٤، باب صفة الصلاة).

2703 (8) – وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الضَّبُعِ أَصَيْدٌ هِيَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ فَقُلْتُ: أَيُؤْكَلُ؟ فَقَالَ: نَعَمْ فَقُلْتُ: سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالشَّافِعِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

ترجمه: او عبد الرحمن بن ابی عمارؒ فرمائی: ما د جابر بن عبد الله ﷺ نه د ګورګتې په باره کښې پوښتنه وکړه چه آیا دا ښکار دے؟ نو وے فرمایل: آؤ، نو ما وویل: آیا دا خوړلے شی؟ نو وے فرمایل: آؤ، ما وویل: آیا تا د رسول الله ﷺ نه دا آوریدلی؟ وے فرمایل: آؤ۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، شافعیؒ او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے)

تعارف د عبد الرحمن بن ابی عمارؒ: دا د مکے اُوسیدونکے، د قریشو د بنو جُمَح قبیلے سره حلیف وو او دهٔ ته به ئے قُس وئیلو (یعنی عابد) ځکه چه دے ډیر عبادت ګذار وو۔

تشریح: الضَّبُعِ: ګورګتېٔ ته وائی، دا یو حیوان دے چه مړی راوباسی او هغه خوری۔ فارسی کښې ورته "کفتار" وائی او په اُردو کښې "بجّو"۔

بعض وائی: پدے کښې مذکر او مؤنث برابر دی، او بعض وائی چه مؤنث ئے ضَبُعَةٌ دے او مذکر ضِبُعَان دے او جمع ئے ضَبَاعِيْنُ ده۔ بعض وائی: مؤنث ئے ضِبُعَانَةٌ دے۔ (الصحاح) علماؤ لیکلی دی: ددهٔ عجیبه حالت دا دے چه دا یو کال مذکر وی، او بل کال مؤنث جوړیږی، نو د مذکر والی په حالت کښې تلقیح (دانه اچوی) او د مؤنث والی په حالت کښې اولاد راوړی۔ او ددهٔ د انسانانو د غوښو سره ډیره مینه ده نو پدے وجه قبرونو نه مړی راوباسی، او دے چه کله یو انسان اُودهٔ وینی نو د هغهٔ د سر لاندے کنده اُوباسی بیا د هغهٔ مرئ ونیسی او قتل ئے کړی او وینه ئے وڅکی۔

أَصَيْدٌ هِيَ؟: یعنی آیا ددے په وژلو کښې جزاء شته؟۔

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث : [صحيح] احمد : ۳/۳۱۸، ۳۲۲، الدارمي ۲/۷٤، والترمذي : ۸۵۱، وقال حديث حسن صحيح والنسائي : ۵/۱۹۱ وابن ماجه : ۳٤۳٦.

2704 (9) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّبُعِ ؟ قَالَ :"**هُوَ صَيْدٌ وَيَجْعَلُ فِيهِ كَبْشًا إِذَا أَصَابَهُ الْمُحْرِمُ** ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه د كورګتيۍ په باره كښې پوښتنه وكړه ؟ نو وې فرمايل : دا ښكار دې او ددې په (وژلو) كښې ئې يو ګډ مقرر كړو كله چه محرم سړے دا مړ كړي. (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه ضبع ښكار دے او ددې په وژلو كښې جزاء شته او دا د څلورو وارو امامانو ترمينځ اتفاقي مسئله ده، البته ددې په جزاء كښې ګډ يا ګډه او چيلۍ لازميدو كښې اختلاف دے : (۱) ائمه ثلاثه (مالكؒ، شافعيؒ او احمدؒ) وائي چه پدے كښې ګډ لازم دے. (۲) او د احنافو په نيز پدے كښې قيمت دے. مګر دا قول ددے صريحو او صحيحو رواياتو مخالف دے، ځكه چه صحابه كرامو ﷺ پدے باندے فيصله كړيده او د ښكار مثل ئې بيان كړے. لكه د عمر فاروق ﷺ، عثمان ﷺ، علي ﷺ، زيد بن ثابت ﷺ، ابن عباس ﷺ او معاويه ﷺ په نيز په شتر مرغ كښې بَدَنه وئيلے ده، او عمر فاروق ﷺ په صحرائي خر كښې غوا باندے فيصله كړيده، او عمر ﷺ او علي ﷺ په اُوسۍ كښې ګډه وئيلے. او قيمت ئې نهٔ دے ذكر كړے. اوزاعيؒ وائي : د شام علماء ضبع د درنده ګانو نه شماري او ددے خوراك بد ګڼري او همدا د قياس مطابق ده، ليكن اتباع د سنت او آثارو ډيره لائق ده.

كوم علماء چه دا په (كُلُّ ذِئ نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ) كښې شمارلے چه د هر داړه ورحيوان د خوراك نه منع راغلے ده، نو دا خبره ضعيفه ده، حافظ شنقيطيؒ وائي چه يا خو ضبع مستثنیٰ دے د دغه روايت د تحريم نه. ځكه چه دليل د اباحت د ضبع خاص دے او احاديث د تحريم عام دي او خاص په عام باندے مقدم وي.

يا ابن رسلانؒ او ابن قدامةؒ نه نقل دي چه ضبع داړه ور حيوان نهٔ دے بلكه ددے داړه نشته او ټول غاښونه ئې يو هډوكے دے، لكه د آس د نعل په شان.

امام ابن القيمؒ په "اعلام الموقعين" كښې ليكي : ځوك چه د نبي ﷺ په الفاظو كښې

Maktaba Tul Ishaat.com

فكر وكړي هغهٔ ته به ددے سوال جواب خپله ښكاره شي ځكه چه نبي ﷺ (ذِيْ نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ) لفظ وئيلے دے، يو دا چه داړه لري او بل دا چه درنده وي، لكه د زمري او شرمخ او پړانګ په شان وي. او په ضبع كښے يو وصف شته چه داړه لري ليكن دا د درنده ګانو (ماتونكو) حيواناتو نه نهٔ دے. او ذِيْ نَاب خاص دے د سَبُع نه، او ضُبُع په عرف او لغت دواړو كښے د درنده ګانو نه نهٔ دے.

امام شافعيؒ وئيلي دي چه د ګورګتيو غوښے د صفا او مروه ترمينځ په مكه كښے خرڅولے شي. خطابيؒ په معالم السنن كښے وائي: سعد بن ابي وقاص ﷺ به ګورګتئ خوړلے، ابن عباس ﷺ نه ددے اباحت نقل دے. ابن قدامهٔ وائي: د ابن عمر ﷺ او ابو هريره ﷺ په نيز ګورګتئ حلاله ده، (معالم السنن: ۲٤۸/٤، وتحفة الاحوذي: ٤۹۳/٤، رقم: ۱۷۱۳، والمغني: ٤۲۱/۲۱، رقم: ۷۸۲۲) لهذا پدے كښے د هغه علماؤ قول ددے حديث خلاف دے چه وائي: د ګور ګتئ خوراك حرام دے.

درجة الحديث: [صحيح] الدارمي: ۷٤/۲، وابو داود: ۳۸۰۱، وابن ماجه: ۳۰۸۵.

2705 (10) – وعن خُزَيْمَةَ بْنِ جَزِيٍّ ﷺ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الضَّبُعِ. قَالَ: "**أَوَ يَأْكُلُ الضَّبُعَ أَحَدٌ**؟". وَسَأَلْتُهُ عَنْ أَكْلِ الذِّئْبِ. قَالَ: "**أَوَ يَأْكُلُ الذِّئْبَ أَحَدٌ فِيْهِ خَيْرٌ**؟". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ

ترجمه: او خزيمه بن جزي ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه د ګورګتئ د غوښے په باره كښے پوښتنه وكړه، نو هغهٔ وفرمايل: آيا څوك د ګورګتئ غوښه هم خوري؟ او ما ترے د شرمخ د خوړلو په باره كښے پوښتنه وكړه، نو وے فرمايل: آيا داسے شخص چه په هغهٔ كښے خير وي هغه به د شرمخ غوښه وخوري؟. (ترمذيؒ او ترمذيؒ وئيلي دي چه ددے سند قوي نهٔ دے)

خزيمة بن جزي ﷺ: ددهٔ د پلار نوم كښے جزء په همزه سره هم صحيح دے او په ياء سره هم. دا صحابي دے او صرف هم دا حديث ترے نقل دے.

تشريح: "أَوَ يَأْكُلُ الضَّبُعَ أَحَدٌ؟": سنديؒ وائي: پدے كښے اشاره كوي چه دا خو طبيعت نهٔ مني، يعني دا طبعاً مكروه دے. حرام ئے ورته نهٔ دے وئيلے. يعني طبيعت ئے بد ګڼړي. او يو تن يو شے ډير كرته طبعاً بد ګڼړي ليكن دا تحريم لره مستلزم نهٔ دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

لهذا دليل د تحريم صحيح نۀ دے او دليل د اباحت د ضبع ډير قوى دے۔ بله دا چه دا روايت سندًا ضعيف دے۔ أَحَدٌ فِيهِ خَيْرٌ : يعنى چا كښے چه خير او صلاحيت او تقوىٰ وى نو آيا د شرمخ غوښه به وخورى ؟۔

درجة الحديث : [ضعيف] الترمذي : ۱۷۹۲ وقال هذا حديث ليس إسناده بالقوى لا نعرفه إلا من حديث إسماعيل بن مسلم عن عبد الكريم أبى أمية. وعبد الكريم ضعيف۔ وأخرجه ابن ماجه : ۳۲۳۷.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2706 (11) – عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ : كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ ﷺ وَنَحْنُ حُرُمٌ فَأُهْدِىَ لَهُ طَيْرٌ وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَافَقَ مَنْ أَكَلَهُ قَالَ : فَأَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : عبد الرحمن بن عثمان التيمى ﷺ فرمائى : مونږ د طلحه بن عبيد الله ﷺ سره وو او مونږ په حالت د احرام كښے وو نو هغۀ ته يو (وريت كړے شوے) مارغۀ تحفه كښے راوړے شو او طلحه ﷺ اُودۀ وو، نو زمونږ نه چا وخوړو او زمونږ نه چا پرهيز وكړو، هركله چه طلحه ﷺ رابيدار شو نو د هغه چا موافقت ئے وكړو چه هغه ئے خوړلے وو۔ وے فرمايل : مونږ د رسول الله ﷺ سره دغسے (يعنى په حالت د احرام كښے د ښكار غوښه) خوړلے وه۔ (مسلمٌ)

تعارف د عبد الرحمن بن عثمان بن عبيد الله ﷺ : د بنو تيم نه قريشى صحابى دے، د طلحه بن عبيد الله وراره دے، دۀ ته به ئے شارب الذهب وئيلو، د حديبيه په ورځ ئے اسلام قبول كړو۔ اول د رسول الله ﷺ سره عمرة القضاء كښے حاضر شو۔ او په يرموك كښے د ابو عُبيده بن الجراح ﷺ سره ملگرے وو، او د عبد الله بن زبير ﷺ ملگرے وو او بيا د هغۀ سره په يوه ورځ په مكه كښے شهيد شو او په حَزْوَره كښے دفن شو۔ بيا هركله چه په مسجد حرام كښے كشاده گى وشوه نو ددۀ قبر په مسجد حرام كښے داخل كړے شو۔

تشريح : طَيْرٌ : يعنى وريت شوے يا پوخ شوے مارغۀ تحفه كړے شو۔ او دا يا خو غټ مارغۀ وو چه غوښه ئے تولو ملگرو دپاره كافى شوه، يا طير نه مراد جنس دے، يعنى ډير مارغان۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ : چا ترې خوراك وكړو، ځكه چه په دوستانه ئې اعتماد وو، د ملگرى په خوراك نۀ خفه كيدل، او د محرم دپاره د ښكار غوښه خوړل ئې جائز گنړل كله ئې چه خپله نۀ وى ښكار كړى.

مَنْ تَوَرَّعَ : چا پرهيز وكړو، گمان ئې وكړو چه محرم دپاره به ددې خوراك جائز نۀ وى.

وَافَقَ مَنْ أَكَلَهُ : د غوښې خوړونكو سره د طلحه ﷺ موافقت په قول سره هم كيدې شى او په فعل سره هم، يعنى طلحه ﷺ به هغوى ته په ژبه دا وئيلى وى چه تاسو كومه غوښه وخوړه، ښۀ مو وكړل، پدې كښې هيڅ حرج نشته، دا قولى موافقت دې، يا دا چه هغۀ به خپله هم باقى پاتې شوې غوښه خوړلى وى، دا فعلى موافقت دې.



Maktaba Tul Ishaat.com

۱۳- باب الإِحْصَارِ وَفَوْتِ الْحَجِّ

د اِحصار (یعنی بندیدو) او د حج د فوت کیدو بیان۔

اَلْإِحْصَار : منع کول، بندول، برابره خبره ده که منع کونکے شے دشمن وی، یا مرض او قید کیدل۔ دلته مراد دا چه انسان د نُسُك (عبادت) پوره کولو نه په څهٔ شیٔ سره بند شی که هغه دشمن وی یا مرض یا بل شے وی۔ ځینے فقهاؤ او اهلِ لغت د حصر او احصار ترمینځه فرق کړے چه اِحصار دیته وائی چه د مرض د وجے وی، او حصر د دشمن د وجے وی۔ او چا ددے برعکس فرق کړے، خو راجحه داده چه په یو بل باندے ئے اطلاق کیږی۔

فوت الحج : د حج فوت کیدل۔ په دے وجه چه انسان احرام وتړی او په عرفات کښے د مرض یا د تاخیر یا د لارے ورك کیدو یا بلے وجے نه ترے وقوف فوت شی۔ برابره خبره ده که په عذر سره وی او که بغیر د عذر نه، په دے کښے فرق صرف په گناه کښے دے۔ او فوات صرفِ په حج کښے راځی نهٔ په عمره کښے ځکه عُمره هر وخت کیږی، البته د حجِ قِران په تبعیت کښے د عُمرے فوات هم راځی۔

د حج د فوت کیدو مطلب او ددے حکم :

د حج د فوت کیدو مطلب دا دے چه مثلًا یو شخص حج ته لاړو، دهٔ احرام هم وتړلو لیکن یوه داسے خبره راپیښه شوه چه هغه د عرفے په ورځ د نمر د زوال نه روستو د اختر د صبا پورے وخت کښے یو منټ دپاره هم په عرفات کښے ونهٔ دریدو (ځکه چه د عرفات وقوف د عرفے د ورځے د زوال نه شروع کیږی او د اختر د صبا راختلو سره ختمیږی، پدے موده کښے وقوف د عرفات فرض دے اگرکه د یو منټ دپاره ولے نهٔ وی) نو پدے صورت کښے به حج فوت حسابیږی۔ او چا نه چه حج فوت شی هغهٔ ته فائت الحج وائی۔

د چا نه چه حج فوت شی هغه به څه کوی؟ نو د جمهورو په نیز هغه به په عمرے کولو سره احرام کولاووی، یعنی طواف او صفا او مروه کښے به سعی وکړی بیا به احرام

Maktaba Tul Ishaat.com

پرانیزي۔ خو پدې شرط که د احرام په وخت ئې شرط نهٔ وي لګولے، او که داسې شرط ئې لګولے وي چه اے الله! کـه زهٔ کـوم عـذر ایسار کـړم د حـج یا عمرې نـه نو زما د احرام کـولاوول بـه هـغـه ځائې وي کـوم ځائې چه زهٔ بند شوم۔ نو بیا بغیر د عمرې او هدی نه احرام کوزولے شي۔ او دا قول د ابن عمر ﷺ او عمر فاروق ﷺ نه نقل دے۔

لکه امام مالکؒ په مؤطا کښې ذکر کړي چه عمر بن خطاب ﷺ ابو ایوب انصاري ﷺ او هبار بن اسود ﷺ تـه، هـر کـله چـه ددې دواړو نـه حـج فـوت شـو او د یوم النحر په ورځ راغـلـل، دا امـر وکـړو چـه دوئ بـه عُمرې کولو سره خپل ځانونه حلال کړي، او بیا آینده کـال له حج وکړي او دواړه به هدیه ورکوي او که څوك هدیه نهٔ مومي نو درې ورځې به په حج کښې روژه کیږي او اُووهٔ ورځې کله چه کور ته راشي نیسي به ئې۔ [موطأ: ۱۱٦۷]

بیـا د مـحـقـقینو علماؤ په نیز راجحه داده چه د چانه حج په احصار یا بل څهٔ سره فوت شي نو په عُمرې سره ځان حلالول واجب نهٔ دي، او د عمر فاروق ﷺ دغه مخکښې امر په افـضـلیـت حـمـل دے، ځـکه د احصار په صورت کښې الله تعالیٰ صرف هدی ذکر کړے: ﴿فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ [البقرة: ۱۹٦] ددې نـه سِویٰ ئې نور څهٔ نهٔ دي ذکر کړي۔

بلکه داچـه د دشـمـن د بندولو په وجه چه د چانه حج فوت شي نو په اتفاق د علماؤ سره په دې کښې تحلل بالعمرة نشته۔ نو دغه شان د مرض په وجه هم د بندش حکم دے۔

د اِحصار حکم: یـو محرم چه د مخکنو صورتونو په وجه د حج نه ایسار کړے شو نو د هـدی یو ښاروے (مثلاً یو چیلے یا ګډ) به یو شخص ته ورکړي چه هغه ئې حرم ته ولیږي دے دپاره چه ددهٔ د طرف نـه ئـې هـلـتـه ذبح کړي۔ یا به قیمت ولیږي چه هلته به پرې د هـدی ښاروے واخـلـي او ذبـح بـه ئـې کړي، او دهٔ سره به د ذبح وخت او ورځ متعین کړي، یـعـنـي د چا په ذریعه چه د ذبح ښاروے لیږي هغهٔ ته به دا تاکید وکړي چه دا ښاروے به هـلـتـه پـه فـلانـئ ورځ او په فلانی وخت ذبح کړے بیا به دے په هغه ورځ او وخت باندې دلتـه خپل احرام کولاؤ کړي، او په آینده کال کښې به ددې قضاء راوړي که دا حج فرضي وي۔

او کـه د هـدی ښاروي لیـږلو نه روستو اِحصار ختم شو او دا ممکن وي چه که محصر روان شي نو قرباني د ذبح کیدو نه مخکښې هغې ته رسیږي او حج هم ورته ملاویږي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا په دهٔ بانـدے واجب دی چه فوراً به روانیږی او که دا ممکن نهٔ وی نو بیا په دهٔ بانـدے فـوراً تـلـل واجب نهٔ دی۔ بیا هم که حج ته روان شو او هلته په داسے وخت ورسیږی چه د هـدی څـاروے هم ذبح شوے وی او د حج وخت هم تیر شوے وی نو پدے صورت کښے به هغه د عمرے په کارونو کولو سره د احرام نه ځان اُوباسی۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2707 (1) — عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَدْ أُحْصِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَحَلَقَ رَأْسَهٗ وَجَامَعَ نِسَاءَهٗ، وَنَحَرَ هَدْيَهٗ، حَتّٰى اعْتَمَرَ عَامًا قَابِلًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ابن عباس ﷺ نـه روایت دے چه رسول الله ﷺ (بیت الله ته د رسیدو نه) بند کـړے شو نـو هـغـوئ خپـل سر وخرئیلو، او خپلو بیبیانو سره ئے مباشرت وکړو او خپلے قربانئ ئے حلالے کړے او بیا ئے په راتلونکی کال عمره وکړه۔ (بخاریؒ)۔

تشریح: رسـول الله ﷺ د خپـلـو مـلـگـرو سـره شـریك په شپږم هجری کال کښے د عُـمـرے کـولـو اراده وکـړه او کله چه حدیبیه مقام ته ورسیدهٔ نو هلتـه مشرکانو منع کړو چه حرم شریف ته به نهٔ راځے۔ نو نبی ﷺ خپـل سر وخرئیلو او هدیه ئے ذبحه کړه او د هـغوئ او د مشرکانو ترمینځه دا معاهده ولیکل شوه چه اُوس به واپس کیږی او کال له به عُمرے له راځی۔

فوائد: (۱) حـدیـث نه ثابتـه شوه چه څوك د عُمرے احرام وتړی او بیا ئے دشمن د بیت الله نـه مـنـع کـړی نـو دا بـه د خپلے عُمرے نه ځان حلالوی، هغه داسے چه که آسانه وه نو هـدی بـه ذبـح کـړی، یعنی گډ یا په اُوبښ یا غوئے کښے اُوومه برخه، بیا به سر وخرئی، بیا بـه خپلے جامے واغوندی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ [البقرة: ۱۹۶] بله دا چه خپل ځان د احرام نه ویستلو ته حاجت دے ولے چه هـمیشـه دپاره پـه احـرام کښے وسیدلو کښے مشقت دے۔ او د مفسرینو په دے اجـمـاع ده چـه دا آیت پـه عـمره د حدیبیه کښے نازل شوے وو، هر کله چه مشرکانو نبی ﷺ او د هـغـهٔ مـلـگری مکے ته د ننوتو نه منع کړل، نو هغوئ خپلے هدایا ذبح کړے او بیا ئے سرونه وخرئیل او ځانونه ئے د احرام نه اُوښکل او بیا مدینے ته واپس شول، او بیا په آینـده (۷ هـجری) کال بانـدے ئے عمرة القضیة وکړه۔ او دا کوم احصار چه د نبی ﷺ په

Maktaba Tul Ishaat.com

زمانه کښې راغلې وو نو دا په عمره کښې وو، نو علماؤ په دې باندې حج قیاس کړے، ولے چه ددې دواړو ترمینځه په دې حکم کښې فرق نشته. لیکن قیاس ته حاجت هم نشته ځکه چه د قرآن کریم عام الفاظ پدې باندې دلالت کوی او قانون دے چه عبرت عموم د الفاظو لره وی نهٔ خصوص د سبب لره.

(۲) د علماؤ په دې اجماع ده که مُحصر سره هدی وه نو ذبح کول ئې واجب دی، خو **اختلاف** د هغه چا په حق کښې دے چه هدی ورسره نهٔ وی نو آیا دے به ئې اخلی اوکه نه؟ نو په دې کښې دوه قوله دی: (أ) یو دا چه اخستل ئې لازم دی، او دا د جمهورو قول دے، دلیل ئې دا آیت کریمه دے: ﴿فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾

دویم قول: دا چه که مُحصِر ځان سره هدی نهٔ وه راوستے نو په دهٔ هدی اخستل واجب نهٔ دی، او دا د امام مالكؒ قول او د امام احمدؒ نه یو روایت دے. علامه ابن قیمؒ دا غوره کړے، **دلیل** ئې دادے چه د نبی ﷺ سره څوارلس سوه صحابه کرام ملګری وو، او د ټولو سره هدایا نهٔ وے بلکه دوئ سره اویا (۷۰) هدایا وے، او دا نهٔ دی راغلی چه نبی ﷺ دوئ ته د هدی حکم کړے وی، دوئ ته ئې مطلقًا د تحلل حکم کړے وو.

د جمهورو په قول باندې که څوك هدی نهٔ مومی نو لس روژې به نیسی. دوئ دا د تمتع په هدی قیاس کړے. خو دا خبره ضعیفه ده ځکه یو خو په قرآن کښې روژې نهٔ دی ذکر، دویم: نبی کریم ﷺ سره چه کوم صحابه کرام ﷺ موجود وو په هغوئ کښې فقیران موجود وو، او دا نهٔ دی راغلی چه نبی ﷺ هغه چاته چه هغه هدی نهٔ مومی د روژو نیولو حکم کړے وی.

او تمتع باندې قیاس کول هم صحیح نهٔ دی ځکه د تمتع هدی د شکر هدی ده چه دوه عبادتونه ئې جمع کړیدی، او دلته خو دا د عبادت نه محروم شوے، نو دا څنګه په هغهٔ قیاس کړے شی؟ دې وجے نه **ظاهره** داده که مُحصر سره هدی وه هغه به ذبح کړی لکه په دې باندې آیت او حدیث دلالت کوی، اوکه نهٔ وه نو په هغهٔ هیڅ شے لازم نهٔ دے.

(۳) که مُحصر د فرضی یا نذری حج نه بند شوے وو نو دا به راتلونکی کال له قضاء راوړی. او که نفلی حج نه بند شوے وو نو د راجح قول مطابق د احصار نه پس په دهٔ باندې د دغه عبادت قضاء راوړل واجب نهٔ دی. او دلیل ئې دادے چه نبی ﷺ سره چه کوم ملګری په عُمرة الحدیبیة کښې راغلی وو، هغه ټول ورسره په عمرة القضیة کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ وو راغلي بلکه بعضِ خلك ترے په غير د مالي يا جاني عذر نه پاتے شوي وو۔ قاله المحب الطبريؒ وابن تيميةؒ في فتاواه۔

ددے وجه دا کيدے شي چه نبي ﷺ هغوئ ته ددے حکم نۀ وو کړے۔ او دا د قرآن کريم ظاهر هم دے ځکه چه الله تعالىٰ د مُحصر تو له ذمه واري هدي ګرځولے نو دے نه معلوميږي چه همدا کافي ده۔ پاتے شوه دا خبره چه په اووم کال باندے چه کومه عُمره ادا شوے هغے ته عمرة القضاء ويل کيږي، نو د هغے دا مطلب نۀ دے چه ګنے دا د شپږم کال د عُمرے قضائي وه، بلکه د قضاء نه مراد قضيه يعني صلح او فيصله ده چه نبي ﷺ د مشرکانو سره کړے وه۔ که چرے دا قضائي راوړل وے نو د نبي ﷺ نه به يو کس هم نۀ وے پاتے شوے۔ والله اعلم۔

(٤) [نَحَرَ هَدْيَهُ] هديه به چرته ذبح کوي؟ په دے کښے درے قوله دي :

(۱) چرته چه ځان حلالوي، حِل وي که حرم (جمهورؒ)۔

(۲) حرم ته سِوىٰ بل ځائے کښے به ئے نۀ ذبح کوي۔ (احنافؒ)۔

(۳) که حرم ته د ليږلو وس ئے وي نو ليږي به ئے اوکه نۀ وي نو د اِحصار په محل کښے به ئے ذبح کوي۔ (ابن عباس ﷺ وجماعة) اولنے قول راجح معلوميږي، د آيت د ظاهر نه همدا معلوميږي: ﴿ وَالْهَدْيَ مَعْكُوفًا أَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهُ ﴾ [فتح : ٢٥] (او هدي خپل ځائے (حرم) ته د رسيدو نه بنده شوے) ځکه نبي ﷺ او صحابه کرامو په زمينِ حل کښے هدايا ذبح کړے وے۔

(٥) [جَامَعَ نِسَائَهُ] نه معلومه شوه چه نبي ﷺ په پوره توګه د عُمرے د احرام نه وتلے وو۔

2708 (2) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُوْنَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَايَاهُ وَحَلَقَ وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره (مدينے نه د عمرے دپاره) راووتو، نو د قريشو کافران د بيت الله مخے ته حائل واقع شول نو نبي کريم ﷺ خپلے قربانئ ذبح کړے او سرئے وخرئيوو او د هغۀ ملګرو (نه بعضو) خپل ويښتۀ لنډ کړل۔ (بخاريؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : خَرَجْنَا : یعنی مونږ د رسول الله ﷺ سره د عمرے دپاره راووتو او دا راوتل په ابتداء د ذی القعده کښے وو په شپږم کال د هجرت۔

وَحَلَقَ : پدے کښے اختلاف دے چه کله مُحصر هدی ذبح کړی آیا دهٔ باندے حلق یا قصر لازم دے؟ (۱) شوافعؒ وائی : دا واجب دی، ځکه چه د دوئ په نیز حلق او قصر نُسُك دے، او دا یو روایت د ابو یوسفؒ نه دے او یو روایت دا حمدؒ نه دے۔

(۲) د احمدؒ مشهور قول او د امام ابو حنیفهؒ او محمد بن الحسنؒ او مالکیهؒ قول دا دے چه حلق یا قصر واجب نهٔ دے۔ مگر راجح دا ده چه په ذبح سره د احرام نه اُوځی، مگر که حلق یا قصرئے وکړو نو زیاته بهتره ده۔ لکه څنګه چه نبی ﷺ داسے کار کړے۔ او نبی ﷺ د ذبح سره حلق ددے دپاره هم وکړو چه د ملګرو مکے ته د داخلیدو طمع ختمه کړی۔ او دے کښے د ذبح او حلق ترمینځ ترتیب لازم دے، په خلاف د حج نه۔

2709 (3) – وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَّحْلِقَ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذٰلِكَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او مسور بن مخرمه ﷺ فرمائی : بیشکه رسول الله ﷺ د سر خرئیلو نه مخکښے قربانی وکړه او ملګرو ته ئے پدے باندے حکم وکړو۔ (بخاریؒ)

تعارف د المسور : بن مخرمه بن نوفل القرشی الزهری ابو عبد الرحمن رضی الله عنهما۔ دے او ددهٔ پلار دواړه صحابه کرام دی۔ د نبی ﷺ د وفات په وخت د اته کالو وو، د نبی ﷺ نه ئے آوریدل کړی او حدیثونه ئے یاد کړی۔ په مکه کښے د هجرت نه دوه کاله روستو پیدا شوے۔ او پلار مدینے ته په ذی الحجه کښے د فتح د مکے نه روستو په اتم کال راوستو دے د عبد الله بن زبیر ﷺ نه ځلور میاشتے کشر دے۔ او دے فقیه وو او ډیر فضیلت والا دیندار شخصیت وو۔ په امر د شوریٰ کښے د خپل ماما عبد الرحمن بن عوف ﷺ سره په هر ځائے کښے حاضر وو، او په مدینه کښے د عثمان ﷺ د شهادت پورے پاتے وو، بیا مکے ته نقل شو، او مکه کښے تر هغه وخته پورے وو چه د یزید فوجونو د مکے نه محاصره وکړه نو دے په حطیم کښے په مانځه ولاړ وو او د منجنیق نه یو کاڼړے راغلو او دے پرے شهید شو۔ او دا اول د ربیع الاول سنه (٦٤ ھ) وو، عبد الله بن الزبیر ﷺ پرے په حَجُون کښے جنازه وکړه، د دوه شپیته (٦٢) کالو په عمر وفات شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : دے روایت نه معلومه شوه چه د هدی ذبحه ئے مخکښے وکړه او حلق ئے روستو وکړو او مخکښے حدیث کښے حلق په ذبح باندے مخکښے ذکر دے۔ نو وئیلے شویدی چه د مسور ﷺ دا حدیث په عمره د حدیبیه کښے د نبی ﷺ د فعل نه اِخبار دے، کله چه هغه بند کړے شوے وو، نو نبی ﷺ په ذبح سره احرام نه ووتو۔ علامه شوکانیؒ وائی چه همدا سنت طریقه ده او مخکښے روایت د ابن عمر ﷺ کښے چه حلق مخکښے ذکر شویدے نو هلتـه (واو) راغلے دے او واو د مطلق جمع دپاره دے، په ترتیب باندے دلالت نکوی۔ که حلق ئے په نحر باندے مقدم کړو نو د علقمهؒ نه نقل دی چه په دهٔ باندے دَم دے، او داسے د ابن عباس ﷺ نه هم نقل دی، لیکن ظاهر دا ده چه دم پرے نهٔ راځی ځکه چه دلیل پرے نشته۔ لیکن ګنهګار دے، د سنت مخالف حسابیږی۔

2710 (4) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى يَحُجَّ عَامًا قَابِلًا فَيُهْدِيْ أَوْ يَصُوْمُ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه بیشکه هغهٔ وفرمایل : آیا ستاسو دپاره د رسول الله ﷺ سنت کافی نهٔ دی؟ که یو تن ستاسو د حج نه رابند کړے شی، نو د بیت الله طواف دِے وکړی او د صفا او مروه (سعی دِے وکړی)، بیا دِے حلال شو د هر شی نه (یعنی ددے نه روستو ددهٔ دپاره هر شے حلالیږی کوم چه په احرام کښے حرام وو) تردے چه راتلونکی کال له حج وکړی او هدی ذبح کړی، او که هغه هدی نشی ذبح کولے نو روژے دِے ونیسی۔ (بخاریؒ)

تشریح : حَسْبُكُمْ : عبد الله بن عمر ﷺ به په حج کښے د شرط لګولو نه انکار کولو او دا به ئے فرمایل : چه آیا ستاسو دپاره د رسول الله ﷺ سنت کافی نهٔ دی چه هغهٔ شرط نهٔ دے لګولے۔ بلکه که یو تن د حج نه بند کړے شو (او د حج نه بندیدل دا دی چه عرفات نه بند کړے شی)، نو د هغهٔ دپاره طریقه دا ده چه هغه به خپل احرام په عمرے کولو سره کولاو کړی، یعنی د بیت الله نه به طواف وکړی، او د صفا او مروه ترمینځ به سعی وکړی بیا به احرام پرانیزی، او آینده کال کښے به حج وکړی او هدی ځاروے به ذبح کړی، که هغه ئے نهٔ مونده نو د هغے په ځائے به روژے ونیسی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او غرض د ابن عمر ﷺ په عبد الله بن عباس ﷺ باندې رد كول وو چه هغهٔ به په حج كښې شرط لګول جائز ګڼړل۔

بيهقيؒ وائي : كه عبد الله بن عمر ﷺ ته د ضباعه بنت الزبيرؓ حديث رسيدلې وې، نو هغه به هم ددې قائل شوې وې۔ (لكه هغه حديث روستو راروان دې) مطلب د ابن عمر ﷺ دا دې چه فائت الحج شخص به ځان د احرام نه په عمرې سره اُوباسى۔ لكه دا خبره مخكښې ذكر شوه۔ چه راجح دا ده چه عمره ضروري نهٔ ده۔

حَتّٰى يَحُجَّ عَامًا قَابِلًا : ددې الفاظو نه دليل نيول شويدې چه محصر باندې واجب ده چه په آينده كال كښې به قضائي راوړي، او دا قول د احنافو دې، او شوافعؒ او مالكيهؒ وائي چه قضاء واجب نهٔ ده۔ او د امام احمدؒ نه دوه روايتونه نقل دي۔ **راجح** دا ده چه قضاء پرې واجب نهٔ ده، او په دهٔ باندې د حج وجوب په زوړ حالت كښې پاتې شو، يعنى د مخكښې په شان وګرزيدو، كه مخكښې نه پرې حج فرض وو نو اُوس به هم پرې فرض وي او كه مخكښې نه پرې فرض نهٔ وو، د زاد او راحلې وس ئې نهٔ كيدو نو قضاء پرې لازمه نهٔ ده۔ او رسول الله ﷺ په عمره د حديبيه كښې خپلو ملګرو ته دا حكم ونكړو چه آينده كال كښې به خامخا تول ملګرى ددې عمرې قضاء راوړي۔ [مجموع فتاوى ورسائل ابن عثيمين : ٢٣/٤٣٤] او آيت ﴿وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ﴾ نه استدلال هم په محل د نظر كښې دې، ځكه چه د هغې مطلب مخكښې ذكر شوې چه كله حج او عمره شروع كړي نو اتمام ئې واجب دې۔ برابره ده چه حج فرضي وي او كه نفلي۔ دارنګه ابن عثيمينؒ وائي : په همدې آيت كښې دليل دې چه په محصر باندې قضاء نشته، وجه دا ده چه دلته الله تعالىٰ صرف هدى او حلق ذكر كړي او بل ئې هيڅ شې نهٔ دې ذكر كړې۔ فتدبر۔

فَيُهْدِىْ : (يعنى ګډ به ذبح كړي ځكه چه تحلل صرف په نيت د تحلل اَو په ذبح او حلق سره حاصليږي) (كرمانيؒ) دې نه دليل نيولې شويدې چه څوك په حج كښې محصر كړې شو نو هغهٔ باندې هدى ذبح كول ضروري دي۔

شوكانيؒ وائي چه د رسول الله ﷺ اِحصار په عمره كښې واقع شوې وو، ليكن علماؤ په هغې باندې حج قياس كړې ځكه چه د دواړو ترمينځ فارق (فرق) نشته۔ او دا هدى واجبيدل د جمهورو مذهب دې، او رسول الله ﷺ دا ذبح د هدى په حُديبيه كښې كړيده، او ددې تائيد ددې آيت نه هم كيږي ﴿فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْىِ﴾۔ (كه بند كړې

Maktaba Tul Ishaat.com

شوئ نو كومه هدى چه آسانه وى (هغه ورکړئ)).

امام مالك نه نقل دى چه كه يو تن د حج نه بند كړے شو نو هغهٔ باندے دا لازمه نهٔ ده چه قرباني ذبح كړى او د احرام نه اُووځى، ليكن دا خبره ددے آيت او د رسول الله ﷺ د عمل مخالفه ده. انتهىٰ حاصل كلام الشوكانيؒ.

حاصل دا چه د اِحصار په صورت كښے هدى واجبه ده په نيز د حنابله ؤ او شوافعو او احناڧو باندے، او د مالك او د هغهٔ د اَصحابو په نيز باندے واجبه نهٔ ده سوئ د اَشهبؒ نه چه هغهٔ ئے واجبه ګڼرى. البته حنابله پكښے وائى چه هدى به هله لازمه وى چه كله ئے اشتراط نهٔ وى كړے (لكه چه مخكښے ذكر شو) و همدا قول د حنابله ؤ راجح دے.

مسئله : فَيُهْدِىْ اَوْ يَصُوْمُ : **اختلاف** دے چه څوك هدى نهٔ مومى نو آيا ددے په بدل كښے روژے نيول لازم دى؟ دوه قوله دى : (أ) يو **قول** دا دے چه لازم نهٔ دى، دليل دا دے چه د اِحصار په صورت كښے الله تعالىٰ د صيام نه ساكت پاتے شويدے، او په تمتع كښے ئے وئيلى دى چه څوك هدى نهٔ مونده كوى نو هغهٔ به روژے نيسى. لهذا كه د اِحصار په صورت كښے څوك هدى نهٔ مومى په هغهٔ به روژے نهٔ وى. همداسے به احرام كوز كړى. دارنګه د صحابه كرامو د ظاهرى حال نه دا ښكاره كيده چه هغوى فقراء وو، ډيرو صحابه كرامو سره هدى نهٔ وه، او نبى ﷺ هغوى ته د روژو نيولو حكم نهٔ دے كړے. او اصل برائت د ذمے دے. او دا قول ابن عثيمينؒ غوره كړے. [الشرح الممتع : ۱۸٤/۷] (ب) **دويم قول** دا دے چه لس ورځے روژے به نيسى او بيا به احرام كوز كړى. دا مذهب د حنابله ؤ او يو قول د شوافعو او د مالكيه ؤ نه د اشهبؒ دے او ابن بازؒ غوره كړے. دليل دا دے چه دا د احرام دپاره واجب دم دے، نو ددهٔ به خامخا بدل وى لكه د دم تمتع په شان. چه په حج تمتع كښے خو د هدى د طاقت نهٔ مونده په صورت كښے روژے نيول دى نو دلته به هم روژے وى. ليكن اول قول د دليل په لحاظ غوره دے.

فائده : دا حديث دليل دے چه په مكه كښے هم احصار كيدے شى. ځكه چه رسول الله ﷺ په مكه كښے محصر شوے وو. نو د احناڧو مذهب ضعيف دے، چه وائى په مكه كښے احصار نشته. څوك چه مكے ته ورسيدو نو د هغهٔ احصار ختم شو.

(فيهدى) دا هدى عامه ده، شامله ده هدى د تحلل ته او هدى د تمتع ته د راتلونكى كال دپاره. ځكه چه د احصار په صورت كښے هم هدى په سنت كښے راغلے ده او په حج

Maktaba Tul Ishaat.com

تمتع كښې هم۔ والله اعلم۔

2711 (5) — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا، قَالَتْ : دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ لَهَا : " **لَعَلَّكِ أَرَدْتِ الْحَجَّ** ؟ " قَالَتْ : وَاللّٰهِ مَا أَجِدُنِيْ إِلَّا وَجِعَةً . فَقَالَ لَهَا : " **حُجِّيْ وَاشْتَرِطِيْ وَقُوْلِيْ : اَللّٰهُمَّ مَحِلِّيْ حَيْثُ حَبَسْتَنِيْ** " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ ضباعه بنت الزبير رضي الله عنها كره ورغلو نو هغې ته ئې وفرمايل : شايد چه تا د حج اراده كړې؟ هغې ووېل : قسم په الله زهٔ خپل ځان نهٔ مونده كوم مګر بيماره يم۔ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : تهٔ د حج اراده وكړه او (د احرام تړلو په وخت كښې) شرط ولګوه او داسې ووايه : اې الله! زما د احرام كوزه ولو به هغه ځائې وي چرته چه تا ايساره كړم۔ (بخاريؔ ومسلمؔ)

تعارف د ضُباعة بنت زبير رضي الله عنها : ددې كُنيه ام حكيم ده۔ نسب ئې داسې دې : ضباعة بنت زبير بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف۔ دا د رسول الله ﷺ د ترهٔ لور ده۔ د مقداد بن اسود رضي الله عنه ښځه ده، او ددې دوه بچي وو : عبد الله او كريمه۔ د علي رضي الله عنه په خلافت كښې وفات شوې۔ او عبد الله د عائشې رضي الله عنها په ملګرتيا كښې په جنګ جمل كښې وفات شوې۔

تشريح : دَخَلَ : رسول الله ﷺ ضباعه كره ورغلو دا بيمار پرسي وه، يا هسې ملاقات وو د صله رحمئ په وجه ځكه چه دا ئې د ترهٔ لور وه۔ او پدې كښې د رسول الله ﷺ تواضع او صله رحمي او د خپلوانو پوښتنې ته اشاره ده، او دې وخت كښې به خلوت نهٔ وو، ځكه چه د نبي عليه السلام دا عادت وو چه هغهٔ به د غير محرمې سره خلوت نهٔ كولو اګر كه رسول الله ﷺ پدې باره كښې مامون دې او د امت پلار دې۔

لَعَلَّكِ : په روايت د مسلمؔ كښې دي : ضباعه رضي الله عنها عرض وكړو چه زهٔ د حج اراده لرم، او دلته دا خبره ذكر شوه چه رسول الله ﷺ ترې تپوس وكړو نو كيدې شي چه اول رسول الله ﷺ تپوس كړې وي، او بيا هغې جواب وركړې وي چه زهٔ د حج اراده لرم۔

او په روايت د ابن عباس رضي الله عنه كښې مسلمؔ او اصحاب السنن نقل كړيدي چه ضباعه رضي الله عنها رسول الله ﷺ خوا ته راغله او دا خبره ئې وكړه۔ نو دا خو ددې روايت مخالف ښكاره كيږي۔ پدې وجه تطبيق ئې دا دې چه اول كښې ضباعه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ كره راغله،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ئې ونۀ موندو بيا رسول الله ﷺ راغلو نو سيده ضباعه كره ورغلو نو هغې ورته دا خبره وكړه.

[وَجِعَةً] بيماره. او په روايت د مسلمؒ كښې : [شَاكِيَةً] ذكر دے، يعني بيماره.

[وَاشْتَرِطِيْ] او د خپل رب سره دا شرط ولږوه چه [مَحِلِّيْ] زما د حلاليدو ځائے به هغه ځائے وي. [حَيْثُ حَبَسْتَنِيْ] چرته چه تا زۀ بنده كړم. يعني اشتراط ديته وائي چه يو تن د احرام تړلو په وخت د خپل رب سره دا شرط وتړي چه كه ماته څۀ بيماري يا دشمن يا نفقه ختميدل يا بل كوم عذر راپيښ شو نو زۀ به همغه ځائے كښې د حج يا عمرے د احرام نه اُووځم. نو ددے فائده داده چه كه دۀ ته دغه ركاوټ راپيښ شي نو په دۀ به دَم وغيره نۀ وي بلكه ددے نه بغير د احرام نه ځان وبشكلے شي. ولے كه اشتراط ئې نۀ وے كړے نو په دۀ به د (جمهورو علماؤ په نيز) هدي لازمه وے.

فوائد : (۱) ددے حديث نه ثابته شوه چه چاسره دا خطره وي چه ماته به د حج يا عُمرے په لاره كښې څۀ خنډ راپيښ شي نو هغۀ دپاره مستحب ده چه اشتراط وكړي يعني مشروط احرام وتړي چه كه ماته څۀ عذر، بيماري، دشمن يا بل يو خنډ راپيښ شو نو په همغه ځائے كښې به احرام ايله كوم. نو كله چه ورته دا عذر راپيښ شي نو دے به احرام وباسي او جامے به واغوندي او خپل وطن ته به واپس شي، او په دۀ فديه نشته او نۀ پرے حج شته هر كله ئې چه فرضي حج كړے وي. **اختلاف** :

(۲) په **اشتراط** كښې څلور قوله دي : (۱) **قول** : مطلقًا مستحب دے : دليل ئې دا دے چه نبي ﷺ دغه بي بي ته په دے سره امر كړے. (عمر، عثمان، علي، ابن مسعود، عمار بن ياسر ﷺ) سعيد بن مسيبؒ، عطاء بن ابي رباحؒ، عطاء بن يسارؒ، شافعيؒ، احمدؒ).

(۲) **قول** : فرض دے. او دا قول د ابن حزمؒ دے، هغه وائي چه پدے باندے امر راغلے دے. (۳) **قول** : مطلقًا غير مشروع دے : (ابن عمر ﷺ، طاووسؒ، سعيد بن جبيرؒ، زهريؒ، مالكؒ، ابو حنيفةؒ) **دليل** ئې دادے : چه نبي كريم ﷺ يو حجة الوداع او څلور عُمرے كړي او د هغوئ نه اشتراط كول نۀ دي نقل، او نۀ ئې صحابه كرامو ﷺ ته مطلقًا امر كړے، په دے سره خو ئې صرف هغه زنانه ته حكم كړے وو چه هغه بيماره وه او پوښتنه ئې وكړه، هغې سره خطره وه چه بيماري به ئې د بيت الله نه بنده كړي.

(٤) **قول** : چا سره چه د نسك په لاره كښې د خنډ راتلو خطره وي هغۀ دپاره مشروع

Maktaba Tul Ishaat.com

دے، او چا سره چه د رکاوټ خطره نهٔ وی نو سنت دادہ چه پرېښنودے شی۔ دا د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ قول دے، او همدا راجح قول دے ځکه چه په دے سره د ټولو دلائلو ترمینځه جمع او تطبیق راځی۔

علامه ولی الدین العراقیؒ وائی : څوك چه د جواز د اشتراط قائل دی هغهٔ ددے حدیث نه دلیل نیولے دے او دائے گنړلی چه پدے کار کښے رخصت او فراخی او آسانی او نرمی ده، او دا د دنیوی فائدے سره تعلق لری، هغه دا چه د بیمارئ سره په احرام کښے پاتے کیدلو سره ډیر مشقت راځی نو په اشتراط سره به دغه مشقت ختم شی۔ او چا چه دے ته مستحب وئیلے دے، نو هغهٔ دینی فائدے ته کتلی دی چه پدے کښے د عبادت احتیاط دے، ځکه چه که اشتراط ونکړی نو کیدے شی چه یو مرض ورته راپیښ شی چه عبادت ورله خراب کړی او خلل پکښے واقع کړی۔ لیکن دا بعید دے، او چا چه دے ته واجب وئیلی دی نو هغهٔ امر په خپل حقیقت باندے محمول کړے لیکن دا د ټولو نه زیات بعید قول دے۔ بیائے وئیلی دی : که دا واجب وے نو نبی ﷺ به نهٔ پریخودے او نهٔ صحابه کرامو، او که هغوی په حجة الوداع کښے اشتراط کړے وے، مونږ ته به نقل شوی وے، او هرکله ئے چه صرف دے یوے زنانه ته د اشتراط حکم وکړو هرکله چه دے ورته شکایت وکړو نو مونږ ته معلومه شوه چه دا حکم د رخصت او آسانئ دپاره دے۔

[طرح التثريب ٦/١٤]

اَلْفَصْلُ الثَّانِیْ

2712 (6) - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُّبْدِلُوا الْهَدْیَ الَّذِیْ نَحَرُوْا عَامَ الْحُدَيْبِيَّةِ فِیْ عُمْرَةِ الْقَضَاءِ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَفِيْهِ قِصَّةٌ وَفِیْ سَنَدِهٖ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ.

ترجمه : ابن عباس ؓ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته حکم وکړو چه هغوی د هغه هدی په مقابله کښے چه د حدیبیه په کال ئے ذبح کړے وے نورے هدی په عمرة القضاء کښے ذبح کړی۔ (ابوداودؒ، او پدے کښے قصه ده او ددے په سند کښے محمد بن اسحاقؒ دے)

تشریح : پدے حدیث کښے قصه دا ده چه عثمان بن حاضر حِمْيَرِی فرمائی : زهٔ د

Maktaba Tul Ishaat.com

عمرے دپاره را اُووتم په هغه کال چه شام والو عبد الله بن زبير ﷺ لره په مکه کښے محاصره کړے وه او ما سره د خپل قوم څه کسانو هدي وليږله، هرکله چه مونږ شام والو ته ورسيدو نو هغوی مونږ حرم ته د داخليدو نه منع کړو، نو ما په دغه ځائے کښے خپله هدي ذبح کړه بيا مے احرام کوز کړو او راواپس شوم۔ هرکله چه راتلونکے کال راغلو زۀ د عمرے د ادا کولو دپاره را اُووتم نو ابن عباس ﷺ ته راغلم او د هغۀ نه مے تپوس وکړو نو هغۀ راته وفرمايل: [أَبْدِلِ الْهَدْيَ] د مخکنۍ هدي په مقابله کښے بله هدي راوله۔ ځکه چه رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته پدے حکم کړے وو۔

ددے حکم مطلب دا وو چه صحابه کرامو ته د حديبيه واقعے په موقعه چه د عمرے نه د احصار کوم صورت راپيښ شو او د هغے په وجه ئے د هدي ځاروی ذبح کړی وو په آينده کال کښے د عمرة القضاء په موقعه د دغه ځاروو په بدله کښے نور ځاروی په حرم کښے ذبح کړی دے دپاره چه د هدي په حرم کښے ذبح کول واقع شی (ځکه چه الله تعالیٰ فرمائيلی دی: (هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ) يعنی د احصار هدي په حرم کښے ذبح کولے شی۔ (خطابیؒ) خو دا هله چه صحابه کرامو په حديبيه کښے د حرم د حدودو نه بهر ذبح کړی وی نو سږکال ئے ورته دوباره په حرم کښے د ځاروو په ذبح کولو حکم وکړو، او که صحابه کرامو په حدودو د حرم کښے ذبح کړی وی نو بيا به دا د احتياط او حصول د فضيلت دپاره کړے وی۔ يا دا حکم د استحباب په طور دے۔

بيهقیؒ وائی: که حديث صحيح ثابت شی نو بيا د دغه ځاروو بدل راوړل مستحب دی او واجب نۀ دی لکه څنګه چه د عمرے دوباره ادا کول مستحب دی او واجب نۀ دی۔

درجة الحديث: [ضعيف بعنعنة ابن اسحاق] اخرجه ابوداود: ۱۸٦٤، وصححه الحاكم: ۱/۴۸۵، ۴۸٦. ليکن دا حديث د سيرت سره تعلق لری او محمد بن اسحاقؒ په سيرت کښے حجت دے۔

2713 (7) - وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **مَنْ كُسِرَ أَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَزَادَ أَبُوْ دَاوُدَ فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرَى: " أَوْ مَرِضَ ". وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ، وَفِي الْمَصَابِيْحِ: ضَعِيْفٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او حجاج بن عمرو انصاري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چه خپه ماته شي يا ګوډ شي نو هغه حلال شو او په دهٔ باندے راتلونکي كال له حج (لازم) دے. (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او ابوداودؒ په يو بل روايت كښے دا الفاظ زياتي كړيدي: يا بيمار شو. او ترمذیؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن دے او په مصابيح كښے دي: ضعيف دے.

حجاج بن عمرو بن غزيه انصاري خزرجي مازني ﷺ صحابي دے، او دا هغه صحابي دے چه مروان بن الحكمؒ ئے په يوم الدار كښے وهلے وو تردے چه هغه ئے راغورزولے وو بيا خپل مولا ابو حفصه كورته دے هوشئ په حالت كښے بوتللو. دے په صفين كښے د علي ﷺ ملګرے وو.

تشريح: عكرمهؒ راوي وائي: ما د حجاج دا خبره ابو هريره ﷺ او ابن عباس ﷺ ته ذكر كړه نو هغوي وفرمايل: دهٔ رشتيا وئيلي دي.

كُسِرَ: صيغه مجهول ده. عَرِجَ: دا كه د ضَرَبَ او نَصَرَ نه راشي نو عارضي خپه ګوډ كيدو ته وائي. چه خِلقي طريقے سره نهٔ وي. او كه د سمع نه شي نو بيا هغه ګوډ والي ته وائي چه خِلقي (پيدائشي) وي.

مطلب دا دے چه چا احرام وتړلو او بيا ورته د دشمن د يرے نه علاوه بل يو مانع هم راغلو چه په هغے سره په احرام كښے مخكښے نشي تللے لكه خپه ئے ماته شي، يا ګوډ شي نو هغهٔ دپاره دا جائز دي چه احرام كولاو كړي.

دے حديث نه يوه مسئله دا معلومه شوه چه د اِحرام د پرانستلو دپاره يواځے دشمن مخے ته راتلل سبب نهٔ دے بلكه مرض او ګوډ والے وغيره هم سبب ګرځي. او دا مذهب د احنافو دے، او همدا حق دے، او امام مالكؒ، شافعيؒ، احمدؒ او اسحاقؒ وائي چه احصار صرف په دشمن سره راځي.

دويم دا چه راتلونكي كال كښے حج كول د هغه چا په حق كښے لازم دي چه د هغهٔ دا فرضي حج وي، نو بيا به ئے كوي كه وس ئے وشو، او كه وس ئے ونشو نو لازم پرے نهٔ دے او هرچه نفلي حج كونكے دے، نو هغهٔ باندے صرف هدي ذبح كول دي، او ددے نه پس پرے آينده كال كښے قضاء راوړل واجب نهٔ دي.

دريم دا چه فَقَدْ حَلَّ: مطلب دا دے چه دے ځان حلالولے شي يعني احرام كوزولے شي او

Maktaba Tul Ishaat.com

ددۀ دپاره احرام كوزول حلال شو، خو پدې شرط چه هدى به ذبح كوى كه شرط ئې نۀ وو لګولې، او كه د هدى وس ئې نۀ كيدو نو په دۀ باندې هيڅ نشته، ځكه چه د حديبيه په موقعه كښې د څوارلس سوه صحابه كرامو سره صرف اويا (۷۰) هدايا وې، او نبى ﷺ نورو ملګرو ته دا حكم ونكړو چه تاسو ټول به هدى ذبح كوئ۔ او ددې په بدله كښې ئې د روژو نيولو حكم هم ونكړو۔

درجة الحديث: [إسناده صحيح] احمد: ۳/ ۴۵۰، والدارمي: ۲/ ۶۱، وأبوداود: ۱۸۶۲، والترمذي: ۹۴۰، وقال حديث حسن۔ والنسائي: ۵/ ۱۹۸، وابن ماجه: ۳۰۷۷۔ والحاكم: ۱/ ۴۸۲، ۴۸۳- وقال صحيح على شرط البخاري ووافقه الذهبي.

2714 (8) - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَعْمُرِ الدِّيْلِيِّ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: " **اَلْحَجُّ عَرَفَةُ، مَنْ أَدْرَكَ عَرَفَةَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ، أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. هٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه: او عبد الرحمن بن يعمر ديلى ﷺ فرمائى: ما د نبى كريم ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې: حج عرفه ده، (يعنى د حج لوى ركن د ذو الحجې په نهم تاريخ په عرفات كښې حاضريدل دى) چا چه عرفات د مزدلفې په شپه باندې د صبا د راختو نه مخكښې وموندو نو دۀ حج لاندې كړو۔ د منىٰ (كښې د پاتې كيدو) درې ورځې دى، (يعنى د ذو الحجې يولسم، دولسم، ديارلسم تاريخ چه دې ته ايام تشريق وائى، او دا درې ورځې په منىٰ كښې قيام كيدې شى) چا چه په دوه ورځو كښې جلتى وكړه (او د اختر ورځې نه پس ئې دوه ورځې جمرات ويشتو نه پس د منىٰ نه بهر شو) نو هيڅ ګناه پرې نشته او څوك چه روستو پاتې شو (څلورمې ورځې د اختر ته) نو په هغۀ هم هيڅ ګناه نشته۔ (ترمذىؒ، ابوداودؒ، نسائىؒ، ابن ماجهؒ، دارمىؒ، او ترمذىؒ وئيلى دى چه دا حديث حسن صحيح دے۔

(مصنف) وائى: دا باب د فصل ثالث نه خالى دے۔

عبد الرحمن بن يعمر الديلى: دال باندې زير او ياء ساكنه ده۔ دا مكى صحابى دے او په كوفه كښې اوسيدلے دے۔ او په خراسان كښې وفات شويدے۔ ابو الاسودؒ ئې كنيه ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

بعض ورته (اَلدُّوَلِيُّ) وائی۔

تشريح : فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ : دهٔ حج وموندو" مطلب دا چه ددهٔ نه حج فوت نشو او په حج کښې د خرابۍ او فساد نه په امن کښې شو، پدې شرط چه د احرام د وخت پوره کيدو نه مخکښې د خپلې بی بی سره مباشرت ونکړی يا کوم داسې کار ونکړی چه د اِحرام په حالت کښې منع وی۔ او دا خبره مخکښې بيان شوه چه څوك د عرفې د ورځې د زوال د نمر نه تر د اختر د صبا راختو پورې يو منټ دپاره په عرفات کښې ودريږی نو دهٔ حج رالاندې کړو او نور کارونه به ورسره يو ځائې کړی۔ او که صبا راوختو نو ددهٔ نه حج فوت شو۔ نو بس احرام به کولاو کړی۔ او که عمره کولو نه پس ئې کولاووی نو دا ډيره بهتره ده۔ لکه مخکښې د عمر فاروق ﷺ فتویٰ ذکر شوه۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أخرجه أحمد : ۴/۳۳۵، والدارمی : ۲/۵۹، وأبوداود : ۱۹۴۹، والترمذی : ۸۸۹، ۸۹۰، ۲۹۷۵ ـ وقال حديث حسن صحيح.

OOOOO

Maktaba Tul Ishaat.com

۱٤- باب حرم مكة حرسها الله تعالیٰ

د مکے د حرم بیان - الله تعالیٰ دے ددے حفاظت وکړی.

حرم هغه زمکے ته وائی چه د کعبے او د مکے نه گیر چاپیره ده. الله تعالیٰ د کعبے د عظمت په وجه دے زمکے ته هم عظمت او عزت ورکړیدے. دے ته حرم پدے وجه وائی چه الله تعالیٰ دے حصه زمکے ته داسے بزرگی او قدر او عزت ورکړے چه ددے په حدودو کښے هغه څیزونه حرام شوی چه په نورو ځایونو کښے حرام نهٔ دی، لکه په حدودو د حرم کښے ښکار کول، ونے پریکول او ښاروی تنګول او هغے ته ضرر ورکول، ددے لُقطه پورته کول.

بعض علماء وائی چه د زمکے دا حصه "حرم" پدے طریقه مقرر شو چه کله آدم علیه السلام زمکے ته راکوز شو نو د شیطانانو نه یریدو چه ما هلاك نکړی نو الله تعالیٰ د هغهٔ د حفاظت او نګهبانئ دپاره ملائك راولیږل، دے ملائکو مکه د څلورو طرفونو نه په ګیره کښے واخسته، نو د مکے نه ګیر چاپیره چه کوم کوم ځائے کښے ملائکو حد بندی وکړه هغه ځائے د حرم حد مقرر شو.

بعض وائی چه هرکله آدم علیه السلام کعبه معظمه جوړه کړه او حجر اسود ئے کیخودو نو د هغے په وجه سره هر څلورو وارو طرفونو ته زمکه روښانه شوه نو کومو طرفونو باندے چه دا رنړا ولګیده هغه ځائے د حرم حد مقرر شو. والله اعلم.

د حرم حدود :

د حرم پنځه طرفونو ته حدود دی چه په هغے بلندے دیو میټر په اندازه بوځلی ودرولے شوی، او دا د لارے په غاړو باندے لګیدلی دی، د شمال طرف نه تنعیم علاقه ده چه د مکے نه (٦) کیلو میټره جدا ځائے دے، او جنوب طرف نه (اَضاة) مقام دے چه ددے او د مکے ترمینځ (۱۲) کلو میټره دی. او د مشرق طرف نه جِعرانه ده چه ددے او د مکے ترمینځ پنځه ویشت (۲۵) کلو میټره ځائے دے. (جعرانه د طائف او د مکے ترمینځ ده) او

Maktaba Tul Ishaat.com

د شمال مشرقي طرف نه وادي نخله ده، او ددے او د مکے ترمینځ (۱٤) کلو میټره دی، او د مکے د غرب جهت نه شُمیسي علاقه ده د جدے په لاره چه دے ته حُدیبیه وائي او ددے او د مکے ترمینځ (۲۲) کلو میټره لاره ده۔

امام محب الدین طبريؒ د عبید الله بن عبد الله بن عتبهؒ نه روایت راوړیدے چه دا بوځلي ابراهیم علیه السلام د جبریل علیه السلام په خودنه پدے ځایونو باندے ودرولي دی۔ بیا نهٔ دی خوزیدلي تردے چه قصي بن کلاب تازه کړل بیا ونهٔ خوزیدل تردے چه نبي علیه السلام د فتح د مکے په کال باندے نُعیم بن اسید الخزاعي ولیږلو او دا ئے تازه کړل، بیا ونهٔ خوزیدل تردے چه د عمر فاروق رضی الله عنه زمانه راغله نو هغهٔ د قریشو څلور کسان ولیږل: مَخرمه بن نوفل، سعید بن یربوع، حویطب بن عبد العزیٰ او ازهر بن عبد عوف رضی الله عنه نو هغوی تازه کړل، بیا معاویه رضی الله عنه تازه کړل بیا عبد الملك بن مروانؒ ددے په تازه کولو امر وکړو۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2715 (1) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: " **لَا هِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوْا** ". وَقَالَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: " **إِنَّ هٰذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللّٰهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللّٰهِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنَّهُ** لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيْهِ لِأَحَدٍ قَبْلِيْ وَلَمْ يَحِلَّ لِيْ إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ **فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللّٰهِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ شَوْكُهٗ وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهٗ وَلَا يُلْتَقَطُ لُقْطَتُهٗ إِلَّا مَنْ عَرَّفَهَا وَلَا يُخْتَلٰى خَلَاهَا** ". فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِلَّا الْإِذْخَرَ فَإِنَّهٗ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوْتِهِمْ؟ فَقَالَ: " **إِلَّا الْإِذْخَرَ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

2716 (2) – وَفِيْ رِوَايَةٍ لِأَبِيْ هُرَيْرَةَ: " **لَا يُعْضَدُ شَجَرُهَا وَلَا يَلْتَقِطُ سَاقِطَتَهَا إِلَّا مُنْشِدٌ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنه فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکے د فتح په ورځ وفرمایل: چه (اُوس د مکے نه مدینے) ته هجرت نشته (یعني فرض نهٔ دے) لیکن جهاد او په عمل کښے د نیت اخلاص (ضرور) شته۔ او کله چه تاسو نه (جهاد ته) د وتلو طلب وکړے شي نو تاسو جهاد ته اُوځئ۔ او د مکے د فتح په ورځ ئے دا هم وفرمایل: دا ښار چه دے الله تعالیٰ دے ته عزت ورکړے په هغه ورځ چه هغهٔ آسمانونه او زمکه پیدا کړل نو دا تر

قيامت د ورځې پورې د الله تعالىٰ په حرمت سره حرام دے، او شان دا دے چه پدے کښې زما نه مخکښې د هيچا دپاره قتال حلال نۀ وو او ما دپاره (هم) نۀ وو حلال کړے شوے مگر يو ساعت د ورځې نو دا تر قيامت ورځې پورې د الله تعالىٰ په حرمت سره حرام دے، ددے ازغى به نشى شوکولے، او ددے ښکار به نۀ شى تره ولے، او پدے کښې غورزيدلے شوے شے به نشى راپورته کولے مگر هغه څوك (ئے راپورته کولے شى) چه ددے اعلان کوى. او ددے گياه به نشى شوکولے. نو عباس ﷺ وفرمايل: اے د الله رسوله! مگر اذخر (سرگړے) چه دا يو داسے شے دے چه د دوئ د آهنگرانو او د دوئ د کورونو دپاره (ضرورى) دے، (هغوى پرے بنئ گرموى نو ددے اجازت ورکړئ) نو وے فرمايل: مگر سرگړے (پريکولے شئ). (بخارىؒ ومسلمؒ) او په يو روايت د ابو هريره ﷺ کښې دى: ددے ونے به نشى پريکولے او ددے غورزيدلے شوے شے به نۀ راپورته کوى مگر اعلان کونکے.

تشريح: لَا هِجْرَةَ: دا هجرت يا خو خاص د مکے نه مراد دے، او مطلب دا دے چه د مکے د فتح نه روستو هجرت فرض نۀ دے ځکه چه مکه خپله دار اسلام جوړه شوه نو هجرت ته ضرورت پاتے نشو. يا عام مراد دے، يعنى يو ښار چه مسلمانان فتح کړى نو د هغے نه هجرت کول واجب نۀ دى. هرچه د فتح نه مخکښې دے نو مسلمانان په درے قسمه دى، (۱) يو هغه دے چه په هجرت باندے قادر وى، او په هغه ښار کښې خپل دين نشى ښکاره کولے او فرائض نشى ادا کولے نو په دۀ باندے هجرت لازم دے.

(۲) په هجرت قادر وى ليکن خپل دين او فرائض ښکاره کولے شى نو هجرت ترے مستحب دے دے دپاره چه مسلمانان زيات شى او د هغوى مدد وکړے شى او د کفارو سره په شريکه قتال وکړے شى او د هغوى د غدر نه په امن شى.

(۳) يو تن عاجز وى، معذور وى، قيدى، يا مريض وى نو هغۀ له په دغه ملك کښې اُوسيدل جائز دى، نو که په ځان ئے برداشت وکړو او هجرت ئے وکړو نو اجر به ورته ملاؤ شى.

وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ: يعنى ستاسو دپاره د فضائلو حاصلولو يوه بله طريقه شته، هغه دا چه جهاد کوئ او په هر کار کښې د خير نيت کوئ. يا نيت د جهاد شته که جهاد نۀ وى.

(جِهَادٌ) مبتداء ده او (لَكُمْ) خبر ئے پټ دے. حافظ وائى: ددے مطلب دا دے چه ستاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره د مکے نه د هجرت وجوب ختم شو ځکه چه مکه فتح شوه او دار اسلام وګرزيدو ليکن د جهاد وجوب په خپل حالت باندے د احتياج په وخت کښے باقی پاتے دے۔ لکه روستو (فَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ) الفاظو ددے تفسير کړيدے۔

وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ : يعنی کله چه تاسو نه جهاد ته د وتلو مطالبه وشی نو اُوځئ۔ يعنی د مسلمانانو بادشاه تاسو ته اُووئيل چه جهاد ته راوځئ نو بيا به راوځئ۔

دا حديث دليل دے چه کله يو بادشاهِ وخت يو تن د جهاد وتلو دپاره معين کړی نو دغه وخت په هغهٔ باندے جهاد واجبيږی۔

حَرَّمَهُ اللّٰهُ : دلته دا ذکر شو چه دا حرم الله تعالىٰ حرام کړيدے او روستو راځی چه ابرهيم عليه السلام حرام کړے؟، نو جواب دا دے چه ابراهيم عليه السلام د الله تعالىٰ په امر سره حرام کړے يا د الله تعالىٰ حرام والے ئے بيان کړے۔

فَهُوَ حَرَامٌ : يعنی دا محترم دے او دا حرام کړے شويدے۔ (يعنی پدے کښے قتل وقتال او ښکار وغيره حرام دی)

لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ : دے نه دليل نيولے شوے چه په حرم کښے قتل او قتال حرام دے، نو بعض اهل علمو پدے خبره اتفاق نقل کړے چه که يو تن په حرم کښے قتل وکړی نو هغهٔ باندے قصاص په حرم کښے قائمول جائز دی، خو اختلاف پدے کښے دے چه بهر قتل وکړی بيا حرم ته پناه راوړی، کومو علماؤ چه قتل پکښے جائز کړے نو استدلال ئے کړے په قتل د ابن خطل باندے چه نبی عليه السلام په حرم کښے د هغهٔ په قتل امر وکړو، ليکن صحيح دا ده چه دا په هغه وخت کښے وو چه نبی عليه السلام دپاره پکښے قتل کول جائز شوی وو۔ او د ابن عمر رضی الله عنه او د ابن عباس رضی الله عنه د قول تقاضا دا ده چه په حرم کښے مطلقاً قتل ناروا دے، او د مجاهدؒ او د عطاءؒ نه پکښے تفصيل نقل دے،

(۱) امام ابوحنيفهؒ وائی : په حرم کښے به نشی وژلے کيدے، تردے چه زمين حل ته په خپل اختيار سره بهر شی ليکن د هغهٔ سره به ناسته پاسته او خوراك څکاك او خبرے نشی کولے او وعظ او نصيحت به ورته کولے شی چه بهر شی۔ ابويوسفؒ وائی : مجبوره به کړے شی تردے چه بهر اُوځی لکه دا کار ابن الزبير رضی الله عنه کړے، د ابن عباس رضی الله عنه نه طاؤوسؒ نقل کړی چه چا يو حد ته رسيدل وکړل بيا حرم ته داخل شو نو د هغهٔ سره به ناسته پاسته او اخستل خرڅول نهٔ شی کولے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) او مالكؒ او شافعیؒ وائی چه په حدودو د حرم کښې مطلقاً حد قائمول جائز دی ځکه چه عاصی (نافرمان) خپل عزت خپله ختم کړو نو الله تعالیٰ ددهٔ دپاره امن ختم کړو۔

او هرچه قتال دے نو ظاهر ددے حدیث دا دے چه دا پکښې حرام دے۔ جمهورؒ وائی چه که باغیانو په حرم کښې قتال کولو نو که د هغوی تردید په غیر د قتال نه کیدو نو قتال به ورسره نهٔ کوی، او که قتال نه بغیر کار نهٔ کیدو نو قتال ورسره جائز دے ځکه چه قتال د باغیانو سره د الله تعالیٰ د حقوقو نه دے، نو ددے ضائع کول نهٔ دی جائز۔ او قرآن کریم کښې (فَاقْتُلُوْهُمْ) امر هم راغلے دے۔

او بعضو وئیلی دی چه تنګی به پرے راوستے شی تردے چه طاعت ته راواپس شی، او دے حدیث کښې چه کوم قتال منع شوے نو د هغے نه مراد دا دے چه داسے قتال وی چه د هغے ضرر عام وی لکه منجنیق وغیره پکښې استعمالول چه په هغے سره کعبه او حرم ته نقصان ورسیږی۔ لیکن اول قول راجح دے، ځکه چه دلته نبی ﷺ مطلقاً منع فرمائیلے چه حرم کښې قتال زما نه روستو د هیچا دپاره حلال نهٔ دے او ما دپاره هم لږ ساعت دپاره جائز شوے وو۔ او ابن المنیرؒ وئیلی دی چه نبی ﷺ به د یوے خبرے تاکید کولو نو درے کرته به ئے کوله او دلته هم نبی ﷺ یو ځل (حَرَّمَهُ الله) بیا (فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللّٰه) او بیا (وَلَمْ تَحِلَّ لِیْ اِلَّا سَاعَةً مِنْ نِهَارٍ) سره درے کرته ددے تحریم ذکر کړے نو دا نص دے چه د هیڅ تاویل احتمال نهٔ لری۔

نو راجح مذهب د امام ابوحنیفهٔؒ او محدثینو او امام احمدؒ دے چه مطلقاً قتل وقتال په حرم کښې ناروا دے۔ ځکه چه ددے خلکو مذهب د دلیل په لحاظ قوی دے۔ وانظر المرعاة شرح المشكاة۔

[سَاعَةً مِنْ نَهَار] د ورځے لږ ساعت، چه دا د نمر ختو نه تر مازیګر مانځه پورے وخت وو۔ [وَلَا یُنَفَّرُ صَیْدُهُ] ددے ښکار به نشی ترولے، تښتولے او د خپل ځائے نه پاڅولے۔

[وَلَا یُخْتَلٰی خَلَاهَا] اختلاء پریکولو او ریبلو ته وائی، خلاء شنو وښو ته وائی، او حشیش وچو وښو ته وائی، او شَوك ازغی دارے وُنے یا خپله ازغی ته وائی۔ یعنی د هغے ازغی داره وُنه یا د هغے ازغی به نشی ریبلے۔ او ازغی داره وُنه ئے ځکه ذکر کړه چه د مکے مکرمے عامے وُنے داسے دی، اویا په دے وجه چه د نهٔ پریکولو حکم ضرری او غیر

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرري تولو ونو ته شامل شي چه اګرکه ضرري ونه وي خو دا به نشي پريکولے۔

[سَاقِطَتَهَا] غورزيدلے او ورك شوے مال۔

[إِلَّا مُنْشِدٌ] مُنشد د أَنْشَدَ يُنْشِدُ نه دے، د ورك شوي شئ مُعرِّف (اعلان کونکی) ته وائي، او ناشد د نَشَدَ يَنْشُدُ نه دے، د ورك شوي شي طلب او تالاش کونکي ته وائي۔ او کلمه ئے په اعلان کولو باندے هم اطلاق کيږي۔ د عام ورك شوي شئ حکم دادے چه دا به قيمتي شے وي يا معمولي۔ که قيمتي وي نو يو کاله پورے ددئے اعلان کول واجب دي، او که کاله پورے څوك رانغے نو انسان ئے خپله هم استعمالولے شي۔ اوکه معمولے شے وي نو د کال نه مخکښے ئے هم استعمالول جائز دي۔ ليکن د مکے مکرمے د ورك شوي شئ حکم دادے چه کال نه پس ئے هم استعمالول جائز نهٔ دي، بلکه د هغے راخستل هم صرف د هغه چا دپاره جائز دي چه تول عمر ددے اعلان او اشتهار کوي۔ او څوك چه ددے التزام نشي کولے نو بيا ددے راخستل جائز نهٔ دي۔ اُوس په دے کښے وخت ورله سعودي حکومت دفتر مقرر کړے چه هغے ته حواله شي نو د انسان ذمه فارغيږي ان شاء الله، ځکه هر سړے خپل ورك شوے شے هلته ګوري۔

او دا مذهب د امام شافعيؒ او بعض مالکيهٔ ؤ دے چه د حرم او غير حرم په لقطه کښے فرق دے۔ او مالكؒ او ابو حنيفهٔ او احمدؒ وائي چه هيڅ فرق نشته، او دلته چه کومه خبره ذکر شويده نو ددے نه مقصد زيات تعريف او اعلان کول دي ځکه چه حاجي خپل وطن ته واپس کيږي نو بيرته راواپس کيدل ئے ډير کلونه پس کيږي نو ددهٔ دپاره اُوږدهٔ اعلانونه پکار دي۔ ليکن ظاهر د حديث د دوئ سره نهٔ دے۔

[الإِذْخِرَ] د همزے په زير سره، سرګړے، د بروځے غونته يو خوشبويه وابنهٔ۔

[لِقَيْنِهِمْ وَبُيُوتِهِمْ] يعني آهنګرئے د اُور بلولو دپاره استعمالوي، او د کورونو په چتونو کښے د لرګو دپاسه اچولے شي او ددے دپاسه خته اچولے شي چه ونيول شي۔ او په يو روايت کښے دي چه په قبرونو کښے د ګټو ترمينځه سوري بندولو دپاره اچولے شي۔

فوائد الحديث : (۱) حديث نه معلومه شوه چه خلکو ته د وعظ او نصيحت کولو يا د شرعي احکامو بيانولو په وخت خطبه وئيل مسنون او مستحب دي۔

(۲) په مکه کښے قتل او قتال کول حرام دي، او د مکے نه مراد تول حرم شريف دے، په دے کښے د هيچا دپاره جنګ جګړے کول جائز نهٔ دي، او د نبي کريم ﷺ دپاره صرف د

Maktaba Tul Ishaat.com

لږ ساعت دپاره قتال کول الله تعالیٰ حلال کړې وو، او هغه هم ددې دپاره چه دا د شرك او مشرکانو نه صفا کړي۔ او کله چه دغه ساعت پوره شو نو د هغې حرمت او عزت بیرته راواپس شو، اُوس په دې کښې د هیڅا دپاره قتال جائز نهٔ دے۔ ځکه چه دا د امن ښاریه ده۔ البته علماؤ ددې نه دوه شیان مستثنیٰ کړي : (أ) یو مدافعتي جنګ : چه څوك په مکه کښې د چا سره زیاتے کوي نو د خپلې دفاع دپاره هغهٔ سره جنګ جائز دے، هرکله چه د جنګ نه بغیر کار نهٔ کیږي۔ (ب) دویم : څوك چه یو داسې جنایت وکړي چه وژل ئې جائز وي، لکه په ناحقه څوك قصدًا ووژني، یا مُحصن زنا وکړي نو په مکه کښې ددهٔ سنګسارول جائز دي۔ خو پکار ده چه قاتل تنګ کړې شي او راوتو ته مجبوره کړې شي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿وَلَا تُقَاتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقَاتِلُوْكُمْ فِيْهِ﴾ [البقرة : ۱۹۱] لکه چه تفصیل د اختلاف پکښې مخکښې ذکر شو۔

(۳) د مکې مکرمې ښکار ترول یا وژل، یا ددې دپاره زغلول چه د مکې نه بهر ووځي او بیا ئې ښکار کړي، ټول حرام دي۔ (٤) د مکې مکرمې وُنې پریکول، واښهٔ ریبل حرام دي اګرکه ضرري ازغې ولې نهٔ وي، ځکه دا ډیر زیات قدرمن مکان دے۔

(٥) ددې باوجود که چا د حرم شریف وُنې یا واښهٔ پریکړل نو د راجح قول مطابق په دهٔ باندې څهٔ جزاء او فدیه نشته، ځکه جزاء او فدیه په نص سره ثابتیږي، او په دې باره کښې په سنت کښې څهٔ نهٔ دي راغلي۔ د بعضِ سلفوؒ نه په دې کښې د جزاء وجوب راغلے، خو ممکنه ده چه هغه تعزیري جزاء وي۔ امام عطاءؒ فرمائي : د الله تعالیٰ نه به استغفار وغواړي، بیا به دا کار نهٔ کوي او په دهٔ هیڅ شے نشته۔ بیا ددې وُنو او بوټو نه مراد هغه وُنې اوبوټي دي چه هغه خپله الله تعالیٰ راخیژولي وي، د بنده څهٔ دخل په کښې نهٔ وي۔ لکه په حدیث کښې د وُنې او وښو نسبت ئې مکې ته کړے۔ یعني [شَوْكُهَا] چه ددې نه معلومیږي چه ددې نه مراد خپله راختونکې وُنې بوټي دي۔او ددې حکم نه هغه وُنې مستثنیٰ دي چه انسان ئې وکري ځکه چه دا د انسان ملکیت دے۔او ددې نسبت انسان ته کیږي۔

(٦) په شرح د لُباب کښې دي : د حرم ونې او ګیاه په څلور قسمه دي : (۱) اول هغه ونې چه خلکو کرلې وي او عادةً هغه کرلے شي لکه فصلونه۔ (۲) چه خلکو کرلې وي او عادةً ئې خلك نهٔ کري لکه د ممانړې ونې، او د مسواك ونې۔ (۳) په خپله رازرغون شوي

بوټي ليكن دا د هغه جنس نه وي چه خلك ئې عادةً كري، نو دا درې واړه اقسام ددې پريكول او راشوكول او ددې نه فائده اخستل جائز دي، او په دې كښې هيڅ جزاء او فديه نشته. (٤) څلورم قسم هغه بوټي دي چه خپله راختلي وي او عادت د خلكو دا وي چه دا قسم بوټي نهٔ كري. لكه ام غيلان بوټې. او نور بوټي. نو ددې پريكول ناروا دي، برابره ده چه د چا ملكيت كښې وي او كه نهٔ وي، البته ميوې راشوكول، يا هغه پاڼې راټولول چه د ونو نه خپله راپريوتي وي، او د انسان كسب له پكښې دخل نهٔ وي، جائز دي.

(٥) لكه څنګه چه ددې حكم نه سرګړې مستثنىٰ شوې. دارنګه په دې كښې څاروي څرول هم دا حكم لري، څكه په دې كښې هم ضرورت دې، د څاروي خُلهٔ څوك نشي بندولې. په څرولو كښې امام ابو حنيفةؒ خلاف كړې. البته ګياه ورله راشوكول او كور ته راوړل صحيح نهٔ دي. او هلته خپله راختلې مسواكئ ونې نه مسواكونه جوړول هم صحيح نهٔ دي.

(٦) او معلومه شوه چه څوك قتل وكړي نو د مقتول ولي له اختيار دې چه كه قصاص اخلي او كه قصاص معاف كوي او ديت اخلي. هريو كار ورله جائز دې. دا څكه وائي: چه عربو كښې به چا قتل وكړو نو هغوئ به يواځې قاتل نهٔ وژلو بلكه د قبيلې سردار او سركرده سړې به ئې واژهٔ. اسلام دا خبره ختمه كړه.

(٧) د سرګړې استثناء خو يا د نبي اكرم ﷺ په اجتهاد سره وشوه او يا دا استثناء نبي كريم ﷺ ته د مخكښې نه وئيل شوې وه چه كه چا دا سوال وكړو نو دا به مستثنىٰ وي. او يا په دې لنډ وخت كښې ددې په استثناء سره وحي نازله شوه. او دا څهٔ بعيده نهٔ ده چه الله تعالىٰ په دې لنډ وخت كښې په خپل نبي ﷺ باندې وحي نازله كړي. مګر صحيح دا ده چه رسول الله ﷺ شارع دې ترڅو چه رب نهٔ وي منع كړې. والله تعالىٰ اعلم.

2717 (3) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: " لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَّحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې: حلال نهٔ دي د هيڅ يو تن ستاسو دپاره چه په مكه كښې وسله راپورته كړي. (مسلمؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : یعنی بغیر د ضرورت نه به مکې ته وسله نهٔ ننباسي. او دا مذهب د اکثرو علماؤ دے. او د حسنؒ رائے دا ده چه د ضرورت دپاره هم حرم ته وسلے ننباسل حرام دي. لیکن اول قول غوره دے، وجه دا ده چه نبی ﷺ مکې ته د وسلے سره ننوتے دے ځکه چه هلته ضرورت وو. نو دا حدیث محمول دے په هغه صورت باندے چه ضرورت نهٔ وي. عبد الله بن عمر رضی الله عنه په حجاج بن یوسف باندے یو اعتراض دا هم وکړو چه تا حرم ته وسله ننویستے ده حالانکه حرم ته وسلے ننویستل جائز نهٔ دي. یعنی بغیر د ضرورت نه.

2718 (4) - وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلٰى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ وَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ. فَقَالَ: " اُقْتُلْهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ مکې ته د فتح په ورځ راننوتو او د هغهٔ په سر باندے د وسپنے ټوپۍ وه، نو هرکله ئے چه هغه اُوخکله، یو سړے ورته راغلو وے وئیل : یقیناً ابن خطل د کعبې د غلافونو پورے انختے دے. (د کعبې پورے ئے پناه اخستے ده آیا د هغهٔ وژل جائز دي؟) نو وے فرمایل : مړئے کړئ. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : اَلْمِغْفَرُ : خود، د سر ټوپۍ ته وائي. چه د تورے او نیزے نه حفاظت راولي. دا حدیث د امام شافعيؒ د مسلك دلیل دے چه څوك د نُسك یعنی د حج یا عمرے اراده نهٔ لري نو مکې ته بغیر د احرام نه داخلیدل جائز دي. او د دلیل د قوت په وجه همدا حقه خبره ده.

فَلَمَّا نَزَعَهُ : یعنی هرکله ئے چه ټوپۍ (او سامان د جنګ) اُوویستله نو یو سړے ورته راغلو. حافظ ابن حجرؒ وائي : ما ته دده نوم نهٔ دے معلوم خو داسے ښکاره کیږی چه دا هغه سړے دے چه ابن خطل ئے وژلے دے، او کرمانيؒ او فاکهيؒ په شرح د عمده کښے وئیلي دي چه دا ابو برزه اسلمي رضی الله عنه وو. چه دده نوم نضله بن عبید دے.

ابْنَ خَطَلٍ : دده په جاهلیت کښے نوم عبد العزیٰ وو، هرکله ئے چه اسلام قبول کړو نبی ﷺ ورته عبد الله نوم کیخودو، دا هغه شخص وو چه رسول الله ﷺ د مکې د فتح کولو په ورځ دده وینه هَدَر (بیکاره) کړے وه، او دا ئے وویل : چه زهٔ دهٔ ته په زمین حل کښے هم امن نهٔ ورکوم او نهٔ په حرم کښے. دده د قتل حکم ئے پدے وجه ورکړے وو چه دے مرتد

Maktaba Tul Ishaat.com

شوے وو، دے اول کښے مسلمان وو رسول الله ﷺ دے د زکاۃ په وصولو باندے مقرر کړو او ددۀ سره ئے یو انصاری صحابی ولیږلو چه د هغۀ سره یو غلام هم وو، چه د هغۀ خدمت به ئے کولو، او هغه مسلمان وو، نو یو ځائے کښے ئے پړاؤ واچولو، نو دۀ دغه غلام ته حکم وکړو چه چیلے ذبح کړی او دۀ دپاره طعام تیار کړی نو هغه اُودۀ شو بیا رابیدار شو چه دۀ دپاره ئے هیڅ نۀ وو کړی، نو دۀ پرے ظلم وکړو او هغه ئے قتل کړو بیا مرتد شو او د مشرکانو سره ملګرے شو او مکے ته لاړو، او دۀ دوه ډمے ساتلے وے چه هغوی به د رسول الله ﷺ په اشعارو کښے بدی بیانوله۔

ابن عبد البرؒ او خطابیؒ وائی : دا قتل د ابن خطل د مسلمان د وینے قصاص وو۔ انتهیٰ۔ دارنګه بله وجه د رسول الله ﷺ حرمت وو ځکه چه دۀ به د رسول الله ﷺ بے عزتی کوله۔

مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ : دے د کعبے د غلافونو ولے انختے وو؟ نو ددۀ مقصد دا وو چه پدے طریقه به د مسلمانانو د وژلو نه بچ شی۔

اُقْتُلُهُ : واقدیؒ ذکر کړیدی چه دے په مکه کښے خَنْدَمَه علاقے ته راووتو (چه دا حرم ته نزدے ده) دے دپاره چه د مسلمانانو سره جنګ وکړی په خپل اَس سره او په لاس کښے ئے نیزه وه۔ هرکله ئے چه د الله تعالیٰ اَسونه او مرګ ولیدو نو سخت رعب پرے راغلو تردے چه د رَپیدو په وجه ئے لاس کښے نیزه نشوه ایساریدلے، نو بیرته راستون شو او کعبے ته ننوتو او د اَس نه کوز شو او خپله وسله ئے ګوزار کړه او د کعبے په غلافونو کښے ئے ځان تاؤ کړو نو یو سړی د قافلے والو نه د هغۀ وسله او اس واخستو او په هغے باندے کیناستو او نبی ﷺ ته ئے دا خبر ورکړو نو هغۀ ورته وفرمایل : قتل ئے کړه۔ نو هغۀ قتل کړو۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : د ابن خطل د قصے نه دلیل نیولے شویدے چه کعبه هغه چا ته پناهی نۀ ورکوی چه په هغۀ باندے قتل واجب شوے وی، او چا باندے چه قتل واجب شوے وی، نو په حرم کښے هم د هغۀ وژل جائز دی۔ او دا دلیل دے چه حرمِ مکی کښے حدود او قصاص قائمول جائز دی، لکه ابن عبد البرؒ وئیلی دی چه ابن خطل په قصاص کښے وژلے شویدے۔ سُهیلیؒ وئیلی دی چه کعبه عاصِی ته پناهی نۀ ورکوی او واجب حد قائمول نۀ منع کوی۔ انتهیٰ۔ لیکن دے باندے دا اشکال دے چه دا خو په هغه ساعت کښے وو چه رسول الله ﷺ دپاره پکښے قتل او قتال جائز شوے وو۔ اګرکه بعضو

Maktaba Tul Ishaat.com

وئيلي دي چه قتال په اول د داخليدو كښې جائز وو او بيا روستو رسول الله ﷺ وفرمايل : چه د مكې حرمت د مخكښې په شان راواپس شو. ليكن بعضو وئيلي دي چه دا جواز د اول د ورځې نه تر آخر د ورځې پورې وو. او په دغه ورځ كښې ابن خطل هم قتل شوې. مگر ظاهر دا ده چه ابن خطل اوله ورځ باندې وژل شوې دې.

2719 (5) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷺ نه روايت دې چه بيشكه رسول الله ﷺ د مكې د فتح په ورځ (مكې ته) بغير د احرام نه راننوتو په داسې حالت كښې چه د هغهٔ په سر باندې تور پټكې وو. (مسلمؒ)

تشريح : عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ : دې نه معلومه شوه چه تور لباس اغوستل جائز دي. اگركه سپين لباس زيات بهتر دې. او دلته ئې تور پټكې د جواز د بيان دپاره اغوستلې وو.

بِغَيْرِ إِحْرَامٍ : دا ښكاره دليل دې چه نبي عليه السلام بغير د احرام نه مكې ته ننوتې وو.

2720 (6) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "يَغْزُوْ جَيْشُ الْكَعْبَةَ فَإِذَا كَانُوْا بِبَيْدَاءٍ مِنَ الْأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ". قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ وَفِيهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ ؟ قَالَ : "يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ ثُمَّ يُبْعَثُوْنَ عَلٰى نِيَّاتِهِمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يو لښكر به په كعبه حمله كوي نو هركله چه دوئ د زمكې په يو ميدان باندې شي نو مخكني او روستني (ټول) به په زمكه ننباسلې شي. ما عرض وكړې اې د الله رسوله ! څرنگه به د دوئ ړومبني او روستني په زمكه ننباسلې شي حال دا چه په دوئ كښې به بازارونو والا خلك هم وي او هغه څوك هم چه د دوئ نه به نهٔ وي. وې فرمايل : ړومبني او روستني (ټول) به ننويستلې شي بيا به په خپلو خپلو نيتونو باندې راپورته كولې شي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : يَغْزُوْ جَيْشٌ : يعني په آخره زمانه كښې به يو لوې فوج د كعبې د مقابلې دپاره روان وي، هركله چه بيداء ته راورسيږي نو په زمكه به ټول په ټوله ننباسلې شي، بيا به په خپلو خپلو نيتونو راپورته كولې شي يعني كه د چا نيت د كعبې ورانول وي نو هغه

خو مجرم دے، او د الله تعالیٰ د عذاب سره به مخامخ کیږی او که د چا اراده نهٔ وی نو الله تعالیٰ به ئے د آخرت د عذاب نه بچ کړی لیکن دنیا کښے پرے مصیبت راغلو۔
ددے بیداء نه څه مراد دے ؟ نو بیداء په اصل کښے میدان ته وائی۔ او په یو روایت د مسلمؒ کښے د ابو جعفر الباقرؒ نه نقل دی چه دا بیداء المدینه ده (یعنی د ذو الحلیفے نه راوتو کښے چه کوم میدان شروع کیږی مکے طرف ته، دغے ته بیداء وائی)۔ نو دا فوج به دغه ځائے کښے په زمکه ننوځی۔
أَسْوَاقُهُمْ : جمع د سُوق ده، یعنی أهل سوق (بازار والا) چه اخستل خرڅول به کوی۔ یا که اسواق جمع د سُوْقَة شی نو سوقه رعایا (رعیت) ته وائی۔ یعنی عام خلك۔ مطلب دا چه جنګیان او غیر جنګیان ټول به په زمکه داخل کړے شی۔ نو عائشے ﷺ ته دا اشکال راغلو چه د چا د قتال اراده نهٔ وی نو هغوی باندے ولے عذاب راځی؟ نو جواب راغلو چه عذاب به عمومی واقع کیږی ځکه چه ددے خلکو نیته به پوره وی او بیا به هر څوك په خپل خپل نیت راپورته کیږی۔ او دا ددے غلطو خلکو د نیتونو او د عملونو د وجه نه به عمومی عذاب راځی، د دوئ د سپیرهٔ والی په وجه به غیر مجرمانو باندے هم عذاب راځی ـ ځکه چه دوئ د مجرمانو ډله زیاته کړه۔ یا نهی عن المنکرئے ندے کړے۔
بعض وائی : دا حدیث د مهدی آخر زمانؒ د راوتو په وخت کښے دے، هرکله چه مهدی په مکه کښے راوځی نو د کفارو او مجرمانو څه خلك به ورپسے فوجونه روان کړی نو هرکله چه د مدینے دے علاقے ته راورسیږی نو ټول به په زمکه ننباسلے شی، او دا به د مهدی کرامت او د هغهٔ سره غیبی مدد وی۔

2721 (7) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : د حبشو نه د نریو پونډو والا یو تن به کعبه ورانوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : السُّوَيْقَتَيْنِ : سُویقة : تصغیر د سَاق دے، د تحقیر دپاره دے، او اشاره ده چه د حبشو هسے هم نریٔ پونډئ دی، او دے پکښے ډیر زیات نرو پونډو والا دے۔ او پدے تصغیر کښے اشاره ده چه دداسے عظیم کور حرمت به ددے خلکو د یو ضعیف او سپك

Maktaba Tul Ishaat.com

تن د لاسه ماتیږي۔

حبش د کوش بن حام بن نوح ﷺ په نسل کښې راغلي دي او دا اکثر سوډانیان او ارتیریا والا دي۔

او دا کعبه وروانول به بیخي په آخره زمانه کښې وي چه قیامت نزدې وي او په زمکه کښې الله الله والا ویونکې پاتې نشي، (مسلم)

قرطبيؒ وائي: بعضو وئیلي دي: د کعبې خرابیدل به د سینو او د مصاحفو نه د قرآن کریم د پورته کیدو نه روستو کیږي۔ او دا به د عیسی ﷺ د مرګ نه پس وي، همدا خبره صحیح ده۔ انتهی۔

او په روایت د سعید بن سمعانؒ کښې دي چه کله بیت الله خراب شي نو هیڅکله به د هغې نه روستو آباد نشي۔ او ددې نه مخکښې دور کښې په زمانه د یزید بن معاویه کښې قتال شوې او شام والو بیت الله محاصره کړې وو، بیا د هغهٔ نه روستو ډیر واقعات پکښې راغلي دي چه غټه واقعه د قرامطه ؤ وه چه د دریمې صدئ نه روستو راغلې وه نو په مطاف کښې د مسلمانانو نه دومره کسان ووژل شو چه هغه د ډیر والي نه په شمار کښې نهٔ راتلې، او حجر اسود ئې د بیخ نه راوخکلو او خپلو علاقو ته ئې یوړو، بیا ئې د ډیرې مودې نه روستو بیرته راواپس کړو، ددې نه روستو هم پکښې ډیر جنګونه شویدي، او دا تول ددې آیت ﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا﴾[عنکبوت: ٦٧] نه خلاف نهٔ دې ځکه چه دا کارونه د مسلمانانو په لاسونو سره واقع شوي وو، نو دا ددې قول د نبي ﷺ مطابق دې، چه فرمائیلي ئې دي: [وَلَنْ يَسْتَحِلَّ هٰذَا الْبَيْتَ إِلَّا أَهْلُهُ] (ددې بیت الله بیعزتي به خپل اهل (یعني مسلمانان) کوي۔ نو دا خبر د هغهٔ د واقعې سره عین مطابق شو۔ او دا د نبي ﷺ د نبوت د نښو نه لویه نښه ده، او په آیت کښې دا خبره نشته چه دا امن به همیشه دپاره باقي پاتې وي، روستو زمانه کښې به ختمیږي۔ (انتهیٰ کلام الحافظؒ)

ابن الجوزيؒ وئیلي دي: پدې کښې څه راز دې چه کعبه ئې د فیلانو نه بچ وساتله او په اسلام کښې ئې د حجاج او د قرامطه ؤ او ذو السويقتين نه بچ نکړه؟ جواب دا دې چه د فیلانو بند ساتل د نبي ﷺ د نبوت د نښو نه وه، دې دپاره چه په قریشو باندې په لیدلې شوي دلیلونو سره حجت قائم شي مخکښې ددې نه چه په عقلي دلیلونو سره قائم شي۔ او دا بند ساتل دلیل وو چه یو ناصِر (مددګار) ذات موجود دې۔ انتهیٰ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ددې حدیث او روستو حدیث نه معلومیږي چه د کعبې د ورانولو دپاره به فوجونه راځي او هغه به ئې ورانوي او مخکښې حدیث د عائشې رضي الله عنها نه معلومه شوه چه فوج به په لاره کښې غرقیږي. نو دا په جدا جدا زمانو کښې مراد دي، اول فوج به ئې نشي ورانولې او روستنې خلك به ئې ورانوي.

2722 (8) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **كَأَنِّيْ بِهٖ أَسْوَدَ أَفْحَجَ يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا** ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او ابن عباس رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوي چه هغهٔ وفرمایل: ګویا که زهٔ د خانه کعبې ورانونکے وینم چه هغه تور رنګے، کجے (ککو خپو والا) دے چه د خانه کعبې یو یو کاڼړے به راوباسي. (بخاريؒ)

تشریح: كَأَنِّيْ بِهٖ: په یو روایت کښې ددې الفاظو نه مخکښې نور زیادت هم راغلے دے، فرمائي: ((ددې بیت الله نه طواف زیات کوئ مخکښې ددې نه چه ستاسو او ددې ترمینځ پرده واقع شي، څکه ګویا کښې زهٔ د حبشو نه یو سړے وینم چه تور رنګے کجے، (ککو خپو والا) به وي نرو پونډو والا به وي، په کعبه به ناست وي او هغه به نړوي. (ذکره ابو عبیدؒ في غریب الحدیث والفاکهي) او که دا تقدیر راونهٔ ویستے شي هم خبره صحیح ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د کعبې د ورانیدو صورت راښائي، چه داسې به یقیني ورانیږي لکه چه زهٔ ورته ګورم.

كَأَنِّيْ بِهٖ: (ګویا که زهٔ وینم) (بِهٖ) ضمیر بیت الله ته یا ورانونکي ته راجع دے، طیبيؒ وائي: دا مبهم ضمیر دے او روستو (اَسْوَدَ اَفْحَجَ) ئې بیان دے. لکه (فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ) کښې (هُنَّ) ضمیر مبهم دے، روستو سَبْعَ سَمَاوَات ئې تمییز دے.

أَفْحَجَ: د فَحَج نه دے، دے ته وائي چه د قدمونو سینے یو بل ته نزدې وي او ګیتۍ لرې لرې وي. څینې وائي: د پونډو د یو بل نه ورانډې والي ته وائي. او څینې وائي چه د ورنونو (پتنونو) یو بل نه جدائي ته وائي. یعنې نرې اُوږد ګجے شے به وي.

يَقْلَعُهَا: یعنې د بیخ نه به ئې راوباسي یو یو کاڼړے. دا د باب د فتح نه دے. او د باب تفعیل نه هم صحیح دے، [يُقَلِّعُهَا] یو شے د بیخ نه اُوښکل. او د باب افعال نه منع کیدو او بندیدو ته وائي. کله ئې چه په صله کښې عَنْ راشي، [اَقْلَعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ] د ګناه نه منع

Maktaba Tul Ishaat.com

شو۔ او دارنګه په معنیٰ د پریخودو او زائله کیدو سره هم راځي۔ او د باب د سَمِعَ نه په معنیٰ د پریشانه کیدو سره، قَلِعَ الرَّجُلُ اَیْ اِضْطَرَبَ، فَهُوَ قَلِعٌ۔ سړے پریشانه شو۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2723 (9) - عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ ﷺ قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِحْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيْهِ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه: يعلى بن اميه ﷺ فرمائي: يقيناً رسول الله ﷺ وفرمايل: په حرم کښې د غلي ساتنه (يعنې د ګران خرڅولو دپاره غله ساتل او ذخيره اندوزي کول) په حرم کښې کجروي ده۔ (ابو داودؒ)

تشريح: اِحْتِكَارُ: ذخيره اندوزئ ته وائي۔ يعنې طعام ددې دپاره ساتل چه ګران به شي۔ علامه مناويؒ وائي: چه دلته هر طعام نۀ دے مراد، بلکه هغه طعام مراد دے چه غذاء ورکونکے وي، او د هغې نه بغير چاره او ګوزاره نۀ کيږي او دے دپاره ئې بند ساتلے وي چه بازار کښې کم شي او ګران شي نو دے به ئې په ګران ريټ خرڅ کړي۔ که چرته بازار کښې هم ښه ډير ملاويدو، او بيا ګران شو نو دا ناروا نۀ دے۔ او که څوك د طعام نه علاوه نور فروټ، وسپنه، سونا او چاندي وغيره ذخيره کړي پدے کښې ګناه نشته۔

که يو تن غله د خرڅ دپاره نۀ بلکه د خپل خوراك دپاره وساتي او بيا ګرانه شي دا هم ناروا نۀ ده۔

بعض اهل علم وائي چه ددے نه مراد هغه طعام دے چه د ګرانئ په زمانه کښې ئې واخلي او بيا ئې وساتي دے دپاره چه نرخ ئې ګران شي۔ (قاله العزيزيؒ)

فِي الْحَرَمِ: د حرم نه مراد مکې حرم دے، لکه په روايت د ابن عمر ﷺ کښې طبرانيؒ نقل کړيدي۔

إِلْحَادٌ فِيْهِ: الحاد د استقامت نه مائل کيدو او کږيدو ته او د حق نه باطل ته انحراف او کږيدو ته وائي۔ او الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴾ [الحج: ٢٦] (څوك چه په ظلم سره پدے کښې کجروي (او فساد) کوي مونږ به ورته دردناك عذاب ور اُوڅکوو)۔

احتکار په هر ځائے کښې ناروا دے، ليکن په حرم کښې ډير زيات حرام دے، او دے ته ئې

په دې وجه ظلم ووئیلو چه حرم یوه شاړه بې آب وګیاه وادی ده، نو خلکو باندې لازم دی چه دلته خوراکونه راوړی دې دپاره چه ددې ځائې په خلکو فراخي راشي نو څوك چه په دوئ باندې په ذخیره اندوزئ سره تنګي راولي نو دې ظلم کوی. نو ځکه ددې سخت وعید مستحق شو.

درجة الحديث: [ضعيف] أخرجه ابوداود (۲۰۲۰) وفي سنده مجاهيل.

2724 (10) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ: "**مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِيْ أَخْرَجُوْنِيْ مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ مکې ته وفرمايل: څه مزيدار ښار ئې تهٔ او څومره محبوب ئې ما ته، او که چرې زهٔ خپل قوم ستا نه نهٔ اُوخکلې نو زهٔ ستا نه غير په بل ښار کښې نهٔ اُوسيدم. (ترمذيّ روايت کړې او دا ئې وئيلي دی چه دا حديث حسن صحيح غريب اسناد والا دې).

تشريح: لِمَكَّةَ: دا خبره رسول الله ﷺ مکې ته په زمانه د فتح د مکه کښې کړې وه چه تهٔ څومره مزيدار ښار ئې او ما ته زيات محبوب ئې ليکن که زهٔ خپل قوم ستا نه نهٔ وې اُوخکلې زهٔ ستا نه علاوه بل ځائې کښې نهٔ اُوسيدم. پدې کښې ئې ددې د اُوسيدو فضيلت ته اشاره کوله. يعنې زما قوم زما د وتلو سبب وګرځيدو. ليکن ظاهر دا ده چه دا خبره ئې ورته د هجرت په ورځ کړې وه.

دا د هغه علماؤ دليل دې چه وائي مکه د مدينې نه بهتره ده. پدې کښې امام مالك خلاف کړيدې. او سيوطيّ پدې رساله ليکلې ده. د تفضيل مسئله روستو راځي.

درجة الحديث: [إسناده صحيح] أخرجه الترمذي: ۳۹۲۲].

2725 (11) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ حَمْرَاءَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ فَقَالَ: "**وَاللّٰهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللّٰهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ اللّٰهِ إِلَى اللّٰهِ وَلَوْلَا أَنِّيْ أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: او عبد الله بن عدی بن حمراء ﷺ فرمائي: ما رسول الله ﷺ په حزوره مقام باندې ولاړ اُوليدو نو وې فرمايل: قسم په الله يقيناً تهٔ د الله تعالیٰ د زمکې نه ډيره غوره

Maktaba Tul Ishaat.com

حصه ئے او د الله تعالىٰ د زمکې نه الله تعالىٰ ته ډيره محبوبه ئے، او که زۀ چرته تا نه نۀ اُوخکلے کيدے نو زۀ تا نه نۀ وتلم۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تعارف د عبد الله بن عدي بن حمراء القرشي الزهري ﷺ : ابوعمروئے کنيه ده، بخاریؒ وائی : دا صحابی دے او نبیﷺ ئے ليدلے دے۔ او په حجاز والو کښے شمار دے، او دے د قُديد او د عُسفان ترمينځ وسيدو، او په فتح د مکه کښے ئے ايمان راوړے۔

تشريح : اَلْحَزْوَرَةِ : دا وړه شان ډيره کئ ده۔ جمع ئے حَزَاوِرُ راځی۔ جزریؒ وائی : دا په مکه کښے د باب الْحَنَاطِيْن خواته د يو ځائے نوم دے۔ دلته اول کښے يوه ډيره کئ وه۔

بعض وائی : وکيع بن سلمه بن زهير بن اياد د جُرهُم نه روستو د بيت الله د کارونو واکدار شو نو هغۀ پدے ځائے باندے يوه بنګله (قلعه) جوړه کړه او په هغے کښے ئے يوه وينځه کينوله چه د هغے نوم حَزْوَرَه وو، نو پدے نوم سره دغه ځائے مشهور شو۔

مَا خَرَجْتُ : دا دليل دے چه مومن به د مکے نه نۀ بهر کيږی مګر که مجبوره شی حقيقةً يا حکماً، يعنی حقيقةً ئے څوك اُوباسی، يا ورته دينی او دنياوی ضرورت راپيښ شی نو بهر وتلے شی۔

دا حديث دليل دے په فضيلت د مکه باندے د مدينے نه۔ او د مدينے د مکے نه د افضليت په باره کښے چه کوم روايت راغلی دی هغه ضعيف دی۔ البته د تولو تطبيق دا دے چه مکه پدے اعتبار سره غوره ده چه دلته عبادتونه کيږی، يو مونځ په يو لاکھ دے، او دلته طوافونه کيږی۔ او پدے حديث کښے ورته (خير) هم وئيلے شويده څکه چه د خير معنیٰ ده ډيرو فائدو والا۔ او مدينه د اُو ' و دپاره د مکے نه غوره ده لکه په روستو باب کښے به هغه حديثونه راشی چه رسول اللهﷺ ورله شفاعت کوی۔

او فرمائی : [مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَّمُوْتَ بِالْمَدِيْنَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا فَإِنِّيْ أَشْفَعُ لِمَنْ يَّمُوْتُ بِهَا]

د چا چه وس کيږی چه په مدينه کښے مړ شی نو مړ دے شی څکه چه زۀ به د هغه چا دپاره سفارش کوم چه په مدينه کښے مړ شی۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أخرجه الترمذي : ٣٩٢١، وابن ماجه : ٣١٠٨].

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2726 (12) – عَنْ أَبِيْ شُرَيْحِ الْعَدَوِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيْدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوْثَ

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَى مَكَّةَ : اِئْذَنْ لِيْ أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِيْ وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِيْنَ تَكَلَّمَ بِهِ : حَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ : "**إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللّٰهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ فَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَّسْفِكَ بِهَا دَمًا وَلَا يَعْضِدُ بِهَا شَجَرَةً فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُوْلِ اللّٰهِ** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فِيْهَا فَقُوْلُوْا لَهُ : إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَذِنَ لِرَسُوْلِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِيْ فِيْهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ**". فَقِيْلَ لِأَبِيْ شُرَيْحٍ : مَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو ؟ قَالَ : قَالَ : أَنَا أَعْلَمُ بِذٰلِكَ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ **إِنَّ الْحَرَمَ لَا يُعِيْذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ**. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . وَفِي الْبُخَارِيِّ : الْخَرْبَةُ : الْجِنَايَةُ .

ترجمه : د ابو شريح عدوى ﷺ نه روايت دے چه بيشکه هغهٔ عمرو بن سعيد ته وفرمايل په داسے حال کښے چه هغهٔ مکے ته فوجونه ليږل : اے امير صاحب ! ما ته اجازه راکړه چه زهٔ تا ته هغه خبره بيان کړم چه رسول الله ﷺ په هغے راپاڅيدلے وو په صبا د ورځے د فتح د مکه باندے، زما دواړو غوږونو دا آوريدلے او زما زړهٔ ياده کړے او زما سترګو ليدلے کله چه رسول الله ﷺ پدے باندے تلفظ وکړو : د الله تعالیٰ حمد او ثناء ئے ووئيله بيا ئے وفرمايل : يقيناً مکه الله تعالیٰ حرامه کړے او دا خلکو نهٔ ده حرامه کړے نو هيڅ يو شخص له جائز نهٔ دی چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لری چه پدے کښے وينه تويه کړی او نهٔ به پريکوی پدے کښے ونه، پس که يو تن پدے کښے د رسول الله ﷺ د قتال نه رخصت اخلی نو تاسو ورته ووايئ چه يقيناً الله تعالیٰ خپل رسول ته اجازه ورکړے وه او تاسو ته ئے اجازه نهٔ ده درکړے او يقيناً ما ته هم پدے کښے اجازه د ورځے په لګ ساعت کښے راکړے شوے، او يقيناً راواپس شو ددے حرمت نن ورځ لکه څنګه چه پرون ئے حرمت وو، او (په تاسو کښے) حاضر دِے غائب ته (دا خبره) اُورسوی۔ نو ابو شريح ته ووئيلے شو : تا ته عمرو څه ووئيل ؟ (کله چه تا ورته دا حديث پيش کړو) هغه وائی : عمرو ووئيل : زهٔ تا نه پدے باندے ډير ښهٔ پوهه يم اے ابو شُريح ! يقيناً حرم نافرمان ته پناه نهٔ ورکوی او نهٔ هغه چا ته چه وينے سره تختيدونکے وی (يعنی قتل کولو سره حرم ته وتښتی او هلته پناه واخلی) او نهٔ هغه چا ته چه د فساد کولو سره تښتيدونکے وی۔ (بخاریؒ او مسلمؒ) او په بخاریؒ کښے دی : خربه : جنايت او جرم ته وائی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو شريح :العدوى ﷺ- دے په اصل کښے د کعب بن ربيعه بن عمرو قبيلے نه دے، او کعب د عدى د ترونو ځامن دى، نو دے د خپلو ترونو ځامنو په نسب باندے منسوب دے- ورنه دے په اصل کښے کعبى دے-

دا ابو شريح ﷺ مشهور صحابى دے، په نوم کښے ئے اختلاف دے، خُويلد بن عمرو، يا عمرو بن خويلد، يا کعب بن عمرو يا هانیء بن عمرو دے، اول قول زيات صحيح او زيات مشهور دے- د فتح د مکے نه مخکښے ئے ايمان راوړے، او د فتح د مکے په ورځ ئے د بنو کعب بن خزاعه يوه جنډه په لاس کښے وه، د نبى ﷺ نه ئے شل (٢٠) حديثونه نقل کړى- او دا ابوشريح ﷺ د مدينو والو نه ډير عقلمند سړے وو، په مدينه کښے اُوسيدو، او په هغے کښے په (٦٨ هـ) کښے وفات شويدے-

عمرو بن سعيد بن ابى العاص بن سعيد بن العاص بن اميه القرشى الاموى په اشدق (وښکى وتلے) باندے مشهور دے، دے صحابى هم نۀ دے، او نۀ د تابعين باحسان نه دے، اشدق ورته پدے وجه وائى چه يوه ورځ منبر ته وختلو او د على بن ابى طالب ﷺ په کنځلو کښے ئے مبالغه وکړه نو لقوه (بيمارى) ورته ورسيده- (يعنى خوله ئے کږه شوه)-

تشريح : عمرو بن سعيد د خليفه عبد الملك بن مروان د طرف نه د مدينے حاکم وو، هغۀ د عبد الله بن زبير ﷺ د قتل دپاره د مدينے نه مکے ته يو لښکر روان کړو نو ابوشريح صحابى ﷺ د هغۀ پدے فيصله باندے خبر شو نو هغۀ نه ئے بيزارى ښکاره کړه او د رسول الله ﷺ دغه حديث ئے بيان کړو، او مطلب ئے دا وو چه په مکه کښے خو د قتل لائق شخص قتلولو هم اجازت نشته پاتے لا دا چه د يو جليل القدر صحابى د وينے توى کولو دپاره هلته لښکر وليږلے شى- ددے په جواب کښے عمرو بن سعيد ووئيل : د حرم زمکه هغه شخص ته پناه نۀ ورکوى چه د خليفه نه بغاوت کولو سره د هغۀ نافرمانى کوى- ګويا که د عمرو بن سعيد په ګمان عبد الملك بن مروان حق خليفه وو، او عبد الله بن عمر ﷺ د هغۀ باغى، حال دا چه عبد الملك بن مروان حق خليفه نۀ وو چه د هغۀ د خلافت نه انکار کونکے د شريعت په رڼړا کښے باغى وګڼړلے شى، دغه شان عمرو بن سعيد دا هم ووئيل چه که يو تن د چا وينه توى کړى او حرم ته وتښتى نو حرم هغۀ ته پناه نۀ ورکوى، يعنى که يو تن يو تقصير وکړى، په دين کښے فساد وکړى، يا دينى جرم وکړى يا د چا مال هلاك کړى يا د چا حق غصب کړى، او حرم ته راوتښتى او په حرم

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې پناه ونیسي، نو ددې مطلب به دا نهٔ وي چه هغه به معاف کولې شي. ګویا که د عمرو بن سعید د جواب حاصل دا وو چه عبد الله بن زبیر ﷺ (العیاذ بالله) د خلیفه د اطاعت نه انحراف کړیدې، نو که هغه د حرم نه بهر راشي نو هلته به سزا ورکولې شي او که په حرم کښې وسیږي نو هلته به په حرم کښې سزا ورکوم. او همدغه شان وشوه چه هغه ئې په حرم کښې دننه شهید کړو.

یَبۡعَثُ الۡبُعُوثَ إِلٰی مَکَّةَ : بعوث جمع د بَعۡث ده، په معنیٰ د مبعوث. لیږلې شوې شخص، او فوج، دلته فوجونه مراد دي. یعنی د عبد الله بن زبیر ﷺ د قتال دپاره ئې فوجونه لیږل ځکه چه هغه د یزید بن معاویه د بیعت نه بند شوې وو، او حرم ته ئې پناهي وړې وه. او عمرو بن سعید د یزید د طرف نه په مدینه باندې والي وو.

او ددې قصه داسې وه چه سیدنا معاویه ﷺ وصیت کړې وو چه زما نه روستو به یزید بن معاویه خلیفه وي، نو خلکو ورسره بیعت وکړو سویٰ د حسین بن علی ﷺ او عبد الله بن الزبیر ﷺ نه، او هرچه عبد الرحمن بن ابی بکر ﷺ وو نو هغه د معاویه ﷺ د مرګ نه مخکښې وفات شو، او هرچه عبد الله بن عمر ﷺ وو نو هغهٔ د معاویه ﷺ د وفات نه روستو د یزید بن معاویه سره بیعت وکړو. او حسین بن علی ﷺ کوفې ته روان شو ځکه چه کوفې والو هغهٔ پسې خطونه لیږلي وو چه مونږ درسره بیعت کوو، نو همدا د هغهٔ د قتل سبب جوړ شو. او هرچه عبد الله بن زبیر ﷺ وو نو هغه مکې ته لاړو او په حرم کښې ئې پناه واخسته، ددې وجه نه هغهٔ ته عائذ البیت وائي. (یعنی په بیت الله پورې پناه اخستونکې) او بیا ئې د مکې په مشرئ باندې غلبه وکړه. نو یزید بن معاویه به خپلو امیرانو ته -کوم چه په مدینه مقرر وو، - دا حکم کولو چه عبد الله بن زبیر ﷺ پسې فوجونه ولیږي.

نو آخري خبره دا شوه چه مدینې والو یزید بن معاویه لره د خلافت نه په معزوله کولو اتفاق وکړو. او عمرو بن سعید مکې ته په لیږلي فوج باندې عمرو بن الزبیر امیر مقرر کړو ځکه چه دا د خپل وروړ عبد الله بن زبیر ﷺ مخالف وو، او اول کښې عمرو بن سعید دې په خپله شُرطه (فوج) باندې مشر کړې وو، بیا ئې د خپل وروړ د قتال دپاره ولیږلو، نو پدې کښې مروانِ راغلو او عمرو بن سعید ئې ددې کار نه منع کړو نو هغه منع نشو.

نو پدې کښې ورته ابو شریح ﷺ راغلو او دا قصه ئې ورته ذکر کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا هرکله چه دا فوج ذِیُ طُویٰ (مکې ته نزدې) ورسیدو نو د مکې نه ورته یو جماعت راووتو او دوئ ته ئې شکست ورکړو او عمرو بن الزبیر پکښې ونیولې شو نو خپل ورور (عبد الله بن زبیر ﷺ) هغهٔ لره سخت جیل ته واچولو، او دې عمرو بن الزبیر د مدینې والو نه یوه ډله پدې تهمت باندې وهلې وه چه دوئ عبد الله بن الزبیر ﷺ ته مائل شوی وو. نو عبد الله بن زبیر ﷺ د هغهٔ نه د هغوی قصاص واخستو تردې چه عمرو بن الزبیر د دغه وهلو په وجه مړ شو.

تنبیه: په سیرت د ابن اسحاق او مغازی د واقدیّ کښې دی: چه د ابو شریح ص دا خبرې اترې د عمرو بن الزبیر سره شوې وې. نو که دا خبره محفوظه وی نو احتمال شته چه ابو شریح ﷺ د دواړو سره دا خبرې اترې کړی وی. (فتح الباری: ٤/٤٢)

فوائد الحدیث:

أَيُّهَا الْأَمِيرُ : دې نه دا فائده حاصلیږی چه بادشاه او صاحب حیثیت شخص ته نرمه لهجه استعمالول پکار دی دې دپاره چه هغه نصیحت بنه قبول کړی. دارنګه بادشاه او صاحبِ قدرت سره خبرو کولو دپاره د هغهٔ نه اجازت طلب کول پکار دی، خاصکر کله چه په یو داسې کار کښې وی چه په هغهٔ باندې پکښې اعتراض وی، ځکه چه هغهٔ سره سختی کولو سره کله د هغهٔ غصه راپورته کیږی او ضد کښې راځی.

أُحَدِّثْكَ : دا په جزم سره جواب د امر (اِئْذَنْ) دې.

أُذُنَایَ : دا ورسره ځکه ذکر کوی چه اشاره کوی چه ما دا خبره په تولو طریقو سره پوره یاده کړیده.

وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ : یعنی دا تحریم د الله تعالیٰ د طرف نه دې، نهٔ د بندګانو د طرف نه. یعنی په وحی سره شویدې، او د خلکو په اصطلاح سره نهٔ دې.

أَنْ يَّسْفِكَ بِهَا : ددې نه دلیل نیولې شویدې چه په مکه کښې قتل وقتال حرام دې. لکه دا استدلال ابو شریح ﷺ هم کړیدې.

وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ : دې نه دلیل نیولې شوې چه د خبر واحد قبلول جائز دی، ځکه چه دا خبره معلومه ده چه هر هغه څوك چه دې خطبې ته حاضر وو، هغهٔ باندې دا لازمه وه چه بل ته به ئې رسوی، او غائب ته رَسَول ددې دپاره دی چه هغه به ئې منی ځکه چه بیا د تبلیغ فائده څه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنَا أَعْلَمُ بِذٰلِكَ مِنْكَ : يعني زهٔ تا نه پدے خبره ښهٔ پوهه يم چه (الله تعالىٰ مکه حرامه کړيده)

وَلَا فَارًّا بِدَمٍ : حافظ ابن حجرؒ ليکي : د عمرو بن سعيد مطلب دا وو چه چا باندے د قتل حد لازم شي او مکے ته وتښتي او هلته پناه واخلي نو حرم هغهٔ ته پناه نهٔ ورکوي۔ او دا اختلافي مسئله ده۔ ليکن عمرو بن سعيد دلته عجيبه کار وکړو چه حکم ئے د دليل په ځائے کښے استعمال کړو۔ يعني دا خو مدعیٰ ده چه حرم قاتل ته پناه نهٔ ورکوي نو اُوس پدے باندے دليل قائمول پکار وو او دليل ئے ذکر نکړو، او د ابو شريح ﷺ د دغه حديث عموم ئے بغير د دليل نه خاص وګرځولو۔ انتهیٰ۔

يعني نبي ﷺ مطلقًا وئيلي وو او عامه خبره ئے کړے وه چه (لَا يَسْفِكُ بِهَا دَمًا) په حرم کښے به هيڅوك وينه نهٔ توی کوی، دا د هر چا وينے ته شامل دے۔ او عمرو بن سعيد ددے نه قاتل او نافرمان او فسادګر مستثنیٰ او خاص کړل او ددے قتل ئے په حرم کښے جائز کړو۔ دے باندے دليل نهٔ وو، او هرچه د ابن خطل په واقعه باندے دليل نيول وو، نو هغه په هغه وخت کښے وو چه رسول الله ﷺ ته په حرم کښے د قتل او قتال اجازه ورکړے شوے وه۔ او هغه نبي ﷺ په خپلو الفاظو سره منسوخ کړو۔

بِخَرْبَةٍ : د خاء زبر او د راء سکون سره سَرِقه (غلا) ته وائي۔ لکه دا تفسير په روايت د مُستملیؒ کښے راغلے دے۔ او که په خاء باندے پيش شي نو فساد ته وائي۔ (ابن بطالؒ) او خربه په اصل کښے عيب ته وائي۔ امام بخاريؒ وائي : جنايت او جرم ته وائي۔ او باء پکښے د سببيت دپاره ده۔

حافظ ابن حجرؒ وائي : عمرو بن سعيد په خپل جواب کښے تصرف وکړو او داسے کلام ئے راوړو چه ظاهر ئے حق وو ليکن ددهٔ مقصد پکښے باطل وو۔

ابن حزمؒ وائي : شيطان په خپيره باندے وهلی دپاره هيڅ کرامت او عزت نشته چه هغه دے د رسول الله ﷺ د صحابي نه زيات پوهه شي۔

او په روايت د احمدؒ کښے دی : چه ابوشريح ﷺ عمرو بن سعيد ته وويل : زهٔ حاضر وم او تهٔ غائب وے، او مونږ ته رسول الله ﷺ حکم وکړو چه زمونږ حاضر دے زمونږ غائب ته ورسوی نو ما تا ته خبره ورسوله۔ (يعني نوره ستا خوښه ده)۔ دا دليل دے چه ابو شريح ﷺ د عمرو بن سعيد سره پدے خبره باندے موافقت نهٔ دے کړے، نو ابن بطالؒ چه

Maktaba Tul Ishaat.com

وئیلی دی چه ابوشریح ﷺ غلے شو نو د عمرو سره موافق شو۔ دا خبره صحیح نۀ ده۔ البته ابو شریح ﷺ د عمرو سره مخالفت پریخودو ځکه چه د هغې نه عاجز وو او عمرو سره قوت او فوج وو۔

طیبیؒ وائی : د عمرو بن سعید د جواب مطلب دا وو چه آؤ، ستا آوریدل ددے حدیث او یادول صحیح دی، لیکن تا چه ددے نه کومه معنیٰ اخستے ده دا زما په نیز صحیح نۀ ده، ځکه چه دا رخصت په سبب د فتح سره وو او نۀ پدے وجه چه څوك د حرم نه بهر د قتل مستحق شی او بیا په حرم کښے پناه اخلی گنے هغۀ به نۀ وژلے کیږی۔ حافظ وائی : لیکن د عمرو دا دعوه بغیر د دلیل نه وه، ځکه چه ابن الزبیر ﷺ باندے خو څه حد نۀ وو لازم شوے چه هغۀ حرم ته د هغے نه پناه راوړی وی ترڅو چه جواب د عمرو صحیح شی۔ آؤ دا خبره صحیح ده چه د عمرو بن سعید دا عقیده وه چه طاعت د یزید واجب دے، او یزید عبد الله بن الزبیر ﷺ ته حکم کړے وو چه د هغۀ سره د هغۀ په خلافت باندے بیعت وکړی او لاس تړلے دِے هغۀ ته حاضر شی۔ نو ابن الزبیر ﷺ دا کار نۀ کولو او په حرم سره ئے پناهی واخسته۔ پدے وجه هغۀ ته عائذ بیت الله وئیلے شی۔ او د عمرو دا عقیده وه چه دے پدے کار سره عاصی (نافرمان) گرځیدلے چه د یزید سره بیعت نۀ کوی۔ نو دا د عمرو بن سعید شبهه وه لیکن دا ډیره واهی (کمزورے) شبهه ده۔

نور فوائد : ۱- یو تن د خپل ځان د ثقه والی او د خبرے د یاد ساتلو او د حفظ خبر ورکولے شی۔

۲- او عالم په یو حاکم باندے اعتراض کولے شی کله چه هغه د دین د یو کار مخالفت کوی، او هغۀ ته په نرمئ او تدریج سره نصیحت کولے شی۔

۳- کله چه یو تن په لاس باندے انکار د یو منکر نشی کولے نو په ژبه پرے انکار پکار دے۔

٤- په دینی امورو کښے بحث مباحثه کول جائز دی۔

۵- تبلیغ (د دین بیانول او رَسَول) هم لویه ذمه واری ده، ددے ادا کول ضروری دی۔

٦- او د دعوت او تبلیغ په باره کښے په مصیبتونو باندے صبر کول ضروری دی، کله به د یو تن خبره هم نۀ منلے کیږی لیکن خپله غاړه به آزادوی، البته موقعے ته به گوری۔

Maktaba Tul Ishaat.com

2727 (13) - وَعَنْ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ الْمَخْزُوْمِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **لَا تَزَالُ هٰذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوْا هٰذِهِ الْحُرْمَةَ حَقَّ تَعْظِيْمِهَا فَإِذَا ضَيَّعُوْا ذٰلِكَ هَلَكُوْا** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او عياش بن ابى ربيعه مخزومى ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ وفرمايل: دا امت به هميشه په خير باندے وى ترڅو چه دوئ ددے حرمت (د مكے او د مكے د حرمت) لائق تعظيم كوى نو هركله چه دوئ دا (عزت) ضائع كړو هلاك به شى. (ابن ماجة)

عياش بن ابى ربيعة ﷺ: د ابو جهل مور شريكے ورور دے. ددهٔ تفصيلى قصه زمونږ په سيرة الرسول ﷺ كښے وګوره.

تشريح: اَلْأُمَّةُ: ددے نه امتِ اجابت مړاد دے.

مَا عَظَّمُوْا: [اَىْ مُدَّةَ تَعْظِيْمِهِمْ] يعنى ترڅو پورے چه دوئ ددے كعبے او حرم تعظيم او عزت كوى.

هٰذِهِ الْحُرْمَةَ: حرمة نه مراد حرمة د مكے دے. سندىؒ وائى: ددے نه مراد د شعائر الله تعظيم كول دى.

هَلَكُوْا: يعنى ددے د سپكاوى په بدله كښے به دوئ هلاكيږى.

درجة الحديث: [ضعيف] أخرجه ابن ماجه: ٣١١٤، وقال فى الزوائد: فى إسناده يزيد بن ابى زياد اختلط بآخره. وضعفه الالبانى.



Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵- بَابُ حَرَمِ الْمَدِيْنَةِ حَرَسَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى

د مدينې د حرم بيان- الله تعالىٰ دې حفاظت وكړي-

د مدينې او ددې نه د ګير چاپيره زمكې د حرمت په باره كښې مختلف احاديث راغلي دي- او پدې باره كښې د علماؤ اختلافي اقوال دي- (۱) ائمه ثلاثهٔ وائي چه د مكې او د مدينې د حرم يو حكم دې، نو د دوئ په نيز په مدينه او ددې په اطرافو والا زمكه كښې هغه ټول څيزونه حرام دي چه په مكه او د هغې په اطرافو كښې حرام دي، لكه ونې پريكول، او ښكار كول- البته ددې امامانو په نيز د مدينې په حرم كښې ددې ممنوع كارونو په كولو كښې هيڅ جزاء نهٔ لازميږي-

(۲) احناف وائي : مدينه حرم نهٔ دې، او ددې د حرم كيدو مطلب دا دې چه ددې مقدس ښار او ددې د څلورو طرفونو د حدودو به تعظيم او تكريم كيدې شي، او هرچه دا خبره ده چه ددې به هغه حكم وي كوم چه د مكې او د هغې د حدودو دې- نو د دوئ په نيز په حرم د مدينه كښې ونې پريكول او ښكار كول حرام نهٔ دي- مګر دا قول د راتلونكو حديثونو په رُو سره ضعيف دې-

علامه سمهوديؒ په "وفاء الوفاء" كښې د مدينې (۹۴) نومونه سره د معانيو نه ذكر كړيدي- لكه مدينه، طابه، طيبه وغيره-

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

2728 (1) - عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : مَا كَتَبْنَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْقُرْآنَ وَمَا فِيْ هٰذِهِ الصَّحِيْفَةِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اَلْمَدِيْنَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلٰى ثَوْرٍ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيْهَا حَدَثًا أَوْ آوٰى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ، ذِمَّةُ الْمُسْلِمِيْنَ وَاحِدَةٌ يَسْعٰى بِهَا أَدْنَاهُمْ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا

Maktaba Tul Ishaat.com

عَـدْلٌ، وَمَنْ وَالٰى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيْهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا : " مَنِ ادَّعٰى إِلٰى غَيْرِ أَبِيْهِ أَوْ تَوَلّٰى غَيْرَ مَوَالِيْهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ ".

ترجمه : د علي ﷺ نه روايت دے چه هغهٔ وفرمايل : مونږ د رسول الله ﷺ نه بل هيڅ شے نهٔ دے ليکلے سویٰ د قرآن کريم نه او (بل) هغه چه پدے صحيفه کښې دی (چه په هغې کښې دا وو) هغهٔ وويل : رسول الله ﷺ فرمايلي دی : مدينه د عير نه تر ثور پورے حرم دے، نو چا چه پدے کښې يو فساد پيدا کړو يا ئے يو فسادی (بدعتی) ته ځائے ورکړو نو په دهٔ باندے د الله تعالیٰ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دے، نهٔ به قبليږی ددهٔ نه فرض او نهٔ نفل۔ د مسلمانانو عهد يو دے، چه ددے دپاره به د دوئ ادنیٰ شخص هم کوشش کوی، لهذا څوك چه د مسلمان عهد مات کړی نو په هغهٔ باندے د الله تعالیٰ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دے، نهٔ به قبليږی د هغهٔ نه فرض او نهٔ نفل، او چا چه د يو قوم سره موالات (دوستی) قائم کړه بغير د اجازت د دوئ د دوستانو نه نو په دهٔ باندے د الله تعالیٰ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دے، نهٔ به قبليږی ددهٔ نه فرض او نهٔ نفل۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او د بخاریؒ او د مسلمؒ په يو بل روايت کښې دی : چا چه د خپل پلار نه علاوه بل چا ته نسبت وکړو (يعنی داسے ووائی چه زهٔ د زيد ځوی يم او حقيقت کښې د بکر ځوی وی) يا د خپلو مالکانو نه علاوه بل چا ته خپل نسبت وکړی (مثلاً داسے ووائی چه زهٔ د زيد غلام يم يا خدمتګار يم او په حقيقت کښې د بکر غلام يا خدمتګار وی) نو په دهٔ باندے د الله تعالیٰ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دے۔ نهٔ به قبليږي ددهٔ نه فرض او نهٔ نفل۔

تشريح : د روافضو څه کسانو په خپل مينځ کښې دا مشهوره کړے وه چه نبی کريم ﷺ علي ﷺ ته د قرآن کريم نه علاوه کوم خاص کتاب ورکړے او خاص وحی ئے ورته خودلے ده چه د هغے علم بل هيچا ته نشته، هر کله چه علي ﷺ دا خبره واوريده نو ددے رد ئے وکړو او وے فرمايل چه د نبی ﷺ د طرف نه مونږ ته قرآن کريم ملاؤ شوے او بل ما يوه پرچه ليکلے ده چه په هغے کښې د دين څه احکامو والا احاديث دی۔ ددے نه سویٰ بل هيڅ کتاب نشته۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په روايت د مسلمٓ کښې يزيد بن شريك التيميؒ وائي : مونږ ته علي بن ابي طالب ﷺ تقرير وکړو نو وې فرمايل : [مَنْ زَعَمَ اَنَّ عِنْدَنَا شَيْئًا نَقْرَؤُهٗ اِلَّا كِتَابَ اللّٰهِ وَهٰذِهِ الصَّحِيْفَةَ قَالَ : وَصَحِيْفَةٌ مُعَلَّقَةٌ فِيْ قُرَابِ سَيْفِهٖ- فَقَدْ كَذَبَ] چا چه دا ګمان وکړو چه مونږ سره يو شے دے چه مونږه ئے (خصوصی) لولو، سوئ د الله تعالیٰ د کتاب او ددے صفحے نه. (راوی وائی : دغه صفحه ئے د تورے په تيکی کښې زوړنده وه) نو دے دروغ وائی.

د بخاریؒ په روايت کښې د ابوجُحيفةؓ نه نقل دی چه ما علي ﷺ ته وويل : آيا تاسو سره څه (خاص) کتاب شته. (چه تاسو ته رسول الله ﷺ خصوصی دَرکړے وی)؟ وې فرمايل : نه، سوئ د کتاب الله نه [اَوْ فَهْمٌ اُعْطِيَهٗ رَجُلٌ مُسْلِمٌ]

(يا هغه پوهه (د الله تعالیٰ د کتاب) چه يو مسلمان سړی ته ورکړے شی، او سِوئ د هغه څه نه چه پدے پرچه کښې دی).

امام نوویؒ وائی : دا قول (مَنْ زَعَمَ) د علي ﷺ د طرف نه ښکاره وينا ده چه شيعه او روافِض کوم ګمان کوی او د ځان نه خبرے جوړه وی هغه باطلے دی چه وائی : علي ﷺ ته نبی ﷺ پټ ډير څيزونه خودلی دی چه هغه د علم رازونه او د دين قواعد او د شريعت خزانے دی. او نبی ﷺ اهل بيت په هغه څه سره خاص کړيدی چه نورئے په هغے نۀ دی خبر کړی. او دا ټولے باطلے دعوے او د ځان نه ايجاد شده خبرے دی چه هيڅ اصل او ثبوت نۀ لری.

او دا روايت دليل دے چه د علم ليکل جائز بلکه بهتر عمل دے.

د بخاریؒ په بل روايت کښې دی چه په دغه صحيفه کښې د زخمونو احکام او د اُوښانو د زکاة متعلق عمرونه وو، او دا چه مدينه حرم دے. او په روايت د مسلم کښې دی چه په هغے کښې دا وو : [لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ] الله تعالیٰ په هغه چا لعنت کړے چه د غير الله دپاره ذبح کوی. او په روايت د نسائی کښې د اَشتر نخعی نه نقل دی چه په هغے کښې دا وو : [اَلْمُؤْمِنُوْنَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَيَسْعٰى بِذِمَّتِهِمْ اَدْنَاهُمْ]

د مسلمانانو وينه برابره ده، او د دوئ په لوظ به ادنیٰ انسان هم کوشش کوی. (يعنی د لوظ حفاظت به کوی) (نسائی : ٤٧٤٦)

[اَلْمَدِيْنَةُ] مدينے خپله معنیٰ ده : ښاريه، خو دا چه مطلقه ذکر شی نو مراد ترے د رسول الله ﷺ ښاريه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

حَرَامٌ : په معنیٰ د حرم سره دے۔ ځکه چه احادیث بعض د بعضو تفسیر کوی۔

[عَيْرٍ] دا د مدینے په جنوب کښے د یو غرۀ نوم دے او د قُباء په جنوبِ مغرب کښے واقع دے۔ د مدینے په قبلې طرف کښے دے۔ ذو الحلیفه ته نزدے دے۔

[ثَوْرٍ] ثور غوائی ته وائی، دا وړوکے شانِ غونډ منډ غر دے چه د مدینے طیبے په شمال کښے د اُحد شاته واقع دے۔ په یو روایت کښے دی : [مَا بَیْنَ عَیْرٍ اِلٰی اُحُدٍ] (د عَیر او اُحُد منځو مانه ځائے حرم دے)، نو دلته ئے د جبل ثور په ځائے اُحد ذکر کړے، خو په دواړو کښے څۀ خاص فرق نشته۔ اُحد او ثور نزدے نزدے دی۔ مګر دا خبره یاد ساته چه یو جبلِ ثور په مکه مکرمه کښے هم دے چه هغے ته د هجرت په موقعه نبی کریم ﷺ پناه وړے وه، او د هغے ذکر په قرآن مجید کښے په دے آیت کښے هم راغلے : ﴿ اِذْ هُمَا فِی الْغَارِ ﴾ [التوبة : ۴۰] لیکن په دے حدیث کښے دا جبل ثور مراد نۀ دے بلکه د مدینے طیبے خپل جبلِ ثور مراد دے۔

فوائد الحدیث: (۱) حدیث نه معلومه شوه چه مدینه طیبه هم حرم لری۔

(۲) او ددے نه د مدینے د حرم شمالي او جنوبي تحدید معلومیږی۔ او هر چه مشرقی او مغربی حد دے نو ددے په باره کښے په حدیث کښے راغلی : [مَا بَیْنَ لَابَتَیْهَا حَرَامٌ] [مسلم: ۱۳۷۱] (د مدینے د دواړو کاڼجنو زمکو ترمینځه چه کومه علاقه ده هغه حرم دے) او ددے ((حرّو)) (کاڼجنو) زمکو نه مراد یوه ((حرۀ وبره)) ده چه د مدینے طیبے په مغربی اړخ کښے ده، او دویمه ((حرۀ واقم)) ده چه د مدینے طیبے مشرقی اړخ ته واقع ده۔ په دے طریقه د مدینے طیبے د حرم د څلورو واړو طرفونو حد بندی واضحه شوه۔ او په حدیث د مسلم کښے د هغے تعیین د مدینے ګیر چاپیره په دولس میلو سره راغلے دے۔

(۳) د مکے او د مدینے د حرمینو ترمینځ فرق دے :

(أ) د مدینے په حرم کښے په وُنو بوټو پریکولو او ښکار کولو کښے جزاء او فدیه نشته، او د مکے په هغے کښے شته۔ په قول د بعض علماؤ سره اګرکه دا قول ظاهر نۀ دے۔ (ب) د مدینے په حرم کښے د څاروو ګیاه دپاره بوټی پریکول جائز دی۔ حدیث کښے دی : [وَلَا تُخْبَطُ فِیْهَا شَجَرَةٌ اِلَّا لِعَلَفٍ] [مسلم: ۱۳۷۴] دارنګه د کرکیلے او د کورونو جوړولو دپاره لرګی پریکول جائز دی۔ او د مکے په حرم کښے ناجائز۔

(ج) د مدینے د حرم نه بهر که چا ښکار ونیوۀ او حرم ته ئے داخل کړو نو د هغے بندول او

Maktaba Tul Ishaat.com

ذبح کول جائز دي، لکه نبي کريم ﷺ د انس ﷺ وړوکي ورور ته فرمايلي وو: [يَا أَبَا عُمَيْرٍ! مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ] (اے ابو عمير! بُلبُل دِے څۀ کړو!) [بخاری: ۶۱۲۹، مسلم: ۲۱۵۰]

او د حرم مکي حکم ددے خلاف دے۔ (٤) دا او ددے پشان نور حديثونه دليل دے چه مدينے دپاره هم لکه د مکے پشان حرم شته دے۔ او همدا د جمهور علماؤ قول دے۔ د امام ابوحنيفةؒ په نيز د مدينے دپاره حرم نشته۔ او دليل ورله د ابوعُمير ﷺ دغه پورتنے حديث پيش کړے شوے، که چرے د مدينے دپاره حرم وے نو بيا به په دے کښے دغه مارغۀ نۀ ساتل کيدے۔ **جواب**: (أ) دا د ښهر نه راوړل شوے وو، لکه مخکښے تير شو۔ (ب) يا د ابو عمير حديث د مدينے دپاره د حرم مقررولو نه مخکښے واقعه ده، او مدينے دپاره حرم هغه وخت مقرر شو کله چه نبي کريم ﷺ د خيبر نه واپس راغے۔

سوال: امام طحاويؒ وائي: د مدينے د حرم کيدو نه مراد د هغے هسے تعظيم کول دي۔ نۀ دا چه د هغے ښکار حرام شي او ونے پريکول ئے منع شي! **جواب**: دا خبره صحيح نۀ ده ځکه په حديث د جابر ﷺ او روستو حديث د سعد ﷺ کښے په ډاګه راغلي: [إِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا، لَا يُقْطَعُ عِضَاهُهَا، وَلَا يُصَادُ صَيْدُهَا] [مسلم: ۱۳۶۲، عن جابر] ددے نه معلومه شوه چه اصل په نهي کښے تحريم دے، او په نهي تنزيهي مراد کولو باندے هيڅ دليل موجود نۀ دے۔ او په روايت د مسلم کښے د انس بن مالك ﷺ نه نقل دي: [فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ] چا چه دا کار وکړو (يعني په مدينه کښے ښکار وغيره) نو په هغۀ باندے د الله تعالىٰ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دے) [مسلم: ۳۳۹۰]۔ او داسے وعيد په کبيره ګناه باندے راځي۔

احناف کله داسے جواب کوي چه دا منع د ښکار او د ونے پريکولو پدے وجه ده چه د مدينے زينت باقي پاتے شي چه خلك ورسره اموخته شي او مدينه ښه وګنړي۔ ليکن دا خبره بے دليله ده۔ حال دا چه روستو راځي چه سعد ﷺ پرے د يو سړي نه مال اخستے دے۔ والله تعالىٰ اعلم۔

مُحْدِثًا: په دال باندے زير هم صحيح دے او زبر هم۔ صيغه د فاعل او مفعول دواړو ده۔ يعني فساد پيدا کونکے، جنايت کار، بدعات کونکے۔ يا که زبر شي نو نوي پيدا کړے شوي کار ته وائي۔ او د پناه ورکولو مطلب دا چه د هغۀ په کار راضي وي او په هغے صبر کوي۔ ځکه چه يو تن کله په بدعت راضي شو او په هغے ئے انکار ونکړو نو دۀ بدعت او

Maktaba Tul Ishaat.com

بدعتي ته پناهي ورکړه۔ يا دا چه ددهٔ او د قصاص ترمينځ مانع واقع شو۔
قاضي عياضٌ وائي : دا دليل دے چه په مدينه کښے فساد کول د کبيره گناهونو نه دی، ځکه چه لعنت په کبيره گناه باندے وئيلے کيږی۔ ځکه چه د مدينے ډير لوی شرافت دے او دا د وحی مرکز دے او د رسول الله ﷺ وطن دے، او ددے نه په ټوله دنيا کښے دين خور شويدے نو دا ددے جدا فضيلت دے۔
صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ : (۱) صرف فرض ته وائی او عدل نفلو ته۔ (ثوريؒ) (۲) او حسن بصريؒ ددے برعکس فرق کړيدے۔ (۳) اصمعيؒ وائی : صرف توبے ته وائی او عدل فديه ته۔ (٤) يا صرف حيلے (چل) او عدل ديت يا فديه ده۔ (٥) يا صرف په کارونو کښے تصرف کولو ته وائی او عدل فديه۔ (٦) يا صرف ديت او عدل په هغے باندے زيادت دے۔ (۷) صاحب المحکم نقل کړيدی چه صَرف وزن او عدل کيل (پيمانه) ده۔ (۸) يا صرف قيمت او عدل استقامت ته وائی۔ (۹) صرف ديت دے او عدل د هغے بديل (متبادل) دے۔ (۱۰) يا صرف شفاعت دے او عدل فديه ده۔ ځکه چه دا د ديت سره برابره ده۔ (جزم به البيضاويؒ) (۱۱) صرف رشوت او عدل کفيل ته وائی۔ (قاله ابان بن ثعلبؒ) فتح الباری : ٤/٨٦) عينی وائی : چه د قبول نه مراد دا دے چه گناهونه ئے پريے معاف شی۔
ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ: يعنی د مسلمانانو عهد او امان ورکول به يو وی۔ اگرکه د مسلمانانو مرتبے مختلفے وی، يعنی هر مسلمان چه د هريے مرتبے سره تعلق لری د چا سره ئے لوظ وکړو يا ئے چاته امان ورکړو نو ټول مسلمانان به د هغے حفاظت کوی او دغه لوظ او امان به نهٔ ضائع کوی۔
يَسْعٰى بِهَا أَدْنَاهُمْ : د سعی نه مراد د هغے واکداری کول او د هغے تصرف کول دی۔ يعنی د مسلمانانو نه ادنی مرتبے والا مسلمان به هم ددے لوظ مشری او واکداری کولے شی، که يو ادنیٰ مسلمان چا ته امان ورکړو نو ددے حفاظت به په نورو مسلمانانو لازم وی۔ دے وخت کښے دا ادنیٰ مسلمان به د نورو مسلمانانو پديے خبره کښے مشر وی، او ددهٔ امان او عهد به هم منلے کيږی۔ او پدے کښے زنانه او مميز ماشومان او غلامان او آزاد ټول يو برابر دی۔
فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا : يعنی چا چه د مسلمان لوظ او امان ورکول مات کړل۔ يعنی يو مسلمان کافر ته امان ورکړو او بل مسلمان هغهٔ لره قتل کړو نو دے هم لعنتی دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ : د علي ﷺ پدے صحيفه كښے بله خبره دا وه چه څوك د خپلو ملګرو او دوستانو د اجازت نه بغير د نورو خلكو سره د موالات يعني د دوستئ سلسله او رابطه قائمه كړي هغه هم د لعنت مستحق دے۔ ددے تفصيل دا دے چه ولاء په دوه قسمه ده، اول قسم "ولاءِ موالات" دے، ددے صورت دا دے چه د عربو دا معمول وو چه خلكو به خپل مينځ كښے د دوستئ رشته او تعلق قائمولو دپاره دا عهد كولو او قسم به ئے خوړلو چه مونږ به يو بل سره په نيك او بد كښے شريك ژوند تيره وو، د ژوند په هره مرحله كښے به هر يو د بل سره تعاون او مدد كوي، خپل مينځ كښے به د يو بل دوستانو سره دوستي كوو او د هغوي دشمن به دشمن ګڼړو۔ دے ته ولاء د موالات وائي۔ د جاهليت په زمانه كښے به د خپل مينځي لوظ او عهد تعلق د صحيح او غلط او د حق او ناحق په هره معامله كښے وو، يو تن كه په حق باندے وو او كه په ناحقه خو د هغهٔ سره به په هر حال كښے بل ملګري مدد كولو، ليكن هركله چه اسلام راغلو او د جاهليت تيارهٔ ئے ختمه كړه نو مسلمانانو پدے كښے دا ترميم وكړو چه د يو بل سره د تعاون او اشتراك معامله به صرف په صحيح او حق معامله كښے كيده، او ددے باوجود به دا معمول جاري وو، تردے چه اكثر عجم خلك به راتلل او د عربو صحابه كرامو سره به ئے داسے رشته قائموله۔

دويم قسم **"ولاء عتاقت"** دے، ددے صورت دا دے چه كه يو تن خپل يو غلام آزاد كړي نو پدے غلام باندے دا حق د ولاء (يعني حق د آزادئ) ثابتيږي چه كه ددهٔ عصبه (څوي، نمسے، پلار، ورور وغيره) نهٔ وي نو ددهٔ ميراث به آزادونكي ته پاتے كيږي، لهذا د ذوي الفروضو (پلار، نيكه، لور وغيره) نه چه څه پاتے كيږي هغه به ئے مالك جوړيږي۔ نو دلته د ولاء نه دواړه قسمه مراد كول جائز دي، په اول صورت كښے به معنیٰ دا وي : چه د يو تن مَوَالي يعني د ذكر شوي عهد او لوظ مطابق دوستان او ملګري وي نو هغهٔ له پكار دي چه هغه به د خپلو دے دوستانو د اجازت نه بغير هيڅ جماعت او ډله خپل موالي (دوستان) نهٔ جوړه وي ځكه چه پدے سره يو قسم د لوظ ماتيدل راځي او مسلمانانو ته قلبي اذيت او روحاني تكليف رسيږي چه دا د هيڅ مسلمان دپاره قطعاً مناسب نهٔ دي۔

او دا احتمال هم شته چه د "موالات" نه دويم قسم مراد شي، معنیٰ به دا وي : څوك

Maktaba Tul Ishaat.com

چه د خپلے آزادئ نسبت د آزادونکی نه علاوه بل چا طرف ته کوی نو دا به د لعنت مستحق کیږی. لکه یو تن د خپل پلار په ځائے بل چا ته خپل نسبت وکړی نو هغه د لعنت مستحق کیږی. پدے صورت کښے به (بِغَيْرِ اِذْنِ مَوَالِيْهِ) قيد د اکثر په اعتبار سره وی، چه اکثر داسے کیږی چه که یو آزادی موندونکے غلام د خپل مالك نه ددے خبرے اجازت غواړی چه دے د خپل آزادئ نسبت ددهٔ په ځائے بل یو تن ته کوی نو هغه ورته اجازت نهٔ ورکوی، لیکن ددے دا مطلب نهٔ دے چه که مالك اجازت ورکړی نو غیر مالك ته نسبت کول به جائز وی ځکه چه بیا خو دا د دروغو صورت جوړیږی چه هغه خو هسے هم جائز نهٔ دی. امام نوویؒ وائی : دا حدیث ښکاره دلیل دے چه د انسان د خپل پلار نه علاوه بل چا ته نسبت کول یا د یو غلام نسبت کول غیر د خپل مالك نه بل چا ته سخت حرام دی ځکه چه پدے کار کښے د نعمت ناشکری او د میراث د حق بربادی ده. او پدے کښے صله رحمی پریکول او نافرمانی کول دی. والله اعلم.

2729 (2) — وَعَنْ سَعْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنِّيْ أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِيْنَةِ : أَنْ يُّقْطَعَ عِضَاهُهَا أَوْ يُقْتَلَ صَيْدُهَا " وَقَالَ : " اَلْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَّهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ لَا يَدَعُهَا أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَبْدَلَ اللّٰهُ فِيْهَا مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنْهُ وَلَا يَثْبُتُ أَحَدٌ عَلٰى لَأْوَائِهَا وَجَهْدِهَا إِلَّا كُنْتُ لَهٗ شَفِيْعًا أَوْ شَهِيْدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : یقیناً ما حرم ګرځولے هغه ځائے چه د مدینے د دواړو خوړونو ترمینځ دے، چه پریکړے شی ددے ونے یا اُووژلے شی ددے ښکار. او وے فرمایل : مدینه دوئ لره غوره ده که چرے دوئ پو هیږی، هیڅ یو تن دے لره نهٔ پریدی چه اعراض وکړی ددے نه مګر الله تعالیٰ به پدے کښے ددهٔ په بدل کښے هغه څوك راولی چه ددهٔ نه به زیات بهتر وی، (یعنی بے رغبتئ سره مدینه پریخودل مدینے دپاره نقصان دِهٔ نهٔ دی بلکه ددے دپاره مفید وی ځکه چه الله تعالیٰ به ددهٔ په ځائے بهتر شخص راولی دلته به مقیم شی) او هیڅ یو تن د مدینے په تنګئ او تکلیفونو صبر نهٔ کوی مګر زهٔ به د هغهٔ دپاره سفارش کونکے یم یا به ګواهی کونکے یم د قیامت په ورځ. (مسلمؒ)

تشریح : إِنِّيْ أُحَرِّمُ : دا ښکاره دلیل دے چه دلته د تحریم نه عزت او تعظیم کول مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

نـهٔ دی بلکه حقیقي تحریم مراد دے ځکه چه د ونو پریکول او د ښکار وژل ئے ورسره ذکر کړیدی۔

لَابَتَيِ : لابتین تثنیه د لَابَةٌ ده، هغـه زمـکه ده چه تور کانړی پکښے وی لکه چه په اُور باندے سوزولے شوی وی، دلته دوه خوړونه مراد دی چه مدینه ددے ترمینځ راګیره ده۔ دا مشرقـی او مـغربی خوړونـه دی۔ مدینه د څلورو خوړونو ترمینځ ده، یو خوړ جنوبی طرف او بـل شـمالي طرف ته لیکن دا دواړه په حقیقت کښے مشرقي او مغربي خوړونو تـه راواپس کیږی ځکه چه دا دواړه هغے سره پیوسته کیږی۔ ددے وجه نه ئے دلته صرف دوه ذکر کړی۔

عِضَاهُهَا : عِضَاه جمع د عِضَاهَةٌ او عَضِهَةٌ او عَضَةٌ ده۔ دا هـره غټـه ونه ده چه ازغی لری لکه طلح او عَوسج شو۔

اَلْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَهُمْ : یعنی مدینه ایمان والو دپاره د دنیا او د آخرت په لحاظ بهتره ده۔ او دلتـه د خیریت نـه مـراد د مـعیشت د برکت په لحاظ سره دے۔ نو دا د مکے د زیات فـضیلـت سـره منـافات نـهٔ لـری۔ سندیؒ په حاشیه د مسلم کښے لیکی : نبی ﷺ دا د خاصو خلکو په باره کښے وئیلی دی چه هغوی مدینه پریدی او د فراخئ ښارونو ته ځی لکه شام وغیره۔ نو ددے نه دا نهٔ معلومیږی چه مدینه د مکے نه غوره ده۔

بعض وائی : دا خیریت په نسبت د شام وغیره دے، نهٔ په نسبت د مکے۔

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ : یـعـنـی کـه دوئ ته د مدینے خیرونه معلوم شی نو دوئ به ددے نه نهٔ جدا کیږی او پدے باندے به بل ځائے غوره نکړی، او د نورے دنیا فراخی به طلب نکړی۔

اشکال : ډیر خلك د مدینے د خیرونو نه خبر شویدی او بیا هم ترے جدا کیږی ؟ **جواب** دا دے چـه اُوس خـو صـرف هـغـوی خیـرونـه آوریدلی دی مګر کـه عملًا دوئ تـه دغـه خیـرونه ښکاره شی بیا به نهٔ جدا کیږی۔ ځکه چه لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ ۔ (خبر د لیدلو په شان نهٔ وی) ۔

یا دے کښے تـنـزیـل د عالِم دے په منزلـه د جاهل، کله چه په خپل علم باندے عمل نـکوی۔ یعنی هرکله چه دوئ ته د مدینے خیرونه معلوم دی او بیا هم ترے جدا کیږی نو دوئ پـه حـقیـقـت کښے ددے د فـضیـلـت نه نا خبره دی۔ او ډیره صحیح دا ده چه علم په معنیٰ د یقین سره دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او پدے کښے هغه خلکو ته تيزى ده چه د هغوى نه دا لوئى خير فوت کيږى۔
رَغْبَةً عَنْهَا : يعنى مدينه پدے وجه پريدى چه ددے د وسيدو نه او ددے د ثوابونو نه اعراض کوى۔ او که يو تن د سخت ضرورت يا د زمانے د سختئ په وجه يا د فتنے نه د يرے په وجه د مدينے نه اُووتو نو دے په دے وعيد کښے نۀ دے داخل۔ دارنګه يو تن په بل وطن کښے وسيږى او مدينے ته صرف د عبادت دپاره راغلو او واپس ځى او زړه ئے خفه وى نو هغه هم پکښے نۀ دے داخل۔
إِلَّا أَبْدَلَ اللّٰهُ فِيْهَا : يعنى که دے ترے د اِعراض په وجه اُووتو نو الله تعالىٰ به په مدينه کښے ددۀ نه غوره پيدا کړى۔
ابن عبد البرّ وئيلى دى چه دا د نبى ﷺ د زمانے پورے خاص دے لکه يو اعرابى چه خپل بيعت مات کړو او د مدينے نه اُووتو۔ او پس د وفات د نبى ﷺ نه د مدينے نه ډير اُوچت صحابه کرام وتلى دى لکه ابو موسى اشعرى، ابن مسعود، معاذ بن جبل، ابو عبيده، على، طلحه، زبير، عمار بن ياسر، حذيفه بن اليمان، عباده بن الصامت، بلال، ابو الدرداء او ابو ذر رضى الله عنهم اجمعين او بهر وسيدلى او بيا وفات شويدى او مدينے د دوئ نه غوره خلك پيدا نكړل۔ مګر بعض علماؤ وئيلى دى چه ډيره ظاهره دا ده چه دا د نبى ﷺ د زمانے پورے خاص نۀ دے او کوم صحابه کرام چه د مدينے نه وتلى وو نو هغۀ د اعراض او بے محبتئ په وجه نۀ وو وتلى بلکه د دينى فائدو دپاره لکه تعليم يا جهاد وغيره۔
لَأْوَائِهَا : لأواء : سختے لوږے او سختئ ته وائى۔ لأواء : کله په همزه ساکنه سره او کله په الف سره لوستلے کيږى۔ دلته ترے د معيشت تنګيدل او قحط مراد دے۔
وَجَهْدِهَا : مشقت او تکليف ته وائى يعنى د سختے ګرمئ، او د سفر غم او په هغے کښے د اُوسيدونکو مبتدعينو د اذيت په وجه۔
علامه ابىّ وائى : پدے حديث کښے تيزى ده په اُوسيدو د مدينه باندے نو که څوك په مدينه کښے اُوسيږى او هيڅ تکليف ورته ونۀ رسيدو هم دا فضيلت به ورته حاصليږى۔
أَوْ شَهِيْدًا : پدے (أَوْ) کښے اختلاف دے چه دا د شك دپاره دے او که نۀ ؟ بعضو وئيلى دى چه دا شك د راوى دے، ليکن ظاهر دا ده چه دا روايت ډيرو راويانو دغه شان په کلمه د (أَوْ) سره نقل کړيدے نو بيا (أَوْ) په معنىٰ د (واو) سره دے، لکه په بل روايت کښے [إِلَّا

Maktaba Tul Ishaat.com

كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا وَلَهُ شَفِيعًا] راغلے دے۔ (يعنى زۀ به ورله ګواهى كوم او شفاعت هم)۔
يا (اَوْ) د تنويع دپاره دے، او په دے كښے دوه قسمه خلكو ته اشاره ده چه د بعض اهل مدينه دپاره به ګواه وى او بعضو دپاره شفاعت كونكے۔ يا د ګناهګارو دپاره سفارش كونكے او د اطاعت كونكو دپاره ګواهى كونكے۔
يا څوك چه د نبى ﷺ په ژوند كښے وفات شوى وى د هغوى دپاره به ګواه وى او د هغۀ نه روستو خلكو دپاره به سفارش كونكے وى۔ او چونكه نبى ﷺ خو د ټول امت ګناهګارو مؤمنانو له شفاعت كونكے دے ليكن د مدينے تخصيص ئے په دے وجه وكړو چه د دوئ دپاره د عمومى شفاعت نه علاوه يو خصوصى شفاعت هم شته، او دا شفاعت به د ګناهونو د معاف كيدو او د درجاتو پورته كيدو، يا د عرش د سورى لاندے راتللو، يا د قيامت په ورځ د دوئ په راحت كښے كيدو يا په منبرونو باندے كيناستو يا جنت ته په تيزئ سره بوتللو په صورت كښے وى۔
يَوْمَ الْقِيَامَةِ : په دے كښے اشاره ده چه ددۀ خاتمه به په خير سره وى، او په دے كښے دا تنبيه ده چه مؤمن له پكار دى چه د مدينے په اُوسيدو كښے په مصيبت او سختيانو صبر وكړى، او د مدينے په اُوسيدو باندے د الله تعالىٰ شكر كونكے وى، او ددے نه علاوه د نورو ځايونو ظاهرى نعمتونو او آرام او راحت ته نظر وانۀ ړوى ځكه چه اصل نعمتونه او اصل راحت خو د آخرت نعمتونه او د هغه ځائے راحت دے۔

2730 (3) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " **لَا يَصْبِرُ عَلٰى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د مدينے په لوږه او سختئ باندے زما د امت نه هيڅ يو تن صبر نۀ كوى مګر زۀ به د قيامت په ورځ د هغۀ سفارش كونكے يم۔ (مسلمؒ)

تشريح : لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ : د لأواء نه مراد لوږه او هلته كښے كاروبار ګرانيدل دى۔

2731 (4) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرَةِ جَاءُوا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَخَذَهُ قَالَ : " **اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا** وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا، اَللّٰهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ **وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ**

Maktaba Tul Ishaat.com

دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَأَنَا أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ ". ثُمَّ قَالَ : يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ لَهُ فَيُعْطِيهِ ذٰلِكَ الثَّمَرَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : خلكو به چه كله اوله (نوے) ميوه وليده نو هغه به ئے نبي كريم ﷺ ته راوړه نو هركله چه به نبي ﷺ هغه واخسته ويه ئے فرمايل : اے الله ! مونږ لره زمونږ په ميوه كښے بركت واچوه او زمونږ دپاره زمونږ په ښاريه كښے بركت واچوه او زمونږ دپاره په صاع (پيمانه) كښے بركت واچوه او زمونږ دپاره زمونږ په مد (نيم سيرى) كښے بركت واچوه. اے الله ! يقيناً ابراهيم ﷺ ستا بنده او ستا خاص دوست او ستا نبي وو او زۀ هم ستا بنده او ستا نبي يم او هغۀ ستا نه د مكے دپاره دعا كړے وه او زۀ ستا نه د مدينے دپاره دعا كوم په مثل د هغے چه هغۀ ستا نه د مكے دپاره كړے وه او د هغے سره د هغے په شان هم. بيا ابو هريره ﷺ وفرمايل : چه نبي كريم ﷺ به د خپل خاندان يو وړوكے ماشوم راوغوښتو او هغۀ ته به ئے دغه ميوه وركړه. (مسلمٌ)

تشريح : يعني كله چه به په مدينه كښے ميوے وخت ته ورسيدے نو صحابه كرامو به د هديه په طور نبي ﷺ ته راوړے، دے دپاره چه نبي ﷺ پكښے د بركت دعاء وكړي او د دوئ ښار او صاع او مد ته. دارنگه دے دپاره چه هغۀ ته خبر وركړي چه ميوے پخے شوے چه هغه پكښے د زكاة او د خرڅولو د جواز وغيره حكمونه وفرمائي، او كه څوك د باغونو د ميوو اندازه لگوي (چه هغے ته خارص وائي) هغه ورته وليږي.

ځيني وائي : دا به ئے د ډير محبت او تعظيم او اكرام نه راوړه چه د ځان نه مخكښے به ئے رسول الله ﷺ پدے ميوه باندے غوره كولو.

بَارِكْ لَنَا فِيْ ثَمَرِنَا : د بركت معنىٰ ده "زياتيدل او خير او فائده ئے ډيريدل". نو په ميوه كښے د بركت معنىٰ دا ده چه دا زيات كړه او دا او ددے خيرونه باقي پريده. او په ښار كښے د بركت معنىٰ دا ده چه پدے كښے فراخي راوله او ددے په اُوسيدونكو فراخي راوله، او همداسے وشوه چه ذات د مدينے هم فراخه شو، مسجد نبوي او ددے ماحول او خلك پكښے زيات شو تردے چه د عمر فاروق ﷺ د خلافت په زمانه كښے يواځے د جهاد اسونه زرو ته ورسيدل.

يا د ښار د بركت نه مراد د ميوه جاتو نه علاوه بركات دي په نورو كارونو كښے.

وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ مُدِّنَا : يعني كوم شے چه په صاع او كوم شے چه په مُد

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې تللې کيږي په هغې کښې برکت واچوه. يا په دواړو کښې مراد دې. يعنې پيمانه هم فراخه کړه او طعامونه هم. او همدغه شان وشوه چه روستو په مدينه باندې ډيرې فراخيانې راغلې، چه شام او عراق او مصر وغيره سرسبزو علاقو نه به مالونه او ميوه جات او طعامونه راتلل او الله تعالىٰ دوئ ته د تنګئ نه روستو فراخي راوسته، او دا برکت بذات خود په پيمانه کښې هم راغلو. (قاضي عياضؒ)

يا پدې کښې اشاره ده چه د دوئ ميوه جات او د دوئ غلې ډيرې زياتي شي.

امام نوويؒ وائي : ظاهر دا ده چه په نفس کيل کښې برکت مراد دې چه په مدينه کښې يو مد باندې دومره کار کيږي چه په بل ځائې کښې پرې داسې نۀ کيږي. او دا د مدينې اُوسيدونکو په نيز محسوس خبره ده. او همدا خبره راجح ده.

وَخَلِيْلُكَ : نبي ﷺ هم د الله تعالىٰ خليل دې، ليکن دلته ئې خپل ځان سره هغه صفت ذکر نکړو، رعايت د ادب ئې کړې چه ځان د خپلو پلارانو سره نۀ برابروي.

وَإِنَّهُ دَعَاكَ : يعنې ابراهيم ﷺ تا نه د مکې دپاره دعاء طلب کړې پدې قول سره :

﴿ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِيْ إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ﴾

[ابراهيم : ۳۷]

وَمِثْلِهِ مَعَهُ: دا مجرور دې، يعنې د مکې دوچنده برکات دلته په مدينه کښې راوله. ددې نه بعض علماؤ دليل نيولې چه مدينه د مکې نه غوره ده ځکه چه پدې کښې برکات زيات دي. يعنې د دنيا او د آخرت خيرونه ئې مدينې والو له غوښتلي دي. مګر جواب دا دې چه يو شے کله په بعض جزئي کارونو کښې د ډير غوره شي نه غوره وي نو ددې نه دا نۀ لازميږي چه په هر لحاظ سره به مدينه د مکې نه غوره وي. په مدينه کښې به فراخي زياته وي ليکن په مکه کښې يو مونځ په يو لاکھ دې.

بيا د برکت ددې دعاء سره هغه بل حديث منافات نۀ لري چه په هغې کښې دي چه «په مدينې والو باندې مشقت او تکليف راغلې وو». ځکه چه يو برکت والا ځائې کښې تکليف راتلل د يو بل سره منافات نۀ لري. او قرطبيؒ وئيلي دي چه هرکله په مدينه کښې برکت موجود شو په يو وخت کښې نو د دعاء قبوليت ثابت شو او دا لازمه نۀ ده چه دا برکت به هميشه وي په هر وخت او هر شخص کښې.

أَصْغَرَ وَلِيْدٍ لَهُ : يعنې که يو ماشوم به ورته نزدې وو، يا به ئې وليدو نو هغۀ ته به ئې دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ميوه اول ورکړه برابره ده چه خپل ماشوم به وو او که پردے. دا ئے ماشوم ته اول ولے ورکوله؟ (۱) يوه وجه دا ده چه پدے سره اجر غټيږي، ځکه چه په هغه چا باندے خوشحالي ورداخله کړی چه د هغۀ هيڅ گناه نۀ شته، ځکه چه د ماشوم خوشحالول د لوی په نسبت زيات اجر والا دی. (۲) دا رنګه ماشوم ے صبره وی په نسبت د غټ باندے او په ميوه ډير زيات خوشحاليږي په نسبت د غټ باندے.

(۳) دا رنګه پدے کښے به تفاؤل (نيك فالی) نيول وو چه الله تعالیٰ دِے پدے ميوو کښے داسے نماء او زيادت او ترقي پيدا کړی لکه دا ماشوم چه څنګه په زمانه د نماء او ترقئ کښے دے. (٤) دا رنګه د نوے ميوے او د نوی ماشوم د يو بل سره مناسبت دۓ. نو ماشوم د اول ميوے ډير لائق دے.

2732 (5) - وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَامًا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا** أَنْ لَا يُهْرَاقَ فِيهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلُ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطُ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلَفٍ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او ابو سعيد رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد نقل کوی چه هغۀ وفرمايل: يقيناً ابراهيم عليه السلام مکے ته عزت ورکړو او دا ئے حرم وګرځولو او ما مدينه حرامه وګرځوله هغه ځائے چه ددے د دواړو غرونو ترمينځ دے (ددے حرمت تقاضا دا ده) چه پدے کښے به وينه نشي تويه ولے، او نۀ به پدے کښے د قتال دپاره توره راپورته کولے شی، او نۀ به پدے کښے ونه پريکولے شي مګر د ګياه دپاره. (مسلمؒ)

تشريح: [مَأْزِمَيْهَا]: دا تثنيه د مَأْزِمٌ ده، غر ته وائی. ځينی وائی: د دوه غرونو مينځ کښے تنګے لارے (درے) ته وائی. دلته ترے غرونه مراد دی.

دَمٌ: ناحقه وينه په بل ځائے کښے تو ی کول هم ناکاره او حرام دی او په مدينه کښے زيات قبيح او ناکاره دی. او دلته ذکر د وينے دے او مراد ترے نه قتل وقتال دے چه هغه وينے توئی کولو ته رسيږی.

وَلَا تُخْبَطُ: خبط په چوکه وغيره باندے ونه وهل چه پاڼے ترے پريوزی. يعنی څنډل. لِعَلَفٍ: مدينه کښے د ګياه دپاره د ونے نه پاڼے څنډل جائز دی، داسے نۀ چه څانګے پريکوی.

2733 (6) – وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ : أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ فَوَجَدَ عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ فَقَالَ: مَعَاذَ اللّٰهِ أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عامر بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه سعد رضی الله عنه په عقیق کښے خپلے بنګلے طرف ته سور شو نو یو غلام ئے وموندو چه ونے ئے پریکولے یا ئے د ونے پاڼړے څنډلے نو سعد (د سزا په طور) د هغهٔ نه کپړے واخستے، نو هرکله چه سعد (مدینے ته) راواپس شو نو د غلام مالکانِ ورته راغلل او د هغهٔ سره ئے دا خبرے وکړے چه هغه د هغوی غلام ته یا هغوی ته هغه کپړے واپس ورکړی کومے چه دهٔ د هغوی د غلام نه اخستی دی، نو سعد رضی الله عنه وویل : الله پورے پناه ده چه زهٔ هغه شے واپس کړم چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په غنیمت کښے راکړے او هغوی ته (د کپړو) د واپس کولو نه ئے انکار وکړو. (مسلمؒ)

تشریح : بِالْعَقِيقِ: په مدینه کښے د ذو الحلیفے په خوا کښے یو ځائے دے.
فَسَلَبَهُ : یعنی د هغهٔ نه ئے کپړے وغیره واخستے. سلب په معنیٰ د مَسلُوب سره دے، اخستے شوی شی ته وائی. رَجَعَ سَعْدٌ : یعنی سعد رضی الله عنه بیرته مدینے ته راواپس شو.
أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ : کښے (أَوْ) حرف د راوی شك ښکاره کوی چه دهٔ مالکانو یا خو دا وئیلی وو چه د غلام کپړے دِے غلام ته واپس کړی. یا ئے دا وئیلی وو چه کومے کپړے ئے زمونږ د غلام نه اخستی دی هغه مونږ ته راکړی.
نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ : (ما ته دا رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړیدے) ددے مطلب دا دے چه نبی علیه السلام ددے اجازت ورکړے چه څوك يو تن په مدینه کښے په ښکار وژلو باندے یا په ونو پریکولو باندے وینی نو د هغهٔ نه دِے کپړے واخلی.
دا حدیث د امام مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ او جمهورو د مذهب دپاره ښکاره دلیل دے چه د مدینے ښکار کول او ونے پریکول حرام دی.
او امام شافعی رحمه الله وائی : چه څوك د مدینے په حرم کښے ښکار کوی یا ونے پریکوی نو د هغهٔ نه کپړے اخستل جائز دی، او دا قول د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه او یو

Maktaba Tul Ishaat.com

جماعت د صحابه کرامو دے۔ قاضي عياضؒ وائي : د صحابه کرامو نه بعد پدے باندے صرف امام شافعيؒ قول کړيدے، او د ښارونو امامان د هغهٔ خلاف دی۔ امام نوويؒ وائي : د هغوی مخالفت هيڅ ضرر نهٔ ورکوی کله چه سنت د امام شافعيؒ سره وی۔ او همدا قول غوره دے ځکه حديث پکښے ثابت دے او صحابه کرامو ددے موافق عمل کړيدے او ددے دپاره هيڅ دافع (دفع کونکے دليل) نشته۔

او په تاوان کښے کپړے اخستل د ښکار په کولو سره دی برابره ده چه ښکارئے وژلے وی يا نهٔ، دارنګه دا کپړے چه واخلی نو دا به د اخستونکی وی، بعض وائي : د مدينے د مسکينانو به وی، او بعض وائي د بيت المال به وی۔ انتهىٰ۔

د احنافو په نيز باندے دا حديث د تاوان اخستو منسوخ دے يا پکښے دا تاويل دے چه دا تاوان اخستل په طريقه د زجر او تنبيه سره دی۔ ليکن دا جوابونه ضعيف دی۔ هيڅ دليل پرے نشته بلکه دا شرعي حکم دے۔

2734 (7) - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وُعِكَ أَبُوْبَكْرٍ وَبِلَالٌ فَجِئْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ : "**اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِيْنَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ وَصَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِهَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : هرکله چه رسول الله ﷺ مدينے ته راغلو نو ابوبکر صديق رضي الله عنه او بلال رضي الله عنه سختے تبے ونيول نو زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم ما ورته خبر ورکړو نو ويے فرمايل : اے الله ! مونږ ته مدينه محبوبه کړه لکه څنګه چه زمونږ محبت دے د مکے سره يا ددے نه هم زياته۔ او ددے آب وهوا صحيح (برابر) کړه، او مونږ دپاره ددے په صاع او مد کښے برکت واچوه او ددے تبه (ددے ځائے نه) نقل کړه او جُحفے ته ئے وليږه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : وُعِكَ : هرکله چه ابوبکر صديق رضي الله عنه په سخت بُخار کښے اخته شو او عائشه رضي الله عنها د هغهٔ تپوس له راغله نو په هغه وخت هغهٔ د مکے او د هغے د آب وهوا او د هغه ځائے د کورونو او غرونو د صحت افزا فضاء ګانو وغيره په اُوچت آواز سره ذکر کولے، او بلال رضي الله عنه هم تبے نيولے وو، نو عائشے رضي الله عنها دا حال نبی ﷺ ته ذکر کړو نو هغهٔ دا

Maktaba Tul Ishaat.com

پورته دعاء وکړه. (او دے وخت کښے لا د حجاب حکم نۀ وو نازل شوے)
ابوبکر صدیق ﷺ به دا سے اشعار وئیل :

كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ	❁	وَالْمَوْتُ أَدْنٰى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ

هر سړی باندے به په خپل اهل کښے په صبا کښے حمله وشي او مرګ د هغۀ د څپلۍ د تسمے نه زیات نزدے وي.
او بلال ﷺ نه به چه کله تبه پورته شوه نو پدے شعر به ئے آواز پورته کړو :

اَلَا لَيْتَ شِعْرِيْ هَلْ أَبِيْتَنَّ لَيْلَةً	❁	بِوَادٍ وَحَوْلِيْ اِذْخِرٌ وَجَلِيْلُ
وَهَلْ اَرِدَنْ يَوْمًا مِيَاهَ مِجَنَّةٍ	❁	وَهَلْ يَبْدُوَنْ لِيْ شَامَةٌ وَطَفِيْلُ

ارمان چه زۀ پوهیدے، آیا یوه شپه به زۀ په هغه وادی کښے تیره کړم چه زما ګیر چاپیره سرګړی او وابنه وی. او آیا زۀ به یوه ورځ د مِجَنّه (علاقے) اُوبو ته راشم، او آیا ما ته به شامه او طفیل غرونه راښکاره شي.
وُعِكَ : په پیش د واو او زیر د عین سره د مجهول صیغه ده، وَعْك سختے تبے ته وائی چه بنده په کټ کښے واچوی.
كَحُبِّنَا مَكَّةَ : زرقانیؒ وائی : الله تعالىٰ د نبی ﷺ دعا قبوله کړه نو مدینه هغۀ ته د مکے نه هم زیاته محبوبه شوه، لکه د بخاریؒ کښے دی چه هرکله به نبی ﷺ د مدینے کورونه او لارے ولیدل نو د زیات محبت نه به ئے خپله اُوښه تیزه کړه. (بخاري : ۱۸۰۲) لکه همدا روستو (۱۷) حدیث راران دے.
نو د مکے سره د نبی ﷺ زیات محبت پدے حیثیت سره وو چه په هغے کښے اجرونه او ثوابونه زیات دی او د مدینے سره محبت پدے وجه وو چه دلته وسیدل آسان شي او مشقت پکښے نۀ وی.
وَصَحِّحْهَا : [اَیْ اِجْعَلْ هَوَاءَ هَا وَمَاءَ هَا صَحِيْحًا] يعنى ددے هواء او اُوبۀ صحیح جوړ کړه. زرقانیؒ وائی : الله تعالىٰ د خپل نبی دعاء قبوله کړه نو د مدینے هواء او خاوره او کورونه او په هغے کښے ژوند کول ئے مزیدار کړل. ابنِ بطالؒ وغیره وائی : څوك چه په مدینه کښے اُوسیږی هغه به د مدینے د خاورے او باغونو نه مزیداره خوشبوئی مومی،

Maktaba Tul Ishaat.com

چه نزدے نۀ ده چه داسے خوشبو به په بل ځائے کښے ومومی۔
وَانْقُلْ حُمَّاهَا : جُحفه د يو مقام نوم دے چه د مکے او د مدينے ترمينځ واقع دے، مدينے ته نزدے دے، دلته يهوديان آباد وو۔ دا حديث دليل دے چه د مسلمانانو د طرف نه کفارو دپاره د هلاکونکی بيماريو او د هغوی د ښارونو د خرابوالی ښيرے جائز دی۔ او مسلمانانو دپاره د برکت او د صحت او د ښارونو د مزيدار والی او د ضررونو لرے کيدو دعا۔ پکار ده۔
رواياتو کښے راغلی دی چه په مدينه کښے د رسول الله ﷺ د هجرت نه مخکښے بيماريانے او وباګانے زياتے وے۔ نبی ﷺ دعا وکړه چه الله تعالیٰ دا د کافرانو علاقو ته بوځی۔ نو همدغه شان وشوه۔ قاضی عياضؒ ليکی : پدے کښے د رسول الله ﷺ عجيبه معجزه وه ځکه چه جحفه د هغه ورځے نه وباء او خرابے آب وهواء والا جوړه شوه د هغے اُوبه چه څوك وڅکی نو تبه پرے راځی يعنی د بهر نه چه کوم خلك ورشی۔انتهیٰ (او کوم مارغه چه په هغے تير شی نو تبه ئے نيسی او راپريوزی)
او سمهودیؒ وائی : اُوس چه مدينه کښے کومه تبه راځی نو دا وباء والا تبه نۀ ده بلکه زمونږ د رب رحمت دے او زمونږ د نبی دعاء ده دے دپاره چه ګناهونه ورسره ورژيږی۔
حافظ ابن حجرؒ وائی: تبے د مدينے نه په هغه زمانه کښے پورته شوے ليکن معمولی شان تبه بيرته راواپس شوه دے دپاره چه د هغے ثواب فوت نشی۔
2735 (8)- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ فِیْ رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَدِيْنَةِ : "رَأَيْتُ امْرَأَةً سَوْدَاءَ ثَائِرَةَ الرَّأْسِ خَرَجَتْ مِنَ الْمَدِيْنَةِ حَتّٰى نَزَلَتْ مَهْيَعَةَ فَتَأَوَّلْتُهَا : أَنَّ وَبَاءَ الْمَدِيْنَةِ نُقِلَ إِلٰى مَهْيَعَةَ وَهِيَ الْجُحْفَةُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ
ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ د مدينے په باره کښے د نبی کريم ﷺ د خوب متعلق حديث نقل کوی چه (هغۀ وفرمايل) ما يوه توره ښځه پراګنده (ببرو) ويښتو والا وليده چه د مدينے نه اُووته، تردے چه مهيعه (جحفے) ته نازله شوه نو ما ددے تعبير وکړو چه د مدينے وباء (تبے او مرضونه) مهيعه يعنی جحفے ته نقل شوه۔ (بخاریؒ)
تشريح : ثَائِرَةَ الرَّأْسِ : يعنی پراګنده سر والا وه۔ مهيعه : فراخه زمکے ته وائی۔ بيا هرکله چه سيلابونو د هغے خلك ويوړل نو جحفه ئے نوم جوړ شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او پدې خوب کښې اشارات وو، د سوډاء نـه ئې سوء او داء اخستې ده. يعنې بدی او بيماری. او ويښتو پراګنده کيدو کښې اشاره وه چه دا وباء ډير شر والا ده، دا به د مدينې نه اوځي.

2736 (9) – وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "**يُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يُبِسُّوْنَ فَيَتَحَمَّلُوْنَ بِأَهْلِيْهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ وَيُفْتَحُ الشَّامُ** فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يُبِسُّوْنَ فَيَتَحَمَّلُوْنَ بِأَهْلِيْهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ وَيُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يُبِسُّوْنَ فَيَتَحَمَّلُوْنَ بِأَهْلِيْهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سفيان بن ابی زهير ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : يمن به فتح شي، نو څه خلك به راځي چه په آرام به روانيږی او خپل اهل وعيال او هغه څوك چه د دوئ تابعدار دی هغوی به ځان سره روانوی (مدينې نه به بهر كيږی) حالانكه مدينه دوئ لره ډيره بهتره ده كه دوئ پو هيږی، او شام به فتح شي نو څه خلك به راځي چه په آرام به روانيږی نو خپل خپل اهل او تابعدار به ځان سره روانوی او مدينه دوئ له ډيره بهتره ده كه چرې دوئ پو هيږی. او عراق به فتح شي نو څه خلك به راځي چه په آرام به روانيږی نو خپله اهل وعيال او خپل تابعدار به ځان سره روانوی او مدينه دوئ لره ډيره بهتره ده كه چرې دوئ پو هيږی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : سفيان بن ابی زهير ﷺ دا د اَزْدِ شَنُوْءَه قبيلې نه دې، صحابي دې په مدينه كښې وسيدلې دې، پنځه احاديث ترې نقل دی. د ابو زهير نوم اَلْقَرْد دې، او بعض وائي : نُمير دې.

يُفْتَحُ الْيَمَنُ: زرقانیؒ وائي : دا حديث د نبي كريم ﷺ د نبوت د نښو نه رشتيني نښه ده ځكه چه نبي ﷺ په كوم ترتيب سره ددې ملكونو فتح بيان كړې په همدغه طريقې سره فتح شول، او خلقو د مدينې نه خپل اهل بوتلل او په دغه علاقو كښې آباد شول.

ابن عبد البرؒ وائي : يمن د رسول الله ﷺ په ژوند كښې فتح شو او په زمانه د ابو بكر صديق ﷺ كښې او شام د هغې نه روستو او عراق د هغې نه روستو فتح شو.

او پدې حديث كښې د مدينې فضيلت په باقي علاقو باندې ذكر شو او دا خبره اجماعي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَأْتِيْ قَوْمٌ : يعني خلك به يمن ته ځي، او يو بل ته به د هغه ځائے نه تعجب ورکوی او د هغوی د نرم ژوند، نو دوئ به هم هغے ته هجرت کوی او خپل اهل به ځان سره بوځي۔

يُبُسُّوْنَ : دا د بَسَّ يَبُسُّ نه دے، څاروی او اُوښانو روانولو او شړلو ته وئيلے شي، خاصکر کله چه تيزی پکښے مقصد وی۔ بَسَّ الْإِبِلَ وَابَسَّهَا اَیْ زَجَرَهَا وَقَالَ لَهَا بِسْ بِسْ ، يا بِسْ په معنیٰ د شړلو او آلوزولو سره دے لکه د (وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا) په شان۔ يعني څاروی به روانوی چه پدے سره به غبار آلوزوی۔ او دا اِبْسَاس باب افعال نه هم پدے معنیٰ استعماليږی۔ او د بس بله معنیٰ ده، اِرْسَالُ الْأَمْوَالِ فِي الْبِلَادِ: په علاقو او ملکونو کښے خپل مالونه ليږل، او مطلب به دا وی چه خلك به بهر ملکونو کښے کاروبارونه شروع کړی بيا به هغے ته خپل اهل وعيال هم ورنقل کړی۔ او بعض معنیٰ کوی : يَسْأَلُوْنَ عَنِ الْبِلَادِ وَيَسْتَقْرِؤُوْنَ أَخْبَارَهَا لِيَسِيْرُوْا اِلَيْهَا : د بهر ښارونو په باره کښے به د خلکو نه تپوسونه کوی او د هغے اخبار به معلوموی دے دپاره چه هغے ته لاړ شي۔ او دا کار اُوس زمانه کښے بعينه رشتيني شويدے چه عام عرب بهر ملکونو ته سفرونه خوښوی۔

بعض معنیٰ کوی : يُزَيِّنُوْنَ لِأَهْلِهِمُ الْبِلَادَ الَّتِیْ تُفْتَحُ وَيَدْعُوْنَهُمْ اِلٰی سُكْنَاهَا فَيَتَحَمَّلُوْنَ بِسَبَبِ ذٰلِكَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ : يعني د مدينے اُوسيدونکو ته به بهر ملکونه ښائسته ښکاره کوی او هغوی ته به دعوت ورکوی چه بهر اُوسيدل وکړی نو ددے په وجه به د مدينے نه سفر شروع کړی۔

وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَّهُمْ : يعني مدينه د يمن نه ډيره غوره ده ځکه چه دا د رسول الله ﷺ حرم دے، او د وحی د نازليدو او د دنياوی او اُخروی برکاتو د نازليدو ځائے دے۔ يا پدے وجه چه مدينے ته دجال او طاعون بيماری نشي داخليدے۔ يا پدے وجه چه په مدينه کښے د ټولے دنيا په نسبت فتنے کمے دی۔ يا پدے وجه چه د هغے د مسجد نبوی او په هغے کښے د مونځ کولو فضيلت دے، او نزدے ورته د رسول الله ﷺ جسد مبارك پروت دے۔

2737 (10) – وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **أُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ الْقُرٰی**. يَقُوْلُوْنَ : يَثْرِبُ وَهِیَ الْمَدِيْنَةُ تَنْفِی النَّاسَ كَمَا يَنْفِی الْكِيْرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته په يو داسے کلی

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم شوے (چه هغے ته هجرت وکړم) چه ټول کلی به خوری (ختموی) خلك (هغے ته) یثرب وائی حال دا چه هغه مدینه (ښاریه) ده، چه (ناکاره) خلك به داسے اُویاسی لکه څنګه چه بټئ د اُوسپنے زنګ اُویاسی. (بخاریؒ و مسلمؒ)

تشریح : اُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ : یعنی ما ته حکم شویدے چه داسے ښار ته هجرت وکړم چه هغه به نور کلی خوری. دا هله چه دا خبره ئے په مکه کښے کړی وی. یا ددے نه مراد د اُوسیدو دپاره حکم ورته شوے وو نو بیا به دا حدیث په مدینه کښے وئیلے شوے وی. لیکن اول صورت کښے هم جائز ده چه دا ئے په مدینه کښے وئیلے وی، یعنی ما ته په مکه کښے دا حکم شوے وو چه زۀ مدینے ته هجرت وکړم او همدغه شان وشوه. یعنی زما دا هجرت د الله تعالیٰ په حکم سره د پخوا نه وو.

تَأْكُلُ الْقُرَىٰ : یعنی ددے اُوسیدونکی به په ټولو ښارونو باندے غالبه کیږی او هغوی به فتح کوی، څکه مدینے په اسلام سره ټول کلی فتح کړل، ټولے دنیا ته ددے نه دین ورسیدو. نو خوراك کنایه ده د غلبے نه څکه چه خوړونکے په خوړلے شوی باندے غالبه وی. ابن بطالؒ وائی : د مدینے خلك به نور کلی فتح کوی، نو د هغوی مالونه به خوری او د هغوی اولاد به غلامان کوی، او دا په عربئ کښے فصیح کلام وی.

(او تاریخ ګواه دے چه ددے عظیم الشان ښار دا خصوصیت ثابت دے چه په مدینه کښے وسیدونکی خلك په نورو باندے غالب او د ډیرو ښارونو فتح کونکی جوړ شو، اول کښے عمالقه قوم دلته راغلل آباد شول، هغوی غلبه حاصله کړه او ډیر ښارونه او علاقے ئے فتح کړے بیا یهودیان راغلل، نو هغوی په عمالقهٔ باندے غالبه شول،

بیا انصار راغلل نو هغوی په یهودیانو باندے خپل اقتدار قائم کړو تردے چه کله رسول الله ﷺ او مهاجرین دے ښار کښے اُوسیدل نو هغوی ته چه څنګه غلبه حاصله شوه او څنګه ئے د مشرق نه واخله تر مغرب پورے عالم د خپل اثر لاندے راوستو هغه د هیچا نه پټ نۀ دے.

ددے بل مطلب دا هم بیان شوے چه د مدینے دومره ډیر فضائل دی چه د نورو کلو فضائل ددے په نسبت د نیشت برابر دی.

يَثْرِبُ : دا د یثرب بن قانیه بن ارم د سام بن نوح په اولادو کښے دے، د هغهٔ په نوم مشهوره شویده. څکه چه د عربو نه روستو اول پکښے دے اُوسیدلے وو. بعض وائی : د

Maktaba Tul Ishaat.com

عمالقه ؤ نه يو تن دلته اُوسيدلے وو د هغهٔ په نوم ياده شوه۔ (قاله الزرقانیؒ)

وَهِيَ الْمَدِيْنَةُ : يعنى دا ښار دے، د اُوسيدو لائق ځائے دے۔ د يثرب نوم ئے ځکه بد وګنړلو چه دے کښے بد فالي نيولے کيږي، ځکه چه دا د ثرب نه دے، فساد ته وائی۔ يا د تثريب نه دے ملامتيا او توبيخ او زورنے ته وائی۔ او نبی ﷺ به ښائسته نوم خوښولو او بد نوم به ئے ښه نهٔ ګنړلو۔ (فتح الباری) يا يثرب د يو بت يا د لوی ظالم شخص نوم وو۔ او قرآن کريم کښے چه (يَا أَهْلَ يَثْرِبَ) راغلے نو هغهٔ منافقانو وئيلے دے، الله تعالیٰ د هغوی قول رانقل کړے۔ يا دا چه د خلکو د شهرت مطابق ئے وئيلے دے۔

تَنْفِي النَّاسَ : يعنى خبيثان (ناکاره) خلك شړی۔ ددے نه مراد کافران او مشرکان دی چه د اسلام د غلبه کيدو نه روستو ددے ښار نه اُوخکلے شوی وو۔ نو کافرانُ او مشرکان ددے ښار د دروازو نه د هميشه دپاره بند کړے شويدی۔ يا مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ دا په طريقه د مثال سره وئيلے دے يعنی لکه څنګه چه بټئ سره ردی وسپنه د ګره نه جدا کيږی، دغه شان مدينه په تبو او تکليفونو او لوږو سره شريان اُوباسی او د هغوی غوره خلك صفا پريدی۔ او دا د نبی ﷺ په زمانه کښے هم مراد دے ځکه چه په هغه زمانه کښے د مدينے په تکليفونو باندے صرف ايمان والو صبر کولے شو او منافقانو او جاهلانو باندِ چيانو صبر نشو کولے، او نهٔ ئے پدے کښے اجر ګنړلو۔ (لکه د يو اعرابی قصه روستو راځی) او دا به قيامت ته نزدے هم وی۔ لکه حديث کښے دی چه د دجال په زمانه کښے به په مدينه باندے زلزله راشی، نو ټول کافران او منافقان به ورته رابهر شی او دجال سره به ملګری شی او خالص مؤمنان به په مدينه کښے باقی پاتے شی چه دجال به ورته هيڅ ضرر نشی ورکولے۔ لکه روستو حديث راروان دے۔ او وخت په وخت الله تعالیٰ د مدينے نه ناکاره خلك اُوباسی او صحيح خلك پريدی۔

الْكِيْرُ : بټئ ته وائی۔ دا هغه ګوډے دے چه پدے سره اُور ته پوکے کولے شی۔ يا د آينګر او زرګر هغه بټئ ده چه د ختے نه ئے جوړه کړے وی او اُوسپنه او سرهٔ زر پکښے ويلی کوی۔

خَبَثَ الْحَدِيْدِ : يعنی زنګ د وسپنے۔ يعنی مدينه په خپل ځان کښے هغه خلك نهٔ پريدی چه په زړهٔ کښے ئے فساد او خيرے وی بلکه هغه د رشتينی زړونو نه راجدا کوی لکه آهنګر چه ردی وسپنه د کره وسپنے نه جدا کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

يوم الثلاثاء ۹ مىء۔ قبل ۷ ايام من رمضان ۱۴۳۹ هـ

2738 (11) – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ:" **إِنَّ اللّٰهَ سَمَّى الْمَدِيْنَةَ طَابَةَ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر بن سمره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې: يقيناً الله تعالىٰ مدينې ته طابه (مزيداره علاقه) نوم ورکړے۔ (مسلمؒ)

تشريح : سَمَّى الْمَدِيْنَةَ : الله تعالىٰ مدينې ته دا نوم په لوح محفوظ کښې يا په تورات کښې ورکړے وو، يا ئې خپل نبي ته حکم کړے وو چه دا نوم ورته ووائي، دے دپاره چه په منافقانو باندے رد وشي چه هغوی ورته يثرب وائي۔

طَابَةَ: دا په اصل کښې طَيْبَةٌ دے۔ ياء متحرك ماقبل ئې مفتوح بدله شوه په الف سره۔ او مدينې ته طَيْبَةٌ او طَيِّبَةٌ هم وئيلے شي۔

بيا دا نوم نفي د نورو نومونو نهٔ کوي بلکه د مدينې د نورو نومونو نه ئې ورته يو نوم دا هم ايخودے وو۔ طيبه ورته ځکه وائي چه دا د طيِّب نه دے، په معنىٰ د پاکئ سره، يعني دا هم د شرك د ګندونو نه صفا ده۔ پاك پيغمبر ورته نازل شوے۔ يا د طيب نه دے مزيدار والي او خوشبو ته وائي۔ او ددے هم ټول کارونه مزيدار دي او هواء ئې مزيداره او خوشبويه ده۔ ابن بطالؒ ليکي: څوك چه په مدينه کښې اُوسيږي هغه به ددے د خاورے او باغونو نه ښائسته بوئي مونده کوي، چه داسے به د نورو ښارونو نهٔ وي۔ يا پدے کښې ژوند مزيدار کيږي۔ يا د اُوسيدونکو دپاره مزيداره ده۔ او خلك ئې هم مزيدار دي۔

2739 (12) – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَصَابَ الْأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِيْنَةِ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَقِلْنِيْ بَيْعَتِيْ فَأَبَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِيْ بَيْعَتِيْ فَأَبَى ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِيْ بَيْعَتِيْ فَأَبَى فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" **إِنَّمَا الْمَدِيْنَةُ كَالْكِيْرِ تَنْفِيْ خَبَثَهَا وَتَنْصَعُ طَيِّبَهَا** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جابر بن عبد الله ﷺ نه روايت دے چه يو بانډه چي د رسول الله ﷺ سره (د هغهٔ سره د وسيدو) بيعت وکړو، نو (لږے ورځے بعد) بانډه چي ته په مدينه کښې سخته تبه ورسيده، (چه دا ئې برداشت نکړے شوه نو د مدينې نه د وتلو اراده ئې وکړه) نو نبي

کریم ﷺ ته راغلو وې وئیل : اے محمد ! (ﷺ) ما سره زما بیعت فسخ کړه (بیرته واپس کړه) نو رسول الله ﷺ د هغې نه انکار وکړو، بیا ورته راغلو او وې وئیل : ما سره زما بیعت فسخ کړه، نبي کریم ﷺ انکار وکړو بیا ورته راغلو، وې وئیل : ما سره زما بیعت فسخ کړه، نبي کریم ﷺ بیا انکار کړو نو بانډه چې (همداسې د مدینې نه) اُووتو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : د مدینې مثال د (لوهار) د بنۍ (بټۍ) دے چه خپله پلیتي (خِیری) اُوباسي او نیك سړے صفا راښکاره کوي. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : أَعۡرَابِيًّا : ددۀ نوم په بعض روایاتو کښې قیس بن ابی حازم ذکر شوے، دا هغه مشهور لوی تابعي نۀ دے بلکه دا یو بل تن دے.

بَایَعَ : دا د مبایعة نه دے، لوظ کول او خبره غوټه کولو ته وئیلے شي. یعني بیعت.

أَقِلۡنِيۡ : دا د اِقالے نه دے، معنی ئې ده : د بیعت او سَودا نه واپس کیدل. یعني بیعت ختمول. یعني ما ته خپل بیعت واپس کړه چه خپل وطن ته لاړ شم، او ګویا که دۀ پدے هجرت کړے وو چه په مدینه کښې به اُوسیږي. حافظ ابن حجرؒ وائي : (عَلَی الۡإِسۡلَامِ) لفظ نه معلومیږي چه دۀ د اسلام بیعت کړے وو هغه ئې واپس کولو. لکه دا خبره قاضي عیاضؒ په جزم سره ذکر کړیده. نور علماء وائي چه دا رجوع وه د هجرت نه. ورنه رسول الله ﷺ به دا په اِرتداد سره وژلے وے. یعني دے د اسلام نه نۀ وو مرتد شوے. ابن بطالؒ وائي : دلیل دا دے چه د نبي ﷺ په موافقت سره د مدینې نه بهر شو. ورنه همداسې به تښتیدلے وے. یا به نبي ﷺ قتل کړے وے. آه. لیکن ظاهر دا ده چه دا د اسلام نه اِقاله وه او اجازت ئې پدے وجه وغوښتو چه د عربو عادت دا وو چه هغوی به لوظونه نۀ ماتول.

امام نوویؒ وائي : علماؤ وئیلي دي چه نبي ﷺ ورسره اِقاله (بیعت ماتول) ونکړه ځکه چا چه اسلام قبول کړو نو هغۀ دپاره دا جائز نۀ دي چه اسلام بیرته پریدي، او چا چه نبي ته هجرت وکړو نو اُوس به هغۀ دپاره خپل وطن ته واپسي ناروا وي، آه.

ابن التینؒ وائي : پدے اِقاله کولو کښې په ګناه باندے مدد وو، او نبي ﷺ داسې نکول. ځکه چه په ابتداء کښې بیعت پدے خبره وو چه د مدینې نه به بغیر د اجازت نه نۀ بهر کیږي نو ددۀ وتل نافرماني وه. او دا هجرت د مکې د فتح نه مخکښې وو.

تَنۡفِيۡ خَبَثَهَا : په څلورو طریقو سره مدینه خپل خباثت لرے کوي : (۱) الله تعالیٰ ترے

Maktaba Tul Ishaat.com

پليتان خلك اُوباسي، لكه كفار او منافقان ئې ترې اُوويستل چه هغوى باطني خباثت لرلو۔ او هرچه نور ګناهګار دي د مسلمانانو نه نو د هغوى شرړ به په آخره كښې وي، كه هغوى په ګناهونو هميشه پاتې شول نو ملائك به ئې د مدينې نه بهر كړي (په زلزله سره)۔ (۲) يا دلته كامل خباثت والا مراد دي چه هغه كفار او بدبخته خلك دي۔ نهٔ ګناهګار مؤمنان ځكه چه اول قسم د شفاعت او د بخنې لائق نهٔ دي۔ او نبي ﷺ په مدينه كښې مړ كيدونكي دپاره د شفاعت وعده كړيده۔ (۳) يا دا چه مدينه نفسونه د شرونو نه او لذاتو طرفته مائل كيدو نه خلاصوي ځكه چه پدې كښې سختي وي۔

(٤) يا مطلب دا چه په مدينه كښې چه څوك اُوسيږي، د هغوى خباثت به نهٔ پټيږي بلكه د هغهٔ باطن به راښكاره كيږي لكه دا خبره ليدلې شويده۔ سمهوديؒ وائي چه دا څلور واړه طريقې د احاديثو نه معلوميږي۔

وَتَنْصَعُ : نصوع صفائي ته وائي۔ يعني صفاء ئې راښكاره كوي۔ دا د باب تفعيل او باب افعال دواړو نه دې۔ كه دا سوال وكړې شي چه په مدينه كښې خو منافقان هم اُوسيدلي؟

جواب دا دې چه هغوى په مرګ سره اُوشړلې شول، ختم شول۔ عينيؒ وائي : منافقان په مدينه كښې د اسلام او ددې سره د محبت د وجه نه نهٔ اُوسيدل بلكه دا ئې د پخوا نه د اُوسيدو كور راروان وو۔ او دلته مقصد دا دې چه څوك په اسلام كښې رغبت لري او دلته راشي بيا ئې زړهٔ خراب شي نو هغه به نهٔ پاتې كيږي۔ انتهىٰ۔

2740 (13) — وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَنْفِي الْمَدِيْنَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيْرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نهٔ قائميږي تردې چه مدينه به خپل ناكاره خلك اُوباسي، (لرې كوي) لكه څنګه چه بټئ (بتېئ) د وسپنې زنګ لرې كوي۔ (مسلمٌ)

تشريح : دا يا د نبي ﷺ په زمانه كښې مراد دې، ځكه چه د نبي ﷺ نبوت د قيامت لويه نښه ده يا به د دجال په زمانه كښې وي چه د مدينې خوا ته به راشي نو دلته به ورته شريان خلك ور بهر شي۔

2741 (14) — وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **عَلٰى أَنْقَابِ**

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمَدِيْنَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُوْنُ وَلَا الدَّجَّالُ" . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د مدينې په لارو باندې ملائك (مقرر) دي، مدينې ته به طاعون او دجال نۀ داخليږي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : أَنْقَابِ: جمع د نَقَب ده. او بل روايت کښې (نِقَابِهَا) راغلې دې، هغه د نُقْب جمع ده. ددې نه مراد دداخليدو ځايونه او لارې او دروازې دي چه ددې نه داخليدل کيږي.

بعض رواياتو نه معلوميږي چه طاعون د جناتو ګوزار ته وئيلې شي نو هرکله چه طاعون نشي داخليدې، معلومه شوه چه ضرري جنات مدينې نه بند کړې شويدي. او دا د نبي ﷺ د نبوت نښه ده چه ترنن تاريخ پورې په مدينه کښې طاعون نۀ دې راغلې، حال دا چه طبيبان ددې نه عاجز شوي چه طاعون د يو ځلې نه نقل کړي، او پدې دومره لويو زمانو کښې طاعون بند کړې شويدې.

بيا طاعون ته خو ددې امت رحمت او شهادت وئيلې شويدې نو ولې د مدينې نه بند کړې شو ؟ ددې حکمت دا دې چه نبي ﷺ چه هرکله مدينې ته راغلو او مدينه وباء والا زمکه وه نو الله تعالىٰ نبي ﷺ ته اختيار ورکړو چه تبه اخلې او که طاعون ؟ نو نبي ﷺ تبه غوره کړه او طاعون شام ته لاړو لکه په صحيح حديث د احمدؒ کښې راغلي دي :

[أَتَانِيْ جِبْرِيْلُ بِالْحُمّٰى وَالطَّاعُوْنِ فَأَمْسَكْتُ الْحُمّٰى بِالْمَدِيْنَةِ وَأَرْسَلْتُ الطَّاعُوْنَ إِلَى الشَّامِ]

[احمد : ۲۰۷۸٦]

ما ته جبريل ﷺ تبه او طاعون راوړل نو ما په مدينه کښې تبه وساتله او طاعون مې شام ته وليږلو. نو په دواړو کښې ډير اجر وو، نبي ﷺ تبه پدې وجه غوره کړه چه د طاعون په نسبت پدې سره مرګ کم کيږي، نو کله چه صحابه کرامو په ابتداء کښې هجرت وکړو نو د هغوي شمار او نفري کمه وه نو طاعون ئې ترې لرې کړو او تبه ئې پريخوده بيا هرکله چه نبي د طاعون په نسبت کفارو سره جهاد ته محتاج وو، او دا په روغ صحت کيږي، او تبه خو بدن کمزورې کوي نو روستو ئې د تبې د نقل کيدو دعاء هم وکړه. نو مدينه په ټولو ښارونو کښې ډير صحيح زمکه جوړه شوه.

2742 (15) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَيْسَ مِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ لَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا فَيَنْزِلُ السَّبَخَةَ فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو ښار مگر دجال به په هغې قدمونه اږدي، سوئ د مکې او مدينې نه، نشته هيڅ يوه لاره ددې د لارونو نه مگر په هغې باندې به ملائك وي، صف ترونكي، چه دا به ساتي، نو دجال به په ښوره ناكه زمكه كوز شي نو مدينه به په خپلو اُوسيدونكو درې ځله وخوزيږي (يعنې درې زلزلې به پرې راشي) نو دجال ته به هر كافر او منافق رابهر شي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : السَّبَخَةَ : دا ښوره ناكه زمكه ده، چه مالگينه وي۔

فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ : دا روايت د بخاريؒ د بل روايت سره تعارض نۀ لري چه په هغې كښې دي چه مدينې ته د دجال رعب نشي داخليدې۔ وجه دا ده چه هلته داسې رعب مراد دې چه د هغې په وجه دننه خلك په گبرا هټ كښې راشي، او د هغۀ د سركشئ او ظلم نه ويريږي۔ او دلته زلزله مراد ده چه غير مخلصين به بهر راوباسي او د دجال ښكار به شي۔ يا د رعب نه مراد دا دې چه دجال پرې غلبه وكړي۔

رَجَفَاتٍ : جمع د رَجْفَةٌ ده۔ يعني يو بل نه بعد به زلزله وي بيا به دريمه وي نو پدې سره به هغه څوك د مدينې نه رابهر شي چه هغه په خپل ايمان كښې مخلص نۀ وي۔ حافظ ابن حجرؒ وائي : ددې زلزلو نه مراد دا هم دې چه په مدينه كښې به د دجال د راتللو خبر خور شي او د هغۀ د قوت، چه د هغۀ د طاقت مقابله نشي كيدې، نو په جلتئ سره به منافقان او كافران دجال طرف ته راوځي، نو دغه وخت به دا خبره پوره ښكاره شي چه مدينه خپل خباثت نفي كوي۔ انتهىٰ۔ ليكن اول قول ظاهر دې چه ددې نه حقيقةً زلزله مراد ده۔

2743 (16) — وَعَنْ سَعْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَا يَكِيدُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَحَدٌ إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سعد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د مدينې اُوسيدونكو ته هيڅوك چل نۀ جوړوي مگر هغه به ويلي كيږي لكه څنگه چه مالگه په اُوبو كښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ویلی کیږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : انْمَاعَ : [اَیْ ذَابَ وَسَالَ] یعنی ویلی شو، او اُوبهیدو۔ ماع یمیع او اِنماع په یوه معنیٰ دی۔ د حدیث غوره مطلب دا دے چه څوك مدینے والو ته چل جوړه وی او په هغوی باندے د شر اراده لری نو الله تعالیٰ ورته په دنیا کښے مهلت نهٔ ورکوی او قدرت ورته نهٔ ورکوی بلکه زرئے هلاکوی او د هغوی فساد خلکو ته راښکاره کوی، لکه د بنو امیه په زمانه کښے د مسلم بن عقبه حالت شو چه په جلتیٔ سره سزا ورکړے شوه، د مدینے نه په واپسیٔ کښے هلاك شو۔ بیا د هغهٔ رالیږونکے یزید بن معاویه د هغهٔ نه پس زر وفات شو۔ بعضو وئیلی دی چه دا د نبی ﷺ په زمانه کښے مراد دے۔ چه چا د مدینے په بدیٔ سره اراده کړے ده نو الله تعالیٰ د مسلمانانو مدد کړے او د هغهٔ شخص کار تباه شوے، لکه څنګه چه قلائی په اُور کښے ویلی کیږی۔ او په یو روایت کښے [أَذَابَهُ اللّٰهُ فِي النَّارِ] لفظ راغلے دے۔ یعنی دائے په آخرت کښے سزا ده چه د مالګے په شان به په اُور کښے ویلی شی۔ (قاله عیاضؒ) مګر اول احتمال غوره دے۔ علامه سمهودیؒ وائی : ددے مطلب دا نهٔ دے چه څوك به مدینے والو ته چل نشی جوړه ولے او کار به ئے سر ته نهٔ رسیږی، بلکه مطلب دا دے چه الله تعالیٰ وعده کړیده چه دغه شخص به هلاکوی۔ او دا حالت د مدینے تر نن زمانے پورے همیشه راروان دے چه کله د عیاشی طائفے په مدینه باندے د بدیٔ اراده وکړه نو الله تعالیٰ د هغوی سرکشان سره د ډیروالی نه په لږه موده کښے تباه کړل۔ او د ټولو حدیثونو جمع داسے هم کیدے شی چه په دنیا کښے ئے د هلاکت سزا ده او په آخرت کښے به په اُور کښے ویلی کیږی۔

2744 (17) — وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَنَظَرَ إِلَى جُدُرَاتِ الْمَدِينَةِ أَوْضَعَ رَاحِلَتَهُ وَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ حَرَّكَهَا مِنْ حُبِّهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او انس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ به چه کله د یو سفر نه راتلو او د مدینے دیوالونه (یعنی د هغے عمارتونه) به ئے ولیدل نو خپله اُوښه به ئے تیزه کړه او که په اس باندے به وو نو هغے ته به ئے حرکت ورکړو د وجه د محبت د مدینے نه۔ (بخاریؒ)

تشریح : جُدُرَاتِ : جمع سالم د جُدُر ده او جُدُر جمع د جدار ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

أَوْضَعَ : [أَیْ أَسْرَعَ] یعنی تیزه به ئے کړه. یعنی الله تعالیٰ د نبی ﷺ دعاء قبوله کړه چه سوال ئے کړے وو چه مونږ ته مدینه داسے محبوبه کړه لکه د مکے په شان.

2745 (18) - وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ فَقَالَ :" هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ اَللّٰهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّيْ أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ ته اُحد غر ښکاره شو (او په هغے ئے نظر پریوتو) نو وے فرمایل : دا غر مونږ سره مینه کوی او مونږ ددهٔ سره مینه کوو، اے الله ! یقیناً ابراهیم ﷺ مکه حرم گرځولے وو او زهٔ مدینه د دواړو خوړونو ترمینځ حرم گرځوم. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : هٰذَا جَبَلٌ : دے روایت نه معلومیږی چه دا خبره نبی ﷺ د حج نه په واپسئ کښے کړے وه او په بل روایت د بخاری کښے دی چه د خیبر نه په واپسئ کښے وه او په بل روایت د بخاری کښے دی چه د تبوك د غزا نه په واپسئ کښے ئے دا وئیلی وو. نو ددے تطبیق دا دے چه نبی ﷺ دا په مختلفو موقعو کښے وئیلے وه.

بیا ددے ډیر مطلبونه بیان شوی، یو دا چه مضاف حذف دے. یعنی اَهل اُحد مونږ سره مینه کوی او مونږ د دوئ سره. او ددے نه مراد انصار دی چه د احد په گاونډ کښے اُوسیدل. دویم دا چه دا ئے په زبان حال سره د زیاتے خوشحالئ په طور وئیلی دی کله چه به د سفر نه راواپس کیدو ځکه چه خپل کلی ته راورسیدو لکه خلك د خپل کلی سره مینه کوی.

دریم غوره دا ده چه دلته محبت د جانبینو نه په حقیقت کښے دے، او په خپل ظاهر باندے بناء دے، ځکه چه احد غر د جنت د غرونو نه دے، (احمدؒ) او د رسول الله ﷺ سره د غر محبت کول څه ناشنا نهٔ دی لکه د غرونو نه تسبیح وئیل ثابت دی (وَالْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ) او نبی ﷺ اُحد غر ته د عقلمندو په شان خطاب کړے هرکله چه هغه وخوزیدو ورته ئے وفرمایل : [أُسْكُنْ أُحُدُ] اے احد ! په آرام شه. او نبی ﷺ باندے به په مکه کښے کاڼړو سلام اچولو او د ونے ستے ژړا او د نبی ﷺ هغے لره د ماشوم په شان قلارول په احادیثو کښے ثابت دی. نو ددے نه هیڅ مانع نشته چه الله تعالیٰ په بعض جماداتو کښے محبت پیدا کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه سهيليؒ دلته دا نکته ذکر کړیده چه نبي ﷺ ولې اُحد غر سره محبت ساتلو او دائې د نورو غرونو ترمينځ پدې کار سره خاص کړو نو وجه دا ده چه نبي ﷺ به نيك فال او ښائسته نوم خوښولو او هغه نوم د ټولو نه زيات ښائسته دے چه د اَحديت نه اخستے شوے وی، او دا د اَحديت نه اخستے كيدو باوجود ددے په حروفو باندے حركات رفع (پيشونه) دی نو دے كښے اشاره ده چه د اَحد ذات دين به پورته كيږی۔ نو ددے وجه نه د نبي ﷺ محبت ددے پورے لفظاً او معنىٰ انختے وو۔

دارنګه د جنت د غرونو نه يو غر دے نو د محبت لائق دے۔ او هركله چه اُحد د نبي ﷺ سره محبت كوی نو نبي ﷺ هم د هغے سره محبت لری۔

2746 (19) – وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ**". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سهل بن سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : اُحد غر مونږ سره مينه كوی او مونږ د هغهٔ سره مينه كوو۔ (بخاریؒ)

تشريح : كيدے شی چه د اُحُد غر سره ئے د محبت تخصيص پدے وجه وكړو، هركله نبي ﷺ د خپلو درے وارو ملګرو سره په اُحُد وختو نو هغه د ډيرے خوشحالئ نه وخوزيدو، نو ورته ئے وفرمايل : په آرام شه اُحُده ! ځكه چه په تا باندے يو نبي او يو صديق او دوه شهيدان دی۔ (علي القاریؒ) بله وجه د سهيلیؒ په كلام كښے ذكر شوه۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2747 (20) – عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ: رَأَيْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ أَخَذَ رَجُلًا يَصِيْدُ فِيْ حَرَمِ الْمَدِيْنَةِ الَّذِيْ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَبَهٗ ثِيَابَهٗ فَجَاءَهٗ مَوَالِيْهِ فَكَلَّمُوْهُ فِيْهِ فَقَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّمَ هٰذَا الْحَرَمَ وَقَالَ: "**مَنْ أَخَذَ أَحَدًا يَصِيْدُ فِيْهِ فَلْيَسْلُبْهُ**". فَلَا أَرُدُّ عَلَيْكُمْ طُعْمَةً أَطْعَمَنِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهٗ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : سليمان بن ابی عبد الله فرمائی : ما سعد بن ابی وقاص ﷺ وليدو چه يو سړے ئے ونيولو چه هغهٔ د مدينے په هغه حرم كښے ښكار كولو كوم چه رسول الله ﷺ حرام كړے وو نو د هغهٔ نه ئے جامے واخستے نو هغهٔ ته د هغهٔ مالكان راغلل او د هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ئې د هغې په باره کښې خبرې اترې وکړې نو سعد ﷺ وفرمايل : يقيناً رسول الله ﷺ دا حرم حرام کړيدې، او وې فرمايل : چا چه يو تن ونيولو چه په دې کښې ښکار کوي نو د هغهٔ نه دې کپړې واخلي، نو زهٔ تاسو ته نهٔ واپس کوم هغه خوراك چه ما ته رسول الله ﷺ راکړې- ليکن که تاسو غواړئ نو تاسو ته به ددې قيمت درکړم- (ابوداودؒ)

تعارف : سليمان بن ابي عبد اللهؒ تابعي دې، ابن حبانؒ په ثقاتو کښې ذکرکړې، تقريب کښې وائي مقبول دې د تابعينو د طبقه وسطیٰ نه دې-

تشريح : حَرَّمَ هٰذَا الْحَرَمَ : دا حديث دليل دې چه د سعد بن ابي وقاص ﷺ هم دا عقيده وه چه مدينه د مکې په شان حرم دې-

فَلْيَسْلُبْهُ : په بل روايت کښې ورسره [فَلْيَسْلُبْهُ ثِيَابَهُ] راغلې- دا دليل دې چه ټولې جامې به ترې اخستې شي، صرف د عورت د پټوالي په اندازه به ورته جامه پريدی-

طُعْمَةً : يعني خوراك- او رزق ته وائي- (قاريؒ)

دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهُ : يعني د احسان په توګه به زهٔ درته ددې قيمت درکړم-

بيا ظاهر د احاديثو دا دې چه دا اخستې شوې جامه به د اخستونکي وي-

حاکمؒ د عامر بن سعد ﷺ نه يو بل روايت راوړيدې چه سعد ﷺ به د مدينې نه وتو، مقصد به ئې دا وو چه يو حَطّاب (لرګي راټولونکې) ومومي چه د هغهٔ سره تازه ونه وي چه د مدينې د بعضو ونو نه ئې راپريکړې وي، چه د هغهٔ نه ئې د غنيمت په شکل واخلي، (نو کله به ئې ترې واخسته) بيا به ورسره هغه شخص ددې په باره کښې خبره وکړه (چه دا ما ته راکړه، ما نه ئې مهٔ اخله) نو هغهٔ به فرمايل : [لَا أَدَعُ غَنِيمَةً غَنِمَنِيهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَأَنَا مِنْ أَكْثَرِ النَّاسِ مَالًا] زهٔ هغه غنيمت (هيچا ته) نهٔ پريدم چه ما ته رسول الله ﷺ راکړيدې او حال دا چه زهٔ د ټولو خلکو نه زيات مال والا يم- (حاکمؒ وائي : ددې سند صحيح دې، ذهبيؒ هم ددې موافقت کړې)- (المستدرك ۴۸۶/۱)

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أخرجه : ۱۷۰/۱ وابوداود : ۲۰۳۷- صحيح دون قوله : يصيد، فانه منكر- والمحفوظ قوله : يقطعون- الباني-

2748 (21) - وَعَنْ صَالِحٍ مَوْلًى لِسَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا وَجَدَ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الْمَدِينَةِ يَقْطَعُوْنَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ وَقَالَ يَعْنِي لِمَوَالِيهِمْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

يَنْهٰى أَنْ يُقْطَعَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِيْنَةِ شَيْءٌ وَقَالَ: "مَنْ قَطَعَ مِنْهُ شَيْئًا فَلِمَنْ أَخَذَهُ سَلَبُهُ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه: او صالح د سعد ﷺ مولیٰ نه روایت دے چه سعد ﷺ د مدینے د غلامانو نه څه غلامان وموندل چه د مدینے ونے ئے پریکولے نو هغۀ ترے سامان واخستو او وے فرمایل: یعنی د هغوی غلامانو ته چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه ددے نه ئے منع کوله چه د مدینے د ونے نه څه شے پریکړے شي او وے فرمایل: چا چه ددے نه څه شے پریکړو نو د هغۀ اسباب وسامان د هغه چا دپاره دے چه څوك ئے ونیسی۔ (ابوداودؒ)

تشريح: عَنْ صَالِحٍ: دلته د کاتب د قلم نه یا د مصنف نه خطائی واقع شویده، صحیح داسے ده: عَنْ صَالِحٍ عَنْ مَوْلًى لِسَعْدٍ۔ ځکه چه صالحؒ خپله د سعد ﷺ مولیٰ نۀ دے۔ صَدُوْقٌ اِخْتَلَطَ بِآخِرَةٍ۔ ابن ابی ذئبؒ ترے قبل الاختلاط سماع کړیده۔ نو د هغۀ په روایت کښے ثقه دے۔ او دا روایت هم ابن ابی ذئبؒ د هغۀ نه کړیدے۔

مَتَاعَهُمْ: ددے نه معلومیږی چه د مدینے ښکار کونکی سره هرڅه وی هغه ترے اخستل جائز دی، جامے وی یا وسله وغیره۔

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه ابوداود: ۲۰۳۸.

2749(22) - وَعَنِ الزُّبَيْرِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ صَيْدَ وَجٍّ وَعِضَاهَهُ حَرَمٌ مُحَرَّمٌ لِلّٰهِ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: "وَجٌّ" ذَكَرُوْا أَنَّهَا مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ: "إِنَّهٗ" بَدَلَ "إِنَّهَا"

ترجمه: او زبیر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: یقیناً د وج علاقے ښکار او د هغے خاردارے ونے حرام دی، چه د الله تعالیٰ دپاره (یعنی د هغۀ د حکم په وجه) حرام کړے شویدی۔ (ابوداودؒ) او امام محی السنة فرمائی چه د وج په باره کښے علماو ذکر کړیدی چه دا د طائف په طرف د یو ځائے نوم دے، او خطابیؒ وئیلی دی: د (اِنَّهَا مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ) په ځائے (اِنَّهٗ مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ) لفظ دے۔

تشريح: وَجٍّ: په زبر د واو او په شد د جیم سره۔ طائف ته وائی۔ بعض وائی: په طائف کښے یوه وادی ده۔ یا په طائف کښے د یوے قلعه نوم دے۔

وَعِضَاهَهُ: عضاه: هره لویه ونه چه ازغیداره وی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې حديث نه دليل نيولې شويدې چه د وج علاقې ونې پرېكول او هلته كښې ښكار كول حرام دي. او دا مذهب د امام شافعيؒ دې. بيا د شوافعو دوه قوله دي چه پدې كښې ضمان نشته. او بل قول ئې دا دې چه پدې كښې د مدينې د حرم په شان ضمان دې.

علامه خطابيؒ په ((معالم السنن)) كښې ليكي: وج كښې چه ښكار يا ونې پرېكول حرام شويدي، ددې وجه دا ده چه دا د مسلمانانو چراګاه وه، يا احتمال شته چه دا منع په معلوم وخت او معينه موده كښې وه بيا منسوخ شوې وي. ځكه چه د طائف د محاصره كولو په وخت مسلمانانو دلته ښكار او ونې پرېكړې دي. انتهىٰ. مګر ابن اسحاقؒ په ((مغازي)) كښې ذكر كړې چه د طائف د فتح نه روستو نبي ﷺ يو وفد ته د وج د ښكار او د ونې پرېكولو په باره كښې حكم كړې وو چه دا به نشي پرېكولې. لكه چه ابن القيمؒ په ((زاد المعاد)) كښې نقل كړيدي.

او شوكانيؒ د خطابيؒ د كلام نقل كولو نه روستو وئيلي دي چه ظاهر دا ده چه دا تحريم هميشه دې او چا چه د نسخ دعوه كړيده نو هغه به دليل راوړي، او چا چه ددې ضمان د مكې حرم په ښكار باندې قياس كړې پدې هم دليل نشته، نو دلته په ښكار او ونې پرېكولو كښې صرف ګناه ده او ضمان نشته. انتهىٰ. مګر راجح دا ده چه پدې باره كښې حديثونه ضعيف دي، لهٰذا وج حرم جوړيدل ضعيف دي.

بَدَلَ "إِنَّهَا": دواړه صحيح دي، ځكه چه تذكير په اعتبار د موضع سره دې او تانيث په تاويل د بُقْعَةٌ سره دې.

درجة الحديث : [ضعيف] أخرجه إحمد : ١٦٥/١، والبخارى فى التاريخ الكبير ١٤٠/١ رقم : ٤٢٠ ـ وأبوداود : ٢٠٣٢ ـ محمد بن عبد الله بن إنسان الطائفى لم يتابع عليه ـ قال البخارى : لم يصح حديثه وذكره ابن حبان فى الثقات وقال : كان يخطئ.

2750 (23) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَّمُوْتَ بِالْمَدِيْنَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا فَإِنِّيْ أَشْفَعُ لِمَنْ يَّمُوْتُ بِهَا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا

ترجمه : او ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چه وس كيږي چه په مدينه منوره كښې مړ شي نو په هغې كښې دې مړ شي، ځكه چه يقيناً زۀ به سفارش

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم د هغه چا دپاره چه په مدینه کښې مړ شي۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، او ترمذیؒ وئیلي دي چه دا حدیث حسن صحیح دے او د اسناد په اعتبار غریب دے)

تشریح : أَنْ يَّمُوْتَ بِالْمَدِيْنَةِ : یعنی څوك چه طاقت لري چه په مدینه کښې اُوسیږي تردے چه هلته پرے مرګ راشي نو هلته دِے اُوسیږي تردے چه هلته مړ شي، نو پدے کښې تیزي ورکول دي په اُوسیدو د مدینه باندے، دے دپاره چه هلته پرے مرګ راشي۔ دا څکه وایو چه مرګ د انسان په وس کښې نهٔ دے نو دلته ذکر د مرګ دے او مراد ترے نه دلته اُوسیدل دي تر مرګه پورے۔ [اَیْ فَلْيُقِمْ بِهَا حَتّٰى يَمُوْتَ]

فَإِنِّیْ أَشْفَعُ : یعنی زهٔ به د هغهٔ دپاره خصوصي شفاعت کوم پس د عام شفاعت نه۔

دا حدیث دلیل دے چه په مدینه کښې اُوسیدل د مکے په نسبت ډیر غوره دي، څکه چه داسے ترغیب د مکے په باره کښې نهٔ دے راغلے مګر په ضعیف روایت کښې۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه أحمد : ۲/۷٤، ۱۰٤ والترمذى : ۳۹۱۷ وقال حسن غريب وصححه ابن حبان اورده الهيثمى فى موارد الظمآن : ۱۰۳۱ وابن ماجه : ۳۱۱۲.

2751 (24) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " آخِرُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْإِسْلَامِ خَرَابًا الْمَدِيْنَةُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : د اسلام د ښارونو نه آخري خرابیدو والا ښار به مدینه وي۔ (ترمذيؒ روایت کړے او دا ئے وئیلي چه دا حدیث حسن غریب دے)۔

تشریح : یعنی کله چه قیامت نزدے شي نو ټولے آبادیانے او ښارونه به وران ویجاړ شي او په هغوی کښې به مدینه د ټولو په آخر کښې ورانیږي۔

دا حدیث دلیل دے چه د اسلام عمارت او آبادي د مدینے د آبادئ سره متعلق ده، او دا د نبي الطَيِّلاً د برکت په وجه۔ او پدے اعتبار سره د مدینے دپاره د مکے نه هم زیات فضیلت شو۔

درجة الحديث : [ضعيف] أخرجه الترمذى : ۳۹۱۹۔ جنادة عن هشام ضعيف قاله ابوحاتم وابوزرعة والمزى وجماعة ووثقه ابن حبان وشيخه ابن خزيمة وهما متساهلان فى التوثيق۔ (الضعيفة : ۳/٤٦٦، رقم : ۱۳۰۱).

Maktaba Tul Ishaat.com

2752 (25) - وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " إِنَّ اللّٰهَ أَوْحٰى إِلَيَّ: أَيَّ هٰؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ نَزَلْتَ فَهِيَ دَارُ هِجْرَتِكَ : الْمَدِيْنَةَ أَوِ الْبَحْرَيْنَ أَوْ قِنِّسْرِيْنَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او جرير بن عبد الله ﷺ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوي چه هغهٔ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ ما ته وحي وكړه چه كوم يو ددے دريو علاقوته چه تهٔ نازل شوے نو هغه به ستا د هجرت كور وي، مدينه منوره يا بحرين يا قنسرين۔ (ترمذيؒ)

تشريح : اَلْبَحْرَيْنَ : د موجوده جغرافيائي نقشے مطابق بحرين د هغه ګڼړو جزيرو د مجموعے نوم دے چه د خليج عربي په جنوب مغربي طرف كښے واقع دی۔ ددے جزيرونه لويه جزيره جزيره مَنامه ده چه دويم نوم ئے بحرين هم دے۔ ددے جزيرے په نوم سره ټول ملك ته بحرين وائي۔ ليكن د حديثونو او تاريخ په كتابونو كښے بحرين لفظ د هغه علاقو دپاره استعماليږی چه د جزيرة العرب په مشرقي ساحل باندے د خليج بَصُرَه نه قطر او عُمان پورے خورے شويدی۔ او د موجوده بحرين په مغرب كښے واقع دی۔ دے علاقو ته اُوس احساء وائي۔ نو دلته د بحرين نه مراد "احساء" علاقه ده۔ چه دا اُوس د سعودي عرب د رقبے په لحاظ د ټولو نه لويه صوبه ده۔

قِنِّسْرِيْنَ : دا د شام د ښارونو نه يو ښار دے۔ اُوس په حلب كښے واقع دے چه د حلب ښار نه (۴۰) كيلوميټره جدا دے۔

د حديث مطلب دا دے چه الله تعالىٰ ما ته اختيار راكړے وو چه ددے درے ښارونو نه كوم ښار ته ستا خواهش وي د مكے نه هجرت اُوكړه او هلته لاړ شه او هغه خپل مَسكن (كور/ځائے د وسيدو) جوړ كړه۔ ليكن راجح دا ده چه اګركه رسول الله ﷺ ته په ابتداء كښے ددے درے وارو ښارونو نه په يو ښار كښے د اُوسيدو اختيار وركړے شوے وو ليكن په آخر كښے مدينه ورته متعينه كړے شوه نو پدے وجه نبي كريم ﷺ د مكے نه مدينے ته هجرت اُوكړو۔

درجة الحديث : [ضعيف وقال الذهبي والالباني منكر] أخرجه الترمذي : ۳۹۲۳ : وفي اسناده عيلان بن عبد الله مجهول وايضا حديثه منكر وقال الحافظ : في ثبوت هذا الحديث نظر لكونه مخالفا لما في صحيح البخاري وقال ابن حبان في الثقات : روى عن ابي زرعة عن جرير حديثا منكرا.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2753 (26) – عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابوبکره ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه فرمائی : مدینې منورې ته د مسیح دجال رعب نهٔ داخلیږی، د هغې به په دغه ورځ اُوه دروازې وی، په هره دروازه به دوه ملائك وی۔ (بخاریؒ)

تشریح : رُعْبُ الْمَسِيحِ : یعنی د دجال رعب او یره مدینې ته نشی داخلیدے نو هرکله چه رعب ئې نشی داخلیدے نو خپله دجال به په طریق اولیٰ نشی داخلیدے۔
یعنی داسے رعب نشی داخلیدے چه د هغه ځائے خلك پریشانه شی۔ یا ددے نه مراد غلبه او تسلط دے۔ لَهَا : یعنی د مدینې د دیوالونو دپاره به اُووه (۷) دروازے او لارے وی۔
مَلَكَانِ : ددے نه مراد یا دوه ملائك دی، ښی او گس طرف ته به ولاړ وی۔ یا ددے نه مراد دوه قسمه ملائك دی۔

2754 (27) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِينَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : اے الله ! په مدینه کښې د هغه برکت نه دوچنده وگرځوه کوم چه تا په مکه کښې گرځولے دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ضِعْفَيْ : تثنیه د ضِعف ده۔ او ضعف په لغت کښې د یو شی یو مثل (چند) ته وائی۔ او په عرف کښې د یو شی دوچنده ته وائی۔
مِنَ الْبَرَكَةِ : ددے نه دنیاوی برکت مراد دے۔ لکه بل حدیث کښې [اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا] لفظ راغلے دے۔ یا عمومی برکات مراد دی سویٰ د مانځه نه۔ ځکه چه مونځ په حرم مکی کښې زیات اجر والا دے۔ او هغه ترے په نورو احادیثو سره مستثنیٰ دے۔ او دا هم د مدینې جزئی فضیلت دے۔
بعض علماؤ ددے مطلب دا اخستے دے چه په غیر د مکه کښې یو تن په یوه روټئ مړیږی نو په مکه کښې پرے دوه سړی مړیږی او په مدینه کښې پرے درے مړیږی۔ نو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

برکت په خوراك کښې مراد دے۔ لکه دا خبره مخکښې هم ذکر شوه۔

2755 (28) - وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ آلِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ زَارَنِي مُتَعَمِّدًا كَانَ فِي جِوَارِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَكَنَ الْمَدِينَةَ وَصَبَرَ عَلَى بَلَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا وَشَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ مَاتَ فِي أَحَدِ الْحَرَمَيْنِ بَعَثَهُ اللَّهُ مِنَ الآمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

ترجمه: او د آل خطاب د يو سړي نه روايت دے چه هغه د نبی کريم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمايل: څوك چه په قصد سره زما زيارت کوی هغه به د قيامت په ورځ زما په ګاونډ کښې وی او څوك چه په مدينه کښې وسيږی او ددے په تکليفونو او سختيو باندے صبر کوی نو زهٔ به د قيامت په ورځ په هغهٔ باندے ګواه او سفارش کونکے يم۔ او څوك چه په يو د دواړو حرمينو کښې وفات شو نو الله تعالیٰ به ئے د قيامت په ورځ د امن والو نه راپورته کړی۔ (شعب الايمان)۔

تشريح: آلِ الْخَطَّابِ: ددے روايت په سند کښې اضطراب واقع دے، کله راځی چه (رَجُلٌ مِنْ آلِ الْخَطَّابِ) او کله راځی (عَنْ رَجُلٍ مِنْ آلِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ) او کله راځی چه (مِنْ آلِ حَاطِبٍ) او کله راځی (عَنْ رَجُلٍ مِنْ وَلَدِ حَاطِبٍ) او بعض ئے د حاطب او بعض ئے د عمر رضی الله عنه نه ذکر کوی۔

مُتَعَمِّدًا: يعنی څوك چه په قصد او إراده سره زما زيارت وکړی۔ ددے مطلب دا دے چه څوك د تجارت يا رياء او سُمعت او يا بل کوم دنياوی غرض دپاره نهٔ بلکه صرف د ثواب حاصلولو دپاره زما زيارت دپاره راشی نو هغهٔ ته به دا سعادت حاصليږی۔

بَلَائِهَا: يعنی د مدينے په ګرمئ او تنګ ژوند او د هغه ځائے د مبتدعينو په فتنو باندے لکه چه صحابه کرامؓ د منافقانو په مصيبتونو باندے صبر کړے وو۔

شَهِيدًا: يعنی د هغهٔ د نيك عمل ګواهی به ورکوم او د هغهٔ د ګناهونو شفاعت به کوم۔

دے حديث نه هم معلوميږی چه د نبی ﷺ د قبر زيارت غوره عمل دے، او په مدينه کښې وسيدل بهتر عمل دے۔ دے نه بعض علماؤ دا دليل نيولے دے چه د نبی ﷺ د قبر دپاره سفر کول مستحب دی، ليکن دا روايتونه ضعيف دی، او تفصيل د مسئلے به روستو راشی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث : [ضعيف] أخرجه البيهقي في السنن الكبرى ۵/۲۴۵، وفي الشعب : ۴۱۵۲۔ وقال هذا اسناد مجهول۔ يعني فيه رجل من آل عمر مجهول.

2756 (29) — وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ مَرْفُوْعًا : " **مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِیْ بَعْدَ مَوْتِیْ** كَانَ كَمَنْ زَارَنِیْ فِیْ حَيَاتِیْ ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِیُّ فِیْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ .

ترجمه : **او ابن عمر ﷺ مرفوعاً روايت نقل كوی : چا چه حج وكړو او زما د مرګ نه روستو ئے زما د قبر ملاقات وكړو نو دے په شان د هغه چا دے چه زما په ژوند كښې ئے زما زيارت كړے وی۔ (دا دواړه روايتونه بيهقیؒ په شعب الايمان كښې نقل كړيدی)**

تشريح : فَزَارَ قَبْرِیْ : **د فاء تعقيبی نه معلوميږی چه اول حج پكار دے بيا د نبی ﷺ د قبر زيارت۔ ځكه چه د الله تعالیٰ حق مقدم دے په بندګانو باندے، ددے وجه نه تحية المسجد به د نبی ﷺ د قبر په زيارت باندے مخكښې كوی۔ او د بعض سلفو نه چه دا نقل دی چه هغوی به اول مدينے ته راتلل بيا مكے ته كله چه به ئے حج كولو۔ نو هغوی خپله ددے وجه دا بيان كړے چه مدينے سره ذو الحليفه ميقات دے، او ددے نه به ئے احرام د حج تړلو۔ او هغوی دا وجه نۀ ده ذكر كړے چه ګنے دلته د نبی ﷺ د قبر زيارت دے، بلكه هغه به په اتفاقی او اچانك طريقے سره راتللو۔**

دا حديث دليل دے چه د نبی ﷺ د قبر زيارت مستحب عمل دے، او دا اجماعی مسئله ده۔

ددے نه سُبكیؒ او د هغۀ موافقينو دليل نيولے چه د نبی ﷺ د قبر زيارت دپاره سفر كول جائز دی۔ ځكه چه د بهر خلكو دپاره د سفر نه بغير زيارت نۀ كيږی۔ ليكن دا استدلال په محل د نظر كښې دے، ځكه چه نبی ﷺ فرمايلی دی : [لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا اِلٰی ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ] **تاسو سفر مكوئ (په نيت د عبادت سره) مګر صرف درے مساجدو ته۔ او خپله هم د نبی ﷺ نه د قبر د زيارت دپاره سفر نۀ دے نقل۔ كه داسے په مُطلقاتو باندے دليل ونيولے شی، نو بيا به ټول بدعی مونځونه او بدعی اذكار جائز شی ځكه چه مطلق مونځ او ذكر ته ترغيب راغلے دے، ليكن دا عبادات دی او په عبادت كښې نقل ضروری وی۔ او دا خبره هم هله صحيح ده چه كله دا دواړه روايتونه ثابت شی ليكن دا نۀ دی ثابت۔ او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په كتاب الزيارة كښې سفر د قبر دپاره مكروه ګڼړی او دا ټول روايات موضوع ګڼړی او تفصيل ئے د الصارم المنكی په كلام كښې**

Maktaba Tul Ishaat.com

وشو- لهذا د قبر دپاره زيارت نشته البته كه مدينې ته لاړے بيا به زيارت كوے، سنت طريقه ده-

درجة الحديث : [ضعيف] أخرجه البيهقي في الشعب (٤١٥٤) وقال حفص بن ابى داود وهو ضعيف وضعفه الهيثمي في مجمع الزوائد (٢١٤) وقال محمد ابن عبد الهادى في الصارم المنكى ص : ١١٤- منكر المتن ساقط الإسناد.

2757 (30) – وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ جَالِسًا وَقَبْرٌ يُحْفَرُ بِالْمَدِيْنَةِ فَاطَّلَعَ رَجُلٌ فِي الْقَبْرِ فَقَالَ : **بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ** فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **بِئْسَ مَا قُلْتَ** " قَالَ الرَّجُلُ إِنِّيْ لَمْ أُرِدْ هٰذَا إِنَّمَا أَرَدْتُ الْقَتْلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **لَا مِثْلَ الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ،** مَا عَلَى الْأَرْضِ بُقْعَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَكُوْنَ قَبْرِيْ بِهَا مِنْهَا " ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا .

ترجمه : او يحيى بن سعيدّ فرمائي : چه رسول الله ﷺ (يوه ورځ) ناست وو او په مدينه كښې يو قبر كنستے شو نو يو سړے قبر ته ورښكاره شو او وے وئيل : (دا) د مؤمن د ډډے لګولو ډير بد ځائے دے نو رسول الله ﷺ وفرمايل : بده خو هغه خبره ده چه تا وكړه- نو هغه سړي وويل : زما اراده دا نۀ وه، (بلكه) زما مقصد (ددے خبرے نه) د الله تعالىٰ په لاره كښې شهيد كيدو (فضيلت ښكاره كول) وو- نو رسول الله ﷺ وفرمايل : (آو دا خبره خو صحيح ده چه) د الله تعالىٰ په لاره كښې شهيد كيدو نه بهتر هيڅ شے نشته دے، ليكن (دا خبره هم ده چه) د زمكے هيڅ يوه ټكړه هم داسے نشته چه ما ته ددے نه زياته محبوبه وي چه زما قبر دے جوړ شي د مدينے نه، درے كرته ئے دا خبره وكړه- (دا روايت امام مالكؒ په طريقه د ارسال سره نقل كړيدے)

تشريح : جَالِسًا : يعني مقبره كښې ناست وو- دا ناسته ئے د مړي د فضيلت او د هغۀ د ديندارئ يا د خلكو د نصيحت اخستو په طريقه كړے وه- يا بل مقصد دپاره ناست وو نو مينځ كښې پكښې قبر كنستل هم راغلل- اول مقصد ظاهر دے-

بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ : مضجع د ډډے ځائے لګولو ته وائي- يعني قبر- دا خبر د مبتداء دے (هذا) يعني دا قبر- (يا مخصوص بالذم روستو مقدر دے يعني القبر)-

بِئْسَ مَا قُلْتَ : يعني تا چه مطلقاً د قبر بدي بيان كړه نو دا صحيح خبره نۀ ده ځكه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

قبر خو د مؤمن دپاره د جنت د باغيچو نه باغيچه هم ده۔

لَمْ أُرِدْ هٰذَا : يعني زما د قبر بدى بيانول مقصد نهٔ دے۔ يا زما دا مقصد نهٔ دے۔ بلكه زما مقصد دا دے چه په بستره باندے د خپل مرگ په ځائے شهادت فى سبيل الله غوره دے۔

هركله چه ددے سړى مقصد صحيح وو ليكن الفاظ ئے خطاء وو نو نبى ﷺ ئے اصلاح وكړه، بيا هركله چه هغه مقصد صحيح بيان كړو نو نبى ﷺ ئے تائيد وكړو۔

يا ددے مطلب دا دے چه د نبى ﷺ گمان راغلو چه دا شخص په مدينه كښے د دفن كيدو بدى وائى، پدے وجه ئے په هغهٔ باندے رد وكړو ليكن هركله چه هغهٔ خپل مقصد بيان كړو، نو نبى ﷺ ئے تائيد وكړو، كه نبى ﷺ د هغے نه اول دا فهم كړے وے نو بيا خو ښكاره دا وه چه داسے ئے ورته وئيلے : زهٔ ستا په مقصد پو هه يم ليكن ددے سره سره دا مقصد خطاء دے ځكه چه تا مشترك لفظ راوړو يا دِے د مفضول سَره د فضيلت نه عيب ووئيلو۔ دا دليل دے چه رسول الله ﷺ په غيبو نهٔ پو هيدو۔

لَا مِثْلَ الْقَتْلِ : پدے كښے ئے د دغه شخص د خبرے تائيد او تصديق وكړو۔ يعنى هيڅ شے د شهادت فى سبيل الله سره په فضيلت او ثواب كښے برابر نهٔ دے۔ ليكن په مدينه كښے دفن كيدل زياتى فضيلت دے، بيا ئے هغه بيان كړو۔

بُقْعَةٌ : جمع ئے بُقَعْ او بِقَاعْ دے۔

نبى ﷺ په مدينه كښے خپل قبر خوښ كړو ددے نه د مدينے فضيلت معلوميږى په مكه باندے پدے خاص فضيلت كښے۔

على القارىؒ وائى : په مدينه كښے مرگ بهتر دے البته پدے كښے اختلاف دے چه په مكه كښے مجاورت زيات افضل دے او كه په مدينه كښے۔ دا وجه ده چه عمر فاروق رضي الله عنه به سوال كولو چه اے الله ! زما مرگ ستا د رسول په ښار كښے وگرځوه۔ (بخارى) دارنگه د احاديثو نه معلوميږى چه شهادت فى سبيل الله او په سفر كښے وفات كيدل په مدينه كښے د مرگ نه هم زيات بهتر دى۔ البته په مدينه كښے وفات او شهادت دواړه راجمع كيدل ډير بهتر دى۔

بعض علماؤ لكه طيبىؒ د (لَا مِثْلَ الْقَتْلِ) مطلب دا بيان كړے چه په مدينه كښے مرگ د قتل فى سبيل الله په شان نهٔ دے بلكه دا ډير افضل دے، او دا قول چه (مَا عَلَى الْأَرْضِ الخ)

Maktaba Tul Ishaat.com

د مدينے په افضليت باندے دليل دے۔ نو ددے نه معلومیږي چه مرګ او دفن په مدينه کښے د شهادت فی سبيل الله نه بهتر دے۔ ليکن ددے مطلب په صورت کښے عبارت داسے کيدل پکار وو: [لَيْسَ الْقَتْلُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ مِثْلَ الْمَوْتِ فِي الْمَدِيْنَةِ]۔

يعني شهادت في سبيل الله د مرګ د مدينے په شان نۀ دے۔ اول مطلب زيات ظاهر دے ځکه چه امام مالك دا روايت په ابوابو د فضائل الجهاد کښے راوړيدے۔

د علامه باجیؒ، قاریؒ، طيبيؒ او صاحب المحلي د کلام نه درے خبرے ښکاره کيږي:

(۱) يو دا چه شهادت في سبيل الله د مرګ د مدينے نه افضل دے د جمهورو په نيز باندے۔ او علي القاريؒ پدے باندے د اجماع دعوه کړيده۔

او طيبيؒ ددے په خلاف وئيلي دي چه مرګ او دفن په مدينه کښے د شهادت نه افضل دے۔ مګر دا خبره ضعيفه ده ځکه چه د صحابه کرامو ﷺ د عمل مخالفه ده۔

(۲) دويم دا چه مرګ په مدينه کښے غوره دے د مرګ نه په سفر کښے لکه دا په بل حديث کښے راغلي دي۔

(۳) دريم دا چه ددے نه فضيلت د مدينے معلوميږي په مکه باندے ليکن دا خبره ضعيفه ده، صرف پدے جزئي کار کښے د مدينے افضليت راغلے دے۔

درجة الحديث: [ضعيف] أخرجه مالك (۲/٤٦۲) وإسناده ضعيف لارساله وقال ابن عبد البر: لا أحفظ له مسندا ومعناه محفوظ في الأحاديث المرفوعة۔

2758 (31) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِوَادِي الْعَقِيْقِ يَقُوْلُ: أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّيْ فَقَالَ: صَلِّ فِيْ هٰذَا الْوَادِيْ الْمُبَارَكِ وَقُلْ: عُمْرَةٌ فِيْ حَجَّةٍ". وَفِيْ رِوَايَةٍ: "**قُلْ عُمْرَةٌ وَحَجَّةٌ**". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائي: عمر بن الخطاب ﷺ وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل په داسے حال کښے چه هغه په وادي العقيق کښے وو چه فرمايل ئے: ما ته بيګاه شپه د خپل رب د طرف نه يو راتلونکے (يعني ملائك) راغلو نو ما ته ئے ووئيل: پدے مبارکه وادي کښے مونځ وکړه او هغه عمره ووايه چه د حج سره کيږي۔ او په يو روايت کښے دي چه: عمره او حج ووايه۔ (بخاريؒ)

تشريح: بِوَادِي الْعَقِيْقِ: دا ذو الحليفے ته نزدے ځائے دے۔ ددے او د مدينے ترمينځ

Maktaba Tul Ishaat.com


خلور ميله مزل دے۔

صَلِّ فِيُ هٰذَا الْوَادِيُ : بعض وائی : دا سهار مونځ وو، او بعض وائی : دا د احرام مونځ وو ليکن شيخ الاسلام ابن تيميةؒ وئيلی دی چه د احرام دپاره خاص مونځ په سنت کښے نۀ دے راغلے او هرچه پدے مونځ باندے امر راغلے دے نو دا ددے وادی خصوصيت دے۔

عُمْرَةٌ فِيُ حَجَّةٍ : (فِيُ) په معنیٰ د مَعَ سره دے، يعنی په يو سفر کښے عمره او حج دواړه ملګری کوم۔ دا دليل دے چه نبی ﷺ قارن وو۔

بعض وائی : فِيُ د اندراج دپاره ده۔ يعنی د عمرے اعمال په حج کښے داخليږی، چه د دواړو دپاره به يو طواف کافی وی۔ اول قول ظاهر دے۔

او صاحب المشکاة دا حديث په آخر کښے راوړو ديته براعة الختامه وائی، چه پدے کښے اشاره ده چه د حج او عمرے بحث ختم شو۔ وبالله التوفيق والله اعلم وعلمه اتم واحکم۔



Maktaba Tul Ishaat.com

۸- كِتَابُ الْبُيُوعِ

د اخستلو او خرخولو د احکامو او مسائلو بیان

دلته څو بحثونه پیژندل دی (۱) مناسبت (۲) د بیع معنی لغوی او اصطلاحی (۳) د بیعې اقسام۔

مناسبت : هر کله چه مصنف د عباداتو د بیان نه فارغ شو چه ددے نه مقصد ثواب وی، نو اُوس معاملات بیانوی چه انسان سره دا په عباداتو باندے مدد کوی او قائم ئے ساتی۔ دارنګه په عباداتو کښے معامله د خالق سره وی، اُوس معامله د مخلوق سره بیانیږی، او کتاب النکاح ئے روسته کړه ځکه چه ددے ضرورت د خوراك څکاك وغیره نه روستو دے۔ بلکه دا چه د عبادت د صحت دپاره شرط، حلال خوراك دے۔

[الْبُیُوْعِ] : جمع د بَیع ده، بیع مصدر دے خرخولو ته وائی، یعنی یو شے ورکول او بل خستل، دا د بَاع نه مشتق دے، لاس اوږدولو ته وائی، په دے کښے هم بائع او مشتری یو بل ته د سودا او پیسو دپاره لاس اوږدوی، بیعت هم ددے نه ماخوذ دے ځکه په دے کښے هم خلیفه ته د مصافحے دپاره لاس اوږدولے شی۔ (بیع) خرخولو او (شراء) اخستلو ته وائی، لیکن بیع او شراء دواړه یو د بل په معنیٰ راځی، ځکه په دواړو کښے یو شے ورکول او بل اخستل دی۔

او شرعًا : (۱) مُبَادَلَةُ مَالٍ بِمَالٍ عَلَى وَجْهِ التَّمْلِيْكِ بِصِيْغَةٍ مَعْرُوْفَةٍ قَوْلِيَّةٍ اَوْفِعْلِيَّةٍ ۔

(یو مال د بل مال په عوض، د ملکیت حاصلولو دپاره په معلومه قولی یا فعلی صیغے سره بدلول) قولی صیغه داده چه دا شے مے دربانده درخرخ کړو، او هغه بل ووائی چه ما قبول کړو۔ او فعلی صیغه دیته وائی چه بائع سودا په پټه خُلهٔ ورکړی او

Maktaba Tul Ishaat.com

مشتری په پته خُلۀ پیسے ورکړی. او دے روستنئ صورت ته بَیعُ الْمُعَاطَاة وائی.

(۲) بعضو دا تعریف کړے : مُعَاوَضَةُ عَینٍ أَوْ مَنفَعَةٍ بِمِثْلِهِمَا، وَلَوْ فِی الذِّمَّةِ عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوْعِ (په جائزه طریقه سودا یا منفعت، د سودا یا منفعت په عوض ورکول، نقد وی که نسیه) د عین مثال لکه کور، ګاړے یا کتاب شو. د منفعت مثال لکه په یو ځائے باندے د ورتیریدلو حق اخستل. او د فی الذمة مثال لکه : داسے کتاب چه دا دا صفت لری یا ګاړے چه فلانے فلانے صفت لری. او عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوْعِ : د ربا او سود وبنکلو دپاره دے، ځکه په سود کښے هم عوض وی خو دا مشروع نۀ وی بلکه حرام وی.

(۳) بعضو لنډ تعریف کړے : مُبَادَلَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ عَلَى سَبِیْلِ التَّرَاضِیُ :

یعنی مال په مال بدلول سره د رضا مندئ نه. نو د رضامندئ قید لګولو سره د لغوی بیع نه شرعی بیع جوړیږی.

(٤) مګر راجح دا ده چه داسے ووئیلے شی : مُبَادَلَةُ الْمَالِ اَوِ الْمَنُفَعَةِ بِالْمَالِ مَعَ التَّرَاضِیُ :

یعنی مال یا منفعت په مال سره بدلول په شرط د رضا د جانبینو سره.

❁ او بیوع ئے جمع په دے وجه ذکر کړه چه ددے اقسام او انواع زیات دی.

د بیوعو څلور غټ قِسمونه دی : (۱) بیع العروض بالعروض (سامان د سامان په عوض اخستل خرڅول) دیته ((مقایضه)) (بیع تبادله) هم وئیل کیږی. (۲) بیع العروض بالنقود (د روپو پیسو په عوض سامان اخستل خرڅول) او همدے ته ((بیع)) وائی، ځکه د بیع په ټولو قِسمونو کښے دا د ټولو نه زیات مشهور قِسم او زیات رائج دے. (۳) بیع النقود بالنقود (مروجه سیکے او نوټونه د سیکو او نوټونو په عوض اخستل خرڅول) دیته بیع ((صرف)) هم وائی یعنی صرافی کول. (٤) بیع المنفعة بالمال (د مال په عوض منافع اخستل خرڅول، که دا مال د سامان په صورت کښے وی یا د نقدو) دیته ((اِجاره)) وائی.

❁ د بیع او شراء جواز په کتاب، سنت، اجماع د امت او صحیح عقل او قیاس په څلور واړو دلائلو سره ثابت دے. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَأَحَلَّ اللهُ الْبَیْعَ﴾ [البقرة : ۲۷۵] (الله تعالی اخستل خرڅول جائز کړی دی) او نبی ﷺ فرمائی: [اَلْبَیِّعَانِ بِالْخِیَارِ مَا لَمْ یَتَفَرَّقَا] [بخاری: ۲۰۷۹، مسلم: ۱۵۳۲] (بائع او مشتری دواړو له د جدا کیدو نه مخکښے اختیار حاصل دے) او په خرید او فروخت باندے د مسلمانانو اجماع ده. او قیاس هم ددے تقاضا

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی ځکه یو تن سره یو شے دے او بل تن ورته ضرورت لری نو په عامه توګه ئے ورله مفت نۀ ورکوی بلکه هغه ورباندے خرڅوی نو ددے اخستلو ته ضرورت دے۔ بله دا چه انسان مدنی الطبع دے، په معاش او ژوند تیرولو کښے اخستلو خرڅولو ته محتاج دے۔ که چرے اخستل خرڅول جائز نشی نو د یو تن به یو شئ ته ضرورت وی او هغه بل تن به ئے نۀ ورکوی نو ددے نه به جنګ جګړے او لوټ مار پیدا شی نو ددے د ختمولو دپاره شریعت بیع او شراء مشروع ګرځولے۔

مصنفؒ په کتاب البیوع کښے اتلس (۱۸) بابونه قائم کړی۔

۱- بَابُ الْکَسْبِ وَطَلَبِ الْحَلَالِ

د کسب او حلال مال طلب کولو بیان۔

مسئله : کوم کسب بهتر دے؟

پدے کښے د اهل علمو اختلاف دے، ماوردیؒ وئیلی دی چه اصول د کسبونو زراعت، تجارت او صنعت دے، او د امام شافعی رحمه الله په نیز مزیدار کسب تجارت دے۔ لیکن زما په نیز بهترین کاروبار زراعت دے ځکه چه دا کار توکل ته زیات نزدے وی، انتهیٰ۔ مګر دا قول مرجوح دے د وجه د روستو حدیث نه چه په هغے کښے مزیدار کسب د لاس کاروبار ته وئیلے شویدے۔ بیا ئے وئیلی دی چه که یو تن زراعت والا وی، نو دا بهترین کاروبار دے ځکه چه دے کښے هم د لاس عمل شته او بل پکښے توکل هم دے، او بل پدے کښے د انسانانو او د حیواناتو عمومی فائده ده او بل دا عادةً بغیر د عوض نه خوړلے شی۔

حافظ ابن حجرؒ لیکی : ددے تولو نه زیات بهترین کسب چه د لاس عمل دے هغه غنیمت دے چه د کفارو نه په جهاد سره نیولے شی، او دا د نبی ﷺ او د هغۀ د ملګرو کاروبار وو او دا د ټولو کسبونو نه زیات شرافت والا دے ځکه چه یو خو پدے کښے اعلاء د کلمة الله ده، او بل د دشمنانو کلمه خکته کول دی، او اُخروی نفع ده، او متعدی فائده

Maktaba Tul Ishaat.com

يواځې په زراعت کښې نۀ ده بلکه هر هغه کار چه د لاس وي او فائده ئې عامه وي چه په هغې کښې د خلکو ضرورتونه پوره کولې شي هغه بهتر دے۔ ليکن حقه خبره دا ده چه دا د مراتبو په اعتبار سره مختلف کيږي او کله د حالاتو او اشخاصو په اعتبار سره مختلف کيږي۔ والله اعلم۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2759 (1) - عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَّأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ** وَإِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوٗدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: مقداد بن معديکرب ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هيچا هيڅ طعام هيڅکله بهتر نۀ دے خوړلے ددے نه چه د خپلو لاسونو د کسب نه خوراك کوي او د الله تعالىٰ نبي داود ﷺ به د خپلو لاسونو د لاس نه خوراك کولو۔ (بخاريؒ)

تشريح: خَيْرًا: د خيريت مطلب دا دے چه انسان د لاس په کاروبار سره د خلکو نه بے حاجته کيږي۔

داود ﷺ ئې په مثال کښې ذکر کړو سره ددے نه چه نورو انبياء عليهم السلام به هم په خپلو لاسونو کاروبار کولو، ددے وجه دا ده چه داود ﷺ د لاس کاروبار پدے وجه نۀ وو چه هغه محتاج وو، ځکه چه هغه خو د زمکے خليفه وو، ليکن هغۀ د بهترے لارے نه رزق طلب کول غوښتل۔

دا حديث دليل دے چه کاروبار د توکل سره منافات نۀ لري، بلکه انبياء عليهم السلام د ټولو نه زيات توکل والا دي، او هغوی به کاروبار کولو۔

او معلومه شوه چه يو شے په دليل سره ذکر کول د آوريدونکي په دماغو کښې ښه واقع کيږي۔

2760 (2) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا** وَإِنَّ اللّٰهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِيْنَ فَقَالَ: (يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا) وَقَالَ: (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ) ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيْلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: **يَا رَبِّ يَا رَبِّ** وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِّىَ بِالْحَرَامِ فَأَنّٰى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ (د تمامو عيبونو نه) پاك دے، نۀ قبلوي مگر پاك (مالونه او اعمال چه د شرعي عيبونو او د خراب نيت نه پاك كوي) او يقيناً الله تعالىٰ مؤمنانو ته په هغه خبره حكم كړے چه پيغمبرانو ته ئے په هغے حكم كړے نو (هغوي ته ئے) فرمايلي : اے رسولانو ! خورئ د پاكو څيزونو نه او نيك عمل كوئ، او (ايمان والو ته ئے) فرمايلي : اے ايمان والو ! خورئ د پاكو هغه مالونو نه چه ما دركړي تاسو ته. بيا نبي كريم ﷺ هغه سړے ذكر كړو چه اُوږد سفر كوي، پراگنده ويښتو والا خړپړ وي، دواړه لاسونه ئے آسمان طرف ته اُوږد كړي وي (داسے وائي) اے زما ربه ! اے زما ربه ! (د هغۀ نه دعاگانے غواړي) حال دا چه خوراك ددۀ حرام وي او څكاك ئے حرام وي او لباس ئے حرام وي او (د شروع نه) ددۀ پرورش په حرامو (غذاگانو) سره شوے وي نو څرنگه به ددۀ دعا قبوله كړے شي. (مسلمؒ)

تشريح : دا حديث يو د هغه احاديثونه دے چه د اسلام قواعد دي او د احكامو بنياد دے. پدے كښے تيزي وركول دي چه د حلالو نه انفاق پكار دے او د حرامو نه انفاق نۀ قبليږي. او كيدے شي چه نور عملونه هم ورسره برباد شي.

إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ : يعني الله تعالىٰ پاك او مزيدار ذات دے.

وَإِنَّ اللّٰهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ : يعني الله تعالىٰ انبياؤ ته چه كوم حكم كړے همغه ئے مؤمنانو بندگانو ته هم كړے چه پاك خوراكونه كوئ او نيك عمل كوئ. ددے وجه دا ده چه نيك عمل بغير د پاك او حلال خوراك نه نۀ قبليږي او په پاك او حلال خوراك سره انسان ته د نيك عمل توفيق ملاويږي. د يو بل سره ئے زور تعلق دے.

ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ : يعني بيا رسول الله ﷺ د يو سړي تذكره وكړه چه هغه د حج يا مسلمان ملاقات يا صله رحمئ دپاره سفر باندے راوتے وي او ټول شرطونه ئے د دعاء برابر كړي وي، لكه سفر حالت كښے هم دعاء ښه قبليږي، بيا چه د عبادت سفر وي، لكه حج او عمره وغيره، او الله تعالىٰ ته انتهائي عاجز خړ پړ وي. او لاسونه ئے هم په دعاء كښے د ډيرے عاجزئ دپاره آسمان ته پورته كړي وي، لكه دا د دعاء د آدابونه ده. او يارب يا رب لفظ وائي چه دا اسم اعظم دے. (د ابن عباس ﷺ د قول مطابق) ليكن دا شرط پكښے نۀ وي چه خوراك څكاك او لباس ئے حرام دے. ددے يو شرط په وجه ئے دعا نۀ قبليږي.

فَأَنّٰی یُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ : [اَیْ مِنْ أَیْنَ یُسْتَجَابُ لِمَنْ هٰذِهٖ صِفَتُهٗ وَکَیْفَ یُسْتَجَابُ لَهٗ] (نوویؒ) یعنی د چا چه دا حالت او صفت وی د هغهٔ دعاء به د کوم ځائے او څرنګه قبوله شی۔ یعنی د عبادت او دعاء منافی او ضد کارئے یو ځائے کړیدے۔

2761 (3) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ :" **یَأْتِیْ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَا یُبَالِی** الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : په خلکو به داسے زمانه راشی چه سړے به باك نهٔ کوی چه د څه نه ئے (خپل رزق) واخستو، آیا د حلالو نه یا د حرامو نه۔ (بخاریؒ)

تشریح : ابن التینؒ وائی : نبی ﷺ دا خبر ورکړو پدے سره امت د مال د فتنے نه یره وی ځکه چه د مال فتنه ډیره سخته ده۔ او دا د نبی ﷺ د نبوت د دلیلو نه دے، ځکه چه د هغه خبرو خبرئے ورکړو چه د نبی ﷺ په زمانه کښے موجود نهٔ وو او همدغه شان واقع شوه۔ او دلته د حلالو او حرامو د تمییز نه بغیر مال اخستو بدی بیان شویده ورنه د حلالو نه اخستل بد نهٔ دی۔ (فتح الباری ۲۹۶/٤)

أَمِنَ الْحَلَالِ : ددے تمییز نهٔ کولو وجه به دا وی چه د خلکو دین به کمزورے وی او فتنے به عامے وی۔ او نبی ﷺ فرمائی : چه دین به بیرته ناشنا کیږی لکه څنګه چه اول کښے ناشنا وو۔

2762 (4) – وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِیْرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : "**اَلْحَلَالُ بَیِّنٌ وَالْحَرَامُ بَیِّنٌ وَبَیْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا یَعْلَمُهُنَّ کَثِیْرٌ مِنَ النَّاسِ** فَمَنِ اتَّقَی الشُّبُهَاتِ اِسْتَبْرَأَ لِدِیْنِهٖ وَعِرْضِهٖ، وَمَنْ وَقَعَ فِی الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِی الْحَرَامِ کَالرَّاعِیْ یَرْعٰی حَوْلَ الْحِمٰی یُوْشِكُ أَنْ یَّرْتَعَ فِیْهِ، أَلَا وَإِنَّ لِکُلِّ مَلِكٍ حِمًی، أَلَا وَإِنَّ حِمَی اللّٰهِ مَحَارِمُهٗ، أَلَا وَإِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الْجَسَدُ کُلُّهٗ وَإِذَا فَسَدَتْ **فَسَدَ الْجَسَدُ کُلُّهٗ** أَلَا وَهِیَ الْقَلْبُ ". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او نعمان بن بشیر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : حلال ښکاره دی او حرام ښکاره دی، او ددے دواړو ترمینځ مشتبهات دی، چه پدے باندے ډیر خلك نهٔ پوهیږی، نو څوك چه د شبهاتو نه بچ شو (نو) دهٔ خپل دین او خپل عزت صفا کړو او

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك چه په شبهاتو كښې واقع شو هغه په حرامو كښې پريوتو، لكه يو شپونكے چه (گډے بزے) د چراگاه نه گيرچاپيره څروي، نزدے ده چه په هغے كښې به ئے وڅروي، خبردار د هر بادشاه يوه چراگاه (محفوظ ځائے) وي، خبر شئ چه د الله تعالىٰ چراگاه (محفوظ ځائے) د هغۀ حرام كړده څيزونه دي، خبر شئ چه يقيناً په زړۀ كښې يوه ټكړه د غوښے ده كله چه هغه برابره شي ټول بدن به ئے برابر شي او كله چه دا خرابه شوه نو ټول بدن به ئے خرابيږي، خبردار هغه زړۀ دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ : يعني په دين كښې خالص حلال څيزونه ښكاره او واضح دي، دا هغه دي چه الله تعالىٰ او د هغۀ رسول هغه ښكاره الفاظو سره ذكر كړي وي، او د مسلمانانو په هغے باندے اتفاق وي، لكه روټئ او ميوه جات او جائز تيلونه او گبين وغيره۔ او حرام هم ښكاره دي، لكه زنا، غلا، غيبت، حسد، سود، خيانت وغيره۔

يعني د حلالو او حرامو ذات او صفات په ښكاره دليلونو سره موجود دے۔ د حلالو او حرامو اتيا (۸۰) مثالونه او د مشتبهاتو (۵۰) مثالونه فتاوى الدين الخالص (۱۰) جلد كښې وگورئ۔

مُشْتَبِهَاتٌ : دے كښے پنځه قراء تونه راغلي دي : (۱) مُشْتَبِهَات۔ مشكل څيزونه چه په دواړو طرفونو كښې ئے شبهه وي نو كله د حلالو سره مشابه وي او كله د حرامو سره۔

(۲) مُتَشَبِّهَات۔ دا د مخكښے په معنىٰ دے، ليكن په معنىٰ كښے ئے تكلف دے۔ (۳) مُشَبَّهَات يعني د حلالو سره مشابه كړے شوي۔ (٤) مُشَبِّهَات۔ (په صيغه د اسم فاعل) ځان د حلالو سره مشابه كوي۔ (۵) مُشْبِهَات۔ د مخكښے په شان معنىٰ ئے ده۔ (عينيؒ)

حافظ ابن حجرؒ ليكي : شبهات څلور څيزونه دي : (۱) كله تعارض د ادلهٔ وي، يو دليل ئے حلالو ته راخكاږي او بل ئے حرامو ته۔ (او دواړه دليلونه قوي وي)۔

(۲) يا د علماؤ د اختلاف د وجه نه اشتباه پيدا كيږي، لكه يو عالِم ورته حلال وائي او بل حرام، او يو سره هم قوي دليل نۀ وي، چه نفس پرے اطمينان وكړي بلكه كلك شك وي نو دے وخت كښے هم ځان ساتل پكار دي۔

(۳) يا ددے نه مراد مكروه دي، ځكه چه مكروه د بنده او د حرامو ترمينځ يو كنډو دے، څوك چه مكروهات زيات كړي حرامو ته به ورځي او مباح د بنده او د مكروه ترمينځ كنډو دے، چا چه مباح زيات كړل مكروه ته به ورځي۔ (نقله ابن المنيرؒ عن شيخه

Maktaba Tul Ishaat.com

القباریؒ)۔ (٤) یا ددے نه مراد مباح دی۔ لیکن د هغے په کولو او نۀ کولو د یو خارجی امر د وجه نه اِشتبهاه راغلی وی، انتهیٰ۔

(۵) کله اِشتبهاه پدے وجه واقع شی چه بنده سره دلیل موجود نۀ وی چه دا شے حلال دے او که حرام، نو حیران پاتے شی۔

حافظ ابن حجرؒ وائی: دا اشتبهاه د اشخاصو او د احوالو په اعتبار سره مختلف کیږی ځکه چه ماهر عالِم باندے د مسئلے حکم نۀ پټیږی نو هغۀ دپاره اشتبهاه صرف په ډیرو مباحو یا مکروه کښے راځی، او که څوك خکته عالِم وی نو هغۀ ته اشتبهاه په نورو وجوهو سره راځی۔

او داسے مسئله نشته چه په امت کښے هیچا ته نۀ وی معلومه، ددے وجه نه ئے روستو وفرمایل: [لَایَعْلَمُهُنَّ کَثِیْرٌ مِنَ النَّاسِ] یعنی ډیر عالمان به پرے نۀ پوهیږی اگرکه بعض ماهرینو علماؤ ته به د هغے حکم معلومیږی۔ ددے نه معلومه شوه چه په دین کښے داسے څیزونه نشته چه هغه شکی وی، او بیخی هیچا ته ئے حکم نۀ وی معلوم چه دا حلال دی او که حرام۔ نو معلومه شوه چه اشتبهاه به په نسبت سره عالِم او مجتهد ته وی، ورنه دا مسئله به په کتاب او سنت کښے ضرور موجوده وی، لیکن لږ په مشکل او تدبر سره به معلومیږی، کله به د یو عالم په یوه مسئله کښے اشتبهاه او شك وی نو دا ضروری نۀ ده چه د ټولے دنیا عالمانو به شك وی، نه، بلکه دا شك به د هغۀ په نسبت وی۔ کیدے شی چه هغۀ ته به دلیل نۀ وی رسیدلے۔ یا به ورته ذکر شوے دلیل کمزورے ښکاره شوے وی، یا به ورته تعارض د ادله ؤ راغلے وی، او ترجیح به ورته نۀ ښکاره کیږی۔

ددے وجه نه کله چه تا ته د یوے مسئلے دلیل نۀ وی معلوم، او دا معلومه نۀ وی چه دا کاروبار، یا شے حلال دے یا حرام؟ نو د هغے نه ځان ساتل ورع او تقویٰ ده۔

د اشتباه د پیدا کیدو نور صورتونه:

حافظ ابن رجبؒ فرمائی: کله اشتبهاه پدے وجه واقع کیږی چه د یو شی د حل او حرمت اسبابو کښے اشتبهاه وی لکه د یو انسان شك وی چه دا شے ددۀ ملکیت دے او که نۀ؟ یا پدے کښے شك وی چه دا ددۀ د ملکیت نه زائل شوے او که نۀ، او کله اشتبهاه

Maktaba Tul Ishaat.com

پـدے وجـه واقـع کـیږی چـه حـلال د حـرامـو سره ګډ وډ شی په طعامونو او څکاکونو او نـورو مـائـعاتو کښے، مکیلات وی یا موزونات یا نقود وی۔ نو ددے څیزونو په باره کښے چـه چا ته علم وی چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول حکم ته ئے ورسوی او بیا ورپسے روان شی نـو دا حق والا دے، او چا باندے چه ګډ وډ والے راشی او ځان ترے وساتی نو دهٔ غوره کار وکړو او خپـل دین او عزت ئے محفوظ کړو او په دنیا او آخرت کښے د هغے د نقصان نه بچ شو۔

فَمَنِ اتَّقَی الشُّبُهَاتِ : یـعـنـی څوک چه ځان وساتی د شبهاتو نه۔ یا څوک چه یره وکړی د شبهاتو نه۔

اِسْتَبْرَأَ لِدِیْنِهٖ : امـام بـخـاریؒ ددے نه دلیـل نیولے دے چه د عزت او دین صفا ساتل د ایمان یـوه حـصـه ده۔ بنده به داسے کارونه نکوی، چه ددهٔ عزت او دین خیرن کړی، او د خلکو د خبـرو محل وګرځی، رسول الله ﷺ به د ځان نه شبهات دفع کول۔ او پدے کښے تیزی ده په ورع (پرهیزګاریٔ) باندے۔

او ددے نـه دا معلومه شوه چه څوک د شبهاتو نه په کسب او معاش کښے ځان نهٔ ساتی نـو هـغـه بـه ځـان د خـلـکـو طعن ته پیش کـوی۔ بنده به دا ګمان نهٔ کوی چه خلك په ما اعتـمـاد کـوی ځکه چه دشمنان زیات دی، کله به ددهٔ نه داسے خبرے مشهورے کړی چه هـغـه بـه دروغ وی دے دپاره چه د خلکو ترمینځ ددهٔ عزت او قدر راخکته کړی۔ دے وجه نـه لازم دی چه بـنـده خـپـل دیـن او عـزت صفا وساتی دے دپاره چه د شرونو نه محفوظ شی۔

وَقَعَ فِی الْحَرَامِ : یـعـنـی څـوك چه په شبهاتو کښے واقع کیږی نو یوه ورځ به په حرامو کښے هم واقع شی، لکه هغه شپونکی چه ګډے بزے چراګاه خوا ته څروی، نو نزدے ده چه په هغے کښے ګډے بزے وڅروی۔ یا پدے وجه چه په مشتبهاتو استعمالولو سره زړه تـورے تیـارے والا جـوړ شی ځـکـه چـه د وَرَع رنړا ترے ختمه شی، نو بیا په حرامو کښے واقـع شـی۔ ځـکـه چه حدیث کښے دی : څوك چه یو شے د ګناه د اشتبهاه په وجه پریدی نو دے به د ښکاره ګناه خامخا زیات پریخودونکے وی۔

ددے بـلـه مـعـنیٰ دا شویده چه څوك په مشتبهاتو باندے اقدام کوی او دے پو هه نهٔ وی چـه دا حـلال دے یـا حرام؟ نو دے ددے نه په امن کښے نهٔ دے چه دغه شے به په نفس الامر

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې حرام وی نو په حرامو کښې به واقع شی او دے به خبر نۀ وی چه دا حرام دے۔

وَإِنَّ لِکُلِّ مَلِكٍ حِمًی : خصوصی د چراګاه مثال ذکر کولو کښې نکته او حکمت دا دے چه د عربو بادشاهانو به د خپلو څاروو دپاره خاص ځایونه محفوظ کول، چه بغیر د اجازت نه نورو خلکو ته به ئے په هغې کښې په څاروو څرولو باندې سخته دهمکی ورکوله نو نبی ﷺ هغوی ته هغه شے په مثال کښې ذکر کړو چه د هغوی ترمينځ مشهور وو، نو کوم شخص چه د سزا نه یریږی او د بادشاه رضا لټوی نو هغه د دغه چراګاه نه ځان وړاندې ساتی دے دپاره چه څاروی ئے د هغې نه هیڅ شے ونۀ خوری نو ددې نه وړاندې کیدو سره به دے ډیر محفوظ وی۔ او څوك چه نۀ یریږی او نۀ د بادشاه د رضا رعایت ساتی نو دے خواله ورځی او د هغې په اړخونو کښې څاروی څروی نو ډیره خطره ده چه یوه ګډه به په غیر ددۀ د اختیار نه یواځې شی او چراګاه ته به ننوځی۔ یا به دغه ځائے کښې ګیاه ختمه شی او چراګاه کښې به ګیاه تازه وی نو دے به د خپل ځان اختیارمند نشی او چراګاه ته به ننوزی نو الله تعالی بادشاه دے او د هغۀ چراګاه د هغۀ حرام کړی څیزونه دی۔

مسئله : آیا چراګاه ساتل جائز دی؟ نو دے کښې تفصیل دا دے چه که یو تن د خپل ځان دپاره یو ځائے چراګاه نیولے شی چه د نورو خلکو نه ئے وساتی، نو دا کار جائز نۀ دے ځکه چه حدیث کښې دی چه خلك په درے څیزونو کښې شریك دی، په اُوبۀ او ګیاه او اُور کښې۔ البته که د مسلمانانو د مصلحت او فائدے دپاره ئے ونیسی لکه د زکاة د اُوښانو دپاره یا د ګډو بزو او غوایانو دپاره، نو دے کښې باك نشته ځکه چه دا ئے د ځان دپاره نۀ ده نیولے،

لیکن دے کښې هم دا شرط دے چه نورو مسلمانانو ته پدے کښې ضرر نۀ وی، یعنی نور د څر ځایونه به فراخه وی، خو که مسلمانانو ته پدے چراګاه جوړه ولو کښې ضرر وو، چه مثلاً په علاقه کښې صرف همدا یو ځائے د څریدلو وی، او یو امیر هغه د نورو مسلمانانو نه بند کړی نو دا صحیح نۀ ده اګرکه دا ئے د مسلمانانو د مصلحت دپاره نیولی وی۔ ځکه چه عام مصالح به په خاصو مصالحو باندے مقدم کولے شی۔

او په حدیث کښې دی : (لَاحِمٰی اِلَّا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) یعنی چراګاه به صرف د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول دپاره وی، د الله تعالیٰ دپاره کیدو نه مراد دا چه هغه څاروی چه د الله دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

وي يعني د زکاة او جهاد څاروي. او د الله رسول هغه د خلکو د فائدې دپاره منتخب کړې. دې نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د رسول نه روستو هيچا له جائز نۀ دي چه ځانله چراګاه ونيسي.

بيا که يو بادشاه يو ځائې چراګاه کړو د مسلمانانو د مصلحت دپاره نو آيا بل چا له په هغې کښې څاروي څرول جائز دي او که نۀ؟ ظاهر د احاديثو دا دې چه دې پدې کار سره ګناهګار دې ځکه چه د (اَطِيْعُوا اللهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ) نه خلاف دې.

نو مسلمان به په هغې کښې تعدی نۀ کوی.

مُضْغَةً : دا د غوښې يوې تکړې ته وائي، دومره اندازه چه خوړونکې پرې شخوند وهلې شي. نو دې کښې د زړۀ د شان لوی والې ذکر دې، چه دا د ټولو اندامونو بادشاه دې. اګرکه حجم ئې ډير وړوکې دې.

نو کله چه د ظاهري اندامونو اعمال صحيح شي، دا دليل دې چه زړۀ صحيح شويدې، او کله چه د ظاهري اندامونو اعمال خراب شي دا دليل دې چه زړۀ خراب شوې، نو کوم خلك چه ګناهونو کښې ډوب وي، مونځ نۀ کوی، ګيره خرئيوی او بيا وائي چه زما ظاهر خراب دې ليکن زړۀ نه صحيح يم، ددې حديث په رُو سره دا صحيح نۀ وائي. (شرح کتاب الکبائر للفوزانؒ).

إِذَا صَلَحَتْ : دا د باب د نصر نه دې، او فراءؒ پکښې په ماضي کښې ضمه هم نقل کړې يعني د باب د کرُم نه، دا به په هغه وخت کښې مراد وي چه کله صلاحيت د هغۀ لازمي هيئت او حالت جوړ شي. **فائده** : حلال خوری او ورع د زړۀ د جوړيدو ښه ذريعه ده.

2763 (5) — وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيْثٌ وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيْثٌ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيْثٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او رافع بن خديج ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د سپي قيمت (عوض) خبيث دې، او د زناکارې ښځې اُجرت (ګټه) حرام دې او د حجام کسب خبيث دې. (مسلمؒ)

تشريح : [ثَمَنَ الْكَلْبِ] نه مراد د سپي خرڅول دي، ځکه ثمن د خرڅولو په عوض کښې راځي. او په [الْكَلْبِ] کښې الف لام استغراقي دی، ددې نه هر قِسم سپې مراد دې،

Maktaba Tul Ishaat.com

ښکاري وي که غیر ښکاري، په کور کښې ساتلو دپاره وي که بل یو وي۔ د حفاظت دپاره وي یا بل شي دپاره۔

خَبِیْثٌ : د خبیث (پلیت) یوه معنیٰ ده حرام، او کله په معنیٰ د مکروه سره راځي۔

د سپي خرڅولو حکم :

دے حدیث نه ثابته شوه چه سپے خرڅول او ددے ثمن اخستل حرام دي۔

مګر سپي په دوه قسمه دي (۱) کلب عَقور۔ چیچونکے ضرري سپے۔ نو ددے قتل واجب دے او اخستل او خرڅول ئے حرام دي۔ (۲) کلب غیر عقور او غیر مُؤذِیْ : (چیچونکے او ضرري نهٔ وي) دا دوه قسمه دے (۱) یو هغه دے چه تور سپے چه ذو نقطتین وي۔ یعني دوه ټاکي پکښې وي۔ ددے قتل هم واجب دے لکه په حدیث د مسلم کښې دي : [أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِقَتْلِ الْکِلَابِ ثُمَّ نَهٰی عَنْ قَتْلِهَا وَقَالَ عَلَیْکُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِیْمِ ذِی النُّقْطَتَیْنِ فَإِنَّهٗ شَیْطَانٌ]۔ (رسول الله ﷺ مونږ ته د سپو د قتل حکم وکړو بیا ئے ددے د قتل نه منع وفرمائیله۔ بیا ئے وفرمایل : تاسو باندے د تک تور دوه نقطو والا سپي قتل لازم دے ځکه چه دا شیطان دے)۔ او دا حکم نهٔ دے منسوخ، خلاف ثابت دے جمهورو لره چه ددے قتل ته منسوخ وائي لیکن دلیل پرے نشته۔ لکه امام نوویؒ په شرح مسلم کښې وئیلي دي۔ (۲) دویم قسم چه تور سپے نهٔ وي دا بیا دوه قسمه دے : (۱) یو هغه سپے چه فائده پکښې نهٔ وي۔ لکه عام سپي نو ددے خرڅول حرام دي د عامو علماؤ په نیز باندے په غیر د احنافو نه۔ (۲) او بل هغه سپے چه د ښکار او ګډو بزو د حفاظت دپاره ترے فائده اخستے کیږي۔

ددے تقسیم نه روستو په دے کښې د علماؤ درے **قوله** دي : (۱) امام شافعيؒ، امام احمدؒ او امام مالکؒ (په یو روایت کښې) او نور جمهور علماء فرمائي : سپے مطلقًا خرڅول ناجائز دي، برابره خبره ده که هغه سپے وي چه د هغې ساتل جائز وي (لکه د فصل، رمې او ښکار سپے) او یا جائز نهٔ وي لکه عام سپے۔ دلیل ئے دا عام حدیث دے۔ او ددے قول نه دا لازمیږي چه چا قتل کړو نو په هغهٔ باندے هیڅ قسم تاوان نشته۔

(۲) امام ابوحنیفهؒ په نیز هر قِسم سپے خرڅول جائز دي۔ البته د چیچونکي سپي په باره کښې ئے یو روایت دادے چه ددے بیع جائز نهٔ ده۔ او باقي د ښکاري او د هغه سپي

Maktaba Tul Ishaat.com

بیع روا ده چه د هغې نه نفع اخستې کیږي. دلیل ئې د جابر رضی الله عنه حدیث دے :

[أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ] [نسائی: ۴۶۶۸: صحیح]

(نبی ﷺ د سپي او پیشو د رقم نه منع فرمایلې مګر د ښکار سپے منع نۀ دے)

(۳) د امام مالك رحمه الله په نیز ددے بیع جائز نۀ ده خو که چا د چا سپے ووژلو نو تاوان به ورکوي. د تاوان په باره کښې بعض آثار او احادیث نقل دي لیکن ټول ضعیف دي.

راجح قول اولنے دے، ځکه حدیث په کښې عام راغلے. او هر چه د دویم قول والا حدیث دے نو په دے کښې د [إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ] الفاظ شاذ او ضعیف دي. امام نسائی رحمه الله دے استثناء ته منکر ویلي ځکه په نورو محفوظو روایتونو کښې دا استثناء وجود نۀ لري.

او ددے په رفع او وقف کښې اختلاف هم دے. راجح وقف دے. د استثناء نه بغیر دا روایت صحیح دے. او هرچه استثناء ده نو دا صرف د ښکاري سپي د ساتلو په باره کښې راغلے. هغه جدا حدیث دے. هغه حدیث داسے دے چه ((څوك سپے وساتي نو د هغۀ د اجر نه به هره ورځ دوه قیراطه کمیږي، مګر د ښکار سپے داسے نۀ دے)).

امام بیهقي رحمه الله فرمائي : ممکنه ده چه ددے روایت نه بعض راویانو ته اشتباه راغلے وي او هغوئ د ثمن الکلب سره هم دا استثناء ذکر کړے وي، ورنه دا استثناء د ثمن الکلب سره صحیح نۀ ده. دا وجه ده چه د صحابه کرامو او تابعینو نه ښکته نورو راویانو ته په دے استثناء کښې اشتباه راغلے او هغوئ د ثمن الکلب سره هم دا استثناء ذکرکړے حالانکه دا صرف د اقتناء الکلب سره راغلے. [بیهقی: ۶/۶] ددے استثناء د ضعف وجه دا هم ده : چه دیته ضرورت هم نشته ځکه سپے چه څوك اخلي نو د دغه درے ضرورتونو د وجے ئے اخلي. په کوم څۀ ډب سپي اخستو کښې څۀ فائده ؟

او په حدیث د ابوداود کښې دي : [نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَقَالَ : إِنْ جَاءَ يَطْلُبُ ثَمَنَ الْكَلْبِ فَامْلَأْ كَفَّهُ تُرَابًا] . که یو تن راغلو او د سپي پیسے ئے طلب کولے نو لاس ورله د خاورو نه ډك کړه. [ابوداود : ۳۴۸۴، واسناده صحیح قاله الحافظ والألبانی] .

بعض اهل علمو ویلي دي چه شریعت د جائزو منافعو دپاره د سپي ساتل جائز کړیدي لکه ښکار او فصل دپاره نو ددے حکم به د نورو سوداګانو په شان حکم لري لیکن شریعت د سپي د خرڅولو نه پدے وجه منع وکړه چه دا د مکارم الاخلاق (بهترینو اخلاقو) خلاف ده. (یعني دا کراهت تنزیهي دے)

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: لیکن دا خبره هم قوی نۀ ده ځکه چه اصل په منع کښې تحریم دے۔
او د سپي د خرڅولو منع د حلوان الکاهن او د مهر البغی سره یو ځائے کولو نه دا نۀ لازمیږی چه دا به حرام وی، که اُومنو چه د هغې په شان به حرام وی نو بیا دا په هغه سپي باندے حمل دے چه ساتل ئے جائز نۀ وی۔ (قاله القرطبیؒ)
لیکن اول قول راجح دے۔ ځکه چه (الکلب) کښې الفاظ د عموم دی، او استثناء والا روایت ضعیف دے۔ او کومو علماؤ چه دا وئیلی دی چه دا نهی منسوخ شویده، او دا نهی په هغه وخت وه چه نبی ﷺ د سپو د وژلو نه منع فرمائیلې وه، بیا کله ئے چه د ښکار وغیره د فائدے حاصلولو دپاره سپی ساتل جائز کړل نو دا مذکوره نهی منسوخ شوه۔ دے خبره باندے دلیل نشته۔
او دا دلیل ورکول چه د بعض سپو ساتلو اجازت شریعت ورکړے نو ددے نه دا ثابتیږی چه خرڅول به ئے هم جائز وی۔ **جواب**: دا ملازمه نشته، ځکه چه ډیر کرته یو شی نه فائده اخستل جائز وی او خرڅول ئے حرام وی، لکه د آزاد سړی نه فائده اخستل جائز دی او خرڅول ئے حرام دی، یا د مردارے وازدے او هډوکی او څکر نه فائده اخستل جائز او خرڅول ئے حرام دی۔
سوال: مونږ ووئیل: راجحه داده چه د ښکار یا رَمے یا د کور د حفاظت دپاره سپے خرڅول هم منع دی، نو اوس که دے قِسم سپو ته د چا ضرورت راشی، څۀ به کوی؟
جواب: د سپي خاوند له پکار دی چه مفت ئے ورکړی۔ اوکه مفت ئے نۀ ورکوی نو د ضرورت په وخت ئے اخستل جائز دی۔ اخستونکی دپاره پیسے ورکول جائز دی، مگر خرڅونکی دپاره ددے رقم استعمالول ناجائز دی۔ دا ددے دپاره چه د سپو سره د انسانانو واسطه کمه شی ځکه چه دا پلیت شیان دی۔
مَهْرِ الْبَغِيِّ: بغی د باء په زور، د غین په زیر او د یاء په شد سره، زناکاره ښځه، د بغاء نه دے طلب ته وائی، په ښځو کښې ددے استعمال زیات دے۔ عرب وائی: بَغَتِ الْمَرْأَةُ أَیْ زَنَتْ. یعنی پردی سړی په ځان اچول غواړی۔ او ددے د مهر نه دلته مراد هغه رقم دے چه دیته د زنا په عوض ملاویږی، دیته ئے مهر په دے وجه وئیلے چه دا گویا که د هغه مهر سره په شکل کښې مشابه دے چه هغه ښځې ته د نکاح په وخت او د هغې نه د فائدے حاصلولو په وخت هغې ته ورکول کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دې حدیث نه معلومه شوه چه د زنا اجرت اخستل (او ورکول) حرام دی او ورکړې شوې اجرت حرام دے ځکه دا د یو حرام شي عوض دے، ددې خوړل او نفع ترې اخستل حرام دی. اوکه چاته ملاؤ شي نو علامه ابن قیمؒ فرمائي : دا به (د خپلې ذمې فارغولو دپاره) صدقه کوي او زاني ته به ئې نهٔ واپس کوي ځکه هغهٔ په خپل اختیار سره د عوض په مقابله کښې ورته ورکړې نو دا خبیثه گټه ده. بله دا چه که زاني ته دا واپس کړې شي نو هغه به په دې سره زنا جاري وساتي او په خپل جرم کښې به همیش والے وکړي.

وَکَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِیْثٌ : حجام، خکر لگونکي او په خکر یا په مشین باندې وینه ویستونکي ته وائي. دې حدیث نه هغه علماؤ دلیل نیولے چه حجامه باندې پیسے او رقم اخستو ته حرام وائي.

د حجامې کاروبار څنگه دے ؟

د حجامې کاروبار او په هغې باندې عوض اخستو کښې اختلاف دے (۱) اکثر سلف او خلف وائي چه د حجامې کاروبار حرام نهٔ دے او دې باندې عوض اخستل جائز دی، آزاد او غلام پدې کښې برابر دی، او دا مشهور مذهب د احمدؒ دے. (۲) او د امام احمدؒ نه یو بل روایت دے او د یو جماعت مذهب دے چه په آزاد باندې حرام دے او غلام دپاره جائز دے. او دوئ د مُحَیِّصَه ﷺ د حدیث نه دلیل نیولے دے کوم چه روستو راځي.

(۳) او بعضو وئیلي دي چه حجامه باندې رقم اخستل حرام دی ځکه چه په احادیثو کښې دے ته خبیث کاروبار وئیلے شویدے او خبیث نه مراد حرام دے.

اول قول والا په جواز باندې احادیث پیش کوي، یو د ابن عباس ﷺ حدیث دے :

[إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ إِحْتَجَمَ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ، وَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُعْطِهِ]

[بخاری : ٢١٠٣ ومسلم : ٤١٢٥]

(نبي ﷺ حجامه وکړه او حجامه کونکي ته ئې مزدوري ورکړه او که دا حرام وے نو هغهٔ ته به ئې نهٔ ورکولے).

او هرچه په احادیثو کښې دے ته خبیث کاروبار وئیلے شویدے نو خباثت په معنیٰ د حرام سره نهٔ دے بلکه ادنیٰ او د اُوچتو اخلاقو نه خکته کاروبار دے، نو په هغې کښې په

Maktaba Tul Ishaat.com

مکارم الأخلاق او اُوچتو کاروبارونو باندے تیزی ورکول دی۔ یعنی هغے کښے نهی تنزیهی ده۔ یا که د خبیث نه مراد حرام واخستے شی، نو بیا دا د رسول الله ﷺ په عمل باندے منسوخ شویدے، چه هغهٔ ابو طیبه ﷺ ته د حجامه عوض ورکړو۔ (لکه دا خبره طحاویؒ کړیده)۔

دارنګه مُحَیِّصَه ﷺ د نبی ﷺ نه د حجامے د اجرت په باره کښے اجازت وغوښتو نو هغهٔ منع کړو، بیا ئے ورته وفرمایل: چه دغه اجرت خپل غلام او اُوښ ته ورکړه۔ (لکه روستو راځی) نو ددے نه هم دا ثابتیږی چه دا اجرت حرام نهٔ دے ځکه چه که حرام وے نو بیا به د آزاد او د غلام فرق نهٔ کیدے، ځکه چه بنده له دا جائز نهٔ دی چه خپل غلام ته حرام مال ورکړی۔

ابن الجوزیؒ وئیلی دی چه نبی ﷺ د حجام اجرت پدے وجه بد ګڼړلے چه دا د هغه څیزونو نه دے چه یو مسلمان باندے د بل مسلمان دپاره په هغے کښے مدد پکار دے کله چه ورته هغه محتاج وی نو مناسب نهٔ دی چه په هغے باندے اجرت واخلی۔

ابن العربیؒ د دواړو حدیثونو (یعنی د کسب الحجام خبیث) او ابو طیبه ﷺ ته د اُجرت ورکولو ترمینځ داسے تطبیق کړے چه د اجرت اخستو جواز په هغه وخت دے چه په معلوم کار باندے اجرت وی، او منع په هغه وخت ده چه په نا معلومه کار وی۔ (فتح الباری: ۴/۴۵۹) وبالله التوفيق.

2764 (6) – وَعَنْ أَبِی مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰی عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابو مسعود انصاری ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د سپی د قیمت، د بدکارے ښځے د ګټے او د ترویتی د شیرینئ نه منع فرمائیلے۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح: [نَهٰی] په نهی کښے اصل تحریم دے مګر که قرینه موجوده وی۔ او نهی په فساد دلالت کوی، نو ددے شیانو خرڅول به حرام او عقد به ئے فاسد وی۔

[ثَمَنِ] ثمن او قیمت کښے دا فرق دے چه ثمن هغه پیسو ته وائی چه د بائع او مشتری ترمینځه فیصله کړے شی۔ او قیمت هغه پیسو ته وائی چه په بازار کښے ددے سودا دپاره مقرر وی۔

[حُلْوَانِ الْكَاهِنِ] حُلوان د حاء په پیښ سره، شیرینئ، خُلهٔ خوږئ او رشوت ته وائی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دا په اصل لغت کښې عطیه او رشوت ته وائی۔ دلته مراد هغه مال دے چه ترویتی ئے د خپل کهانت په عوض اخلی۔ دا ئے د خوږ شی سره مشابه کړے ځکه چه دا په غیر د څۀ مشقت او تکلیف نه ملاویږی۔ او [اَلْکَاهِنِ] ترویتی او هغه کس ته وائی چه د پټو رازونو پیژندو او په راتلونکی وخت کښې د پیښیدونکو واقعاتو په حقله پشینګویانے کوی، مثلًا: د باران وریدو دعویٰ، ویا راتلو په باره کښې دعویٰ او د قتل او قتال او جنګ اوجدال ظاهریدو دعویٰ وغیره۔ په دے کښې نجومیان، عرّافین، شګے ویشتو په ذریعه د یو شی معلومولو دعویٰ کونکی او د جفر عامل (یعنی د حروفو د رازونو د علم لرلو دعویدار) وغیره داخل دی۔

کهانت، ترویتی توب، نجومیت او پاړوګری ټول حرام کارونه دی، او دوئ چه د خلکو نه کومه شیرینی اخلی نو دا حرامه ده، ځکه دا په باطله طریقه مال ګټل دی۔ دا قاعده ده چه کوم شے بذاتِ خود حرام وی د هغے عوض هم حرام وی۔

کاهن او ترویتی او پاړوګر له ورتلل درے قِسمه دی: **(أ)** د دعوت دپاره ورتلل چه هغه ددے کار نه منع کړی او نصیحت ورته وکړی، نو دا کار د اجر او ثواب باعث دے۔

(ب) د سیل دپاره ورتلل اګرکه د هغۀ د خبرے تصدیق نۀ کوی، نو ددے کس سزا په حدیث کښې دا بنودل شوے چه څلویښت ورځے مونځ ئے نۀ قبلیږی۔ بله دا چه هغوئ ته په ورتللو کښې د هغوئ ډاډ ګیرنه او په ګناه باندے مدد کول دی۔

(ج) د تصدیق دپاره ورتلل او دیته په حدیث کښې کفر وئیلے شوے۔ (والعیاذ بالله)!

2765 (7) – وَعَنْ أَبِیْ جُحَیْفَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ وَثَمَنِ **الْکَلْبِ** وَکَسْبِ **الْبَغِیِّ** وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْکِلَهٗ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

ترجمه: او ابو جُحیفه ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ د وینے د قیمت او د سپی د قیمت او د زناکارے د ګټے نه منع فرمائیلے ده، او د سود په خوړونکی او خورونکی او خال لګونکے زنانه او بل نه د خال طلب کونکے زنانه او تصویر جوړونکی باندے لعنت فرمائیلے دے۔ (بخاریؒ)

تشریح: ثَمَنِ الدَّمِ: ظاهر دا ده چه ددے نه مراد وینه خرڅول دی چه دا حرام دی۔ او که

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې نه د حجامې اُجرت مراد شي نو بیا نهي د تنزیه دپاره ده، یعنی دے دپاره چه بنده د ادنیٰ کسبونو نه ځان وساتي۔ لکه تفصیل مخکښې ذکر شو۔

وَكَسْبِ الْبَغِيِّ : یعنی د زناکارې ښځې په زنا باندې ګټه وټه کول او د هغې اجرت اخستل حرام دی۔ او هر چه د زنا نه علاوه په بله طریقه باندې د زناکارې پیدا کړې مال دې نو هغه جائز دے لکه په حدیث د ابوداود کښې دی : [نَهٰى عَنْ كَسْبِ الْأَمَةِ إِلَّا مَا عَمِلَتْ بِيَدِهَا] د وینځې د کسب نه ئې منع کړې مګر هغه چه په لاس سره ئې ګټلې وی لکه مالوچ ویشنل، یا څرخه کول، کپړې ګنډل وغیره۔

بعض علماء وائی چه د زناکارې د هر کسب (ګټې) نه منع مراد ده، او دا منع د سدّ الذرائع د باب نه ده، ځکه چه د زناکارې نه زیاته خطره ده چه هغه به په خپل عورت سره ګټه وټه کوی۔ یا که وینځه وی او په هغې باندې مالك څه مال مقرر کړې وی نو هغه به ضرور په خپل عورت باندې مال پیدا کوی نو مطلب به دا وی چه په هغې باندې به معلوم ټیکس نهٔ مقرروی چه هره ورځ به ئې ادا کوی۔

[لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ] لعنت، ذ الله د رحمت نه لرې والی ته وائی۔ رسول الله ﷺ ته ددې نسبت کولو نه خو یا مطلب دا چه رسول الله ﷺ د الله له طرفه خبر ورکړې چه الله په دې کسانو لعنت فرمائیلے، او یا مطلب دا چه : لعنت نه مراد ښیرې دی چه خپله رسول الله ﷺ دې کسانو ته کړی چه الله تعالیٰ دې دا کسان د خپل رحمت نه لرې کړی۔ نو د لعنت نسبت چه الله تعالیٰ ته وشی مراد تردې د رحمت نه لرې کول وی، او چه بندګانو ته وشی نو مراد ترې ښیرې کول وی۔

آكِلَ الرِّبَا: أَیْ آخِذَ الرِّبَا (سود اخستونکے) اګرکه وې نهٔ خوری، او خوراك ئې ځکه خاص کړو چه دا په ټولو انتفاعاتو کښې لویه انتفاع او فائده ده۔ [وَمُوْكِلَهُ] د میم په پیښ او د کاف په زیر سره، مراد مُعْطِي الرِّبَا (سود ورکونکے) دے، ځکه د سود خورئ سبب همدا جوړ شو نو ځکه د خوړونکی سره په ګناه کښې شریك شو۔ په بل روایت کښې ورسره [وَكَاتِبَهُ] لفظ هم راغلے دے۔ یعنی د اخستونکی او ورکونکی ترمینځه د سودې کهاتے او تحریر لیکونکے۔ په دهٔ ځکه لعنت وشو چه دے د تحریر په ذریعه دا معامله مضبوطوی او په دې رضا دے۔

دارنګه په بل روایت کښې ورسره [وَشَاهِدَيْهِ] هم راغلے۔ ځوك چه د وثیقې او تحریر

ثابتولو دپاره ددے گواهي ورکونکي وي۔ په دے دواړو باندے ځکه لعنت کیږي چه دا دواړه په دے گناه کښے مدد کوي، ددے اثبات کوي او په دے رضا دي۔

وَالْوَاشِمَةَ : بل له خال لګونکے زنانه۔

[وَالْمُسْتَوْشِمَةَ] هغه زنانه چه بل نه طلب کوي چه دے له خال ولګوي۔

وَالْمُصَوِّرَ : یعنې تصویر جوړونکے۔

فوائد : (۱) حدیث دلیل دے چه سود حرام دے او د ټولو لویو گناهونو نه یوه گناه ده، ځکه نبی کریم ﷺ په دغه مذکوره خلکو لعنت کړے او لعنت صرف په هغه کارونو باندے کیږي چه هغه حرام او کبیره گناه وي، او دا اتفاقي خبره ده۔ په دے حدیث کښے د سود خورئ ډیر زیات سخت عذاب ذکر شوے ځکه هر کله چه په لیکونکي او گواهانو باندے لعنت وکړے شو، سره ددے چه دے دواړو ته ددے نه هیڅ شے نهٔ ملاویږي، نو بیا چه څوك دا اخلي یائے ورکوي نو د هغهٔ به څهٔ حال وي؟ خو علماء فرمائي : په لیکونکي او گواهانو باندے به هله لعنت کیږي هر کله چه دا دواړه ددے معاملے نه خبر وي، پاتے شو هغه څوك چه هغهٔ لیکل وکړل، یا په یوه سودي معامله کښے گواه جوړ شو او دهٔ ته ددے سودي معاملے علم نهٔ وو نو بیا دا دواړه په دے زجر او وعید کښے نهٔ داخلیږي۔

(۲) مذکوره زجر او وعید د سود خوړلو پورے خاص نهٔ دے، بلکه دا هر هغه چاته شامل دے چه د سودي مال نه خوراك وکړي، یا جامه واچوي، یا کور یا گاړے موټر واخلي، یا په بله طریقه سره د سود د رقم نه فائده پورته کړي۔ اگرکه د کور لیټرین پرے هم جوړ کړي، بهر صورت دا لعنتي دے۔

(۳) د سود خوړو دپاره سودي معامله لیکل، او په دے باندے گواه جوړیدل دواړه حرام دي، او په دے کښے هغه څوك هم داخل دي چه هغوئ په سودي بینکونو کښے نوکري کوي او سودي لین دین لیکي، ځکه دا کار په گناه او زیاتي باندے مدد کول دي، حالانکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾ [المائدة :۲] نو الله تعالیٰ د گناه نه هم منع کوي او په دے کښے د مدد کولو نه هم منع کوي۔ او په دے کښے هیڅ شك شبهه نشته چه د سودي معاملے په کتابت او شهادت کښے په سود باندے مدد کول دي۔ شیخ ابن باز" فرمائي: ددے نه معلومه شوه چه په

Maktaba Tul Ishaat.com

سود باندے هر قِسمه مدد کول په دے کښے داخل دی، برابره خبره ده که څوك ددے کاتب وی، یا گواه یا حساب کونکے یا خزانچي یا ددے پشان بل قِسم وظیفه لرونکے وی چه په هغے کښے دے په سودی مالونو کښے مدد کوی۔ ددے نه څرگنده شوه چه په سودی بینکونو کښے نوکری او عمل کول په دے کښے داخل دی، ځکه دا هم د سود خورو سره مدد کول دی، نو په دے کښے د بینك څوکیدار، چائے او قهوه او خوراك تیارونکے، بینك صفا کونکے، او ددے پشان نوره عمله داخله ده چه هغوئ په دے کښے مدد کوی او د بینك والو کارونه آسانوی۔

[شرح بلوغ المرام المسجل على الأشرطة، وانظر فتاوى ابن باز: ١٩/ ١٥٠، ٣٧٤، ٣٧٩].

تنبیه : هر کله چه دا ثابته شوه چه لکه څنگه چه گناه کول حرام دی نو په دے کښے مدد کول هم حرام دی، نو بیا په بعضِ احنافو باندے سخت تعجب دے چه دوئ هغه چاله کور او دکان په کرایه ورکول جائز گرځولی چه هغوئ په کښے گانے بجانے یا دِمتوب کوی یا نور گناهونه کوی۔ [هدایه، عالمگیری]

2766 (8) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ : " **إِنَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيْرِ وَالْأَصْنَامِ** ". فَقِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ شُحُوْمَ الْمَيْتَةِ ؟ فَإِنَّهُ تُطْلٰى بِهَا السُّفُنُ وَيُدَّهَنُ بِهَا الْجُلُوْدُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ ؟ فَقَالَ : " **لَا هُوَ حَرَامٌ** ". ثُمَّ قَالَ عِنْدَ ذٰلِكَ : " **قَاتَلَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُوْمَهَا أَجْمَلُوْهُ ثُمَّ بَاعُوْهُ فَأَكَلُوْا ثَمَنَهٗ** " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جابر ﷺ د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه د مکے د فتح په کال ئے فرمایل او هغه په مکه کښے وو : یقیناً او الله او د هغهٔ رسول د شرابو او مردارے او خنزیر او بتانو خرڅول حرام کړیدی، نو عرض وشو اے د الله رسوله ! د مردارے د وازدو په باره کښے خبر راکړه (چه ددے خرڅول جائز دی؟) ځکه چه شان دا دے چه پدے سره کشتئ مږلے شی او څرمنے پرے غوړولے شی او خلك پدے سره ډیوے بلوی؟ نو وے فرمایل : نه، دا حرام دی، بیا هغهٔ په دغه وخت دا هم وفرمایل : الله تعالیٰ دِے په یهودیانو باندے لعنت وکړی یقیناً الله تعالیٰ چه هرکله د حیواناتو وازدے (په دوئ) حرامے کړے (نو) دوئ هغه ویلی کړے بیا به ئے خرڅولے او د هغے پیسے به ئے خوړلے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : [عَامَ الْفَتْحِ] د مکے د فتح په کال چه دا اتم (۸) هجری کال او د رمضان میاشت وه۔ په دے کښے د تحریم تاریخ بیان شوے، او دا هم کیدے شی چه ددے نه مخکښے دا شیان حرام شوی وی او نبی ﷺ ددے تحریم دوباره ذکر کړے وی دے دپاره چه چاته معلوم نهٔ وی هغهٔ ته معلوم شی۔ [إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ] په بعضِ روایاتو کښے [إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ] دے، او د ابن مردویهٔ په تفسیر کښے [إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَا] د تثنیه په صیغه دے۔ خو په مفرد سره ذکر کول ئے هم جائز دی ځکه په دے کښے اشاره ده چه د نبی کریم ﷺ امر او حکم د الله د امر او حکم تابع دے، لکه الله فرمائی: ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ [انعام : ٥٧] (د قانون سازئ اختیار صرف الله دپاره دے) نو قانون الله جوړ وی او نبی کریم ﷺ ددے اظهار او تبلیغ کوی۔ د انس ﷺ په حدیث کښے د کورنو خرونو په باره کښے هم داسے عبارت راغلے : [إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ] او د نسائیؒ په روایت کښے : [يَنْهَاكُمْ] دے، ددے توجیه هم دغه شان ده۔ [الْخَمْرِ] هغه ماده چه په عقل بیهوشی او بیخودی راولی، برابره خبره ده که د هر شی نه جوړ شوی وی، انګور وی که کهجورے یا وریشے یا بل شے۔ او مطبوخ وی که غیر مطبوخ دے ټولو ته شراب وائی، مقصد په کښے بیخودی او عقل پټول دی۔ [الْمَيْتَةِ] مرداره، او دا درے صورتونو ته شامله ده : (أ) هر هغه حیوان چه د شرعی ذبح نه علاوه په بله طریقه ترے ساه ووځی۔ (ب) خپله مړ شی۔ (ج) په شرعی طریقه ذبح شی خو ذبح کولو سره نهٔ حلالیږی لکه څوك خر ذبح کړی۔ بعضِ وخت مذبوح ته حکمًا مرداره ویل کیږی لکه د مرتد سړی ذبیحه۔

[وَالْخِنْزِيرِ] مشهور پلیت، بدشکله او ګنده حیوان چه غټه برخه خوراك ئے ګندګی او مردارے خوړل دی۔ او بے حیاء دے، ډیر بد اخلاق پکښے موجود دی نو د هغهٔ د غوښے د خوړلو په وجه په انسان کښے بد اثر راځی۔

[وَالْأَصْنَامِ] جمع د صَنَم ده، هغه بُت چه د انسان یا حیوان په شکل او صورت وی۔ او وثن هغه ځټکی (بوځلی) ته وائی چه د الله تعالیٰ نه سیوا ئے عبادت کولے شی، که هغه قبر وی یا کانړے یا بل شے۔ نو په صنم او وثن کښے دا فرق دے۔ بعضِ علماؤ د صنم معنیٰ په وثن سره کړے۔ ددے د منع وجه دا ده چه دے نه مباح فائده نهٔ اخستے کیږی۔ بل پدے کښے د غیر الله د عبادت تشهیر او ترقی ده۔

[أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ] یعنی ماته د مردارے د وازدو خرڅولو په باره کښے خبر راکړه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

آیا ددې خرڅول جائز دی که نه؟ ځکه په دې کښې هغه فائدې دی چه ددې بیع صحیح ګرځوی. یا مطلب دا چه: ماته د مردارې په وازده باندې د نفع حاصلولو خبر راکړه چه دا جائز ده او که نه؟ [يُطْلٰی] أَیْ تُدْهَنُ (د ویلی کولو نه پس په دې کشتئ غوړولې شی) چه ددې دوه فائدې دی. (أ) په دې سره د لرګو سوری او چودونه بندیږی او اوبهٔ نهٔ راکاږی. (ب) وازده تختې د اوبو د خرابئ نه ساتی، ځکه چه د دریاب اُوبهٔ مالګینی وی، د کشتئ لرګې خوری، نو غوړولو ته ضرورت لری.

[تُدْهَنُ بِهَا الْجُلُوْدُ] په څرمن باندې د رنګولو نه پس غوړی رابشکل کیږی، دې دپاره چه نرمه شی. [يَسْتَصْبِحُ] أَیْ يَسْتَضِیْءُ (رنړا حاصلوی) وَيُوْقِدُ الْمَصَابِيْحَ (ډیوې بلوی) ددې وازده ویلی کړی او په هغې کښې باتئ واچوی او ډیوې ترې بلوی.

[فَقَالَ: لَا، هُوَ حَرَامٌ] د (هُو) په ضمیر کښې دوه قوله دی. (یو) دا چه دا انتفاع ته راجع شی کوم چه د [يُطْلٰی بِهَا السُّفُنُ] په مفهوم کښې پروت دې.

او معنیٰ داده: [لَاتَنْتَفِعُوْا بِهَا هُوَ حَرَامٌ] یعنی ددې نه نفع مهٔ اخلئ ځکه دا نفع اخستل حرام دی. (دویم) دا چه د (هُو) ضمیر بیع ته راجع دې او تقدیر داسې دې: [لَايَحِلُّ بَيْعُهَا] یا [لَاتَبِيْعُوْهَا] ځکه سائل ددې د بیع په باره کښې سوال کړې وو او کلام هم ددې دپاره چلول شوې. ځکه نبی کریم ﷺ چه هر کله د مردارې د خرڅولو حرمت ذکر کړو، نو صحابه کرامو د هغوئ نه دا غوښتنه وکړه چه دوئ دپاره ددې د منافعو د وجې د وازدې په خرڅولو کښې اجازت ورکړی. ددې تائید په روستنئ جملې [ثُمَّ بَاعُوْهُ] سره هم کیږی. او دا روستنې احتمال راجح دې.

[قَاتَلَ اللّٰهُ] أَیْ أَهْلَكَهُمُ اللّٰهُ، الله دې ئې تباه کړی. ددې معنیٰ چا په لعنت سره کړې، مګر راجحه معنیٰ هغه وی چه د لفظ سره مناسبه وی. [جَمَلُوْهُ] ویلی ئې کړه دې دپاره چه ددې نه د وازدې نوم ختم شی او د دوئ دپاره ئې استعمالول (د دوئ په ګمان) حلال شی، ځکه ویلی کړې وازدې (غوړو) ته عرب شحم (وازده) نهٔ وائی بلکه وَدَك (غوړی) ورته وائی. او [جَمَلُوْهُ] کښې ضمیر په تاویل د مذکور سره (شحوم) ته راجع دې.

قاتل الله: دا ښیرې دی، یعنی الله تعالیٰ دې ئې هلاك کړی. او لعنت دې پرې وکړی. یا جمله خبریه ده، یعنی ددې حیلو په وجه الله تعالیٰ یهویان هلاك کړل.

اَلْيَهُوْدَ: د یهودیانو مثال ورکولو حاصل دا دې چه یهودیانو باندې د غوړو خرڅول

Maktaba Tul Ishaat.com

حرام نهٔ وو، بلکه د وازدو خوړل حرام وو نو هغوی پکښې حیله وکړه او د دغه وازدو نه ئې غوړی جوړ کړل او هغه ئې خرڅ کړل نو دغه شان د مردارې نه فائده اخستل حرام نهٔ دی البته په دې کښې دا حیله جوړه وه چه فائده اخستل ترې جائز دی نو بس خرڅول به ئې هم جائز وی، دا صحیح نهٔ ده، بلکه بیع ئې ناجائز او فائده اخستل ترې جائز دی۔

فوائد الحدیث: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د شرابو خرید او فروخت او ددې څکل او جوړول هر څهٔ حرام دی ځکه دا په عقل او بدن کښې فساد پیدا کوی، او انسان ته څناور جوړوی۔ او په دې کښې ټول نشائی او مُخدره مواد داخل دی، لکه چرس، افیون، تنباکو، سیګریټ، ددې اخستل او خرڅول حرام دی۔ او مخکښې تیر شو چه په بیع کښې یو شرط دادې چه ددې نفع به مباح وی او دا شیان مباح نهٔ دی۔

(۲) او ثابته شوه چه د خنزیر بیعه حرامه ده، په دې کښې ددې غوښه، وازده، څرمن او ټول اجزاء داخل دی ځکه د خنزیر ذات نجس دې، او په دې کښې ډیر ضررونه دی، د عصرِ حاضر محقُقینو دا خبره ثابته کړې چه په خنزیر کښې اُوویشت (۲۷) مرضونه دی چه ددې غوښې په خوړو سره انسان ته نقل کیدې شی، په هغې کښې بعضِ دادی: ځیګر خرابیدل، هضم خرابیدل، شریانات رګونه سختیدل، شنډیدل په بدن کښې چربی زیاتیدل وغیره۔ او بعضِ مُحققینو ویلی چه د خنزیر غوښه او وازده د انسان په عفت او غیرت باندې خراب تاثیر کوی، نو ځکه ترې شریعت په سختئ سره منع کړې، او الله تعالیٰ ورته (رِجُس) یعنی پلیتی ویلی۔ او بعض محققینو وئیلی دی چه په خنزیر کښې (۴۵۰) مرضونه دی۔

(۳) او حدیث دلیل دې چه مَیته (مرداره) د خپلو ټولو اجزاؤ سره حرامه ده۔ البته ددې مُردارې نه درې قِسمه شیان مستثنیٰ دی۔ (**یو**) ماهی او ملخ چه ددې دواړو مرداره جائز ده۔ (**دویم**) هغه شیان چه په هغې کښې ژوند نهٔ راځی لکه د مردارې ویښتهٔ، وړئ، پشم او ښکرې (وزرې) ځکه دا شیان د مردارې خباثت نهٔ راکاړی اونهٔ دیته مرداره ویل کیږی۔ او دا د جمهورو مذهب دې، په دې کښې امام شافعیؒ تفرد کړې او دیته ئې نجس وئیلی ځکه د هغهٔ په نیز دیته د میتې نوم شامل دې۔

(**دریم**) د مردارې څرمن په رنګولو سره جائز او پاکه ده۔

(۴) اَرَاَیۡتَ شُحُوۡمَ الۡمَیۡتَةِ: یعنی خبر راکړه چه آیا د مردارې وازدې خرڅول جائز دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه په دے کښې دغه فائدے شته؟۔

مسئله : د مردارے د وازدے نه نفع اخستل جائز دی که نه؟ په دے کښے د علماؤ اختلاف دے، او د خلاف سبب د (هُو) ضمیر دے چه دا چاته راجع دے؟ بیع ته راجع دے اوکه انتفاع ته؟ نو **اول** قول دادے چه د مردارے په وازده نفع حاصلول جائز نهٔ دی، امام نوویؒ دا خبره جمهورو ته منسوب کړے۔ دوئ وائی : ضمیر انتفاع ته راجع دے ځکه یو خو دا نزدے دے، او بل دا که په دے سره نفع حاصلول مباح شی، نو دا به د وازدو ذخیره کولو او خرڅولو ذریعه وګرځی۔او دا د شیخ ابن بازؒ رائے ده۔

دویم قول دادے چه د مردارو د خوراك نه علاوه د مردارے نه نوره نفع اخستل جائز دی، لکه کشتئ پرے غوړول، ډیوے پرے بلول یا ښکاری او غیر ښکاری سپو ته د مردار حیوان غوښه اچول یا شاتو مچو ته پلیت شات اچول او داسے نور۔ او دا د امام شافعیؒ قول او د امام احمدؒ یو روایت دے، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ابن قیمؒ دیته ترجیح ورکړے۔ او دلیل دا ورکوی چه نبی ﷺ فرمائی : [إِنَّمَا حُرِّمَ مِنَ الْمَيْتَةِ أَكْلُهَا] (د مردارے صرف خوړل حرام دی) [بخاری: ۵۵۳۱، مسلم : ۳۶۳] او نبی ﷺ نه ثابت دی چه هغوئ صحابه کرام د ثمودیانو د کوهیانو نه د اُوبو څکلو نه منع کړل، البته د حیواناتو دپاره د بوتاوے جوړولو دپاره ئے په دے کښے اجازت ورکړو۔ [زاد المعاد : ۵/۷۶۱]

او دا قول **قوی** دے، ځکه د خوراك نه علاوه په بله طریقه ددے نه نفع اخستلو کښے څهٔ خرابی نشته۔ نو نفع اخستل ترے جائز دی، خو خرڅول ئے جائز نهٔ دی۔ ځکه ددے دواړو خبرو ترمینځه تلازم نشته چه ګنے کوم شے خرڅول حرام وی نو د هغے نه دے نفع اخستل هم حرام وی۔ د تحریم البیع نه تحریم الانتفاع نهٔ معلومیږی۔ ځکه د انتفاع باب د بیع د باب نه ډیر فراخه دے۔ [زاد المعاد: ۷۶]

او دا د روستو الفاظو نه معلومیږی چه (فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ) یعنی یهودیانو به وازدے ویلی کولے، او بیا به ئے خرڅولے حال دا چه الله تعالیٰ د هغے خرڅول په دوئ باندے حرام کړی وو۔

او خطابیؒ ددے د انتفاع په جواز باندے په اجماع سره دلیل نیولے دے، او وئیلی دی چه پدے اجماع ده چه د یو تن یو څاروے وفات مردار شی، نو هغهٔ دپاره جائز دی چه هغه ښکاری سپو ته واچوی نو دغه شان د مردارے په وازدو سره کشتئ غوړل هم دی، او

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړو ترمينځ هيڅ فرق نشته.

(۵) او حديث نه ثابته شوه چه بُتان خرڅول حرام دی ځکه په دے سره دين خرابيږی او شرك ته دعوت ورکړے کيږی. البته که بت د سروزرو وی او هغه مات کړے شی نو د هغے د ټکړو نه نفع اخستلو ته بعضِ علماؤ جائز ويلی. په بتانو کښے د مشرانو او بزرګانو او ليډرانو فټوان هم داخل دی کوم چه په ميدانونو او سړکونو کښے لړيدلی وی، ددے په تعظيم کښے فتنه او غُلو ده چه انسان شرك ته رسوی.

دارنګه په دے کښے صليب هم داخل دے چه نصارىٰ ئے عبادت کوی. او هغه کتابونه هم داخل دی چه په هغے کښے شرك او د غير الله عبادت ليکلے وی، چه ددے اخستل خرڅول دواړه حرام دی. [زاد المعاد : ٥/٧٦١]

البته د مشرکانو کتابونه په دے نيت اخستل چه د هغوئ په عقائدو او مشرکانه اعمالو باندے رد وکړی، نو دا د علماؤ دپاره جائز دی. دغه شان فحش مجلات او بربنډ تصاوير خرڅول ټول په کښے داخل دی چه ددے خرڅول او اخستل حرام دی.

(٦) او حديث نه معلومه شوه چه په دين کښے حيلے کول حرام دی، ځکه رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائيلے او ددے په کونکی ئے لعنت وئيلے. حيله وئيل کيږی : ناجائز شے په چل وَل سره جائز کول. لکه په يهوديانو وازده حرامه شوه نو دوئ ددے حلال والی ته چل جوړ کړو چه هغه به ئے ويلی کړه او بيابه ئے خرڅوله او د هغے رقم به ئے خوړلو. که چابه ورے اعتراض وکړو نو دوئ به ويل : مونږ خو وازده نۀ ده خوړلے، مونږ خو د وازدے پيسے خوړلی. زمونږ په دے زمانه کښے هم حيلے ډيرے شوے دی خصوصًا په بيع او شراء کښے. چه ددے سبب د ايمان کمزوری، د الله تعالىٰ نه خوف کميدل، په شرعی احکامو عملی کولو کښے بيباکی او دنيا سره ډيره مينه محبت لرل دی. اللهم احفظنا منه.

(۷) او حديث نه معلومه شوه چه کوم شے الله تعالىٰ په بندګانو حرام کړی نو د هغے اخستل خرڅول او رقم خوړل حرام دی. حديث کښے دی : [اِنَّ اللّٰهَ اِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهٗ] (الله تعالىٰ چه په يو قوم باندے د يو شی خوراك حرام کړی نو د هغے پيسے ورے هم حراموی). [ابو داود:٣٤٨٨، أحمد: ٤/٩٥، واسناده صحيح، كما قال ابن القيم فى الزاد :٥/٧٤٦]

2767 (9) — وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" قَاتَلَ

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهُ الْيَهُوْدَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمُ فَحَمَلُوْهَا فَبَاعُوْهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عمر ﷺ نه روايت دے چه بيشكه رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالىٰ دِے په يهوديانو باندے لعنت وكړى په دوئ باندے (د حيواناتو) وازدے حرامے شوے نو دوئ ويلى كړے بيائے هغه خرڅولے۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : قَاتَلَ اللّٰهُ : دا ښيرے دى، يعنى الله تعالىٰ دِے ئے هلاك كړى۔ او لعنت دِے پرے وكړى۔ يا جمله خبريه ده، يعنى الله تعالىٰ ددے حيلو په وجه يهوديان هلاك كړل۔

فَبَاعُوْهَا : ددے نه معلومه شوه چه الله تعالىٰ په يهوديانو باندے د وازدو خوړل حرام كړى وو او هم بيع، نو هغوى دا حيله جوړه كړه چه دائے په ويلى كولو سره د وازدے د صفت نه اُووښكل (ځكه چه اُوس ورته غوړى او ودك وئيلے كيږى) او بيائے خرڅ كړل۔

دا معلومه شوه چه د دين په احكامو كښے حيلے كول او حرام په څه طريقه سره حلالول ناروا كار دے، او دا سبب د لعنت او هلاكت دے۔

2768 (10) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ د سپى او د پيشو د قيمت نه منع فرمائيلے ده۔ (مسلمؒ)

تشريح : [السِّنَّوْر] د سين په زير، د نون په زور او شد او د واؤ په سكون سره: پيشو ته وائى۔

حديث نه معلومه شوه چه پيشو خرڅول او ددے ثمن اخستل حرام دى ځكه دا نجس العين ده (غوښه خوړل ئے حرام دى) ددے نه فائده اخستل يعنى د مږو او حشراتو خوړلو دپاره په كور كښے ساتل صرف د ضرورت په وجه جائز دى۔ او دكوم شى نه چه نفع اخستل د ضرورت په وجه جائز وى د هغے خرڅول منع وى۔ او همدا قول د جابر بن عبد الله ﷺ، ابو هريره ﷺ طاووسؒ، مجاهدؒ او يو روايت د احمدؒ دے او علامه ابن قيمؒ ورته ترجيح وركړے۔ او همدا حقه خبره ده، ځكه حديث په كښے صحيح دے او ددے معارض نۀ دے موجود۔ جمهور علماء ددے د بيعے د جواز قائل دى، وائى په دے كښے منفعت دے۔ او دا حديث ئے صرف په كراهت يا په هغه پيشوګانو حمل كړے چه په هغے كښے

Maktaba Tul Ishaat.com

نفع نهٔ وي. لکه صحرائي پیشو وي چه د هغې رانیولو نه انسان عاجز دے، او که وتړلے شي بیا مړې نشي نیولے او که ونهٔ تړلے شي نو کیدے شي چه د انسان نه وتښتي نو هغه مال به ضائع شي کوم باندې ئې چه اخستے ده.

خطابيؒ وائي: دا منع پدې وجه شویده چه که ددې خرڅول جائز شي، نو بیا به ترې خلك سودا جوړه کړي، نو مالدار به ئې اخلي او غریبانان به پاتے کیږي، نو نبي ﷺ ددې د خرڅولو نه منع وکړه دې دپاره چه د خلکو په ملکیت کښې رانشي، نو پیشو به ګرځي کله یو کور ته به نقل کیږي مړې به خوري او کله بل کور ته. نو دا نهي ددې وجه نه نهٔ ده چه ګنې ددې بیعه نهٔ صحیح کیږي بلکه دا نهي د خلکو د مصلحت دپاره ده. انتهیٰ [المفاتیح فی شرح المصابیح۳/۳۹٦] لیکن دا تولے خبرې کمزورې او بے دلیله دي او ددې حدیث د ظاهر خلاف دي.

لیکن امام بیهقيؒ فرمائي: د ظاهر سنت متابعت کول اولیٰ دي، که چرې امام شافعيؒ دا حدیث آوریدلے وے نو خامخا به ئې پرې قول کړے وے. [السنن الصغری: ۲/۲۷۸] او دویم قول والو چه کومه خبره کړې دا بے دلیله تاویل دے.

لهذا احتیاط دا دے چه انسان د پیشو د خرڅولو نه ځان وساتي که د یو تن سره پیشو وي، او ددهٔ ضرورت د هغې نه پوره شي او څوك ئې ترې وغواړي نو پکار ده چه په غیر د عوض نه ئې ورته ورکړي.

[فتح ذی الجلال والاکرام بشرح بلوغ المرام لابن عثیمین۳/۵۰۲]

تنبیه: که سپي او پیشو اخستو ته ضرورت پیدا شي، نو مشتري دپاره ئې اخستل جائز او بائع دپاره ئې خرڅول حرام دي. ځکه دا داسې شیان دي چه په دې کښې خلك تبرع او سخا کوي او مفت ئې ورکوي. که ددې شیانو بیع او ثمن جائز شي نو دې شیانو نه به خلك کاروبار جوړ کړي او دا به په امت کښې عام شي. لکه نن صبا چه یورپ والا د خپلو نفسونو د خباثت په وجه د انسانانو نه زیات د سپو سره مینه کوي، ځان سره ئې په ګاړو موټرو کښې ګرځوي او ددې بیع او شراء کوي.

2769 (11) - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : ابو طیبه ﷺ رسول الله ﷺ لره حجامه وکړه نو رسول الله ﷺ هغهٔ دپاره په یو صاع کهجورو حکم وکړو او د هغهٔ مالکانو ته ئې حکم وکړو چه د هغهٔ د کټې (ټیکس) نه په هغهٔ باندې آسانی راولی- (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ابو طیبه ددهٔ نوم دینار، یا نافع یا مَیُسَرَه وو، (دویم قول غوره دې) دا د مُحَیِّصه بن مسعود انصاری الحارثی ﷺ غلام وو، ددهٔ خراج (ټیکس) درې صاعه وو، رسول الله ﷺ د هغهٔ مالکانو ته سفارش وکړو چه ددهٔ ټیکس کم کړی نو هغوی یو صاع ترې کم کړو- (فتح الباری) او ابن الحذاءَ وائی : د ابو طیبه ﷺ عمر (۱٤۳) کاله وو- او ددهٔ مالکان د بنو بیاضه نه وو-

بعض وائی : دا ابو هند البیاضی وو- د انس بن مالك ﷺ نه د حجامه په باره کښې تپوس وشو نو هغهٔ په جواب کښې د رسول الله ﷺ دا واقعه ذکر کړه-

فوائد الحدیث : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه په غلام باندې ټیکس کیخودل جائز دی، چه غلام په هغې باندې راضي وی- (۲) او معلومه شوه چه حِجامه جائز ده او دا بهترینه دوائی ده، او پدې باندې اجرت اخستل او ورکول جائز دی که دا ناروا وې نو نبی ﷺ به نهٔ ورکولې- اګرکه پدې باندې اجرت اخستل خلاف افضل دی لکه چه مخکښې بیان شو-

(۳) او علاج کول هم جائز دی، او دا د توکل خلاف نهٔ دی-

(٤) طبیب دپاره جائز دی چه د علاج په بدله کښې عوض او سامانونه واخلی-

(۵) په حقوقو او دُیونو (قرضونو) کښې چا دپاره سفارش کول جائز بلکه بهتر دِی، دا د مسلمان سره تعاون دې- (مرقاة المفاتیح)

اَلْفَصْلُ الثَّانِیُ

2770 (12) - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه . وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ : " إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ وَإِنَّ وَلَدَهُ مِنْ كَسْبِهِ "

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : یقیناً مزیدار هغه خوراك

Maktaba Tul Ishaat.com

چه تاسو ئے کوئ هغه شے دے چه ستاسو د ګټے نه حاصل شوے وی او یقیناً ستاسو اولاد (هم) ستاسو د ګټے نه دی۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ) او په یو روایت د ابوداوَدؒ او دارمیؒ کښے داسے دی: یقیناً مزیدار هغه شے چه سړے ئے خوری (هغه شے دے) چه ددهٔ د ګټے نه وی، او یقیناً ددهٔ اولاد هم ددهٔ د کسب نه دی۔

تشریح: إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُم: [أَيْ أَحَلَّهُ وَأَهْنَاهُ] یعنی ډیر حلال او مزیدار۔

مِنْ كَسْبِكُمْ: یعنی هغه چه تاسو ګټلی وی بغیر د واسطے نه۔ دا خبر د إن دے۔

وَإِنَّ أَوْلَادَكُم مِنْ كَسْبِكُمْ: اولاد ته ئے د انسان ګټه ووئیله ځکه چه بچے د خپل پلار بعض حصه وی، او حکم د بعض حصے حکم د عین شی وی۔ او اولاد ته کسب مجازاً وئیلے شوے (المناویؒ) یا په حقیقت بناء دے ځکه چه پلار د بچی په راوړو کښے کردار ادا کوی او د هغهٔ په حاصلولو کښے کوشش کوی، او د هغهٔ تربیت کوی، نو د بچی ګټلے شوے مال داسے دے لکه د پلار۔

او په حدیث د جابر رضی الله عنه کښے دی: یو سړی ووئیل: اے د الله رسوله! زما مال او اولاد دی او زما پلار غواړی چه زما مال د بیخ نه ختم کړی (نو زهٔ ورسره څه وکړم؟) نبی ﷺ وفرمایل: [أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ] تهٔ او ستا مال ستا د پلار دی۔

[ابن ماجه رقم: ۲۲۸۲ باسناد صحیح، ابوداود: ۳۵۳۰]

ابن رسلانؒ وائی: دلته لام د اباحت دپاره دے، نهٔ د تملیك دپاره۔ یعنی پلار دپاره جائز دی چه د ځوی د مال نه بغیر د اجازت د هغهٔ نه دومره اندازه واخلی چه ژوند ئے پرے روان شی، او دا مطلب نهٔ دے چه ټول مال د ځوی دا د پلار دپاره دے، او هغه پکښے هر قسم تصرف کولے شی، چه بل ته ئے ورکوی یا ئے ضائع کوی، ځکه چه د بچی مال د هغهٔ ملکیت دے او زکاة ئے په هغهٔ باندے ډے او ددهٔ نه به په میراث کښے وړلے کیږی۔ انتهیٰ۔ او پلار د بچی د مال نه په میراث کښے شپږمه برخه اخلی لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایلی: [أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ، إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ النَّفَقَةَ] [البیهقی: ۴۸۱/۷، تاریخ الخلفاء للسیوطی ص: ۸۰] تهٔ او ستا مال ستا د پلار دی، نو ددے نه مراد نفقه ده۔

ابوحاتم ابن حبانؒ داسے مطلب بیانوی: نبی ﷺ دا شخص د پلار سره د بدے معاملے نه منع کړو کومه معامله چه د پردو سره کولے شی، او هغهٔ ته ئے د پلار سره په خبرو او کار کښے د احسان او نرمیٔ کولو حکم وکړو دے دپاره چه هغهٔ ته مال ورسوی۔ او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب نهٔ دے چه پلار د بچی د مال د هغهٔ په ژوند کښے مالك دے، اګرکه د بچی زړهٔ نهٔ وی۔ [صحیح ابن حبان : ۲/۱٤۲، رقم ٤۱۰]

بعضو وئیلی دی چه پلار هر قسم تصرف د بچی په مال کښے کولے شی خو پدے شرط چه اسراف او بیوقوفتیا پکښے نهٔ وی۔ شوکانیؒ وائی : چه ددے قول دپاره ددے باب په مجموعه احادیثو دلیل نیولے شویدے او دا په مجموع الطرق سره قابل د استدلال دی۔ نو پلار د بچی سره د هغهٔ په مال کښے شریك دے، خوراك او تصرف کولے شی، په غیر د اسراف او سفاهت نه. آهـ۔ لیکن راجح دا ده چه پلار د بچی د مال نه په خپل ځان باندے د عرف مطابق خرچه کولے شی۔

او کله چه والدین تنګدسته او فقیران وی نو په مالداره بچی باندے فرض دی چه هغوی ته به خرچه ورکوی او پدے خبره باندے د امت اجماع ده۔

وَإِنَّ وَلَدَهُ مِنْ كَسْبِهِ : دے کښے پلار ته دا خبره ښائی چه د بچی د مال نه پرهیز مهٔ کوه، داسے ګمان مهٔ کوه چه دا به ستا دپاره حرام وی۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه الترمذی : ۱۳۵۸۔ احمد : ۱۰/۱۵۷].

2771 (13) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : **"لَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالَ حَرَامٍ فَيَتَصَدَّقُ مِنْهُ فَيُقْبَلُ مِنْهُ وَلَا يُنْفِقُ مِنْهُ فَيُبَارَكُ لَهُ فِيْهِ وَلَا يَتْرُكُهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ.** إِنَّ اللّٰهَ لَا يَمْحُو السَّيِّءَ بِالسَّيِّءِ وَلٰكِنْ يَمْحُو السَّيِّءَ بِالْحَسَنِ إِنَّ الْخَبِيْثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيْثَ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَكَذَا فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : بنده حرام مال نهٔ ګټی چه د هغے نه صدقه وکړی چه هغه دِے د هغهٔ نه قبوله شی (یعنی د حرام مال نه صدقه نهٔ قبلیږی) او د هغے نه (په خپل اهل وعیال باندے) خرچه نهٔ کوی پس چه هغهٔ دپاره په هغے کښے برکت واچولے شی (یعنی برکت ورله پکښے نهٔ اچولے کیږی) او هغه د خپل ځان نه روستو نهٔ پریدی مګر هغه به ددهٔ د اُور دپاره توښه جوړیږی۔ (ځکه دا قانون دے) یقیناً الله تعالیٰ بدی په بدئ سره نهٔ لرے کوی لیکن بدی په نیکئ باندے لرے کوی، یقیناً پلیت، پلیت لره نهٔ لرے کوی۔ (احمدؒ او دغسے په شرح السنه کښے دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : دا تقسیم ټول صورتونه راګیروي، ځکه چه مال به یا په فقیرانو خرچ کولے شي، یا په نفس باندے، او یا به ساتلے شي. نو د حلال مال بدله دا ده چه قبلولے به شي او ثواب به پرے ملاویږي، او په دویم صورت کښے مقصد ژوند تیرول او په ژوند کښے برکت حاصلول دي. او په ساتلو کښے که پردي حقوق ادا شوي وي نو دا په اول قسم کښے داخل دے او که د حرام مال نه ساتل شوي وي نو دے کښے بوج او عذاب دے. ددے وجه نه ئے دلته الفاظ د حصر راوړل [اِلَّا کَانَ زَادَهٗ اِلَی النَّارِ] . دارنګه صدقه که د حرامو نه وي نو د هغهٔ صفت کیدے شي اګرکه د مخلوق د طرف نه وي، او په انفاق کښے فائده ده اګرکه په خپل نفس باندے وي، او اګرکه په دنیا کښے وي. او هرچه ساتل د حرامو دي نو دا وِزر (بوج) دے. مطلب دا چه صدقه او انفاق د حرامو نه بد کار دے، نو پدے سره هغه ګناه نهٔ معاف کیږي چه د حرامو د ګټلو په وجه حاصله شویده. نو دے سره دا وَهُم ختم شو چه صدقه خو ښهٔ صفت دے او انفاق مطلقاً برکتي شے دے، (ځکه چه ددے فائده هله ده چه د حلال مال نهٔ وي).

درجة الحديث : [اسناده ضعيف] لضعف الصباح بن محمد وهو ابن ابى حازم البجلى، اخرجه أحمد : ٣٦٧٢، وقال شعيب والالباني واحمد شاكر : ضعيف . وقال ابن عبد البر : حسن الألفاظ ضعيف الإسناد واكثره من قول على رضي الله عنه. التمهيد : ٢٤/٤٣٧.

2772 (14) – وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ وَكُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ كَانَتِ النَّارُ أَوْلٰى بِهٖ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او جابر رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : جنت ته هغه غوښه نهٔ داخليږي چه د حرامو نه زرغونه شوي (توکيدلے) وي، او هره غوښه چه د حرامو نه توکيدلے وي نو اُور د هغے (په سيزلو) باندے ډير لائق وي. (احمدؒ، دارميؒ، بيهقي : شعب الايمان)

تشریح : سحت حرامو ته وائي. امام ذهبيؒ وائي : پدے کښے ظلماً ټيکس اخستونکے، لارے شوکونکے، غل، خائن (خيانتګر)، ډاکو، يو شے په سوال اخستونکے بيا انکار کونکے، په وزن او ناپ تول کښے کمے کونکے، د سودا عيب پټونکے، جوارګر

Maktaba Tul Ishaat.com

وغيره تول داخل دي۔

كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ : يعنى كومه غوښه چه د حرام خورئ نه پيدا شوي وي نو اُور پرے لائق دے چه هغه وسيزي او دے پاك شي بيا به جنت ته داخل شي۔ يا كه د چا حق ئے ضائع كړے وي نو ددۀ نيكي به هغۀ ته ددے حق په بدله كنبے وركړے شي، يا به الله تعالىٰ په خپل كرم او رحمت سره ددۀ خَصْم (جګړه مار) راضي كړي او دے به د نورو نيكو اعمالو په وجه جهنم ته داخل نكړے شي ليكن د حرامو دا سزا ده چه انسان د اُور لائق جوړه وي۔ شعبان ۲۹۔ ۱۴۳۹ هـ۔

درجة الحديث : [اسناده صحيح] أخرجه احمد : ١٤٤٩٤. والدارمي: ٢٨١٨.

2773 (15) – وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ : حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى الدَّارِمِيُّ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ

ترجمه : او حسن بن على ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه (دا) زده كړيدي : (چه فرمايل ئے) پريده هغے شے چه تا په شك كنبے اچوي (لاړ شه) هغه شي ته چه تا په شك كنبے نۀ اچوي، ځكه چه رشتيا اطمينان دے او دروغ پريشاني ده۔ (احمدؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ او دارميؒ صرف اوله حصه (يعنى دع ما يريبك الخ روايت كړيده)۔

تشريح : پدے حديث كنبے ډير عجيبه وَرَع (پرهيزګاري) ذكر ده، او د احتياط يو لوى باب ذكر دے، چه دا د ډيرو وسوسو او مشكلاتو نه انسان خلاصوي، هغه دا چه كوم شے چه تا په شك كنبے اچوي او پريشانه كوي دِے چه دا به جائز وي او كه نۀ ؟ (ځكه چه تا ته د هغے حكم نۀ وي معلوم، يا دلائل متعارض وي او د علماؤ اقوال پكنبے مختلف وي) نو بس هغه پريده او هغه كار وكړه چه د پريشانئ نه خالي وي، ځكه چه په رشتياؤ كنبے د زړۀ اطمينان او سكون دے او په دروغو كنبے شك وي۔ نو كيدے شي چه د شكي په صورت كنبے تۀ په دروغو او حرامو كنبے واقع شے۔

يُرِيبُكَ : دا د اِرَابَةٌ نه دے، او هغه د رَيْبٌ او رِيبَةٌ نه دے، شك او پريشانئ ته وائي۔ يا د رَابَ نه دے، عرب وائي : [رَابَنِي الشَّيْءُ] دے شي په شك او پريشانئ كنبے واقع كړم۔ نو دلته يُريبك په پيش د ياء او زبر د ياء دواړو سره صحيح دے۔ يعنى يُرِيبُكَ او يَرِيبُكَ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه الترمذي: ۲۰۱۸۔ والنسائي واحمد: ۱۷۲۳۔

2774 (16) – وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَا وَابِصَةَ جِئْتَ تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ؟" قُلْتُ: نَعَمْ قَالَ: فَجَمَعَ أَصَابِعَهُ فَضَرَبَ صَدْرَهُ وَقَالَ: "اِسْتَفْتِ نَفْسَكَ، اِسْتَفْتِ قَلْبَكَ" ثَلَاثًا "اَلْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ النَّفْسُ وَاطْمَأَنَّ إِلَيْهِ الْقَلْبُ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

- ترجمه: او وابصه بن معبد ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: اے وابصه! ته راغلے چه د نیکئ او د ګناه په باره کښے پوښتنه کوے؟ ما وویل: آؤ، وابصه ﷺ وائی: نبی کریم ﷺ خپلے ګوتے (مبارکے) راغونډے کړے او د هغهٔ (یعنی د وابصه) سینه ئے پرے ووهله۔ او وے فرمایل: د خپل زړهٔ نه فتویٰ طلب کړه، د خپل زړهٔ نه فتویٰ وغواړه۔ درے کرته (ئے وفرمایل) نیکی هغه ده چه نفس هغے ته اطمینان (او آرام) وکړی او زړهٔ هغے ته سکون حاصل کړی، او ګناه هغه ده چه په نفس کښے شك پیدا کړی او په سینه کښے تردّد (پریشانی) پیدا کړی اګرکه تا ته خلك فتویٰ (د هغے په صحت) درکړی۔ (احمدؒ، دارمیؒ)

تشريح: دا حدیث د اَعلامو د نبوت نه دے، ځکه چه رسول الله ﷺ وابصه ﷺ ته د مخکښے نه خبر ورکړو۔ اول د حدیث داسے دے: وابصه بن معبد اسدی ﷺ فرمائی: زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او زما په زړهٔ کښے وه چه زهٔ به د نیکئ او ګناه هیڅ شے نهٔ پریدم مګر د هغے په باره کښے به تپوس کوم نو زهٔ نبی ﷺ ته راورسیدم، تردے چه د هغهٔ نه ګیر چاپیره د مسلمانانو یوه ډله ناسته وه چه تپوسونه ئے ترے کول، نو زهٔ د هغوی په اُوګو باندے راواوړیدم نو خلکو ما ته وویل چه اے وابصه! د رسول الله ﷺ نه جدا شه، ما وویل: ما پریدئ چه هغهٔ ته نزدے شم، ځکه چه د ټولو نه زیات محبوب ما ته دا ده چه زهٔ نبی ﷺ ته نزدے شم، نبی ﷺ وفرمایل: وابصه پریدئ، بیا ئے وفرمایل: اے وابصه! رانزدے شه، (دوه یا درے کرته ئے وویل) نو زهٔ نزدے شوم تردے چه د هغهٔ مخے ته کیناستم نو وے فرمایل: [يَا وَابِصَةُ أُخْبِرُكَ اَوْ تَسْأَلُنِي؟] اے وابصه! زهٔ خبر درکړم او که تهٔ تپوس کوے؟ ما وویل: نه، بلکه تهٔ خبر راکړه۔ نو وے فرمایل: چه تهٔ دے دپاره راغلے ئے چه د نیکئ او د ګناه په باره کښے تپوس کوے؟، بیا ئے دغه حدیث ذکر کړو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا نبی ﷺ ته څنګه پته ولګیده چه وابصه ﷺ دے مقصد دپاره راغلے دے؟ ددے جواب دا دے چه کیدے شی چه نبی ﷺ د مخکښے نه د وابصه ﷺ په باره کښے خبر شوے وی، وابصه ﷺ چا ته وئیلی وی چه زهٔ نبی ﷺ خوا ته ددے مقصد دپاره ورځم او هغه شخص نبی ﷺ ته وئیلی وی، یا جبریل ﷺ خبر ورکړے وی- او دا د نبی ﷺ معجزه ده- (ددے نه دا نهٔ ثابتیږی چه نبی ﷺ په هر غیبو باندے پو هیدو بلکه کله چه بهٔ الله تعالیٰ خبر ورکړو، په یوه موقعه کښے به پو هه شو) (قَدْ نَبَّأَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ)

فَضَرَبَ صَدْرَهٗ : په سوك باندے ئے ووهلو دے دپاره چه د نبی ﷺ د لاس په برکت سره ئے سینه کولاوه شی، یا پدے وجه چه متوجه شی-

وَقَالَ : " اِسْتَفْتِ نَفْسَكَ : استفتاء طلب د افتاء ته وائی- او افتاء په معنیٰ د خبر سره، یعنی زړهٔ نه جواب او خبر وغواړه او تپوس کوه، او افتاء : د حکم شرعی نه خبر ورکول دی نو نبی ﷺ دا خبر ورکول زړهٔ ته حواله کړل، ځکه چه د مؤمن صفا او د نُور نه ډك زړهٔ وی او هغهٔ ته فراست حاصل وی نو په هغے سره هغهٔ ته د ګناه او نیکئ اندازه لګی- نو کوم شی چه زړهٔ ته اطمینان ورکولو او پریشانی ئے نهٔ پیدا کوله، پته به لګی چه دا کار د نیکئ دے او که پریشانی ئے پیدا کوله نو دا به د ګناه کار وی- نو دا حکم د هغه چا په باره کښے دے چه زړهٔ ئے سلیم وی او نیت ئے رشتینی وی، د هر چا زړهٔ نهٔ دے مراد، ځکه چه د مجرمانو زړونو کښے د ګناه محبت وی- د چا چه زړهٔ په دین باندے برابر وی نو الله تعالیٰ ورته د خپل علم نه تائید ورکوی- ځکه چه ډیر کرته د وسواسی انسان زړهٔ هرشے نفی کوی او د مُتساهل (نرمی کونکی) انسان زړهٔ هر شی ته ګوری او مائله کیږی نو دے دواړو زړونو له اعتبار نشته-

وَالْاِثْمُ مَا حَاكَ : حاك په معنیٰ شك او تردد پیدا کولو سره دے- او په معنیٰ د اثر کولو سره دے- عرب وائی : [مَا يَحِيْكُ فِيْهِ الْمَلَامُ] یعنی په دهٔ کښے ملامتیا اثر نکوی-

فوائد : (۱) د نبی ﷺ ډیر ښکلے اخلاق وو چه سائل ته ئے مخکښے نه وویل چه تهٔ د نیکئ د تپوس په باره کښے راغلے ئے، دے دپاره چه د هغهٔ زړهٔ ته راحت او اطمینان حاصل شی او په رسول الله ﷺ باندے ئے یقین مضبوط شی- (۲) زړهٔ او نفس ته رجوع جائز ده، پدے شرط چه دا شخص به دینداره وی-

(۳) انسان به د خلکو په فتوو باندے دهوکه نهٔ خوری خاصکر کله چه په خپل نفس

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې تردد او شك مومي، څکه چه ډیر خلك د یو عالِم یا یو طالب علم نه تپوس کوي، هغه ورته فتویٰ ورکړي لیکن دده په زړهٔ کښې شك وي نو آیا دے به د بل عالِم نه تپوس کوي؟ **جواب** : آؤ، دهٔ باندے واجب دي چه بل عالِم نه به تپوس کوي کله ئے چه د اول عالِم په جواب کښې شك پیدا شو څکه چه حق ته ځان رسول او شك ختمول ضروري دي۔

(٤) وابصه ﷺ دا تپوس په هغه وخت کولو چه کله د یو شي د حق او باطل والي او په جائز او ناجائز کیدو کښې شك پیدا شي۔ دا حکم د واضحو احکامو په باره کښې نهٔ دے۔

فائده : خطابیؒ وائي : هر شي کښې چه ستا شك راشي نو د هغې نه اجتناب (ځان ساتل) وَرَع (اعلیٰ پرهیزگاري) ده۔ بیا دا په درے قسمه دي، واجب، مستحب، او مکروه۔ (۱) واجب دا دے چه د کوم شي په وجه د حرامو کوّل راځي نو د هغې نه اجتناب واجب دے۔ (۲) او مستحب دا دے چه د هغه چا د معاملے نه ځان ساتل چه د هغهٔ اکثر مال حرام وي۔ (۳) و مکروه دا دے چه انسان د جائز رخصتونو نه ځان وساتي چه کله په طریقه د تنطع او تشدد سره وي۔

درجة الحديث : [ضعيف لانقطاعه] أخرجه احمد : ١٨٠٣٠ ـ والدارمي : ٢٥٣٣ ـ الزبير ابو عبد السلام لم يسمع من ايوب، وروى مختصرا عن النواس بن سمعان مرفوعا : البر حسن الخلق والاثم ما حاك في صدرك وكرهت ان يطلع عليه الناس، رواه مسلم : ٦٦٨٠، واحمد : ١٧٦٣١ .

2775 (17) – وَعَنْ عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : **"لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ "**. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عطیه سعدی ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : بنده نشي رسیدلے دے ته چه د متقیانو نه شي تردے چه هغه شے پریدي چه په هغې کښې څه باك (نقصان) نهٔ وي پدے یره چه په دے کښې به نقصان او قباحت وي۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : مِنَ الْمُتَّقِيْنَ : دلته تقدیر دے، مضاف مقدر دے، یعني درجے د متقیانو ته۔ دلته اعلیٰ درجه تقویٰ مراد ده۔ تقویٰ کښې درے مرتبے دي (۱) یو هغه چه انسان د

Maktaba Tul Ishaat.com

عذاب د همیشوالی نه بچ ساتی او دا کیږی د شرك نه په بچاؤ سره۔ لکه په [وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى] (الفتح : ٢٦) کښې راغلي دہ۔ (۲) د هر قسم ګناه نه ځان ساتل، وړه وی او که غټه۔ دا په [وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرٰى آمَنُوا وَاتَّقَوْا] (اعراف : ٩٦) کښې راغلي دہ۔

(۳) د هر هغه شی نه ځان ساتل چه د الله تعالیٰ نه ئے زړهٔ اړه وی، او الله تعالیٰ ته مکمل متوجه کیدلو نه، او دا حقیقی تقویٰ دہ چه پدے آیت کښې ئے مطالبه شویده [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ] [آل عمران : ١٠٢] ۔ دا حدیث اګرکه د دویمے مرتبے دپاره دلیل ګرځی لیکن جائز دہ چه د دریمے مرتبے دپاره هم دلیل وګرځی۔

حَتّٰى يَدَعَ : یعنی زیاتی حلال پدے یَره سره پریدی او نهٔ ئے استعمالوی چه چرته په حرامو کښې واقع نشی۔ (المناویؒ)

درجة الحديث : [حسن] أخرجه الترمذي : ٢٤٥١ وابن ماجه: ٤٢١٥.

2776 (18) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ عَشْرَةً : عَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَشَارِبَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَآكِلَ ثَمَنِهَا وَالْمُشْتَرِيَ لَهَا وَالْمُشْتَرٰى لَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په شرابو کښې په لسو کسانو لعنت وئیلے دے : په نچوړ کونکی، د نچوړ کولو طلب کونکی او د هغے په څکونکی او د هغے په پورته کونکی او چا ته چه وړلے شی او د هغے په څکوونکی او د هغے په خرخونکی او د هغے د پیسو په خوړونکی او د هغے په اخستونکی او چا دپاره چه هغه اخستلے شی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : لَعَنَ : لعنت د الله تعالیٰ د رحمت نه وړاندے والی ته وئیلے شی۔

عَاصِرَهَا : یعنی نچوړ کونکے په خپله، د خپل ځان یا د بل چا دپاره۔

وَمُعْتَصِرَهَا : دا هغه څوك دے چه د بل نه طلب کوی چه ما له یا بل چا له ئے نچوړ کړی۔ وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ : یعنی هغه څوك چه چا دپاره دا وړلے شی۔ یعنی د بل نه ئے طلب کوی چه دا ما دپاره یوسه۔ وَسَاقِيَهَا : یعنی چه په بل باندے ئے څکوی۔ وَالْمُشْتَرِيَ لَهَا : یعنی د شرابو اخستونکے۔ وَالْمُشْتَرٰى لَهُ : او چا دپاره چه اخستے شی۔

ددے حدیث نه د شرابو د ګناه لوئی والے معلوم شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه الترمذی: ١٢٩٥ـ وابن ماجه: ٣٣٨١ـ واحمد: ٢٨٩٩.

2777 (19) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**لَعَنَ اللّٰهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا** وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجه

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ په شرابو باندے لعنت کړے او د هغے په څکونکی او د هغے په خرڅونکی او د هغے په خرڅونکی او د هغے په اخستونکی او د هغے په نچوړ کونکی او د هغے په بل لره نچوړ کونکی او د هغے په پورته کونکی او چا دپاره چه هغه وړلے شی۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: اَلْخَمْرَ: د شرابو په ذات باندے ئے لعنت پدے وجه وئیلے چه دا اُمّ الخبائث ده، ټول خباثتونه راجمع کوی۔ ددے نه د شرابو پیسو خوړونکے هم مراد کیدے شی۔

وَشَارِبَهَا: یعنی د شرابو څکونکے، وَسَاقِيَهَا: یعنی په بل باندے څښونکے۔

وَمُبْتَاعَهَا: یعنی ددے اخستونکے۔

فائده: دا دواړه حدیثونه دلیل دے چه په ګناه باندے مدد کول پوره ګناه ده۔

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه ابوداود: ٣٦٧٦ وابن ماجه: ٣٣٨٠].

2778 (20) – وَعَنْ مُحَيِّصَةَ ﷺ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ أُجْرَةِ الْحَجَّامِ فَنَهَاهُ فَلَمْ يَزَلْ يَسْتَأْذِنُهُ حَتّٰى قَالَ: "**اِعْلِفْهُ نَاضِحَكَ وَأَطْعِمْهُ رَقِيْقَكَ**". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجه.

ترجمه: او محیصه ﷺ په باره کښے نقل دی چه هغهٔ د رسول الله ﷺ نه د حجامه کونکی د مزدورئ په باره کښے اجازه وغوښته نو نبی کریم ﷺ هغهٔ لره منع کړو نو هغهٔ همیشه اجازت غوښتلو تردے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: دا خپل اُوښ ته په ګیاه کښے ورکړه او په خپل غلام باندے ئے وخوره وه۔ (مالكؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: د صحابه کرامو ﷺ غلامان وو او د هغوی د ټیکس او خراج نه به ئے خوراك کولو، او دا به ئے بهترین کسب ګڼړلو نو هرکله چه محیصه ﷺ دا نهی واوریده او هغهٔ به هم د خپل غلام ابو طیبه د لاس نه مزدوری خوړله نو هغهٔ باندے دا خبره ګرانه تمامه

Maktaba Tul Ishaat.com

شوه، نو بار بارئے ددے په باره کښے رخصت غوښتلو تردے چه نبی ﷺ ورته وفرمایل: دا خپل اُوښ باندے وخوره وه او خپل غلام ته ددے نه طعام ورکړه. ځکه چه دا دواړه داسے څیزونه دی چه د دوئ شرافت نشته چه د هغې سره ددے کاروبار دَنَاءَت منافي وی. په خلاف د آزاد نه چه د هغۀ شرافت ددے کاروبار د رذالت سره منافی دے.

دا صحیح حدیث دلیل دے د هغه علماؤ دپاره چه دا وائی چه اُجرت د حجام آزاد سړی لره حرام او غلام لره جائز دے. لیکن پدے باندے اجماع ده چه دا آزاد لره هم جائز دے نو ددے وجه نه دا نهی د تنزیه دپاره ده. (یعنی اعلیٰ اخلاق نۀ دی) (قاله ابن الملك) (تحفة الاحوذی: ۳۸۷/۳)

دارنګه د همدے حدیث نه ثابتیږی چه اُجرت د حجام مباح دے ځکه چه که دا حرام وے نو ددۀ ملکیت به پرے نۀ ثابتیدلے او بیا به ئے غلام ته د ورکولو حکم نۀ کولے، ځکه چه حرام شے په ټولو باندے یو شان حرام وی. داسے فرق کولو باندے هیڅ دلیل نشته. خو دلته نبی ﷺ محیصه ﷺ منع کړو ځکه چه نبی ﷺ به خپل ملګری په اعلیٰ اخلاقو او د اعلیٰ کسبونو نه په خوراك باندے عادت کول. نو دا منع د یو مصلحت په بنیاد وه.

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه مالك في الموطأ : ابوداود: ٣٤٢٤- والترمذي: ١٢٧٧ واحمد: ٢٣٧٤٠.

2779 (21) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ .

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د سپی د قیمت او د ډمے (زناکارے) د مزدورئ نه منع فرمائیلے ده. (شرح السنه)

تشریح : وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ : د زمارة یوه معنیٰ زَانِيَه ده. یعنی زناکاره ښځه. لکه ددے معنیٰ په بل حدیث کښے مهر البغی سره راغلے ده. دا یا مشتق دے د [زَمَرْتُ فُلَانًا بِكَذَا] نه (یعنی ما فلانے په فلانی کار راتیز کړو) نو زناکاره ښځه هم سړی په فاحشه باندے راتیزوی او هغوی له د فاحشے مینه ورکوی. یا د [زَمَرَ الظَّبْىُ زَمْرَانًا] نه دے. یعنی اُوسئ چه کله نفرت وکړی او په پټه اُوځی او وتربږی، نو عرب دغه جمله استعمالوی. او زناکاره ښځه هم دغه شان وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

یا د [زَمَرَ الْقِرْبَةَ] نه دے (یعنی لوښے ئے ډك کړو) او زناکاره هم خپل رَحِم د مختلفو نطفو نه ډکوی۔ یا د زُمْرَة نه دے، ډلے ته وائی او زناکاره هم د ډیرو خلکو ډلوسره تعلقات کوی، او هغوی ورپسے روان وی۔ یا د زَمْرٌ نه دے په معنیٰ د تهنګ ټکور او ګانے بجانے وئیلو سره۔ عرب وائی: [غِنَاءٌ زَمِيْرٌ اَیْ حَسَنٌ] یعنی ښائسته ګانه بجانه۔ (از هرؔیؔ)

نو زمارة د ډمچورے ښځے کاروبار ته وائی چه په ډمتوب باندے مال ګټی۔

او زَمَّارَةٌ مبالغه ده په زَامِرَةٌ کښے، ډمے ته وائی او زناکارے ښځے غالباً ډمے وی چه ډم توب ئے کاروبار جوړ کړے وی۔ ګانے بجانے وائی او بیا زنا کوی۔.

ثعلبؔ وئیلی دی: زمارة [اَلْبَغِيُّ الْحَسْنَاءُ] ښائسته زناکارے ته وائی۔ آه۔

او زمر شپیلۍ وهلو ته وئیلے شی۔

او بعضو وئیلی دی چه دا په تقدیم د راء او تاخیر د زا سره دے، د رمز نه دے په ورځو او شونډو باندے اشارے کولو ته وئیلے شی۔ او زناکارے ښځے داسے کارونه کوی۔

[التنویر شرح الجامع الصغیر ٤/٥٧٦، وشرح الطیبی، وتحفة الابرار شرح مصابیح السنة للبیضاوی ٢/٢١٨]

درجة الحدیث: [حسن] أخرجه البیهقی فی الکبری: ٦/١٢٦۔ والبزار: ١٠٠٢٦۔ وشرح السنة: ٢٠٣٨۔ والخطیب فی التاریخ: ٨/٣٠٤۔ رجاله ثقات رجال الشیخین غیر خالد بن ابی یزید وهو المزرقی البغدادی قال ابن معین لم یکن به بأس۔ قال الحافظ فی القریب: صدوق. (الصحیحة: ٣٢٧٥/٧/٨١١)۔

2780 (22) — وَعَنْ أَبِیْ أُمَامَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **لَا تَبِيْعُوا الْقَيْنَاتِ وَلَا تَشْتَرُوْهُنَّ** وَلَا تُعَلِّمُوْهُنَّ وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ وَفِيْ مِثْلِ هٰذَا نَزَلَتْ: **(وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ)**. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيْدَ الرَّاوِیْ يُضَعَّفُ فِی الْحَدِيْثِ وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ جَابِرٍ: نَهٰى عَنْ أَكْلِ الْهِرِّ فِیْ بَابِ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ "إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

ترجمه: او ابو امامه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو ډمے مهٔ خرڅوئ او مهٔ دا اخلئ او دوئ ته (د ډمچورئ) تعلیم مهٔ ورکوئ، او د دوئ قیمت حرام دے، او ددے په شان حالت باره کښے (دا) آیت نازل شویدے: ومن الناس الخ: ترجمه: او ځینی د

Maktaba Tul Ishaat.com

خلکو نه هغه څوك دى چه فضول خبرے اخلى (غوره کوى ئے)۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، او ترمذیؒ وئيلى دى چه دا حديث غريب دے، او على بن يزيدؒ راوى په حديثونو کښے ضعيف ګڼړلے شى۔ او زر دے چه مونږ به ذکر کړو حديث د جابر ﷺ چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د خوراك د پيشو نه۔ په باب د ما يحل لحمه کښے۔ (يعنى بيان د هغه څيزونو چه د هغے خوراك حلال دے)۔

تشريح : الْقَيْنَاتِ : جمع د قَيْنَةٌ ده، وينځے ته وائى، برابره ده چه ډمه (يعنى سندرغاړے) وى او که نۀ۔ جمع ئے قَيْنَاتٌ او قِيَانٌ راځى۔ او د ډمے دپاره زيات استعماليږى۔ او دلته هم همدا مراد ده ځکه چه وينځه کله ډمچوره نۀ وى نو د هغے د خرڅولو او اخستو د منع هيڅ وجه نشته۔

وَلَا تُعَلِّمُوهُنَّ : يعنى دا کاروبار د ډمتوب ورته مۀ ښاييۀ۔

وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ : يعنى دا چه کومے پيسے په ډمتوب وګټى هغه حرامے دى۔

لَهْوَ الْحَدِيْثِ : يعنى ټنګ ټکور او حرام آوازونه چه د الله تعالىٰ د ذکر نه غفلت راولى او بنده په زنا کښے واقع کوى۔

دا روايت اګرکه سنداً ضعيف دے ليکن معنىٰ ئے صحيح ده، دغه آيت کښے همدا خلك ذکر دى۔ لکه دا آيت د نضر بن حارث په باره کښے نازل شوے وو چه هغۀ به د رسول الله ﷺ په خلاف باندے په خپل ځائے کښے مجلسونه لګول او ډمے به ئے پکښے ګډولے او شراب به ئے څکل او د رستم او اسفنديار بادشاهانو قصے به ئے بيانولے او دا به ئے وئيل چه زما مجلس ښائسته دے او که د محمد (ﷺ) ؟۔ (قرطبيؒ، وابن کثيرؒ)

او بله دا چه عبد الله بن مسعود ﷺ قسم سره درے ځل وفرمايل : [مَنْ يَشْتَرِىْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ : هُوَ وَاللهِ الْغِنَاءُ] [خلاصة البدر المنير لابن الملقن : ٢/٤٤٧، اسناده حسن۔ وابن باز : ثابت، مجموع فتاوىٰ ابن باز : ٢١/١٥١، صحيح : ابن القيم : (اغاثة)، صحيح : البانى فى النصيحة : ١٨١، والصحيحة : ٦/١٠١٧، صحيح الادب المفرد : ٩٥٥ ؛ صحيح موقوفا، وهو فى حكم المرفوع عند الحاكم وغيره (البانى) وصححه الحاكم : ٣٥٤٢]

قسم په الله د لهو الحديث نه مراد ټنګ ټکور دے۔

وَسَنَذْكُرُ : يعنى حديث د جابر ﷺ چه په هغے کښے د پيشو د خوراك نه منع راغلے ده هغه به روستو په "بَابُ مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ" کښے ذکر کړو ځکه چه د هغے سره ئے زيات

Maktaba Tul Ishaat.com

مناسبت دے۔

درجة الحدیث : [حسن] أخرجه أحمد : ٥/٢٥٢ و ٢٦٤، رقم ٢٢٢٨٥۔ والترمذی : ١٢٨٢۔ و ٣١٩٣۔ وفیه الولید بن الولید العنسی متروك (دارقطنی) میزان واللسان، وعلی بن یزید ضعیف الا انه شواهد ومتابعات۔ (اغاثة اللهفان : ١/٣٦٢، ابن القیم) وقال الالبانی حسن : (الصحیحة : ١٦٠٤) وقال الزیلعی فی نصب الرایة : ٣/٦٧) وله طرق اخری، وقال الشوکانی : حسن لغیره : نیل الاوطار : ٨/٢٦٢).

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2781 (23) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ** ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : د حلال مال د گټلو طلب کول د یوے فریضے (مانځه) نه پس فریضه ده۔ (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : یعنی د پنځه مونځونو نه روستو یا د پنځه ارکانو نه روستو، یا پس د ایمان او مانځه نه حلال رزق طلب کول فرض دی۔ دے ته ئے ځکه فرض وویل چه حلال رزق طلب کول اگرکه مباح کار دے لیکن مِنْ وَجْه دا د واجباتو نه دے۔ ځکه چه په عبادت باندے مشغول کیدل هله کیدے شي چه د انسان ضروریات پوره شي نو دا وسیله د عباداتو ده۔

او بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ وئیلو کښے اشاره ده چه داسے به نهٔ کوی چه اول مقصد ئے دنیا طلب کول وی، او عبادات ترے پاتے وی، بلکه د مسلمان شان به دا وی چه اول به د ایمان او عباداتو خیال کوی او بیا به د ضرورت مطابق رزق هم طلب کوی۔ او بل پدے کښے اشاره ده چه دا داسے فریضه نهٔ ده لکه د مانځه وغیره په شان بلکه ددے مرتبه روستو ده او د ضرورت په وخت کښے ده۔ لیکن روایت ضعیف دے۔

درجة الحدیث : [ضعیف] رواه البیهقی فی السنن الکبری : ١٢٠٣٠ وشعب الإیمان : ٨٣٦٧ : تفرد به عباد بن کثیر الرملی وهو ضعیف. ضعیف الجامع : (٣٦٢٠)

2782(24) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهٗ سُئِلَ عَنْ أُجْرَةِ كِتَابَةِ الْمُصْحَفِ فَقَالَ : **لَا بَأْسَ إِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُوْنَ وَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ مِنْ عَمَلِ أَيْدِيْهِمْ** . رَوَاهُ رَزِيْنٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه د هغۀ نه د قرآن كريم د ليكلو د مزدورئ په باره كښے پوښتنه وكړے شوه نو هغۀ وفرمايل : (پدے كښے) هيڅ گناه نشته، ځكه چه دوئ (ليكونكى) تصوير او نقش جوړه ونكى دى او دوئ د خپلو لاسونو كسب نه خوراك كوى- (رزينؒ)

تشريح : مُصَوِّرُوْنَ : صورة هيئت او نقش (رسم) ته وائى- دلته ترے رسم كول او نقش كول مراد دى- قرآن كريم عبارت دے د مَقْرُوْء او قراء ت دواړو نه، دارنگه د مكتوب او كتابت دواړو نه، او مقروء او مكتوب (كوم چه د الله تعالىٰ كلام دے) قديم دے او قرائت او كتابة صفت د قارى او د كاتب دى نو ابن عباس ﷺ وكتل چه كتابة د بنده كار دے نو دے باندے عوض اخستل جائز دى-

دا حديث دليل دے چه د قرآن كريم او دينى كتابونو ليكلو باندے اجرت اخستل جائز دى او پدے كښے هيڅ بدى نشته، ځكه چه دا د خپلو لاسونو د لاس عمل دے- نور د قرآن كريم عظمت سره تولـه دنيا برابره نۀ ده-

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه رزين- (تخريج احاديث المشكاة رقم : ٢٧١٥) البانى.

2783 (25) – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ ﷺ قَالَ : قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ :" عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهٖ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او رافع بن خديج ﷺ فرمائى : عرض وشو اے د الله رسوله ! كوم كاروكسب پاكيزه (افضل) دے ؟ وے فرمايل : د سړى په خپل لاس سره كارو كسب كول او هر هغه تجارت (اخستل خرڅول) چه نيك (يعنى د شرطونو مطابق) وى- (احمدؒ)

تشريح : : [أَيُّ الْكَسْبِ] كسب گټلو او د رزق او معيشت اسباب تالاش كولو ته وائى- كسب كښے د جدو جهد معنىٰ پرته ده- [أَطْيَبُ] يعنى د عمل په لحاظ ډير غوره، زيات بركت والا او د خوراك په لحاظ ډير حلال- [عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهٖ] د رجل تذكره په دے وجه شوے چه په عامه توگه سړے د خوراك څكاك، مكان او ژوند برابرولو ذمه وار وى- په دے كښے ښځه هم داخله ده چه كله په خپل ځان يا اولاد باندے نفقے ته محتاجه وى- او د لاس په كارونو كښے زراعت، صناعت، نجارى، لو هارى، خياطى او خطاطى وغيره تول داخل دى- [بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ] مبرور د بِرّ نه دے نيكئ ته وائى، يعنى هغه بيع چه په هغے كښے شروط او اركان پوره وى او موانع او مفسدات، دروغ، دهوكه، دروغژن قسمونه

Maktaba Tul Ishaat.com

پکښې نۀ وي. او په صدق او بيان د حقيقت باندې ولاړه وي.
يا معنیٰ هغه بيع چه د دروغو او دهوکې او خيانت نه خلاصه وي. يا د الله تعالیٰ په نيز مقبوله وي چه په هغې باندې ثواب ملاويږي.

فوائد الحديث : (۱) حديث نه معلومه شوه چه کار کسب کول او حلال رزق ګټل په شريعت کښې مطلوب او مقصود دي، او دا د توکل خلاف نۀ دي، بلکه دا د شرعي اسبابو لټول دي، ځکه نبي کريم ﷺ دغه سائل په خپل سوال برقرار پريښې او هغۀ ته ئې د بهترين کسب خبر ورکړې. او کار کسب کول د انبياء کرامو – عليهم السلام – هغه طريقه ده چه مونږ ته د هغې د پيروئ حکم شوې. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ [انعام : ۹۰] (نو د هغوئ په طريقه پسې روان شه) او نبي ﷺ فرمائي : ((زکريا عليه السلام نجار وو)) [مسلم: ۲۳۷۹] ((او داود عليه السلام به صرف د خپل لاس د ګټلي مال نه خوراك کولو)) [بخاري : ۲۰۷۳] او زمونږ نبي کريم ﷺ به د يو څو قيراطونو په بدله کښې د مکې والو دپاره ګډې بزې څرولې. [بخاري: ۲۲٦۲] او د خديجې رضي الله عنها په مال کښې ئې تجارت کړې. [صحيح السيرة النبوية: ۱/۱٦٤]

(۲) حديث نه د صحابه کرامو په حلال کسب او اُوچت همت باندې حرص کول معلوم شو چه دوئ د ډيروالي پوښتنه نۀ ده کړې چه ډير مال په کوم کار کښې ملاويږي، بلکه د پاکيزه او حلال کسب پوښتنه ئې کړې. او همدا د يو مسلمان خوئے دے چه کله د بيع او شراء اراده لري نو ددۀ مقصد به حلال مال وي ځکه دا برکتي شے دے. مال ډيرول او جمع واري به ئې مقصد نۀ وي ځکه په دے کښې کله خير او برکت نۀ وي.

(۳) په ټولو کسبونو کښې بهترين کسب په خپل لاس سره ګټلے مال دے ځکه نبي کريم ﷺ دا په هر قسمه سودا باندې مخکښې کړې. نبي ﷺ فرمائي: ((هيڅ يو کس د خپل لاس د ګټې نه زياته بهترينه خوراکه نۀ ده خوړلې)) [بخاري: ۲۰۷۲]

(٤) د علماؤ په دے کښې اختلاف دے چه د لاس په کارونو کښې د ټولو نه بهترين کار کسب کوم يو دے ؟ نو چا زراعت او کرکيله غوره ګڼلې ځکه چه په دے کښې توکل وي او په دے کښې د انسانانو، چارپايانو او مارغانو ټولو نفع ده. چا صنعتونه او حرفتونه غوره ګڼرلي او چا بيع او شراء. او چا ويلي دي چه هر چا سره د هغۀ د حال مناسب کار کسب کول غوره دي. خو په ټولو کارونو کښې غوره کار په جهاد سره د کافرانو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

مالونه غنیمت کول دي چه دا د نبي کریم ﷺ او د هغهٔ د ملګرو کار کسب وو، ولے چه په دے کښې اعلاء کلمة الله ده. په بل تعبیر سره: ((هم خُرما هم ثواب)).

(۵) حدیث نه دا هم معلومه شوه لکه څنګه چه په عباداتو کښې نیکۍ او الله ته د نزدیکت ذریعه شته دے نو دغه شان د مسلمان په بیع، شراء او کار کسب کښې هم اجر او ثواب او دنیا او آخرت ګټل دي. دا وجه ده، په صحیح نیت باندے کار کسب کول عبادت جوړیږي. مثلاً یو تن په دے نیت کار کسب کوي چه خپل ځان او بال بچ د سوال د ذلت نه بچ کړي، مسلمان سره مالي تعاون وکړي، کونډو رنډو کمزورو، یتیمانو او مسکینانو سره مدد وکړي، د دعوت او جهاد په لاره کښې مال ولږوي او خلکو ته پرے نفع ورسوي، نو داسے مال ګټل بعینهٖ عبادت دے. او ددے نیت والا کس برکتي سړے دے. الله به ددهٔ مدد کوي.

درجة الحديث : [صحیح] بزار فی کشف الأستار: ۱۲۵۷، أحمد: ٤/١٤١، حاکم: ۲/۱۰، صحیح الجامع الصغیر: ۱۰۳۳. **المسعودي په دے کښې مختلط راوي دے لیکن دا حدیث د شواهدو په وجه صحیح دے.** الصحیحة: ٦٠٧] **د مسند احمدؒ محققینو ورته حسن لغیره وئیلے.** [الموسوعة الحدیثیة مسند الامام أحمد: ۲۵/۱۵۷-۱۵۹].

2784 (26) وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ: كَانَتْ لِمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ ﷺ جَارِيَةٌ تَبِيعُ اللَّبَنَ وَيَقْبِضُ الْمِقْدَامُ ثَمَنَهُ فَقِيلَ لَهُ: سُبْحَانَ اللَّهِ! أَتَبِيعُ اللَّبَنَ؟ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ؟ فَقَالَ نَعَمْ وَمَا بَأْسٌ بِذَلِكَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "**لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيهِ إِلَّا الدِّينَارُ وَالدِّرْهَمُ**". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او ابوبکر بن ابی مریمؒ فرمائي: د مقدام بن معدیکرب ﷺ یوه وینځه وه چه پئ به ئے خرڅول او مقدام به د هغے قیمت اخستو نو دهٔ ته ووئیل شو: تعجب دے، آیا (ستا) وینځه پئ خرڅوي او تهٔ (د هغے) قیمت اخلے؟ نو مقدام ﷺ وفرمایل: آؤ، او په دے کښې هیڅ نقصان نشته، (ځکه چه) ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي چه فرمایل ئے: خامخا په خلکو به یوه داسے زمانه راشي چه په هغے کښې به فائده نهٔ ورکوي مګر اشرفۍ او روپۍ. (احمدؒ)

تشریح : أَتَبِيعُ اللَّبَنَ ؟: تبیع کښې ضمیر جاریه ته راجع دے، او همزه د استفهام انکاري

Maktaba Tul Ishaat.com

ده، او انکار متوجه دے معنیٰ د دناءت او رذالت ته، یا انکار متوجه دے بیع او قبض الثمن دواړو ته، په اول صورت کښے مطلب دا دے چه آیا وینځه یے خرڅوی او تهٔ د هغے سر ته د څوکیدار په شان ولاړ یے او پیسے ترے اخلے دا ډیر عجیبه کار دے، دا ستا د شان سره مناسب نهٔ ده۔ او دویم صورت کښے مطلب دا دے چه دواړه کارونه جمعه کوے چه وینځه دِے یے خرڅوی او تهٔ د هغے پیسے اخلے او پدے پریوتی کار باندے رضا یے، نو هغهٔ ورته بنکلے جواب وکړو چه دے کار کښے څو شرعی هیڅ نقصان نشته، نهٔ دا کار حرام دے، او نهٔ مکروه، بلکه په یوه جائزه طریقه سره مال پیدا کول دی۔ او مال د مسلمان دپاره بهترین شے دے، داسے وخت به راشي چه خلك به داسے نقصاني شي چه کمال والا خلکو له به هیڅ اعتبار نهٔ ورکوی او د مالدارو خدمتونه او غلامی به کوی، او د هغوی سره به تعلقات قائموی۔ او دا خبره اُوس واقع شویده، د علم خاوندان او د تقویٰ او کمال والا انسانان خلك ضائع کوی، هغوی ته حق نهٔ ورکوی۔ والله المستعان۔

طیبیؒ ددے مطلب داسے بیانوی چه خلکو ته به صرف کسب فائده ورکوی ځکه چه که دا پریدی نو په حرامو کښے به واقع کیږی۔

لکه بعض سلفو ته وویل شو چه کسب خو تا دنیا ته نزدے کوی؟ هغهٔ وفرمایل: ما دنیا ته نهٔ نزدے کوی بلکه ما د دنیا نه ساتی۔ او سلفوّ به دا هم فرمایل: تجارت او کسب کوئ ځکه چه تاسو په داسے زمانه کښے یئ چه که یو تن ستاسو محتاج شو نو اول خپل دین خوری۔ (یعنی دین ضائع کوی)۔

د سفیانؒ نه نقل دی چه هغهٔ څه پنګه (پیسے) لاس کښے اړه ولے راړولے بیا به ئے فرمایل : [لَوْلَا هٰذِهٖ لَتَمَنْدَلَ بِیْ بَنُو الْعَبَّاسِ] که دا روپئ نهٔ وے نو ما نه به د بنو عباس بادشاهانو رومیال جوړ کړے وے۔ (یعنی ما باندے به ئے د رومال په شان خِیری پاکولے)

درجة الحديث : [ضعيف منقطع] أخرجه أحمد : ۱۷۲۴۰ . ابی بکر بن ابی مریم ضعیف.

2785(27) - وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ : كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ وَإِلَى مِصْرَ فَجَهَّزْتُ إِلَى الْعِرَاقِ فَأَتَيْتُ إِلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ ﵂ فَقُلْتُ لَهَا : يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ ! كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ فَجَهَّزْتُ إِلَى الْعِرَاقِ فَقَالَتْ: لَا تَفْعَلْ مَالَكَ وَلِمَتْجَرِكَ ؟ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : " إِذَا سَبَّبَ اللّٰهُ لِأَحَدِكُمْ رِزْقًا مِنْ وَجْهٍ فَلَا يَدَعْهُ حَتّٰى يَتَغَيَّرَ لَهُ أَوْ يَتَنَكَّرَ لَهُ ". رَوَاهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او نافعؒ فرمائي : ما به (خپل) مال او اسباب تيارول (او خپلو غلامانو او وكيلانو ته به مې سپارلو سره) شام او مصر ته ليږل، نو (بيا يو ځل) ما عراق ته سامان تيارولو سره د ليږلو اراده وكړه، نو زهٔ ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته راغلم ما ورته عرض وكړو، اې د مؤمنانو مورې ! ما به سامان شام ته ليږلو نو (اُوس مې) عراق ته د ليږلو اراده كړې۔ نو هغې وفرمايل : داسې مهٔ كوه۔ تا او ستا د تجارت د ځائې (بدلولو) دپاره څه شويدي؟ ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئې : كله چه الله تعالىٰ ستاسو د يو تن دپاره د يو طرف نه د رزق سبب جوړ كړې وي نو هغهٔ دِې نهٔ پريدي تردې چه هغې كښې تبديلي راشي يا ورته نقصان ورسيږي۔ (احمدؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : كُنْتُ أُجَهِّزُ : ددې مفعول حذف دې [أَيْ أُجَهِّزُ وُكَلَائِيْ بِبِضَاعَتِيْ وَمَتَاعِيَ الشَّامَ]يعنى ما به مخكښې شام ته او مصر ته خپل وكيلان په تجارتي مال سره ليږل، دا ځل مې عراق ته وليږل، نو پدې باره كښې ئې د ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها نه مشوره واخسته نو هغې منع كړو چه د تجارت ځائې مهٔ بدلوه تردې چه تا ته يو سخت ضرورت راپيښ شي هغه دا چه هغه لاره بنده شي يا پكښې كمزوري پيدا شي۔

مَالَكَ وَلِمَتْجَرِكَ ؟ : يعنى ستا څه كار دې د ځائې د تجارت سره چه تا پريخودو حال دا چه په هغې كښې بركت وو۔ متجر اسم مكان دې، په معنىٰ د ځائې د تجارت سره۔

حَتّٰى يَتَغَيَّرَ لَهُ أَوْ يَتَنَكَّرَ لَهُ : د تغير نه مراد دا دې چه گټه ونكړي او د تنكر (ناشنا كيدو) نه مراد دا دې چه د حوادثو وغيره په سبب سره رأس المال تاوان وكړي ۔

دې نه دا معلومه شوه چه چا ته د يو مباح كار د اړخ نه خير او فائده ملاويږي نو هغه نهٔ دي پريخودل پكار، البته كه بل طرف ته قوي مانع موجود شو بيا پريخودل جائز دي۔

درجة الحديث : [ضعيف] وابن ماجه : ۲/۷۲٦، رقم : ۲۱٤۸ ـ فيه نافع غير معروف ـ قال في الزوائد : في اسناده مقال والد ابي عاصم مخلد بن الضحاك قال العقيلي والنسائي : لا يتابع على حديثه وقال الذهبي الزبير عبيد مجهول ـ وذكرهما ابن حبان في الثقات.

2786 (28) – وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : كَانَ لِأَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ فَكَانَ أَبُوْ بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُوْبَكْرٍ فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ :

Maktaba Tul Ishaat.com

تَدْرِيْ مَا هٰذَا ؟ فَقَالَ أَبُوْبَكْرٍ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ :كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا أُحْسِنُ الْكِهَانَةَ إِلَّا أَنِّيْ خَدَعْتُهُ فَلَقِيَنِيْ فَأَعْطَانِيْ بِذٰلِكَ فَهٰذَا الَّذِيْ أَكَلْتَ مِنْهُ قَالَتْ : فَأَدْخَلَ أَبُوْبَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِيْ بَطْنِهِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : د ابوبكر صديق رضي الله عنه يو غلام وو چه هغهٔ دپاره به ئے (د خپلے گټے نه) يوه مقرره حصه ورکوله (لکه د عربو عادت وو چه خپلو غلامانو باندے به ئے د گټے څه حصه مقرره وله) نو ابوبكر صديق رضي الله عنه به د هغهٔ د راوړے شوی څيز نه خوراك كولو، نو يوه ورځ ئے يو شے راوړو، نو ابوبكر د هغے نه (بغير د تپوس نه) خوراك وكړو، نو غلام ورته ووئيل : تهٔ پوهه ئے چه دا څه شے وو ؟ ابوبكر صديق رضي الله عنه وفرمايل : دا څه وو ؟ وے وئيل : ما په جاهليت زمانه كښے د يو انسان دپاره كهانت كړے وو حال دا چه زهٔ په كهانت ښه نهٔ پوهيدم مگر هغه مے دهوكه كړے وو (نو د هغهٔ مقصد حاصل شوے وو) بيا ما سره ملاو شو، ما ته ئے د هغه (كهانت) په بدله كښے مال راكړو نو دا هغه شے وو چه تا د هغے نه خوراك وكړو، عائشه رضي الله عنها فرمائي : نو ابوبكر صديق رضي الله عنه خپل لاس (خپلے خولے ته) ننويستو نو ټول هغه شے ئے التېئ كړو كوم چه د هغهٔ په خېټه كښے وو۔ (بخاريّ)

تشريح : تَكَهَّنْتُ : يعني ما كهانت كړے وو، كهانت : د غيبو د علم دعوه كول دي، او د آينده زمانے حالات بيانول بغير د شرعي دليل نه۔

وَمَا أُحْسِنُ الْكِهَانَةَ : يعني ما ته كهانت ښه نهٔ راتللو، صرف دهوكه مے كړو۔

فَقَاءَ : اهل علم وائي چه د شبهاتو نه اول قئ ابوبكر صديق رضي الله عنه كړيدے۔ او دا قئ ئے پدے وجه وكړو چه دا مال حُلوان د كاهن وو (يعني د كاهن اجرت وو) او هغه حرام دے۔ نهٔ پدے وجه چه دهوكه ئے كړے وه۔ ځكه چه دهوكه خو يقيني حرامه ده۔

ددے روايت نه معلومه شوه چه په كهانت باندے مال اخستل، دارنگه دهوكے سره مال حاصلول حرام دي۔ دارنگه كله چه يو تن ته معلومه شي چه دا فلانے مال بعينهٖ حرام دے نو د هغے نه ځان ساتل لازم دي۔ **سوال** : صديق اكبر رضي الله عنه ولے قئ كولو حالانكه هغه خو معذور وو ځكه چه پته ورته نهٔ وه ؟۔ **جواب** دا دے چه صديق اكبر رضي الله عنه به هميشه تپوس كولو او پدے ورځ ډير وږے شوے وو نو تپوس ئے ونكړو، دا تقصير وو

Maktaba Tul Ishaat.com

پډے وجه ئے قئ وکړو۔ بله وجه دا ده چه حرام چه خیټے ته لاړ شی بد اثر کوی اګرکه انسان به معذور وی او ګنهګار به نهٔ وی۔

اول رمضان ۱۷ مئ

2787(29) وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِّيَ بِالْحَرَامِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او ابوبکر رضی الله عنه نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ وفرمایل : نهٔ داخلیږی جنت ته هغه بدن چه په حرامو سره ئے پرورش کړے شوے وی۔ (شعب الایمان)

تشریح : غُذِّيَ : [اَیْ رُبِّيَ] یعنی غټ شوے وی او تربیت ئے شوے وی۔ یعنی جنت د پاکو خلکو ځائے دے، او کوم بدن چه په حرامو غټ شوے وی هغه خبیث وی او خبیث د اُور سره لائق دے چه صفائی ئے راولی۔

درجة الحديث : [صحیح بشواهده] أخرجه ابویعلی الموصلی فی المسند :۸۳۔ والبیهقی فی شعب الایمان ۱۷۳/۲۔ والحاکم : ۱۲۷/۴۔ وفیه عبد الواحد بن زید ضعیف ولکنه صحیح بشواهده [الصحیحة : ۲۶۰۹) ۲۱۲/۶]

2788(30) - وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّهُ قَالَ: شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضی الله عنه لَبَنًا وَأَعْجَبَهُ وَقَالَ لِلَّذِيْ سَقَاهُ: مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلٰى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُوْنَ فَحَلَبُوْا لِيْ مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِيْ سِقَائِيْ وَهُوَ هٰذَا فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او زید بن اسلمؒ نه روایت دے چه هغهٔ وفرمایل : (یوه ورځ) عمر بن خطاب رضی الله عنه پئ (شوده) وڅکل او هغے ورله خوند ورکړو نو هغهٔ سړی ته ئے وویل چا چه په دهٔ باندے پئ څښکولی وو : دا پئ تا ته د کوم ځائے نه (حاصل شوی) وو؟ نو هغهٔ ورته خبر ورکړو چه هغه (یوه ورځ) یوے چینے ته ورغلو چه دغه شخص د هغه چینے نوم ذکر کړو- نو دغه وخت د زکاة د اُوښانو نه څه اُوښان وو او هغوئ هغه خړوبه کول نو ما دپاره ئے د هغے د پیوو نه ولشل نو ما هغه په خپله مشکیزه کښے واچول او هغه دا دی (کوم چه تا وڅکل) نو عمر فاروق رضی الله عنه خپل لاس (خولے ته) ننویستو او هغه ئے اُلټئ کړل۔

(بیهقیؒ په شعب الایمان کښے روایت کړیدے)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : وَرَدَ عَلٰى مَاءٍ : يعنى هغه ځائے ته ورغلو چه هلته كښے د يو قوم چينه وه۔
قَدْ سَمَّاهُ : يعنى راوى د دغه چينے نوم ذكر كړو ليكن د هغهٔ نه هير شو۔ يا د نوم اخستو پورے څه غرض نشته۔
نَعَمٌ : يعنى اُوښان۔ وَهُمْ يَسْقُوْنَ : يعنى دغه خلكو د دغه چينے نه دغه اُوښان اُوبهٔ كول۔ سقائى : يعنى زما په تېپكه، لوښى كښے۔
فَاسْتَقَاءَهٗ: عمر فاروق ﷺ ولے الْتِّيءُ وكړے؟ نو كيدے شى چه دا شخص مالدار وو چه د زكاة نه فائده اخستل ورله حرام وو يا غلام وو، نو قے ئے وكړو دے دپاره چه د زكاة نه فائده وانخلى۔ او دا په اصل كښے حرام وو، ليكن عمر فاروق ﷺ ته بغير د قصد او ارادے نه راغلى وو، هغهٔ پرے ګناهګار نهٔ دے ليكن دا نهايتِ ورع (پرهيزګارى) ده چه بدن ته ئے هيڅ قسم حرام اګركه بغير د ارادے نه وى لاړ نشى۔ كه دغه شخص له زكاة اخستل جائز وے، نو په عمر فاروق ﷺ به ددے پيوو څكل حرام نهٔ وے، لكه څنګه چه په نبى عليه السلام باندے د هغه غوښے خوړل حرام نشو كوم چه په بريره ﷺ باندے صدقه شوے وه۔ وے فرمايل : ((دا په بريره صدقه ده او زمونږ دپاره هديه ده))۔
او د عمر فاروق ﷺ دا كار واجب نهٔ وو ځكه چه هغهٔ خو دا پىٔ په څكلو سره ختم كړى وو او ددے په غورزولو كښے صرف نهايتِ ورع وه۔ ځكه چه الله تعالىٰ فرمائى : ﴿وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا أَخْطَأْتُمْ بِهٖ وَلٰكِنْ مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ﴾ په تاسو ګناه نشته په هغه كار كښے چه تاسو پكښے خطاء شىٔ ليكن هغه چه ستاسو زړونو په قصد سره كړى وى (نو په هغے كښے رانيول دى) (احزاب : ٥)

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه مالك في الموطأ : ١/ ٢٧٠ رقم : ٦٠٦ ـ والسنن الكبرى للبيهقي رقم : ١٢٩٤٣ ج٧/ ١٤].

2789 (31) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : مَنِ اشْتَرٰى ثَوْبًا بِعَشْرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيْهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهٗ صَلَاةً مَا دَامَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ وَقَالَ صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهٗ يَقُوْلُهٗ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ. وَقَالَ : إِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائى : چا چه يوه كپړه په لسو درهمو واخسته او په هغے كښے يو درهم حرام وى نو الله تعالىٰ به د هغهٔ هيڅ مونځ نهٔ قبلوى ترڅو پورے چه دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

جامه په هغهٔ باندے وی بیا ابن عمر ﷺ دواړه ګوتے په خپلو غوږونو کښے ننویستلے او وے فرمایل : دا دواړه (غوږونه) دِے کانړهٔ شی که دهٔ د نبی کریم ﷺ نه دا نهٔ وی آوریدلی چه هغهٔ دا وفرمایل۔ (احمدؒ او بیهقیؒ په شعب الایمان کښے راوړے او دا ئے وئیلی دی چه ددے سند ضعیف دے)۔

تشریح : صُمَّتَا : دا د صاد په پیش او د میم په تشدید سره دے، او طیبیؒ وائی : زیاته ظاهره دا ده چه په زبر د صاد سره دے، یعنی دواړه غوږونه دِے کانړهٔ شی۔ پدے سره ددے حدیث د آوریدو تاکید بیانوی۔

او دا حدیث دلیل دے چه په لباس کښے هم د حرامو نه سخت اجتناب پکار دے، ورنه عبادتونه به نهٔ قبلیږی۔ ددے روایتِ سند اګرکه ضعیف دے لیکن اصل معنیٰ ئے د صحیح احادیثو نه ثابته ده۔

درجة الحديث : [ضعيف جدا] أخرجه احمد : ٥٧٣٢۔ وهو فى شعب الايمان رقم : ٥٧٠٧) بهذا السند الضعيف، الضعيفة : ٨٤٤ وفيه بقية بن الوليد، وفيه هاشم عن ابن عمر مجهول كما فى تعليق المسند.



Maktaba Tul Ishaat.com

۲- بَابُ الْمُسَاهَلَةِ فِي الْمُعَامَلَاتِ

پہ معاملاتو کښې د آسانئ او نرمئ کولو بيان.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2790 (1) - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرٰى وَإِذَا اقْتَضٰى. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالیٰ دِې په هغه سړي رحم وکړي چه کله خرڅول کوي او کله اخستل کوي او کله تقاضا (مطالبه) کوي نو نرمي کوي. (بخاريؒ)

تشريح: رَحِمَ اللّٰهُ: دا يا دعاء ده. يا جمله خبريه ده چه نبي ﷺ د بني اسرائيلو د يو سړي حالت بيانوي چه په هغهٔ باندې الله تعالیٰ په بيع شراء او د حق په طلب کښې نرمي کولو سره رحم کړې وو. لکه ددې تائيد په حديث د ترمذي کښې د ابن المنکدرؒ نه راغلې دې. کرمانيؒ وائي: دا خو په ظاهره کښې اخبار دې ليکن روستو (إِذَا) لفظ نه معلوميږي چه دا دعاء ده، او مطلب ئې دا دې چه الله تعالیٰ دِې په داسې سړي رحم وکړي چه دغه ئې صفت وي.

سَمْحًا: په سين باندې زبر او ميم باندې سکون دې، سماحت نرمئ او سخاوت ته وئيلې شي. دلته ترې نرمي مراد ده.

اقْتَضٰى: [أَيْ طَلَبَ الْحَقَّ كَالدَّيْنِ] يعنې کله چه خپل حق او قرض وغيره غواړي.

او په بل روايت کښې [إِذَا قَضٰى] لفظ هم ذکر دې، يعنې کله چه بل ته حق ادا کوي نو په آسانئ سره بغير د ټال متول نه.

پدې حديث کښې رسول الله ﷺ تيزي ورکوي چه په معاملاتو کښې نرمي او اُوچت اخلاق کول پکار دي، او د بخل نه ځان ساتل او په خلکو باندې په مطالبه کښې تنګي

Maktaba Tul Ishaat.com

راوستل نۀ دی پکار، بلکه هغوی ته معافی پکار ده۔

2791 (2) – وَعَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ رَجُلًا كَانَ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ فَقِيلَ لَه: هَلْ عَلِمْتَ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: مَا أَعْلَمُ. قِيلَ لَهُ انْظُرْ قَالَ: مَا أَعْلَمُ شَيْئًا غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ فَأُنْظِرُ الْمُوسِرَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُعْسِرِ فَأَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

2792 (3) – وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ نَحْوَهُ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا "فَقَالَ اللّٰهُ أَنَا أَحَقُّ بِذَا مِنْكَ تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي".

ترجمه: او حذیفه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو نه په مخکنو خلکو کښې یو سړے وو، هغۀ ته ملائك راغلو دےدپاره چه د هغۀ روح قبض کړی نو هغۀ ته ووئیل شو: آیا تا کوم نیك عمل کړے؟ هغۀ ووئیل: ما ته پته نشته، ورته ووئیل شو: وګوره (سوچ وکړه) هغۀ ووئیل: ما ته هیڅ معلوم نۀ دی، سوئ ددے نه چه ما به په دنیا کښې د خلکو سره سودا کوله او هغوی سره به مے احسان کولو نو ما به مالداره ته انتظار کولو او تنګدست ته به مے معافی کوله نو الله تعالیٰ هغه جنت ته داخل کړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او په روایت د مسلمؒ کښې ددے په شان الفاظ دی د عقبه بن عامر ﷺ او ابو مسعود انصاری ﷺ نه: نو الله تعالیٰ ورته وفرمایل: زۀ ستا نه پدے (معافی کولو) ډیر حقدار یم، (ملائکو ته ئے وفرمایل) تاسو زما د بنده نه تجاوز وکړئ۔ (دے معاف کړئ)۔

تشریح: په روایت د مسلم کښې دی: «ستاسو نه د پخوانو نه د یو سړی سره حساب وکړے شو نو د هغۀ د نیکئ نه هیڅ شے ونۀ موندے شو سوئ ددے نه چه هغۀ به خلکو سره معاملات کول او هغه مالداره وو» او په یو بل روایت کښې دی: الله تعالیٰ ته د هغۀ د بندګانو نه یو بنده راغلو چه هغۀ ته ئے مال ورکړے وو نو ورته ئے وفرمایل: تا په دنیا کښې کوم عمل کړے؟ -او بندګان په الله تعالیٰ باندے هیڅ خبره نشی پټولے- هغۀ ووئیل: اے زما ربه! تا ما ته مال راکړے وو نو ما به د خلکو سره اخستل خرڅول کول او زما اخلاق معافی کول وو» الحدیث۔ او په روایت د ابن عمر ﷺ کښې دی: هغۀ ووئیل: اے زما ربه! ما تا دپاره یو عمل نۀ دے کړے چه زۀ په هغې باندے زیات امید لرم مګر دا

چه تا ته زیاتی مال راکړے وو نو ما به خپلو غلامانو او خادمانو ته حکم کولو چه هغوی مالداره ته وګوري او د هغوی نه تجاوز وکړي۔ او په یو بل روایت کښے دي : چه دوئ تنګدسته ته انتظار وکړي او د مالدارو نه تجاوز وکړي۔ او په بل روایت کښے دي : ما به په مالداره باندے آساني راوسته او تنګدست ته به مے مهلت ورکولو۔

ددے روایتونو نه معلومیږي چه خلکو سره په معاملاتو کښے نرمي کولو سره بنده جنت ته داخلیږي۔ بلکه دا چه تنګدسته (غریب) انسان ته په معامله کښے انتظار او مهلت کول واجب دي، او ددے سره ددۀ اجر کیږي او ګناهونه ئے معاف کیږي۔ [فتح الباری٤/٣٠٧]

بیا د مالداره په حد کښے اختلاف دے، (۱) بعض وائي : چا سره چه د اهل وعیال او ماتحتو نفقه ادا کولو اندازه وي۔ (۲) ثوريؒ، ابن المبارکؒ، احمدؒ او اسحاقؒ وائي : چه پنځوس درهم وي، یا ددے په اندازه د سرو زرو قیمت وي نو دے مالداره دے۔

(۳) امام شافعيؒ وائي : کله یو تن په یو درهم مالداره وي د کاروبار سره او کله یو تن د زرو درهمو سره غریب وي پدے وجه چه نفس ئے ضعیف وي او اهل وعیال ئے زیات وي۔ (٤) بعض وائي : چه مُوسِر (مالدار) هغه دے چه د زکاة نصاب ورسره وي۔

(٥) بعض وائي چه مالدار هغه دے چه د جامے او د مَسکن او د خادم او قرض او د اهل وعیال د نفقے نه ورسره زیاتی وي۔ صحیح دا ده چه د انتظار په باره کښے مالدار او تنګدسته عرف ته واپس کولے شي، په عرف کښے چه چا ته مالداره وئیلے شي، نو هغه به مالداره حساب وي او چا ته چه غریب نو غریب به وي۔ او همدا خبره قوی ده، او مخکښے تعیین او تحدید د هغه چا په حق کښے دے چه سوال کول او صدقه (زکاة) اخستل ورله جائز وي۔ یعنی که دغه اندازه ورسره وه نو سوال به نۀ کوي او زکاة به نۀ اخلي او که دغه اندازے نه کمه وه نو بیا جائز ده۔

[الکواکب الدراری فی شرح صحیح البخاری للکرمانی٩/٢٠١، فتح المنعم فی شرح مسلم : ٦/٢٧٩) للاستاذ الدکتور موسی شاهین لاشین]

2793 (4)— وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او ابو قتاده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : اے خلکو! تاسو په سودا کښې د ډيرو قسمونو نه ځان وساتئ ځکه چه دا (خو سودا) مشهوره کوی (ليکن) بيا برکت ختموی۔ (مسلمؒ)

تشريح : ډيرو قسمونو کولو نه پدے وجه منع وشوه چه امکان شته چه په دروغه قسم وخوری، او دلته رشتيني قسمونه مراد دی ځکه چه دروغجن قسم خوړل خو هسے هم حرام دی، ځکه چه په رشتيني قسم کښې چه کله ډير والے کولے شی نو احتمال شته چه دروغ ترے ووئيلے شی۔ او که ددے نه بچ شی نو بيا د حانث کيدو نه نشی بچ کيدے، يا د خپيمانتيا نه۔ ځکه چه قسم خو يا حانث کيدل دی يا خپيمانتيا ده۔ او که ددے نه هم بچ شی نو په کومه سودا چه ئے قسم کړے وی ذ هغے د مدح او صفت نه او د هغے دپاره ځايه تزئين او خائسته ښکاره کولو نه نشی بچ کيدے، او دے سره د عظيم ذات نوم د دنيا د يو معمولی شی دپاره استعمال شو۔ او پدے ټولو فسادونو او خرابيانو باندے صرف هغه انسان اِقدام کوی چه د هغهٔ عقل او دين خراب وی۔ (قاله القرطبیؒ فی المفهم)

علامه دهلویؒ فرمائی : په سودا کښې ډير قسمونه د دوه وجونه مکروه دی يو پدے کښې امکان شته چه معامله کونکے دهوکه شی۔ دويم پدے وجه چه پدے سره د زړهٔ نه د الله تعالیٰ د نوم تعظيم زائل کيږی۔

(الکوکب الوهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج: محمد الامين بن عبد اللّٰه الارمی: ۳۹۷/۱۷)

يُنَفِّقُ : دا د تنفيق نه دے، تشهير او اشتهار ورکولو ته وئيلے شی، يعنی دا خو سودا مشهوره کوی ليکن بيا برکت ختموی۔ ليکن دے ته مهٔ خوشحاليږه چه سودا مے مشهوره شوه او خلك ډير رامات شول، ځکه چه پدے مال کښې ذِے برکت نشته۔

2794 (5) – وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "اَلْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : قسم (په شروع کښې خو) مبيعه (سودا) ته شهرت ورکوی (ليکن په نتيجه کښې) برکت ختمونکی وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: "اَلْحَلِفُ: دا د حاء په زبر، د لام زير سره دے، (سيوطیؒ) او ابن سکيت پکښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر کړی چه د لام سکون هم صحیح دے۔ (نوویؒ) او دے کښے د حاء زیر او د لام سکون هم جائز دے۔یعنی حِلْفٌ :لیکن حلف په لوظ کښے زیات استعمالیږی۔

ددے نه مراد په بیع کښے ډیر قسمونه کول دی، یا دروغجن قسم مراد دے۔

مَنْفَقَةٌ : دا په زبر د میم او فاء سره دے، دا د نفاق نه دے، رواج او اشتهار ته وائی، مصدر میمي د اسم فاعل په ځائے باندے مبالغةً راغلے دے۔ او بعض وائی چه دا صیغه د اسم فاعل ده د باب تفعیل نه مُنَفِّقَةٌ، مګر اکثرو محدثینو اول قسم روایت کړیدے۔

قسم سره اخستونکے دهوکه شی نو په سودا باندے راتیز شی۔ او برکت ځکه ختموی چه ملائك دهٔ ته دعاء کوی او کله چه دے ګناه وکړی نو ملائك ترے جدا شی، بلکه ښیرے ورته وکړی نو برکت ئے ختم شی۔

برکت ختمیدل په ډیرو طریقو راځی، یو دا چه پدے مال کښے نقصان او هلاکت راشی، یا به په داسے ځیز ولګیږی چه په دنیا کښے به ورته هیڅ فائده نهٔ راواپس کیږی او په آخرت کښے ثواب نهٔ، یا به ددهٔ سره پاتے وی چه خپله به د هغے د فائدے حاصلولو نه محروم وی (لکه شوګر بیمار به شی یا به نورو بیماریانو د وجه نه په دهٔ بند شی) او که ترے پاتے شی نو میراث خوارهٔ به ئے صفت او مدح نکوی۔ (ذکره ابن الملكؒ)

مَمْحَقَةٌ : ممحقة د محق نه دے، تباهیٔ او زائله کولو ته وائی۔

2795 (6) – وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ". قَالَ أَبُوْذَرٍّ: خَابُوْا وَخَسِرُوْا مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ : " اَلْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو ذر ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : درے کسان دی چه الله تعالیٰ به د هغوی سره د قیامت په ورځ نهٔ خبرے کوی او نهٔ به ورته (د رحمت په نظر) ګوری او نهٔ به ئے پاکوی او هغوی له به دردناك عذاب وی۔ ابو ذر ﷺ وفرمایل : نامراده شول او تاوانیان شول دا خلك، اے د الله رسوله ! دا کوم خلك دی ؟ وے فرمایل : پرتوګ (لنګ د ګیټو نه) ښکته کونکے، او زباتنه کونکے او په دروغجن قسم سره مبیعه رائج کونکے۔ (مسلمؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : خَابُوْا : یعنی نا مراده شو، مقصد ته ونهٔ رسیدل.
اَلْمُسْبِلُ : یعنی خپل لنګ او پرتوګ او جامه د ګیټو نه خکته کونکے، که دا په تکبر سره وی نو ډیر لوی جرم دے او که بغیر د تکبر نه وی هم دا وعید ورله ثابت دے، ځکه چه رسول الله ﷺ دے عمل ته د تکبر عمل وئیلے دے، فرمائیلی ئے دی : [فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ] دا لنګ خکته کول د تکبر نه دی، یعنی دا د تکبر نښه ده او د متکبرانو سره مشابهت هم ناروا دے. او نبی علیه السلام مطلقاً هم فرمائیلی دی : [مَا أَسْفَلَ مِنَ الْإِزَارِ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَفِي النَّارِ] کوم لنګ (وغیره) چه د ګیټو نه خکته شی نو دا به په اُور کښے وی.
او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته اجازت ورکول پدے وجه وو چه د هغهٔ به غیر اختیاری لنګ خکته کیدو او هغهٔ به ئے ډیر تعاهد او لحاظ ساتلو. نو نبی علیه السلام ورته اجازه ورکړه. نو دا د هغهٔ خصوصیت دے.

فائده : د لنګ او پرتوګ د ګیټو نه خکته کول د سړو دپاره د لسو وجو نه ناروا دی :
(۱) تشبه بالکفار ده.
(۲) تشبه بالنساء ده،
(۳) د متکبرانو سره تشبه ده.
(٤)، د جامے خرابیدل دی.
(۵) د جسم بیماری ده.
(٦) د رسول الله ﷺ امر ماتول دی.
(۷) د هغهٔ د سنت عمل خلاف دے.
(۸) د صالحینو د لباس نه جدائی ده.
(۹) د فاسقانو سره مشابهت دے.
(۱۰) فتنے او تهمت ته وړاندے کیدل دی.

وَالْمَنَّانُ : د مَنّ نه دے، زباتنه کونکے. چه هر شے ورکوی نو هغه په زباتنه سره بربادوی. دا که په صدقه کښے واقع شی نو اجر باطلوی او که په احسان کښے وشی نو هغه خرڅ کوی. یا دا د مَن نه دے په معنیٰ د نقصان او قطع سره، یعنی د چا حق کمول او خیانت کول. لکه وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ.
دا درے واړه ئے جمع کړل ځکه چه پدے درے واړو کسانو کښے خپل ځان غوره کول دی

Maktaba Tul Ishaat.com

او د بل چا هيڅ پرواه نکول دي، ځکه چه پرتوګ او لنګ خکته کونکي خپل ځان په خلکو اُوچت ګنړي او د هغوي شان ورته خکته ښکاري، او زباتنه کونکي په خپله ورکړه سره سائل باندي ځان غوره ګنړي، او قسم خوړونکي بائع د خپل رشك او غبطې لحاظ کوي او پردي حق هضم کوي۔

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2796 (7) – عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْأَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

2797 (8) – وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: ابو سعيد ﷺ **وفرمايل**: رسول الله ﷺ وفرمايل: رشتيني امانتدار تاجر به (په قيامت کښې) د پيغمبرانو او صديقينو او شهيدانو سره وي۔ (ترمذيؒ، دارقطنيؒ) او ابن ماجهؒ د ابن عمر ﷺ نه روايت کړيدے او ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث غريب دے۔

تشريح: اَلتَّاجِرُ: دا کس به د انبياؤ سره ځکه وي چه څوك په خپلو معاملاتو کښې ډيره رشتيا وائي نو دا د نبي صفت دے، او دارنګه امانت هم د نبي صفت دے۔ بله وجه دا ده چه معامله کښې رشتيا وئيل سخت دي۔

درجة الحديث: [حسن] أخرجه الترمذي: ١٢٠٩، وقال حسن: والدارقطني: ٣/٧، رقم: ١٨۔ والدارمي: ٢/٢٤٧، والحاكم: ٢/٦۔ وفي اسناده كلثوم بن جوشن القشيري ضعيف الحديث (علل ابن ابي حاتم)۔ ووثقه البخاري قال الحافظ في التهذيب فهو وسط حسن الحديث ان شاء اللّٰه۔ وقال الالباني ضعيف في ضعيف الجامع الصغير (٢٥٠١) ثم صححه لغيره في صحيح الترغيب والترهيب: ١٧٨٢۔ والصحيحة: ٣٤٥٣، فيما بعد. وقال ابن العربي في عارضة الاحوذي: ٣/١٦٨ معناه صحيح. وقال ابن القطان في بيان الوهم والايهام: انما هو حسن. وقال ايمن صالح شعبان في تخريج جامع الأصول رقم: ٢٣٩۔ حسن بمجموع الطرق.

2798 (9) – وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِيْ غَرْزَةَ قَالَ: كُنَّا نُسَمّٰى فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمَاسِرَةَ فَمَرَّ بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ فَقَالَ: "**يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلِفُ فَشُوْبُوْهُ بِالصَّدَقَةِ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او قیس بن ابی غرزه ﷺ فرمائی : مونږ (تاجران) به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په سماسره (دلالانو) سره یادیدو نو (یوه ورځ) په مونږ باندې رسول الله ﷺ راتیر شو نو مونږه ئې په داسې نوم سره یاد کړو چه هغه د هغې نه ډیر ښائسته نوم وو، داسې ئې وفرمایل : اې د تاجرانو ډلې ! بیعې ته لغو (زیاتی، فضول خبرې) او قسم حاضریږی نو تاسو هغه په صدقې سره ګډه وډه (یو ځائې) کړئ۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : السَّمَاسِرَةَ : دا جمع د سِمسار ده۔ [اَلْقَيِّمُ بِالْأَمْرِ الْحَافِظُ لَهُ] د یو کار نګرانی کونکې او په هغې باندې ولاړ او حفاظت کونکې، دا په سودا کښې دلالی کونکی ته وائی چه د بائع او د مشتری ترمینځ رانوزی دې دپاره چه سودا سر ته ورسوی۔ سَمْسَره بیع او شراء ته وائی۔ (النهایه لابن الاثیرؒ)

أَحْسَنُ مِنْهُ : تجارت دې ته وائی چه رأس المال اړه وی راړه وی، دې دپاره چه ګټه ترې حاصله کړی۔ او سمسار دغه شان وی۔

په بیع کښې چه د لغو او قسم په وجه کومه بې برکتی راغلی وی هغه په صدقې سره ختمیږی۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه احمد : ١٦١٨٠، وابوداود : ٣٣٢٦، والترمذي : والنسائي : ٣٧٩٧۔ وابن ماجه : ٢١٤٥ والحاكم : ٢١٤١.

2799 (10) – وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "**اَلتُّجَّارُ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا** إِلَّا مَنِ اتَّقٰى وَبَرَّ وَصَدَقَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

2800 (11) – وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنِ الْبَرَاءِ ﷺ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ، وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ مِنَ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه : او عبید بن رفاعهؒ د خپل پلار نه او هغه د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : تاجران به د قیامت په ورځ فاجران (ګناهګار) راجمع کولې شی، مګر هغه څوك چه د الله تعالیٰ نه یره وکړی او نیکی وکړی او رشتیا ووائی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او دا بیهقیؒ په شعب الایمان کښې د براء ﷺ نه روایت کړې او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دې۔ او دا باب د دریم فصل نه خالی دې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : تاجرانو ته ئے فاجران ځکه وئیل چه د اکثرو تاجرانو دا طریقه ده چه په معاملاتو کښې تدلیس او دهوکه کوی او بے ځایه خپله سودا رائجه کوی په دروغجنو قسمونو سره۔

مَنِ اتَّقَى : یعنی د ګناهونو او حرامو نه ځان وساتی۔

وَبَرَّ : او په خپل قسم کښې رښتینی وی۔ او په خپلو خبرو کښې رښتینی وی۔ نو فجور نه مراد دلته لغو او دروغجن قسم دے۔ نو څوك چه په تجارتونو او معاملاتو کښې په رښتیا او امانت سره چلیږی نو دا به خامخا په اَبرارو کښې وی چه هغه انبیاء علیهم السلام او صِدّیقین دی۔

درجة الحدیث : [حسن او صحیح] أخرجه الترمذی: ۱۲۱۰، ابن ماجه (۲۱٤٦) فیه اسماعیل بن عبید لم یوثقه غیر ابن حبان۔ ولم یرو عنه غیر عبد الله بن عثمان بن خیثم و باقی رجاله ثقات وله شاهد۔ (شعیب) ویشهد للطرف الاول منه حدیث عبد الرحمن بن شبل الانصاری ان رسول الله ﷺ قال: ان التجار هم الفجار قال رجل یا نبی الله! ألم یحل الله البیع ؟ قال: إنهم یقولون فیکذبون ویحلفون ویأثمون اخرجه احمد واسناده صحیح۔ (غایة المرام ۱٦۸) وصحیح الترغیب والترهیب (۳۹/۳)



Maktaba Tul Ishaat.com

۳- باب الخیار - د خیار بیان

خیار اسم مصدر دے د اِخْتَارَ یَخْتَارُ اِخْتِیَارًا وَخِیَارًا نه، معنیٰ ئے ده: په دوه یا زیاتو کارونو کښے غوره کار طلب کول. دلته مراد په دوه کارونو کښے غوره کار طلب کول دی چه هغه بیع جاري ساتل یا ختمول دی. فقهاؤ د خیار ګنړ **قسمونه** ذکر کړی، یو څو دادی: (۱) خیارِ مجلس (۲) خیارِ شرط (۳) خیارِ غبن. دا درے واړه ددے باب په حدیثونو کښے ذکر شوی. (٤) خیارِ عیب: یعنی هغه اختیار چه دَ هغے سبب عیب دے، او دا هغه خیار دے چه بائع یا مشتری ته په سودا یا پیسو کښے د عیب راوتو په وجه ورکولے شی. چه دَ هغے په وجه په مَبیعه یا پیسو کښے نقصان راځی لکه ړوندوالے، کوړ سترګے کیدل، یا داسے عیب وی چه صحیح غرض فوت کوی لکه د اَس نفرتی کیدل، یا د اُضحیه ګډ غوږ پریکړے کیدل، یا د اخستے شوو څپلو او چپړو تنګیدل شو.

خیارِ عیب په درے شرطونو سره په وجود کښے راځی: (۱) د عقد نه مخکښے عیب موجودیدل یا د عقد نه روستو او د سپارلو نه مخکښے عیب راتلل. که د سپارلو نه روستو عیب پیدا شو، یا د مُشتری سره عیب پیدا شو نو اختیار به نهٔ ثابتیږی.

(۲) [جَهْلُ الْمُشْتَرِيْ بِوُجُوْدِ الْعَیْبِ عِنْدَ الْعَقْدِ وَالْقَبْضِ] مُشتری د عقد او قبض په وخت په عیب بانـدے خبر نـهٔ وی. کـه ددے (عَقد او قبض) دواړو نه د یو په وخت کښے د مخکښے نه خبر وی نو بیا هم اختیار نشته ځکه چه دے پرے دلالةً راضی وو.

(۳) مالك به اول نه د عیب نه براء ت شرط کړے نهٔ وی. که مالك په محل د عقد کښے د عیبونو نه براء ت کړے وی نو مشتری ته اختیار نشته. ځکه چه کله ئے اِبراء وکړه نو خپل حق ئے ساقط کړو. (٤) عیب به د فسخ نه مخکښے نهٔ زائله کیږی. که د فسخ نه مخکښے زائله کیږی نو بیا هم اختیار نشته.

(۵) **خیارِ** رؤیت: یعنی هغه اختیار چه ددے سبب د یو شی نهٔ لیدل دی، لکه مشتری یو شے واخلی او هغه ئے لیدلے نهٔ وی نو د لیدلو په وخت به ددهٔ دپاره د سودا ختمولو

Maktaba Tul Ishaat.com

اختیار وي۔ (٦) خیارِ تدلیس: یعنی هغه اختیار چه مشتری ته په دے وجه ورکولے شي چه ددهٔ بائع ددهٔ نه د سودا عیب پټ کړے وو۔ بائع مشتری ته د سودا یو شان صفت بیان کړے وو، او چه کله مشتری هغه سودا واخسته نو ددے خلاف صفت په کښے راووتهٔ، نو ددے په وجه مشتری ته د سودا ختمولو اختیار دے۔

(۷) خیار النقد: چه دوه کسان یو بل سره سودا وکړي پدے شرط چه که مشتری ثمن په مُعیّنه موده کښے ادا نکړل نو د دواړو ترمینځ به بیع نهٔ وي، نو که مشتری په معینه موده کښے ثمن ادا کړل نو بیع به تمامه وي او که ادائے نکړل نو بیع به فاسده وي۔ او دغه شان خیار النقد د بائع (خرخونکی) دپاره هم ثابتیږی لکه دوه کسان یو بل سره اخستل خرخول وکړي او بائع ثمن قبض کړي او داسے ووائی: که ما په درے ورځو کښے بیرته رقم واپس کړو نو زمونږ ترمینځ به بیع نهٔ وي، نو که رقم ئے واپس کړو بیع فاسده شوه او که واپس ئے نکړو نو عقد تمام شو۔

په دے خیارونو کښے اختلاف شته لیکن مونږ د حدیثو په رنړا کښے ددے وضاحت کوو، د الله په توفیق سره۔

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2801 (1) - عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**اَلْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلٰى صَاحِبِهٖ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "إِذَا تَبَايَعَ الْمُتَبَايِعَانِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ بَيْعِهٖ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَكُوْنَ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَإِذَا كَانَ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَقَدْ وَجَبَ". وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ: "**اَلْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَخْتَارَا**". وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ: "أَوْ يَقُوْلُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهٖ: اِخْتَرْ "بَدَلَ" أَوْ يَخْتَارَا"

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: اخستونکے او خرخونکے هر یو د دواړو نه په خپل ملګری باندے اختیار والا دے ترڅو پورے چه دواړه (د مجلس نه) جدا شوی نهٔ وي، (یعنی که دواړو کښے هر یو تن د مجلس نه جدا شو نو یو ته به هم اختیار نهٔ پاتے کیږی) البته بیع الخیار ددے نه مستثنیٰ ده (یعنی په بیعه کښے خریدار دا شرط ولګولو چه که زهٔ وغواړم دا شے به زما شي او که نهٔ غواړم نو واپس کوم به ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

نو که دواړه د یو بل نه جدا هم شی بیا به هم اختیار باقی پاتے وی) (بخاریؒ ومسلمؒ) او په روایت د مسلمؒ کښے داسے دی: هرکله چه اخستونکے او خرڅونکے د اخستو او خرڅولو کومه معامله وکړه نو هر یو د دواړو د خپلے بیعے نه په اختیار باندے دے، ترڅو چه دواړه (د مجلس نه) جدا شوی نهٔ وی، یا دواړه په اختیار باندے وی (یعنی هر یو اختیار وغواړی نو بیا به هم د دوئ اختیار باقی پاتے وی) نو هرکله چه د دوئ سودا په اختیار سره وشوه نو بیعه به لازمه وی۔ (یعنی یو پکښے سودا غوره کړه نو بس اختیار به ختم شی) او په یو روایت د ترمذیؒ کښے دی: اخستونکے او خرڅونکے په اختیار دی ترڅو چه دواړه نهٔ وی جدا شوی یا ئے سودا نهٔ وی غوره کړی۔ او د بخاریؒ او مسلمؒ په روایت کښے دی: یا یو تن خپل ملګری ته داسے ووائی چه اختیار شرط کړه (او بل ووائی چه ما ته منظوره ده)۔ (د یختارا په ځائے اختر لفظ وئیلے دے)

تشریح: [کُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِیَارِ] په دواړو (بائع او مشتری) کښے هر یو دپاره دا اختیار حاصل دے چه سودا نافذه کړی یا ئے ختمه کړی۔ دلته د خِیار نه مراد خیارِ مجلس دے۔

[مَالَمْ یَتَفَرَّقَا] ترڅو پورے چه دواړه یو د بل نه جدا شوی نهٔ وی۔ د تفرق نه مراد تفرق بالأبدان دے یعنی جسمانی طور سره د سودا د مجلس نه جدا شوی نهٔ وی۔ ددے **دلیل** دادے چه د دارقطنیؒ او بیهقیؒ په روایت کښے دی: [حَتّٰی یَتَفَرَّقَا مِنْ مَکَانِهِمَا] (تردے چه دا دواړه د خپلے سودا د مجلس نه جدا شی)

بل **دلیل** دا چه ددے حدیث راوی ابن عمر ﷺ همدا تفسیر فهم کړے، لکه بخاری کښے راځی: [وَکَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا اشْتَرٰی شَیْئًا یُعْجِبُهٗ فَارَقَ صَاحِبَهٗ] (ابن عمر چه به کله یو داسے شے واخستهٔ چه هغه به ئے خوښ وو، نو د خپل خرڅونکی ملګری نه به جدا شو)۔

په بل روایت کښے ورسره داسے الفاظ دی: [وَکَانَا جَمِیْعًا] دا د نهٔ جدا کیدو تاکید دے یعنی دا دواړه په یو ځائے کښے وی۔

[اِلَّا بَیْعَ الْخِیَارِ]: [اَیْ اِلَّا بَیْعًا شُرِطَ فِیْهِ الْخِیَارُ] دا استثناء ده د مضمون د (مَا لَمْ یَتَفَرَّقَا) نه۔ [اَیْ کُلٌّ مِنْهُمَا مَحْکُوْمٌ لَهٗ بِالْخِیَارِ مَا لَمْ یَتَفَرَّقَا فَاِنْ تَفَرَّقَا لَزِمَ الْبَیْعُ اِلَّا اَنْ یَّتَبَایَعَا بِشَرْطِ خِیَارِ ثَلَاثَةِ اَیَّامٍ فَمَادُوْنَهَا فَیَبْقٰی خِیَارُ الشَّرْطِ]

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی هر دواړه د بائع او مشتري نه په اختیار باندې دي ترڅو چه د یو بل د مجلس نه جدا شوي نۀ وي، خو که چرته د یو بل نه جدا شول نو بیع به تمامه او لازمه وي، مګر که دواړو د یو بل سره دا شرط ولګولو چه درې ورځې یا ددې نه کمې ورځې ما ته اختیار راکړه نو بیا به دا اختیار شرط باقي پاتې وي. (او دې ته خیار شرط وائي).

[اَوْ یَکُوْنُ بَیْعُهُمَا عَنْ خِیَارٍ] یکونَ منصوب دې پدې وجه چه اَوْ په معنیٰ د (اِلَّا اَنْ) سره دې. ددې جملې دوه مطلبه دي: (أ) یوتن بل ته دا اختیار ورکړي او ووائي چه سودا نافذ کړه یا ئې ختمه کړه، نو که هغه سودا غوره کړي نو سودا پخه شوه، اوکه هغه سودا ختمول غوره کړي نو خبره ختمه شوه. نو دې سره به د دواړو خیار ختم شي اګرکه دوئ د مجلس نه جدا شوي هم نۀ وي. مطلب دا چه: د سودا ختمولو خیار په دوه صورتونو ختمیږي: یا خو مجلس بدل شي، او یا مجلس همغه وي خو دوئ خپلو کښې دا شرط ولګوي چه یو بل لره به د سودا ختمولو اختیار نۀ وي. او دا معنیٰ ابن المنذرؒ د سفیان ثوريؒ، اوزاعيؒ، سفیان بن عیینهؒ، شافعيؒ او اسحاقؒ نه نقل کړې.

(ب) یا ددې معنیٰ داده چه په دې دواړو کښې یو تن یا دواړه تر یوې معلومې مودې پورې خیار شرط کړي، نو بیا که دواړه د مجلس نه جدا هم شي نو بیا هم د سودا ختمولو خیار نۀ ختمیږي، ترڅو پورې چه هغه موده لانۀ وي پوره شوې کومه چه دواړو شرط کړې ده. مطلب دا چه: خیار په دوه شیانو سره ختمیږي. یا خو د مجلس نه پاسیږي، او یا خپل مینځ کښې یو بل لره خیار ورکړي او بیا د خیار دغه موده تیره شي. او دا معنیٰ ابن عبد البرؒ د ابو ثورؒ نه نقل کړې. خو اوله معنیٰ زیاته صحیح ده، ددې تائید دادې چه په یو روایت کښې دا الفاظ راغلي: [اَلْبَیِّعَانِ بِالْخِیَارِ مَالَمْ یَتَفَرَّقَا، أَوْ یَقُوْلَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: اخْتَرْ، وَرُبَّمَا قَالَ: أَوْ یَکُوْنَ بَیْعَ خِیَارٍ] [بخاری: ۲۱۰۹] (بائع او مشتري دواړو له د سودا ختمولو اختیار شته دې ترڅو پورې چه دوئ یو د بل نه جدا شوي نۀ وي، او یا په دوئ کښې یو تن بل ته ویلي نۀ وي چه سودا غوره کړه. او کله داسې وائي چه: یا د اختیار ورکولو سودا وي) [فَقَدْ وَجَبَ الْبَیْعُ] سودا لازمه، ثابته او پخه شوه.

یعني دا عقد واجب شو یا خیار شرط ثابت شو او په تفرق سره به نۀ ساقطیږي.

اَوْ یَخْتَارَا: [اَیْ اِلَّا اَنْ یَّخْتَارَا الشَّرْطَ] یعنی که دواړه یو بل ته د شرط اختیار ورکړي، چه ستا خوښه ده بیعه پوره کوې او که ماتوې.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ : مطلب دا چه په بخاريؒ او مسلمؒ دواړو متفق عليه روايت کښې د (أَوْ يَخْتَارَا) په ځائې باندې داسې الفاظ دي : [أَوْ يَقُولَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اِخْتَرْ]
ځکه چه (أَوْ يَخْتَارَا) الفاظ د بخاري او مسلم نهٔ دي بلکه دا د ترمذی روايت دے نو ګويا که پدے کښې مصنف په صاحب المصابيح باندے اعتراض ته اشاره کوی ځکه چه دهٔ په فصل اول کښې (أَوْ يَخْتَارَا) لفظ راوړے چه دا په صحيحينو کښې نشته۔

فوائد او مسائل : (۱) حديث نه ثابته شوه چه بائع او مشترى دواړو دپاره خيارِ مجلس ثابت دے، ددے دواړو دپاره دا اختيار شته چه دغه سودا جاري وساتي، او يائے ختمه کړي، په دے شرط چه دواړه د سودا په مجلس کښې موجود وی۔ خو کله چه دواړه سره جدا شي نو خيار ختم شو او سودا پخه او لازمه شوه۔ (۲) په دے خيار ورکولو کښې **حکمت** دادے چه دواړه په خپله دے سودا باندے سوچ او فکر وکړي او هغه رضامندي موجوده شي چه هغه د معاملاتو دپاره ضروري ده، ځکه سودا کله انسان په تادئ سره وکړي او په دے کښې ئے سوچ نهٔ وی کړے، نو ځکه شريعت دے دواړو له اختيار ورکړے چه که غواړي سودا دِے جاري وساتي اوکه غواړي نو ماته دے ئے کړي ترڅو پورے چه دا دواړه په مجلس کښې وی۔ پدے کښې عمل دے پدے قول د الله تعالیٰ : [عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ] (چه تجارت به د دواړو په رضا سره وی)۔ (۳) په حديث کښې ددے تفرق او جدائي حد نهٔ دے ښودل شوے، دے وجے نه په دے باره کښې به عرف ته رجوع کيږي نو کوم شے چه عُرفًا تفرق حسابيږي په هغے سره به سودا پخيږي۔ نو که بائع او مشترى چه په بازار کښې وی نو جدائي هله حاصليږي چه يو د بل نه جدا شي هغه داسے چه يو څو قدمه واخلي، او که په دکان وغيره کښې وی نو چه يو تن ووځي، يا په ګاړي موټر کښې وی نو چه يو تن کوز شي۔ اوکه سودا په ټيلفون او موبائل وغيره هاتفي طريقے سره شوی وی نو چه دواړه دا مکالمه ختمه کړي او فون بند کړي اګرکه دا مکالمه هر څومره اُوږده وی خو چه ختمه شوے نهٔ وی نو د سودا مجلس لانهٔ دے ختم شوے۔ او چه ختمه شي نو سودا لازمه شوه۔ ځکه دلته د ضرورت د وجے د کلام انقطاع د تفرق بالابدان قائم مقام ګرځول شوے۔ [خيار المجلس والعيب في الفقه الاسلامي، ص: ۱۰۱ عبد الله بن محمد بن احمد الطيار]

اوکه دواړو مجلس پريښودو خو يو د بل نه جدا نشو بلکه دواړه بازار ته يا بل ځائے ته

Maktaba Tul Ishaat.com

شریک لاړل نو اُوس بـه هم په دوئ کښې خیارِ مجلس باقي وي، ځکه دوئ لا د یو بل نه نۀ دي جدا شوي، ځکه تفرق یو بل نه جدا کیدو ته وائي۔

(٤) او حدیث نه ثابته شوه چه که بائع او مشتري د سودا کولو نه پس او د مجلس پریښودو نه مخکښې د سودا په ختمولو متفق شي، او خپلو کښې دا شرط ولګوي چه په دې شرط یو بل سره اخستل خرڅول کوو چه نۀ به تا له ددې سودا ماتولو اختیار وي او نۀ به ماله، نو په دې صورت کښې سودا لازمه شوه او عقد مضبوط شو۔ ځکه د خیار حق د دوئ خپل حق دې، نو څنګه چه دوئ اتفاق کوي هغه به جائز وي۔ نو که په دې دواړو کښې یو تن د یوې معلومې موذې پورې د خیار شرط ولګولو چه ماته به تر دومره مودې پورې د سودا ماتولو اختیار حاصل وي، نو بیا د مجلس په ختمیدو سره هم دا اختیار نۀ ختمیږي ترڅو پورې چه دغه موده تیره شوې نۀ وي، او کله چه دغه موده تیره شي او په دې دواړو کښې یو تن هم سودا ختمه نۀ کړه نو بیا خیار باطل شو او سودا پخه شوه۔ د خیار شرط مزید تفصیل به روستو راشي۔ ان شاء الله۔

اختلاف :(۱) جمهور امت د خیارِ مجلس قائل دي، او دا د جمهورو صحابه کرامو ﷺ، تابعینو، امامانو او جمهورو مذاهبو والو قول دې، او همدا د ظاهریة، ابن حبیب مالکيؒ او ابن عبد البر مالکيؒ قول دې۔ او دلیل ئې دا او ددې پشان نور حدیثونه دي۔

او دلته (لَمْ یَتَفَرَّقَا) لفظ کښې چه کومو اهل لغتو دا فرق ذکر کړې چه تفرق په ابدانو سره وي او افتراق په کلام سره وي، او احادیثو کښې پدې مقام کښې تفرق ذکر دې۔ لکه قرآن کریم کښې هم راغلي دي: ﴿وَاِنْ یَّتَفَرَّقَا یُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ﴾ [النساء: ۱۳۰]

که ښځه او خاوند د یو بل نه جدا شول۔ ځکه چه کله خاوند ښځې ته طلاق وزکړي په مال سره او ښځه هغه قبول کړي نو تفرق د دواړو پدې سره راغلو، اګرکه بدنونه به ئې په یو مجلس کښې وي، د یو بل نه به جدا شوي نۀ وي۔ [المیسر في شرح مصابیح السنة للتوربشتي ۲/٦٦٥] نو دا فرق صحیح نۀ دې، بلکه ابوبکر ابن العربيؒ پدې باندې رد کړې او دا ئې وئیلي دي چه الله تعالیٰ (وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ) کښې تفرق ذکر کړې او همدا مطلب رسول الله ﷺ په لفظ د افتراق سره ذکر کړې [اِفْتَرَقَتِ الْیَهُوْدُ عَلٰی اِحْدٰی وَسَبْعِیْنَ فِرْقَةً ...... وَسَتَفْتَرِقُ اُمَّتِيْ عَلٰی ثَلَاثٍ وَسَبْعِیْنَ فِرْقَةً] ۔ دلته افتراق او تفرق په یو معنیٰ سره شو۔ فتدبر۔ ولي الدین العراقيؒ وائي : کوم تفرق چه په آیت کښې ذکر دې،

Maktaba Tul Ishaat.com

او کوم افتراق چه په حدیث کښې ذکر دے، دے کښې دا منع نشته چه د دواړو نه افتراق بالابدان مراد شی۔ ځکه چه دا دواړه د اختلاف د عقائدو په صورت کښې د یو بل سره لازم دی، ځکه چه څوك د چا نه په عقیده کښې جدا وی نو د هغهٔ سره غالباً نهٔ اُوسیږی۔ (البحر المحیط الثجاج : ۴۵/۲۷)

(۲) ابوحنیفهؒ، مالكؒ او د دوئ اکثر ملګری د خیارِ مجلس قائل نهٔ دی، د دوئ په نیز چه کله ایجاب او قبول اُوشی او سودا پوره شی نو مجلس ختم شوے وی او که نهٔ، د سودا واپس کولو هیڅ اختیار نشته۔ مګر د عیب وغیره په صورت کښې۔

((ابن حزمؒ وئیلی دی چه د احنافو هیڅ سلف نشته سوئ د یواځې ابراهیم نخعیؒ نه۔ او هغهٔ هم د بیع نه علاوه بله صفقه ذکر کړې لکه اجاره، نکاح او هبات وغیره، او د دوئ قول د سننِ ثابته او صحابه کرامو مخالف دے، او مونږ چه څوك ذکر کړل د هغوی هیڅوك مخالف نهٔ دے معلوم)) [المحلی بالآثار : ۳۵۵/۸]

دوئ سره په خپل دے موقف باندې هیڅ داسې دلیل نشته چه هغه ددے قول د جواز دلیل وګرځی، سیوا د لرې لرې استدلالاتو نه چه د هغې ذکر کول هیڅ فائده نهٔ لری۔

لکه بعضو وئیلی دی چه دا احادیث په مختلفو الفاظو راغلی دی نو دا مضطرب دی۔ دا هسې دعوه ده۔ کله وائی : دا احادیث منسوخ دی۔ کله وائی : دا حدیث د امام مالك روایت دے او هغهٔ ددے حدیث په خلاف عمل کړے۔ نو دا دلیل دے چه دا مُعَارَض دے په ډیر قوی دلیل سره۔ یا دا په عمل د اهل مدینه باندې مُعَارَض دے۔

یوے ډلې وئیلی دی چه دا خبر واحد دے، او د عموم بلوئ په صورت کښې پدے باندې عمل نهٔ کیږی۔ چا پکښې وئیلی دی : تفرق بالابدان محمول دے په احتیاط باندے، دے دپاره چه د اختلاف نه اُوځی۔

چا وئیلی دی چه تفرق بالابدان محمول دے په استحباب باندے ځکه چه د مسلمان سره ښائسته معامله کول پکار دی اګرکه دا پرې واجب نهٔ ده۔

حافظ ابن حجرؒ دا جوابونه نقل کړی او بیائے پرې ردونه کړیدی۔

لکه د نسخ دعوه باطله ده، ځکه چه نسخ په احتمالاتو نهٔ راځی۔ او دا خبره چه دا صرف امام مالكؒ روایت کړے نو دا هم صحیح نهٔ ده ځکه چه دا نورو محدثینو ډیر شمار والا هم نقل کړے۔ دارنګه ابن عمر ﷺ ددے روایت راوی دے، او هغهٔ ددے روایت

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابق عمل کړے لکه مخکښے ذکر شو۔ بلکه دا چه ابن عمر ﷺ مدینے والا دے، او دغه شان سعید بن المسیبؒ او زهریؒ او ابن ابی ذئبؒ مدینے والا دی، او ددے روایت مطابق ئے عمل کړے۔

او دا خبر مشهور دے، خبر واحد نهٔ دے۔ او دعوه د اضطراب هم صحیح نهٔ ده ځکه چه جمع ئے ممکن ده بغیر د تکلف نه، او اختلاف د الفاظو ضرر نهٔ ورکوی۔

او تفرق بالابدانْ په احتیاط او استحباب باندے حمل کول د ظاهر خلاف دی او ضرورت ورته نشته۔

علامه ابن عبد البر مالکیؒ فرمائی: متاخرینو مالکیانو او حنفیانو ددے حدیث په رد کولو کښے ډیر څهٔ پیش کړی دی لیکن د هغے زیاتره برخه د شور شرغب نه سِویٰ هیڅ شے نهٔ دے۔ [التمهید: ١٤/١١]

د امام ابو حنیفه -رحمه الله- عذر خو ښکاره دے، د هغهٔ مذهب خو اکثره د صحیح حدیثو خلاف ځکه دے چه جمع او تدوین د احادیثو د هغهٔ د دور نه روستو شوے۔ لیکن علامه ابن ابی ذئبؒ په امام مالکؒ باندے تعجب ښکاره کړے چه هغهٔ دا حدیث په خپل موطا کښے روایت کړے او دا ددهٔ په نیز ثابت هم دے او ددے باوجود ئے ددے خلاف کړے۔ دے وجے نه **صحیح** منهج دادے چه په سنت باندے عمل وکړے شی او د علماؤ هغه اقوالو له هیڅ اعتبار ورنهٔ کړے شی چه هغه د صحیح سُنت په خلاف کښے راشی۔ سره د اکرام او احترام د علماؤ نه۔ که امام ابو حنیفهؒ خیارِ مجلس نهٔ منی نو د هغهٔ خبره دلیل نهٔ دے، دلیل خو صرف د نبی اکرم ﷺ احادیث دی۔ د حدیث په خلاف د مجتهدینو اجتهادات دلیل نهٔ دے۔ او دا به د هر یو مسلمان عقیده وی۔

2802 (2) - وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**اَلْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِيْ بَيْعِهِمَا** وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: حکیم بن حزام ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: اخستونکی او خرڅونکی ته اختیار دے ترڅو چه دواړه (د مجلس نه) جدا شوی نهٔ وی، نو که دواړو رشتیا وویل او (د سودا حقیقت ئے) بیان کړو (نو) دواړو دپاره به د دوئ په سودا کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

برکت وا چولے شی او که دواړو خبره پټه کړه او دروغ ئے وویل (نو) د دواړو د سودا برکت به ختم شی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فَإِنْ صَدَقَا : یعنی دواړه هر یو رشتیا ووائی، بائع د سودا حقیقت بیان کړی او مشتری د رقم حقیقت بیان کړی چه غلط نوټونه وغیره ئے نهٔ وی ورکړی۔

وَبَيَّنَا : یعنی ثمن او د مبیعے او ددے د متعلقاتو بیان وکړی۔

بُورِكَ : یعنی برکت به وا چولے شی دواړو دپاره، او د برکت معنیٰ دا چه الله تعالیٰ به دواړو ته ډیره فائده ورکړی، مال به ئے صحیح ځائے استعمال کړے شی۔

2803 (3) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ فَقَالَ :" إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ : لَا خِلَابَةَ "فَكَانَ الرَّجُلُ يَقُولُهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه یو سړی (حَبّان بن مُنقِذ ﷺ) رسول الله ﷺ ته ذکر کړل چه زهٔ په سودا کښے دهوکه کولے شم، نو نبی ﷺ وفرمایل : کله چه ته سودا کوے نو دا وایه چه هیڅ دهوکه به نهٔ وی۔ نو هغه سړی به داسے وئیل۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : [لَاخِلَابَةَ] یعنی په دین کښے دهوکه نشته ځکه دین د خیر خواهۍ نوم دے۔ [یا لَا خِلَابَةَ بَيْنَنَا] زمونږ ترمینځ به دهوکه نهٔ وی۔

مطلب دا چه : ما سره به دهوکه نهٔ کوے، زما دهوکه کول تاله حلال نهٔ دی، یا ستا دهوکه کول به په ما لازم نهٔ وی۔ نبی کریم ﷺ دهٔ ته دا وینا ښودلے وه چه د سودا په وخت به تهٔ دا خبره کوے نو هغه ملګری ته به دا پته لګی چه دا غریب سوداګانے او د هغے قیمتونه نهٔ پیژنی نو په دے سره به د تاوان نه بچ کیږے۔ په بل روایت کښے [لَاخِيَابَةَ] د لام په ځائے په یاء سره دے، او په یو بل روایت کښے دا په ذال سره دے [لَاخِذَابَةَ] ددے دواړو وجه داده چه دغه سړی د ژبے د بندش په وجه دا لفظ سَم نشو ویلے۔

ددے حدیث تفصیلی قصه داسے ده : انس ﷺ فرمائی: «د رسول الله ﷺ په زمانه کښے یو سړی به اخستل کول او د هغهٔ په عقل کښے کمزوری وه، نو د هغهٔ د کور خلك نبی ﷺ ته راغلل او عرض ئے وکړو، یا رسول الله ! په فلانی باندے بندیز ولګوه چه اخستل نهٔ کوی۔ نبی ﷺ هغه راوغوښتهٔ او د سودا نه ئے منع کړو، هغهٔ ووئیل: یا رسول الله !

Maktaba Tul Ishaat.com

زۀ د سودا کولو نه نشم صبریدے، نبی ﷺ ورته دا ارشاد وفرمایۀ ......)) [سنن]
د ترمذیؒ په روایت کښې دی چه دا سړے حَبان بن منقذ بن عمرو انصاری ﷛ وو۔ او په یو قول کښې ددے نه مراد ددۀ پلار دے۔ نبی ﷺ سره شریك په یوه غزا کښې د جنګ په دوران کښې د یوے قلعې نه دے په کاڼړی ولګیدۀ او سخت زخمی شو چه ددے په وجه ددۀ په حافظه او عقل کښې کمزوری راغله او ژبه ئې بنده شوه، لیکن تراُوسه پورے ئې په غلط او صحیح کښې تمیز کولے شو۔ د عثمان ﷛ د خلافت زمانے پورے ژوندے وو، دا وخت ددۀ عمر (۱۳۰) کاله وو، لکه علامه نوویؒ وغیره ذکر کړی۔
[لَاخِلَابَةَ]: امام احمدؒ وئیلی دی چا چه په بیعه کښې دا خبره وکړه نو که په بیعه کښې څه دهوکه او نقصان راووتو نو دے به د واپسئ حقدار وی۔ مګر جمهور علماءٔ وائی چه مطلقاً ئې نشی رد کولے او دلته پدے لفظ کښې صرف بائع ته خبردارے ورکول دی چه زۀ په بیعه کښې ماهر نۀ یم نو چرته ما سره دهوکه ونکړے شی۔ نو تۀ ما سره داسے معامله وکړه لکه ځان دپاره چه څنګه خوښوے او په هغه زمانه کښې به خلکو د مسلمان د حق رعایت ساتلو۔ او اختیار به هله ثابتیږی چه د هغې شرط ولګوی۔
فوائد الحدیث: (۱) حدیث نه د هغه چا دپاره خیارِ غبن ثابت شو چه هغۀ په اخستلو خرڅولو کښې مغبون (تاوانی) کیږی، په دے شرط چه هغه به دا خبره کوی چه ما سره به دهوکه نۀ کوئ۔ نو که چا ورسره دهوکه وکړه، یو شے ئې ورباندے ګران خرڅ کړو نو ددۀ دپاره به درے ورځو پورے اختیار وی، لکه د ابن ماجه په روایت کښې دی:
((ستا دپاره درے ورځے اختیار دے که زړۀ دې غواړی سودا وساته او که خوښه دې وی واپس ئې کړه))۔
(۲) دغه شان ددے حدیث نه خیارِ شرط هم ثابت شو، ددے صورت دادے چه بائع یا مشتری خپل ملګری ته ووائی چه دا سودا درباندے درخرڅوم خو ماله به درے ورځو پورے اختیار وی که خپیمانه شوم نو سودا به راته واپس کوے، او یا دا خبره مشتری وکړی۔ څکه نبی ﷺ دے سړی له درے ورځو پورے اختیار ورکړے وو۔ او په یو عام حدیث کښې هم راځی: [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی شُرُوْطِهِمْ] [ابوداود: ۳۵۹٦]
بیا د امام ابوحنیفهؒ په نیز په خیارِ شرط کښې به موده درے ورځے وی، ددے حدیث د وجے۔ او د امام احمدؒ او امام مالكؒ په نیز د درے ورځو نه زیات هم اختیار لګول جائز دی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې شرط چه موده معلومه وي، او دیته شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ترجیح ورکړې.
[الاختیارات، ص: ۱۲۵]

(۳) خیارِ غبن په یو څو نورو مسئلو کښې هم مشروع دې لکه د تَلَقِّي الْجَلَب په صورت کښې، د غش او دهوکې په صورت کښې، د مصراة په صورت کښې. دې وجې نه د خیارِ غبن نه انکار نشي کیدې. بعضِ علماؤ ویلي دي چه که خیارِ غبن مشروع وې نو بیا به بائع او مشتري له خیار مجلس نۀ ورکړې کیدې. او بیا به دا لفظ وئیل شرط نۀ وې چه ((دهوکه به نۀ وي)) خو دا خبره کمزورې ده ځکه دا دواړه جدا جدا خیارونه دي، او غبن په دوه قِسمه دې، یو لږ غبن او بل غبنِ فاحش (زیات تاوان) نو دا حدیث د زیات تاوان په صورت کښې دې ځکه لږ شان تاوان خو هر څوك په سودا کښې کوي.

(٤) او حدیث دلیل دې چه که انسان غبيّ هم وي خو چه دهوکه کیږي او مال ضائع کوي نو په هغۀ باندې حَجْر (بندیز) لګول پکار دي، دلته نبي ﷺ په دې سړي بندیز ولګولو خو هغۀ وئیل زۀ د سودا نه نشم صبریدې نو بیا ئې ورته دغه ارشاد وفرمایۀ. والله تعالیٰ اعلم. (٥) ابن حزمؒ دا لفظ شرط کوي: (لَا خِلَابَةَ) امام احمدؒ وائي: هر لفظ چه دا معنیٰ ورکوي که (لَا خِدَاعَ) وي او که (لَا غِشَّ) او همدا د دلائلو نه ظاهره ده. او د جمهورو په نیز دې الفاظو له اعتبار نشته لیکن دا قول ضعیف دې. پدې کښې دویم قول ظاهر دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِیْ

2804 (4) – عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **اَلْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا** إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ صَفْقَةَ خِيَارٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُّفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَّسْتَقِيلَهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکۀ نه روایت کوي چه نبي ﷺ وفرمایل: خرڅونکي او اخستونکي چه ترڅو پورې دواړه سره جدا شوي نۀ وي، په اختیار باندې دي، مګر که اختیار والا سودا وي، او ددۀ دپاره حلال نۀ دي چه د سودا واپس کیدو د خطرې په وجه ترې زر زر جدا شي. (ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشریح: [إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ صَفْقَةَ خِيَارٍ] ددې دوه ترکیبه دي: (أ) صفقةُ مرفوع دې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

فاعل د تَکُوْنُ دے، او تَکُوْنُ تامّه ده، او معنیٰ داده: مګر که د خیار سودا موجوده شی۔
(ب) یا صفقةَ منصوب دے او تَکُوْن ناقصه دے، ددے اسم محذوف دے چه د سیاق نه معلومیږی، تقدیر ئے داسے دے: اِلَّا اَنْ تَکُوْنَ الْبَیْعَةُ صَفْقَةَ خِیَارٍ (مګر که دا سودا، د خیار سودا وی) او (صَفْقَه) د فعلة وزن دے، د مرّت دپاره دے، یعنی د یو کرت ښودلو دپاره راځی۔ دا د صَفق نه دے، او صفق یو لاس په بل لاس وهلو ته وائی، بیا دا لفظ په بیع کښے استعمال شو، ځکه د عربو عادت دا وو چه کله به سودا پخه شوه نو یو تن به په خپل لاس سره د خپل ملګری لاس وواهه۔
اِلَّا اَنْ یَّکُوْنَ صَفْقَةَ خِیَارٍ: ((مګر که سودا د خیار سودا وی)) (۱) مطلب دا چه: بائع او مشتری دواړو له خیار دے ترڅو پورے چه جدا شوی نهٔ وی، مګر که یو تن په کښے بل ته ووائی: په سودا نافذولو یا ماتولو کښے یو کار غوره کړه! او هغه بل سودا نافذول غوره کړل نو سودا پخه شوه اګرکه د مجلس نه جدا شوی هم نهٔ وی۔ دیته صفقةُ خیار وائی۔ (۲) یا د صفقةِ خیار دا مطلب چه یوتن په کښے ووائی چه سودا خو کوو خو په دے کښے به خیار نهٔ وی، نو د صفقة خیار نه مراد صَفْقَةُ اِسْقَاطِ خِیَارٍ دے۔
(۳) یا دا مطلب چه سودا د خیار وی چه یوتن یا دواړه په کښے دا شرط کړی چه مونږ دواړو له به درے ورځو پورے خیار وی۔ نو دا په مجلس ختمیدو سره هم نهٔ ختمیږی ترڅو پورے چه هغه ورځے پوره شوی نهٔ وی۔
[وَلَا یَحِلُّ لَهٗ اَنْ یُّفَارِقَهٗ] یعنی اخستونکی یا خرڅونکی هیڅ یو له جائز نهٔ دی چه د سودا کولو نه پس د خپل ملګری نه زر پاسی دے دپاره چه هغه ملګرے ئے د خپل خیار حق استعمال نهٔ کړی او دا سودا واپس نهٔ کړی۔ ددے نه معلومه شوه چه په مخکښی حدیث کښے چه [مَا لَمْ یَتَفَرَّقَا] راغلے نو د دغه تفرق نه مراد هغه تفرق دے چه په هغے سره د خپل ملګری د حق ساقطول غرض نهٔ وی۔ بلکه په دے وجه مجلس پریښودل وی چه په دے مجلس کښے ضرورت پوره شو، یا ئے بل کار پیدا شو۔
[خَشْیَةَ اَنْ یَّسْتَقِیْلَهٗ] یعنی ددے خطرے د وجے چه هغه ملګرے به ددهٔ نه د سودا ختمولو غوښتنه وکړی، ځکه مجلس چه نهٔ وی ختم شوے نو ملګرے حق لری چه د بل ملګری سره سودا ختمه کړی لکن کله چه مجلس جدا شی نو بیا د بیع واپس کولو اختیار نهٔ وی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

استقاله طلب د اقالې ته وائي، او اِقاله فسخ د بيع ته وائي۔ دلته د اقالې نه مراد هغه اقاله نۀ ده کومه چه مخکښې تيره شوه۔ بلکه دلته مراد د هغه چا سودا ختمول دي چه هغه په دې سودا باندې په مجلس کښې دننه خپيمانه شوې دې۔ او ددې نه مراد هغه مخکنۍ اِقاله ځکه نۀ ده چه هغه مجلسه پورې مختص نۀ ده، بلکه د مجلس نه پس هم جائز ده۔ نو معلومه شوه چه دلته د اِستقالې نه مراد فسخ د بيع ده۔

فوائد الحديث: (۱) حديث دليل دې چه خيارِ مجلس د بائع او مشتري دواړو دپاره ثابت دې، خو په دې شرط چه دوئ جسماني لحاظ سره د عقد مجلس نۀ وي پريښې، که دواړه جدا شو نو بيا به دا خيار باطل وي او بيع به پخه او لازمه وي۔ دارنګه په هغه وخت کښې به هم بيع لازمه وي چه کله يو تن بل ته د عقد په مجلس کښې ووائي: ستا خوښه ده که سودا جاري ساتې اوکه ماتوې ئې! نو هغه بل تن سودا جاري ساتل وغوښتل نو په دې سره د دوئ خيار ختم شو اګرکه د مجلس نه جدا شوي نۀ وي۔ ځکه د خيار ختميدل په دې دوه طريقو سره راځي، يا د مجلس نه نۀ جدا کيدل۔ او يا دا وئيل چه خيار به نۀ وي۔

(۲) او معلومه شوه چه بائع او مشتري هر يو دپاره دا جائز نۀ دي چه د سودا د مجلس نه په دې غرض وتښتي چه عقد لازم کړي، او دا خبره ختمه کړي چه هسې نۀ دا سودا راسره بيرته ختمه کړي۔ بلکه پکار داده چه د تادئ نه کار وانۀ خلي، ځکه ددۀ تښتيدل او مجلس پريښودل د يو مسلمان د واجب حق ساقطول دي، ځکه ممکنه ده چه ددۀ وررور په دې سودا خفه شي يا دې په خپله خفه شي نو ځکه تادئ ته حاجت نشته۔ د مسلمان دا صفت نۀ دې چه خپل وررور د هغۀ د ښيګړې نه محرومه کړي، بلکه تر هغه وخته پورې به انتظار کوي ترڅو پورې چه عادةً پاسيدو ته ضرورت شي۔ خو که يو تن وتښتيدۀ نو څۀ حکم دې؟ په دې کښې درې قوله دي: (أ) عقد لازم شو او خيار ختم شو۔ (ب) خيار پاتې دې نۀ دې ختم شوې، دې دپاره چه هغۀ سره د هغۀ د مقصد اُلټه معامله وشي۔ (ج) که هغۀ پسې د وروپسې کيدو قدرت ئې لرلو او وروپسې نشو نو د دواړو خيار باطل شو، اوکه هغۀ پسې د کيدو قدرت ئې نۀ لرلو نو د تښتيدونکي اختيار باطل شو، او د هغه بل ملګرى اختيار باقي پاتې دې۔

[المغني: ٦/١٣، المجموع: ٩/١٨٢، خيار المجلس والعيب، ص: ٨٦]

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) **سوال** : نافعؒ فرمائی : [وَ کَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا اشْتَرٰی شَیْئًا یُعْجِبُهٗ فَارَقَ صَاحِبَهٗ]
(ابن عمر ﷺ چه به کله یو داسې شے واخستهٔ چه هغه به ئې خوښ وو، نو د خپل خرڅونکی ملګری نه به په دې غرض جدا شو چه هسې نهٔ هغه ترې ددې سودا د ختمولو غوښتنه وکړی) [بخاری: ۲۱۰۷] حالانکه دا کار په حدیث الباب کښې منع شوے؟ **جواب** : د ابن عمر ﷺ له خوا عذر دادے چه هغهٔ به دا کار ځکه کولو چه دا حدیث ورته نهٔ وو رسیدلے، که چرے هغهٔ ته رسیدلے وے نو هیڅ کله به ئې ددے خلاف نهٔ وے کړے، ځکه هغه کلك متبع سُنت انسان وو۔ دے وجے نه د صحابی ﷺ په ذاتی عمل سره به حدیثِ رسول نشی پریښودلے ځکه صحابی باندے کله حدیث پټ پاتے کیږی او کله هغه اجتهاد وکړی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ﴾ [نساء: ۵۹] (که ستاسو په یوه مسئله کښې اختلاف پیدا شو نو قرآن او حدیث ته ئې وړاندے کړئ)۔ والله تعالیٰ اعلم. او دارنګه دا حدیث په ډیره جلتئ محمول دے او ابن عمر ﷺ به ډیره جلتی نکوله بلکه هغه به ښه په تراضی جدا کیدو۔

درجة الحدیث: [حسن] أبوداود: ۳۴۵٦، ترمذی: ۱۲۴۷، نسائی: ۷/۲۵۱، أحمد: ۲/۱۸۳، دارقطنی: ۳/٦، ابن الجارود: ٦۲۰، بیهقی: ۵/۲۷۱، وصحح فی صحیح الجامع الصغیر (٦٦۷۲).

2805 (5) – وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَا یَتَفَرَّقَنَّ اثْنَانِ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه: او ابو هریره ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : اخستونکے او خرڅونکے دواړه به خپل مابین کښې د رضامندئ نه بغیر نهٔ جدا کیږی۔ (ابو داودؒ)

تشریح : عَنْ تَرَاضٍ : [اَیْ تَفَرُّقًا صَادِرًا عَنْ تَرَاضٍ] یعنی داسے جدائی چه د بائع او د مشتری په رضا سره وی۔ یعنی د رقم په ورکولو او د سودا په قبض کولو به هر یو راضی وی۔ که یو طرف نه رضا نهٔ وی نو دا بیع به صحیح نهٔ وی، پدے کښې یو جانب ته ضرر رسیږی او دا په شریعت کښې حرام دے۔ یا مطلب دا چه څوك د خپل ملګری د مجلس نه د سودا نه روستو جدا کیږی نو هغهٔ سره به مشوره کوی چه زهٔ پاڅیږم ستا څنګه خوښه ده، ځکه چه کیدے شی چه هغه پدے مجلس کښې په سودا کولو باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

خپیمانه وی، نو که هغه خپیمانه وی، سودا به ماته کړی. لهذا دا د مخکنی حدیث سره په معنیٰ کښې برابر شو.

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه ابوداود: ٣٤٥٨. والترمذی: ١٢٩٣].

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2806 (6) - عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْبَيْعِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ

ترجمه: جابر ﷺ نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ یو بانډه چی ته د سودا نه روستو اختیار ورکړو. (ترمذیؒ روایت کړے او دائے وئیلی چه دا حدیث حسن صحیح غریب دے).

تشریح: نبی کریم ﷺ د یو بانډے والا شخص نه اُوښان واخستل بیا ئے ورته وفرمایل: په خپله سودا کښې لږ سوچ وکړه، که ته غواړے چه زۀ تا ته سودا واپس کړم (هم کولے شم). بیا څه ډیره موده پس بانډے والا شخص رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو ورته ئے وفرمایل: اے د الله رسوله! آیا تا زۀ وپیژندم؟ نبی ﷺ وفرمایل: آؤ.

نو د نبی ﷺ نه قولًا او عملًا دا ثابته شوه چه خیار مجلس د بائع او مشتری حق دے، او دے دپاره چه رضا د هریو معلومه شی.

بعض علماؤ وئیلی دی چه دا شرعی حکم او حق نۀ وو بلکه د رسول الله ﷺ سړی توب او ښائسته اخلاق وو. لیکن دا خبره بے دلیله ده. صحیح دا ده چه دا استحبابی حکم دے څکه بیع چه تمامه شی او مجلس برخاست شی بیا اختیار ورکول افضل دی.

فائده: د مشکاة په حاشیه کښې لیکی: دا دلیل دے چه خیار مجلس نشته څکه چه بعد البیع خیار ورکول هله صحیح کیږی چه بیع په تفرق بالاقوال ثابته شی. **جواب** دا دے چه دا خیار د تفرق بالابدان نه پس وو په طریقه د استحباب سره. او په طریقه د مساهله فی البیع سره. یعنی په بیعه کښې مسلمان سره آسانی کول مقصد دی. او صریح روایت پریخودل او مجمل حدیث اخستل د اهل زیغو کار دے. والله المستعان وبالله التوفيق.

درجة الحديث: [حسن] أخرجه الترمذی: ١٢٤٩.

Maktaba Tul Ishaat.com

٤- بَابُ الرِّبَا د سود بیان

الرِّبَا: د رَبَا يَرْبُوْ نه دے، په لغت کښے نمو، زیاتیدو او پورته کیدو ته وائی.

او **شرعًا** : اَلزِّيَادَةُ فِيْ أَشْيَاءَ مَخْصُوْصَةٍ (په خاصو شیانو کښے زیاتے کول چه هغه اشیاء سِته دی (سونا، چاندی، غنم، وربشے، کهجورے، مالگه). بعضِ وائی: رِبَا هغه زیاتی ته وائی چه د ربوی شیٔ په خپل جنس باندے د خرڅولو په صورت کښے په هغے کښے زیاتے وکړے شی، یا په کوم ربوی شی کښے چه د تبادلے په وخت قبض شرط دے د هغے په قبض کښے تاخیر وکړے شی. او رِبَا دوه قِسمه ده : ربا البیع. او ربا القرض.

او **ربا البیع** په دوه قِسمه ده : (١) **ربا الفضل** : یعنی د زیادت سود، او دا دیته وائی چه کوم ربوی شیان دی په هغے کښے یو جنس په خپل جنس سره زیات خرڅ کړے شی. مثلًا: یو صاع غنم په دوه صاعه غنمو خرڅ کړے شی، یا پنځوس گرامه سونا په شپیتهٔ گرامه سونا خرڅه کړے شی، او عام طور سره دا قِسم معامله په هغه صورت کښے کیږی چه په دواړو عوضونو کښے د جیّد او د ردیٔ وغیره فرق وی.

(٢) **ربا النسیئة** : یعنی د تاخیر سود : او دا دیته وائی چه یو شے په خپل جنس یا په بل جنس سره خرڅ کړے شی او یو عوض په کښے قبض نهٔ کړے شی. او د سود دا دویم قِسم د جاهلیت په زمانه کښے مشهور وو، هغوئ به چاله قرض ورکړو او نیته به پوره شوه، نو قرضه وړی ته به ئے وئیل : یا خو مے قرض راکړه او یا به دربانده زیاتیږی، نو که قرضه به ئے ورته ادا کړه نو خیر او خلاص، او که ادا به ئے نهٔ کړه نو قرض به ئے ورته زیات کړو او نیته به ئے ورته اُوږده کړه. او معلومه خبره ده چه دا کار صرف هغه څوك کوی چه نیستمن او محتاج وی. همدا قِسم سود قرآن کریم حرام کړے. پاتے شو اولنے قِسم سود (ربا الفضل) نو ددے حرمت په احادیثو کښے راغلے.

او **ربا القرض** : دیته وائی چه څوك چاله قرض ورکړی او هغهٔ باندے دا شرط ولگوی چه ددے نه به بنهٔ یا زیاتی راکوے، او یا ورته قرض ورکړی او دا شرط پرے ولگوی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

کور به دِے ورسره په کرايه راکوے يا به ستا د ګاړی موټر نه زۀ فائده اخلم۔ او داسے نور شرطونه۔ لنډه دا چه: قرض ورکولو او زياتی شی شرط کولو ته ربا القرض وائی۔ نو دا په حقيقت کښے قرض نۀ دے بلکه بعينهٖ سود دے۔ ځکه په قرض کښے مقصد مسلمان سره احسان او ښېګړه کول دی او دا ښکاره معاوضه ده۔ او په دے کښے دا هم داخليږی چه يو تن د چا نه کور په کرايه نيسی نو هغۀ ته څه مال پيشګی ورکړی او بيا پرے ددے په بدله کښے کرايه کمه کړی۔ لکه څنګه چه دا اُوس د عامو خلکو په رواج کښے کيږی۔ دا سود دے۔

سود په کتاب، سنت او اجماع امت سره حرام دے، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا﴾ [البقرة: ٢٧٥] (الله تعالیٰ سودا حلاله کړے او سود ئے حرام کړے)

او فرمائی: ﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۞ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ [البقرة: ٢٧٨، ٢٧٩] آيت نه معلومه شوه چه سود سخت حرام دے، او څوك چه دا نۀ پريدی نو هغه د الله او رسول سره اعلان جنګ کوی۔

دا څومره د شرمندګئ خبره ده چه يو انسان د الله د بندګئ په ځائے د هغۀ سره د جنګ اعلان کوی! دا قِسم وعيد او زورنه ددے نه سِویٰ په بله کبيره ګناه باندے نۀ ده راغلے۔ او راتلونکی حديثونه د ربا په حرمت باندے ښکاره دليل دے۔ او سود په اجماع د امت سره حرام دے اګرکه ددے په يو څو مسئلو کښے د علماؤ اختلاف دے۔

د سود د حرمت حکمت: دادے چه اسلام دا د يو څو لويو مقاصدو د وجه نه حرام کړے: (١) په دے کښے د الله په مخلوق ظلم او زياتے او د خلکو مالونه په ناحقه خوړل دی، ځکه دا په غير د عوض نه مالونه اخستل دی چه دا د جوارئ نه هم سخته ګناه ده۔

(٢) سود خور سخت لالچی او سخت مزاجه او د خير او ښېګړے په کارونو کښے د مال لګولو نه لرے وی، دا وجه ده په قرآن کښے چه په کومو ځايونو کښے د سود تذکره شوے نو د هغے نه مخکښے يا روستو د انفاق ترغيب راغلے۔ (٣) ددے په وجه تجارتونه، کسبونه، کرکيله او صنعتونه بنديږی چه په دے باندے د عالَم نظام روان دے، ځکه چاته چه د بينك نه د يوے روپۍ په بدله کښے دوه روپۍ ملاويږی نو په هغۀ څۀ سنډا خپه ايښے دے چه کار کسب يا تجارت او صنعت وکړی؟ (٤) سود خور سړے چاله قرض نۀ ورکوی ځکه چه دۀ ته په دے قرض سره څۀ مادی نفع نۀ ملاويږی، حالانکه که مالداره

Maktaba Tul Ishaat.com

خلك غريبانانو له قرض هم ورکړي نو په معاشره کښې به غريب پاتے نشي. د سخت افسوس خبره ده ! نن صبا په معاشره کښے سود ډير زيات عام دے، زياتره معاملات او سوداګانے په سود او جوارئ باندے مشتملے دي. او د نبي کريم ﷺ ددے ارشاد مصداق ګرځيدلي چه: ((په خلکو به داسے زمانه راشي چه په هغے کښے به سړے دا پرواه نۀ لري چه حرام ئے واخستل اوکه حلال)) [بخاری: ۲۰۵۹] نن صبا د خلکو ټول غم دادے چه مال به څنګه پيدا کړے شي؟ د حلالو او حرامو تميز نشته، دروغ، خيانت، تګي او دهوکه يو عام رواج ګرځيدلے بلکه دهوکه ورکول نن صبا مهارت او هوښيارتيا ګڼړل کيږي. والله المستعان !

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2807 (1) - عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ: "هُمْ سَوَاءٌ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ په سود خوړونکي او خوره ونکي او ليکونکي او ګواهانو باندے لعنت فرمائيلے دے او وئيلي ئے دي چه دوئ يو برابر دي. (مسلمٌ)

تشريح: هُمْ سَوَاءٌ: يعني پدے لعنت کښے ټول يو شان شريك دي.

2808 (2) - وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيْعُوْا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او عباده بن صامت ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: سرۀ (به خرڅولے شي) په مقابله د سرو کښے او سپين په مقابله د سپينو کښے او غنم په مقابله د غنمو او وريشے په مقابله د وريشو کښے او کهجورے په مقابله د کهجورو کښے او مالګه په مقابله د مالګه کښے(په مقدار کښے به) مثل په مثل او برابر په برابر او لاس په لاس وي، هرکله چه دا قسمونه مختلف شي نو څنګه چه ستاسو خوښه وي (خرڅولے شئ) هرکله چه لاس په لاس وي. (مسلمٌ)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : [اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ] أَیْ یُبَاعُ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ (سرهٔ به په سرو خرڅولے شی) یا دا منصوب دے : أَیْ بِیْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ (سرهٔ په سرو خرڅوئ) او د ذهب لفظ عام دے په دے کښے دده ټمام اقسام داخل دی لکه ټاپه شوی، نقش دار، کره، کهوټه، روغ، مات، کالے، ټکړے، خالص او ملاوټ والا۔ [سَوَاءً بِسَوَاءٍ] دا د [مِثْلًا بِمِثْلٍ] تاکید او پوره وضاحت دے۔ [یَدًا بِیَدٍ] لاس په لاس، یعنی د سودا په مجلس کښے د جدا کیدو نه مخکښے به ئے دواړه یو د بل نه قبض کوی۔ [فَبِیْعُوْا کَیْفَ شِئْتُمْ] یعنی د کمیت په لحاظ، برابر وی اوکه یو د بل نه زیات وی۔ د [یَدًا بِیَدٍ] قید لګولو نه مراد دا چه په دے کښے نقده وصولی شرط ده۔

اَلْأَصْنَافُ : دلته ترے اجناس مراد دی، عرب صنف د جنس په ځائے استعمالوی۔

تفصیل د مسائلو په آخر کښے راځی۔

2809 (3) - وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ :" **اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ** وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِیْرُ بِالشَّعِیْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ یَدًا بِیَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبٰی، اَلْآخِذُ وَالْمُعْطِیْ فِیْهِ سَوَاءٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : سرهٔ په سرو او سپین په سپینو او غنم په غنمو او وربشے په وربشو او کهجورے په کهجورو او مالګه په مالګه مثل په مثل، لاس په لاس (خرڅولے شی) نو چا چه زیات ورکړو یا ئے زیات واخستو نو دهٔ سود وکړو، اخستونکے او ورکونکے په دے کښے برابر دی۔ (مسلم)

تشریح : [فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ] یعنی چاچه په یو جنس کښے زیاتی ورکړو، او یائے زیاتی طلب کړونو دا زیاتی شے سود دے، سود اخستونکے او ورکونکے دواړه په ګناه کښے یو برابر دی۔

2810 (4) - وَعَنْهُ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : "**لَا تَبِیْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ** إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلٰی بَعْضٍ وَلَا تَبِیْعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلٰی بَعْضٍ وَلَا تَبِیْعُوْا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ " . وَفِیْ رِوَایَةٍ :" **لَا تَبِیْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ** وَلَا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ ". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : سرۀ زر د سرو زرو په بدله كښې مۀ خرڅوئ مګر كه برابر برابر وي، او د يو بل په وزن كښې (كمے) زياتے مۀ كوئ. او تاسو سپين زر د سپينو په مقابله كښې مۀ خرڅوئ مګر برابر په برابر او ددے نه د يو بل په وزن كښې (كمے) زياتے مۀ كوئ، او ددے نه غائب شے د حاضر شي په بدله كښې مۀ خرڅوئ. او په يو روايت كښې دي : تاسو سرۀ په مقابله د سرو كښې مۀ خرڅوئ او مۀ سپين په مقابله د سپينو كښې مګر وزن په وزن. (بخاريؒ، مسلمؒ).

تشريح : [الْوَرِقَ] سپينو زرو ته وائي، تاپه شوي وي او كه نۀ. زيورات ترے جوړ وي او كه نۀ.

[إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ] دا د عامو حالاتو نه مستثنىٰ ده، تقدير ئے داسے دے : تاسو سرۀ په سرو باندے په هيڅ حالت كښې مۀ خرڅوئ مګر په داسے حالت كښې چه دا دواړه متماثلين يعنى متساويين (يو بل سره برابر، برابر) وي. او د ابو هريره ﷺ په حديث كښې راغلي چه برابر والے په وزن سره راځي. [وَلَاتُشِفُّوا] د تاء په پيښ او د شين په زير او د فاء په شد او پيښ سره، معنىٰ: يو په بل باندے مۀ زياتوئ، إِشفاف زياتوالي ته وائي. كله شَفَّ يَشِفُّ كموالي ته هم وائي نو دا د اضدادو نه دے. او دا د مِثْلًا بِمِثْلٍ تاكيد دے.

[غَائِبًا بِنَاجِزٍ] غائب نه مراد دا چه د عقد په وخت موجود نۀ وي، برابره خبره ده كه په نيته وي او كه نۀ. او د ناجز نه مراد حاضر او نقد دے. او په دے كښې د يو بل قبض كولو ته اشاره ده. يعنى دواړه به حاضر وي او لاس په لاس به وي.

فوائد او مسائل : (۱) په دے حديثونو كښې د ربا ټول باب راګير كړے شويدے او پوره تفصيل شويدے (۲) دے حديثونو نه معلومه شوه چه ربوي اشياء (يعنى هغه مالونه چه په هغے كښې سود جاري كيږي) دا شپږ دي : سرۀ، سپين، غنم، وربشے، كهجورے او مالګه. د علماؤ په اتفاق سره په دے شيانو كښې سود جاري كيږي، او ددے نه په سوىٰ كښې د دوئ اختلاف دے.

تفصيل د مسئلے دادے چه كله ربوي شے په خپل جنس سره خرڅولے شي لكه غنم په غنمو، يا كهجوره په كهجورو، يا سرۀ په سرو باندے نو دا خرڅول صرف په دوه شرطونو باندے صحيح دي : (**اول شرط**) دا چه ددے دواړو مقدار به مساوي وي، نو يو صاع به په دوه صاعونو خرڅول درست نۀ وي. دا شرط په دے الفاظو كښې بيان شوے : [مِثْلًا

Maktaba Tul Ishaat.com

بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ] او په عامه توګه دا کار صرف هغه وخت کیږي کله چه د دواړو قسمونو ترمینځه په کره والي او کهوټه والي وغیره کښې فرق وي، لکه مخکښې تیر شو۔

(**دویم شرط**) دا چه: د مجلس جدا کیدو نه به مخکښې یو د بل نه عوض قبض کوي۔ دلیل ئې [يَدًا بِيَدٍ] الفاظ دي۔ که چرې په دې دوه شرطونو کښې اولنې شرط ختم شو نو دا معامله به **ربا الفضل** وي، اوکه دویم شرط ختم شو دا معامله به **ربا النسیئه** وي، اوکه دواړه ختم شو نو په دې معامله کښې به ربا الفضل والنسیئه دواړه وي۔

○ اوکه ربوي شې د خپل جنس نه علاوه په بل ربوي جنس سره خرڅولې شي، نو د سودا صحیح کیدو دپاره صرف یو شرط ضروري دې، او هغه په مجلس کښې دننه تقابض دې۔ لکه یو صاع غنم په دوه صاعو وریشو خرڅوي نو دا سودا صحیح ده خو شرط دادې چه د جدائی نه مخکښې به تقابض کوي۔ دا شان که سعودي ریالونه په پاکستانو روپو خرڅوي (یعنی جنس بدل شي) نو دواړو طرفونو ته که پیسې زیاتې وي اوکه کمې، سودا صحیح ده، خو شرط دادې چه په مجلس کښې به تقابض کوي۔ ددې دلیل د حدیث دا الفاظ دي چه: [فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ] او که لاس په لاس نشي نو بیا دا معامله ربا النسیئه ده۔

○ او که ثَمَنَین (ذهب او فضه) په غیر ثمنین خرڅوي لکه غنم په سرو زرو، یا وریشې په سپینو زرو، نو بیا دا بیع مطلقًا صحیح ده، نهٔ په کښې د تساوي شرط شته اونهٔ د تقابض۔ **حاصل** دا چه: دلته درې صورته دي: (۱) ذهب په ذهب۔ فضه په فضه خرڅول۔ (۲) ذهب په فضه خرڅول او ددې برعکس۔ (۳) ذهب یا فضه په باقي څلورو کښې په یو جنس خرڅول۔ نو په (**اول**) صورت کښې د سودا د صحت دپاره دوه شرطه ضروري دي: مساوات او تقابض في المجلس۔ (**دویم**) صورت کښې صرف یو شرط راتلل ضروري دي یعنی تقابض في المجلس۔ (**دریم**) صورت کښې هیڅ شرط نشته۔

(۳) حدیث دلیل دې چه ثمن په ثمن خرڅولو کښې په مجلس کښې تقابض شرط دې ځکه رسول الله ﷺ [يَدًا بِيَدٍ] د اتحاد او اختلاف دواړو اصنافو سره ذکر کړې، لکه د عُباده بن صامت ﷺ په حدیث کښې دي۔ البته که احد النقدین د څلورو شیانو نه په یو شي باندې خرڅولې شي نو په دې کښې لاس په لاس تقابض ضروري نهٔ دې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤) او حديث دليل دے چه غنم او وربشے دواړه جدا جدا جنس دے، ځکه يو په بل باندے عطف شوے۔ او دا د جمهورو قول دے۔ امام مالكؒ، ليثؒ، اوزاعیؒ او معمر بن عبد الله ﷺ قول دادے چه دا دواړه يو جنس دے۔ ددے اختلاف ثمره به روستو راشي ان شاء الله۔

(٥) ددے حديثونو نه معلومه شوه چه په اشياءِ ستہ کښے ربا الفضل او ربا النسيئه دواړه حرام دی۔ د بعضِ صحابه کرامو ﷺ په نيز ربا صرف په ربا النسيئه کښے بنده ده، لکه د ابن عباس ﷺ په نيز په يو درهم باندے دوه درهمه اخستل جائز وو هر کله چه لاس په لاس وی، هغهٔ به وئيل : ماته اسامه ﷺ دا حديث بيان کړے چه : [لَارِبَا اِلَّا فِي النَّسِيْئَةِ] [بخاری: ۲۱۷۹، مسلم: ۱۵۹۶] (سود صرف په نسيه کښے وی) ليکن بيا چه کله هغهٔ ته ابو سعيد خدری ﷺ خپل دغه مخکښے حديث [لَاتَبِيْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ ...... وَلَاتَبِيْعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ] بيان کړو نو هغهٔ د خپل دے قول نه رجوع وکړه۔ **سوال** : بيا نو د [لَارِبَا اِلَّا فِي النَّسِيْئَةِ] څهٔ معنیٰ ؟

جواب : دا په صورت د اختلاف د جنسينو کښے دے۔ لکه ذهب په فضه يا تمر په حنطه سره خرخولے شي نو په دے کښے تفاضل جائز او نسيه په کښے ناجائز ده۔ او يا دا معنیٰ چه سخته او مضبوطه ربا دا ربا النسيئه ده، لکه عرب وائی : [لَاعَالِمَ اِلَّا زَيْدٌ] يعنی عالم خو صرف زيد دے، دا هغه وخت وائی چه کله د زيد علم زيات او مضبوط وی اګرکه په دغه علاقه کښے نور علماء هم موجود وی، نو دلته هم د [لَارِبَا اِلَّا فِي النَّسِيْئَةِ] مطلب دا چه اصل ربا دا ربا النسيئه ده اګرکه ربا الفضل هم ربا ده۔

(٦) د سرو او سپينو په حکم کښے مروّجه کرنسی هم ده۔ د هر يو ملك کرنسی خپل خپل جنس حسابيږی۔ مثلاً: پاکستانئ کرنسی جدا جنس، افغانئ کرنسی جدا جنس، سعودی کرنسی جدا جنس۔ ددے په خرخولو کښے هم هغه درے صورته دی کوم چه په ذهب او فضه کښے تير شو۔ او **راجح قول** دادے چه ددے ملکونو دا نوټونه او کرنسيانے بذاتِ خود ثمن حسابيږی۔ او تمام هغه احکام چه ذهب او فضه لره ثابت دی هغه دے کرنسيانو له هم ثابت دی۔ ځکه اوس په توله دنيا کښے د ذهب او فضه په ځائے په نوټونو او کرنسيانو باندے تعامل روان دے۔

مسئله : اختلاف: ددے شپږو شيانو نه سویٰ په نورو اصنافو کښے سود جاری

Maktaba Tul Ishaat.com

کيږي اوکه نه؟ نو دې کښې اختلاف دے: (۱) **اول قول** دادے: چه سود صرف په دے اشياءِ ستـه پورے خاص دے ځکه په دے باندے اجماع شوے او په نورو کښې اختلاف دے. او دا د طاووسؒ، قتادهؒ، ظاهريهؒ، د امام احمد بن حنبلؒ نزدے شاګرد ابن عقيلؒ او امام صنعانيؒ قول دے. او دا قول علامه شوکانيؒ په السيل الجرار (۳/٦٤) کښې او صديق حسن خانؒ په الروضة الندية (۲/۱۰٦) کښې راجح کړيدے.

ځکه په دے باب کښې چه قياس والو کوم علتونه ښودلي نو هغه د زيات اختلاف د وجے يو د بل په مقابله کښې دي. او يو علت له په بل باندے ترجيح نشته.

بلـه دا چه الله تعالىٰ په آيت کښې فرمائي: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ الله تعالىٰ بيع په طريقه د عموم سره حلاله کړيده او د سود بيان ئے صرف په سنت کښې په اشياءِ ستـه ؤ سره کړے، نوکه په نورو څيزونو کښې سود جاري کيدے نو د الله نبي به بيان کړی وے. دارنګه کوم علماء چه په دے څيزونو کښې علت راوباسي نو دغه علتونه ګماني دي، ددے وجـه نـه ئے پـه هغے کښې اختلاف هم کړے ځکه چه په يقيني شي کښې اختلاف نـهٔ وي. نو هرکله چه علت ګماني شو نو په امت باندے په ګماني څيز سره پابندي لګول مناسب نهٔ دي. او دا مطلب نهٔ دے چه ددے څيزونو دپاره علت د حرمت نشتـه، علت به خامخا يو وي ليکن هغه معلوم نهٔ دے؛ الله تعالىٰ په خپل کتاب کښې او د هغهٔ نبي پـه خپـل سنت کښې نهٔ دے متعين کړے، او نهٔ په هغے باندے اجماع د امت شتـه نو ددے وجـه نـه خلك پـکښې مختلف روان شويدي، لهذا دے اختلاف له هيڅ اعتبار نشتـه، مونږ به د چا قول منو او د چا به رد کوو، نو خبره د نص پورے خاص ده او باقي اشياؤ کښې به حل په خپل حال باندے پاتے شي.

[فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام لابن عثيمين ٤/١٨]

بله دا چه قياس د ضرورت په وجه کولے شي او دلته هيڅ ضرورت نشته چه يو شے الله تعالىٰ حلال کړے او بنده ئے په قياسونو سره حرام کړی.

(ب) او د اکثرو علماؤ په نيز په دے اشياء ستـه ؤ باندے نور شيان هم قياس دي. او بيا د علـت پـه راوبـاسـلو کښې بے شماره مذاهب او اقوال دي، هر چا د خپلے رائے مطابق په دے اشياء ستـه کښې علت راوبـاسـلے.

امام نـوويؒ وائـي: پـه سبب د تـحـريـم د ربا کښې اهل علمو اختلاف کړے: (۱) امام

Maktaba Tul Ishaat.com

شافعیؒ وائی چه په ذهب او فضه کښې علت ثمنیت دے چه دا دواړه جنسونه د ثمن (قیمت) دی۔ نو په نورو موزوناتو کښې به ربا نهٔ جاری کیږی لکه اُوسپنه، قلعي، تانبه وغیره کښې۔ ځکه چه دا اثمان نهٔ دی۔ او په باقي څلورو څیزونو کښې علت طعم دے، یعنی دا مطعوم (خوراکی) څیزونه دی۔ نو ددے وجه نه هر هغه شے چه طعام جوړیږی هغے کښې به سود جاری کیږی برابره ده چه خوراك وی، یا تفکه (مزے اخستو) دپاره وی، یا د دوائی په طور استعمالیږی لکه هریړه او سقمونیا وغیره شو۔ یا یواځے خوړلے شی یا د بل سره شریك خوړلے شی لکه زعفران نو پدے کښې هم په اصح قول سره سود جاری کیږی۔ (۲) امام مالكؒ په ذهب او فضه کښې د شافعیؒ په شان قول کوی او په څلورو څیزونو کښې علت اِدّخار لِلْقُوْت وائی۔ یعنی د خوراك دپاره ذخیره کول او ساتل۔ نو ددے وجه نه اُوځکے (کشمش) کښې هم سود وائی ځکه چه دا د کهجورو په شان دی، او په جوارو کښې هم وائی ځکه چه دا د غنمو او وریشو په شان دی۔

(۳) ابوحنیفهؒ وائی : په ذهب او فضه کښې علت وزن دے، نو ددهٔ په نیز به هر موزون شی کښې سود جاری کیږی لکه تانبه، اُوسپنه وغیره شو۔ او په څلورو څیزونو کښې علت کیل (پیمانه کیدل) دی۔ نو هر مکیلی شی کښې به سود جاری وی لکه چونه، اشنان، مالوچ وغیره۔

(٤) بعض وائی : په ذهب او فضه کښې علت ثمنیت دے (چه دا د څیزونو قیمت جوړیږی) او په څلورو څیزونو کښې علت دا دے چه دا د خلکو دپاره قوت جوړیږی، غذا ده۔ او دا مذهب د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ دے۔ ددے قول مطابق هر شے چه ثمن جوړیږی په هغے کښې سود جاری کیږی برابره ده چه ذهب او فضه وی او که وسپنه، یا لرګی یا هر شے وی۔ او کوم شے چه قوت جوړیږی هغے کښې هم سود جاری کیږی۔ بیا شیخ الاسلام ددے په تفریع کښې دا مسئله هم لیکلے ده چه کله ذهب ثمن نهٔ وی نو پدے کښې زیادت جائز دے۔ نو وئیلی ئے دی چه کومے سونے نه زیورات جوړ شوی وی یا ورسره بل شے یو ځائے شوے وی نو هغه په دینارونو یعنی د سرو زرو په روپو اخستل جائز دی۔ او پدے کښې که زیورات زیات وی او دنانیر کم وی هم جائز ده، ځکه چه زیادت به په مقابله د صنعت کښې شی۔ لیکن دے خبره کښې شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ حق ته نهٔ دے رسیدلے، وجه دا ده چه په حدیث د فضاله بن عبید ﷺ کښې ددے نه ښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

منع راغلے دہ، فضاله ﷺ فرمائی : ما د خیبر په ورځ باندے په دولس دیناره باندے یو امیل واخستو چه په هغے کښے سرۀ زر او کنجکے وے نو ما جدا کړل نو ما په هغه امیل کښے د دولسو دینارو نه زیات وموندل نو دا خبره مے نبی ﷺ ته ذکر کړه، هغۀ وفرمایل :[لَا تُبَاعُ حَتّٰى تُفَصَّلَ] دا به نشی خرڅولے تردے چه کنجکے او سرۀ زر سره جدا شی۔ [مسلم : ٤١٦٠] دارنګه شیخ الاسلام دا هم لیکلی دی چه جوړ شوے زیورات په دینار د ذهب باندے په نسیئه هم خرڅول جائز دی۔ ترڅو چه ذهب کښے ثمنیت نۀ وی قصد شوے۔ بلکه دا به د عام سامان په شان وی۔ دا مسئله هم ددے حدیث په رُو سره خطاء ده۔ نو صحیح دا ده چه سرۀ زر که په هر حالت کښے وی په سرو زرو باندے په نسیه او زیادت سره خرڅول حرام دی، او دغه شان چاندی هم ده۔ او دا مذهب د ابن عمر ﷺ دے۔ (البیهقی ٢٧٩/٥) ومالك والطحاوی)۔ والله تعالیٰ اعلم۔

او **صحیح قول** دا دے چه سود صرف په اشیاءِ سته ؤ کښے دے، او هره منهی عنه بیعه د سود برخه ده، بس نور د ځان نه علتونه وئیل څه اساس نۀ لری۔

فائده : په دے حدیثونو کښے په دے اشیاء سته کښے چه کله جنس یو وی د زیاتی خرڅولو نه منع راغلے۔ او هر چه په قرض کښے زیاتی ورکول دی نو دا جائز دی، مثلًا: یو تن د چا نه زر روپئ قرض واخلی او بیا ورته بطورِ احسان څۀ دپاسه زر روپئ ورکړی، یا یوه دړئ غنم قرض کړی او بیا ورته دوه دړئ ورکړی، نو دا کار جائز دے او په دے کښے د مسلمان سره ښیګړه ده، په دے شرط چه د قرض ورکولو په وخت دا زیاتے شرط نۀ کړے شی۔ فتاوی الدین الخالص (٥٨٨/١١) والله اعلم۔

فائده : په اشیاءِ سته ؤ کښے قرض په اتفاق د علماؤ جائز دے لکه په مغنی او بخاری کښے وګوره۔ او بیع د اشیاء سته ؤ په نسیه سره جائز نۀ ده چه کله جنس یو وی یا جنس قریب وی۔

2811 (5) – وَعَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ :" **اَلطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او معمر بن عبد الله ﷺ فرمائی : ما به د رسول الله ﷺ نه آوریدل چه فرمایل به ئے : طعام به د طعام په مقابله برابر په برابر (خرڅولے شی)۔ (مسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : دا حدیث پوره داسې دې: ((بسر بن سعید فرمائي: معمر بن عبد الله ﷺ خپل یو غلام د یو صاع غنمو سره ولیږهٔ او هغهٔ ته ئې وویل چه تهٔ دا خرڅ کړه، او بیا په دې بانـدې وربشې واخـله، هغه غلام لاړ، نو هغهٔ څهٔ دپاسه یو صاع وربشې واخستې، او هغه راغې او معمر ئې په دې خبر کړو، معمر ورته وفرمایل: دا کار دې ولې کړې ؟ لاړ شه او دا واپس کړه، او دواړه عوضونه سره برابر کړه (یعنې د یو صاع په بدله کښې صرف یو صاع واخله) ځکه ما به د رسول الله ﷺ نه آوریدل ...... تر آخره پورې)) هغهٔ ته چا وویل چه دا غنم خو د وربشو پشان نهٔ دی (ددې دواړو خو جنس بدل دې) هغهٔ وفرمایل: زهٔ ددې نه یریږم چه هسې نهٔ دا چرته یو شان نهٔ وي. [مسلم: ۱۵۹۲]

[اَلطَّعَامُ بِالطَّعَامِ] أَيْ بَيْعُ الطَّعَامِ يَكُوْنُ بِالطَّعَامِ، أَوْ يُبَاعُ الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ، اَوْ بِيْعُوا الطَّعَامَ بِالطَّعَامِ. یعنې خرڅول د طعام به په طعام سره وي یا طعام به په طعام خرڅولې شي. یا خرڅ کړئ طعام په طعام سره.

په یو بل روایت د مسلم کښې ورسره دا راغلي دي چه زمونږ طعام په هغه زمانه کښې وربشې وې.

[مِثْلًا بِمِثْلٍ] یعنې په دې کښې مساوات ضروري او زیاتې حرام دې. او د مثلا بمثل مطلب دا دې چه اندازه د دواړو به یو شان وي، اگرکه صفت ئې جدا جدا وي، یعنې یو اعلیٰ وربشې او بل ادنیٰ نو پدې کښې به هم مساوات ضروري وي. نو اعلیٰ کمې او ادنیٰ زیاتې ورکول او اخستل به حرام وي.

فوائد الحدیث : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه طعام (یعنې غنم، وربشې) چه کله په طعام سره خرڅولې شي نو په دې کښې به تماثل او مساوات ضروري وي. اوکه د یو جنس طعام د بل جنس په طعام خرڅوي لکه غنم په وربشو خرڅوي، نو په دې کښې بیا تماثل او مساوات ضروري نهٔ دې بلکه تفاضل او زیادت هم په کښې جائز دې. البته تقابض یعنې لاس په لاس والې په کښې شرط دې، لکه چه دا خبره د عباده ﷺ په حدیث کښې تیره شوه. (۲) ددې حدیث نه بعضِ علماؤ - لکه امام مالک او اوزاعيؒ - دا معلومه کړې چه غنم او وربشې یو جنس دې. ځکه په دې حدیث کښې دیته طعام وئیلې شوې او طعام غنم او وربشو دواړو ته شامل دې، او په دې حدیث کښې وئیلې شوي دي چه ((د یو صاع په بدله کښې صرف یو صاع واخله)) لیکن جمهور علماء فرمائي چه غنم

Maktaba Tul Ishaat.com

او وُربشے دوه مختلف جنسونه دی، يو په بل باندے په کمی زياتی سره خرڅول جائز دی۔ او همدا قول غوره دے ځکه د عباده بن صامت ﷺ مخکنے حديث په دے باب کښے صريح دے چه په هغے کښے غنم او وربشے دوه جدا جدا جنسونه ښودل شوی، او هرچه د معمر بن عبد الله ﷺ دا حديث دے، نو په دے کښے دا ضراحت نشته چه ګنے غنم او وربشے يو جنس دے۔ دے کښے صرف معمر ﷺ ددے دواړو د مشابهت نه يريدلے دے چه هسے نۀ دا دواړه چرته يو شان نۀ وی، نو دا د دوئ احتياط دے او يا ظاهره داده چه دا د دوئ اجتهاد دے۔ [المفهم: ٤/٤٨١] ثمره د اختلاف د جمهورو او د امام مالك د مذهبونو ترمينځه داده چه د جمهورو په قول غنم په وربشو باندے په کمی زياتی سره خرڅول جائز دی، او د امام مالك په نيز ناجائز دی۔ ليکن د هغۀ قول مرجوح دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

2812 (6) – وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْوَرِقُ بِالْوَرِقِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ** وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عمر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: سرۀ زر د سرو په مقابله کښے سود دے مګر که لاس په لاس وی، او سپين د سپينو په مقابله کښے سود دے مګر که لاس په لاس وی، او غنم د غنمو په مقابله کښے سود دے مګر که لاس په لاس وی او وربشے د وربشو په مقابله کښے سود دے مګر که لاس په لاس وی، او کهجورے د کهجورو په مقابله کښے سود دے مګر که لاس په لاس وی۔ (بخاری ومسلم)

تشريح: [هَاءَ وَهَاءَ] دا په معنیٰ د [هَاكَ وَهَاكَ] سره دے، يعنی واخله واخله۔ يعنی که لاس په لاس وی، چه يو بل ته ووائی چه ها واخله۔ دا د عربو او د سوداګرو طريقه ده چه کله يو شے ورکوی نو اول کښے ها لفظ استعمالوی۔

2813 (7) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلٰى خَيْبَرَ، فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيْبٍ، فَقَالَ: (**أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا** ؟) فَقَالَ: لَا، وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هٰذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:

Maktaba Tul Ishaat.com

"لَاتَـفْعَلْ، بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ، ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا" وَقَالَ فِي الْمِيزَانِ مِثْلَ ذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو سعيد خدري ﷺ او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو سړے په خيبر باندے عامل (والي) مقرر کړو، نو هغهٔ نبي ﷺ ته ډيرے عُمده کهجورے راوړے۔ رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا د خيبر ټولے کهجورے داسے دي ؟ هغهٔ عرض وکړو : نه۔ قسَم په الله يا رسول الله ! مونږ ددے عُمده کهجورو نه يو صاع د نورو کهجورو د دوه صاعونو په عوض او ددے دوه صاعونه د نورو کهجورو د درے صاعونو په عوض اخلو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : داسے مهٔ کوه (بلکه) ردي کهجورے په روپو خرڅوه او بيا په روپو باندے عُمده کهجورے اخله۔ او وے فرمايل : تَلل کيدِونکي شيان هم ددے پشان دي۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : [اسْتَعْمَلَ رَجُلًا] يو سړے ئے عامل (د مالونو جمع کونکے) مقرر کړو۔ او دا سړے سَوَاد بن غَزِيَّه ﷺ دے چه د انصارو د بني عدي بن النجار قبيلے سره تعلق لري۔

[عَلٰى خَيْبَرَ] خيبر د مدينے نه شمالي اړخ ته (١٦٥) کيلو ميټره لرے يوه شنه او زرعي او د کهجورو علاقه ده۔ په دے کښے به يهوديان وسيدل، نبي کريم ﷺ چه د مدينے يهود جلا وطن کړل نو هغوئ دلته آباد شول، بيا چه کله په اووم کال د هجرت نبي ﷺ د خيبر قلعے فتحه کړے، نو دا علاقه د مسلمانانو شوه، او يهودو د نبي ﷺ نه دا غوښتنه وکړه چه دوئ دِے دلته پاتے کړے شي او دوئ به مسلمانانو ته ددے زمکو تيکسونه ورکوي او ددے په آمدنيو کښے به برخه ورکوي۔ نو نبي ﷺ د دوئ دا درخواست ومنلو۔ ددے خيبر د غلو او فصلونو په وجه مسلمانانو ډيره فراخي ومونده او په خيټه ماړهٔ شول۔ والحمد لله۔

[جَنِيبٍ] کره او مزيدارے کهجورے، چه نور قِسمونه ورسره خلط نهٔ وي۔

[لَاتَفْعَلْ] دا کار مهٔ کوه چه په ډيرو کهجورو سره لږے کهجورے اخلے، ځکه د کهجورو اقسام اگرکه جدا جدا دي خو چونکه جنس ئے يو دے، نو په دے دواړو عوضونو کښے د جنس د يو والي په وجه برابري ضروري دِے۔ [الْجَمْعَ] هغه کهجورے چه د مختلف قِسمه کهجورو نه راجمع شوي وي، ردي کهجورے۔ [ابْتَعْ] اخله۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[وَقَالَ فِي الْمِيْزَانِ مِثْلَ ذٰلِكَ] یعنی کوم شیان چه په وزن سره خرڅولے شي، کله چه هغه په خپل جنس سره خرڅیږي، نو په دے کښے ئے هغه شان خبره وکړه څنګه ئے چه په پیمانه کیدونکی شیانو کښے وکړه، هغه دا چه: ددے خرڅول هم په زیادت سره جائز نهٔ دي. د میزان نه مراد موزون (تلل شوے شے) دے. بعض علماء وائی چه ددے نه مراد ذهب او فضه دي، ځکه چه دا په وزن خرڅولے شي. یعنی لکه څنګه خبره ئے چه د کجورو په باره کښے وکړه نو دغه شان ئے د سرو او سپینو په باره کښے هم وکړه چه دا هم په زیادت سره خرڅول په خپل جنس کښے صحیح نهٔ دي.

یا ددے نه مراد هر موزون دے خو مطلق موزونات نهٔ دي مراد بلکه هغه موزونات چه د اشیاء سته ؤ نه وي. لکه همدا راجح قول وو.

فوائد الحديث: (١) حدیث نه ثابته شوه چه د یو جنس په دوه قسمه ربوی شیانو کښے په یو بل باندے زیاتے کول جائز نهٔ دي، لکه کهجوره، غنم وغیره، نو یو صاع کهجورے په دوه صاعه کهجورو باندے خرڅول جائز نهٔ دي اګرکه یو طرفته ښے کهجورے وي او بل طرفته خرابے. بلکه په دے دواړو کښے تساوی او تماثل ضروری دے، لکه د بخاری په روایت کښے دي: [وَلٰكِنْ مِثْلًا بِمِثْلٍ] (دا دواړه به یو شان وي). په دے کښے **حکمت** د ربا دروازه بندول دي ځکه که د یو جنس په دوه قِسمه شیانو کښے تفاضل جائز شي نو دا به په هر یو شئ کښے ربا کولو ته ورسیږي. بله دا چه: کله د اعلیٰ او ادنیٰ ترمینځه اختلاف هم وي. (٢) ټولے کهجورے یو جنس دے، بیا په دے کښے مختلف قِسمونه دي، اعلیٰ، ادنیٰ او درمیانه. او مختلف نومونه لري. دارنګه ټول غنم یو جنس دے او ددے هم ګڼر قِسمونه دي: سرۀ غنم، سپین غنم، دانے او وړۀ او داسے نور.

(٣) د [كَذٰلِكَ الْمِيْزَانُ] نه معلومه شوه چه (په اشياءِ سته کښے) د هر موزون شي دا حکم دے چه ددے د یو جنس په دوه قِسمونو کښے تفاضل او زیاتے کول حرام دي. د موزون شئ مثال لکه ذهب، فضه او هغه شیان چه تلل کیږي او سود په کښے جاري کیږي، دا دوه شیان چه یو په بل باندے خرڅیږي نو دواړو کښے برابروالے شرط دے.

(٤) نبی ﷺ ددے صورت سره د موزون خبره ولے ذکر کړه؟ ددے څه مناسبت دے؟

جواب: د رسول الله ﷺ د ښائسته تعلیم نه دا وه چه کله به ئے یو شے ذکر کړو نو سائل

Maktaba Tul Ishaat.com

چه به څه ته محتاج وو هغه به ئې هم ورسره ذکر کولو دے دپاره چه هغه بیا تپوس کولو ته محتاج نشي۔ او دا د علم سخاوت دے۔

(٥) حدیث نه معلومه شوه چه کله د مُفتي نه د یو حرام شي په باره کښې پوښتنه وشي نو هغهٔ له پکار دي چه سائل ته ددے متبادله حلاله او مباحه لاره وښائي، ځکه مستفتي (پوښتنه کونکے) یو جائزه لاره غواړي، ځکه د هغهٔ پوښتنه په دے دلیل دے چه هغهٔ سره د خپل دین غم دے او د هغهٔ په زړهٔ کښې تقویٰ موجوده ده۔ نو هغهٔ ته داسے وئیل پکار دي چه دا حرام کار مهٔ کوه بلکه دا بل حلال کار وکړه، نو دا د مُفتي هوښیارتیا وي چه خلك د حلالو په ذریعه د حرامو نه مستغني او بے پرواه کړي۔ دلته نبي کریم ﷺ سائل ددے غلط کار نه منع کړو، لیکن ددے په بدل کښې ئے ورته صحیح کار وښودهٔ۔ (٦) هغه دا چه د اعلیٰ کهجورو یو صاع د ادنیٰ کهجورو په دوه صاعونو سره اخستل جائز نهٔ دي بلکه د اعلیٰ کهجورو اخستلو طریقه داده چه اول ادنیٰ کهجورے په روپو خرڅے کړه او بیا پرے اعلیٰ کهجورے واخله۔

(٧) بادشاه له پکار دي چه د خپلو عاملانو نه وخت په وخت پوښتنه کوي او د هغوئ په تصرفاتو نظر ساتي، که هغه چرته غلط وي نو د هغے د درست والي کوشش دِے کوي۔ (٨) او حدیث نه معلومه شوه چه ښهٔ خوراکونه کول اوددے تیارول جائز دي، او دا د تقویٰ خلاف نهٔ دي۔ کله چه د اسراف نه بچ وي۔

(٩) او معلومه شوه چه څوك یو غلط تصرف کوي نو هغهٔ دِے دراتلونکي وخت دپاره منع کړي، پاتے شو ماضي زمانه نو هغے سره دِے کار نهٔ لري۔ تیر په تیر آینده روز گار معامله دِے صحیح کوي۔ ځکه کوم غلط کارئے چه په تیر شوے زمانه کښے کړے هغه د جهل او ناپوهئ په وجه وو، په دے کښے هغه معذور دے، لیکن اوس چه خبر شو نو ددے نه پس بیا ددهٔ عذر پاتے نشو۔ (فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام)

2814 (8) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَ بِلَالٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ بِتَمْرٍ بُرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**مِنْ أَيْنَ هٰذَا ؟**" قَالَ : كَانَ عِنْدَنَا تَمْرٌ رَدِيءٌ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ فَقَالَ : "**أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعِ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی: بلال رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته برنی کهجورے راوړے نو نبی ﷺ ورته وفرمایل: دا د کوم ځائے نه وے؟ وے فرمایل: مونږ سره ردی (بیکاره) کهجورے وے نو ما د هغې نه دوه صاعه د یو صاع په مقابله کښې خرڅے کړے، نبی ﷺ وفرمایل: اُوه، عین سود دے، عین سود دے، داسے مهٔ کوه، لیکن کله چه تهٔ غواړے چه (اعلیٰ کهجورے) واخلے نو (ردی) کهجورے په یوه سودا سره خرڅے کړه بیا په هغه (مال) سره (اعلیٰ کهجورے) واخله۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: بُرْنِيٌّ: دا کرهٔ او مزیدارے کهجورے دی۔

أَوَّهْ: دا کلمه د افسوس او خپیمانتیا ده، د عین سود د اخستو په ضرر رسیدو باندے خپیمانتیا ښکاره کوی۔ نبی علیه السلام تأوه وکړو دے دپاره چه ددے زیات زجر او منع ته اشاره وشی۔ او ددے کار نه ئے درمند والے ښکاره کړو، یا د بد فهم نه۔

لَا تَفْعَلْ: یعنی ربوی شے په خپل جنس سره مهٔ اخله مګر برابر په برابر۔

فَبِعِ التَّمْرَ: یعنی ردی کهجورے خرڅے کړه۔ ثم اشتر به: بیا په دغه پیسو مزیدارے کهجورے واخله۔ ددے نه معلومه شوه چه دا به په بیل بیل شخص باندے خرڅولے شی او بیل شخص نه به اعلیٰ کهجورے اخلی، دے دپاره چه بیع العِینه کښې داخل نشی۔

بِبَيْعٍ آخَرَ: د بیع نه مراد مبیع دے، یعنی بل شی باندے۔

فوائد: (۱) کله چه د یو شی په باره کښې شك پیدا شی نو د هغې په باره کښې تالاش او تحقیق پکار دے تردے چه حالت ئے راښکاره شی۔ (۲) کشر له پکار دی چه د مشر د کارونو اهتمام وکړی، او هغهٔ دپاره بهترین قسم طعام چاڼ کړی۔ (۳) مزیدار خوراکونه طلب کول جائز دی۔ (٤) څوك چه د یو شی په تحریم باندے پوهه نهٔ وی نو هغه معذور دے تردے چه پوهه شی۔ (٥) امام او عالم له پکار دی چه د دینی کارونو اهتمام وکړی او ناپوهه شخص ته د هغې تعلیم ورکړی۔ (٦) په بیع او شراء کښې وکالت جائز دے لکه چه نبی ﷺ بلال رضی الله عنه وکیل کړے وو۔ (۷) فاسده بیعه واپس کولے شی۔ (۸) د سود د حراموالی عظمت ښکاره شو۔ (فتح الباری وفتح السلام)

2815 (9) وَعَنْ جَابِرٍ رضی الله عنه قَالَ: جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ ﷺ عَلَى الْهِجْرَةِ وَلَمْ يَشْعُرْ أَنَّهُ عَبْدٌ فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بِعْنِيهِ" فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ وَلَمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُبَايِعُ أَحَدًا بَعْدَهُ حَتّٰى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ أَوْ حُرٌّ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : یو غلام راغلو او د نبی کریم ﷺ سره ئې په هجرت باندې بیعت وکړو، نبی ﷺ په هغۀ نۀ وو پوهه چه هغه غلام دې، نو د هغۀ مالك راغلو چه هغه ئې (د نبی ﷺ نه) غوښتو، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : دا په ما باندې راخرڅ کړه، نو هغه ئې په دوه تورو غلامانو باندې واخستو، او نبی ﷺ ددې نه روستو هیڅ سره بیعت نۀ کولو تردې چه د هغۀ نه به ئې تپوس وکړو چه آیا هغه غلام دې او که آزاد۔ (مسلمؒ)

تشریح : وَلَمْ يَشْعُرْ : دا قصه ښکاره دلیل دې چه نبی ﷺ په غیبو پوهه نۀ وو۔

يُرِيْدُهُ : یعنی مالك ئې راغلو چه دا غلام ئې غوښتو چه دۀ ته واپس کړې شي۔ نو نبی ﷺ هغۀ ته پرېخودو ځکه چه مالك ئې د غلامۍ په وجه زیات مستحق وو، ددې نه معلومیږی چه ددۀ مالك مسلمان وو، ولې که مسلمان نۀ وې نو بیرته به ئې ورته نۀ پرېخودې، ولې چه نبی ﷺ د طائف په محاصره کښې اعلان وکړو چه کوم غلامان مونږ ته راکوز شي نو هغۀ سره به بیعت کوو، او هغۀ ئې بیا مالکانو ته واپس نکړل۔ او نۀ ئې د هغوی په بدله کښې نور غلامان ورکړل۔ بیا نبی ﷺ د مکارم الاخلاق په وجه دا فیصله وکړه چه دا غلام مالك نه په ملکیت سره واخلی نو د ډیرو اُوچتو اخلاقو په وجه ئې دوه غلامان هغۀ ته ورکړل او دا یو ئې ترې ایسار کړو۔ کیدې شي چه نبی ﷺ به دۀ کښې څه کمال لیدو پدې وجه ئې ترې واخستو۔ یا پدې وجه چه هغۀ د هجرت اراده کړې وه او د نبی ﷺ صحبت ئې خوښ کړې وو، نو نبی ﷺ ترې واخستو دې دپاره چه دا مقصد ئې سرته ورسیږی۔

یا دا مالك کافر وو او دا دوه تور غلامان هم کافران وو نو پدې وجه ئې دا مسلمان ورته واپس نکړو او ددې په بدله کښې ئې کافران ورته ورکړل۔ (نوویؒ)

مسئله : (١) ددې حدیث نه معلومه شوه چه یو غلام په مقابله د دوه غلامانو کښې اخستل او خرڅول جائز دی کله چه دا په نقدو سره وی او پدې باندې اجماع د امت ده۔ او دغه شان حکم د باقی حیواناتو هم دې۔ (٢) البته که یو غلام د دوه غلامانو په بدله کښې په نسیئه سره خرڅ کړی نو پدې کښې دوه صورتونه دی : (أ) **یو دا** چه دواړه په

Maktaba Tul Ishaat.com

نسیـه سره وی، نو دا حرامه ده ځکه چه حدیث کښې د بیع الکالئ بالکالئ نه منع راغلې ده۔ یعنی نسیه په نسیه سره خرڅول۔ (ب)۔ **دویم صورت** دا دے چه یو حیوان په نقدو وی او بل په نسیه سره وی نو دے کښې اختلاف دے (۱) امام شافعیؒ او جمهورؒ وائی چه جائز دی ځکه چه په حیواناتو کښې سود نۀ جاری کیږی، نو بعض په بعضو باندے په نسیئه او نقد دواړو طریقو سره خرڅولے شی، برابره ده چه جنس ئے مختلف وی او که نۀ۔ او دا مذهب د علی بن ابی طالب ﷛، ابن عمر ﷛ او سعید بن المسیبؒ دے او دا قول د امام شافعیؒ، احمدؒ او ابوثورؒ دے۔ (۲) امام مالكؒ وائی چه یو کرۀ اُوښ د دوه اُوښانو په بدله کښې خرڅول په نسیه سره جائز دی۔ یعنی چه جنس ئے مختلف وی، او که چرته بعض د بعضو سره ملاؤ او مشابه وی او جنس ئے یو شان وی نو بیا دوه په یو باندے خرڅول او اخستل په نیته (نسیه) سره جائز نۀ دی البته لاس په لاس (نقد طریقے سره) جائز دی۔ او دا قول د سلیمان بن یسارؒ او ربیعهؒ او یحیی بن سعیدؒ دے۔

مطلب دا دے چه حیوان په حیوان سره خرڅول چه جنس ئے یو وی داسے دی لکه غنم په غنمو خرڅول په نسیه سره، نو دواړه ناجائز دی، او که جنس ئے بدل شو بیا په نسیه سره خرڅول جائز دی لکه یوه غوا په اُوښ خرڅوی یا یوه غوا په درے یا څلورو ګډانو خرڅوی نو دا جائز ده۔ دویٔ وئیلی دی : هرکله چه په طعام کښې جنس بدل شی نو سود پکښې نۀ راځی نو په حیوان کښې به په طریقِ اولیٰ چه جنس بدل شی سود نۀ راځی۔

(۳) امام ابوحنیفهؒ، ثوریؒ، عَطاءؒ، کوفینؒ او احمدؒ وائی چه حیوان په حیوان باندے په نسیه سره خرڅول ناجائز دی، برابره ده چه جنس ئے مختلف وی او که متفق۔ دویٔ په دلیل کښې حدیث د سمره بن جندب ﷛ ذکر کوی کوم چه روستو راروان دے چه [نَهٰی عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً] چه نبی ﷺ یو حیوان په بل حیوان باندے په نسیه سره خرڅولو نه منع فرمائیلے ده۔ لیکن دا حدیث ضعیف دے۔ او منقطع دے، قابل د استدلال نۀ دے، د حسن بصریؒ سماع د سمره ﷛ نه ثابته نۀ ده۔ او پدے کښې تدلیس د قتادهؒ او حسنؒ دے۔ او بل حدیث د جابر ﷛ دے چه په هغے کښې د ابو الزبیرؒ تدلیس دے۔

هغه دا دے : عَنْ جَابِرٍ ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (اَلْحَيَوَانُ اِثْنَانِ بِوَاحِدٍ لَا يَصِحُّ نَسِيئًا وَلَابَأْسَ بِهٖ يَدًا بِيَدٍ) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِي الْبُيُوْعِ : ١/رقم : ١٢٣٨) وأحمد (٣/٣١٠، والطحاوی وابن ابی شیبة وغیرهم. وفی إسناده تدلیس أبی الزبیر فقط . **دوه حیوانات په یو باندے په نسیه**

Maktaba Tul Ishaat.com

سره خرڅول جائز نهٔ دی البته که لاس په لاس وی نو هیڅ باك نشته. (ترمذی) دا د ابو الزبیر د تدلیس په وجه ضعیف دے. لیکن شیخ البانیؒ په صحیح الترمذی او صحیح ابن ماجه کښې ورته صحیح وئیلے دے او شعیب ارناووط په تعلیق د مسند احمد کښې ورته حسن وئیلے دے.

نو که د نهی روایت ثابت شي نو بیا دا په اول صورت حمل دے چه دواړه حیوانات په قرضو وی او یو هم پکښې حاضر نهٔ وی.

او د اول قول والا **دلیل** (١) یو دا حدیث الباب دے چه نبی ﷺ د یو غلام په مقابله کښې دوه غلامان خرڅ کړیدی. (٢) دویم روستو حدیث د عبد الله بن عمرو ﷺ دے چه نبی ﷺ امر وکړو چه یو اُوښ په بدله د دوه اُوښانو کښې د صدقې د اُوښانو د وخت پورے واخلی. دا حسن حدیث دے لکه چه هلته به راشي.

(٣) - وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ اِشْتَرٰى رَاحِلَةً بِأَرْبَعَةِ أَبْعِرَةٍ مَضْمُوْنَةٍ عَلَيْهِ يُوَفِّيْهَا صَاحِبَهَا بِالرَّبَذَةِ. وإسناده صحيح، رواه مالك فى الموطأ: ٢/٥٠٥ والبخارى تعليقاً باب: ١٠٨، تحت حديث: ٢٢٢٧].

نافعؒ وائی: عبد الله بن عمر ﷺ یوه اُوښه په مقابله د څلورو اُوښانو کښې واخسته، پدے ضمانت چه د هغې مالك ته به ئې په ربذه کښې سپاری. او دا صحیح موقوف روایت دے، او دے کښې په نسیه سره سَره د تفاضل نه حیوان خرڅ شویدے.

(٤) امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې ددے جواز د ابن عمر ﷺ او رافع بن خدیج ﷺ او سعید بن المسیبؒ او ابن سیرینؒ نه نقل کړیدے او دغه روایتونه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښې موصول ذکر کړیدی.

او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَدْ يَكُوْنُ الْبَعِيْرُ خَيْرًا مِنَ الْبَعِيْرَيْنِ:

کله یو اُوښ د دوه اُوښانو نه غوره وی. او رافع بن خدیج ﷺ یو اُوښ په مقابله د دوه اُوښانو کښې واخستو نو یو ئے ورته ورکړو او دا ئے ورته ووئیل چه بل اُوښ به درته ان شاء الله صبا راولم. ابن مسیبؒ وائی: په حیواناتو کښې سود نشته، یو اُوښ د دوه اُوښانو په مقابله کښې او یو ګډ د دوه ګډانو په مقابله کښې په نیته خرڅولے شي.

ابن سیرینؒ وائي: یو اُوښ په دوه اُوښانو باندے په نسیه سره خرڅول جائز دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا امام بخاريؒ په حديث د انس ﷺ دليل نيولے دے چه صفيه ؓ په قيديانو كښے راغلـه بيا دحية الكلبي ﷺ تـه مـلاؤ شوه بيا نبي ﷺ تـه راورسيده۔ نو استدلال پدے طريقه دے چه نبي ﷺ د هغـهٔ نه صفيه ؓ واخستـه او هغـهٔ تـه ئے دوه وينځے وركړے بلكـه رواياتو كښے دى چه په عوض كښے ئے اُوه وينځے وركړے۔ كما في الفتح : ٤/٣٣٢، باب بيع العبد والحيوان بالحيوان نسيئة. (بخاري رقم الباب ١٠٨)

وَلَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا :يعني ددے واقعے نه روستو به نبي ﷺ احتياط كولو نو د چا په باره كښے چه به ئے شك شو نو تپوس به ئے كولو چه دے غلام دے او كه آزاد۔

او كـومـو عـلـماؤ چـه ددے په باره كښے د نسخ خبره كړيده نو دا تشه دعوه ده چه هيڅ دليل پرے نشته بلكه د صحابه كرامو او تابعينو نه ددے جواز ثابت دے۔ وبالله التوفيق۔

فائده : د غـلام مـالك بـه يا حربي كافر وى يا نه كه حربي وى غلام په هجرت سره آزاد شو او اسلام سره، او كه مالك مسلمان وى، بيا هجرت صحيح نهٔ دے بلكه واپس كولے بـه شي او كـه دا اهل ذمه ؤ غلام وو نو همدغه حكم دے ځكه (لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِيْنَ) قانون دے۔ (يعني د دوئ د مسلمانانو په شان احكام دى)

2816 (10) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لَا يُعْلَمُ مَكِيْلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمّٰى مِنَ التَّمْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جابر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د كهجورو داسے ډهيرے چه د هغے وزن مـعـلـوم نـهٔ وى، د كهـجـورو د مـعـلـوم وزن پـه عوض خرڅولو نـه منع فرمائيلے۔ (مسلمؒ)

تشريح : [الصُّبْرَةِ] راشه، ډهير، ډهيرے۔ [الْمُسَمّٰى] معلوم۔

فوائد الحديث : (١) حـديث دليـل دے چـه د كـهـجـورو په معلومه پيمانه باندے د كهـجـورو داسے ډهـيـرے خرڅول جائز نهٔ دى چه د هغے پيمانه او اندازه معلومه نهٔ وى۔ ځـكـه د راشے پيمانه او اندازه معلومه نهٔ وى نو د معلومو كهجورو سره ددے د مساوات پتـه نـهٔ لـگـي او پـه دے كـښـے د زياتي خطره وى نو دا سود جوړيږى، ځكه كهجورے په كهـجـورو خـرڅـولو كښے دا شرط دے چه دواړه عوضونه به مساوى او متماثل وى لكه مخكښے تير شو، او دا هله كيږى چه د دواړو عوضونو اندازه معلومه شي، نو كله چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړه عوضونه يا په دې کښې د يو عوض مجهول وي، نو دا داسې ده لکه په دې دواړو عوضونو کښې د يو عوض په زياتي باندې انسان عالم وي، او دا سود دې۔

(۲) او دا حکم د کهجورو نه سوئ د باقي ربوي شيانو هم دے۔ (۳) او دا حديث په دې باب کښې د يوې قاعدې دليل دے، چه هغه شيخ الاسلام ابن تيميةؒ ذکرکړې، او هغه دا چه: اَلْجَهْلُ بِالتَّسَاوِىْ فِيمَا يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّسَاوِىْ كَالْعِلْمِ بِالتَّفَاضُلِ (يعني په کومو شيانو کښې چه مساوات شرط دے د هغې په مساوات باندې ناخبرتيا داسې ده لکه د هغې په زيادت باندې خبرتيا) [الفتاوى: ۱۵/۳۳۸، ۲۰/۳۵۰، ۲۹/۴۲۸، ۴۵۰]

او دا ځکه چه دلته درې حالتونه دي: (أ) د دواړو عوضونو مساوات: او دا واجب دے۔ (ب) د دواړو عوضونو تفاضل۔ او دا د سود کيدو په وجه حرام دے۔ (ج) د مساوات مجهول کيدل: او دا هم حرام دے، ځکه جَهْل بِالتَّسَاوِىْ كَالْعِلْمِ بِالتَّفَاضُل دے۔ دا وجه ده روستو به راشي چه بيع المزابنة په دې وجه حرامه ده چه دا يو معلوم شے د خپل جنس په يو مجهول شي سره خرڅول دي۔ ددې نه چه انسان بچ کيږي نو په دې سره چه په دواړو بدلينو کښې چه کوم شے د پيمانې والا وي، هغه پيمانه کول، او چه کوم شے د تلل کيدو والا وي، هغه تلل۔ والله تعالىٰ اعلم۔

سوال: که څوك ووائي چه که يو تن دا کهجورې په اټکل سره اندازه کړي او داسې ووائي چه مثلاً دا د سلو صاعو سره برابرې دي او بيا ئې په سلو صاعو سره خرڅې کړي نو دا به جائز نهٔ وي؟ **جواب**: دې کښې هيڅ فائده نشته او نهٔ پدې سره دا سودا حلاليږي ځکه چه اټکل اندازه لګول تخمين او ګمان دے، پدې سره مساوات نهٔ معلوميږي۔

سوال: په بيع العرايا کښې چه تخمين له اعتبار ورکړې شويدے چه د کهجورو په سرونو کښې کهجورې په اټکل سره اندازه کړې شي او بيا ئې په معلومو اُوچو کهجورو سره خرڅوي نو دا خو جائز ده؟ **جواب**: صحيح ده، ليکن بيع العرايا او دې ډهيرى د کهجورو کښې فرق دے، ځکه چه په عرايا کښې تازه کهجورې وي او تازه کهجورې خلك د تفکه (مزې اخستو) دپاره په خپل وخت کښې معتبر وي او انسان ورته محتاج وي، نو د ضرورت او مجبورتيا په وجه شريعت بيع العرايا جائز کړه۔ او هرچه کهجورې په کهجورو باندې په ډهيرى سره خرڅول دي نو پدې کښې ضرورت نشته۔ لهذا د دواړو ترمينځ فرق ظاهر شو۔ [فتح ذى الجلال والاكرام ابن عثيمين: ۵/۲۹]

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤) د سود په مسئله کښې سختي راغلې ده، تردې چه په کوم شي کښې تماثل شرط دې نو دا ضروري ده چه د هغې تماثل به معلوم وي.

(٥) که د کهجورو يو ډهيرې چه پيمانه ئې معلومه وي نو هغه په نورو کهجورو خرڅول جائز دي چه د هغې هم پيمانه معلومه وي. او دا د (لَا يُعْلَمُ مَكِيْلُهَا) الفاظو نه معلوميږي. (٦) دغه شان دوه راشې (ډهيرى) چه د هغې اندازه معلومه نۀ وي په يو بل باندې خرڅول هم جائز نۀ دي ځکه چه پدې کښې هم مساوات معلوم نۀ دې.

2817 (11) – وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ ﷺ قَالَ: اِشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِيْنَارًا، فِيْهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ، فَفَصَلْتُهَا، فَوَجَدْتُ فِيْهَا أَكْثَرَ مِنِ اثْنَيْ عَشَرَ دِيْنَارًا، فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ. فَقَالَ: (لَا تُبَاعُ حَتّٰى تُفْصَلَ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: فضاله بن عبيد ﷺ نه روايت دې چه ما د خيبر په ورځ يو اميل په دولس ديناره واخستو، په هغې کښې سرۀ زر او د کانړى غمې وو. ما هغه جدا کړو نو ما په هغې کښې د دولسو دينارو نه زيات سرۀ زر وموندل، نو ما دا خبره نبي ﷺ ته ذکر کړه، نو هغۀ وفرمايل: ترڅو پورې چه دا جدا نۀ کړې شي نو دا به نشي خرڅولې. (مسلمؒ).

تشريح: [اِشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ] د خيبر د غزا په ورځ، کله چه جنګ ختم شو او غنيمتونه تقسيم شول، لکه د مسلمؒ په يو روايت کښې دي. [قِلَادَةً] د قاف په زير سره، د سرو زرو يا بل شي نه جوړ هار، اميل. [خَرَزٌ] د خاء او راء په زور سره، د خَرَزَةٌ جمع ده، د کانړى غمې، کنجکه، هر قسمه مشکنړې چه په تار کښې اچولې شي او اميل ترې جوړولې او د ډول او ښائست دپاره په غاړه کښې اچولې شي. [فَفَصَلْتُهَا] د صاد په تخفيف يا شد سره، يعنې اخستو نه پس ما د هغې سرۀ زر د مشکنړو نه بيل کړل.

فوائد: (١) حديث نه ثابته شوه چه په سرو زرو (او دغه شان په سپينو زرو) سره يو داسې شې اخستل خرڅول چه په هغې کښې سرۀ زر د بل يو شي سره ګډ کړې شوى وي، جائز نۀ دي. دا به هله جائز وي چه کله د دغه شي نه سرۀ زر جدا کړې شي او ددې برابر سرۀ زر ورکړې شي. وجه داده چه کله د سرو زرو سره بل يو شې هم ګډ شوې وي، او ددې دواړو تميز او جدا والې نۀ وي راغلې، نو ددې د وزن اندازه نۀ معلوميږي، نو دا به د معلومو سرو زرو په عوض نشي خرڅولې. لکه دلته د دولسو دينارو او په اميل کښې د

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمال شوو سروزرو ترمينځه مساوات مجهول (نامعلومه) دے، او دا قاعده مخکښې تيره شوه چه جَهْل بِالتَّسَاوِیْ کَالْعِلْمِ بِالتَّفَاضُلِ وی، يعنی د دوه سودی شيانو ترمينځه چه مساوات نامعلومه وی نو ددے خرڅول داسے حرام دی لکه ددے دواړو ترمينځه د کمی زياتی معلومتيا په صورت کښې چه ددے خرڅول حرام دی۔ نو دا سودی معامله شوه۔ لکه د مسلمؒ په روايت کښې ددے حديث واضح الفاظ داسے راغلی :

((حنشؒ وائی : مونږ د فَضَاله بن عبيد ﷺ سره په يوه غزا کښې وو، نو زما او زما د ملګرو په برخه کښې يو اميل ورسيدهٔ چه په هغے کښې سرهٔ او سپين زر او جواهرات وو، ما اِراده وکړه چه زهٔ دا خرڅ کړم، نو د فضاله بن عبيد ﷺ نه مے پوښتنه وکړه، هغهٔ وفرمايل : ددے اميل نه سرهٔ زر راوباسه او دا په يو چابړی کښې کيده، او ددے په عوض چه کوم سرهٔ زر اخلے هغه په بل چابړی کښې کيده، او صرف د مساوات په صورت کښې ئے واخله، ځکه ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلی دی چه فرمايل ئے : څوك چه په الله او په ورځ د قيامت ايمان لری هغه به دا د برابرئ په صورت کښې اخلی))۔

(۲) دا حکم د هر هغه جنس دے چه په هغے کښې سود جاری کيږی، چه کله دا ربوی شے په بل يو داسے ربوی شی سره خرڅولے شی چه د هغے سره بل يو شے هم ګډ شوے وی، لکه سپينو زرو سره بل جنس شريك شوے وی، نو دا به په سپينو زرو سره نشی اخستلے۔ او دغسے نور ربوی اصناف واخله۔ دا وجه ده مخکښې تير شو چه د کهجورو يوه نامعلومه راشه په معلومو کهجورو سره خرڅول جائز نهٔ دی، ځکه ددے دواړو عوضينو ترمينځه په پوره توګه مساوات معلوم نهٔ دے۔ ددے مثال (سيرے) دی چه خلك ئے اخلی، پيسے په کښې معلومے وی او ګران ئے اخلی نو پيسے د پيسو په مقابله کښې شوے او زياتے پيسے د نورو ګلونو او اميلونو په مقابله کښې شوے او که پيسے معلومے نهٔ وی بيا حرامے دی۔

(۳) په حديث کښې چه کومه مسئله ذکر شوه، د فقهاؤ په نيز دا د [مُدُّ عَجْوَةٍ] په نوم سره مشهوره ده۔ مُد د صاع څلورمے برخے ته وائی۔ او عجوه د مدينے قيمتی کهجورو ته وائی۔ شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ددے مطلب دا بيان کړے چه : يو ربوی شے په خپل جنس باندے په داسے صورت کښې خرڅول چه ددے دواړو جنسونو سره يا په دے کښې د يو جنس سره بل يو شے هم وی۔ لکه يوټن د کهجورو يو صاع او يو درهم په يو صاع او

Maktaba Tul Ishaat.com

یو درهم باندے خرڅوی، یا د کهجورو یو صاع او درهم په دوه صاعه کهجورو خرڅوی۔
شیخ الاسلامؒ ددے مسئلے درے صورته ذکر کړی:
(اول داچه): ربوی شے په خپل جنس سره زیاتی خرڅول په داسے حال کښے چه د دویم قلیل شی سره ددے د جنس نه سوئ یو بل شے د حیلے په توګه یوځائے کړے شی۔ لکه دوه زره دیناره ورکړی او په دے باندے په رومال کښے ترلے زر دیناره واخلی، یا د غنمو یو صاع ورکړی او په دے باندے په پچئ کښے پراتهٔ غنم واخلی، نو دا دواړه صورته حرام دی ځکه په دے کښے ښکاره حیله ده، ځکه په اولنی صورت کښے مقصد دوه زره دیناره په زرو بائدے بدلول غرض دے او رومال په کښے د جنس د بدلولو دپاره یوه حیله ده۔ ځکه دا خبره هر چاته معلومه ده چه په ربا الفضل کښے هر څوك دا کولے شی چه د دویم عوض سره به یو بل شے یوځائے کړی او ځان دپاره به په حیلے سره زیاتی شے اخستل جائز کړی۔ **(دویم صورت)** غیر سودی شے د سودی شی سره یوځائے خرڅول، خو مقصد غیر سودي شے وی او سودی شے تبعًا او ضمنًا راغلے وی، لکه د پیئ او وړئ والا ګډه بزه په داسے ګډے بزے باندے خرڅول چه هغه هم د پیئ او وړئ والا وی۔ نو دلته ربوی شے (چه پیئ او وړئ دی چه کله په دے کښے علت وزن واخستل شی) تبعًا راغلے، دا مقصود نهٔ دے، بلکه مقصود ګډه بزه په ګډه بزه خرڅول دی۔ او دا د مالكؒ او احمدؒ په نیز جائز دی۔ **(دریم صورت)** چه دواړه مقصود وی، لکه یو مُد عجوه او درهم په یو مُد عجوه او درهم باندے خرڅول، نو دا د مالكؒ، شافعیؒ او احمدؒ په مشهور قول کښے جائز نهٔ دی، او دلیل ئے حدیث الباب دے۔ او دویم قول دادے چه دا جائز دی، او دا د ابوحنیفهٔؒ قول او د احمدؒ یو روایت دے چه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ورته **راجح** وئیلی۔ او دلیل دا وائی چه اصل په عقودو کښے دادے چه دا په صحت باندے حمل شی، او دلته دے معاملے ته حاجت هم وی هغه داچه کله د یو سړی سره د کهجورو د یو قِسم دوه صاعه وی، او دے بل سړی سره د بل قِسم کهجورو یو صاع او ورسره لس روپئ وی، او هغه ددے د خرڅولو ارداه لری نو په دے کښے باك نشته، او دلته به دا صاع د صاع په مقابله کښے وی او دویم صاع به د روپو په مقابله کښے وی۔ او په دے کښے د سود حیله نشته۔ والله تعالیٰ اعلم۔ [انظر الفتاوی: ۲۹/٤٦٣]

اختلاف: که یو طرفته سرهٔ زر وی او بل طرفته د سرو زرو سره یو بل شے هم خلط

Maktaba Tul Ishaat.com

شوے وی لکه دلته مشکنړے وغیره، نو په دے کښے (۱) **یو قول** دادے چه دا بیع جائز نهٔ ده مطلقاً۔ (۲) **دویم** قول دادے: چه دا بیعه جائز ده خو په دے شرط چه منفرد زر به د مخلوط زرو نه زیات وی، نهٔ به ورسره یوشان وی او نهٔ به ترے کم وی۔ دا د احنافو او علامه ابن تیمیهؒ رائے ده۔ وجه داده چه په دے کښے سودی حیله نشته، ځکه زر د زرو په بدله کښے شو او یو طرفته چه (منفرد) زر زیات دی نو دا د هغه بل زرو سره د ملګری شوی شی یعنی مشکنړو وغیره په بدله کښے شو۔ نو دا داسے شو لکه دوه سوداګانے۔او دویٔ د فضاله ﷛ د حدیث نه دا جواب کوی چه دلته په امیل کښے سرهٔ زر زیات وو، نو ځکه ترے منع راغله۔ (۳) **دریم** قول دادے: چه دا بیعه جائز ده خو په دے کښے شرط دادے چه د سرو سره چه کوم شے تابع دے هغه به ثلث یا د ثلث نه کم وی۔ او داد مالکیانو رائے ده۔ دویٔ ددے مثال د [سَیفُ مُحَلّٰی بِالذَّهَب] سره ورکوی، یعنی د هغه توری سره چه هغه په سرو زرو سره چراؤ شوی وی۔ دویٔ وائی: چه کله د سرو قیمت ثلث یا د ثلث نه کم وی نو دا مغلوب حسابیږی، او ددے په مقابل کښے اکثر، او په اکثرو احکامو کښے اکثر د کل ځائے نیسی۔ (٤) **قول** دادے چه دا سودا مطلقًا جائز ده، برابره ده که په مثل سره وی اوکه اقل یا زیات سره۔ دا قول د حماد بن ابی سلیمانؒ دے۔ لیکن ددے حدیث خلاف قول دے پدے وجه غلط دے، او کیدے شی چه دهٔ ته دا حدیث نهٔ وی رسیدلے۔

په دے تولو اقوالو کښے **(راجح قول)** اولنے دے، هغه دا چه د سرو زرو سره چه بل شے ملګرے وی، نو دا په سرو زرو سره اخستل جائز نهٔ دی۔ دغه شان که سپینو زرو سره یو شے ملګرے وی نو دا په سپینو زرو سره اخستل جائز نهٔ دی، تردے پورے چه دغه بل شے ددے دواړو نقدینو نه جدا شوے نهٔ وی۔ او دلیل ئے حدیث الباب دے چه په دے کښے دا ویل شوی [لَا، حَتّٰی تُفَصَّلَ] او دا حدیث عام دے د مساوی، اقل او اکثر ترمینځه هیڅ فرق نهٔ کوی، بلکه ددے واحده لاره داده چه غیر شے د نقدینو نه جدا کړے شی او عوضونه برابر کړے شی۔ او دا برابرول شرط دی لکه مخکښے تیر شو۔ والله تعالیٰ اعلم۔

فوائد: (٤) د صحابه کرامو ډیر زیات حرص وو په معرفت د احکام شرعیه ؤ باندے ځکه چه فَضَاله ﷛ د قِلاده اخستو نه روستو د نبی ﷺ نه تپوس وکړو۔

(۵) کوم شے چه په فاسده طریقه حاصل شی د هغے واپس کول واجب دی۔ (لَا یُبَاعُ

Maktaba Tul Ishaat.com

حَتّٰى تُفْصَلَ)۔ او پدے كښے د انسان عالِم كيدل يا جاهل كيدلو كښے هيڅ فرق نۀ راځي۔ كه يو جاهل انسان يو فاسد عقد وكړو نو دا عقد به صحيح نۀ وي اگركه هغه به پدے عقد باندے ماخوذ (گناهگار) نۀ وي۔

(٦) د سود په باره كښے ډيره سختي راغلے ده پدے وجه شريعت ددے ذرائع هم حرام كړيدي۔ (فتح ذي الجلال)

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

2818 (12) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقٰى أَحَدٌ إِلَّا أَكَلَ الرِّبَا فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهٖ ". وَيُرْوٰى مِنْ "غُبَارِهٖ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل كوي چه هغۀ وفرمايل: خامخا په خلكو به داسے زمانه راځي چه هيڅوك به پاتے نۀ شي مگر سود خوړونكے به وي، كه سود ونۀ خوري نو د هغے لوگے به ورته رسيږي۔ (دارنگه په بعض كتابونو كښے) د (مِنْ بُخَارِهٖ) په ځائے (مِنْ غُبَارِهٖ) (يعني هغۀ ته به د سود غبار (دوړه) رسيږي)۔ (احمدؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح: مِنْ بُخَارِهٖ: يعني د سود اثر به ورته رسيږي لكه په سود كښے به واسطه وي، يا به د سود ليكونكے (منشي) وي، يا به پرے گواه وي يا به د سود خور كار كونكے وي۔ يا به ورله ستهام ليكي، يا به ورته د سود خور نه تحفه او هديه راشي، يا به د هغوئ نه ميلمستيا حاصله كړي۔

او دا حديث پدے زمانه كښے بيخي رشتيني ثابت شويدے۔ يا مطلب دا دے چه سود به دومره ډير شي چه د يو لاس نه به بل لاس ته اوړي نو د خلكو د مالونو سره به خلط ملط شي نو خلك به ئے بغير د قصد نه خوري، نو هيڅوك به ددے د اثر او د ضرر نه بچ پاتے نشي اگركه بالذات سود كولو او حاصلولو نه به بچ كيدے شي۔ او دا خبره واقعي ده زمونږ او ستاسو په جيبونو كښے چه دا نوټونه دي، دے باندے ډير سودونه شويدي۔ دارنگه په ډيرو څيزونو او خوراكي موادو باندے او په كارو او موټرو او ځايونو باندے سودونه او جوارياني او انشورنس شوي وي او مونږ د هغے نه غير اختياري فائده اخلو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

والله المستعان۔

درجة الحدیث : [ضعیف] أخرجه ابوداود : ۳۳۳۱، والنسائی : ٤٤٥٥ وابن ماجه : ۲۲۷۸.
سعید بن ابی خیرة لم یوثقه غیر ابن حبان والحسن البصری لم یسمع من ابی هریرة، عند الجمهور : (التعدیل والتجریح لمن خرج عنه البخاری فی الجامع الصحیح لابی الولید الباجی : ۱/۲۷۹] ولکن الراجح ثبوت سماعه منه لادلة : (۱) قال موسی بن هارون : انه سمع منه، (العلل للدارقطنی : ۸/۲٤۹) (۲) وقال قتادة بن دعامة السدوسی انما اخذ الحسن من ابی هریرة، المراسیل لابن ابی حاتم ص : ۳۸، (۳) تصریح الحسن بالسماع فی حدیث المنتزعات والمختلعات الذی اخرجه النسائی، حیث قال الحسن : ((لم اسمعه من غیر ابی هریرة))، (٤) البخاری اخرج للحسن عن ابی هریرة ثلاثة احادیث کما فی تحفة الاشراف للمزی (۹/۳۱٦) ومن شرطه انه لا یکتفی بالمعاصرة بل یشترط اللقاء) (٥) وقال الالبانی : سماع الحسن من ابی هریرة ثبت ولکنه قلیل۔ (الصحیحة : ۲/۲۱٤) وتعلیق مسند احمد للشاکر (۱۲/۱۰۹) .

2819 (13) – وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : **"لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ** وَلَا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ وَلَا الْبُرَّ بِالْبُرِّ وَلَا الشَّعِيرَ بِالشَّعِيرِ وَلَا التَّمْرَ بِالتَّمْرِ وَلَا الْمِلْحَ بِالْمِلْحِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ يَدًا بِيَدٍ وَلٰكِنْ بِيعُوا الذَّهَبَ بِالْوَرِقِ وَالْوَرِقَ بِالذَّهَبِ وَالْبُرَّ بِالشَّعِيرِ وَالشَّعِيرَ بِالْبُرِّ وَالتَّمْرَ بِالْمِلْحِ وَالْمِلْحَ بِالتَّمْرِ يَدًا بِيَدٍ **كَيْفَ شِئْتُمْ**". رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه : او عباده بن صامت ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو سرۀ په سرو او سپین زر په سپینو زرو او غنم په غنمو او وربشے په وربشو او کهجورے په کهجورو او مالګه په مالګه مۀ خرڅوئ مګر برابر په برابر جنس په جنس او لاس په لاس، لیکن خرڅ کړئ سرۀ زر په سپینو زرو او سپین زر په سرو زرو او غنم په وربشو او وربشے په غنمو او کهجورے په مالګه او مالګه په کهجورو لاس په لاس څنګه چه غواړئ۔ (یعنی په زیادت سره خرڅولے شئ) (شافعیؒ)

تشریح : سَوَاءً : یعنی کله چه د یو جنس دوه څیزونو کښے خرڅول وی نو دوه شرطونه به وی، برابرے او لاس په لاس والے ضروری دے۔ او که جنسونه بدلیدل نو بیا یو شرط دے چه لاس په لاس به وی.او زیادت په یو جانب کښے جائز دے او دا معنیٰ د

Maktaba Tul Ishaat.com

(كَيْفَ شِئْتُمْ) ده۔

اقسام البيع :

عَيْنًا بِعَيْنٍ : يعني چه ذات د يو شي په ذات د بل بانديے خرڅولے شي او د دواړو جنس يو وي۔ لكه سرۀ په سرو، او سپين په سپينو او دغه شان نور۔ (۱) نو دے كښيے د تابع د دريے صورتونو نه يو صورت ذكر دے چه هغه بيع العين بالعين ده۔ او دے ته بيعه مقايضه وائي، (۲) او كه چرته په نقدو پيسو بانديے هغه شے خرڅول وي چه هغه په ذمه بانديے وي نو دے ته بيع السلم وائي۔ (ځكه سلم بيع ما في الذمه على الدرهم والدينار نقدًا) ته وائي۔ (۳) او كه ثمن په ثمن خرڅول وي نو دے ته بيع الصرف وائي۔ (٤) او كه عين په ثمن بانديے خرڅول وي نو دا مطلق بيع ده، (٥) او كه په مخكني ثمن بانديے خرڅ كړيے شي سره د زيادت نه دے ته بيع المرابحه وائي، (٦) او كه سر په سر خرڅه شي نو دے ته بيع التوليه وائي۔ (٧) او كه په نقصان سره خرڅه شي دے ته بيع الوضيعه وائي۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه الشافعي في المسند : ١/١٨٠، واصله في مسلم (١٥٨٧) وأخرجه الترمذي : ١٢٥٠]

2820 (14) - وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ سُئِلَ عَنِ شِرَاءِ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ . فَقَالَ : (**أَيَنْقُصُ الرُّطَبُ إِذَا يَبِسَ ؟**) فَقَالَ : نَعَمْ . فَنَهَاهُ عَنْ ذٰلِكَ . رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه د هغوئ نه د اوچو كهجورو په بدله كښيے د تازه كهجورو د اخستلو په باره كښيے پوښتنه وشوه، نو ويے فرمايل : آيا تازه كهجوريے د اُوچيدو نه پس كميږي ؟ خلكو عرض وكړو : هو ! نو نبي ﷺ ددے نه منع وفرمايله۔ (مالكؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ) ۔

تشريح : پوره حديث داسے دے : «زيد ابو عياشؒ د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه پوښتنه وكړه چه لامدۀ غنم په اوچو غنمو خرڅولو څۀ حكم دے ؟ نو سعد رضي الله عنه ورته وفرمايل: كوم يو بهتر دے ؟ هغۀ ويل : لامدۀ غنم، نو سعد رضي الله عنه هغه ددے كار نه منع كړو او ويے

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي ...... تر آخره پورې)) [أحمد، سنن أربعه]

فوائد الحديث : (١) حديث نه ثابته شوه چه په ربوي شيانو کښې د يو جنس دوه قِسمه شيان يو په بل بانديې په داسې حال کښې خرڅول جائز نهٔ دي چه يو لوند وي او بل اوچ، لکه کهجورې په چوارو خرڅول، انګور په وچکو خرڅول. ځکه په دې کښې يو عوض د بل نه خامخا زيات وي ځکه لوندې کهجورې چه اوچې شي نو ډيرې کميږي نو د دواړو عوضونو ترمينځه مساوات او برابري نهٔ راځي حالانکه دا ضروري دې. ځکه مخکښې تير شو [مِثْلًا بِمِثْلٍ، سَوَاءً بِسَوَاءٍ] .

(٢) [أَيَنْقُصُ الرُّطَبُ إِذَا يَبِسَ] دلته ددې سوال نه مقصد دا نهٔ دې چه ګنې رسول الله ﷺ ځان پوهوي چه آيا لوندې کهجورې اُوچې شي نو کميږي او که نه ؟ ځکه دا خو هر چاته معلومه ده چه دا اُوچې شي نو خامخا کميږي، بلکه دلته ددې سوال نه غرض ددې حرمت علت ذکر کولو ته اشاره کوي او سائل ته قناعت ورکوي او هغه په علت خبروي چه په دې مې پوهه کړه چه په دې کښې کمې راځي او که نه ؟ هغهٔ ووئيل : ولې نه! نو نبي ﷺ ددې نه منع وکړه. نو دلته حکم او علت دواړه معلوم شو. حکم حرمت، او علت ئې زيادت او نقصان دې. او دا په سوال سره حاصل شو.

(٣) علماؤ دا حديث په هغه صورت حمل کړې چه په هغې کښې کهجورې پريکړې شوې وي او په زمکه وي، دوئ وائي : دا مزابنه نهٔ ده ځکه د مزابنې په تفسير کښې دا وئيل شوي چه دا په بوټو کښې ميوه خرڅول دي او دلته پريکړې شوې کهجورې او په زمکه پرتې کهجورې دي. د دواړو ترمينځ فرق شو.

(٤) د علم اصول عالِمانو ددې حديث نه د علت يو قِسم راوښکلې : [إِثْبَاتُ الْعِلَّةِ بِالْأَدِلَّةِ النَّقْلِيَّةِ بِطَرِيْقِ التَّنْبِيْهِ وَالْإِيْمَاءِ] (يعنى علت په نقلي دليلونو سره په طريقه د تنبيه او اشارې سره ثابتول) او هغه دا چه شارع د يو حکم سره يو وصف ذکر کړي، که چرې دغه حکم دپاره دغه وصف علت جوړ نهٔ کړې شي نو بيا د دغه کلام ذکر کول لغوه او بې فائدې ګرځي، نو خامخا به دغه ذکر کړې وصف د دغه حکم دپاره علت ګرځولې شي، دې دپاره چه د شارع کلام د لغويت نه بچ کړې شي. او هغه دا چه په دې حديث کښې ذکر شوې سوال که ددغه حکم دپاره علت جوړ نهٔ کړې شي چه ددې منع علت د کهجورو کميدل دي، نو دا سوال کول بې فائدې ګرځي، نو خامخا به دا سوال ددغه حکم دپاره علت

Maktaba Tul Ishaat.com

جوړولې شي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحدیث : [صحیح] أخرجه مالك فی الموطأ : ۱۲۹۳ وابوداود : ۳۳٦۱ والترمذی : ۱۲۲۵، والنسائی : ٤٥٤٥۔ وابن ماجه : ۲۲٦٤۔

2821 (15) وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" نَهٰى عَنْ بَيْعِ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ قَالَ سَعِيدٌ : كَانَ مِنْ مَيْسِرِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ . رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ .

ترجمه : او سعید بن مسیبؒ د اِرسال په طریقه ارشاد نقل کوی چه بیشکه رسول الله ﷺ یو حیوان لره په غوښه سره خرڅولو نه منع فرمائیلې ده۔ سعیدؒ وائی : دا د جاهلیت والو جواری وه۔ (شرح السنه)

تشریح : دے روایت نه معلومه شوه چه غوښه په حیوان باندے خرڅول حرام دی برابره ده چه حیوان مأکول اللحم وی او که نهٔ، او برابره ده چه دا غوښه د دغه حیوان د جنس نه وی او که د بل جنس نه وی، مثلًا د اُوښ غوښه په ژوندئ غوا باندے خرڅه کړی یا د غوا غوښه په ژوندی ګډ باندے خرڅه کړی۔ او دا مذهب د امام شافعیؒ دے۔

(۲) امام ابوحنیفهؒ وائی : غوښه په ژوندی حیوان باندے خرڅول جائز دی مطلقاً برابره ده چه حیوان مأکول وی او که غیر مأکول، او د حیوان د جنس نه وی او که نهٔ۔ او دا مذهب د ابن حزمؒ هم دے، هغهٔ ته دا روایت صحیح نهٔ ښکاره کیږی نو ځکه ئے د جواز قول کړیدے۔

دا روایت اګرکه مرسل دے لیکن پدے باره کښے ډیر ګڼړ روایات مرسله او مدلسه موجود دی چه هغه بیهقیؒ (۲۹٦/۵) او البانیؒ په ارواء الغلیل (۱۹۷/۵) کښے ذکر کړیدی چه هغه د یو بل تائید کوی او حسن درجے ته رسیږی۔

سمره بن جندب ؓ فرمائی :إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الشَّاةِ بِاللَّحْمِ.

(أخرجه البیهقی والحاکم : ۳۵/۲). وإسناده صحیح لولا عنعنة الحسن البصری فیه. وروی مثله عن أبی بکر الصدیق رضی الله عنه۔

نبی ﷺ ژوندے ګډ په غوښه باندے خرڅولو نه منع فرمائیلې ده۔

امام مالكؒ ونیلی دی چه پدے بیعه کښے غذر او جواری ده ځکه چه معلومه نهٔ ده چه آیا غوښه د حیوان سره برابره ده او که کمه، یا زیاته ده۔ او سعید بن المسیبؒ هم ورته د

Maktaba Tul Ishaat.com

جاهلیت جواری وئیلے ده۔ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ابن القیمؒ ددے علت دا ذکر کړے چه غوښنه قُوت او وزن لری نو پدے کښے ربا الفضل جاری کیږی (یعنی د علت د وزن د وجه نه ئے دا حرام کړیدی) او دا قول د امام احمدؒ هم دے۔ وانظر أعلام الموقعين : ٢/١٥٠].
البیوع المنهی عنها : ٢/٥٧٥. شرح الخرشی : ٥/٦٨، والحاوی : ٥/١٥٧، الإنصاف : ٥/٢٣].

درجة الحديث : [حسن] أخرجه الدارقطنی: ٣/٧٠رقم : ٢٦٥ ـ والطبرانی : ١٣٣٥، والحاكم : ٢٢٥٢، والبیهقی : ١٠٥٠ وحسنه الألبانی فی الارواء : ١٣٥١ وصحیح الجامع الصغیر : ٩٦٣٦.

2822 (16) وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهُ .

ترجمه : سمره بن جندب ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ حیوان په حیوان باندے په قرض سره خرڅولو نه منع فرمائیلے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ) ۔

تشریح : [نَسِيئَةً] نسیئه او نسأ تاخیر، نیټے او قرض ته وائی۔

حیوان په حیوان باندے خرڅولو کښے درے صورتونه دی : (١) اول دا چه حیوان په حیوان باندے لاس په لاس خرڅول، نو دا د عامو اهل علموؒ په نیز جائز دی، ترددے چه یو حیوان په دوه او درے او زیاتو باندے هم خرڅول جائز دی۔ لکه مخکښے تیر شو چه رسول الله ﷺ یو غلام د دوه تورو غلامانو په بدله کښے واخستو۔ (رواه مسلم) ددے حدیث د سمره بن جندب ﷺ د مفهوم نه هم معلومیږی۔

(٢) دویم صورت : حیوان په حیوان باندے خرڅول چه دواړه په نسیه سره وی، دا نۀ دے جائز او په بیع الکالی بالکالی کښے داخلیږی۔ او ددے نه په اجماع سره منع راغلے لکه مخکښے ذکر شو۔

(٣) دریم صورت : چه یو حیوان نقد وی او بل نسیه وی نو دا اختلافی صورت دے چه پدے حدیث کښے ترے منع راغلے ده۔ لیکن تا مخکښے زده کړل چه دا حدیث خو د بعض علماؤ په نیز ضعیف دے، یا حمل دے په دغه دویم صورت باندے چه دواړه په نسیه سره وی۔ او تفصیل د مسئلے مخکښے ذکر شو۔

درجة الحديث : [حسن أو صحيح] أبوداود: ٣٣٥٦، ترمذی: ١٢٣٧، نسائی: ٧/٢٩٢، ابن ماجه : ٢٢٧٠، أحمد : ٢/١٢، دارمی: ٢٥٦٤، بیهقی: ٥/٢٨٨. صحیح أبی داود.

Maktaba Tul Ishaat.com

2823 (17) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا، فَنَفِدَتِ الإِبِلُ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ عَلٰى قَلَائِصِ الصَّدَقَةِ. قَالَ: فَكُنْتُ آخُذُ الْبَعِيْرَ بِالْبَعِيْرَيْنِ إِلٰى إِبِلِ الصَّدَقَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول ﷺ دۀ ته حکم وکړو چه يو لښکر تيار کړي، نو اُوښان ختم شول، نو نبي ﷺ دۀ ته حکم وکړو چه د صدقے په اُوښانو باندے (په نسيه اُوښان) واخلي. (راويّ وائي) نو ما به د صدقے يو اُوښ د دوه اُوښانو په بدله کښے اخستلو. (حاکمؒ او بيهقيؒ روايت کړے او ددے راويان ثقه دي).

تشريح : [يُجَهِّزَ جَيْشًا] تجهيز آلات او اسباب تيارولو ته وائي. او جيش د څلورو سوو يا زياتو کسانو لښکر ته وائي. [فَنَفِدَتْ] ختم شو او ضرورت ئے پوره نۀ کړو. [عَلٰى قَلَائِصِ الصَّدَقَةِ] قلائص جمع د قُلُوْصَةٌ ده، ځوانه اُوښه، او دا د سوريدو د زمانے نه واخله تر نهو کالو پورے وي. دے نه اخوا بيا (ناقه) شي. قلص کښے معنیٰ د راغونډيدو ده يعني کوتلے غوښے والا اُوښه. او ددے جملے مطلب دا چه نبي ﷺ دۀ ته حکم وکړو چه اُوس د زکاة د اُوښانو نه د جهاد دپاره په دے شرط اُوښان واخلي چه ددے په عوض کښے به هغه اُوښان ورکوی کوم چه د زکاة ادا کونکو خلکو نه وصول کړے شي.

[الْبَعِيْرَ] اُوښ او اوښے دواړو ته وائي لکه څنګه چه انسان نارينه او زنانه دواړو ته وئيل کيږي. [بِالْبَعِيْرَيْنِ] دلته باء د عوض دپاره ده، او مراد بيع ده نۀ قرض. ځکه بيا سود جوړيږي هغه دا چه انسان يو اوښ قرض ورکړي او بيا دوه اُوښان اخلي نو دا سود جوړيږي، ځکه هر هغه قرض چه نفع راکاږي نو هغه سود وي.

[إِلٰى إِبِلِ الصَّدَقَةِ] : أَيْ إِلٰى أَنْ تَأْتِيَ إِبِلُ الصَّدَقَةِ (تردے چه د صدقے اُوښان راشي).

فوائد : (۱) مخکښے حديث نه ثابته شوه چه حيوان په حيوان باندے په نسيه او نيته سره خرڅول منع دي، هغه داسے چه يو حيوان نقد وي او بل حيوان په نيته وي.
(۲) البته په دے کښے تفاضل او زياتے کول جائز دي هغه دا چه يو طرفته يو حيوان وي او بل طرفته دوه يا زيات حيوانات. لکه يوه ګډه بزه ورکول او په دے دوه يا زياتے ګډے بزے اخستل. لکه په دے تفاضل او زيادت باندے دا حديث الباب دلالت کوي.
(۳) او ددے دويم حديث نه ثابته شوه چه دوه يا درے حيوانات ورکول او ددے په بدل

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې يو حيوان اخستل جائز دي، لکه کله چه د جهاد دپاره اوښان کم شو نو نبي ﷺ عبد الله بن عمرو ﷺ ته دا حکم وکړو چه د صدقې د اوښانو نه يو اوښ واخلي او ددې په بدل کښې دوه اُوښان ورکړي کله چه د صدقې او زکاة اوښان په بيت المال کښې راجمع شي- نو ددې دواړو حديثونو ترمينځه په ظاهره کښې تعارض معلوميږي، اول حديث نه معلوميږي چه حيوان په حيوان باندې نسيه خرڅول منع دي- او ددې حديث نه معلوميږي چه خپله نبي کريم ﷺ ددې اجازت ورکړې- نو ددې حديثونو ترمينځ جمع او **تطبيق** په دوه طريقو سره دې : (**يو داچه**) اولنې حديث ضعيف دې، لکه دا خبره امام بيهقيؒ د امام شافعيؒ نه نقل کړې- [السنن الکبری: ٥/٢٨٩]

(**دويم**) که دا حديث د شواهدو په وجه صحيح شي – او راجحه داده چه دا حسن درجه حديث دې – نو بيا ددې معنیٰ داده چه دواړو طرفونو ته حيوان نسيه وي نو دا جائز نهٔ دي، اوکه يو طرفته نسيه وي نو دا جائز دي- ځکه دغه حديث کښې دا دواړه احتماله شته چه يو حيوان نقد وي او بل نسيه- دارنګه اولنې حيوان هم نسيه وي او دويم حيوان هم نسيه وي- نودلته ترې دا دويم احتمال مراد دې، او دا به داسې شي لکه روستو راځي چه نبي ﷺ بَيْعُ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ نه منع کړې، يعني قرض په قرضو خرڅول منع دي چه دواړو طرفونو ته قرض وي- اولنې حيوان هم نسيه وي او دويم حيوان هم نسيه وي- نو دا قرض په قرض خرڅول دي او دا منع دي-

او ددې صورت به داسې شي چه يوتن ووائي : زهٔ تا باندې خپله يوه ناقه چه دومره عمر ئې دې، او دوه مياشتې پس به ئې درته درسپارم په پنځو ګډوبزو چه عمر ئې دومره دومره دې، دربانـدې درخرڅوم چه تهٔ به ئې راته يو مياشت پس راسپارې- نو دا بيع جائز نهٔ ده، ځکه دا قرض په قرض خرڅول دي- په اولنی حدّيث کښې دا دويم احتمال ځکه اخلو دې دپاره چه ددې دويم حديث سره ئې تعارض رانشي-

(٤) د عبد الله ﷺ د حديث نه معلومه شوه چه حيوان په حيوانِ خرڅولو کښې تفاضل هم جائز دې او نَساء (نيته) هم جائز ده- يعني يو طرفته اوښ موجود دې او بل طرفته معدوم- دا نَساء ده- دارنګه د يو حيوان په عوض کښې دوه حيوانات ورکول دي، او دا تفاضل (زيادت) دې-

(٥) شيخ ابن عثيمينؒ فرمائي: ددې حديث نه معلومه شوه چه په بيع التقسيط

Maktaba Tul Ishaat.com

(کشتونو سودا) کښې د نیتې په عوض کښې زیاتې رقم ورکول جائز دی، تردې چه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په بیع التقسیط باندې د علماؤ اتفاق نقل کړې په دې شرط چه د مشتری غرض سودا وی۔ او مال ئې غرض نهٔ وی۔ او بیا فرمائی: دا خبره د فطرت سره هم موافق ده ځکه دا نشی کیدې چه د نقدو او د نیتې دواړو رقم ډې برابر شی، البته که څوك چاسره احسان وکړی نو دا جدا خبره ده، لیکن د عامو خلکو عادت دادې چه د نقد او نسیه په رقم کښې فرق کوی۔ په دې کښې هیڅ قِسم سود نشته، بلکه دا جائزه معامله ده۔ [فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام٤/٤٥]

او دا مسئله ئې ددې حدیث نه په دې طریقه معلومه کړې چه دلته یو اُوښ د دوه اوښانو عوض جوړ کړې شوې چه یو اُوښ ئې نقد اخستې او دوه اوښان به نسیه ورکوی۔ او د نسیه او نیتې په وجه په کښې زیادت راغلې۔ لیکن دې مسئله کښې تفصیل روستو راروان دې، د علماؤ پدې کښې اختلاف دې، او د اتفاق دعوه صحیح نهٔ ده۔ او هرچه دا حدیث د عبد الله بن عمرو ﷺ دې، نو دا په باره د حیواناتو کښې دې، او په هغې کښې سود نشته۔ دویم دا د بیت المال نه مستحق ته زیات ورکول دی او هغه جائز دی فتدبر۔

(٦) د صدقې نه مراد دلته فرضی زکاة دې او جهاد فی سبیل الله د هغې د مصارفو نه یو مصرف دې چه په دې کښې به لګولې شی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحدیث: [فی اسناده مقال والحدیث صحیح] اخرجه ابو داود: ۳۳۵۹۔ فیه عنعنة محمد بن اسحاق۔ قال الحافظ فی الدرایة: ۲/۱۵۹: فی اسناده اختلاف لکن من وجه آخر قوی نحوه۔ قال النووی فی المجموع: ۹/۳۹۹ فی اسناده نظر لکن له شاهد صحیح وقال البیهقی: فی السنن الکبری: ۱۰۳۰۸: وله شاهد صحیح۔

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2824 (18) – عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **اَلرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ** ". وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: " **لَا رِبًا فِيمَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: اسامه بن زید ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی: سود په قرضو کښې وی۔ او په یو روایت کښې دی: وې فرمایل: نشته سود په هغه څیزونو کښې چه لاس په لاس وی۔ (یعنی کله ئې چه جنس بدل وی)۔

تشریح: په بل روایت کښې په حصر سره راغلې [لَا رِبًا اِلَّا فِي النَّسِيئَةِ]۔ او روستو [لَا

Maktaba Tul Ishaat.com

رِبًا فِيمَا كَانَ] دا تشریح ده د (اَلرِّبَا فِي النَّسِيئَة) دپاره.
مخکښې ذکر شوي وو چه سود په دوه طریقو جاري کیږي: یو دا چه ربوي څیزونه په خپل مینځ کښې په خپل همجنس سره په زیادت باندې خرڅ کړې شي، او دویم دا چه په نَسیه سره خرڅ کړې شي. او دلته ئې چه حصر کړې نو ددې مطلب اَغلظ او غټه رِبَا رد کول دي کومه چه قرآن کریم ذکر کړې په (اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبَا) سره، او عربو کښې همدا رِبَا النَّسِيْئَة مشهوره وه چه یو تن ته به ئې قرض ورکړو کله چه به وخت پوره کیدو نو هغهٔ ته به ئې وویل یا به قرض ادا کوې یا به سود راکوې، یعنې په دې قرض کښې به زیادت کوې. او همدا سود نبي ﷺ د عرفې په ورځ په عرفات کښې ختم کړو. نو پدې (لَا رِبَا) کښې نفي د اصل ربا نهٔ ده بلکه نفي د اَکمل او اَکبر ده. نو ددې نه دا نهٔ لازمیږي چه رِبَا الْفَضْل جائز ده، او صرف ربَا النسیئه حرامه ده.
علامه مناويؒ ددې مطلب دا بیانوي چه بیع د ربوي څیز په تاخیر سره چه تقابض پکښې نهٔ وي دا سود دې اگرکه بغیر د زیادت نه وي. او دا مطلب نهٔ دې چه ربا صرف په نسیه کښې راځي او په تفاضل او فضل کښې نهٔ راځي. (السراج المنیر شرح الجامع الصغیر)
لکه دا د ابن عباس رضی اللہ عنہ اول کښې مذهب وو چه ربا الفضل ئې نهٔ منله بیا ورته ابو سعید خدري رضی اللہ عنہ حدیث پیش کړو نو هغهٔ رجوع وکړه.
او بل جواب دا دې چه دلته حصر د سائل د سوال مطابق راغلې دې چه هغهٔ سوال وکړو چه کله د دوه څیزونو جنس مختلف وي لکه سپین زر او سرهٔ زر نو ددې په زیادت سره خرڅول څنګه دي؟ نو نبي ﷺ وفرمایل: چه (اُوس پدې صورت کښې) سود صرف په نسیه کښې راځي. او اُسامه بن زید رضی اللہ عنہ د سائل د سوال نه روستو د نبي ﷺ جواب ته حاضر شو نو ځکه ئې داسې الفاظ نقل کړل.
بعضو د نسخ خبره کړیده چه دا حدیث د اسامه رضی اللہ عنہ په نورو احادیثو سره منسوخ دې لکه حدیث د عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ او حدیث د عباده رضی اللہ عنہ او حدیث د ابو هریره رضی اللہ عنہ چه په هغې کښې ربا الفضل ته هم سود وئیلې شویدې. لیکن تقدیم تاخیر نهٔ دې معلوم، لهذا د نسخ خبره یقیني نهٔ ده.

[البدر التمام شرح بلوغ المرام: ٦/١٧٠: حسین بن محمد المغربي المتوفی: ١١١٩هـ]

دا یا په بیع الکالي بالکالي باندې حمل دې. یعنې غیر ربوي څیزونه مراد دي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه يو په بل باندې په قرضو خرڅوي چه دواړه څيزونه موجود نۀ وي. نو دا هم د سود يو قسم دے. ټول څلور مطلبونه شول.

2825 (19) – وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْظَلَةَ غَسِيْلِ الْمَلَائِكَةِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ زِنْيَةً ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِقُطْنِيُّ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَزَادَ : وَقَالَ :" مَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهٖ ".

ترجمه : او عبد الله بن حنظله غسيل الملائكه ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د سود يوه روپۍ چه سړے ئے خوري او دے پو هيږي (چه دا سود دے) د شپږ ديرش (۳٦) زناګانو نه سخته ګناه ده. (احمدؒ، دارقطنيؒ) او بيهقيؒ په شعب الايمان كښې د ابن عباس ﷺ نه روايت دے او په هغې كښې ئے دا الفاظ زيات فرمائيلي دي : هغه څوك چه د هغۀ غوښه د حرامو نه راټوكيږي نو اُور په هغۀ باندې ډير لائق دے.

تشريح : غَسِيْلِ الْمَلَائِكَةِ : يعنى هغه صحابى چه ملائكو ورته غسل وركړے.

وَهُوَ يَعْلَمُ : يعنى كه يو تن ته دا معلومه وي چه دا يو درهم د سود دے او بيا ئے هم خوري برابره ده چه دا درهم دۀ په سود ګټلے وي يا بل چا ګټلے وي خو دے ئے استعمالوي نو دا د شپږ ديرش (۳٦) كرته زنا كولو نه په ګناه كښې ډير سخته ده. ځكه چه سود انسان ناكاره خاتمے ته رسوي لكه علماؤ دا د آيت ﴿ فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُوْلِهٖ ﴾ نه اخستے دے، چه چا سره الله تعالىٰ او د هغۀ رسول د جنګ اعلان وكړو نو دے هيڅكله نشي كاميابيدے نو كه چا باندې مرګ راغلو په داسې حال كښې چه دے په سود خورۍ باندې مضبوط ولاړ وي او توبه ونۀ باسي نو دا به شيطان سره مددګار شي ددۀ په ګمراه كولو كښې نو دے به په كفر مري، او د دغه محاربے اثر به پكښې راښكاره كيږي. كچرته الله تعالىٰ اراده وكړي، او دا د خطرے خبره ده.

بيا ددے معيّن عدد حكمت الله تعالىٰ ته معلوم دے، خو مقصد په حديث كښې د سود سخته بدي بيانول دي، او د زنا سره ئے مشابه كړو، وجه دا ده چه زناكار سړے د حياء څادر غورزوي او سود خور د الله تعالىٰ د حرام كړه څيز پرده څيري كوي. نو پدے حديث كښې مقصد د حرام خورۍ نه په منع كيدو كښې او د حلالو په طلب او د بندګانو د

Maktaba Tul Ishaat.com

حقوقو نه په ځان ساتلو کښې مبالغه ده۔

ددې روايت نه معلومه شوه چه د سود حرام والې محض تعبّد او د الله تعالیٰ بندګی ده، او سود په بندګانو باندې ښکاره ظلم دې، ددې نه خلاصې دې۔

وَهُوَ يَعْلَمُ : يعنی که په سود پوهه وو، دارنګه هغه شخص چه ناپوهه وی ليکن په پوهه اوزده کړه کښې ئې تقصير کړې وی د هغهٔ هم دا حکم دې۔ ځکه چه څوك په واجباتو باندې ځان پوهه کولو کښې تقصير او کوتاهی کوی نو دې په ګناه کښې د هغه چا په شان دې چه په ګناه پوهه وی او بيا ئې هم کوی۔ البته که يو تن د علماؤ نه جدا اوسيږی او تقصيرئې هم نهٔ وی کړې نو هغه معذور دې۔

أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ زِنْيَةً : طيبیؒ وائی : سود د زنا نه ځکه سخت دې چه څوك سود خوری نو دهٔ په خپل کوږ عقل باندې د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول د مخالفت اراده وکړه۔

درجة الحديث : [صحيح] أخرجه أحمد : ٢٢٠٠٧/٢٢٥، والدارقطني : ٣/١٦،رقم : ٢٩٥ والطبراني كما في مجمع الزوائد : ٤/١١٧ قال الهيثمي : رواه احمد والطبراني ورجال احمد رجال الصحيح۔ (صحيح الجامع : ٣٣٧٥) الصحيحة : ١٠٣٣].

2826 (20) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اَلرِّبَا سَبْعُوْنَ جُزْءًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَّنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ ".

ترجمه : او ابو هريره ﷺ نه روايت دې چه نبی ﷺ وفرمايل : سود درې اويا (۷۳) حصې دې، د ټولو نه کمه درجه (ددې ګناه پشان ده) چه بنيادم د خپلې مور سره نکاح وکړی، (ابن ماجهؒ)

تشريح : [جُزْءًا] د جزء نه مراد ځانګې او قِسمونه دی۔ او پدې عدد کښې تعيين مقصد نهٔ دې بلکه ددې د اقسامو ډيروالی ته اشاره ده، دا وجه ده چه کله (۷۳) او کله (۷۰) ذکر کيږی۔ په روايت د ابن ماجه او الجامع الصغير کښې سَبْعُوْنَ حُوْبًا لفظ دې۔ يعنی سود اويا ګناهونه لری۔ معلومه شوه چه سود ډير شکلونه او صورتونه او مثالونه لری، رسول الله ﷺ پدې کښې اشاره کوی چه ددې په باره کښې ډير احتياط وکړئ، هسې نهٔ چه د سود په يوه برخه کښې اخته شئ او تاسو ته به پته نهٔ وی۔ او دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

دا مطلب هم کیدے شي چه جزء په معنیٰ د حوب (گناه) سره وي، لکه چه مخکښې روایت نه معلومه شوه۔ [اَيۡسَرُهَا] اَیُ اَخَفُّ تِلۡكَ الۡآثَامِ السَّبۡعِيۡنَ وَاَقَلُّهَا عُقُوۡبَةً] یعنی ددے اویا گناهونو نه آسانه او معمولي سزا والا گناه ئے د مور سره د زنا په شان دے۔

[يَنۡكِحَ] دلته مثل لفظ پټ دے، یعنی مِثۡلَ اَنۡ يَّنۡكِحَ۔ د ادنیٰ سود مثال داسے دے لکه د مور سره نکاح کول۔ نکاح وطی او عقد دواړو ته وائي۔ دلته دواړه مراد کیدے شي۔ د مور سره نکاح خو د هر عقلمند په نیز بده ده نو دغه شان سود هم دے۔

فائده: حدیث نه د سود ډیره زیاته خطرناکي معلومه شوه، ځکه ددے کمه اندازه دا وښودل شوه چه انسان خپلے مور سره زنا وکړي۔ **فائده:** د سود درے اویا درجے زمونږ شیخ محترم په الفوائد في تزکیة النفوس (٤) جلد کښے تفصیلاً ذکر کړي۔ انتظره۔

درجة الحدیث: [صحیح] أخرجه ابن ماجه :٢٢٦٥ والبیهقي في شعب الایمان :٥١٢٩].

2827 (21) – وَعَنِ ابۡنِ مَسۡعُوۡدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ: "**إِنَّ الرِّبَا وَإِنۡ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيۡرُ إِلٰى قُلٍّ**. رَوَاهُمَا ابۡنُ مَاجَه وَالۡبَيۡهَقِيُّ فِيۡ شُعَبِ الۡإِيۡمَانِ. وَرَوٰى أَحۡمَدُ الۡأَخِيۡرَ۔

ترجمه: او ابن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: یقیناً سود اگرکه ډیر شي خو ددے انجام به کموالي ته ورگرځي۔ (دا دواړه روایتونه ابن ماجهؒ او بیهقيؒ په شعب الایمان کښے روایت کړي او امام احمدؒ روستنے روایت کړے)

تشریح: یعنی که د سود په ذریعه مال هرڅومره زیات شي خو د هغے انجام به کمے وي، او دا ځکه چه الله تعالیٰ د مجرم انسان د قصد او ارادے ضد کار کوي۔ او دا ځکه چه په سود خور به داسے بلایا او مصیبتونه راپریوزي چه ددهٔ ټول مال به تباه کوي او دا د نبي ﷺ پیشنگوئی ده چه بیخي رشتینی شویده۔

قُلٍّ: لکه د ذُلٍّ په شان، کمے او بے برکتي ته وائي۔ حرام مال کښے هیڅکله برکت او خیر نهٔ وي، انسان د هغے په پیدا کولو هم مجرم او بیا د هغے په لگولو، او بیا په قیامت کښے د الله تعالیٰ حساب ته به هم وړاندے کیږي۔ سوال او جواب ئے هم ډیر سخت دے۔

درجة الحدیث: [صحیح] أخرجه: ٣٧٥٤ـ مسند ابي یعلی: ٥٠٤٢ـ والحاکم: ٢٢٦٢ وقال: صحیح الإسناد ووافقه الذهبي].

Maktaba Tul Ishaat.com

2828 (22) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ عَلٰى قَوْمٍ بُطُوْنُهُمْ كَالْبُيُوْتِ فِيْهَا الْحَيَّاتُ تُرٰى مِنْ خَارِجِ بُطُوْنِهِمْ فَقُلْتُ: مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ؟ قَالَ: هٰؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زهٔ په هغه شپه چه آسمانونو ته بوتلے شوم په داسے خلكو راغلم چه د هغوی خيټے د كوټو په شان وے چه په هغے كښے ماران وو چه د هغوی د خيټو د بهر نه به ليدلے كيدل نو ما تپوس وكړو: دا څوك دی؟ اے جبريل! هغهٔ وفرمايل: دا كسان سود خوارهٔ دی۔ (احمدؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح: عَلٰى قَوْمٍ: دا متعلق دے د (أَتَيْتُ) سره نهٔ د (أُسْرِيَ) سره۔ يعني په داسے قوم باندے راغلم۔

تُرٰى مِنْ خَارِجٍ: دا د نبی ﷺ معجزه وه چه الله تعالیٰ ورته د سود خورو د خيټو ماران هم ښكاره كړی وو دے دپاره چه امت ته د هغے بيان وكړی۔ نو پدے كښے د سود خورئ ډير عيب او بد حالئ ته اشاره ده۔

أَكَلَةُ: جمع د آكِل ده، خوړونكی ته وائی۔

درجة الحديث: [ضعيف] أخرجه احمد: ٨٦٢٥، ابن ماجه: ٢٢٧٣۔ فيه علی بن زيد بن جدعان ضعيف۔ (الزوائد)

2829 (23) - وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ وَكَانَ يَنْهٰى عَنِ النَّوْحِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه: او علی ﷺ د نبی كريم ﷺ نه واوريدل چه هغهٔ د سود په خوړونكی او د هغے په خوړونكئ او د هغے په ليكونكی (منشی) او د زكاة په منع كونكی باندے لعنت وئيلے، او نبی كريم ﷺ به (په مړو باندے) د ژړا (وير) نه منع فرمائيله۔ (نسائیؒ)

تشريح: وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ: يعني صدقه او زكاة منع كونكے۔ يا فرضی زكاة منع كونكے۔ او همدا قول صحيح دے، ځكه چه د مستحب په ترك سره لعنت نهٔ راځی۔

النَّوْحِ: په مړی پسے په اُوچت آواز سره ژړا كول او ستاينے او وير كول لكه وَاكَهْفَاهُ وَاجَبَلَاهُ آوازونه كوی د جاهليت والو په شان۔ او هرچه د سترگے ژړا او د زړهٔ خفگان دے نو هغه جائز بلكه بهتر دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه النسائي: ٤٠١٥].

2830 (24) - وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ إِنَّ آخِرَ مَا نَزَلَتْ آيَةُ الرِّبَا وَإِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا **فَدَعُوا الرِّبَا وَالرِّيْبَةَ**. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او عمر بن خطاب ﷺ نه روایت دے چه آخری هغه آیت چه نازل شوے د سود آیت دے، او رسول الله ﷺ وفات شو او ددے تفسیر ئے مونږ ته (پوره) ونکړو، نو تاسو سود هم پریدئ او شکی څیز هم. (یعنی کوم شی کښے چه د سود شك او شبهه وی) (ابن ماجةؒ، دارمیؒ)

تشریح: آخِرَ مَا نَزَلَتْ: یعنی په بیان د حلال او حرامو کښے آخری آیت د سود په باره کښے نازل شوے وو.

وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا: یعنی ددے جامع تفسیر ئے مونږ ته ونکړو چه ټول جزئیات ئے راګیر کړی وے، او قیاس ته پکښے ضرورت پاتے نۀ وے. ورنه وضاحت د سود خو راغلے دے. خو د عمر فاروق ﷺ مقصد دا وو چه د سود په باب کښے د احتیاط نه کار اخستل پکار دی، هسے نۀ چه یو صورت د سود وی او انسان ئے جائز وګڼړی.

حاصل مطلب دا دے چه د آیت تفسیر نبی ﷺ نۀ دے کړے نو تاسو به دا په خپل ظاهر باندے جاری ساتئ او د سود په حلال والی کښے به د حیلو نه ځان ساتئ. (تنقیح)

طیبیؒ وائی: ددے مطلب دا دے چه دا آیت ثابت دے او منسوخ نۀ دے، صریح دے او متشابه نۀ دے، ددے وجه نه نبی ﷺ ددے تفسیر ته ضرورت نۀ محسوس کولو نو تاسو دا په خپل حالت باندے جاری وساتئ، پدے کښے شك مۀ کوئ او ددے په حلالوالی کښے حیلے مۀ کوئ. لکه همدا مقصد د روستو الفاظو سره سمون خوری. (فَدَعُوا الربا والريبة). او ددے مطلب دا نۀ دے چه رسول الله ﷺ د سود بیان نیمګړے پریخودے، یا ئے علماء کرامو ته حواله کړے، چه هغوی به پدے کښے په خپل اجتهاد سره علتونه راوباسی او هغه به سود ګرځوی. بلکه مقصد ئے دا دے چه ډیر څیزونه دی چه هغه د سود په حکم کښے دی او خلك ئے سود نۀ ګڼړی لکه حرامے بیعے یا شکی څیزونه، او ډیر خلك د سود کاروبارونه کوی او بل نوم ورله ورکوی. نو ددے نه ځان

Maktaba Tul Ishaat.com

ساتل پکار دي. يعنې رسول الله ﷺ د سود يو خاص صورت او مصداق نۀ دے متعين کړے نو دا په ډيرو څيزونو کښې جاري کيږي لهذا احتياط پکار دے.

[وَلَمْ يُفَسِّرْهَا] لند مطلب دا دے چه داسے تفسير ئے نۀ دے کړے چه عام او خاص پرے پوهه وي، ورنه رسول الله ﷺ پوره تفسير کړيدے، او د ربا مسئله په عمر فاروق ﷺ باندے خفي وه، سره ددے نه چه د علم سمندر وو، نورو صحابه کرامو ﷺ باندے واضحه وه. فَدَعُوا الرِّبَا : يعنې ښکاره سود هم پريدئ.

وَالرِّيبَةَ : او کوم شي کښې چه شك وي چه دا به حلال وي او که حرام، هغه هم پريدئ.

درجة الحديث: [صحيح] أخرجه أحمد : ٢٤٦ ـ وابن ماجه : ٢٢٦٧].

2831 (25) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِذَا أَقْرَضَ أَحَدُكُمْ قَرْضًا فَأُهْدِىَ إِلَيْهِ أَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهُ وَلَايَقْبَلْهَا إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ جَرٰى بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چه يو تن ستاسو (چا ته) قرض ورکړي او بيا قرض اخستونکے (قرض ورکونکي) ته څه تحفه وليږي يا د سورلۍ کوم حيوان ورکړي نو (قرض ورکونکے دِے) نۀ په هغه سورلۍ باندے سوريږي او نۀ دِے تحفه قبوله کړي، مګر که ددۀ او د هغۀ ترمينځ دا تحفه او سورلي ورکول ددے نه مخکښې جاري وي (بيا ددے په قبلولو کښې هيڅ حرج نشته) (ابن ماجهؒ، بيهقيؒ)

تشريح : دا حديث په باب د ورع او احتياط باندے بناء دے، چه کله تا چا ته قرض ورکړو او هغه تا ته يوه هديه درکړي، يا تا ته په اس باندے سورلي درکوي نو په اس دِے نه سوريږې، او د هغې نه دِے فائده نۀ اخلي او تحفه دِے نۀ قبلوي ځکه چه پدے کښې په خپل قرض باندے فائده راخکل دي چه دا ناروا دي. البته که د مخکښې نه داسے تعلقات ستا او ستا د ملګري ترمينځ وو چه هغۀ تا ته تحفه درکوله او تا ته ئے ميلمستيا درکوله نو بيا جائز ده. ددے وجه نه په چا چه ستا قرض واوړي د هغۀ د کور نه خوراك هم مۀ کوه. د امام ابوحنيفهؒ په باره کښې نقل دي چه هغۀ د خپل قرضدار د کور د ديوال سوري نه هم فائده نۀ وه اخستے بلکه په نمر کښې د هغۀ د راوتو په انتظار کښې ولاړ وو. او دا نهايتِ ورع ده. فَرَحِمَهُ اللّٰهُ رَحْمَةً وَاسِعَةً فِيْ جِنَانِ الْخُلْدِ، آمين.

Maktaba Tul Ishaat.com

درجة الحديث : [ضعيف] أخرجه ابن ماجه: ٢٤٣٢ـ وحسنه شيخ الاسلام ابن تيمية في بيان الدليل : ٣٢٧ والسيوطي في الجامع الصغير وضعفه الالباني في الضعيفة : ١١٦٢ . وفي اسناده : اسماعيل بن عياش وهو ضعيف في غير الشاميين۔ وجهالة يحي بن ابي اسحاق الهنائي . [تتمة المرعاة: ١٢/٤٤٧]

2832 (26) وَعَنْهُ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " إِذَا أَقْرَضَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلَا يَأْخُذْ هَدِيَّةً ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ تَارِيْخِهِ هٰكَذَا فِي الْمُنْتَقٰى.

ترجمه : او انس ﷺ د نبي ﷺ ارشاد نقل کوي چه هغهٔ وفرمایل : هرکله چه یو سړے بل سړي ته قرض ورکړي نو هغه دِے ترے هدیه (تحفه) نهٔ اخلي۔ (نهٔ قبلوی) (دا بخاريؒ په خپل تاریخ کښے روایت کړے، دغه شان په منتقی کتاب کښے ذکر شویدی)۔

تشریح : یعني ستا چه چا باندے قرض واوړیدو نو د هغهٔ نه به هدیه او تحفه نهٔ قبلوے۔ حافظ ابن حجرؒ وائي : ددے نظیر قاضي صیب ته هدیه ورکول دي، نو قاضي له پکار دي چه ددے نه ځان وساتي۔

اَلْمُنْتَقٰى: دا د احادیثو کتاب دے نوم ئے (منتقی الاخبار في احادیث الاحکام) دے۔ د شیخ الاسلام ابن تیمیه نیکهٔ مجد الدین ابو البرکات عبد السلامؒ لیکلے دے۔

درجة الحديث : [لا يوجد في تاريخ البخاري الا ما ذكره البخاري في تاريخه المطبوع ج٤/ ٣١٠) في ترجمة يحيى بن يزيد ابي يزيد الهنائي]۔

2833 (27) وَعَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ أَبِيْ مُوْسٰى ﷺ قَالَ : قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَلَقِيْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ سَلَامٍ ﷺ فَقَالَ : إِنَّكَ بِأَرْضٍ فِيْهَا الرِّبَا فَاشٍ، إِذَا كَانَ لَكَ عَلٰى رَجُلٍ حَقٌّ فَأَهْدٰى إِلَيْكَ حِمْلَ تِبْنٍ أَوْ حِمْلَ شَعِيْرٍ أَوْ حَبْلَ قَتٍّ فَلَا تَأْخُذْهُ فَإِنَّهُ رِبًا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ابو برده بن ابي موسیٰ ﷺ فرمائي : زهٔ مدینے ته راغلم نو د عبد الله بن سلام ﷺ سره ملاؤ شوم هغهٔ وفرمایل : تهٔ په هغه زمکه کښے ئے چه په هغے کښے سود عام دے، (نو) هرکله چه ستا په یو سړي باندے یو حق واوړي او هغه تا ته د بوسو یو بوج یا د وربشو یو پنډ یا د ګیاه یو پنډ تحفه کښے راولیږي نو هغه مهٔ اخله ځکه چه هغه سود دے۔ (بخاريؒ)

تشریح : حِمْلَ تِبْنٍ : یعني د بوسو یو بوج او پنډ تا ته هدیه کړي نو دا به نهٔ اخلے ځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دا سود دے۔ د خپل قرض نه فائده اخستل دی۔

عبد الله بن مسعود ﷺ نه تپوس وشو چه یو تن د بل سړی نه یو څو روپئ قرض اُوغواړی بیا قرض ورکونکے د قرضداری نه د هغهٔ سورلی وغواړی چه په هغے باندے څه کار وکړی؟ نو عبد الله ﷺ وفرمایل: دهٔ چه د هغهٔ د سورلی نه کومه فائده واخسته نو دا سود دے۔ (یعنی قرض باندے ئے فائده راخکله)

حافظ ابن حجرؒ وائی: کیدے شی چه دا د عبد الله مسعود ﷺ مذهب وی۔ ورنه فقهاءِ کرامو وئیلی دی چه دا به هله سود جوړیږی چه کله دا شرطِ ولګوی، که شرط ئے نهٔ وی لګولے او هغه ئے ورته د خپل نفس په خوشحالئ سره ورکوی نو اخستل ئے جائز دی، بیا ئے وئیلی دی چه ورع (یعنی ددے نه هم پرهیزکول) ډیر غوره دی۔ (فتح ۱۳۱/۷)

او ددے په حکم کښے مسئله د کرایه د کورونو پیشکی هم ده، چه مثلاً دوه لاکهـ قرض ورکړی بیا ورته کرایه کمه کړی۔ دے ته سیکورتی وائی۔ (که دا څوك استعمال کښے راولی دا سود دے، البته که د اعتماد په طور ئے ترے واخلی او بیا ئے په صندق کښے ساتلی وی، استعمال کښے ئے نهٔ راولی بیا جائز ده) د پیشکئ ښائسته حل دا دے چه کله د یو کور مالك یا دکان مالك پیسو ته محتاج وی نو د دوه یا د درے یا زیاتو کلونو کرایه ډے مخکښے واخلی، بیا ډے ترے دغه مودے پورے هیڅ کرایه نهٔ اخلی نو دا جائز ده۔

فَاشٍ: أَیْ شَائِعٌ۔ خور او عام۔ فاش په اصل کښے فَاشِوٌ دے۔د قاضٍ اعلال پکښے شویدے۔ [حَبَلَ]: دا په زبر د حاء او باء سره دے، مصدر دے، په معنیٰ د محبول سره۔ یعنی په رسئ باندے تړلے شوے پنډ۔

قَتّ: دا د څاروو اُوچه ګیاه ده، یا لامده ګیاه۔ وئیلے شی چه مکه کښے دا په "برسوم" سره یادیږی۔ بعض وائی: دا هغه (اَبّ) دے چه په قرآن کریم کښے ذکر دے۔ [وَفَاكِهَةً وَأَبًّا] (عبس: ۳۱)

او پدے اندازه ختم شو نهم جلد الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح رمضان ۲۰۔
۱٤۳۹ هـ وبالله التوفیق۔



Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست مضامين الحق الصريح جلد (۹)

	مضمون	صفحه
❁	**۲-باب الاحرام والتلبية**..............	۳
❁	د لبيك معاني..............	۱۰
❁	د رسول الله ﷺ په تلبيه کښې زيادت کولو کښې اختلاف..............	۱۰
❁	رسول الله ﷺ کوم يو حج کړے وو ؟ (اختلاف)..............	۱۷
❁	په حج کښې درے غسلونه مسنون دي..............	۲۰
❁	نکته : د احرام دپاره خاص مونځ نشته..............	۲۰
❁	د تلبيه حکم کښې اختلاف..............	۲۲
❁	د عماره بن خزيمه بن ثابت تعارف..............	۲٦
❁	**۲-باب قصة حجة الوداع**..............	۳۰
❁	د مقام ابراهيم په خوا کښې دوه رکعاتو حکم..............	٤۱
❁	نبي عليه السلام نه په شپږو ځايونو کښې دعا نقل ده..............	٤٤
❁	د حج نيت عمرے ته فسخ کولو کښې د اهل علمو اختلاف..............	٤۷
❁	د ذي الحجے د حج د ورځو نومونه..............	۵۳
❁	مسئله : په عرفات کښې د جمع بين صلاتين دپاره څو اذانونه او اقامتونه دي؟ .	۵۷
❁	مسئله : په عرفات او مزدلفه کښې د دصلاتين دپاره امام شرط نهٔ دے۔	۵۸
❁	په عرفات کښې کوم وقوف افضل دے په سورلئ او که په خپو؟..............	٦۲
❁	د اختر د ورځے اعمال د رذحطس په طريقه دي	٦٦
❁	اشکال او جواب : آيا رسول الله ﷺ ماسپخين مونځ مکه کښې کړے وو؟ (۲٤۸)	٦۹
❁	د زمزم د اُوبو څکلو آداب (۷)..............	۷۱
❁	مسئله : آيا قارن باندے دوه طوافونه او دوه سعي دي ؟..............	۷٤

Maktaba Tul Ishaat.com

۞	۳- باب دخول مكة والطواف	۵۸
۞	مسئله : آيا طواف دپاره اودس شرط دے ؟ اختلاف	۸۸
۞	د طواف قدوم په حکم کښے اختلاف	۹۰
۞	د ابو الطفيل تعارف	۹٦
۞	٤-باب الوقوف بعرفة........................	۱۲۰
۞	قريشو ته ئے ولے حمس وئيل........................	۱۳۳
۞	آيا په حج سره حقوق العباد معاف کيږي ؟........................	۱۳٦
۞	۵- باب الدفع من عرفة والمزدلفة	۱۳۸
۞	عمره کونکے به کله تلبيه بندوی ؟	۱٤۲
۞	په مزدلفه کښے به دوه مونځونه څنګه يو ځائے کوی ؟........................	۱٤۳
۞	مسئله : په مزدلفه کښے د شپے تيرولو حکم کښے اختلاف........................	۱٤۵
۞	جمره عقبه د نمر ختلو نه مخکښے ويشتو کښے اختلاف	۱۵٦
۞	٦- باب رمى الجمار -- د رمي الجمار حکم........................	۱٦۵
۞	۷- باب الهدي - د هدی حکم........................	۱۲۹
۞	د اشعار حکم او اختلاف	۱۸۰
۞	په هدی کښے شرکت کولو کښے اختلاف	۱۸٤
۞	هدی باندے په سوريدو کښے اختلاف........................	۱۹۱
۞	۸- باب الحلق - د حلق حکم........................	۲۰۷
۞	۹-باب في التحلل	۲۱۸
۞	۱۰- باب خطبة يوم النحر	۲۲۵
۞	د ابو البداح ﷺ تعارف........................	۱۵۳
۞	۱۱- باب ما يجتنبه المحرم........................	۱۵۵
۞	آيا سرے په حالت د احرام کښے مخ پټولے شي ؟........................	۲٦۰
۞	د محرم سړی نکاح کولو کښے اختلاف	۲٦٤

Maktaba Tul Ishaat.com

❁	د جنایت کونکی دپاره په درې ځیزونو کښې اختیار	۲۷۳
❁	**۱۲- باب المحرم یجتنب الصید**	۲۸۳
❁	کوم حیوانات وژل جائز دی	۲۸۵
❁	د محرم دپاره د ښکار قبلولو او نۀ قبلولو تفصیل او جمع د احادیثو	۲۹۰
❁	د تور سپی وژلو حکم	۲۹۶
❁	د ملخانو تفصیل او دا د څه نه پیدا دی ؟........................	۲۹۹
❁	**۱۳- باب الاحصار وفوت الحج** .- د احصار حکم........................	۳۰٦
❁	په حالت د احرام کښې اشتراط کولو کښې اختلاف	۳۱٦
❁	**۱٤- باب حرم مکة حرسها الله**- د حرم حدود	۳۲۲
❁	آیا په حرم کښې حدود نافذولې شي- د ابن خطل واقعه	۳۲٥
❁	د حرم ونې او گیاه په څلور قسمه دی	۳۲۸
❁	د عمرو بن سعید او ابو شریح قصه........................	۳٤۲
❁	**۱٥- باب حرم المدینة** . آیا مدینه حرم دې ؟........................(۳٥۰)	۳٤٦
❁	د صرف او عدل ۱۱ یولس تفسیرونه........................	۳٥۱
❁	**۸- کتاب البیوع** - د بیع تعریفات	۳۸۸
❁	**۱- باب الکسب وطلب الحلال** - کوم کسب بهتر دې ؟	۳۹۰
❁	د مشتبهاتو صورتونه	۳۹٥
❁	مسئله : آیا چراگاه ساتل جائز دی ؟........................	۳۹۷
❁	د سپی د خرڅولو حکم	۳۹۹
❁	د حجامې کاروبار څنګه دې ؟........................	٤۰۲
❁	د خنزیر مرضونه	٤۱۰
❁	د پیشو د خرڅولو حکم کښې اختلاف........................	٤۱٤
❁	کوم کسب بهتر دې ؟	٤۳۰
❁	ابوبکر صدیق رضي الله عنه ولې د کهانت مال نه قيء وکړو ؟........................	٤۳٥

Maktaba Tul Ishaat.com

❁	٢- باب المساهلة في المعاملات	٤٣٨
❁	د مالدارئ څه حد دے ؟	٤٤٠
❁	فائده : د لنګ او پرتوګ خکته کولو کښے (١٠) لس نقصانات................	٤٤٣
❁	٣- باب الخيار - خيار اقسام	٤٤٧
❁	د خيار مجلس تفرق په څه سره دے بالابدان دے او که بالاقوال ؟	٤٥٢
❁	په خيار شرط کښے د مودے حد څه دے ؟	٤٥٦
❁	د خيار غبن نور صورتونه............................	٤٥٧
❁	٤- باب الربا. د ربا اقسام	٤٦٢
❁	د سود د حرمت حکمتونه	٤٦٣
❁	د ربوی شي په خپل جنس سره خرڅولو کښے شرطونه	٤٦٦
❁	آيا د شپږو څيزونه علاوه څيزونو کښے سود جاري کيږي ؟....................	٤٦٩
❁	يو غلام په مقابله د دوه غلامانو کښے خرڅول جائز دی	٤٧٨
❁	يو حيوان په دوه حيواناتو خرڅولو کښے اختلاف	٤٨٠
❁	د مد عجوة مسئله	٤٨٤
❁	مسئله : که يو طرف ته سرۀ زر او بل طرف سرو سره بل شے مخلوط شي آيا ددے خرڅول جائز دی ؟	٤٨٦
❁	اقسام البيع........................	٤٨٩
❁	مسئله : آيا غوبنه په ژوندي حيوان خرڅول جائز دی ؟	٤٩١
❁	يو اُوبن په دوه اُوبنانو خرڅول جائز دی................................	٤٩٣
❁	لا ربا الا في النسيئه مطلبونه..	٤٩٦
❁	آيا د سود بيان نيمګړے شوے ؟	٥٠١
❁	د قرضداری نه تحفه اخستل حرام دی	٥٠٣
❁	فهرست.............	٥٠٥

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com